نورُ الاِیضاح حوَاشی

مولانا ابو الفضل علامۃ الدھر

محمد عبید اللہ الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

کتبہ ورتبہ بقلمہ

محمد فضل الحق حقانی

مدرس جامعہ تجوید القرآن کوئٹہ

پروپرائٹر

شمس الحق شمس

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ نزد مسجد نور کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحيم

نور الایضاح

جلد ③ دوم

تصنیف

علامة الدهر فقیہ العصر علامہ ابو الفضل مولانا

محمد عبید اللہ الایوبی

النقشبندی ہاری السلیمانخیلی الحنفی مدظلہ العالی

وقد کتبہ بقلمہ

قاری فضل الحق حقانی

فاضل علوم اسلامیہ وقراءات سبعہ وعشرہ

الناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ نزد مسجد نور شالدرہ کوئٹہ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

محترمو لوستونکو!

تاسو ته بهتره معلومه ده چې د ننن صبا د مشکلاتو څخه د لته ژوند کې هیڅ یو کړی هم فارغه نه بنکاري او نه هم فارغه وي، ولې چې دا په تجربه مونږ او تاسو ته معلومه ده. چې زمونږ او ستاسو په نظر چې څومره فارغه خولک وي خو د پوښتنې وروسته معلومه سي چې د دغه د دنیا د ژوند په زرګونو مشکلاتو او کړاوونو سره مخامخ دي، په هر صورت .... د ننن صبا مشکلات دومره ډېر دي چې خولک د کتاب ویلو او یا د وهي کتنې (تلاوت) نه هم چمتو نه بنکاري دا خو لاغه چې خولک به قلم او کاغذ را اوچتوي او کتاب به لیکي، او هغه هم دیني کتاب، او بیا دسې یو دیني کتاب چې د هغه د جوړولو لپاره د ډېرو لویو لویو کتابو کتنه او ورق ګردانۍ په کار وي. او که خولک هم په اوسني زمانه کې تکل کوي او قلم کاغذ را اوچتوي او د یو دیني کتاب مسائل خیري او کتاب جوړوي، او په دې دور پرفتن کې یواځې او یواځې د امت غم او د الله تعالی رضا ئې مطلب وي او هیڅ دنیوی غرض نه وي نو زه خو وایم چې دا یو داسې سعادت او نیکبختي ده چې د هغه په باره کې شاعر وائي سه

این سعادت بزور بازو نیست :: تا نه بخشد خدائے بخشندهٔ

او حقیقت هم دغه دي چې حضرت علامه استاذ الاساتذه ابو الفضل محمد عبید الله الایوبي الله تعالی دې د ده د سر سایه زمونږ د سرو څخه نه لیرې کوي، آمین: د کلان سالو او ډېر بې هدوه مصروفیاتو سره د دین او دې خدمت ته ملا تړلې ده، الله تعالی دې ده ته صحت کامله او بنه ژوند نور هم ورکړي تر څو د دین محمدی نور هم په بنه توګه خدمت وکړي، او د امت د پاره دې الله رهنما او مقتدا وګرځوي، د دې کتاب د ویونکو څخه هیله ده چې د حضرت مصنف او شارح او د دې کتاب لیکونکي (کاتب) او چاپ وونکي اداري ته د دعاء خیر وکړي والسلام

ستاسو دیني ورور قاري **فضل الحق حقاني** فاضل علوم اسلامیه وقراءات متواتره

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

والصلوة والسلام علی سید المرسلین قائد الغر المحجلین، سیدنا محمد وعلی آله الطاهرین وصحابته الکاملین وعلی جمیع الانبیاء والمرسلین وعلی عباده الصالحین الی یوم القیامة والدین:

اما بعد: باعث پر دې لیکنه دا دی. چې د عقائدو د بعض کتابونو او د فقهې د بعض د مبتدیانو کتابونو په پښتو وطني ژبه ترجمه کوي. او علاوه بر ترجمه، ډېرې کار آمد مسئلې د معتمدو کتابو څخه را نقل کوي.

جواب: غرض د فقیر خدمت دی د هم وطنانو خصوصاً طبقه د عوامو چې د هغو خو پښتو خط زده دی. او په عربي کتابونه پوهیږي. نو د دې لیکنې د اغواړي چې د دغه عوام مستقیماً د خپل دین اسلامي د عقائدو او عملي عباداتو سره آشنا کړم. او دروا او ناروا لا رچې په قرآن کریم کې او په احادیث نبویه وو او په مذهب حنیفي بیان سوي ده وي ته بخپله مورنۍ ژبه بیان کړم. او بل غرض دا دی چې زمونږ د مسلمانانو کوچنیان چونکه صفحه او کاغذ د ذهن په د تولو اسلامي او غیر اسلامي عقائدو څخه خالي ده. او طبعي ده چې پر ساده تخته هر نقش لیکل کیدای ی. نو زه غواړم چې د اول الامر څخه د اطفالو د ذهن پر تخته عقائد حقه اسلامیه نقش سي. تا چې د آینده د پاره د عقائد باطله و څخه د کافرانو به محفوظ وي: إِنۡ شَآءَ اللّٰهُ:

او دا او هر چا ته معلومه ده چې عمومي کافران په دې کوشان دي چې مسلمانان د اسلام د دین څخه و خپل دین ته دعوت کړي. په خوله تبلیغات فاسده ورته کوي او په دنیائي چارو کې کمکونه ورسره کوي. د افغانستان عمومي طبقه چونکه د اقتصادي حالت له کبله ډېر کمزور دي نو شاید د پیسو په طمع به د کافرانو د غه دعوت و خپل دین ته قبول کړي او په بعض افرادو کې دا غسې هم پیښه سوې ده. نو که د غو عوامو ته د اسلامي دین عقائد او اعمال حقه او باطله معلوم سي. شاید په دې ګمراه کن تبلیغاتو به د دین څخه نه مرتد کیدای.

او غریبی د کافرانو په معاوضه د اسلام نه قبولای،

سوال: کافران ولې یوه پلو بلې خلقو ته دعوت د خپل دین نه کوي مثلاً نصاری ویهود یا نورو وبالعکس وعلیٰ هذا القیاس، بلکه ټول د اسلام په تخریب پسې هلې ځلې کوي **جواب**

کفار د اسلام حقیقي او کامل په کارنامو خبردی، او د تاریخ په پاڼو کې دوی ته دا معلومه ده چې د حقاني اسلام سره هیڅ ابرقدرت مقابله نسي کولای لکه قرآن کریم چې هم دا غسې اعلان کړی دی او وائي: وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ه یعنی حقا نو ځکه کفار به دې لټه کې دي چې مسلمانان د خپلو مادي مرستو د دین نه مرتد کړي نعوذ بالله، من ذالک، ولااقل یا یې داسې اعمالو اخته کړي چې د حقیقي اسلام نه مخالف وي تا چې دوی مصداق د « إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ » ای حقا و نه ګرځي. نو د اسلام شان او شوکت او رعب په زړو کې د کفارو به کم سي، بلکه نیست او نابود به سي، چنانچه موږ ته په تجربه د اخبرو ثابته ده، چې چونکه افغانستان د قدیم نه یو غریب هیواد وو، نه ئې د کلاشنکوف د جوړولو کارخانې درلودې او نه ئې د توپو، طیارې خولاخه کوي، نو زموږ د افغانستان لبعض پادشاهانو داوغوښتل چې خپل د وطن نوعمره ځوانان او نجونې، او ډیر رسیده کوچنیان ویوه داسې پرمخ تللي هیواد ته واستوي، چې هوری د کارخانو جوړولو زده کړه وکړي، او د پیشرفته آلاتو صنعت زده کړي. هغو وو چې ددې غرض د پاره یې شوروي اتحاد ته چې و افغانستان نږدې هیواد وو او د نړۍ لوی ابرقدرت وو وټاکی. او خپل نوره سره، او تنکي ځوانان یې هغه هیواد ته واستول، روسانو دا فرصت غنیمت وباله. نو زموږ د وطن ځوانانو ته یې معمولي سبقونه د اقتصادي پرمخ تللو ښیانو یې کوله. او لوی همت خپل یې ودې ته مبذول کی چې د غو ځوانانو ته یې د دهریت تعلیم ورکړي چې دوی د خدای نه منکرسي نو د اسلامه او د قرآن نه په طریق اولیٰ به منکرسي. هغه شاه دوخت انتظار درلودی چې محصلان د شوروي به ومانه د کارخانو زده کړه راوړي هغو وطن ته د دهریت ارمغان راوړی. او دده د شاهي خاندان په قلع او قمع سره مشغول سوه هغو وو چې قصه مختصره په شاهي خاندان باندې غالب سوه چې په نتیجه کې بعض شاهي خاندان وخارج ته فراره سوله، او بعض د کابل په

دارالحکومت کې په شهادت ورسیده. او شوروي اتحاد هغه خام طمع پرځای سوه چې دده داخیال وو چې د اسیا پر زړه چې افغانستان دی قابض به سي، او نوری نړۍ ته بې لاره خلاصېږي، خصوصاً امریکا او نورو غربي ممالک. لکن د تقدیر الهي نه دا هری نه وو خبر چې د افغانستان په قبض کې به ته خپل اتحاد شوروي د لاسه ورکړي،

او ابرقدرت به دي په ذلت او بې عزتی او غربت بدله سي، دا قصه خو مشهوره ده او سر ته با یه معلومه ده وخلګو ته چې د دغې واقعې تخمیناً دا ۲۲ کاله په افغانستان کې پاته دي، او خونخرابه تر او سه جاري ده، اَللّٰهُمَّ نَصْرًا وَفَتْحًا وَحَالًا، نو ددې زور ازیاتي نه دروسانو چې د افغانستان په نیولو کې ناکام پاته سو. بلکه برعکس عاقبت یې د روس خرابي سوه امریکا یا او نور ده همرایان لکه انګلیس، پرانس وغیره ودې نتیجې ته ورسیدله چې پر افغانانو زور او طاقت د لاری خولک قبضه نه سي کولای. نو یې بله لاره خپله کړه چې افغانان خصوصاً په حاضر وقت کې ډیرې وسه او بې بسه دي او په عین حال کې د اسلام او دین په عقائدو خبر نه دي او خالي الذهن دي. نو د پیسو او د الرو په ښند نه لاس پورې کړی،

او ورسره یې تبلیغات د نصرانیت هم شروع کړه چې او س هم دا سلسله جاري ده. دیوې خوا یې پردوی باندې سیاسي اقتصادي بندیزونه و لګول، چې سبب د فقر او مسکنت په اورکې کباب سي، د بلې خوا یې د خپلو مزدورانو افغانانو په توسط د ډالرو تقسیم یې شروع کړی. او تر یو حده په دې پالیسي کې دوی ته ځان کامیاب معلومیږي، لکن او س هم په افغانستان کې حق شناسه او حق پرسته مسلمانان موجود دي، زما په عقیده به د امریکایانو دغه په کروړو ډالر او تبلیغات هم ناکاره او ناکام سي، او د امریکایانو د زړه مراد چې د تولې نړۍ د خلګو تهانړه داری ده ور په برخه نسي، دا وو باعث په دې روښ چې اسلامي کتابونه که د عقائدو په باره کې وه او که د حلال او حرام په باره کې وه ده افغان ملت وخلګو ته د عربي ژبې نه ددوی وخپلې مورنۍ ژبې ته را نقل کړه، او افغانانو ته د خطر زنګ وواهه چې د امریکایانو په مقابل دې تیار سی او سي، او د دوی د پیسو ووخه دې نه تیریږی. او د دوی د مزدورانو دې کره ځارنه کوي چې د دوستۍ او همکارۍ په

لمانس کی څندی نیږنه سی، اوهروخت په دجیل خانو په کنجانوکی واچوی اوکه یوافغان پلار اسلاف د نصرانیت په دین سره ملوث سی- نوحپله تحقیق اوثبوت دې ده ته دارتداد جزاء ورکړی یعنی د مرګ وکنده ، ته دی وَغوڅوی لکه چې دشریعت غراءچې دمرتد پر بارہ کی دغه جزاو ده»

اوس نوزه ګرانو وطن والو! خپل اصلی مطلب پر مخ وړم. یعنی شرحه د نور الایضاح سلسله په مورنی ژبه چې شروع په د باب سجدة التلاوة څخه کیږی. ګرانو وطن والو تاسی وفقیر ته دصحت اوعافیت په دربارکی د رب العزت دعا کوی. ولی که چیری زه د نور الایضاح دشرح څخه په توفیق دخدای جل سلطانه خلاص سوم اراده صمیمه لرم چې د قرآن کریم یو تفسیرهم په پښتو مورنی ژبه چې هم په آسانی وی، اوهم په سلیسه وی، اوهم پر تولو عقائدو او عملیاتو حسب الطاقت مشتمل وي. اللهم یا مولای وَفِقنی لما اردتُهُ من تفسیر القرآن الکریم واطل عمری مع الصحة والسلامة والعافیة الی ان افوز بهذ المرام المقدس انك علی کل شئ قدیر وبالاجابة جدیر وحسبی الله ونعم الوکیل وصلی الله تعالی علی سیدنا محمد واله وصحبه اجمعین ؞

تفسیر ایوبی حنفی

لیکوال
محمد فضل الحق حقانی

ناشر
مکتبة القراءة والتجوید
کانسی روډ شالدره کوټه

بَابُ سُجُوْدِ التِّلَاوَةِ

پُوهسَله: چې اضافه د سجده وتلاوت باب ثابت دی په بیان کی د سجده تلاوت ته اضافه دی د مسبب یعنی چې سجده ده وسبب ته چې تلاوت دی د بعض ایاتو د قرآن کریم. چې بیان بې وروسته راسی. اِنْ شَآءَ اللهُ تعالیٰ: په عنایه کی وائی چې مصنف رحمه اللہ داسی نه وویل چې سجود التلاوة والسماع ، اوسره د دی چې سجده پر اوریدونکی هم واجبه ده. دا د دی سببه چې مختاره مذهب دادی چې د سجدی اصلی سبب تلاوت دی فقط اوبل دادی چې تلاوت سبب د سماع دی ایضًا نوذکر د تلاوت شامل سماع لره هم دی، او سید شارح وائی چې ذکر کی د تلاوت اشاره ودی ته ده ، چې که سړی ایت د سجدی ولیکی تلفظ یه نه په وکړی. اویا ایت د سجدی په اذګی وواېي سجده نه ده پر لازمه، مصنف رحمه اللہ په مراقی کی وائی، چې شرط د سجدة تلاوت ،، طهارت دی د حدث څخه اود نجاست څخه، او تیمم بیله عذره نه دی ورته روا- او مخامخ والی وقبلی ته یه هم شرط دی، او ستر دعورت هم غواړی، اورکن د سجده تلاوت ایښول دی د تندی پر محځکه اویا پر تابع د محځکی لکه بوریا، یا سترنجی وغیره، اودا سجده که صلاتیه وه واجبه ده اداء یه بالفور په لمانځه کی. اوکه خارج الصلوٰة لازمه سوی وه نو وجوب یه علی التراخی دی یعنی هروخت چې کوی قضائی نه ده، اوحکم د سجدة تلاوت وجوب دی په دنیا کی اوثواب دی په اخرت کی.

مسئَله: بعض علماء وائی چې په سجده تلاوت کی صرف وضع د تندی پر محځکه غواړی که څه هم په دواړی پښی پوری ته نیولی وی، اویا پر وت وی کافی ده لکن صحیح دا ده چې سجدة التلاوة پر قسم د لمانځه د سجدی ده،،

مسئَله: کی په لمانځه کی ایت د سجدی ووایه په یوه رکعت کی اوسجده یه تر دوهم رکعت وځنډول یا پسله دیره قرائت په دغه رکعت کی وکړه گناه کاردی. اوبعض وائی چې دا سجده په قضائی ده، بلکه په شرح کی وائی چې ځنډول یه تر وخت د قرائت د ایت السجده مکروه تحریمي دی اوکه غیر صلاتیه وه نو ځنډول خو یه روا دی مګر مکروه تنزیهي دی،

مسئله: که ایت د سجدې چا وَوَایه په لمانځه کی دسنی رکوع ته ولاړی او په رکوع کی نیت د سجدې تلاوت وکړی هغه کفایت کوی که څه هم وضع د تندی پر محګه نسته، او یا مریض وو په اشاره یې سجده تلاوت وکړه هم کافی ده، او یا پر دابه آیت د سجدې وو ایه او سجده یې هم پر هغه دابه وکړه کافی ده،

سوال: د مصنف عبارت خو د رکوع او ایماء او سجده علی الدابة ته نه دی شامل

جواب: هو لکن مصنف هغه عمومی او رواجی صورت د سجده تلاوت راوړی دی

قال المصنف:

وَسَبَبُهُ التِّلَاوَةُ عَلَى التَّالِي وَالسَّامِعِ فِي الصَّحِيحِ

او سبب د سجود التلاوة تلاوت د قرآن ایت السجده دی پر ویونکی د اخو اتفاقی. او پر سامع (اوریدونکی) باندې هم لکن پر صحیح مذهب، او بعض فقهاء والی چی سبب د وجوب پر سامع کی سماع ده تلاوت نه دی او دا مختاره د فخر الاسلام ده. لکن کفایه والا وائی چی اصل په سبب والی کی تلاوت دی او سماع بناء پر تلاوت ده، حتی که چیری کا نره سړی ایت د سجدې وو ایه او ېچیلو غوږو یې نه واوریدی سجده پر لازمه ده، او که ایت د سجدې چا وو ایه او بل سړی کوڼ وو هغه نه واوریدی پر کا نره سجده نسته،

فائده: سجده تلاوت پر سامع هله لازمیږی چی ویونکی اهل د تلاوت وی. حتی که چا وَمَینا نه چی بومرغه دی یو لنډ ایت د سجدې ور زده کړی وو او بیا دی مینا هغه ایت وو ایه پر سامع یې سجده تلاوت نسته، او دغه رنګه دلیونی په تلاوت سره پر سامع سجده تلاوت نسته، کفایه، **مسئله**: د رادیو نځه که خوک د سجدې ایت واوری سجده تلاوت پر لازم ده. ولی چی راډیو صرف آله د سماع ده لکه لاوډ سپیکر، او که په پیته کی ایت د سجدې ټیپ کړی وو، او سړی واوریدی په دی نو فکر وکړی. قال المصنف:

وَهُوَ وَاجِبٌ عَلَى التَّرَاخِي إِنْ لَمْ تَكُنْ فِي الصَّلٰوةِ وَكُرِهَ تَأْخِيْرُهُ تَنْزِيْهًا

او سجده تلاوت واجب ده پر تراخی یعنی هر وخت چی کوی که چیری دغه سجوده د لمانځه

په دوران کی نه وه لازمه سوی او مکروه تنزیهی دی، څنګه ولی یې د لیل وجوب یه دا دی چی سجده تلاوت دری قسمه ده، په بعض ایاتو کی امر صریح په سجده سره موجود دی او بعض ایتونه متضمن دی منع لره د کفارو د سجودی نځه هغه وخت چی دوی په سجود امر سوله. او په بعض ایتو کی دغه سجود حکایت د امتثال د انبیاء علیهم السلام دی په دی سجده کی او ټنګ نسته چی امتثال الامر د امر الهی، او عدم منع د سجدې نځه لکه کفارو چی وکړه او امتثال د انبیاء علیهم السلام هر یو واجب دی نو سجود تلاوت واجب ده پر مونږ باندی»

سوال: بناء پر دغو دلائلو باید سجده تلاوت فرض وای و اجاب عنه الطحاوی چی دلالت د دغو ایتو پر سجده باندی ظنیت دی. نو ځکه فرض نه سوه بلکه واجب ده ۲۹۱

قال المصنف

وَيَجِبُ عَلَى مَنْ تَلَا اٰيَةً وَلَوْ بِالْفَارِسِيَّةِ

او سجده تلاوت واجبیږی پر هغه چا چی ایت د سجدې وو ائی که څه هم په فارسی ژبه یې وَوائی

پوښتنه: چی مراد د فارسی نځه غیر عربی ده حتی چی په پښتو، بلوڅی، وغیره ته هم شامله ښی، **فائده**: کی د قرآن مبارک عربی توری د ایة السجده وویله پر تالی او سامع دواړو سجده لازمه ده کی په معنا پوهیږی او که نه، او کی په فارسی وو ایه پر تالی خو سجده لازمه ده اتفاقاً لانه قرآن من حیث المعنی،،

او که سامع په فارسی نه پوهیدی نو هم سجده پر لازمه ده په نیز د امام اعظم، او په نیز د یارانو پر سامع سجده نسته که په معنا نه پوهیدی، او په بعض کتابو کی وائی چی حضرت الامام وقول ته د یارانو رجوع کړیده،، **فائده**: که څه هم مصنف کلمه مَن مطلق وَیلی ده لکن بحر رائق کی وائی چی د اطلاق مقید دی په دی چی تالی به اهل د وجوب الصلوٰة وی یا اداءً یا قضاءً او تالی اهل د جوب الصلوٰة نه وو نو ده په تلاوت سره سجده پر ده نه ده لازمه،، ولی سجده خو اصلاً جزء دی د اجزء د لمانځه نو سجده تلاوت خو پر هغه چا واجبیږی چی هغه اهل د وجوب الصلوٰة وی. نو تالی به مسلمان وی پر کافر تالی سجده نسته، او بل به عاقل بالغ چی آیت د سجدې هم وو ائی سجده د تلاوت نسته، او بل به بالغ وی نو د کشنی په تلاوت سره پر ده سجده نسته

اوبل به تالی د حیض او نفاس څخه خلاص وی۔ کی فرضًا حائض یا نفساء ایت د سجدی و وائی سجدة التلاوة پر لازمه نه ده نه فی الحال او نه وروسته تر پاکی، او پر محدث او جنب چی ایت السجدة تلاوت سجده لازمه ده لکونهما مکلفًا بالصلوٰة ،،

مسئله: پر سامع د دغو ټولو کسانو څخه په استثناء د لیونی سجدة تلاوت لازمه ده، ب، ع، در، ط،

مسئله: که مصلی په رکوع کی ایت د سجدی و وایه یا په سجده کی یا په قومه کی یا د تشهد ی په وخت کی پر ده سجده تلاوت نسته، ولی چی مصلی په دغو ځنو کی د قرائت څخه ممنوع دی۔ او د محجور سړی تصرف حکم نه لری، ط، م، قال المصنف:

وَقِرَائَةُ حَرْفِ السَّجْدَةِ مَعَ كَلِمَةٍ قَبْلَهٗ اَوْ بَعْدَهٗ مِنْ اٰيَتِهَا كَالْاٰيَةِ فِى الصَّحِيْحِ

او قرائت د هغه توری چی پر سجده دلالت کوی سره د یوی کلمی د مخه تر هغه یا وروسته تر هغه چی د ایت د سجدی وی لکه پوره ایت د سجدی چی و وائی یعنی سجدهٔ تلاوت پر لازمه ده په صحیح روایت کی. نو مراد د حرف څخه معنای لغوی ده اصطلاحی نه ده، او د صحیح مقابل هغه قول د بعض فقهاؤ دی چی سجدهٔ تلاوت پر هغه چا لازمه ده چی اکثره حصه د ایت السجده و وائی که د مخه تر حرف السجده وی او که وروسته وی او که ایت د سجدی په مابین کی وی وهو روایة عن محمدؒ واختاره الزيلعی، م ط، او بعض فقهاء وائی چی شرط د لزوم سجدهٔ تلاوت د ټولو ایت دی، او بعض وائی چی نیمی د ا ایت دی سره د کلمی د سجدی او بعض چی په فقط په تلاوت د کلمی د سجدی سجده لازمیږی، ق ط، قال المصنفؒ:

وَاٰيَاتُهَا اَرْبَعَ عَشَرَةَ اٰيَةً فِى الْاَعْرَافِ وَالرَّعْدِ وَالنَّحْلِ

او ایتونه د سجدی په دغو څوارلسو سورتونو کی دی، یو هغه چی په سورة اعراف کی پر دی کلمه دی یَسْجُدُوْنَ

وَالْاِسْرَاءِ وَمَرْيَمَ وَاُوْلَى الْحَجِّ وَالْفُرْقَانِ وَالنَّمْلِ

او په سورة رعد کی پر دغه توری دی اَلْاٰصَالِ او په سورة نحل کی پر دغه کلمه دی یُؤْمَرُوْنَ،

او په سورة اسراء کی پر دغه توری خُشُوْعًا. او په سورة مریم کی پر دغه توری وَبُكِيًّا او په سورة حج کی پر دغه ځای یَشَآءُ او په سورة فرقان کی پر دغه لفظ نُفُوْرًا او په سورة نمل کی پر دغه لفظ العظیم، قال المصنفؒ:

وَالسَّجْدَةِ وَصٓ وَحٰمٓ السَّجْدَةِ وَالنَّجْمِ وَانْشَقَّتْ وَاقْرَأْ

او په سورة سجده کی پر دغه کلمه یَسْتَكْبِرُوْنَ او په سورة صٓ کی پر دغه کلمه وَحُسْنَ مَاٰبٍ، او د سورة حٰمٓ السجده کی پر دغو تورو لَا يَسْئَمُوْنَ، او په سورة النجم کی پر دغه کلمه وَاعْبُدُوْا او په سورة انشقت کی پر دغه ځای لَا يَسْجُدُوْنَ او په سورة اِقْرَأْ کی پر دغه کلمه باندی وَاقْتَرِبْ.

اعتذار درویش پوره پوره ایتونه د سجد و نه کړه نوشته تا چی پر مطالعه کوونکو د کتاب څلور سجدی لازمی نه سی. او ده ته به تکلیف وي، ولی چی ګاهی به د مطالعی په وخت به او د س لری او ګاهی به نه لری. او ګاهی به وائی چی دا سجدی به بیا وروسته وکړم ولی چی واجب علی التراخی دی۔ نو په تیریدو د وخت به څندی یا ته سی او ګناه کار به سی که څه هم عبادت خودی لکن دا خطر ورسره سته۔ نو تر نوشتی د پوره ایتو د غه تعیین د سجد و دځایو درویش ته ښه کار معلوم سو.

فائده: مصنفؒ واولی الحج وویل۔ ولی چی امام شافعیؒ وائی چی په سورة حج کی دوی سجدی دي۔ او زمونږ دلیل دادی چی د ابن عباسؓ او د ابن عمرؓ څخه روایت دی چی سجدهٔ تلاوت په سورة حج کی اوله ده او دوهمی څخه مراد سجده د لمانځه ده،

فائده مصنفؒ په مراقی الفلاح کی او امام طحطاویؒ په شرح کی د مراقی د پر لوی تفصیل کړی دی په باره کی د ایاتو د سجدی۔ او په باره کی د ځایو د سجدی په دغو ایتو کی۔ او په اختلاف زمونږ او د امام شافعیؒ په یوه سجده او د وو سجده کولو د سورة حج چونکه هغه تفصیل د مطالعی څخه د وینکو د دی شرح لوړ وو، نو ځکه درویش صرف نظر وکړی. مَنْ شَاءَ فلیرجع الی الکتابین المذکورین، قال المصنفؒ

وَيَجِبُ السُّجُوْدُ عَلٰى مَنْ سَمِعَ

او واجب ده سجود التلاوة پر هغه چا چی واوری ایت د سجدی لکن په تلاوت عربی.

وَاِنْ لَمْ يَقْصُدِ السَّمَاعَ اِلَّا الْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ

كه څه هم دسامع قصد داوريدو نه وي. نوكي په ترجمه پوهيږي او كه نه. قال الرافق: وهذا مروي عن اكابر الصحابة رضي الله تعالى عنهم مګر نه حائض او نفساء بسخه چې پردوي باندې نه ددوي په تلاوت سره او نه ددوي په اوريدو سره سجده سته، البته چې بل څوك ددوي څخه سجده تلاوت واوري بلكه كه دجنب څخه واوري او يا د صبي مميز څخه واوري او يا يه دكافر څخه واوري پر اوريدونكو سجده تلاوت واجب دئ.

مُهِمَّه فَائِدَه: ابن امير حاج او صاحب فتح القدير وائي. كه يو سړي وو خالص عجمي او نوی اسلام يې راوړی وو. او په فرائضو او واجباتو د اسلام هيڅ نه وو خبر او زمانه د خبرتيام نه وه پرتيره سوې. نو پر هغه سجده تلاوت نه په وئيلو د نظم قراني د ايت د سجدې او نه په اوريدو سره د ايت مذكوره سجده لازميږي. تر هغه وخته چې دې په پوهيږي چې دغه مقروء يا مسموع ايت دسجدې دئ ط، فتح، او علم په معنا د ايت شرط دوجوب دسجده تلاوت نه دې، دليل په دا دې چې پر دغه حديث الاسلام باندې سجده نسته چې تكليف په هغه شي چې سړي علم نه پر لري محال دی حتی كه دغه سړی د مخه تر علم په وجوب سره د سجدې مړ سي غاړی نه دی بند ي.

پُوښتنه: زمونږ ډير عوام په دې نه پوهيږي چې فلانې ايت دسجدې دی نو پر دوی باندې سجده تلاوت په وئيلو يا اوريدلو سره سته. **جواب:** هو، دا نا خبرتيا ددوي د پاره عذر نه دی. ولې چې پر دوي دومره زمانه تيره سوې ده چې دوې بايد په فرائضو او واجباتو خامخا نو خبر كړې واى. دا ددوي تقصير دى عذر نه دئ.

مَسْئَله كه فرضًا د پيري څخه سړي ايت دسجدې واوري سجده پر لازمه ده. حاصل دكلام دا دې چې سجده تلاوت په وئيلو يا په اوريدلو سره پر هغه چا لازميږي چې اهل د لمانځه وي اداءً يا قضاءً. ولې چې سجده خود لمانځه په اصل كې جزء ده. او حائض او نفساء خو اهل د لمانځه نه دي نه اداءً نه قضاءً بخلاف الجنب والكافر. ولې هغه مكلف دي لكن چونكه تلاوت د حائض او نفساء او د جنب او كافر په صحيح ډول دی نو ځكه پر سامع يې سجده واجب ده".

قال المصنف **وَالْاِمَامُ وَالْمُقْتَدِيْ بِهٖ** اودغه رنګه سجده نسته پر امام او مقتدي په ده پسې. په سبب دسماع د ايت السجدة د مقتدي څخه، پر مقتدي د دې سببه چې دی خو د قرائت څخه محجور وو ولا اعتبار لتصرف المحجور، او پر امام چې نشته ولې چې امام تبع د مقتدي نسي كيدلاى.

مَسْئَله: كه دغه ايت د سجدې چې مقتدي وو ايه، بل سړي چې پر لمانځه نه وو ولاړ واوريده. او يا پر لمانځه يو ازې ولاړ وو او يا د الته بل جماعت هم ولاړ وو، او هغوی دغه ايت دسجدې د هغه بل جماعت د مقتدي څخه واوريدی پر هغوى ټولو سجده تلاوت سته، ولې چې حجر او منع پر دا خاص امام او مقتدي يا نو ده چې په دغه معين جماعت كې شامل وي. نو بل چا ته تجاوز نه كوي كذا في الهداية والطحطاوي. قال المصنف

وَلَوْسَمِعُوْهَا مِنْ غَيْرِهٖ سَجَدُوْا بَعْدَ الصَّلٰوةِ وَلَوْسَجَدُوْهَا

او كه واوريدی ايت د سجدې امام او مقتدي يا نو د بل چا څخه يعني چې د دوي سره په جماعت كې نه وو

فِيْهَا لَمْ تُجْزِهِمْ وَلَمْ تَفْسُدْ صَلٰوتُهُمْ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

شامل كه منفرد لمونځ كوي او كه داغسې ناست وي. نو دوي ټول به سجده تلاوت وروسته تر لمانځه كوي ولې سبب دسجدې چې سماع وه پيدا سوه. او مانع دسجدې كولو چې دوی پر لمانځه وه زائل سُو، او كه دوي په لمانځه كې سجده تلاوت وكړي هغه كفايت نه كوي. ولې چې دغه سجده په لمانځه كې په سبب د نهى د هغې څخه ناقصه ده، نو ولې تر لمانځه وروسته راګرځوي تا چې په وجه كامله ادا سي دليل د نقصان او نهى په دا دی چې دغه سجده بيګانه ده. د دغه لمانځه څخه، ولې چې د قرائت څخه د دغه لمانځه نه ده پيدا سوې ولا يدخل في الصلوة ما هو خارج عنها ، او لمونځ ددوي په دغه سجده سره فاسديږي هم نه ، ولې چې نفس سجده د لمانځه د جنس څخه ده، او دا هم ظاهر روايت دی او بعض فقهاوو وه امام محمد ته داخبره منسوب كړيده چې لمونځ يې فاسديږي لكن ظاهر روايت د امام اعظم څخه عدم فساد نقل كړي دی. ولې په نهايا تو لو ديوي سجدې تحريمې د لمانځه نه باطليږي ط،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين

قال المصنفؒ **وَتَجِبُ بِسَمَاعِ الْفَارِسِيَّةِ إِنْ فَهِمَهَا عَلَى الْمُعْتَمَدِ**

او واجبيږي سجدهٔ تلاوت په اوريدو د قراءت فارسي كه په فارسي پوهيدي، پر معتمد مذهب چي قول د يارانو دي چي قرائت په فارسي ژبه هغه چا ته چي قادر پر عربي قرائت وي نه دي روا، او په نيز د امام اعظمؒ چي قرائت په فارسي روا بولي وقادر ته پر عربي قرائت نو سجده تلاوت پر هغه فارسي قرائت پر اوريدونكي باندي واجبه ده كي څه هم په معنا نه پوهيږي. مګر چي خولك په خبر كړي چي دا ايت د سجدي وو.

پوهه سه: كه څه هم دا اختلاف د امام اعظمؒ او يارانو په قرائت فارسي كي په ډير وكتابو كي د فقه شريفي ذكر سوي دي لكن محققين د حنفيانو پردي خبره دي چي امام اعظمؒ وقول ته د يارانو رجوع كړيده: كذا في الجوهرة وفتح القدير والطحطاوي وغيرها وعليه الاعتماد. فارتفع الاختلاف في السجدة ايضا يعني چي سجدهٔ تلاوت بيله فهمه د لغت فارسي نسته، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ وَهُوَ اَحْكَمُ الْحَاكِمِيْن

قال المصنفؒ **وَاخْتُلِفَ التَّصْحِيْحُ فِي وُجُوْبِهَا بِالسَّمَاعِ مِنْ نَائِمٍ اَوْ مَجْنُوْنٍ** او اختلاف دي په صحيح والي كي د وجوب د سجدهٔ تلاوت په سبب د اوريدو د بيده سړي څخه يا د ليوني څخه يعني بعض فقهاءؒ وائي چي وجوب په صحيح دي او بعض وائي چي عدم وجوب په صحيح دي. چنانچه شيخ الاسلام وائي چي سجدهٔ تلاوت د دغو دوو كسانو په اوريدو سره نه واجبيږي ولي چي په دوي كي تميز نسته، وفي التتارخانيه، سمع من نائم قيل تجب والصحيح انها لا تجب، وفي الخانيه الصحيح هو الوجوب، درويش وائي چي احتياط په دي كي دي چي سجده وكړي

مسئله: په ذخيره كي وائي كه ليونتوب د سړي لنډ وو يعني يو شبانه روز وو او يا كم او دي په حال كي د جنون سجدهٔ تلاوت ووايه هم پر سامع سجده لازمه ده او هم پر ليوني لكن وروسته تر دي چي پر سد سي، ولي چي دغه ليوني اهل د قضاء دي يعني قضاء د لمونځو د ليونتوب د حالت پر لازمه ده بخلاف ما جاوز الجنون اليوم والليلة.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِمَنْ سَعٰى فِيْهِ وَلِجَمِيْعِ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قال المصنفؒ **وَلَا تَجِبُ بِسَمَاعِهَا مِنَ الطَّيْرِ وَالصَّدٰى** او نه ده واجب سجده تلاوت په اوريدو سره د مرغه څخه پر صحيح روايت او بعض فقهاءؒ وائي واجبيږي. وفي فتاواى الحجة والحجة هو الصحيح لانه سمع كلام الله، او د غږ نګ سجده نه لازميږي په اوريدو د ايت د سجدي تلاوت د ازانګي څخه يعني يو چا په غره كي ايت د سجدي ووايه او هغه سړي دا ايت د سجدي نه وا اوريدلي لكن په غره كي ازانګه سوه هغه ازانګه يه واوريدله، وفي الخلاصة كه سړي ايت د سجدي د مرغه څخه واوريدي سجده تلاوت نه ده پر واجبه وهو المختار، او كه د بيده سړي څخه واوريدي. صحيح دا ده چي سجده تلاوت پر سامع لازمه ده او د غږ نګ پر بيده هم لازمه ده كه چا ورته وويله چي تا په خوب كي سجده تلاوت ووايه. وهو الاصح، وفي الدراية لا يلزمه وهو الصحيح.

مسئله: كه مست په شرابو وغيره سره ايت د سجدي ووايه هم پر ده سامع په سجده واجبه ده

مسئله: پر ګونګي يا كاڼه باندي سجدهٔ تلاوت نسته په ليدلو سره د من سجد.

مسئله: كه كاتب ايت د سجدي نوشته كړي او تلفظ يه نه په وكړي سجده پر واجبه نه ده لعدم التلاوة والسماع، يعني په ګونګي او كاتب، او كاڼه، درو سره كي. قال المصنفؒ:

وَتُؤَدّٰى بِرُكُوْعٍ اَوْ سُجُوْدٍ غَيْرَ رُكُوْعِ الصَّلٰوةِ وَسُجُوْدِهَا

او اداكيږي سجده تلاوت په ركوع سره او سجدي سره چي غير د ركوع څخه د لمانځه وي او غير د سجدي څخه د لمانځه وي. يعني يو سړي ايت د سجدي ووايه او وروسته يه صرف ركوع وكړه او بيرته راپورته سو او يا په سجده وكړه او يا ولاړ سو د سجدهٔ تلاوت غاړي په خلاصي سوي په مراقي كي وائي چي سجده كول افضل كار دي. ولي چي په سجده كي هم صورت د سجدي پيدا سو او هم په معنا يعني الخضوع او په ركوع كي صرف معنا د سجدهٔ تلاوت پيدا سوه يعني الخضوع او صورت يه نسته، ولاريب ان اجتماع الصورة والمعنى افضل من محض المعنى" قال المصنفؒ

وَيُجْزِءُ عَنْهَا رُكُوْعُ الصَّلٰوةِ اِنْ نَوَاهَا وَسُجُوْدُ الصَّلٰوةِ وَاِنْ لَمْ يَنْوِهَا او كافي ده د سجدهٔ تلاوت څخه ركوع د لمانځه كي نيت د سجدي په كښي وكي او

سجده د لمانځه مونځ ادا کېږي، نیت د سجدة التلاوة نه په کېنې وکړي **پوښتنه**: چې په رکوع کې نیت د سجدة التلاوة هغه وخت په اتفاق کافي دی چې رکوع ته ځي نیت د سجدهٔ تلاوت وکړي. او که رکوع ته ولاړ بیا یه نیت د سجدهٔ تلاوت وکړي. په هغه کې دوه قوله دي ځینې وائي چې کافي دی ځینې وائي نه دی، او کی پس راپورته کیدو د رکوع څخه نیت وکړي نو په اجماع کافي نه دی، او پر اشتراط د نیت په رکوع کې خو امام محمدؒ سره دی چې تصریح کړې لکن بیا هم حلبیؒ د ده څخه روایت کړی دی چې بیله نیته هم کفایت کوي،

فائده: مراد د نیت څخه په دې توګه دا حتوکی قصد قلبي دی د خولې نیت به نه کوي مراقي دکفایت د رکوع په باره کې داوائي چې معنا د تعظیم په رکوع او سجده دواړو کې شریك ده، لکن چونکه صرف معنیٰ تعظیم په رکوع کې موجود دی. او صورةً نه وو او په سجده کې صورةً ومعناً وو، نو ځکه په رکوع کې نیت غواړي او په سجده کې نه غواړي

مسئله: که قوم یعنې مقتدیان ډیر وه. نو که امام په سري لمانځه کې ایت د سجدې ووایه نو په رکوع کې دې نیت د سجدهٔ تلاوت وکړي. او که په جهري لمانځه کې ایت د سجدې ووایه نو دې په سجدهٔ صلاتیه کې نیت د سجدة التلاوة هم وکړي. یعنې رکوع مستقله یا سجده مستقله دې نه کوي تاچې نور مقتدیان لمونځ فاسد نه کړي. او یا اشتباه پیدا نشي چې امام داخبره وکړي خصوصاً نن زمونږ پښتانه عوام چې سجدهٔ تلاوت د لمانځه خوبیخي نه پېژني.

واقعه: یو حاجي حج ته تللی وو د بازګشت په وخت کې زه مبارکۍ ته ورغلم، نو د حج د سفر په دوران کې ئې راته وویل چې په حج کې می داپلا عجیبه ولیدل.... ماورته وو ئیله څه دې ولیده. حاجي صاحب وویل چې زه د کور برخوا اتلم د سحار لمونځ مې په جده کې په یو مسجد کې کاوه. نو امام د سحار لمونځ دوه رکعته وکړي. او د میانځ په رکعت کې یو سجده وکړه دریم رکعت ته راپورته سو، نو ده وویل ماخېل لمونځ بیرته راوګرځاوه، ماورته وویل چې هغه یې سجده تلاوت کړې وه. درې ۳ رکعته یې نه دې کړي، **فائده**: په در مختار کې وائي که امام په رکوع کې نیت د سجدهٔ تلاوت وکړي یعنې په جهري لمانځه کې

او که مقتدي نیت په رکوع کې نه وکړي مقتدي به چې د امام سره یې سلام وګرځاوه سجده د تلاوت دې وکړي. او قعدهٔ اخیره دې بیرته راوګرځوي. ولې چې د امام سره اخیره نیت په سبب د سجدهٔ تلاوت پورته سول. او کې قعده نه راوګرځول د مقتدي لمونځ فاسد شو.

بنسټانه بنوونه: هغه علماء چې په رکوع او سجده دواړو کې نیت شرط نه بولي هغه دا دلیل وائي چې رکوع او سجده مطلقاً د سجدة التلاوة په ځای کې دریږي ولې چې مقصود د سجدة التلاوة څخه تعظیم لامر الله دی. او هغه په رکوع کې لمانځه او په سجده کې د لمانځه موجود دی که نیت وکړي او که نه. او هغه چې په دواړو یعنې رکوع او سجده کې نیت شرط بولي هغه فقهاء وائي چې سجده التلاوة او رکوع او سجدهٔ د لمانځه دوه جنس مختلف دي نو یو جنس عمل چې د خلاف الجنس عمل په ځای کې دریږي. نیت خو ضرور غواړي، او هغه فقهاء لکه مصنفؒ چې د رکوع او سجدې فرق وائي د هغوی دلیل هغه دی چې مونږ عنقریب ذکر کړی. قال المصنفؒ:

إِذَا لَمْ يَنْقَطِعْ فَوْرُ التِّلَاوَةِ بِأَكْثَرَ مِنْ اٰيَتَيْنِ

دا یعنې نیت د سجدة التلاوة هلته صحیح دی که دستي کول د سجدهٔ تلاوت په بالاسره تردوو ایتو نه وو قطع سوي. **پوښتنه**: چې فور د سجده تلاوت په یوه ایت ویلو سره یا په دوه ایت ویلو سره په سجدهٔ تلاوت دا ایت خو اجماعاً نه قطع کېږي. او په څلور ایت ویلو سره اتفاقاً قطع کېږي. او په درې ۳ وایتو کې اختلاف دی. امام خواهرزادهؒ وائي چې فور یې قطع کېږي او امام حلواني وائي چې قطع کېږي. قال الامام الطحطاويؒ چې د امام حلوانيؒ قول اصح دی د جهته د روایت کما قال الحلبيؒ» او قول د خواهرزادهؒ اصح دی د سببه د درایت. ولې چې احتیاط په دغه قول کې دی ولذا اختاره المصنفؒ:

فائده: مصنفؒ په مراقي الفلاح کې تر عنوان د **تنبیه مهم** لاندې یوه پیراوږد بیان کړی دی چې قدر ضروري د هغه او بړده بیان چې عمومي خلګو ته فائده ده. دا دی چې څه وخت چې فور د سجدهٔ تلاوت قطع سي نو سجده تلاوت د سړي په ذمه کې پورګرځي،

نو دهغه دپاره به جلا رکوع یا سجده په لمانځه کی کوی او دا اوږد بیان به تردری محله
پوری رسولی دی فاعرضنا عنه لصعوبته فهمه علی المتعلم بل علی بعض المعلمین، قال المصنف

وَلَوْ سَمِعَ مِنْ إِمَامٍ فَلَمْ يَأْتَمَّ بِهِ اَوْ اِئْتَمَّ بِهِ فِي رَكْعَةٍ

او که چیری یو اوریدونکی یو سړی ایت د سجدی د امام څخه نو اقتداء یې نه پسی وکړه او یا یې اقتداء په بل رکوع

اُخْرٰى سَجَدَ خَارِجَ الصَّلٰوةِ فِي الْاَظْهَرِ

کی پسی وکړه د اسې به سجده تلاوت دباندی ترلمانځه کوی په أظهر روایت کی، **پـوښتـنـه**: چی په اوله مسئله کی چی ایت د سجدی یې د امام څخه واوریدی او اقتداء یې ګرچه پسی و نه کړه. چونکه سبب د سجدی چی سماع دی، متحقق سوه نو په سامع سجدهٔ تلاوت لازمه سوه. چونکه دده دپاره دا سجده صلاتیه نه ده نو ځکه یې خارج الصلوٰة کوی، مصنف ددوهمی مسئلی په دلیل کی وائی: صَوْنًا عَنِ الضِّيَاعِ
دپاره ددی چی وساتل سی هغه سجده چی پر ده لازمه سوی ده د ضائع والی څخه کی خارج الصلوٰة هم و نه کړی. وَالصَّلٰوةُ عَنِ الزَّائِدِ، او لمونځ وساتل سی د زائد شی څخه یعنی کی په لمانځه کی وکړی. قال المصنف:

وَاِنْ اِئْتَمَّ قَبْلَ سُجُوْدِ اِمَامِهِ بِهَا سَجَدَ مَعَهُ

او که چیری اقتداء وکړه د غه سړي چی ایت د سجده خویې د امام څخه قبل الاقتداء اوریدلی وو مخه تر سجدی د امام د غه ایت له نو مقتدی مذکور دی سجده وکړی سره د امامه. ولی چی سبب چی سماع وه پیدا سو او مانع هم و نه سته، قال المصنف

فَاِنِ اقْتَدٰى بِهِ بَعْدَ سُجُوْدِهَا فِي رَكْعَتِهَا صَارَ مُدْرِكًا

او که اقتداء وکړه د غه سامع د اٰیة السجدة دباندی ترلمانځه په امام پسی وروسته تر سجدی

لَهَا حُكْمًا فَلَا يَسْجُدُهَا اَصْلًا

د امام هغه ایت نه سجدی لکن په د غه رکعت کی

نو څه مقتدی مدرک سو د سجدهٔ تلاوت حکمًا، یعنی په دی اعتبار چی هغه رکعت د سجدی یې ونیوی ګویا سجده یې هم ونیوله نو ځکه مقتدی به سجده تلاوت نه کوی په هیڅ ډول یعنی نه په داخل کی د لمانځه ولی چی مخالفت د امام څخه لازمیږی، او نه خارج الصلوٰة ولی دا سجده صلاتیه ده حکمًا دده دپاره. قال فی المراقی باتفاق الروایات، قال المصنف:

وَلَمْ تُقْضَ الصَّلٰوتِيَّةُ خَارِجَهَا

او قضاء نه راوړه کیږی د سجده صلاتیه یعنی چی ایت د سجدی یې په لمانځه کی ویلی وي دباندی تر لمانځه، لِاَنَّ الْكَامِلَ لَا يَتَأَدَّى بِالنَّاقِصِ، لکن ګناه کار دی توبه دی وکاږی
مسـئـلـه: که ښځه پر لمانځه ولاړه وه او ایت د سجدی یې وواییه او مخه تر سجدی حیض ورغلی. نو سجده تلاوت ځنې ساقطه سوه لکه لمونځ چی ځنې ساقط شو، قال المصنف

وَلَوْ تَلٰى خَارِجَ الصَّلٰوةِ فَسَجَدَ لَهَا ثُمَّ اَعَادَ فِيْهَا سَجَدَ

او که چا ونوستی ایت د سجدی دباندی ترلمانځه نو سجده یې د هغه دپاره وکړه، او بیا یې هغه ایت

اُخْرٰى وَاِنْ لَمْ يَسْجُدْ اَوَّلًا كَفَتْهُ وَاحِدَةٌ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

په لمانځه کی هم وواییه نو په لمانځه کی به بله سجده کوی، ولی دا سجده خو صلاتیه ده او قوی ده نو تابع د هغی خارجی سجدی چی نسبتًا ضعیف ده نه سی کیدلای، او کی د خارجیه دپاره سجده نه وکړه نو یوه سجده یې په لمانځه کی کافی ده. ولی چی صلاتیه قوي ده. د دواړو تلاوتو ځای نیسی، په ظاهر روایت کی، او په نوادرو روایتو کی وائی چی د اول دپاره دی خارج الصلوٰة سجده وکړی، **مسـئـلـه**: که یو سړي په لمانځه کی ایت د سجدی وواییه او سجده یې هم وکړه او بیا وروسته، ترلمانځه بیا هغه ایت د سجدی وواییه نو بله سجده به کوي په ظاهر روایت کی، م"

قال المصنف

كَمَنْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسٍ وَّاحِدٍ لَا مَجْلِسَيْنِ

لکه څوک چی مکرر کړي یعنی څو واره ووائی یو ایت د سجدی په یوه مجلس کی او نه په دوه مجلسه کی، مجلس یې مطلق

وواـیـه اشاره ودی تـه دە چی مجلس کـ اوبـد وی اوکه لنډوي، **پـوښـتـنه**: چی یو ایت دسجدی چی پـه یوه مجلس کی هرځو واره مکرر سی. یوه سجده یه کافی ده. نوداسجده کـه پـه ابتداءکی دتلاوت وی اوکه پـه ما بـین کی وی اوکه پـه اخیرکی وی، پـه سبب دتداخل وکه پـه دوه مجلس کی یوایت دسجدی مثلاً دوه واره ووائی. نودهری یلاده پاره جَلا جَلا سجده غواړی، پـه حدیث کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به واصحابو ته یوایت ځوواره مکرر ووایـه او سجده بی کوله،

پُـوښـتـنَـه: آنحضرت صلی الله علیه وسلم ولی یوایت دسجدی واصحابو ته مکرر وایـه **جـَوابُ**: چی دوی یه زده کړی او پیادیه کی. نوکه دهرواردپاره سجده لازمه سی نوحرج دی. وحرج پـه دین کی نسته، اوپرخلاف ددی دی چی مجلس بدل سی اویا ایت دسجدی بدل کړی پـه هغه کی حرج نسته لعدم الضرورة»

فـائِـدَه: مصنفؒ پـه مراقی کی وائی: وهذا التداخل فی السبب فتنوب عما قبلها وبعدها» حاصل دا چی دیوی سجدی کفایت پـه صورت کی دتکرار تداخل پـه سبب کی دی چی ایت دسجدی دی، نـه پـه حکم کی سجدهٔ تلاوت دی، یعنی دغه ډیرواروته دسجدهٔ تلاوت ویل چی پـه حقیقت کی خودیر دی، لکن سره دهغه تکدیو وارتلاوت دی حکماً لاتحاد الایة متلوة والمجلس نویوتلاوت سبب دی هغه نوری یه تبع دی. ولی خویوجنس دی، پس واجب یوحکم دی یعنی یوه سجده لان اتحاد السبب یستلزم اتحاد المسبب نوورو سته او دمخه تلاوتونه سره یوځای کیږی اویوه سجده یه پـه ځای کی دګردو دریږی۔ قالَ المصنفؒ

وَيتَبَدّلُ المَجلِسُ بِالاِنتِقَالِ مِنهُ وَلَومُسدِيًا

او بدلیږی مجلس پـه نقل کیدو سره د هغه مجلسه ځخه که پـه صحراء یا لار کی وی نو دری ګامه چی نقل سی یعنی پـه صرف ولاړه یا یوګام یا دوه ګامه مجلس نـه بدلیږی که ځه هم دکښېني تاروته دیوه سرځخه بل سرته ورسی یعنی پـه دی سره هم دکښېنی باف مجلس بدلیږی،

کتبه ورتبه احقرالخلق فضل الحق حقانی مدرس بجامعة مرکزیه تجوید القرآن

قـالَ المصنفؒ **وَبِالاِنتِقَالِ مِن غُصنٍ اِلیٰ غُصنٍ** اوداغه رنګه مجلس بدلیږی چی سړی پـه درخته کی دیوه ښاخه ځخه بل ښاخ ته یوړ ته کیږی یا دیوه ښاخ ځخه بل ته راښکته کیږی۔ قال فی المراقی فی ظاهر الروایة» اوبعض فقهاءؒ وائی چی چونکه یخ د درختی یودی نوپـه انتقال دښاخو ځخه تبدل دمجلس نـه راځی. بلکه یوه سجده یه کافی ده» قـالَ المصنفؒ:

وَعَومٍ فِی نَهرٍ اَوحَوضٍ کَبِیرٍ فِی الاَصَحّ اوداغه رنګه مجلس بدلیږی چی سړی اوبازی کوي پـه رود کی. اویا پـه لوی حوض کی۔ لوی حوض هغه دی چی لس پـه لس کی وي اوتردی کم صغیردی۔ پـه صحیح روایت کی. دا راجع قتولو مذکوره مسائلوته دی۔ ولی چی پـه ما سواد انتقال پـه نورو مسئلو کی اختلاف سته، قـالَ المصنفؒ:

وَلَایَتَبَدّلُ بِزَوَایَا البَیتِ الصَّغِیرِ وَالمَسجِدِ وَلَوکَانَ کَبِیرًا

اونـه بدلیږی مجلس پـه کنجانوسره دخونی چی کوچنی وی یعنی که ایت دسجدی پـه یوه کنج د خونی ووائی اوبیا یه پـه بل کنج کی ووائی یوه سجده کافی ده. ولی مجلس یـه قدر انتقال سره نـه بدلیږی» بخلاف بیت السلطان چی یوه خونه لوړه او بله کښته وی. اویا پـه مابین کی دیوه اطاق اوبل اطاق یـه ډیرغولی وی پـه هغه سره مجلس بدلیږی اوپـه قدر د تلاوت سجدی پرلازمیږی، اوداغه رنګه مجلس نـه بدلیږی پـه کنجانوسره دمسجد که ځه هم مسجد ډیرغټ وي، سبب دادی چی مسجد که هرځو غټ وی دیوه جانب ځخه ئی اقتداء دبل جانب پـه امام پسی روادَه نوپـه دی سبب مسجد که لوی وی اوکه کچنی وی بُقعَة واحدة ګڼل کیږی» قـالَ المصنفؒ:

وَلَابِسَیرِ سَفِینَةٍ اونـه بدلیږی مجلس دتلاوت اودسماع پـه تګ دکښتی یعنی چی سړی پـه کښتی ناست وی اوکښتی روانه وي، نوهرځو واره چی یوایت دسجدی سړی ووائی یوه سجده یه کافی دَه، ولی چی مجلس نـه دی

بدل سوي، درویش وائی چې حکم د موټر او تیارې هم داغه دی. زوبا د شکل او موټر گاټ هم د غسي نه دی فتدبر» قال المُصنفؒ:

وَلَا بِرَكْعَةٍ وَبِرَكْعَتَيْنِ

اوداغه رنگه نه بدلیږي دیوه رکعت په کولو سره مثلاً په یوه رکعت کی دوه یا دری وارې یوایت د سجدې ووایې یوه سجده کافی ده، او په دوه رکعته سره هم مجلس نه بدلیږي.» یعنی په یوه رکعت کی ایت د سجدې ووائې او په دوهم رکعت کی هغه ایت مکرر کړي مجلس نه دی بدل نو یوه سجده کافی ده.» لکن دا مذهب دی دابویوسفؒ او امام محمدؒ وائی چې مجلس بدل سو نو دوې سجدې به کوي»، قال المُصنفؒ:

وَلِشُرْبَةٍ وَاَكْلِ لُقْمَتَيْنِ وَمَشْيِ خُطُوَتَيْنِ وَلَا بِاتِّكَاءٍ

اونه بدلیږي مجلس دا او بوپه چښلو سره یعنی سړي ایت د سجدې ووایه او بیا او به وچښلی، او بیا

وَقُعُودٍ وَقِيَامٍ وَرُكُوبٍ وَنُزُولٍ فِي مَحَلِّ تِلَاوَتِهِ

یه هغه ایت ووایه مجلس نه دی بدل یوه سجده یه کافی ده، دغه رنگه په خوړلو د دوو گولو هم مجلس نه بدلیږي یعنی سړي د مخه تر خوړلو ایت د سجدې ووایه او بیا دې گولې دوې وخوړلې مجلس نه دی بدل بلکه یوه سجده یه کافی ده او دغه رنگه په دوه گامه تگ سره مجلس نه بدلیږي یعنی سړي ایت د سجدې ووایه او بیا یه دوه گامه واخستل بیا یه هغه آیت ووایه یوه سجده کافی ده.»

او که تر دوی گولو بالاوی مجلس بدلیږي نو بیا دوې سجدې غواړي، او دغه رنگه نه بدلیږي مجلس په تکیه کولو سره یعنی سړي ناست وی او ایت د سجدې ووائی او بیا تکیه وکړي او بیا هغه ایت د سجدې ووائی مجلس نه دی بدل یوه سجده یه بس ده، او دغه رنگه مجلس نه بدلیږي په ناست سره او په ولاړه سره یعنی سړي ناست وی ایت د سجدې ووائی او بیا دی ولاړ سی هغه ایت د سجدې او بیا دې ولاړ وی ایت د سجدې ووائی او بیا کښیني هغه

هغه ایت تکرار کړي مجلس نه دی بدل او یوه سجده یه کافی ده، او دغه رنگ مجلس نه بدلیږي په سپر یدو سره پر خره یا آس وغیره یعنی سړي کښېنسته ایت د سجدې ووایه او بیا په هغه ځای کی پر خره باندی سپور سو، او بیا یه هغه ایت د سجدې ووایه، یوه سجده یه کافی ده، او دغه رنگه مجلس نه بدلیږي په راکښته کیدو د دابې څخه یعنی سړي پر خره مثلاً سپور وو او ایت د سجدې یه ووایه. او پر هغه ځای راکښته سو او بیا یه ایت د سجدې پر هغه ځای ووایه یوه سجده یه کافی ده. د دی سببه مصنفؒ وویل «في محل تلاوته» قال المُصنفؒ:

وَلَا بِسَيْرِ دَابَّتِهِ مُصَلِّيًا

اونه مکررېږي مجلس په تگ د دابې که آس وي که خره په داسی حال چې دی لمونځ پر دا کوي نو ایت د سجدې په هغه لمانځه کی مکرر ووائی» مجلس یو دی په سبب د دی چې لمونځ روا دی او سره د دی چې یو لمونځ په مختلفو ځایو کی نه دی روا **پوه سه:** چې د مصلیا قید یه د دی د پاره ووایه که دغه سپور سړي پر لمانځه نه وی او دابه روان وی او ایت د سجدې مکرر ووائی نو په قدر د تکرار سجدې پر لازمې دي، ولې چې تگ د دابې منسوب وه راکبه دی گویا دی روان دی»

درویش وائی چې په دی سره حکم د بائسکل موټر گاټ بنه ښکاره سو او که سړي لمونځ پر دابه کاوه د خارجې سړي څخه ایت د سجدې واوریدی. او بل وار یې واوریدی، مکررې سجدې پر لازمې دی او تر لمانځه وروسته بی اداء کوی» مرط، «د **پوه سه** چې په موټر کی او یا طیاره کی د موټر چلوونکی او طیارې چلوونکی، او د سوارې یا نو حکم سره جلا دی مګر په طیاره کی په سبب د حرج یه یو دی» «د» قال المُصنفؒ:

وَيَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ عَلَى السَّامِعِ بِتَبْدِيلِ مَجْلِسِهِ وَقَدِ اتَّحَدَ

او مکرره ریږي وجوب د سجدهٔ تلاوت پر اوریدونکی په بدلولو سره د مجلس دده او حال

مَجْلِسُ التَّالِي لَا بِعَكْسِهِ عَلَى الْأَصَحِّ

داوی چې مجلس د تالی یو وي

مثلاً تالی یوځای ناست وو او ایت د سجدی یې تلاوت کړې او سامع هم واوریدی، بیا سامع بل ځای ولاړې او بیرته د تالی مجلس ته راغلی تالی بیا هغه ایت د سجدی ووایه پر سامع دوې سجدی واجب دی، لتبدل مجلسه، او پر تالی یوه سجده ... نعم التبدل
او په عکس کی یعنی چې د تالی مجلس بدل سی او سامع پر هغه اول ځای ناست وی نو پر تالی
کم خم هم دوی سجدی واجبی سولی. ولی خو مجلس یې بدل کړې. اما پر سامع یوه سجده
لازمه ده لعدم تبدیل مجلسه، لکن پر صحیح مذهب، قال ط وعلیه الفتوی" نهر، واختاره
صاحب الهدایة وقاضیخان، قال الحلبی وبه نأخذ، او بعض فقهاؤ وائی چې په دی صورت
پر سامع هم دوې سجدی واجبی دې. قال ط وهو المختار للاسبیجابی وعلیه الفتوی وهو قول
فخر الاسلام، ولی چې مجلس د تالی چې بدل سی نو د سامع وجوب پر سامع هم مکرر ریږی ولی
اصلی سبب خو تلاوت دی لکه مذهب د جمهورو چې دی، والحکم چې سجده د اضافت او
نسبت په و سبب ته کیږی چې تلاوت دی نه وشرط ته چې سماع دَه، او د اصح مذهب دلیل
دا دی لکه په المخ کی وائی چې صحیح دا دی سبب د سجدی په حق کی د سامع سماع دَه تلاوت
نه دی، او په ما نحن فیه کی خو مجلس د سامع نه دی بدل سوی،

پوښتنه: چې د اولی مسئلی حکم اتفاقی دی یعنی هغه ځوک چې سبب د وجوب
پر سامع باندی سماع بولی نو خو ظاهره ده چې مجلس د سماع خو متعدد دی، او پر مذهب د
جمهورو چې سبب د وجوب د سجدهٔ تلاوت تلاوت بولی هغو وائی چې اتحاد د مجلس د تالی
خو د تالی په حق کی تعدد المجلس باطل کی نو د اتحاد په حق د بل چا چې سامع دی، تاثیر نه لري.

قال المصنف **وَكُرِهَ اَنْ يَّقْرَءَ السُّوْرَةَ وَيَدَعَ اٰيَةَ السَّجْدَةِ لَا عَكْسُهُ**
او مکروه دی چې یو ځوک نو سورة تلاوت کوی او تر ایة السجدة تیر شی یعنی نی وائی
او دا کراهت په تحریمی دی کما فی النهر، ولی چې په دی کی مشابهت دی د منع کولو د کفارو
خپل ځانونه د سجدی څخه او د منع خو خوی د مؤمن نه دی، ولی چې دا خو کفر دی" نو ما یشبه به
لکه د غه فعل د مؤمن مکروه تحریمی دی کذا فی البنایة شرح الهدایة. او عکس یې مکروه نه دی.

ولی چې په دی عمل کی مبادرت دی و سجدی ته پر خلاف د فعل د کفارو، قال المصنف

وَنُدِبَ ضَمُّ اٰيَةٍ اَوْ اَكْثَرَ اِلَيْهَا او مستحب دی چې هغه سړې چې یوازی آیات د سجدی وائی. چې وهر ایت ته
د سجدی دی یو ایت بل یا دوه ایت نور دی ور جوت کړې یعنی ور سره و دی وائی، تا چې توهم
د دی د فع سی چې دا ایتونه د سجدی تر نور قرآن تفضیل لري، سره د دی قرآن مبارک من
حیث انه کلام الله تعالی ټول سورتونه او ایتونه په سره برابر دی که څه هم په اعتبار د پرو
صفاتو د خدای پاک په بعض سورتو او ایتو کی تفضیل یو پر بل سته. فتح القدیر" قال المصنف

وَنُدِبَ اِخْفَاۤئُهَا مِنْ غَيْرِ مُتَاهِبٍ لَهَا او مندوب دی یعنی د ماشخول طرف
څخه کرار ویل او پوټ ول د ایة السجدة د هغه چا څخه چې هغه را ستروی نوی سجدی ته یعنی یا
او د سونه نه لری او یا پر تکلیف وی سجده او دا شفقة دی پر دوی.

فائده: په محیط او عنایه کی وائی که تالی د قرآن یوازی وو نو ده خوښه ده که قراءت
په جهر ولی او که قرار، او که نور خلک سامعین موجود وو. نو که دوی په خیال د تالی و سجدی ته
اماده وو یعنی او د سونه یې درلوده، او تالی په دې هم پوهیدی چې سجدهٔ تلاوت پر دوی تکلیف
نه ده نو ایت د سجدی دی په جهر و وائی، تا چه ټوله د اسی څلی عبادت وکړې. او که د قاری په خیال
ټوله یا بعض ئې او د سه په کنبی سته، او یا پر ټولو یا بعضو سجده کول تکلیف دی نو دی
کرار و وائی د دی سببه چې بل ورور په گناه کی د نه سجدی کولو واقع نه سی، هذا ما هذب المتأخر

مسئله: که قاری ته د خلکو حال نه معلومیدی بیا هم اخفاء ښه کار دی کذا قال الحموی
والطحطاوی، **مسئله**: که یو سړې په قصد ځان په یو کار اخته کړې وو، او د قرآن
مبارک د اوریدو څخه یې ځان غافل کړې وو او ایت د سجدی قاری وو وایه پر هغه سړي ز جرًا سجدهٔ
تلاوت وه واجب ده، س، در، ط، قال المصنف

وَنُدِبَ الْقِيَامُ ثُمَّ السُّجُوْدُ او مندوب دی و ولاړه او بیا سجده کول یعنی که سړې په ناستی ایت د سجدی ووایه نو

مندوب داده چې ولاړ شي او بیا دې سجده وکړي » د دې روایت عائشه رضي الله عنها کړې دی » م اوداغه نګه مندوب دی هغه چا ته چې د دا ایت د سجدې تلاوت کې چې راکبنته دی شي او سجده دې پر ځمکه وکړي. او امام طحطاوی وائي که د چا په ذمه کې ډېرې سجدې وي نو هر یوې د پاره ولاړ مندوب ده، قال المصنف:

وَلَا يَرْفَعُ السَّامِعُ رَأْسَهُ مِنْهَا قَبْلَ تَالِيهَا

اونه دې پورته کړي سامع سر خپل د سجدې نه د مخه تر تالي د ایت د سجدې. وفي الشرح اوداغه رنګه به سامع تر تالي د مخه سجدې ته نه ځي لکن دا هلته مندوب ده چې تالي او سامع پر یوه ځای سجده کوي » مندوبیت سبب دا دی چې تالي اصل دی نو سامع دی د ده متابعت وکړي » لکن دا ګمان دې څوک نه کوي چې سامع د تالي مقتدي دی حیثه » قال المصنف:

وَلَا يُؤْمَرُ التَّالِي بِالتَّقَدُّمِ وَالسَّامِعُونَ بِالْاِصْطِفَافِ

اونه دې امر کړی شي تالي د ایت د سجدې په د مخه والي سره او نه معان په صف کېدو سره ولې د ته

فَيَسْجُدُونَ كَيْفَ شَاؤُوْا

خو حقیقت اقتداء نسته، بلکه دوی دې سجده تلاوت وکړي څنګه چې خوښه وي، که څوک ورو سته وي که څوک د مخه وي تر تالي، قال المصنف:

وَشُرِطَ لِصِحَّتِهَا شَرَائِطُ الصَّلٰوةِ اِلَّا التَّحْرِيْمَةَ

اوشرط دی د صحت د سجدې تلاوت د پاره شرطونه د لمانځه: یعنې طهارت د حدث او خبث نه او ستر العورة واستقبال القبلة وغیرها مما مر في باب الصلوٰة مګر تکبیر تحریمه چې هغه په سجده تلاوت کې شرط نه دی بلکه سنت دی » قال المصنف:

وَكَيْفِيَّتُهَا اَنْ يَّسْجُدَ سَجْدَةً وَّاحِدَةً بَيْنَ تَكْبِيْرَتَيْنِ هُمَا

اوکیفیت د سجده تلاوت دا دی چې سجده دې وکړي یوه سجده په مابین کې د دوو تکبیرو یعنی

سُنَّتَانِ بِلَا رَفْعِ يَدٍ وَّلَا تَشَهُّدٍ وَّلَا تَسْلِيْمٍ

یعنې یو تکبیر د وضع د پاره او بل تکبیر د رفع د پاره بیله لاس پورته کولو او بیله التحیات » او بیله سلام ګرځولو، لعدم ورود الشرع بها،

فَصْلٌ

فصل دی په بیان د سجده شکر کښې،

سَجْدَةُ الشُّكْرِ مَكْرُوْهَةٌ عِنْدَ الْاِمَامِ لَا يُثَابُ عَلَيْهَا

سجده شکر مکروه ده په نیز د امام یعنې امام اعظم، وفي نسخة عند ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ علیه نه ثواب ورکول کیږي په هغې باندې کې وکړي او نه ئې پرېښودو . هغې کې ونه کړي . قال المصنف

وَقَالَا هِيَ قُرْبَةٌ يُثَابُ عَلَيْهَا وَهَيْئَتُهَا مِثْلُ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ

او امام محمد او امام ابویوسف یعنې په یوه روایت کې وائي چې سجدهٔ شکر د ثواب کار دی . او کیفیت د دې سجده شکر لکه کیفیت د سجدهٔ تلاوت دی یعنې و قبلې ته دې مخامخ شي او تکبیر دې ووائي او حمد د خدای او شکر دې ووائي، او تسبیح دې ووائي، او شرطونه هم د سجدهٔ تلاوت شرطونه دي »

پوهسه: چې که څه هم امام طحطاوي د کراهت نه کراهت تنزیهي اخستي دی خو بیا هم د حضرت الامام مذهب و توجیه ته ضرورت لري، قدوري وائي او کمال الهمام وائي چې په نیز د ابي حنیفه او ابي یوسف په یو روایت کې کم نعمت کعت قربت یعنې د ثواب نه دی » مګر هغه ځای چې په هغه کې نص وارد وي لکه سجدهٔ تلاوت » درویش وائي چې دا روایت خو نسبتاً مشکل دی » لکن امام محمد د امام اعظم نه د اسې روایت کوي چې مکروه دی »

بعض فقهاء چې د امام اعظمؒ د مذهب داسې توجیه کړېده چې حضرت الامامؒ مراد دا نه دی چې سجدهٔ شکر مشروع نه ده او ثواب نشته په کښې بلکه دا دی چې دا سجده واجبه نه ده. ولې نعمتونه د خدائ غیر متناهیه دی، فتکون مباحةً، آه دا توجیه د عبارت نه د کراهت یا عدم قربت ډېره لیرې ده کما لایخفی علی ذی لب» او بعض فقهاء وائي چې د امام اعظمؒ مذهب دا دی چې یوه سجدهٔ پوره شکر نه دی بلکه پوره شکر په دوه رکعت لمانځه کې دی لکه چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په ورځ کې د فتح د مکې وکړه کذا فی السیر الکبیر»

درویش وائي چې دا توجیه هم د کراهت د لفظ سره چې امام محمّدؒ یې روایت کړي دی موافقت نه لري، ولې چې دا خو صحیح ده چې یوه سجده خو پوره او کامل شکر نه دی بلکه کامل شکر دوه رکعت لمونځ دی. لکن د لفظ د کامل نه خو داسې معلومیږي چې فی الجملة شکر خو دی نو مکروه بیا ولې دَه یعنی سجده شکر فافهم، مصنف په مراقی کې وائي چې اکثر فقهاء پر دې رایه دی. چې سجده شکر هیڅ قربت نه دی په نیز د امام اعظمؒ بلکه مکروه ده» بیا مراقی وائي چې هغه چې په بعض حدیثو کې راغلی دَه. چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې په یو بد مرض مبتلا خوک به ئې ولیدی لکه، شل، پیس، ړوند، وغیره نو سجده د شکر به ئې وکړه چې شکر دی چې زه د دې آفت او مرض نه خدائ جل سلطانه سا تلی یم، هغه حدیث منسوخ دی»

لکن دا دعوی د نسخ امام طحطاویؒ رد کړېدَه، ولې چې اکابرو د صحابهؓ وو بېله علیه الصلوٰة والسّلام نه دا سجده کړېده، لکه په صحیح روایت سره چې ثابته ده چې سیدنا ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه په وخت د فتح د یمامې او د قتل د مسیلمة الکذاب سجده د شکر وکړه. او دا غه رنگه په صحیح روایت سره ثابته ده چې حضرت عمر رض په وخت د فتح د یرموک چې یوه وادی دَه په ناحیه کې د شام سجدهٔ شکر وکړه. او چې علی رضی الله تعالیٰ عنه ذی الندبة کافر قتیل ولیدی. په نهر کې سجده د شکر یې وکړه او په صحیح روایت کې داسې هم راغلی دی چې ابوداوٗد یې روایت کړي دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم درې واره یو وخت سجده وکړه. او داسې وفرمائیل: اِنّی سَئَلتُ رَبّی وشفعت لامتی فاعطانی ثلث امتی فخررتُ ساجدًا شکرًا یعنی ما خواست وکی د خدائ نه او شفاعت می وکړې دامت د پاره. نو ده یو ی دریمې شفاعت ې قبول سو:

نو زه پر سجده پریوتم د شکر د پاره: ثم رفعت رأسی فسألتُ ربی لاُمتی فاعطانی ثلث امتی فخررت ساجدًا شکرًا: ثم رفعت رأسی فسألتُ ربی لاُمتی فاعطانی الثلث الاخیر فخررتُ ساجدًا لربّی» شیرازی وائي ــه

عطائی شفاعت چنانچش دہند؛ کرامت تمامی زدوزخ رهند؛. اللهم ارزقنا شفاعته

نبیک صلی الله علیه وسلم» دیار انو سره دَمذهب امام طحطاوی لیکی وعلیه الفتوٰی» وفی الدرر به یفتیٰ. وفی کتاب ابن امیر الحاجُ وهو الظاهر. او خرنگه به ظاهر نه وی چې په سجده کې ډېر حدیثونه راغلی دی،، وفی الدر سجدة الشکر مستحبة به یفتیٰ، کیف وقد جآء فی الحدیث الصحیح چې څه وخت چې د ابوجهل لعنه الله سر په غزاکې د بدر د علیه الصلوٰة والسلام په مخ کې کښېښول سو پنځه واره یې سجده شکر وکړه. او په حدیث کې راغلی دی: چې څه وخت چې جبرئیل ع، و آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته دا زیری راوړی، ان الله تعالیٰ یقول لک من صلی علیک صلیتُ علیه ومن سلم علیک سلّمتُ علیه،

نو علیه السلام سجده شکر وکړه او په تاتارخانیه کې وائي چې صاحب الحجة وائي زما په نیز قول د امام اعظمؒ محمول پر ایجاب دی، یعنی سجده شکر د پاره د هر نعمت واجبه نه دَه، او قول د امام محمّدؒ محمول پر جواز او استحباب دی» درویش وائي چې دا خو ډېره صحیح خبره دَه لکن د کراهت توجیه نه په کیږی. نو صحیح توجیه نه په کیږي، نو صحیح توجیه د کراهت که هغه روایت ثابت وي هغه ده چې صاحب الدر کړي ده. چې د کراهت محمل هغه دی لکه بعض عوام چې کوي متصل په لمانځه پسې. ولې چې د بعض جاهلانو دا خیال کیږي چې دغه سجده متصله په لمانځه پسې یا سنت یا واجب ده. نو دا قانون دی چې هر مباح شئ او عمل چې ورته توهم ته مفضی سي هغه مکروه دی، دا و محمل د کراهته المروی عن امامنا الاعظمؒ: هُدیت الیه بنور التوفیق والله المستعان وعلیه التکلان» قال المصنفؒ:

فَائِدَةٌ مُهِمَّةٌ لِدَفعِ کُلِّ مُهِمَّةٍ قَالَ الاِمَامُ النَّسَفِیُّ

یعنی دا یوه فائده ده مهمه چې باید سړی د دې تعلم او تعلیم غم وخوري او ډېر غمخوري په وکړي

دپاره ددفع دهغی نازلی چې پرسړي نازله سي. یعنی د دغه عمل برکت به خدای پاک هغه ته دغه
دسړي څخه دفع کړي هغه داده، چې وئیلی دی امام نسفیؒ په کافی کی که څوك ووائی اتوسنه
سجده تلاوت ټوله په یوه مجلس کی، او دهرایت دپاره یعنی په هغه مجلس کی سجده تلاوت
وکړي خدای جل جلاله به کفایت وکړي د هغه شی چې دی ئې غم کی اچولی وو.
یعنی که بلاوی خدای به ئې څخه دفع کړي، او که تصنیف وو خدای به ئې ورته راجلب کړي"

فائده پوښتنه: چې دامهمه که دامورو څخه ددنیاوی او که داخرت وی

بعض علماؤ وائي چې ټوله څورلس ایته دی پوره کړي او بیا دی څورلس سجدی وکړي. لکن افضل
داده چې څرنګه یوایت ووایه د هغه دپاره دی سجده وکړي. او بیا دی بل ایت ووائي او سجده
دی وکړي وهکذا. ولی چې څنګه قبل د سجدهٔ تلاوت ترتلاوت مکروه تنزیهی دی" او دکمال
هغه قول به هم دفع سي چې وائي چې د ایت السجدة او سجدی فصل نه دی بنه کار" کذا
ت.. ..م: طحطاوی" درویش وائي چې داکار خو ډیر آسانه کاردی لکن شیطان ددی کار څخه
خلك مصروف کړي دی.

ایتولی بیشکه

ته بیشکه چې وارث الانبیاء دا یقینی ده
دعلوم [illegible] مول خو [illegible] زمونږ دنبی ده

انبیا ئې خپل امت ته بیله شکه حق بیان کړ
چې [illegible] ستودی دین بیان کړ خوشحالی ده

[illegible] ورځه زده کړی
[illegible] وحقانی ده،

حقانی بقلم خود

باب الجمعة

داباب دی په بیان کی دجمعی:
دپیښ دمیم ط. وفی المصباح یعنی په پیښ دمیم ط. وفی المصباح
فی المراقی لفظ الجمعة بسکون المیم، اوقراء القرآن یه مضموم وائي یعنی په پیښ دمیم ط. وفی المصباح
پیښ دمیم لغت دی داهل حجاز ط وائي دالغت مشهوره او فصیح دی. پردی تقدیر دالفظ په
معنی د مفعول دی،، ولی چې په سکون سره وزن د فعلة بمعنی المفعول" ای الیوم المجموع
فیه الناس" اوپه زوره میم د بنی تمیم لغت دی نو په معنی دفاعل دی: ای الیوم الجامع
اونایه د مبالغه دپاره ده لکه تا د علامة او سکون دمیم یه لغت د بنی عقیل"

فائده: قرائة متواتره په قرآن کی پیښ دمیم دی. او قرائت دسکون او فتح یه دقراءات

شاذه وو څخه دی، **د نقل ورخبره** : پوښتنه: چې فراءٔ او زجاجٔ او ابوعمرؒ وائي
چې عرب قدیم د جاهلیت څخه د اسلام تر راتلو پوري د ورځو نومان یه دی ډول وه،" د شنبی
ورځ یه شیار بلل، اود یکشنبی ورځ اول بلل، اود دوشنبی ورځ یه اهون بلل، اود سه
شنبی ورځ یه جبار بلل، اود چهارشنبی ورځ یه دبار بلل، اود پنجشنبی ورځ یه مؤنس بلل،
اود جمعی ورځ یه عروبة بفتح العین وضم الراء، ثم نقلت الایام الی الاسماء الاسلامیة: ای
الجمعة، و السبت، والاحد، والاثنین، والثلثاء، والاربعاء، والخمیس

دجمعی دورځی مناسبت: څوك وائي چې ورځ دجمعی چې په دی نامه مسمی سوه: لاجتماع الناس
فیه، او ابن حجرؒ په فتح الباري کی داوجه اصح الاقوال بللی ده یعنی چې خلق دآدمؑ
په دغه ورځ کی جمع سوی دی، او بعض وائي چې اجتماع دآدمؑ او د حواؑ په ځمکی کی هم په دغه
ورځ سوی ده، او بعض کسان وائي چې په ورځ دجمعی دخدای پاك بندګان او رحمت سره یوځای کوی
او دغی ورځی ته عید المؤمنین هم وائي، او یوم المزید یه هم بولی، لتزاید الخیرات فیه، او په
دغه ورځ کی روحان دمړو سره یوځای کیږی، او قبرو زیارت په دغه ورځ ډیر بنه دی، او هم په دغه
ورځ کی مړی د عذاب القبر څخه خلاص وی. او په حدیث صحیح کی راغلی دی چې که څوك په

وړ کی دجمعې اویا په شپه کی دجمعې مبارکی مړ سی دعذاب قبر څخه به خلاص وی،

دعوامو غلطیا: بعض عوام چی فکر کیږی یه د پنجشنبې دورځی تر زوال وروسته مړ سی نو هغه دجمعې شپې ته څندوی. او دجمعې په ورځ نه تان کیږی او دجمعې په ورځ اهل الجنة په ملاقات د رب العزت مشرفه کیږی. او دجمعې په ورځ سورة کهف ډیر ثواب لري، او په صحیح حدیث کی راغلی دی، "خیر یوم طلعت فیه الشمس یوم الجمعة، فیه خلق آدم وفیه اهبط، وفیه تیب علیه، وفیه مات، وفیه تقوم الساعة الی اخر الحدیث، یعنی ښه دورځو چی لمر په کښی راخیژی ورځ دجمعې ده. په ورځ کی آدم علیه السلام پیدا سوی دی، او هم په دغه ورځ دی ځمکی ته راکښته کړه سوی دی، وهم په ورځ دجمعې دده توبه قبله سویده. او دجمعې په ورځ دی وفات سوی دی. او دجمعې په ورځ به د صور شپیلی پوه کول کیږی یعنی لوی قیامت به جوړیږی،، قال المصنف:

صلوة الجمعة فرض عین علی من اجتمع فیه سبعة شرائط

دجمعې لمونځ فرض معین دی یعنی پر هر سړي جلاجلا فرض دی چی د بعض په کولو سره د نورو غاړی نه خلاصیږی پر هغه چاچی په هغه کی جمع سی اووه شرطونه وي، په مراقی الفلاح کی وائی: بالکتاب والسنة والاجماع، ونوع من المعنی: قرآن "اذا نودی للصلوة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله وذروا البیع: الایة صدق الله العظیم، ترجمه: چی اذان وکړه سی دپاره د لمانځه دورځی دجمعې تاسی په شوق څی وذکر ته د خدای او پریږدی خرڅول، تر پایه پوره یی،،

پوهسه: چی د ذکر الله څخه بعض فقهاء لمونځ مرادوی، نو دایت مذکوره فرضیت د لمانځه دجمعې خود لالت ظاهر دی، او بعض فقهاء مراد څندی خطبه بولی پر هغه تقدیر هم پر فرضیت د لمانځه دلالت کوي ولی چی خطبه خو شرط د لمانځه ده، او شرط هلته فرض گرځی چی مشروط یه فرض وي، او په تفسیر کی د دی ایت بعض مفسران خطبه او لمونځ دواړه مراده وي. او خدای جل سلطانه دپاره دتاکید دامر دسعی یو مباح شی چی بیع ده حرامه گرځولی: وهو

لایکون الا الامر واجب" مرط در،

حدیث: قال علیه الصلوة والسلام: واعلموا ان الله تعالی فرض علیکم الجمعة الی ان قال م فمن ترکها تهاونا بها واستخفافا بحقها، وله امام عادل او جائر فلا جمع الله شمله ولا بارک الله له فی امره الا فلا صلوة له الا فلا زکوة له الا فلا صوم له، الحدیث،

ترجمه: پوه سی په دی سره چی خدای پاک فرض کړیده پر تاسی لمونځ دجمعې نو که څوک لمونځ دجمعې پریږدی د کهالی دوجهی او د سپکاوی د سببه په حق کی دجمعې دلمانځه، او ده لره امام عادل یا ظالم وی. نو دی خدای نه جمع کوي دده متفرق احوال او نه دی خدای برکت اچوي دده په کارکی، خبردار اوسئ، چی دغه سړی لره نه لمونځ سته، اگاه اوسی چی دغه سړي لره زکوة نسته، او خبر اوسی چی دغه سړي لره روژه نسته، ولی چی په سبب داستخفاف دده په جمعه سره کافر سو، او کافر لره هیڅ عبادت نسته،

اجماع، په احادیثو شریفه ووکی راغلی دی چی مسلمانانو اجماع کړیده د وخت څخه دعلیه الصلوة والسلام الی یومنا هذا پر فرضیت دجمعې دلمانځه بی انکاره د هیڅ چا، او هغه خبره چی ابن کج کړیده دانتباعو څخه د امام شافعی چی د جمعې لمونځ فرض کفائی دی" هغه غلطه ده، نوع من المعنی" هغه معنی داده چی مونږ امر سوی یو په پرېښودلو دماپېښین د لمانځه، دپاره دجمعې د لمانځه، ولا یجوز ترک فرض الا لفرض، ط، "قال فی المراقی والجمعة فرض آکد من الظهر" ولی چی ظهر د دی په سبب پاتیږي." قال المصنف:

الذکورة والحریة اول شرط نر والی دی، په دی شرط سره ښځی ووتی یعنی پر ښځه دجمعې لمونځ فرض نه دی، قال الله تعالی: وقرن فی بیوتکن، او بل شرط حروالی دی یعنی ازادوالی پر مریی باندی لمونځ فرض نه دی د واووپه کتابوکی وائی چی بادارته دار واده چی مریی دجمعې دلمانځه څخه او د جماعت دلمانځه څخه او د اخترو د لمونځو څخه منع کړی، اختلاف په دی کی دی چی که مولی اجازه د جمعې دلمانځه مریی ته وکړی. آیا پر ده دجمعې لمونځ بیا فرض دی او که نه! صحیح داده چی په

اجازه د مولی خوبه مرضی دجمعی لمونځ نه فرضیږی که څه هم اداء یې صحیح دَه، قال المصنف

وَالْاِقَامَةُ بِمِصْرٍ په ښار کی، په دی قید اوشرط سره هغه خلك ووتل چې مقیم وی خو په قریه کی، اویا په ښار کی خووی لکن مسافر وی: لقوله علیه الصلوٰة والسلام: الجمعة حق واجب علیٰ کل مسلم فی جماعة الا اربعة مملوك اوامرئة، اوصبی، اومریض، وزاد فی روایة البخاري اومسافر، قال علیه الصلوٰة والسلام: لاجمعة ولاتشریق، ولاصلوٰة الفطر ولا الضحیٰ، الافی مصرجامع، اومدینة عظیمة، یعنی نشته دجمعی لمونځ اونه تکبیرونه دَ تشریق اونه دکشنی اختر لمونځ اونه دلوی اختر لمونځ مګر په مصر جامع کی اویا په لوی ښار کی

پوښتنه: چې داحدیث امام ابویوسف اوامام محمد په مبسوط کی وَعلیه الصلوٰة و السلام ته مرفوع راوړی دی. اوابن ابی شیبة په علی موقوف یعنی دَرولی دی، لکن د قانون سره د محدثینو سم په حکم کی چې دعقل لاره ورته نه وی. موقوف حدیث لکه مرفوع دی اوکمال وائی چې کافی دی قول دعلی داقتداء دپاره، قال المراقی، اونه ده نقل سوی دصحابه رضی الله تعالیٰ عنهم څخه چې دوی فتح دوطنود کفارو وکړه. چې دوی په مشغوله سوی ځایونو کی د منبرو په اینبوولوسره یا په آدابو دَجمعی د لمانځه مګر دپه ښارونو کی کار کړی وی نه په تربو کی اوکه چیری یوچا دصحابه په یوه قریه کی لمونځ کړی وای. نو هغه به تر موږ را رسیدلی وای که څه هم په خبرواحد سره وای،

پوښتنه: چی مصر جامع اومدینة عظیمة سره یوشی دی نوکلمه د "اَو" یا شك دراوی دی اویاد تخییرفی العبارة دَه **تنبیه**: په تعریف کی دمصر جامع په پخوانی زمانه کی اوپه اوس عصر کی لوی اختلاف اوطویل طویل بحثونه سته چې دَهغو تحقیق په دې مختصر شرح کی ډیرګران دی نوځکه در ولیش اکتفاء په شرح د نورالایضاح وکړه. اوبعض خبری دمراقی اود طحطاوی هم را انقل کړی، که خوك غواړی چی په تفصیل ځان خبر کړی نو د فتا واوو کتابونه دی مطالعه کړی، اود ر ولیش داګمان نه دی چی یوه تعریف د مصر به په اتفاق سره خوك پیداکړی، لهذا کُلٌّ بِمَا لَدَیْهِمْ فَرِحُوْنَ. یو مجرب او منل سوی خبره دَه،

خصوصاً په عصر حاضر کی، دَ خلګو ترما بین تعصبات قومی، مذهبی، علمی، جاطلبی جاری ده

قال المصنف **اَوْفِیْمَا هُوَ دَاخِلٌ فِیْ حَدِّ الْاِقَامَةِ فِیْهَا فِی الْاَصَحِّ** اویا سړی اقامت لري په داسی محل کی چې هغه داخل وی په حد د اقامت په مصر کی، یعنی داسی یوځای وی دَ ښار څخه د باندی چې تر دغه ځای سړی تیریږي هغه د ښاره څخه مسافر بلل کیږی. اوچې ودغه ځای ته د سفره څخه راسی ځان مقیم په ښار کی بولي. نو دَغه ځای هغه محلی دی چې اطراف د ښار په عرف کی دَ خلګو بلل کیږی، چې دهغه په باره کی دا امام محمد څخه یوه غلوه روایت را اغلی دی" چې هغه غلوه سوه ګزدی په اصح روایت کی وفی النوادر وهوالمختار، وفی المنهایة عن التمرتاشی انه الاشبه، وفی النهایة وهوالاصح لکن امام طحطاوی وائی:

تنبیه چې دا تقدیر په غلوه سره چې مصنف مختاره کړی اود امام محمد څخه یو روایت را اغلی دی، اوما ذکر من الائمة په هم تصحیح کړیده، اویا بعض فقهاؤ په په امیال سره تقدیر داطرافو د ښار کړی دی چې د جمعی لمونځ پرسړی واجبیږی، اوبعض علماء په په سماع النداء سره تقدیر کړی دی. اویا په بدائع کی وائی که دسړي کوردونه دښار څخه لیری وو چې سحار د کوره او تلای وای اود جمعی لمونځ یې په ښار کی کړی وای ما ښام ته بیرته کورته را رسیدی بی تکلیفه په هغه سړي د جمعی لمونځ په ښار کی فرض دی، دا قول لیس بشئ دی که څه هم فقهاؤ په تصحیح کړیده. ولی چې د نص څخه د حدیث اود روایت څخه زمونږ د آئمه ثلاثه مخالف دی اود ر مختار څخه داهل الترجیح دعلماوو د مذهب هم دا قوله تقدیرونه مخالف دی **سوال**: اخیر طحطاوی اواهل الترجیح د مذهب تقدیر داطرافو د ښار چې د جمعی لمونځ پر واجب بولي، په څه شی سره کوی! **جواب**: دا بناء پر عرف دخلګو دی لکه حضرت الامام الاعظم چې په ډیرو مسئلو کی رأی د مُبتَلیٰ به معتبره وی، قال المصنف

وَالصِّحَّةُ اودغه رنګه شرط دَ وجوب د صلوٰة الجمعة جوړوالی دَبدن دَسړي دی. نو په دی شریطه سره مریض دوجوب څخه خلاص دی،

ف مرة: سپین بږیری چې ډیر ضعیفه وي په حکم کې د مریض دی»، م، خواه مریض جامع مسجد ته بیخي تلای نه شي، او یا تلای خو شي مګر بیا زیاتت د مرض سبب به یې
مسئله: که چیرې سړی چې د مریض خدمت یې کاوه که دی د جمعې لمانځه ته ولاړ شي نو مریض ضائع پاتیدی د هغه څخه هم د جمعې لمونځ ساقط دی»، قَالَ المُصنفُ

وَالاَمْنُ مِنْ ظَالِمٍ اوبل شرط دوجوب د جمعې د لمانځه امن د سړي دی ظالم څخه نو بیا هغه سړي د جمعې لمونځ نسته چې د ظالم څخه پټ وي **پوښته**: چې مصنف چې تعبیر په ظالم وکړي د دې معنا داده چې سړی خو مظلوم وي. او که سړي یو جنایت وکړي چې سبب د حدودو بیرته لګ زنا چې یه کړي وي، او یا ناحقه یې مړی کړی وي. او دی پټ وي بیا هغه سړي د جمعې لمونځ فرض دی زجرًا، **مسئله**: کوم سړي چې مُفلسه وي یعنې نه دینار لري او نه درهم او پور ورپر باندې وي، او دی بیریږي چې پور ورکړي بندي کوي به هغه سړي هم د جمعې لمونځ نسته په حکم کې د مختفی من ظالم دی»، م، قَالَ المُصنفُ،

وَسَلَامَةُ العَينَيْنِ اوبل شرط یې دوجوب سلامتیا د سترګو ده نو پړانده باندې د جمعې لمونځ واجب نه دی په نیز د امام اعظم ابوحنیفه، او په نیز د یارانو کې چیرې قائد ورلودی که هغه قائد تبرعًا یې جامع مسجد ته بیائي او که په مزدوری بیائي او دی یعنې ړوند هم مزدوری لري، نو بیا هغه ړانده هم د جمعې لمونځ فرض دی»، قَالَ المُصنفُ:

وَسَلَامَةُ الرِّجْلَيْنِ اوبل شرط د وجوب د جمعې د لمانځه جوړ والی د پښو دی نو پر شل باندې د جمعې لمونځ واجب نه دی ولې چې دی عاجزه دی د تګ څخه اودا حکم اتفاقي دی، او ط وائي چې دواړې پښې یې پرې وي پر هغه هم وجوب د لمانځه د جمعې نسته **مسئله**: که د سړي یوه پښه فلج وه یا یې پرې وه او لې تکلیفه پر لکړه باندې تلای شوای پر هغه هم د جمعې لمونځ واجب دی، ط، په مراقي کې وائي چې ډیر زور او باران چې د سړي اغوستی کالی سره ورلنده وي. او د هغ

رنګ زور آور واوره او یا څکرهم عذر دی. او مسقط د جمعې د لمانځه د وجوب دی
سوال: د جمعې د وجوب دپاره خو عقل او بلوغ هم شرط دی. نو مصنف هغه ولې نه کړه ذکر **جواب** عقل او بلوغ خو خاص په جمعې پورې نه دی بلکه هغه دوه مدار د نفس مکلف والی دی»، قَالَ المُصنفُ:

وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّتِهَا سِتَّةُ اَشْيَاءَ اَلمِصْرُ وَفِنَائُهُ اوشرط دی دپاره د صحت د لمانځه د جمعې شپږ شیان، یا ښار او یا اطراف د ښار چې د مخه یې تفصیل تیرسو، قال فی المراقي چې صحیح دی د جمعې لمونځ په ډیرو ځایو د ښار او د فناء د ښار کې، فی الاصح. قال الامام السرخسیؒ وبه نأخذ وعلیه الفتوی کمافی شرح المجمع للبدر العینی وکذا فی الفتح، او په بدائع کې وائي چې ظاهر الروایت دادی چې د جمعې لمونځ په دوه ځایه کې د ښار روا دی. او بالاتر دوه ځایه نه دی روا»، قَالَ وعلیه الاعتماد» دروښي وائي چې قول د بدائع د هغه زمانې د مسلمانانو برابر دی یعنې چې د عبادت شوق خصوصًا د جمعې د لمانځه محبت د عامو مسلمانانو په زړه کې وو. او په اوسنې زمانه کې چې ښارونه ډیر غټ شوي او په میلو مسافت یې په بر کې نیولی دی او ورسره د هغه مسلمانانو د زړه څخه د عبادت کولو عشق او محبت هم کم شو.
نو که لمونځ د جمعې فقط یو ځای روا نه وي. لکه شیخ علامه مقدسيؒ چې په نور الشمعة کې د امام اعظمؒ څخه داسی روایت کړی دی. لاتجوز صلوة الجمعة الافی موضع واحد من بلد واحد» او یا امام زاهد عتابيؒ وائي او صاحب البدائع هم وائي. چې د جمعې لمونځ په یو ښار کې نه دی روا مګر په دوه ځایه کې. نو دا په سبب د ګناه کاره کیدو سې د زړه مسلمانانو چې په هغوی کې شرائط د وجوب پیدا وي. او دونه مزل د جمعې په لمانځه کښې نه کوي. یعنې هغه یو ځای یا دوه ځایه چې د جمعې لمونځ کیږي. او دا یو لوی حرج دی په دین کې. نو ځکه مصنفؒ جواز د تعدد د لمانځه د جمعې په یو ښار کې مطلقًا روا وبالله. او امام طحطاويؒ هم وائي چې اصح داده چې مطلقًا تعداد د ځایو د لمانځه د جمعې روا دی»، لاطلاق الدلیل»، **فرع**، چې تعدد مطلقًا روا شو بیا نو یو ځای والی د ټولو جامع مسجد و په لمانځه کې د جمعې هم ساقط دی.

اوبناء پر قول ضعیف چې وَائي تعداد دځایونو دی رَوا، نو بعض علماء وَائي که ځایونه متعدد وه نو د هر جامع مسجد خلک به احتیاطًا څلور رکعته لمونځ وروسته د جمعې نه په نیت دا خر الظهر علیه به کوي. ولې چې تعدد نه سی رَوا او ځوځایه د جمعې لمونځ کیږی. نو چې اول ځای د جمعې لمونځ اداء سو هغه صحیح دی نور گرده فاسد دي، او که ځایونه په یوه وخت کی سره وکړي د ټولو لمونځ فاسد دی، نو ددی کبله دی څلور رکعته په نیت داخر الظهر اداء کوي.

مصنف دعلامه په رد کی د دی قول وائي: وَلیْسَ الاحتیاط فِي فِعلها بل الاحتیاط فی العمل باقوی الدلیلین وهو جَواز تعدد الجمعة» د رولیش وائي چې د دلیل قوي اطلاق دی د حدیث لاجمعة وَلا تشریق الا فی مصرٍ» نو مصر شرط د کولو د جُمعې دی او هغه حَدیث مطلق دی نو بناءً علیه که د جمعې لمونځ یو ځای وي په بنار کی او که مثل ځایه وی مصر خو پیدا دی، قال المراقی که علانیهٔ څلور رکعته احتیاطی څوک کوي او یا عوامو ته هم دا تبلیغ کوي نو د بعض جاهلانو به داخیال سی چې د جمعې لمونځ فرض نه دی، نو بیا به ئې نه کوي. او د بعض جاهلانو به داخیال سی چې ده جمعې په ورځ دوه لمونځه فرض دی،

د رولیش وائي: چې هغه خبره چې برهان حلبیؒ کړیده چې کول د څلورو رکعتو وهو الاحتیاط لان الاختلاف فی جواز التعدد قوي لان الجمعة لا تصلی فی زمان السلف الا فی موضع واحد من المصر وکون التعدد صحیحًا للضرورة یعنی کما ذکرنا سابقًا لایمنع شرعیة الاحتیاط انتهی مع تغییرٍ داخبره داعتبار وړنه ده. ولې چې په دی احتیاط کی دوه لویه مفسده سته چې تر خیریه شر ډیرین ی کما ذکرنا انفا من ظن العوام، بلکه صحیح خبره هغه ده چې ط د شرح نخبه د مراقی نقل کړیده چې کول د دغو څلورو رکعتو احتیاطًا بوصف الاشتهار، او یا عوامو ته په دغه احتیاطی څلور رکعته سره فتوي ورکول ممنوع دی اشد المنع، بَل ندل علی ذالک والاحتیاط للخواص فی بیوتهم الذین یحتاطون فی امور دینهم، الذین یترکون مایریبهم الی تحصیل تیقنهم آه د رولیش وائي چې داسی خواص محتاطین فی امور الدین په عصر حاضر کی عزّ وجود هم کالکبریت الاحمر والمسک الاذفر الآمن وفقه الله،

بیت: چو بینم دین احمدؐ در غریبی ؛ دلم سوزان ز چشم خون جاری؛ عَبدُ الرحمٰن بابا وائي
کله کله خونادر گوهر پیدا سی ؛ نور هم جهان د تورو کا نړو غردی ؛ وان شئت مزید التفصیل فی هذه المسئلة فارجع الی رد المحتار» قال المصنفؒ فی نور الایضاح:

وَالسُّلطَانُ اَوْنَائِبُهٗ اوبل شرط د شروطو څخه د صحت د لمانځه باچا دی د مملکت یعنی چې دی څپله به لمونځ ورکوی. او یا نائِب ده باچا یعنی چې د ده امر د اقامت د جمعې ورکړی وی او عیدین هم پر جمعه قیاس دی: قال الحسن البصریؒ: اربعٌ الی السلطان وذکر منها الجمعة والعیدین

مسئله ابن المنذر وائي که سُلطان یا نائب نه وو موجود نو دی خلک څپل د ما پښین لمونځ وکړی

مسئله: که بوچا په زوره یو ملک ونیوی بیله بیعته د اهل الحل والعقد او ده په رعیت کی حکم د نورو امیرانو کاوه هغو ته هم اقامت د جمعې روادی» ط،

مسئله: که چیری غلبه وکړي کافرانو پر مسلمانانو او کافران والیان په مقرر کړه مسلمانان هلته د جمعې لمونځ او د اخترو لمونځ کولای سي. او یو قاضي دی وَدَروی په اتفاق د دوی او بیا دوی واجب ده چې والی مسلمان دی د ځان د پاره غوره کړي. لکه په هغه وخت کی چې لویه وچه د هند او پاکستان د انګریزانو په قبضه کی وه نو مسلمانانو د ځانو د پاره به هر بنار کی قاضیان ټاکلی وه. او د هغو په امر به د جمعې او اخترو لمونځونه کوله.

مسئله: په هغه ځای کی چې امیر المؤمنین ته د خلکو لاس نه رسیږی چې اجازه د جمعې د لمانځه ځنډی واخلی هلته د لوی قاضي د هغی نا حیې اجازه هم کافی ده، او په پاکستان کی نه د سرې رسیدګی و رئیس جمهور ته کیږی او شرعي قاضیان په حکومت کی هم نسته او مسلمانانو د ځانو د پاره قاضي هم نه دی ټاکلی نو دوی کیدلای سی چې دیوه بنه عالِم چې په علومو دینیه و وخبر وی او متقي وی د جمعې د لمانځه اجازه واخلی» در» قال المصنفؒ.

وَوَقْتُ الظُّهْرِ فَلَا تَصِحُّ قَبْلَهٗ وَتَبْطُلُ بِخُرُوْجِهٖ

اوبل شرط د صحت د لمانځه د جمعې وخت د ماپښین دی، نو نه دی صحیح لمونځ د جمعې د مخه تر دخول

د ماپښین دوخت اوبا طلیږی دجمعی لمونځ په وتلوسره دماپښین دوخت، لیعنی چی امام شروع د لمانځه دجمعی وکړه خودَماپښین وخت باقی وو لکن په ما بین کی د لمانځه دَماپښین وخت ختم سو نود جُمعی لمونځ باطل سو، قال علیه الصلوٰة والسلام اذا مالت الشمس فصل بالناس الجمعة»

او دلیل دبطلان یه پسله خروجه دوخت فوات دشرط دی، مراو امام مالکؒ وائی چی دجمعی لمونځ ترغروب الشمس پوری روادی. ولی چی دَماپښین اود مازدیګروخت دده په نیز یو دی. مونږ وایو چی دجمعی لمونځ خِلاف القیاس مشروع سوی دی ولی چی دوه رکعته دماپښین دَلمانځه په کښی ساقط دي، نو باید ټوله هغه خصوصیات چی په شرع شریفه کی وارد دی باید دجمعی په لمانځه کی مراعات سی، او په هیڅ حدیث کی نه ده راغلی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم دي دجمعی لمونځ دمخه دماپښین تروخت یا وروسته د ماپښین تروخت کړی وی. وکذا الخلفاء الراشدین رضی الله تعالیٰ عنهم، همزه ده مخه اونه وروسته کړي. وکذا من بعدهمؒ الی یومنا هذا» نوکه چیری وروسته یا دَمخه رواوای. نو بیوَاد خوبه علیه الصلوٰة والسلام دپاره دبیان دَجواز داغسی کړی وای. قَالَ الامام الطحاویؒ ناقلاً عن الامام الحلبیؒ»

مسَئَله: که دَماپښین وخت تیر سو پسله دی څخه چی امام په قدر د تشهدی قعده کړی وه هم یه جمعه باطله سوه لفوات الشرط»، مثال یه دسحار لمونځ دی چی په طلوع سره دَلمر باطلیږی ولوبعد التشهد **پُوښتنه**: دَجمعی لمونځ چی په خروج دَوخت باطل سُو آیا څلور رکعته دی پوره کړی چی د ماپښین لمونځ څندی جوړسي **جواب**: لالان الباطل لایکون مبنیً للصحیح، **سوال** کی سَړي دادجمعی لمونځ چی باطل سو څلور یر کی چی نفل سی روا ده اوکه نه! **جواب**: په نیزد شیخینوؒ نفل کیدای سی ولی چی دوی وائي د لمانځه اصل باطل سو چی فرضیت وو او وصف یه نه دی باطل سوی او امام محمدؒ وائی چی اصل او وصف یه دواړه باطل سوه

اَللّٰهُمَّ اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن سعیٰ فیه

قَالَ المُصَنِّفُ **وَالخُطبَةُ قَبلَهَا بِقَصدِهَا فِي وَقتِهَا وَحُضُورِ**

اوبل شرط د صحت د لمانځه دجمعی خطبه ده یعنی که څه هم ډیره لنډه وی مثل سُبحَانَ الله وَالحمد لله

اَحَدٍ لِسَمَاعِهَا مِمَّن تَنعَقِدُ بِهِمُ الجُمُعَةُ وَلَو وَاحِدًا فِي

اوکه څه هم په فارسی وی اګرکه قادر پر عربی هم وي، او دا خطبه به دمخه تر لمانځه

الصَّحِيحِ وی، ولی چی خطبه خو شرط ده او شرط تر مشروط دمخه وی لزومًا، **پوښتنه** چی خطبه دجمعی په ابتداء کی داسلام وروسته تر لمانځه وه لکه داختر خطبه او بیا هغه منسوخه سوه او دمخه تر لمانځه سوه» ط»، کذا ذکره المفسرون فی تفسیر قوله تعالیٰ: وَاِذَا رَاَوا تِجَارَةً اَو لَهوَا نِ انفَضُّوا اِلَیهَا وَتَرَکُوكَ قَآئِمًا الآیة: ففی ذالك الیوم من الجمعة کانت الخطبة بعد الصلوٰة و بعد ذالك نسخت بعد یتها الی قبلیتها » او دا خطبه به په قصد دخطبی وی» که سړی یعنی امام ونږل او په قصد دَنږولو په ووَیل" الحمد لله» دخطبی په ځای کی نه دریږی» او هغه خطبه به په وخت کی دجمعی وی یعنی د ماپښین» نوکه دوخت ترد خول دمخه خطبه ووَیل دخطبی په ځای کی نه دریږی، ولی چی منقول قدیمًا وحدیثًا داغسی ده، او یو څوك به هم حاضروی داور یدو دپاره که څه هم هغه سامع کڼروی او یا بیده وی، او یا ډیر لیری ناست وي»

او دغه حاضر سړی به هم دَ هغو کسانو څخه وي چی په دوی سره جمعه کیدای سی» نو حضور دښځی یا دکشنی کافی نه دی» البته حضورد مریض یا مسافر یا مَرلیٔ کافی دی. که څه هم هغه حاضر یو سړی وی پر صحیح روایت لیعنی دخطبی دپاره حضور دجماعت شرط نه دی» او بعض فقهاءٓ چی کم از کم حضور دد رو کسانو شرط دی. او په درایت کی وَائی چی دغه رایه صحیح ده. او په منتقی کی هم وائی چی دغه روایت صحیح دی، او شارح الکنز هم دغه روایت خوښ کړی دی، او د ائمه ثلثه وو څخه داسی هم روایت راغلی دی چی خطبه صحیح ده که څه هم هیڅ نه وي، او مصنفؒ په مَراقی کی وائی چی شرط دَصحت دخطبی هم دادی چی په مابین کی د خطبی او د لمانځه به جَلا

والی نه کوی په خورلک یا بل عمل چی قاطع دانتصال وی،

مسئله: که خطیب خطبه ووَیل او بیا د جمعی لمونځ شروع کړی. او په لمانځه کی وقتانی لمونځ ور پیاد سو چی واجب الترتیب وو، نو د جمعی لمونځ به پریښېنو او قضائی لمونځ به راوګرځاوه. او یا د جمعی لمونځ څنګه فاسد سو هغه به بیرته را اګرځاوه، او یا تر خطبی وروسته دوه رکعته نفل وکړه په دی ټولو صورتو کی خطبه نه باطلیږی او د اعمل قاطع نه بلل کیږی. لکن په بحر او خلاصه، او محیط او سراج، او فتح کی وائی چی اولی راګرځول د خطبی دی په مذکوره صورتو کی»، قال المصنف:

وَالْاِذْنُ الْعَامُّ او بل شرط د صحت د لمانځه د جمعی اجازه عامه ده و خلګوته ور تګ و لمانځه ته، او د صاحب الکنز مختار هم دا غه ده. دلیل یه دا دی چی د جمعی لمونځ د شعائرو څخه د اسلام دی. او د خواصو څخه د دین نبوی دی نو لازمه داده چی اداء به یه په طریقه د شهرت او اذن عام وي: قال الرّاقی: ولم یذکر هذا الشرط فی الهدایة لانه غیر مذکور فی کتب ظاهر الروایة وانما هو روایة النوادر» وَاللّٰهُ اعلمُ بالصواب والیه المرجع والمآب: قال المصنف:

وَالجَمَاعَةُ وَهُمْ ثَلٰثَةُ رِجَالٍ غَيْرَ الْاِمَامِ وَلَوْ كَانُوْا عَبِيْدًا

او بل شرط د صحت د لمانځه د جمعی جماعت دی او هغه کم از کم دری کسه وی غیر د امام څخه

اَوْ مُسَافِرِيْنَ اَوْ مَرْضٰى که څه هم جماعت والا مریان وی او یا مسافر وی یا ناجوړیان وی یعنی چی د جمعی لمونځ پر فرض نه وي

پوه سه چه پر دی خو اتفاق دی چی منفرد سړی خو جمعی لمونځ نسی کولای لکن په مقدار د جماعت اختلاف سته د حنیفیا نو په نیز دری کسه یه مقدار دی، غیر د امام څخه او دا مذهب د امام اعظمؒ او امام محمّد دی او امام ابو یوسفؒ وائی چی دوه کسه ما سوا د امام څخه کافی دی، ولی په دوو کی هم معنیٰ د اجتماع موجود ده. او طرفینؒ وائی چی جمع صحیح او اصطلاحی دری کسه دی، او د غه رنګه په قرآن شریف

فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ» په واو چی ضمیر د جمع مذکر دی راغلی دی، او بل دا چی صیغه د مفرد او تثنیه او جمع سره جلا دی نو باید مصداق یه هم سره جلاوي، حتیٰ چی اراده د دوو د صیغه څخه د جمع مجاز دی والحقیقة هو الاصل،،

سوال: په میراث کی دوی لونړی یا دوی خوندی مثلاً لکه دری دي **جواب** هوری خو نص موجود دی نو هغه قرینه د مجاز دی، ولی چی د غه کسان یعنی مریان مسافر و غیره خو صالح د امامت هم دی په جمعه کی بامثالهم بعد الخطبة من غیرهم» قال المصنف:

وَالشَّرْطُ بَقَاؤُهُمْ مَعَ الْاِمَامِ حَتّٰى يَسْجُدَ وَاِنْ نَفَرُوْا بَعْدَ سُجُوْدِهِ

او شرط ای عند الامام الاعظمؒ پاتوالی دی یعنی په تحریمه کی د امام سره که څه هم دوی اقتداء په حال کی د رکوع پسی کړی وی تر څو چی سجده کوی یعنی اوله سجده. او که مقتدیان چی دری وه و تښتیدل او یا یو څندی ولاړ سی یا دوه پسله سجدی څخه د امام. نو دی پوره کړی امام یوازی د جمعی لمونځ په اتفاق د ائمه ثلاثه وو د مذهب **پوه سه**: چی بقاء د ښځو او کشنیانو اعتبار نه لري»م» قال الامام المصنف:

اَتَمَّهَا وَحْدَهُ جُمُعَةً وَاِنْ نَفَرُوْا قَبْلَ سُجُوْدِهِ بَطَلَتْ

پوره دی کړی جمعه یوازی، او که مقتدیان و تښتیدل یعنی کلهم او بقی اثنان، د مخه تر سجودی د امام د جمعی لمونځ به باطل سو. یعنی په نیز د امام اعظمؒ ولی په نیز د امام اعظمؒ جماعت شرط د اداء د جمعی دی. او یاران وائی که ټول ولاړه امام دی یوازی د جمعی لمونځ وکړی» ولی چی جماعت په نیز د دوی شرط د انعقاد د تحریمی دی فقط، او امام زفرؒ وائی چی جماعت د ابتداء څخه تر انتهاء پوری شرط دی نو په اول صورة کی دده په نیز هم جمعه باطله سوه

قال المصنف **وَلَاتَصِحُّ بِاِمْرَأَةٍ اَوْ صَبِيٍّ مَعَ رَجُلَيْنِ**

یعنی نه صحیح کیږی د جمعی لمونځ چی یوه ښځه او کشنی وی سره د دوو کسانو. ولی چی د ښځی حضو

یا دکشنی دجمعی په لمانځه کی اعتبار نه لري، نونصاب دجماعت نه دی پوره. پرمذهب دطرفینو اوپرمذهب دامام ابویوسفؒ جمعه صحیح ده نصاب برابر دی کما مرّ، قَالَ

وَجَازَ لِلْعَبْدِ وَالْمَرِيْضِ اَنْ تُؤُمَّ فِيْهَا اوروا ده مریض لره اومریض لره چی امامت دجمعی دلمانځه وکړي. مراقی وائی که اذن ورو، یا اصالتًا یا نیابتًا یا دلالةً» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمِصْرُ كُلُّ مَوْضِعٍ لَهٗ مُفْتٍ وَاَمِيْرٌ وَقَاضٍ يُنَفِّذُ الْاَحْكَامَ

ونارپه نیزد امام ابوحنیفهؒ هرهغه ښار دی چی مفتی لري چی خلک رجوع ورته کوي په حوادثو کی اوامیر وی چی مظلوم دظالم څخه خلاصوي اوقاضی وي یعنی دادري سره په ښار کی وي، چی چلوی به احکام د دین» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُقِيْمُ الْحُدُوْدَ

وَبَلَغَتْ اَبْنِيَتُهٗ اَبْنِيَةَ مِنًى فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

اوبرپایه کوی برحدود لکه حد الزناء وشرب الخمر وحد القذف وغیرها، په دی قید سره احتراز وسو دمحکم څخه اوښځی څخه ولی هغه دا کارونه نس کولای. اورسیدلی به بناوي دهغه ښار ومقدار ته د بناوود منیٰ یعنی په پخوا زمانه کی په ظاهر روایت کی. قال قاضیخانؒ وعلیه الاعتماد امام طحطاویؒ وائی: چی مکه مکرمه اومدینه منوره ښارونه دی دجمعی لمونځ پکښی کیږي دزمانی څخه د علیه الصلوٰة والسلام الیٰ یومنا هٰذا. نوهرځای چی په مثل دیوه ددوی وی یعنی په پخوا زمانه کی هغه مصر دی، یعنی د ابادی په اعتبار سره»

اوبعض فقهاءؒ وائی چی مصر هغه ځای دی چی ټوله خلک په سره جمع سی په هغه لوی مسجد کی دهغه ځای نه ځائیږي. اوبعض فقهاءؒ وائی چی مصر هغه ځای دی چی هرکسب کاره لکه نجار بناء آهنگر رنګرېز وغیرهم په هغه ځای کی خپل په کسب ګذاره کولای سی اونورتِه تفسیرونه ټوله د ظاهر الروایة څخه خلاف دی. اودا مذهب دی د امام اعظمؒ ددی تصریح تحفه والا کړیده، اوحسن هم د امام اعظمؒ څخه دا روایت نقل کړی دی وبه اخذ ابو یوسفؒ:

اوهدایه وائی چی هم دا ظاهر المذهب دی. واختاره الکرخیؒ والقدوریؒ وفی العنایه وعلیه اکثر الفقهاءؒ **فَائِدَه:** په افغانستان یا پاکستان کی چی په بعض لویو قریو کی د جمعی لمونځ کیږي. لکه سنځری، خوشاب، نهر کاریز، وغیره په قندهار کی هغه پر بل تفسیر دمصر دی چی د هغه تفسیر ملاتړ بعض متاخرینو کړی دی» والله اعلم بالصواب

پُوهَنَه: چی مراد د تنفیذ دا حکامو او دا قامت الحدود څخه صرف قدرت دی پر دغه کارو او اقامت بالفعل نه دی شرط کما صرح به فی التحفة عن الامام الاعظمؒ» قال العلامة نوح د دفع د ظلم د مظلومینو څخه لیس بشرط فی تحقق المصریة بل الشرط فی تحققها القدرة علی الدفع» اودلیل ددی چی دفعه بالفعل شرط نه ده، دا دی چی صحابه وو بلا نکیر د جمعی لمونځ په حجاج بن یوسف پسی کاوه، مع انه اظلم خلق الله کما صرح به اهل التاریخ الاسلامی طحطاویؒ وائی چی صدر الشریعةؒ چی هغه تعریف مذکور په متن کی ضعیف ګڼلی دی، دلیل یه داوائی چی اوس خو په امورو کی د دین سستی راغلی ده. خصوصًا په اقامت کی دحدودو په امصارو کی امام حلبیؒ داخبره ده ضعیفه بولی.

ولی مراد قدرت دی فقط فعلیت نه دی شرط» اوامام حمویؒ وائی چی بعض رومی ملایان چی وائی چی په اوس وخت کی د جمعی لمونځ په هیڅ ځای کی روا نه دی، ولی چی شرط د صحت یه فوت دی یعنی مصر» ولی دی وائی چی مصر خو هغه ځای دی. اوهغه ښار دی چی په هغه کی والی وي اوقاضی وي چی چلوی احکام د دین اوبرپایه کوی حدود» اوداسی بلد خو په ټوله اسلامی نړۍ کی نسته فلا تصح الجمعة وتعیین صلوٰة الظهر، چی دا قول ضلال فی الدین دی» ولی چی مونږ وویل چی شرط د مصریة چی هغه شرط د جمعی د لمانځه دی صرف اوصرف قدرت دی پر مذکوره کارو اوقدرت خو په ټوله اسلامی مملکتو کی سته، کرڅه هم فعلیت په بعض اسلامی نړۍ کی نسته، اوبله خبره دا ده چی دی سلب کلی ولی کوی. ایا په سعودی عربستان کی حدود اوقصاص نه دی جاري، اودغه رنګه په افغانستان کی چی د طالبانو تر قدرت لاندی ښارونه دی په هغوی په د که پیمانه حدود اوقصاص او دفع د ظالمانو نه ده جاري،

پوښتنه: تاشارح پخپله ۱۲ دوولس کاله په سَنخَري کې دجمعې لمونځ کاوه اوپه خوشاب کې دې ۵ پنځه کاله دجمعې لمونځ کاوه پرڅه بناء دې کاوه اوسره ددې چې ظاهر المذهب هم درته معلوم وو!

جواب: زما مستند قول دصاحب در مختار چې په مېتن کې وائي په تعریف کې د مصر: "وهو ای المصر مالا یسع اکبر مساجده اهله" یعنې هغه ځاى دى چې نشي ځايه کولاى هغه لوى د مسجد و دهغه ځاى خلګ چې مُکَلفين خلګ دهغه ځاى چې مکلف وي په لمانځهٔ دجمعې يعنې ښځه او کشنى ناحساب دى. وعليه فتوى اكثر الفقهاء. اوپدغه تعريف د مصر فتوى د ډيرو فقهاوو ده مجتبىٰ "لظهور التوانى فى الاحكام. وفى ردالمحتار صفحه مذكور، وقال ابوشجاعٌ هذا احسن ماقيل فيه" داهغه ترټولو ښه تعريف دى چې دمصر په تعريف کې ويل سوى دى. وفى والولوالجية وهو صحيح، بحر" وعليه مشى فى الوقاية، ومتن المختار وشرحه، وقدمه فى الدرر على القول الآخر وظاهره ترجيحه، وايده صدر الشريعة بقوله لظهور التوانى فى احكام الشرع سيما فى اقامة الحدود فى الامصار"

درولیئی وائي: چې زما مقصد صرف دځان دپاره يو مستند پيدا کاوه اوخلګو ته مې خپل عذر په باره کې دجمعې د لمانځهٔ په دوه ځايه بيا نوه، نور دچا سره په دې باب کې جګړه اوسوال او جواب ته حاضر نه یم چې بیانو یو په بل پسې رسالې جوړوو. اوپه هغو رسالو کې دعلماوو دشان سره نامناسبه الفاظ استعمالوو. ولې چې هغه تسلسل بيا پاى نه لري بلکه په عمومي توګه په ننی زمانه کې داختلافه څخه دعلماوو بله فائده نه پیدا کیږی بيله دې چې اديان پورې خاندى، او ددوى ترمابين د غيبت بلکه دبُهتان دروازه خلاصيږى. نوښه حبره داده " عمر ديدى .. جواب نديدم "

حاصل دا چې سه نه مفتي يم نه قاضي يم ، نه مُلا يم نه امي يم"

بلکه په طلب دعلم کې اخته يم، که محسود يم حاسد نه يم "مشک آنکه خود ببويد. نه آنکه عطار بگويد"

قليلٌ عمرنا فى دار دنيا ÷ ومرجعنا الى بيت التراب ÷ ولوړ ځاى تى بولى مه کړه ÷ چې ځاځلى تاته پاشل کيږي:

غيبت يا بهتان مکړه ÷ چې حسنات دى نقل کيږى ÷ حسد مه کړه ÷ چې زړه دى په سو ځيږى ÷

داستاذانو انکار مه کړه ÷ که غر لوړوى لاړ سربيره پرتيريږي. که تاويل زه يم ماويل نه يم ÷ نه به ته يې نه به زه يم ÷ اوکه تاويل ته يې ماويل ته يې ÷ هم به ته يې هم به زه يم ÷

کبر او لوئی مه کړه سه تکبر عزازيل راخوار کرد ÷ بزندان لعنت گرفتار کرد. چې علم دې په اندازه د قدورى او مستخلص وى حوالى ورد د المحتار او قاضيخان وعالمگيري وغيرها مه کوه. والا تكذبك ابن اخت خالتك ÷ اولوىه حصه دعلم لَاأَدْرِى ده چې نه پوهيږې په لَاأَدْرِي مه شرميږه اوپه كَذَبْتَ وشرميږه" قَالَ الْمُصَنِّفُ"

وَاِذَاكَانَ الْقَاضِىُ اَوِالْاَمِيْرُ مُفْتِيًا اَغْنٰى عَنِ التِّعْدَادِ

يعنې که قاضي اويا اميرعالم وو اوپه امور شرعيه او احکام دينيه ووښه خبر وو چې صالح دفتوى ورکولو و نو دى اغناء راولي د تعدد څخه يعنې چې خواه مخواه به په محكمه کې اميروى، اوبل به مفتي اوبل به قاضي وى. ولې ضرورت وفيصلي ته داحکامو دى نه و تعدد ته داشخاصو" قال

وَجَازَتِ الْجُمُعَةُ بِمِنٰى فِى الْمَوْسِمِ لِلْخَلِيْفَةِ اَوْ اَمِيْرِ الْحِجَازِ

اوروا دى دجمعې لمونځ په منٰى کې. چې هغه ديو ځاى نوم دى چې پر دوه فرسخه د مکې شريفې څخه واقع دى، پر مذهب دامام اعظمؒ اوامام ابويوسفؒ اوامام محمدؒ وائي نه دى روا. ولې منٰى قريه ده اوشيخانؒ وائي چې منٰى په موسم کې دحج مصر ګرځي، اودالمونځ دجمعې به يا خليفة الاسلام ورکوى اويا به ئې امير الحجاز وهو امير مكه، حاصل دا چې امير الموسم چې دحاجيانو د کارو بار دپاره خليفه مقرر کړي وى، هغه دجمعې لمونځ به نه ورکوى ولې چې دى دبلې وظيفې دپاره ټاکل سوى دى مګر که خليفة الاسلام اجازه ورته کړي وه. بيا دجمعې لمونځ ورکولاى سي"

سوال: چې په موسم الحج کې منٰى مصر ګرځي اودجمعې لمونځ پر کښې کيږى نود لوى اختر لمونځ ولې نه پکښې اداء کيږى

جواب: دجهت د عذر د مصروفيت د حاجيانو په دى ورځ په مناسکو د حج لکه جمرهٔ عقبه وليشتل او قاربان حاجيان او تمتع والا حاجيان دشکرېه د پسه وغيره حلالول او طواف زيارت کول او ځانونه داحرام څخه خلاصول مشغول دى

نود اختر لمونځ ځندی ساقط دی» کذا فی الهدایة ، او بعض علماء وائی چې په منیٰ کې تهوله کال د جمعې لمونځ کول صحیح دی ، ولې چې په فناء کې د مکې شریفې واقع ده» امام طحطاویؒ وائي چې سره د دې وفرته وفا صلې ځرنګه منیٰ په فناء د مکې کې حسابول کیږي ،

درویش وائی : چې دا ټول اختلافات بناء پر پخوانی زمانه دي، او س چې بناوی د مکې شریفې د ښار د منیٰ پر خوا غزیدلی دی او بیخی لږ فاصله ترمابین پاتې ده، او په عین حال کې په منیٰ کې اسواق او بازارونه جوړ سوی دی . او شرط هلته همیشه موجوده وي. او یولوی جامع مسجد چې د مسجد خیف په نامه مشهوره دی هم جوړ دی نو د دې ټولو په نظر کې نیولو سره په منیٰ کې بلا شبهه د جمعې لمونځ روا دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَصَحَّ الْاِقْتِصَارُ فِي الْخُطْبَةِ عَلٰى نَحْوِ تَحْمِيْدَةٍ اَوْ تَسْبِيْحَةٍ مَعَ الْكَرَاهَةِ

او صحیح دی کوتاه والی په خطبه کې پر مثل د الحمد لله ویلو یا د سُبحان الله ویلو لکن مکروه دی» لِتَرْكِ السنة» او دا مذهب دی د امام اعظمؒ» او یارانؒ وائی: لابد من ذکر طویل یسمیٰ خطبةً» او کمه مرتبه مقدار د تشهد دی تر عبده ورسوله پورې ، چې دغه خطبه مشتمله وي پر حمد او درود او پر دعا د مسلمانانو

پوهسه : چې کراهت د اقتصار هم تنزیهی دی» ط ، او د حضرت الامامؒ دلیل دا قول د خدائ» فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ» بیله فرقه په مابین کې د ذکر طویل چې خطبه یې بولي او ذکر قصیر» او بل دلیل دا دی چې امیر المؤمنین عثمان رضي الله تعالیٰ عنه چې خلیفه سو په اوله جمعه کې چې منبر ته وختی اذان وسو او دی ولاړ سو او وا اوښت، چې وویل الحمد لله نو سا م پر پریوتی . او ټولې خبرې ځندی ورکې سوې نو راکښته سو د منبر څخه او لمونځ یې ور کړی . او صحابهؓ ټول موجود وه او یې انکار نه پر وکړی. فکان اجماعاً منهم علی جواز الاقتصار فی الخطبة؛

سوال: نو چې مکروه دی نو ولې حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه دا مکروه کار وکړی، **جواب** چې مونږ ذکر کړه چې کراهت تنزیهی دی او حضرت عثمان رض ته عذر د سام پرې وتلو ور پیښ سو او سره د عذره کراهت هم پوره نه سو» در

قَالَ الْمُصَنِّفُ وَسُنَنُ الْخُطْبَةِ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَيْئًا

او سنتونه د خطبې اتلس شیان دی او مراقی یو دا سنت هم زیات کړی دی چې خطیب مخ پل ماې کې، دی کښینی د منبر پر استه طرف به وی یا توره لنګوته به ئی تړلی وی او یا سپینه» ط » او قهستانیؒ وائی چې مکروه دی لمونځ د خطیب د مخه تر خطبې په محراب کې » درویش وائی په دی کار ډیر خطبا نه مبتلا دی په افغانستان او پاکستان کې چې تر خطبې د مخه سُنت په محراب کې کوي» قَالَ الْمُصَنِّفُ

اَلطَّهَارَةُ یو پاکی ده د حدث او جنابت څخه په حال کې د خطبې» نو کې پر بې او دسیا او یا جنابت وویل مکروه ده او اعاده یې په پسله طهارت څخه مستحب ده»

مَسْئَلَهٗ مکروه ولې ده باید نا جائزه وای **جواب** خطبه خو نه لمونځ دی او نه جزء د لمانځه دی بلکه ذکر دی. او جنب او محدث خو خود ذکر څخه منع نه دی» ذلیل پر دا دی چې د خطیب مخ خو په حال د خطبې کې قبلې ته نه وي. او په لمانځه کې خو استقبال القبلة شرط دی، او بل دلیل دا دی چې خطبه په خبرو سره نه فاسدیږی او لمونځ فاسدیږی»

وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ

او بل سنت پټوالی د عورت دی . ولې چې خطبه په تواترت سره د غنی اعلیٰ ده **پوهسه** چې ستر د عورت خو فی نفسه فرض دی لکن د خطبې په باره کې سُنت دی» قَالَ الْمُصَنِّفُ :

وَالْجُلُوْسُ عَلَى الْمِنْبَرِ قَبْلَ الشُّرُوْعِ فِي الْخُطْبَةِ

او بل سنت دا دی چې خطیب به کښینی پر منبر باندی د مخه تر شروع په خطبه کې دا ناسته لعض وائی چې د اذان د پاره ده. نود اختر و په خطبه کې سنت نه ده. ولې چې په هغو کې اذان نسته، او لعض وائی چې د استراحت د پاره ده نو په اخترو کې هم غواړي : والاول هو الاولیٰ» عینی علی البخاریؒ

وَالْاَذَانُ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالْاِقَامَةِ ثُمَّ قِيَامُهُ

او بل سنت اذان دی په حضور کې د خطیب لکه اقامت یعنی ورسته تر خطبې په تشبیه کې غرض دا دی ، چې

مؤذن به ډیر لیري د خطیب څخه نه دریږي، او بل سُنت د ولاړه د خطیب یعنی په دواړو خطبو کې **مسئله**: که چیرې خطیب په ناستې یوه یا دواړې خطبې ووئیلې کافي خودي لکن بیله عذره مکروه دي، ط، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالسَّيْفُ بِيَسَارِهِ مُتَّكِئًا عَلَيْهِ فِي كُلِّ بَلْدَةٍ فُتِحَتْ

او بل سنت د خطبې دا دي چې د خطیب په لاس کې به توره وي او پر هغې بې تکیه کړې وي پر هغو ښارکې

عُنْوَةً وَبِدُونِهِ فِي بَلْدَةٍ فُتِحَتْ صُلْحًا

چې په زور نیول سوي وي او خلکو وروسته اسلام قبول کړي وي۔ **حکمت د تورې دا دي**، چې دوی ته وښیي چې تاسې په توره سو فتح سوي یاست، او که د اسلام څخه بیرته رجوع وکړې توره زمونږ مسلمانانو په لاس کې ده بیرته به په دا غه توره جنګ درسره کوو څو بیرته واسلام ته رجوع کوي. او بعض فقهاء وائي چې په توره کې اشاره وي ته ده چې د اسلام د دین پر مخ تګ په توره سره دی.

بوه سَله: چې مدينة الرسول صلى الله عليه وسلم په قرآن فتح سوي ده" یعني د حضرت قدوم د عليه الصلوة والسلام اهل المدينه ته تعليم القرآن کیدی۔ او دوی په اسلام مشرف سول او مکه مکرمه د تورې په زور نیول سوي ده۔ **درویش وائي** چې په نړۍ کې ډیر ښارونه د تورې په زور نیول سوي دي چې د ښا ریخ د کتابو د مطالعې څخه څرګندیږي لکن پر توره تکیه کول په عمومي اسلامي نړۍ کې اوس نسته۔ البته که بعض بلاد او ښارونه به داسې وي چې اوس دی هم خطیب پر توره تکیه کوي امکان لري. نو دی سنت دپا تید وسبب څه دي! د درویش په عقیده په نن زمانه کې لمونځ د جمعې په ښارکې یو یا دوه ځایه کیدی او جمعې لمونځ به هم ولاة المؤمنين ورکاوه، نو د هغو سره به توره ورسره وه په هغو ښارو کې چې عنوةً به نیولې سوي وه. لکن چونکه په مرور د زمانو په هر لوی ښار کې تر نسل ځایه ډیر لمونځ د جمعې اداء کیږي کما مر مَا بِثْما، نو اوس د هر خطیب سره د تورې د ګمان سره اوړل لوی حرج سو نو په د غه عذر د اسنت پاته سو لان الضرورات تبيح المحظورات، او یا به نی سبب داوي چې.

طحطاوي سبب د تورې د تکیه چې نن دی ذکر سو هغه په هغو خلګو کې راځي چې نوي به مسلمان سُو نو اوس چې په سوو بلکه په زرو کلونه پر هغو ځایو تیر سوه چې عنوةً به نیول سوي وه۔ د تورې ښکاره کول به جمعې کې هغه خلګ په په فائده نه پوهیږي او سَریږ نه خلاصیږي چې د خطیب سره د څه د پاره توره ورسره ده"

فَائِدَه: مصنف وائي چې بیله تورې به خطبه وائي په هغو ښارو کې چې صلحًا فتح سوي وي خلاصه والاوائي چې تکیه پر غیر د تورې مکروه ده لکه لکړه وغیره لانه خلاف السنة آه محيط

لکن ابن امیر حاج د اخبره رد کړیده او وائي چې په حدیث صحیح کې چې روایت یه ابو داؤد کړي دی راغلی دی چې علیه الصلوة والسّلام په مدینه منوره کې خطبه وئیله او تکیه یې کړې وه پر لکړه وکذا رواه البراء بن عازب رض عنه صلى الله عليه وسلم، **درویش وائي** چې هم داوجه ده چې په ټولو جامع مسجد و کې د افغانستان او پاکستان د خطباء د خطبې لکړې موجودې وي البته چې هم دا اوس چې لاوډ سپیکر په بعض ځایو کې په جامع ګانو کې نصب سوه خطیبانو هغه لکړې پرېښودلې بلکه د لاوډ سپیکر لکړه په لاس کې نیسي" والله اعلم وعلمه اتقن واحكم،

مسئله: امام سرخسيؒ وائي چې د خطبې په وخت دی ټوله خلګ وقبلې ته مخامخ کښیني او د خطیب وخواته دی مخ نه ګرځوي لکه شمس الائمةؒ چې وائي ولې چې که دوی لکه خطیب مخ اړولي وي. نو چې خطیب د خطبې څخه فارغه سي او لمانځه وخت راسي په سبب د ډیر ازدحام په سمولو کې د صفو ډیر لوی حرج راځي" قَالَ المصنفُ:

وَاسْتِقْبَالُ الْقَوْمِ بِوَجْهِهِ وَبَدَائَتُهُ بِحَمْدِ اللهِ وَالثَّنَاءِ

او بل سنت د خطبې دا دي چې خطیب دی مخامخ وخلګو ته دریږي (كزكن لفعل النبي وقت الخطبة) او بل سنت د خطبې

عَلَيْهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهُ وَالشَّهَادَتَانِ وَالصَّلوٰةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

دا دي چې خطیب دی اعوذ بالله کرار ووائي او بیا دی شروع د خطبې په حمد سره کوي د خدای پاک او صفت دو کړي د خدای جل وعلی په هغو صفاتو سره چې دی یه اهل دی او دوې شهادتین دی ووائي او درود پر علیه الصلوة والسلام دی ووائي او دا دوه هم سنت د خطبې دي،

قَالَ المصنفؒ **وَالْعِظَةُ وَالتَّذْكِيْرُ** او بل سنت د خطبی عظة او تذکیر دی درویش وائی اگرچه د عظة او تذکیر په عرف کی فرق شته بلکه دواړه په معنا د نصیحت دی لکن مَرَاقی د عظة څخه زجر د گنهونو څخه او بیرولو د خدای پاك د عذابو څخه مراد کړی. او د تذکیر څخه بلنه دَ خلگو ده د خدای پاك و عبادت ته

قَالَ المصنفؒ **وَقِرَاءَةُ اٰيَةٍ مِّنَ الْقُرْاٰنِ** او دغه رنگه سنت دی په خطبه کی ویل دیوه ایت د قران پاك، ولی چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام په خطبه کی دجمی دا ایت مبارکه ووایه «وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ» **مسئله**: فقهاء وائی چی ترایت د مخه دی اعوذ بالله هم ووائی او بسم الله نه غواړی مگر هغه وخت کی پوره سورة ووایه نو بیا دی بسم الله هم ووائی: قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالْخُطْبَتَانِ وَالْجُلُوْسُ بَيْنَ الْخُطْبَتَيْنِ او دا غه رنگ سنت دی د دوو خطبو ویل ولی چی د عصر نبوی څخه تر دی او سه پوری د دوو خطبو ویل جاری دی؛ او دا غه رنگه سُنت دی کښینستل په مابین کی د دوو خطبو لکن تهول فقهاء وائی چی دا جلسه دی سپکه وی» ظاهر الروایت دادی چی په قدر د دریو ایتو قصارو دی کښینی» په قهستانی کی وائی چی تارك د دغی جلسی گناه گار دی ولی دا سنت ده. او دا جلسه په اصل کی د استراحت دپاره وه» چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به په ابتداء کی یوه خطبه په ولاړی وَئیله وروسته چی دی مبارك کلان ساله سو نو هغه یوه خطبه به دوی کړی او په مابین کی به ئی جلسه خفیفه کوله»

فَائِدَه بعض اهل حدیث وائی چی د جمی په ورځ کی «په قرار فرموده د علیه الصلوٰة و السلام چی یو کم ساعت دَ قبلید و د دعا سته هغه دغه ساعت دی یعنی ما بین الخطبتین» نو سړی ته نبائی چی دا امام د جلسی په وخت کی دی یوه مختصره دعا وکړی

قَالَ المصنفؒ **وَاِعَادَةُ الْحَمْدِ وَالثَّنَاءِ وَالصَّلٰوةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ** او راگرځول د حمد او ثناء د رب جل سُلطانه، او بیا د درود پر علیه الصلوٰة والسلام ویل

فِیْ اِبْتِدَاءِ الْخُطْبَةِ الثَّانِیَةِ په شروع کی د دوهمی خطبی هم سنت دی. **مسئله**: په درود وَئیلو کی دی خلفاء راشدینؓ او د علیه الصلوٰة والسلام دوه اکاگان یعنی حمزهؓ او عباسؓ هم ورضم کړی. درویش وائی چی قدیم توارث د دغو کسانو رضی جاری وُو لکن وروسته خطباء وذکر د امام حسنؓ او امام حسینؓ او فاطمة الزهراءؓ هم ورسره ضمیمه کړی او شك نشته چی دا ښه کار دی

قَالَ المصنفؒ **وَالدُّعَاءُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِالْاِسْتِغْفَارِ لَهُمْ** او دغه رنگه سنت دی چی په دوهمه خطبه کی دعاء کوی و مؤمنین یعنی نرو ته وَالمؤمنات یعنی ښځوته د بخښنی غوښتنه او دعا کوی. په مَرَاقی کی وائی چی بار په باالاستغفار کی به معنا دمَع ده یعنی سره د استغفار و دوی ته، نو معنیٰ دا ده چی دعا دی ورته کوی مؤمنینو او مؤمناتو ته په ډیروالی د نعمتو. او په دفع دَبلاوو او ضررو، او په بری پر د ښمنانو او نوری ورته دعاگانی سره دَطلب د بخښنی د دوی دپاره، قَالَ المصنفؒ:

وَاَنْ يَّسْمَعَ الْقَوْمُ الْخُطْبَةَ او بل سنت دا دی چی خطیب دی په قوم خطبه اوری. او په درایة کی وائی کی نه واوری هم کافی ده، او په دوهم خطبه جهر تر اولی کم کوی» مر» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَيُخَفِّفُ الْخُطْبَتَيْنِ بِقَدْرِ سُوْرَةٍ مِّنْ طِوَالِ الْمُفَصَّلِ او لنډی دی وائی مجموع دواړی خطبی په اندازه دیوه سورة د طوال مفصل د سورتو څخه» ابن مسعودؓ وائی چی اوږد والی د لمانځه دجمی او کوتاه والی د خطبو د هوښیاری څخه دَخطیب ده، او په فتح القدیر کی وائی چی هوښیاری او سنت نبویؐ د خطیب دا دی چی اوږد والی د لمانځه او کوتاه والی د خطبی دی، لکن فقهاء وائی چی خطیب دی حال ته د سامعانو گوری که په قدر د طوال المفصل ورته تکلیف وه بیا دی په قدر د قصار المفصل خطبه وائی د خطیبانو غالب عادت دا دی چی خطبو ته زړه ورکړی چی بعض خلگو ته خوب ورسی. ولی اکثر د دوی

خوامیان دی او خطبه عربي ده نو دوی پـه هیڅ نه پوهیږي چې خطیب څه شی وائی. او لمونځ نو پـه قصار مفصل سره اداء کړي» قـال المصنف:

وَيُكرَهُ التَّطْوِيْلُ وَتَرْكُ شَئٍ مِنَ السُّنَنِ اومکروه دی اوږدول دخطبو یعنی تر سورة دطوال مفصل، هم په ژمي کي ولي زمانه لنډه ده او هم په دوبي کي ولي چې گرمي ده، او د غه رنگ مکروه دی پرېښول دیو شي د سنتو یعني چې بیان بـه تیر سو» قـال المصنف:

وَيَجِبُ السَّعْيُ لِلْجُمُعَةِ او واجب دی یعنی فرض دی تگ دجمعي لمانځه ته پیاده کي پر پیاده تگ قدرت وو

پوهسه چې د سعی لغوي معنی ده ځغاسته ده لکن مفسرین ټوله وائي چې مراد نفس تگ دی بلکه پـه ارام او عزت سره او پـه ایت شریف کي چې» فـاسْعَوْا اِلٰی ذِكْرِ اللهِ،» راغلی دی مراد ځنډی سعیه ده دره یعني په کمال شوق او محبت سره دجمعي لمانځه ته ځه،» او مصنف چې لفظ د سعي وواېه موافقـةً للقرآن الكريم، او نبی علیه الصلوة والسلام په عمومی لمونځو کښي د ځغاستي څخه نهي کړې دی: وقـال: اذا اقيمت الصلوة فـلا تأتوها وانتم تسعون و أتوها تمشون وعليكم السكينة» فما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاتموا، ترجمه: نو هر څه وخت چې ودریږي لمونځ یعني جماعت نو تاسي ورځي لمانځه ته چې تاسي ځغلی بلکه لمانځه ته ورځي په عادی تگ سره نو هر څه لمونځ چې تاسي یه دامام سره وموندی هغه اداء کړی او چې در څخه تیر سوی وي هغه به وروسته پوره کړئ،

پوهسه: چې دجمعي لمانځه ته ور تگ او وروسته ځنډی تگ یوشی دی یعنې دواړه دی په عادی تگ سره وي وَهُوَالاصح **مسئله** په عمومی لمونځو کي چې سړی په اول ساعت کي مسجد ته ولاړسي هغه ښه کار دی ثم ما يليها» او دجمعي په لمانځه کي مخصوص ډیر احادیث مبارکه راغلی دی،» چې یو حدیث هغه دی چې امام مالك یه پـه مؤطاء کي روایت کړی دی سره دترجمی حدیث واوری: مَنْ اِغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غسل الجنابة، کچا وکړي په ورځ دجمعي کي یعني د لمانځه دپاره كما يدل عليه ما بعده،» او غسل یه لکه د جنابت وُو»

یعني پوره غسل لکه دجنابت څخه چې سړي غسل کوي. ثم راح فی الساعة الاولیٰ فکانما قرب بدنة» او بیا ولاړي دجمعي لمانځه ته په اول ساعت کي دونه ثواب خدائ ورکوي لکه اوښ چې خیرات کړي: وَمَنْ رَاحَ فی الساعة الثانية فکانما قرّب بقرة» او که څوك ولاړي په دوهم ساعت کي نو دومره ثواب یه دی لکه چې غوایی خیرات کړي: ومن راح فی الساعة الثالثة فکانما قرب كبشا اقرن» او که څوك ولاړسي په دریم ساعت کي گویا ده خیرات کړي پسه ښکروَر» وَمَنْ رَاحَ فی الساعة الرابعة فکانما قرّب دجاجة» او که څوك ولاړسي په څلورم ساعت کي گویا ده خیرات کړه یوه چرگه، وَمَنْ رَاحَ فی الساعة الخامسة فکانما قرب بيضة» او که څوك وَلاړسي په پنځم ساعت کي گویا ده خیرات کړه یوه دانه اگی،» او امام مالك او اکثر د ده شاگردان او امام الحرمين ابو المعالي عبد الملك او قاضي حسين وائي چې مراد دغو ساعتو څخه ساعات شبانه روزي چې ۲۴ ـه دی بلکه مراد ځنډي لحظات خفیفه دی چې داول څخه د زوال شروع کیږي، تر هغه وخته پوري چې امام دخطبي دپاره پر منبر کښیني **پوهسه** چې د غه ثوابونه دجمعي تر لمانځه بالا خدائ ورکوي او چې امام پر منبر کښیني نور ائد ثوابونه ختم سي او د لمانځه ثواب یه ستنه. او امام طحطاوي دجمهورو فقهاوو مذهب داسي نقل کړی دی چې مراد ساعات شبانه روزی دی چې ۲۴ دی لکن په دی اختلاف دی چې اول د دغو ساعتو دکومه وخته څخه شروع کیږي برهان حلبي وائي چې اول ساعت یه د ر اختو څخه د لمر شروع کیږي نو د سپیدو څخه به سړی په غسل، کالی بدلولو، دخوشبوئي په لگولو وغیره وغیره اخته وي چې څرنگه لمر راوختی دجمعي لمانځه ته اول ساعت د تگ شروع کیږي»

دَاروِلش وَائي: چې د ساعاتو د بیان څخه مقصود باعث کول د مسلمانانو دی پر وختي تگ د جمعي و لمانځه ته خصوصاً پر مذهب دجمهورو ولي پـه دونه ډیر وخت کي یعني د لمر ختو څخه په جامع مسجد کي سړی هم نفل لمونځ کولای سي او هم تلاوت د قرآن کریم کولای سي. او هم تسبيح وتهليل او تكبير او ذکر کولای سي وغيرها من العبادات حتى الاعتكاف ان نواه» او پـر صف اول کي ځای پیدا کولای سي، لکن محققین د فقهاوو د مذاهب اربعه وو پر اول

مذهب متفق دی یعنی چی مراد د ساعاتو څخه لحظات خفیفه دی. ولی پر مذهب د جمهورو په عصر حاضر کی به په اسلامی نړۍ کی خدای خبر دی چی څو محدود مسلمانان پر دغه مذهب د جمهورو عمل کوی. ونقل الامام الطحطاویؒ عن الکشاف، چی اول بدعت چی په مسلمانانو کی رونما سوی دی پر بیښول د ډیروخت تګ د جمعی لمانځه ته» قَالَ المصنفؒ:

وَتَرْكُ الْبَيْعِ بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ فِي الْأَصَحِّ

او داغه رنګه واجب دی پر بیښول د خرڅولو د شی په اول اذان سره په صحیح مذهب کی. او داغه رنګه حرام دی هر هغه کار چی سرړی د جمعی د تګ څخه باسی په نیزد د اذان اول لکه خوړلک، خوب، مجلس وغیرها من الافعال. او مراقی وائی چی مراد ده اذان اول څخه هغه اذان دی چی پسله زواله کیږی. ولی چی عمومی اعلام خو په هغه اذان سره کیږی. نه هغه اذان چی په نیزد منبر چی خطیب پر منبر کښینی. ولی که سړی وهغه اذان ته انتظار کوی یو خو سنت د بګور الی الجمعة پاته سو، بلکه شاید د جمعی لمونځ به څندی تیر سی کی کور لیری وو، وهو اختیار لشمس الائمة السرخسیؒ، او فقیه ابوجعفر الطحاویؒ وائی چی مراد د اذان څخه ثانی ذی. ولی چی اول اذان په عصر نبوی ﷺ او په زمانه کی د خلافت د ابوبکر الصدیقؓ او د خلافت د عمرؓ هم دغه اذان وو چی اوس ثانی دی» قال فی البحر وهو ضعیف:

فَـائِـدَه په زمانه کی د علیه الصلوٰة والسّلام او په زمانه کی د خلافت د شیخینو چونکه شوق او ذوق د جمعی د لمانځه ډیر وو او د مسلمانانو مشاغل هم کم وه نو ټول مسلمانان بی تر اذان ثانی مخکی په مسجد نبوی ﷺ کی حاضر وه نو اعلام عمومی ته ضرورت نه وو بلکه د حاضرینو خبرولو ته ضرورت وو هغه ضرورت په اذان عند المنبر سره پوره کیدی، او په خلافت کی د عثمانؓ چی خلګ د مدینی منوری ډیر سوه او بعض اعراب او عجم هم په مدینی کی مقیم سوه او د خلګو مشاغل هم د شراء وغیره ډیر سوله چی بیله اعلام عمومی خلګ د جمعی د لمانځه په وخت سره نه پوهیدل نو حضرت عثمانؓ په حضور کی د صحابه کرامو دغه اذان چی په نیز د زوال د لمر کیږی زیات کی چی پر یو لوړ مقام چی زوراء یه تبلله هَلتَه به دا اذان کیدی»

او د دغه اذان د کولو څخه هیڅ یو صحابیؓ انکار و نه کړی فکان اجماعًا منهم»

فَـائِـدَه: په بعض کتابو کی دغه اذان ته اذان ثالث وائی ولی چی آمنډ و عیت کی دریم دی، اول اذان عند المنبر دی، دوهم اقامت دی، او دریم دغه اذان اول دی، او په نورو کتابو کی و دغه اذان ته اول اذان وویل سو په اعتبار د الایضاح کی او په ډیرو نورو کتابو کی

فَـائِـدَه: مصنفؒ ترك البيع په دغه وخت کی واجب وګڼی د جمعی کی وجود په دغه ورځ د جمعی کی وباله چی مقابل په مکروه تحریمی دی» او در وليش ور ته حرام و وایه هغه په دی سبب چی اطلاق د حرام پر مکروه تحریمی روا دی کما وقع فی الهدایة»

مَسْـئَله: که چا پسله اذان اول څخه بیع وشراء وکړه نو عقد خو یه صحیح دی حتی یجب الثمن ویثبت الملك قبل القبض فی المبیع» مګر سره د ګناه. او دغه بیعه که حرام اصلی وای نو عقد بی فاسد وای ملک په مبیع کی به قبل القبض نه وای او ثمن به هم په نفس عقد لازم نه وای. وهذا هو مذهبنا ومذهب الجمهور

تَنْبِيْه: په نهایه کی وائی که دوه کسه د جمعی و لمانځه ته روان وه او پر لاری بیله توقفه بیع سره وکړه فلا بأس به آه او مصنفؒ په مراقی کی وائی چی بیع ماشیًا هم مکروه ده» او امام طحطاویؒ یه وجه داوائی چی په دی جواز کی تخصیص د اطلاق ده قرآن کریم، اچی یعنی «فَاسْعَوْا اِلٰی ذِكْرِ اللهِ» او په اصولو کی د فقهی وائی چی تخصیص د اطلاق د قرآن نسخه ده او نسخه په رأیه سره نه ده روا» درویش وائی چی دغه حکم د مراقی چی بیع ماشیًا هم مکروه ده په مقابل کی د ډیرو کتابو د فقه حنفی واقع سویده» والله اعلم بالصواب» قَالَ المصنفؒ:

وَاِذَا خَرَجَ الْاِمَامُ فَلَا صَلٰوةَ وَلَا كَلَامَ وَلَا يُرَدُّ سَلَامًا

او هر کله چی راووزی امام یعنی د حجری څخه نو هیڅ لمونځ نسته نه نفل او نه د جنازی لمونځ او نه سجده تلاوت

وَلَا يُشَمِّتُ عَاطِسًا حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ صَلٰوتِهٖ

او نه قضائی لمونځ او نه به سلام او د سلام جواب او نه به نږونکی ته جواب ورکوی ترڅو چی دی د لمانځه څخه فارغیږی

مګر هغه وخت قضائی لمونځ کولای سی که سړی صاحب الترتیب وو او په عین حال کی دده قضائی لمونځ ود یاد سو نو هغه قضائی لمونځ دی وکړی که څه هم وتروی په سبب د دی چی د جمعې لمونځ به نه صحیح کیږی،

مسئله: که امام په حجره کی نه وو بلکه په مسجد کی وو نو چی دی ولاړ سی د پاره د منبر د ختو نو دغه مذکوره شیان منع دي، او دا مذهب دامام اعظمؒ دی. او ابو یوسفؒ او محمدؒ وائی چی د مخه تر خطبې شروع کولو خبری پروا نه لري، او چی د منبره راکښته سو د الله اکبر ووئیلو د مخه هم خبری پروا نه لري» او نه به خبری کوی « په حدیث کی راغلی دی که چا خبری او ناورته وویل چی خبری مه کوه فقد لغوت» یعنی تا هم لغوه کار وکړی یعنی د خطبې په وخت کی دی خبری وکړی بلکه ته چی هغه منع کوی اشاره به ورته کوی یعنی پر خوله لاس کښیږده،

حکایت: خلک وائی چی دری کسه په مسجد کی جلا جلا پر لمانځه ولاړه وه. دیوه سړی د غوږ درو څخه لوړ راغله. او خپل یار ته نی ناری کړه چی بابا خو ولاړی، بابا یه ورته وویل تیوه سه زه پر لمانځه ولاړیم، هغه بل سړی ورته وویل ملا دی ماته سه په لمانځه کی خبری کوی لمونځ دی فاسد سو. او هغه بل سړی یعنی دریم ورته وویل چی ستاسی خو د دواړو لمونځ فاسد سو شکر دی ما خو خبری نه دی کړي، مصنفؒ وائی او نه دی چا د سلام جواب ورکوی، او نه دی پرنږونکی ته یرحمك الله وائی، ترهغو چی امام د لمانځه څخه فارغ کیږی،

مسئله: که د سړی څخه لمونځونه ډیر قضا سوی وه یعنی ترتیب پر واجب نه وو نو د خطیب تر راوتو د مخه یو قضائی لمونځ یې شروع کړی وو نو بیا خطیب خطبه شروع کړه دی دی هغه قضائی لمونځ پسی پوره کړی هیڅ کراهت نسته» او کی نفل شروع کړی وه. نو دوه رکعت چی شفع ورته وائی پوره کړی او سلام دی وګرځوی او خطبې ته دی غوږ ونسی. او که دریم رکعت ته ولاړ سوی وُو. نو چونکه دوهمه شفع هم به ده لازمه سوه نو هغه دی هم پسی پوره کړی.

مسئله: که سړی پر سنتو ولاړ وو او امام خطبه شروع کړه بعض فقهاء وائی چی پر دوه رکعته دی سلام وګرځوی. لکن صحیح هغه خبره ده چی بحر رائق کی وائی چی سُنت دی

پوره کړی. ولی دغه څلور سره راغت لکه یو لمونځ دی. او په د[...] وائی چی قرئت دی کوتاه کړی» یعنی په قدر د واجب د پاره دا وریدو د خطبې چی هغه هم واجب ده او تسبیح د رکوع او سجود او درود پر علیه الصلوٰة والسلام په اخیره ناسته کی دی پریږدی ولی چی دا ټول خو سنت دی او استماع واجبه ده» وقیل لا یترك الصلوٰة علی النبی صلی الله علیه وسلم خبری که دنیوی وی هغه خو اتفاقاً مکروه تحریمی دی او که اخروی وی امام اعظمؒ هغه هم مکروه تحریمی بولی

مسئله: صاحب البحر د نهایه څخه نقل کړی دی چی په حال کی د خطبې لکه خبری چی مکروه دی دغه رنګه تلاوت د قرآن کریم او لمونځ او تسبیح، خط نوشته کول وغیره الخ، چی مخل دا وریدو څخه د خطبې وی مکروه دی بلکه واجبه ده چی غوږ ونسی که د خطبې په معنا پوهیږی او که نه. ساکت دی کښینی

پوښتنه: چی زاهدیؒ او خلاصه والا خبره ډیره سخته کړیده چی وائی کل ما حرم فی الصلوٰة حرم حال الخطبة یعنی خوړل او څښل او شاوخوا کتل، او بیا رنګونه جګ ونسی او لاسونه پر او ګرځوی» الی غیره الخ»

مسئله: امام طحطاویؒ د سید شارح څخه داسی نقل کړی دی چی لکه اوریدل د خطبې د جمعې سړی باندی واجب دی داغه رنګه د خطبة النکاح اوریده هم واجب ده

مسئله: بعض فقهاء وائی چی د جمعې د خطبې په وخت کی سړی دی ډیر لیری کښینی تا چه مدحه د ظالمانو پادشاهانو چی خطیب یه کوی وانه وري، لکن صحیح دا ده چی افضل دا ده چی امام ته نږدی کښینی او په صف اول کی دی کښینی او څوك دی نه آزاره وی»

مسئله: که امام امر وکړی په درود وئیلو سره یعنی هغه آیت پر وو ایه: یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا نو مقتدیان دی درود و وائی کرار چی پخپل ځان یه واوری. او په حسامی کی وائی چی تلفظ دی نه کوی بلکه په زړه کی دی درود ووائی. او فتح القدیر دامام ابو یوسفؒ څخه هم دا نقل کړی دی چی په زړه کی دی ووائی. ولی چی داخلل واستماع ته د خطبې نه راسوی. نو دوه فضیلته به پر ځای سی چی استماع د خطبې دی، او امتثال دامر قرآنی دی» وهو الاصح هذا فی الطحطاوی مع زیادة » در»

قال المصنف **وَكُرِهَ لِحَاضِرِ الْخُطْبَةِ الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ وَالْعَبَثُ**
اومکروه ده وهغه چاته چې په خطبه کې حاضروي خوړل اوڅښل اوعبث کارکول اوشاوخوا

وَالْاِلْتِفَاتُ وَلَا يُسَلِّمُ الْخَطِيْبُ عَلَى الْقَوْمِ اِذَا اسْتَوٰى عَلَى الْمِنْبَرِ
اوخطيب چې پرمنبر کښيني اوخلګوته دې السلام عليکم نه وائي ولې چې دا بدعت دى په خير القرون کې نه وو. قال المصنف في المراقي: والمروى من سلامه صلى الله عليه وسلم عندنا غير مقبول: يعني چې د عليه الصلوة والسلام نه په يو حديث کې نقل راغلى دى چې عليه الصلوة والسلام چې به پرمنبر کښيناستى خلګوته بې سلام وايه هغه حديث مقبول نه دى، ولې چې بيهقي وائي چې دغه حديث قوى نه دى» ط» اودغه رنګه چې حدادي اوبعض مشائخ وائي چې سلام دى خطيب وائي هغوى په مذهب کې ضعيف ده» والله اعلم بالصواب

قال المصنف **وَكُرِهَ الْخُرُوْجُ بَعْدَ النِّدَاءِ مَا لَمْ يُصَلِّ** اومکروه دى وتل يعنى د ښار نه اوکراهتهم تحريمي دى لکن هغه چاته چې د جمعې لمونځ پرفرض وى اوهغه سړى ته چې د جمعې لمونځ پرفرض نه وى هغه ته هيڅ کراهت نشته. وروسته تر اذان يعني اذان اول اوبعض وائي چې اذان ثاني، تر هغو چې د جمعې لمونځ به نه وى کړى على الصحيح کما في شرح منية المصلي، ولې چې دغه سړى ته امر ده "فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ".. شامل سو د مخه تر وتو. اوکه سړى د مخه تر زوال د ښاره ووزى نو بيا کراهت نشته.

مسئله: که مسافر ښار ته داخل سو اوده ۱۵ ورځو د اقامت نيت يې نه وو کړى پر هغه د جمعې لمونځ فرض نه دى که څه هم دا قصد يې کړى وى چې زه به د جمعې په ورځ په ښار کې يم، اوکه سړى د ښار د قريو نه راغلى وى نودى لکه د ښار سړى دى ګرځي. يعنى که د مخه تر زوال قصد د وتو د ښاره څخه وو اووتى نو لمونځ د جمعې نشته پاندى يعنى غاړه يې نه دى بندى اوکه د قروى نيت خود وتو وو قبل الزوال لکن دى ونه وتى اووخت د جمعې د

لمانځه پر راغلى يعنى بعد الزوال جمعه پر لازم ده كذا في الخلاصة» ط»
اوقاضيخان فقط دا خبره کړيده که د قروى نيت د وتو وو قبل الوقت يا بعد الوقت د جمعې لمونځ نه دى پر لازم اوکه د غرونه د جمعې د تيريدو په ښار کې وو بيا نودى حکم د اصلى ښار لري» قال المصنف:

وَمَنْ لَا جُمُعَةَ عَلَيْهِ اِنْ اَدَّاهَا جَازَ عَنْ فَرْضِ الْوَقْتِ
اوهغه خلک چې پر هغه د جمعې لمونځ فرض نه وي لکه مريض مسافر مريي، ښځه، ړوند، شل، که چيرې د جمعې لمونځ وکړي روا دى د فرض الوقت څخه يعنى د ماپښين د لمانځه څخه، ولې چې شرع شريفي چې دوى مکلف د جمعې په لمانځه نه وه ګرځولي د پاره د تخفيف د دوى څخه په سبب د دوى د عذر، ونو ده چې تکليف وکړي اوسره د عذره د جمعې لمانځه ته راغى نو ځماده ماپښين د لمانځه په ځاى کې درېږي»

نکته: د فرض الوقت څخه دا معلوميږي چې فرض الوقت د معذور اوغير معذور د پاره د ماپښين لمونځ دى. لکن غير معذور مکلف دى چې دا فرض الوقت به د جمعې که لمانځه ساقطه وى اومعذور اختيار لري که فرض الوقت يعنى د ماپښين لمونځ کوى اوکه په جمعه يې ساقط وي، **خيال فاسد** د بعض خلګو دا خيال دى چې د جمعې لمونځ بدل دى د ماپښين د لمانځه څخه. لکن دا خيال غلط دى، ولې چې بدل په اصطلاح د شرع هغه عمل ته وائي چې اصل عمل متعذر سي نو بدل ته تګ کيږي. لکه چې تيمم د اودس بدل دى د جمعې لمونځ خو داغسى نه دى ولې چې د ماپښين لمونځ کول خو متعذر نه دى» اونه ظهر د معذور بدل د جمعې د لمانځه دى. ولې ظهر خو فرض الوقت دى لکه صحيح خبره داده چې جمعې لمونځ فرض مستقل دى په دغه ورځ اما فرض الوقت په ساقطيږي» قال المصنف

وَمَنْ لَا عُذْرَ لَهٗ لَوْ صَلَّى الظُّهْرَ قَبْلَهَا حَرُمَ اوهغه چاته چې عذر مانع د حضور څخه د جمعې نه وي، که د ماپښين لمونځ د مخه تر جمعې وکړي نو دغه کار حرام دى»

لېږي د ماپښين د لمانځه تحريمه خو يې صحيح ده، ولې اصل وقت چې ماپښين دى په حق د ټولو هغه موجود دى لكن چونكه غير معذور مامور دى په كولو د جمعې د لمانځه نو ځكه ده ظهر اداء يې حرام دَه، قَالَ المُصَنِّفُ:

فَاِنْ سَعٰى اِلَيْهَا وَالْاِمَامُ فِيْهَا بَطَلَ ظُهْرُهٗ وَاِنْ لَّمْ يُدْرِكْهَا

وكه دغه غير معذور چې د ماپښين لمونځ يې كړى وى د جامع مسجد پر خوا روان سو د پاره د جمعې د لمانځه او حال دا وو چې په دغه وخت كې چې دى روان سو امام د جمعې پر لمانځه ولاړ وو. نو د دى سړي د ماپښين لمونځ باطل سو كه څه هم د امام سره د جمعې لمونځ و نسي، لكن د بطلان معنا دا ده چې وصف د فرضيت يې باطل سو يعنى نفل سول»

فَائِدَه: مصنفؒ لفظ د سعى وَوَايه ولى كه دغه غير معذور يې جامع مسجد كې د ماپښين لمونځ يوازي وكړي هغه ده ماپښين لمونځ ير تر هغو نه باطليږي چې د امام سره د جمعې په لمانځه كې داخل نه سي، نو كه دى داغسى ور ته ناست وو د جمعې لمونځ امام وكړى نو د ده د ماپښين لمونځ خو صحيح سو لكن ګناه كار دى. په سبب د عدم رغبت و لمانځه ته د جمعې

فَائِدَه: مصنفؒ لفظ د اِلَيْهَا وَوَايه اشاره ورته وكړه كه دغه سړي چې د ماپښين لمونځ يې وكړى يې يو بل كار ته په لاره وَوَتى ظهر يې نه باطليږي كه څه هم د جامع مسجد د خوا سره تير سي، او بعض فقهاء وائي چې دغه سړي يعنى چې د ماپښين لمونځ يې يوازي وكړي دوه ګامه په فراخه ځاى كې په نيت د جمعې د لمانځه واخلي ظهر يې باطل سو،

مَسْئَلَه: كه دغه سړي ور تګ د جمعې د لمانځه د فراغ سره يو ځاى وو نو ظهر يې نه دى باطل لكه چې ورو ستنه تر فراغ د جمعې د لمانځه دى ور روان وى يعنى ظهر يې نه دى باطل، او يا چې دى ور روان نه دى هنوز امام په لمانځه شروع نه وه كړى هم يې ظهر صحيح سو، او دا ټوله بيان پر مذهب د امام اعظمؒ مبنى وو. او يارانؒ وائي چې سعى و جمعې ته خو تر ماپښين كمه ده نو د ماپښين لمونځ نه يې باطليږي او خو د جمعې لمونځ خو تر ماپښين تر لمانځه بالاده نو ځكه په جمعه ظهر باطليږي، او امام اعظمؒ وائي چې سعى د خواصو څخه د جمعې ده نو حكم د جمعې

د جمعې لري او ظهر يې په باطليږي، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَكُرِهَ لِلْمَعْذُوْرِ وَالْمَسْجُوْنِ اَدَاءُ الظُّهْرِ بِجَمَاعَةٍ فِي الْمِصْرِ يَوْمَهَا

او مكروه ده معذور سړي لره لكه مريض او مسافر او مريي او دا غسى ګند بندى لره چې د ماپښين لمونځ په جماعت كوي په ښار كې په ورځ د جمعې» بلكه مراقى وائي چې مستحب دا ده چې دغه كسان دى انفرادى لمونځ لا تر جمعې تر لمانځه وځنډوي، ولې چې صحيح مذهب دا دى چې مكروه دى منفردًا لمونځ قبل صلوة الجمعة» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَمَنْ اَدْرَكَهَا فِى التَّشَهُّدِ اَوْ سُجُوْدِ السَّهْوِ اَتَمَّ الْجُمُعَةَ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

او كه څوك ور سيدى د جمعې لمانځه ته د التحيات په وخت كې او يا د سجدة سهوه په وخت كې نو د جمعې لمونځ دى پسى پوره كړى، او خداى تر ټولو ښه خبر دى، **سَوَال:** د سجدة سهوى څخه خو دا معلومه سوه چې د جمعې په لمانځه كې چې امام سهوه سي سجده سهوه به كوي، وهو خلاف المختار امام طحطاويؒ د دى سوال په **جَوَاب** كې وائي چې مختار عدم وجوب د سجدة السهو فى صلوة الجمعة وكذا فى صلوة العيدين» تا چې خلګ په اضطراب او حيرة او فتنه كې واقع نه سي، دا نه مختار چې ګر سره سجدة سهوه نه ده روا»

پُوښْتَنه: چې مذكور په متن كې مذهب دى د شيخينؒ او امام محمدؒ وائي كه سړى امام ته داسى وخت ور سيدى چې د دوهم ركعت ركوع يې ور سره ونيول نو د جمعې لمونځ دى پوره كړى او كه امام سره د دوهم ركعت د ركوع څخه سر اپورته كړى وو - او دى ور شريك سو، نو د ماپښين لمونځ دى پر بناء كړى. او د اختر لمانځه ته هر وخت چې ور سيږى او د امام سره شريك سى ده اختر لمونځ به پوره كوى» ولې چې د اختر لمونځ خو عوض نه لري چې هغه پوره كړى» د ر»

تَتِمَّه: په حديث شريف كې راغلى دى: مَنْ تَخَطّٰى رِقَابَ النَّاسِ اتَّخَذَ جِسْرًا اِلٰى جَهَنَّمَ» كه چا ګام اړاوه پر غاړو د خلګو نو دى به وګرځول سي پل د دوږخ ته»

قال الفقيه ابوجعفر الطحاوی: لَا بَأْسَ بالتخطي ما لم يخرج الامام او يؤذي احدًا» يعنې ګام اړول تر خلکو پروا نه لري تر هغه وخته چې امام خطبې ته نه وي راوتلی او یا څوک ځندي نه هيږ نه سي. حاصل دا چې تخطي په دوه شرطه روا ده یو عدم ایذاء دَ چا ده، ولې چې ذهيره وَل د مسلمان حرام دی او بل عدم خروج دامام، ولې چې تخطي خو عمل دی، او په وخت کې د خطبې هر عمل چې چاره ځندي کیږي حرام دی» لعض صوفیان په دې نیت چې امام ته نژدې ناسته ثواب لري، خلک ازاره وي او د هغو تراوږ و او غاړو گامونه اړوي دا سخته گناه ده بلکه د سړي ثواب دا دی چې هغه ځای دې کښيني چې ځای وي، وعن ابن عمرؓ ده وويل چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وويل چې د جمعې لمانځه ته درې قسمه خلګ راځي. یو هغه نفر دی چې د جمعې لمانځ ته راسي او لغوه کارونه کوي مثلاً د خطبې په وخت کې خبرې کوي یا د خلګو پر غاړو گامونه پورته کوي وامثال ذالك»

نوعليه الصلوٰة والسلام وائي چې دغه لغوه دده برخه د جمعې په لمانځه کې، او بل دا سې سړی دی چې دعاګانې کوي يعني پسله راوتلو د امام، نو عليه السلام وائي چې دا خو دا سې سړی دی چې د خدای عَزّوجَلّ ځنې غوښتنې وکړي. نو هغه د خدای خوښه ده کې سؤال قبلوي او که نه، دریم دا سې نفر دی چې د جمعې لمانځ ته راسي په پټه خوله او انصات سره او چا تر غاړې گام نه واړوي او څوك هم ازار نه کي نو د هغه نفر د پاره دا د جمعې لمونځ کفاره دګناهو ده تر بلې جمعې پورې او درې ورځې هم بالا، ولې چې خدای پاك وائي: مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا،

درويش وائي چې په يو بل صحيح حديث کې دا سې راغلی دی چې درې کسه خدای پاك د عذاب څخه د قبر ساتي، اَلْمُؤَذِّنُ: اذان کوونکی، او بل شهيد سړی، والمتوفى ليلة الجمعة» او بل هغه سړی چې په شپه د جمعې وفات سي. او لعض شارحين د حديثو وائي چې دا هغه مؤذن دی چې په تنخواه اذان نه کوي بلکه د پاره د ثواب اذان کوي. لکن ظاهر دا دی حديث عام دی که په تنخواه اذان کوي او که د پاره د ثواب» البته د پاره د ثواب اذان کول ډير ښه کار دی او د شهيد د لفظ څخه ظاهراً عام مراد دی که په معرکه کې د کفار و شهيد سي او کې ناحقه يو څوك

مړ کی. او متوفى ليلة الجمعة» که څه هم په حديث مذکور کې شپه راغلې ده لکن په اجماع سره د متوفى يوم الجمعة هم دا غه حکم دی»

درويش وائي: چې د مناقشا تو څخه خلاصه خبره دا ده چې د متوفى ليلة الجمعة او يوم الجمعة ته يو ساعت عذاب او ضغطه سته او بيا قطع کيږي او تر قيامت نه راګرځي. اللهم اجعلني منهم بحرمة النبي عليه الصلوٰة والسلام» درويش وائي چې دا يو خو مسئلې په مناسبت د تنظيف د ورځې د جمعې په ډير اختصار سره او پر صحيح وجه خپلو پښتو ورونړو ته حسبةً لله وړاندې کيږي او تفصيل په شرح کې د امام طحطاويؒ مطالعه کړي. او هوري چون وچرا ډيرې ويې وينې، يو د هغو څخه پرې کول د نوکانو دی. په حديث شريف کې چې عائشه رضي الله تعالى عنها يې روايت دا سې راغلی دی چې حديث هم مرفوع دی: مَنْ قَلَّمَ اَظَافِيرَهٗ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اعاذه الله من البلاء الى الجمعة الاخرى وزيادة ثلثة ايام» که چا پرې کړه نوکان يعني د لاسو ګوتو او د پښو ګوتو په ورځ د جمعې يعني قبل صَلوٰة الجُمُعَة» خدایٔ به دی وساتي د بلاء څخه تر بلې جمعې پورې او درې ورځې هم بالا، او امام ثوريؒ پرې کول د نوکانو په ورځ د ۵ شنبې مستحب بولي، او لعض علماء وائي چې دا سبب د غنئ دی» لکن احاديث د ورځې د جمعې ډيرې دي، نو قول د ثوري معارض د هغو نه سي ګرځيد لای» ط»

مسئله: د سړي نوکان د ګوتو تر سرو تيروي مکروه دی. او علماء وائي چې د چا چې نوکان ډير اوږده وي نو رزق به تنګ وي، نو اول بايد سړی يا ښځه په هفته کې په ورځ د جمعې نوکان پرې کړي. او بيا نو ۱۵ ورځې فصل ورکړي افضل دی. او زائد تر څلوېښت ورځې پريښول ګناه ده»

زمانه د ښځو پر نقشه په اوسنی زمانه پيښيانو ښځې نوکان د ګوتو د ومره اوږده ساتي چې په قدر د منګکې د چرګ وي، او هغه نوکان پر هم به هغه رنګ چې ده خارجه راځي وهلي وي چې هغه نوکه ته يو بل رنګ کوي. نو د غو ښځې په سبب د دغه رنګه غسل او اودس نه دی صحيح او ميرونه يا مور او پلار يې هم وينې، او بل پيښيني ښځې قميصان د ومره تنګ جوړوي او بار چاك يې تر سره زنې پورې وي

نوچې داکښېنی دکناتو نقشه یې ښه پکښې معلومېږی، اومیږه یا مور او پلار یې هم وینی. او پیښنی پر توګ په اوسنی زمانه کې دونه تنګ او ترش وی چې ښځه زنګنونه هګ ونسی دکښُ نقشه یې دوره ایه معلومېږی. اومیږه یا مور او پلار یې هم وینی، او پیښینی ښځې د نخ دخواغا ښونه د لوړی زامی چې په خبرو کی معلومېږی د سرو زرو پوښونه ورکوی. اومیږه یا مور او پلار یې وینی، خیر داخبری پای نه لری دا ټوله کارونه د کافرانو څخه زده سوی دی آنچه مردم میکند بوزنیه هم ؛ مَتَل دی مَشهور» او ښځې دی زما څخه نه ناراضه کیږی، ولې په اسلامی دعوت کې د چادره ضا پروا نسته،

دروېش وَاٸیٔ: چې د نوکانو په پرې کولو کې قِسم قِسم کیفیتونه په کتابو کی راغلی دی، لکن هغه کیفیت چې په صحت کی هیڅ شک نسته هغه دادی چې د راسته لاس اوده راسته پښی نوکان دی د مخه ترچپه لاس او چپی پښی پرې کوی لما ورد فی الحدیث المتفق علیه یعنی د علیه الصلوٰة والسلام خوښ وو په راسته خوا شروع کول په اودا سه او د سر یا ږیرې په ږمنځولو کی او په هر شان کی، او دلاسو نوکان دی تر پښو دی د مخه پرې کوی قیاسًا علی الوضوء »

مسَئَله د نوکانو پرې کول په چاقو په غاښ په نا خون ګیر ټوله روا دی او هیڅ حرج په کښی نسته، البته په غاښو پرې کول مکروه دی ط منځ۳ ولی د غاښو په پرې کولو کی د فِس اولیونتوب بیره سته **مسَئَله**: چې سړی جنب وی د مخه تر غسل نوکان پرې کول او یا سر خریل وغیره مکروه دی» لما روی خالد رضه مرفوعًا» چې که څوک یعنی جُنب سړی وخرئي د مخه تر غسل هر ویښته به په ورځ د قیامت په دربار کی د رب العزت داسی عرض وکړی: یَارَبِّ سله لِمَ ضیعنی ولم یغسلنی» والظفر قیاس علی الشعر» والحدیث مروی فی شرح شرعة الاسلام عن مجمع الفتاوٰی،،

حکمت: حکمت په پرې کولو کی د نوکانو دادی چې که نوکان ډیر غټ سی نو په مابین کی د ګوتې او د نوک خیره پیداسی چې هغه خیره طبعًا بده معلومېږی، او ګاهی دا خیره دونه ککله سی چې اوبه نه وره رسیږی و هغه ځای ته چې پریوَ لدیه فرض دی یعنی د ګوتی سر تر نوکه لاندی، نو سړی باید په پرېکولو کی د نوکانو ډیر مبالغه وکړی. ترهغه چې د ګوتی تا وان نه وی کذا فی فتح الباری»

فائِدَه: د سر خرَیل هم سنت دی او هم څوڼې پریښول د سنت سره برابر د واړه فعل د علیه الصلوٰة والسلام قولًا وفعلًا ثابت دی، امام فقیه ابوجعفر الطحاویؒ وائیٔ چې د سر خریل زمونږ د ائمه ثلثهؒ وو په نیز سُنت دی..

دروېش وَائیٔ چې حلق الرأس مطلقًا سنت ګنړل خلاف دی دمامتن څخه بلکه اصل مذهب زمونږ د احنافؒ دادی کما نقله الامام الطحطاوی عن الروضة چې سُنت په ویښتانو کی د سر یا ترك الکل مع التفریق فیما بین الرأس ان قدر علی حفاظة الشعر» په غوړولو سره او پریولوسره او پر ن منځولو سره» واما حلق الکل ان اراد التنظیف ولم یقدر علی حفاظة الشعر کما مر نو واما التفریق علی غیر وسط الرأس کما یفعله اتباع الافرنج فمکروه وایضا خریل د بعض ویښتانو د سر او پریښول د بعض مکروه دی» لما فی ابوداؤد والنسائی» عن ابن عمرؓ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم رای رجلا حلق بعض رأسه وترك بعضه فقال صلی الله علیه وسلم احلقوه اواترکوه کله» او شرح د نقایه وائی چې پوازی د څټ خریل مکروه دی لکه بعض طالبان یا نور چې کوی البته کی سر ټوله خرایه نو څټ دی هم ورسره وخروي. وهذا هوالمذهب المنقول فی صحاح کتب المذهب الحنیفی»

دبریتو په باره کی مسَئَله پوهسه: چې د بریتو خریل په چاره په نیزد بعض علماوو مکروه دی بلکه بدعت دی» لکن په دی کی اختلاف دی چې اِحفاء د بریتو مستحب ده» اِحفاء معنا داده چې پرېبیخ یې ودروی لکن په غڅی او یا په مشین د حمامیانو» فقیه ابوجعفر الطحاویؒ وائی چې احفاء مستحبه ده» ولی چې په حدیث کی لفظ د احفاء راغلی دی، او په شرح کی د شرعة الاسلام دامام اعظمؒ په نقل سره وائی چې احفاء وحلق ته نزدی ده. او په خانیه کی وائیٔ چې بریتونه دی داسی پرې کی چې طرف د لوړی شونډی ښکاره سی، او هغه ته نزدی یعنی دخولی د کنجانو ویښتان دی هم پرې کی، او د لوړی خوادی بعض ویښتان چې بی دره که ولاړ وی پرې کی تا چه بریتونه په تکه ورځ وګرځی ابن حجر په فتح الباری شرح البخاری کی وائی: هذا اعدل ماوقفت علیه من الاثار» او د غه مشروع دی پرې کول د ما تهو د بریتو چې په عربی یې سباله بولي. ولی چې د بریتو په جم کی دی

کما فی فتح الباری۔ او د لاندې شوندې وېښتان دې ده ته قطع کړي چې صرف شونډه
په ښکاره سي او د ډوډۍ خوړلو په وخت کې وېښتان د ګولۍ سره په خوله نه ننوزي
او زموږ مشائخ وائي چې مجاهد ته اجازه ده چې غټ غټ بريتونه ولري لانه اهيب في
عين العدو يعني د غټو بريتو هيبت د دشمن په زړه کې ډېر پيدا کيږي۔

د ږيرې په باب کې تحقيق

يوه سنه: چې د ږيرې پرېښودل سنت مؤکد دي، او بعض علماء وائي چې ږيره پرېښودل
واجب دي امام محمد د حضرت الامام اعظمؒ څخه داسي نقل کړي دي، "چې سنت په ږيره
کې دا دي چې د ده تر قبضې يعني موټه بالا د ږيرې کوي هم د طول د خوا هم د يسارو د خوا
تا چې ږيره يو رنګه وګرځيده د ټولو طرفو څخه" قال الامام محمد وبه نأخذ۔ کذا
في محيط الامام السرخسي لان الاعتدال محبوب۔ او ښځې ږيره او ږده ږيره يعني ښځې
او ږدول د خلقت انساني بد خوندي ده، او خلګ پسخند هم په وهي۔ بعض وائي
د رغلي لوي ږيرې۔ بعض به وائي: ځوني او ږده ږيره يه ده لکه ثوابي جاروه وامثال ذالک،
او طبراني د عمرؓ څخه روايت دي چې ده رض يو ډېر لوي ږيرې سړي وليدی نو ږيره يه ور
قبضه کړه او بالا بود يه څنډې پرې کې" او بيا عمرؓ و هغه ته ووېل: يترک احدکم
نفسه حتى يکون کانه سبع من السباع"

مسئله: په خلاصة کې وائي چې امام اعظمؒ مکروه نه ګڼل کښل د سپين وېښته د
ږيرې څخه مګر که د تزئين دپاره وه بيا مکروه دي" لکن داهلته مکروه نه دي چې خو محدود
وېښتان وي، او که ډېر وه بيا يه کښل مکروه دي" لحديث رواه ابوداؤد: لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ
فانه نور المسلم يوم القيامة" په محيط کې وائي چې وېښتان د حلق دې هم نه څرئي،
او ور څو ياد څخه بيد که وېښتان پرې کول پروا نه لري" **مسئله** د ږيرې
توره ول په هغو رنګو چې د خارجه راځي او يا په پاکستان کې جوړيږي۔

د ږيرې توره ولو مسائل

په هغه رنګو چې د خارجه راځي او يا په پاکستان کې جوړيږي
حق چې تازه په رنګ کې نو داسي بريښي لکه د کوترې غاړه
هغه خو مکروه دي جدا کما صرح به الفقهاء" او په نکروزو او يا
وسمه په رنګول سنه کار دي، **حلق العانة**، يعني زير ناف خرېيل **يوه سنه** چې
سنت په حلق عانه کې خرېيل دي د سر په چاړه يا د مشين په چاړه۔ لکن اصل مقصود چې
پاک کول د دغه ځای دی هر منځيل د وېښتانو چې پاک په حاصليږي لکه موي پاک، په اوس زمانه کې
يا نوره په څېر زمانه کې، په حديث شريف کې لفظ د حلق راغلی دي هغه بنا ء پر اغلب دي۔ او نر
او ښځه په دې حکم کې سره برابر دي۔ لکن امام نواويؒ وائي چې اولي په حق کې د نر حلق دي۔ او په
حق کې د ښځې نتف دي يعني په نوکانو يا په نوسي کښنګ دي، ولي ښځه که د زير ناف
وېښتان په خرېيلو اموخته کړي نو وېښتان و دغې په ورځ پنډيږي او بد بوئي يا تيزيږي
او نر چې راپورته سي په نر جګيږي او جماع يه بد خوند ده کيږي۔

عانه کوم ځای بولي: د نر څو پر ذکر او پرشا و خوا لاندې پر ختو او په بغلو او لور تر ځايه
پورې چې وه۔ او د ښځې دا هم پر فرج او شا و خوا وېښتانو ته وائي۔ او تر هغه ځايه چې سړي ته
ممکنه وي د کُنې د خوا وېښتان دي هم خرئي تا چې نجاست پورې ونه نښلي۔ نو چې په لټو
استنجاء وهي۔ شايد هغه نجاست به پاته سي، په خانيه کې وائي چې پرې کړي نوکان يا خرېيلي وېښتان
دسر۔ اولي دا ده چې دفن يه کي۔ او که و غورځوي پروا نه لري۔ لکن په غسل خانه کې او يا د غولو په
مکان دې نه اچوي، او وېښتان د زير ناف دې خواه مخواه پټوي، ولې چې دا مسئله ده چې هغه
شي چې په انسان پورې وي د چا کاته ورته نا روا وي، نو چې د انسانه جلا سو هم کاته ورته
نا روا دي، ترمذي د سيد تنا عائشه رضی الله تعالی عنها څخه داسي روايت کړی دی چې عليه
الصلوة والسلام د دې خو شيانو په دفن سره امر کاوه" د وېښتانو، د هر ځای چې وي۔ او د پرې
کړو نوکانو، او هغه ټکره چې ښځه يه په وخت کې د حيض استعمالوي، او غابښونه چې وځېږي
او د کچني د سنتي پوستکي۔ او د هغه ټکره چې د انسانه څخه وينه، او يا نور راووزي په پاکې کړي
او غالبًا دا امر به استحباب وي، والله اعلم بالصواب؛

بَابُ الْعِيدَيْنِ

يعنی دا باب دی په بیان کی دا حکامو دا خترو من الصلوٰة وغیرها.

شِکَایَتْ بعض نا پوه کسان، او حاسدان، وائی چی عبید الله دکتابو په حاشیوکی، او یا په ترجمه سوو کتابو کی د نورو کتابو څخه نقل کوی او عربی کتابونه و پښتو ته اړه وی. یعنی دا خبری پرما باندی د تنقید په ډول کوی. زه وایم چی بناء د دین اسلامی پر نقل ده من لدن النبی صلی الله علیه وسلم الی یومنا هذا» بلکه قرآن کریم په نقل متواتر سره تر مونږه پوری رارسید لی دی» او عربی کتابونه چی زه پښتو ته را نقل کوم یا می نقل کړیدی زما سره د پښتون اولس غمرا سره وي، او زه دا غواړم چی هر سړی او ښځه چی پښتو خط ویلای سی په خپل کور کی د دین اسلامی عقائد او احکام زده کړی. او دا ستا غوندی نا پوهانو د پښتنو ضرورت نسی ور ته پاته»

او ته دا غواړی چی عوام دی زما احترام کوی او په هره خبره کی زما څخه پوښتنه کوی زه به یاد ره واغ یار ه شتیا ور ته وایم» نو زه وایم چی زما او ستا فرق سته. نه جاه طلبه یم او مخدومیت تا تر خوند درکوی» زه د چا څخه عزت نه غواړم، او د قوم د خدمت سره محبت لرم» وَلِلنَّاسِ فِيمَا يَعْشِقُونَ مَذَاهِبُ» زه غواړم چی د نبو و ښځیو تنکی ځوانان د اسلام او د اهل سنت والجماعة عقائد و خبر وم، او په مسائلو د مذهب حنیفی یه آگاه کړم چی په او سنی زمانه کی گمراه کوونکی خلک په عوض کی د پیسو په جامعه کی ږدی» ته غواړی چی افغانان دی ساده لوحه وی» تا چی په هر دین او مذهب پسی چی ر وا نیږی ر وان دی ته وایه چی نور علماء ولی دا کار نه کوی، جواب چی څو وجهی کیدای سی، یا بی خط نه وی زده او یا به د قوم د خدمت کولو سره محبت نه لري، او یا به د ومره تکلیف بر ځان نسی ولاړائی» ای حاسده ځان پوه کړه چی په دنیا کی هر څو اقوام چی دی عُلماء د هغو خدمت کړی دی او دین یه په خپلو مورنی ژبه ور ته بیان کړی دی»

او عوام او خواص د هغو علماو و شکر وائی او دعا ور ته کوي، اِلّا پښتانه چی هغوږ دغسی علماوو په ځای کی د دعا عیب یه و وائی» او غیبت یه کوی، او د الام ور ته وائی چی پښتو کتاب د اعتبار و ړ نه دی مه ئی مطالعه کوی، چی دین ته تاوان رسوی، ای افسوس ستا پر حال دا پښتو کتابونه خو د عربی کتابو ترجمه ده. نو که دا پښتو کتابونه د اعتبار و ړ نه دی نو هغه عربی کتابونه چی دا پښتو کتابونه د هغو مکمله ترجمه ده. ولی د اعتبار و ړ دي!

او ستا تر خولی چی ر اوزی هغه به هم پښتو وی او که به جواهرات وي. — بیت —

چشم بد اندیش که بر کنده باد : عیب نماید هنرش در نظر» درویش. وائی چی جاهله ته فکر و کړه چی د عید لفظی او معنوي تحقیق چی زه ئی در ته وکړم، دا په در مختار، رد محتار. مَراقی الفلاح، طحطاوی بحر رائق، او هدایه او په شروحو کی د هغی موجود دي. او ټول متحدالدل مضمون دی او هم په عربی ژبه دی. نو مصنفین د دغو ناموړو کتابو بیو تربل د څخه په زمانه کی وه نو خود متاخر د متقدم څخه نقل کړی دی نو ستا په عقیده خو دا نقل عیب دی او ته ئی عیب نه بولي. او نه هم تر پږدی کتابو په سبب د نقل مذکوی تنقید کوی. نو زه چی د عربی څخه د پښتو و مورنی ژبی ته ر انقل کوم. ولی عیب بولي. والباعث علی هذا لیس الا الحسد»

درویش وائی چی اوس نو وا وره هغه مضمون متی. الماآل د مذکوره کتابو په پښتو بانډي

فَائِدَه: د جمعی او عیدینو ترما بین چونکه مناسبت وو چی هغه شرکت د هغو لونځودی په ادا بوکی او په شرطو کی مگر خطبه چی د جمعی خطبه د مخه ده او د اخترو خطبه وروسته ده

فَائِدَه: د جمعی ورځی ته هم عید وائی کما قال علیه الصلوٰة والسلام لکل مؤمن فی کل شهر اربعة اعیاد او خمسة اعیاد،، او جمعه یه تر عید د مخه کړه ولی چی د جمعی لمونځ فرض دی.

فَائِدَه: اصل د عید عَوْدٌ دی واو ساکن ما قبل مکسور نو واو یه په یاء سره بدل کړی کما هو القانون الصرفي»

فَائِدَه: په بحر رائق کی وائی چی د دوو اخترو لمونځونه په اول کال کی د هجرت نبوی مشروع سوی دی. قال انس رضی الله عنه چی هغه وخت چی علیه الصلوٰة والسلام هجرت وکړی و مدینی ته نو د مدینی والو دوخت څخه دوی ورځی ټاکلو دی چی په هغو دوو ورځو کی به دوی خوشالی کولی او ساتونه به ئی تیرول. یعنی د نوروز

په ورځ چې اول د حَمَل ده. او مهرجان په ورځ چې اوله د جدی ده، چې دا اصلاً د آتش پرستانو ورځې وې، نو علیه الصلوٰة والسّلام ودوی ته وویل چې دا خرسنګه دوې ورځې دی،
انصارو ورته وویل چې دا دوې ورځې مونږ په جاهلیت کی لمانځلی. نو علیه الصلوٰة والسلام ودوی ته وویل چې خدای پاک د دی دوو ورځو په بدل کی تاسی ته دوی ورځې درکړی دی
چې هغه خیر دی ستاسی تر څخوانیو ورځو، یوم الاضحٰی ویوم الفطر» **فائده**
اخترته چې عید وائی د دی سببه چې د خدای پاک د نعمتو راګرځیده سته پر بندګانو هم دینی او هم دنیوی، او عید هم راګرځید وته وائی» **فائده**: هره د خوشحالی ورځ عید بولی. کما
قال الشاعر ـ عیدٌ وعِیدٌ وعِیدٌ صِرنَ مجتمعةً ÷ وجه الحبیب ویوم العید والجمعة ÷ وقال الآخر
بالنیم حبیبی یا الجینی ÷ ازین دوگر کی بودی چه بودی ÷ وقال الآخر ـ مردم عیداست ونوروز ÷ مر عاشقان دیدار یاران ÷ قال

المصنفؒ **صَلوٰةُ الْعِیدِ وَاجِبَةٌ فِی الْاَصَحّ** د اختر لمونځ واجب دی یعنی فرض نه دی لکه د جمعې لمونځ او تمرة

په وجوب سره منقول ده د امام اعظمؒ په یوه روایت کی چې هغه یعنی وجوب په اصح دی روایتًا او درایةً وبه قال الاکثرون. او امام محمدؒ چې په جامع صغیر کی سنت بولی د هغه معنا دا ده
چې ثبوت یه په سنت نبویؐ سوی دی. ولی چې علیه الصلوٰة والسلام همیشه تو پر کړی وی بیله پریښولو هیڅ وخت» د هغه روایت د وجوب هو المختار کما فی الخلاصة» او امام
محمدؒ په مبسوط کی هم د غه روایت راوړی دی

فائده: لکه علیه الصلوٰة والسلام چې د اخترو پر لمونځو دوام کړی تر وخت د وفات
د غه رنګه خلفاء راشدینؓ هم همیشه تو پر کړی دی او ائمه مجتهدینؒ هم دوام پر کړی دی
وهذا دلیل علی الوجوب من حیث الدرایة» او طحطاوی او فتح وائی چې په اشاره د قرآن کریم
هم دا دوه لمونځونه ثابت دی، قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ: وَلِتُکَبِّرُوا اللّٰهَ عَلیٰ مَا هَدٰکُمْ» په دی اشاره د کوچنی اختر و لمانځه ته، فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ» په دی کی اشاره ده د لوی اختر و
لمانځه ته. **فائده**: د جامع صغیر عبارت دا دی: عیدان اجتمعا فی یومٍ واحدٍ
فالاول سنة والثانی فریضة ولایترك واحد منهما» درویش وائی چې دا عبارت لکه

تصریح په وجوب سره د اختر د لمانځه ولی دی وائی ولا یُترك آه نو که سنت په مشهوره معنا وای نو ترك د عید ولی نا جائز وو، نو معلوم سوه چې سُنت په هغه مَعنا بولی چې د مخه
تیره سوه، او یا مراد ده سنت څخه سنت مؤکد دی چې هغه په حکم د واجب ده چې په
ترك یه سړی ګناه کاره کیږی کذا فی البحر» قال المصنفؒ:

عَلیٰ مَنْ تَجِبُ عَلَیْهِ الْجُمُعَةُ بِشَرَائِطِهَا او د اختر لمونځ پر هغه چا واجب دی چې پر
هغه جمعه واجب وی په ټولو شرطو د جمعې د لمانځه یعنی هم شرائط د صحت او هم شرائط د وجوب
د اختر د لمانځه هغه د جمعې د لمانځه شرائط دی چې د مخه تیر سوه» قال المصنفؒ:

سِوَی الْخُطْبَةِ فَتَصِحُّ بِدُوْنِهَا مَعَ الْاِسَاءَةِ

ماسوا د خطبې څخه. نو د اخترو لمونځونه صحیح دی بیله خطبې لکن سره د ګناه ولی چې سنت یه پریښول
او مصنفؒ وویل ماسوا د خطبې څخه ولی چې خطبه د اختر چونکه تر لمانځه وروسته ده نو
شرط د صحت نه ده ولی چې شرط خو تر مشروط د مخه وی، بلکه خطبه د اختر سنت ده» قال

کَمَا لَوْ قُدِّمَتِ الْخُطْبَةُ عَلیٰ صَلوٰةِ الْعِیدِ لکه چې ګناه کار دی چې خطبه د اختر
تر لمانځه د اختر د مخه ووائی. **فائده**: ابوموسی الضریرؒ وائی چې د اخترو لمونځ فرض کفائی دی
کما شرح الزاهدیؒ وملا مسکین وهو روایة من الامامؒ وایضًا وبه قال احمدؒ»
درویش وائی چې په دی روایت کی که څه هم پر خلګو آسانی ده، ولی چې د اختر لمونځ په هر ښار کی
خواه مخواه لعض بلکه ډیر خلک یه کوی نو چې فرض کفائی سی د ټولو غاړی خلاصی دی، لکن
د غه روایت خلاف دی د ظاهر الروایة څخه د امام اعظمؒ، قال المصنفؒ:

وَنُدِبَ فِی الْفِطْرِ ثَلاَثَةَ عَشَرَ شَیْئًا اَنْ یَّأْکُلَ

او مستحب دی د کشنی اختر په ورځ دیارلس کارونه اول دا دی چې خوراک دی وکړی وروسته تر پیدا

دمخه دسپاره تر لمانځه يعني يو خوږ شئ دی وخوري لکه، قند، بوره، پلميټ، ګوړه وغيره

قال المصنف: **وَاَنْ يَّكُوْنَ الْمَاْكُوْلُ تَمْرًا وَاَنْ يَّكُوْنَ وِتْرًا** او بل دا مندوب دی چې خوراک شئ به خرمائي وي، او بل دا مندوب دی چې طاق دانې دی خوري.

پوهـنـه: چې حکمت په دی تلوار کی دا دی چې امتثال دامر نبوی راسی. او بل دا چې په منسوخ سره عمل را نسی، ولې چې په ابتداء کی داسلام ترعيدګاه دمخه خوړلو نه ووڅا ښتل نسخ. او کی تر لمانځه دمخه خوړل ونکی نو عيدګاه ته د تلو په وخت کی خوراک وکړی سند ب يه پرځای کيږي. او کې بيخي خوراک ونکړي. امام حلبي وايي چې کراهت نشته »

پوهـنـه: چې حکمت دخوا ږه شي په خوړلو کی دا دی. چې خوږ شي په اعماقو کی دبدن او په رګوکی ترر حلول کوی. او سترګی چې روژی ضعيفه کړی به وی قوت ورکوی او زړه هم نرم کوی. او دخرما په خوړلو کی موجوده وه متابعت دقول او د فعل د عليه الصلوٰة و السلام. او بل دا چې خدای پاک دخرما ونې درختی ته شجرهٔ طيبه ويلی ده، او بل دا چې خرما دانسانانو لکه عمه ده. ولی په روح البيان کی وايی چې يو لږ ختيه چې دآدم عليه السلام دجوړولو نه پاتی سوه هغه ختيه ئې دخرما ماده وګرځوله، او د تا ک خوړلو حکمت دا دی چې انه عليه الصلوٰة والسلام کان يحب الايتار في جميع اموره» قال المصنف:

وَيَغْتَسِلُ وَيَسْتَاكُ وَيَتَطَيَّبُ وَيَلْبِسُ اَحْسَنَ ثِيَابِهٖ

او غسل دی وکړی او مسواک دې هم ووهی او خوشبوئي دی هم ولګوی او هغه ښه دخپلو کالو دی وا غوندی،

پوهـنـه: چې دا غسل دپاره د لمانځه دی په نيز د مصنف کما مر في المراقي. لکن امام سرخسي وائي چې غسل دی ورو سته تر سپيدو کوی او کی د مخه وکی هم کافی دی. او دا غسل که لمانځه ته ځي او که نه ځي مندوب دی لانه يوم زينة» واجتماع بخلاف الجمعة" ولجمعه دوی ځی غسل پر هغه چا نشته چې لمانځه ته ځی سروجی وائي چې دا خبره صحيح ده وبه قالت الشافعية والمالكية»

درويش وائي: چې دا دی څخه دا معلوم سوه. چې د غسل دوه ځی داختر د لمانځه دپاره نه دی بلکه دوه ځی دپاره دی. او په کتاب الدرر کی هم وائي چې غسل داختر دوه ځی فقط د ورځي دپاره دی. او صاحب النهر وائي چې خوشالی ده ورځي داختر عام دی نو پاکی هر قادر ته مندوبه ده که داختر لمونځ کوی او که نه آه. او بعض فقهاء وائي چې دا غسل سنت دی»

مِسواک وهل خو په ټولو لمونځو کی مطلوب دی بلکه په ټولو احوالو کی تر يد الاحاديث النبوية قولاً وفعلاً، او دخوشبوئي وهل په دې سبب مندوب دی چې په حديث شريف کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم خوشبوئي لګول په ورځ داختر، او دښو کالو څخه مراد دا دی چې تر ټولو ئې استعمال روا وی. او دا مذهب يو ځی د ښه وو دپاره دی «م او په حديث کی راغلی دی چې عليه الصلوٰة والسلام يوه چپنه د فنک د لوده چې د جمعی په ورځ او په اختر کی اغوستله، او په بل حديث کی راغلی دی چې عليه الصلوٰة والسلام به برده حمراء اغوستله په هر و اختر وکی، د حمراء څخه مراد دا دی چې سری او زرغونی ليکی په دلودی ولی چې د يک لخته سری جامی اغوستل نر ته مکروه دی، او دا سی جامی ته چې ليکي ليکی وی کغيره وائي په پښتو ږ به» لکه د صدری تهوکړ» قال المصنف:

وَيُؤَدِّيْ صَدَقَةَ الْفِطْرِ اِنْ وَجَبَتْ عَلَيْهِ او ورد کړی سر يا يه يعني و مسکينانو ته که چيری صدقة الفطر پر ده واجبه وه.

پوهـنـه: چې دا هغه وخت فيصل دی ور کولو دسر سانی «و لذا امر النبی صلی الله عليه وسلم باداتها قبل خروج الناس الی المصلی يعنی د اختر لمانځه ته»

فـائـده. صدقة الفطر دی د مخه داختر دورځی هم روا ده چې د روژی په مياشت کی به وي، او مخه د روژی د مياشتي اختلاف په کښی دی. او د مخه د عيدګاه تر لمانځه ورکړه يې مستحبه ده. او وروسته د عيدګاه تر لمانځه»

پوهـنـه: چې د صدقة الفطر مقدار، او چې پر چا واجبه ده. او چاته به ئې ورکوی په تفصيل سره په باب صدقة الفطر کی په تفصيل سره راسی اِنْ شَاءَ الله تعالی» [illegible]

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِوَالِدَيْهِمَا

قال المصنف **وَيُظهِرُ البَشَاشَةَ وَكَثرَةَ الصَّدَقَةِ حَسَبَ طَاقَتِهِ**

اوښکاره کوي دې سړی خوشحالي او ورين تندي يعنې په وخت کې د ملاقات د خلګو. او ډېر دې ورکوي خيرات يعنې نفلي پر اندازه د قدرت د ده، **پوهه سه** چې په مُراقي کې مستحب ګڼلي دي ورځي ګتمې په کول شميرلي دي، ولې د صحابه رض په احوالو کې راغلي دي چې هغه کسانو چې عمومًا يعنې په نورو ورځو کې به ئې ګتمې نه په ګوښته کول دا اختر په ورځ به ئې په ګوته کول، او نل د منډو باتو ځنې د دغې ورځې په مبارکې راوړي ده چې په عربو کې بې داسې ويل تقبل الله منا ومنكم» او په پښتو خلګ وائي يوو بل ته مبارک دې سه خدای پاک دې روژې او تراويح قبولې کړه. او په مبارکې کې اثرهم موجود دي»، كما رواه ابن الحجر الحافظ عن تحفة عيد الاضحى لابي القاسم المستملي بسند حسن، وكان اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنكم، واخرجه الطبراني، بسند قوي وفي الطحطاوي، چې رواج په بلادِ شاميه وو کې او په بلادِ مصريه وو کې داسې ويل دي يو ول ته عيدٌ مبارك عليك ونحوه. او داسې ويناهم جائزه حسن ده بلکه مستحب ده، او د غه رنګه دې بله سړه روغ بړ کوي ط ص٣٣٥ .

ودې کاره ځنې يوازې په اسلامي نړۍ کې وهابيان، پنج پيران، سلفيان، او اهل حديث د زماني منکر دي او وي وائي چې دا کارونه تولِه بدعت سيئه دي، او د دوی اتباع چې ايمان وي هغه بدعت هم معنا د کفر بولي»، قال المصنف

وَالتَّبكِيرُ وَهُوَ سُرعَةُ الانتِبَاهِ وَالابتِكَارُ وَهُوَ المُسَارَعَةُ

او د غه رنګه مندوب دي تبکير او تبکير معنا وختي را او پښيده دي، او د غه رنګه مندوب دي ابتکار

اِلَى المُصَلَّى وَصَلوٰةُ الصُّبحِ فِى مَسجِدِ حَيِّهٖ د ابتکار معنا وختي تګ دې وعيدګاه ته د لمانځه او وختي تګ دی د سهار لمانځه ته و مسجد ته د خپل کلي او قبيلې. او تبکير به وسپيدو

سړه وي ياد نخه»، قَ **فَائِدَه**: د تبکير او د اکول د عبادت ته دي په خوشحالۍ سره کما يدل عليه التجربة. او د ابتکار و عيدګاه ته يو خولوي فضيلت دی. او بل به په صف اول کې ځای ونسي، او د ابتکار و مسجد ته چې اداکول د حق د خپل مسجد دی نو به صف اول ته هم ورسيږي»، قَالَ المُصَنِّف:

ثُمَّ يَتَوَجَّهُ اِلَى المُصَلّٰى مَاشِيًا مُكَبِّرًا سِرًّا وَيَقطَعُهُ

او بيا دې مخ وکي يعنې روان دې سي و عيدګاه ته پياده يعنې که بې تکليف نه وو لکه سپين ږيري وغيره په سر

اِذَا انتَهٰى اِلَى المُصَلّٰى وَفِى رِوَايَةٍ اِذَا افتَتَحَ الصَّلوٰة

حال کې چې تکبيردي وائي لکن کراره او تکبيردي پرېږدي چې عيدګاه ته ورسيږي. او په يوه روايت کې وائي چې تکبيردې هلته قطع کوي چې په لمانځه شروع کيږي. **مسئله**: د عيدګاه ته تلل افضل دي که څه هم په هغه مسجد کې وي چې خلګ په کښې ځائيږي. وهو الصحيح، ط، سبب حديث ما كه وو کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام به وتې وعيدګاه ته چې په مدينه منوره کې يو فراخ ځای وو، چې د روازې ځنې د مسجد نبوي تر هغه ځايه پورې زر ګزه فاصله وه، كما في العيني على البخاري»، او په حديث شريف کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام به په وخت د وتو و عيدګاه ته داسې ويله: اَللّٰهُمَّ اِنّي خَرَجتُ اِلَيكَ مَخرَجَ العَبدِ الذَّلِيلِ،

مسئله: په فتح القدير کې وائي سنت دادي چې لوی امام دی تر ښاره د باندې چې جبانه يه بولي د عيد د لمانځه د پاره سره د خلګو ووزي، او يو عالم دي خليفه کړي چې ضعفاو ته په ښار کې لمونځ ورکړي. ولې چې د اختر لمونځ په دوه ځايه کې اتفاقًا روا دی. او امام محمد په دري ځايه کې هم روا بولي. او سپين سرې ښځې عيدګاه ته وتلای سي. او ځوانانې ښځې نسي وتلای او منبر و رسره وبل جبانه ته مکروه دي»، او که په جبانه کې د خښتو وغيره منبر جوړ کړي بعض علماء وائي چې هغه هم مکروه دی. او امام خواهرزاده وائي چې په اوس زمانه کې سنه که ردې او امام اعظم ځنې روايت دی چې: لَا بَاسَ بِهٖ، د روښتيني وائي چې زمونږ په زمانه کې بل زمونږ

ترزمانی ډیر مخه بناء د منبر په عیدګاه کی عمومی رواج دی او هیڅ څوک انکار نه پری کوی او د اختر لمونځ خو په اوسنئ زمانه کی په هر جامع کی کیږی د خلګو د سهولت دپاره «لظهور التوانی فی امور الدین» لکن د جبانه عیدګاه لمونځ ډیر فضیلت لری، او هم ډیر فیض او برکت او خوشحالی لری لکه چی په افغانستان کی چی د اختر لمونځونه په عیدګاه کی کیږی، خصوصًا د قندهار عیدګاه چی امارتِ اسلامی دَ طالبانو ډیره فراخه او زیاته جوړه کړیده او په نورو ښارو کی د افغانستان هم ورته عیدګاهی والحمد لله صرف په کوټه کی مُلایانو دا اختراع کړیده. چی په هر جامع مسجد کی د عید لمونځ کوی. دا هم صرف ددی دپاره دی چی دی یعنی د جامع مسجد مُلاصاحب خپله بیانیه او تقریر او تبلیغ په خلکو واوری»، والی الله المشتکی من سوء هذا الغرض»، قَالَ المصنفُ:

وَيَرْجِعُ مِنْ طَرِيقٍ اٰخَرَ وَيُكْرَهُ التَّنَفُّلُ قَبْلَ صَلٰوةِ الْعِيدِ

او کورته چی رجوع کوی پر بله لاره دی رجوع وکړی یعنی لاره دی بدله کړی. او مکروه دی نفل کول

فِي الْمُصَلّٰى وَالْبَيْتِ وَبَعْدَهَا فِي الْمُصَلّٰى فَقَطْ عَلٰى اِخْتِيَارِ الْجُمْهُورِ

د مخه تر لمانځه د عیدګاه په عیدګاه کی او په کور کی. او بیله لمانځه د عیدګاه نفل مکروه دی یوازی په عیدګاه کی که کور نفل وکړی کراهت نشته بر مختاره د جمهورو علماوو، په رجوع کی پر بله لاره اقتداء ده په نبی علیه الصلوٰة وَالسلام ایسی چی هغه مبارک داعنی کوله. او بل دا دی چی شاهدان بی ډیر شی د عبادت. ولی هغه ځای چی سری قربت کار په کښی وکړی په ورځ د قیامت د هغه دپاره شاهد اداء کوی. په حدیث شریف کی چی متفق علیه دی راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام به عیدګاه ته وتلی او خلګو ته بی د عیدګاه لمونځ ورکاوه. او نه ئی د مخه لمونځ کاوه او نه ئی وروسته. او سره ددی چی علیه الصلوٰة وَالسلام پر نفلی لمونځو ډیر حریص وو، لکن قاضیخان او صاحب التحفهٔ په مباح بولی. څلور رکعت نفل په عیدګاه کی وروسته

تر لمانځه د عیدګاه، او صاحب خلاصه څلور رکعته نفل پسله اختره لمانځه مُستحب بولی «وروی فیه حدیثًا لم یُعلم صحته» لکنه محمول علی التنفل فی البیت»، قَالَ المُصنفُ:

وَوَقْتُ صِحَّةِ صَلٰوةِ الْعِيدِ مِنِ ارْتِفَاعِ الشَّمْسِ قَدْرُ رُمْحٍ اَوْ رُمْحَيْنِ اِلٰى زَوَالِهَا

او وخت د صحیح والی د لمانځه د اختر د اپوره تر کیدو دی د لمر په قدر د یوی نیزی یا دوو نیزو یعنی په حس البصر کی بیا تر زوال ده لمر. ولی چی د آنحضرت صَلی اللّٰهُ علیه وَسلم د اختر لمونځ په همیشه دا غه وخت کی به وو، او تر دغه د مخه کی د عیدګاه لمونځ وکړی هغه د اختر لمونځ نه دی بلکه حرام نفل دی» **مسئله**: مستحب ده امام لره چی د لوی اختر لمونځ دی په اول وخت کی د جواز کوی تا چه خلک د اختری وحلالیدو ته فارغ شی، او د کشنی اختر لمونځ دی لږ ترهغه ځنډه وی. په حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه الصلوٰة وَالسلام وعامل ته په نجران چی نوم یه عمرو بن حزم وو دا سی نوشته کړه» عجّل الاضحی واخر الفطر»، قال المُصنفُ:

وَكَيْفِيَّةُ صَلَاتِهِمَا اَنْ يَنْوِيَ صَلٰوةَ الْعِيدِ ثُمَّ يُكَبِّرُ لِلتَّحْرِيمَةِ

او کیفیت د اختر و د لمانځو دوارو دا دی چی نیت دی کوی د لمانځه د اختر یا لوی اختر یا کشنی اختر او بیا دی الله اکبر ووائی د پاره د شروع د لمانځه **پوهه سه**: چی نیت که څه هم فعل د زړه دی لکن په خوله دی داسی ووائی چی زه نیت دی د لمانځه د اختر لوی یا کشنی د پاره د خدائ او مقتدی دی نیت د متابعت د امام هم کوی نور نیت لکه د نورو لمونځو، قَالَ المُصنفُ:

ثُمَّ يَقْرَءُ الثَّنَاءَ ثُمَّ يُكَبِّرُ التَّكْبِيرَاتِ الزَّوَائِدَ ثَلَاثًا

او بیا دی ووائی یعنی امام او مقتدیان سُبحانک اللّٰهُمّ آه. او بیا دی ووائی امام او مقتدیان زوائد تکبیرونه دری واره،

فائده: چونکه مشروعیت د سُبحانَكَ اللّٰهُمَّ آ په اول کی دلما نځه دی نوځکه دی تر زوائدو تکبیرو د مخه وائی. په ظاهر روایت کی. **فائده** دری وارہ ویل د تکبیر مذهب دی د[1] عبد الله بن مسعودؓ او[2] عمرؓ او[3] ابی موسیٰ اشعریؓ و[4] حذیفة بن الیمانؓ او[5] عتبة ابن عامرؓ او[6] عبد الله بن الزبیرؓ او[7] ابی هریرةؓ او[8] ابی مسعود الانصاریؓ او[9] ابی سعید الخدریؓ او[10] براء بن عاذبؓ او[11] عبد الله بن عباسؓ او[12] الحسنؒ او[13] ابن سیرینؒ و[14] الثوریؒ"

مسئله: مصنفؒ په مراقی کی ویلی دی چی په مابین کی د هر دوو تکبیرو دری تکبیره قدر امام ساکت وی. فی روایة عن ابی حنیفةؒ تاچه اشتباه پرخلکو راشی چی دامام نځنه لیری ولاړ وی. او په مابین کی د تکبیرو ذکر مسنون نشته، او که سُبحانَ الله والحمدُ لله، او لَا اِلٰه اِلا الله، اَللهُ اَکبَر ووائی ر ... ده" لکن مبسوط والا وائی چی د دری تکبیرو اندازه سکوت نه دی لازم، ولی چی اصلی مقصود سکوت نځنه دفع د اشتباه ده د خلکو نځنه. نو د سکوت اندازه په قدر د ډیروالی د ازدحام د اولن والی ده" نو شاید په سبب د ډیر ازدحام دی وه، بالاتر دره و وار وته ضرورت وی، او شاید په وخت کی د لن والی د ازدحام دوه واره کافی وی" قالَ المُصنفؒ:

يَرفَعُ يَدَيهِ فِي كُلِّ مِنهَا ثُمَّ يَتَعَوَّذُ ثُمَّ يُسَمِّ سِرًّا

او لاسونه دی پورته کوی یعنی امام او مقتدیان په نیز د هر تکبیر بیا دی اعوذ بالله آه او بسم الله آه ووائی په پټه سره[1] امام فقط. **مسئله:** دا رفع سُنت ده **مسئله:** که مقتدی په داسی امام پسی ولاړ وو چی د هغه په مذهب کی رفع دید ینو نو وه مقتدی دی لاسونه پورته کوی او د امام متابعت دی نه کوی" بحر رائق وظهیریة" قالَ المُصنفؒ:

ثُمَّ يَقرَءُ الفَاتِحَةَ ثُمَّ سُورَةً وَنُدِبَ اَن تَكُونَ سَبِّح

او بیا دی سورة فاتحه الحمد لله ووائی او بیا دی یو سورة ووائی. او مستحب دا ده چی سَبِّح اسمَ ربِّكَ

اسْمَ رَبِّكَ الاَعلىٰ ثُمَّ يَركَعُ فَاِذَا قَامَ لِلثَّانِيَةِ اِبتَدَأَ

الاعلیٰ سورت ووائی او بیا دی رکوع وکړی دامام سر قوم او بیا دی تول سجدی ترواړی

بِالبَسمَلَةِ ثُمَّ بِالفَاتِحَةِ ثُمَّ بِالسُّورَةِ وَنُدِبَ اَن تَكُونَ

وروسته چی امام ولاړ سی و دوهم رکعت ته شروع دی وکړی یعنی امام کول په بسم الله سره او بیا دی الحمد لله ووائی او بیا دی یو سورت ووائی. او مندوب دا چی د دوهم رکعت سورت

سُورَةُ الغَاشِيَةِ

دی، هَل اَتَاكَ حَدِيثُ الغَاشِيَةِ، وی. **فائده:** اعوذ بالله او بسم الله کول ویل دامام د پاره دی. ولی چی مقتدی لره خو قرائت نشته، **پوهسه** چی دد وارو رکعتو قرائت په جهر سره دی که څه هم د رڅی لمونځ دی" لورود النص المتوالی من عصر النبی صلی الله علیه وسلم والصحابة والتابعین وهلم الی یومنا هذا،

فائده روایت کړی دی دامام اعظمؒ ابو حنیفه یرفعه الی النبی صلی الله علیه وسلم چی علیه الصلوٰة والسلام په اختر وکی او په ورځ د جمعی کی" سَبِّحِ اسمَ رَبِّكَ الاَعلیٰ او یا په بل رکعت کی هَل اَتَاكَ حَدِيثُ الغَاشِيَة، وایه او په بل روایت کی یوازی اخترونه یادکړه سویدي، قالَ المُصنفؒ:

ثُمَّ يُكَبِّرُ التَّكبِيرَاتِ الزَّوَائِدَ وَيَرفَعُ يَدَيهِ فِيهَا كَمَا فِي الاُولىٰ

او بیا دی امام او قوم الله اکبر ووائی دری زوائد تکبیرونه. او پورته کوی دی امام او قوم لاسونه وغوږونو ته لکه په اول رکعت کی" قالَ المُصنفؒ:

وَهٰذَا اَولىٰ مِن تَقدِيمِ تَكبِيرَاتِ الزَّوَائِدِ فِي الرَّكعَةِ الثَّانِيَةِ

هذا اشاره ده یعنی دغه فعل چی تکبیرونه زوائد دی دری په هر رکعت کی وائی او د اول رکعت

عَلَى القِرَاءَةِ

تکبیرونه دی د مخه تر قرائت وی.

او د دوهم رکعت تکبیرونه زوائد دي وروسته تر قرائت وي تا چې د دواړو رکعتونو قراءت سره متصل سي یعنی اولی، تردی چې زوائد تکبیرونه تردې بالا وائي لکه چې بعض مذاهبو ته تللي دی. او تردی هم اولی چې د دوهم رکعت زوائد تکبیرونه تر قرائت د مخه وائي. وجه د اولویت په حدیث د ابن مسعودرضی الله عنه دی، چې د مخه ذکر سو، او ډیرو صحابه کرامو هم موافقت ورسره کړی وو»

پوهـــه: چې فقه حنفي په اکثرو مسئلو کې بناء پر حدیثو د ابن مسعودرضی الله عنه ده سبب یې دا دی، چې علیه الصلوٰة والسلام د ابن مسعودرضی الله عنه په شان کې دا سي فرمائیلي دی» رضیت لامتي ما رضیه ابن ام عبد» ابن ام عبد کنیت دی د ابن مسعودرضی الله عنه» یعنی زه راضي یم د امت د پاره په هغه شي یعنی په احکامو دین چې راضي وي په هغه سره ابن ام عبد رضی الله عنه. د روایش وائي چې دا یو لوی منقبت دی د ده رضی الله عنه د پاره»

فائـــده: مصنفؒ لفظ د اولی وروایه د دی سببه چې په مراقی کې وائي. چې اختلاف په اولویت کې دی، نه په جواز او عدم جواز کې، په بحر الرائق کې وائي چې د تکبیرو په تقدیم کې او د زوائد تکبیرو په ډیر والي کې په اولویت کې اختلاف دی، والخلاف في جوازا لکل» هم دا سبب دی چې امام محمدؒ چې په موطا کې روایات مختلف ذکر کړي دی، وروسته یې داویلي دی فما اخذت به حسن»، نو که چیری په دغو روایاتو کې ناسخ او منسوخ وای نو امام محمدؒ ذالک البحر الزاخر للاحادیث النبویة اعرف به» وای او دې سبب چې اختلاف چې په اولویت کې دی په جواز کې نه دی، په فقه حنفي کې دا مسئله ده که حنفي سړی په داسې امام پسې اقتداء وکړي چې هغه تردې بالا تکبیرونه وایله مقتدی دی متابعت کوي تر شپاړس تکبیرونه پوري. ولې چې دا انتهائي درجه ده چې په اثارو کې راغلي ده او زیات تر ۱۶ ممنوع بالیقین دي،،

مســـئله: که د سړي څخه اول رکعت تیر سوی وو. نو دی زوائد تکبیرونه د خپل مذهب سره برابر و وائي د امام د مذهب متابعت دی نه کوي. ولې چې مسبوق خو منفرد دی، او که د سړي څخه د لی او د سیا په سبب له یو لا څخه تیر سوی وو چې لاحق یې بولي هغه چې خپل تیر رکعت

راگرځوي په تکبیرو کې مراعات د امام کوي. ولې چې لاحق خلف الامام دی حکما،

مســـئله: که مسبوق سړی یعنی چې اول رکعت څنې تیر سوی وي. نو چې دی قضاء د تیر سوی رکعت راوړي. اول دی قرائت شروع کوي. او د خپل مذهب څخه دی مخالفت وکړي یعنی چې اول رکعت د زوائد تکبیرونه تر قرائت د مخه دي، ولې که دی یعنی مسبوق تکبیرونه د مخه و وائي نو دی رکعت تکبیرونه د هغه رکعت د تکبیرو سره یوځای کیږي چې د امام سره نیولي وو» لم یقل به احد من الصحابة فیوافق رأی الامام علی ابن ابی طالب، چې د هغه مذهب دا دی چې په اول رکعت کې قرائت تر تکبیراتو د مخه دی» هذا ما حصل ما في المراقي والطحطاوي»

مســـئله: که سړی ورسیدی امام ته او هغه په رکوع وو نو تکبیر افتتاح خو یې په ولاړي و وائي بیا نو که د ده غالبه گمان دا وو چې امام تر سرنه راپورته کوي نو دی زوائد تکبیرونه په ولاړي و وائي او لا سونه دی پورته کوي. او که خیال دا وو چې رکوع راڅخه تیریږی نو د امام سره دې رکوع کې شریک سي، او زوائد تکبیرونه دی په رکوع کې و وائي. لکن لاسونه دی نه پورته کوي. او امام ابویوسفؒ وائي چې دغه سړی دی تسبیحاتي د رکوع و وائي. ولې چې رکوع ځای د تسبیحاتو دی د تکبیرنه دی او تکبیرونه په سبب د عذر څنې ساقط دي،

مســـئله: که دغه سړي یو تکبیر د زوائدو څخه په رکوع کې و وایه او امام د رکوع څخه سر پورته کی، ده هم دستي سر ورسره راپورته کړ، ولې که دی په رکوع معطل سي، د تکبیر د پاره نو خو ده متابعة الامام چې فرض وو ده د واجب د پاره پریښی،،

مســـئله: که سړی امام ته ورسیدی او امام سر راپورته کړی وو د رکوع څخه نو دی د بې تکبیرونه زوائد نه وائي. ولې چې دی خو ورو سته د دغه رکعت د قضا سره د زوائدو تکبیر راوړی» کذا في فتح القدیر» قال المصنفؒ:

ثُمَّ یَخْطُبُ الْإِمَامُ خُطْبَتَیْنِ یُعَلِّمُ فِیهَا اَحْکَامَ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

او بیا دی امام دوې خطبې و وائي چې ورښیي دی په دواړو کې احکام د صدقة الفطر یعنی د سرئی

درویش وائي چې خطبې خو تهوله په عربي ژبه دي نو دا خو هغه کسانو ته فائده کوي چې په عربي ژبه پوهیږي نو د پښتنو په ځايونو کې به پښتنو ته څرنګه نبوونه وسي د دې احکامو چې الفاظ د خطبې عربي دي او پښتنو عوام خونبولي وي لکن هیڅ سړی نه په خلاصيږي چې امام څه وائي. او په مراقي او تهولو کتابونو کې وائي چې مشروعیت د خطبو د دې له تعلیم د پاره دی.

درویش وائي:

نو که د درویش په قول څوك عمل کوي نو داسې دې وکړي: چې حمد د پاك خدائ دې په عربي ووائي او درود دې پر علیه الصلوٰة والسلام دې هم په عربي ووائي په هره خطبه کې او بعض احکام یا تهوله دې په اوله خطبه کې ووائي یا بعض احکام په یوه خطبه کې بعض په بله خطبه کې ووائي. نو پردې دواړو به تهوله خطبه پر سنت برابره سي، **سوال**: احکام د صدقة الفطر خو داغه پنځه دي چې تفصیل یې په ځیل ځای کې راځي ۱ صدقه فطر پر چا واجبه ده. ۲ او چاته به ئې ورکوي ۳ او مقدار د سر سایه څو دی! ۴ او کله واجبیږي ۵ او په څه سبب واجبیږي نو پښتنه دا ده چې په بعض جامع مسجدو کې چې په اوسني زمانه کې چې د عیدګاه لمونځ په کښې کیږي داسې امام ولاړ وي چې ځیله په دغو احکامو څه وو نه وي خبر نو بل ته به ئې څرنګه وښیي.

جواب: لازمه بره چې د درویش قدوري پښتو یا د اکتاب نور الایضاح پښتو دې وګوري او زده دې کړي. او بیا دې خلګو ته بیان کې. لکن سره د تهولو هغو خبرو "په بحر الرائق کې ډیره به زړه پوري خبره کړیده. دې وائي چې چونکه علم دین امانت دی پر غاړه د علماوو نو بایدچې خطیبان بلکه تر وایم چې د مسجدو امامان یوه هفته د مخه تر کښنی اختر او یوه هفته د مخه تر لوی اختر دی په ښوونه د احکامو د صدقة الفطر او په احکامو د اضحیه او تکبیرات التشریق په منبره وختو کې په ښوونه لاس پوري کې. ولې چې عوام په یوه وار احکام دینیه نه سي زده کولای. ولې چې مندوب په صدقة الفطر کې خو دا ده چې تر خروج و عیدګاه ته ده. نو چې د مخه نه سي خبر او د عیدګاه په خطبه کې خبر سي. نو هغه مندوب خو یې د لاسه ورکړي او بله خبره دا ده چې تکبیرو نه د تشریق د عرفات په ورځ شروع کیږي نو د لوي اختر عیدګاه

په خطبه کې زده کړو څه فائده لري، او دغه په باب کې د صدقة الفطر به راسي ان شاءالله چې علیه الصلوٰة والسلام به دوی ورځي تر اختر د مخه خلګو ته احکام د صدقة الفطر ور ښوول، علیه الصلوٰة والسلام.

مسئله: د اخترو د دوو خطبو په ما بین کې هم لکه د جمعې امام جلسه خفیفه کوي.

مسئله: د اخترو په خطبو کې دې الله اکبر وائي او په ظاهر الروایة کې عدد معین تکبیرو دپاره نه دی راغلی" لکن داسې به هم نه کوي چې اکثر خطبه یې تکبیرونه وي. لکن په خطبه کې دلوی اختر دې تکبیرونه ډیر وائي تر کښني اختر تر خطبو. او خطیب دې په هره خطبه شروع په حمد د خدای جل شانه کوي تیاله لبسم الله وسیلوه مراقي الفلاح"، قال المصنف:

وَمَنْ فَاتَتْهُ الصَّلٰوةُ مَعَ الْاِمَامِ لَا يَقْضِيْهَا هغه څوك چې د ده څخه فوت سي هغه لمونځ چې ده به د امام سره کاوه یعنې د اختر لمونځ امام اداء کړي او دی نه وو ورسیدلی بلکه د ده څخه فوت سو. نو دغه سړی به د هغه لمانځه قضاء نه راوړي لیعني یوازي به ئې نه کوي، ولې چې په جماعت د اختر لمونځ کول ځیل شرطونه لري، چې بیله امامه نه تر سره کیږي. او یا بیله نائبه د امام، نو انفرادي د اختر لمونځ څرنګه جواز لري! نو دغه سړی چې د اختر لمونځ ځنې دی تیر سوا خیار لري که کور ته تمی او که په غیر د عیدګاه کې نفل کوي، او افضل دا ده چې څلور رکعت نفل دي وکړي چې د څاښت د لمانځه په ځای کې به هم ودریږي" د ابن مسعود څخه روایت دی چې که چا د اختر لمونځ تیر سو نو څلور رکعته نفل دې وکړي. په اول رکعت کې دې سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى" ووائي. او په دوهم رکعت کې دې وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا" ووائي او د ما بین په ناسته کې التحیات سره د درود ووائي. او دریم رکعت ته چې ولاړ سو سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ دې ووائي او تر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وروسته دې وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى" ووائي او په څلورم رکعت کې دې وَالضُّحٰى ووائي" او ابن مسعود د دغه لمانځه په باره کې د علیه الصلوٰة والسلام څخه روایت د وعدا جمیلا او د ثواب جزیل کړی دی"

درویش وائي: د دغه سې لمانځه په وخت کې د بنه ارتفاع الشمس ډیر ثوابونه منقول دي چې اهل تجربه د علماوو او اولیاء وائي که څوك د ضیق الرزق څخه بیریږي نو صلوٰة الضحیٰ په

ترتیب مذکوره ی دلا سره نه باسی. او که څوك دعذاب القبر او اهوالو څخه دقیامت بیریږی نو د تهجد لمونځ دی همیشه کوی الآمن عذر» قَالَ المُصنِّفُ:

وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ اِلَى الْغَدِ فَقَطْ

او ځنډ وَل کیږی د کښتنی اختر لمونځ په سبب دعذر ترصبا پوری نه بالا **پوهه سه**: چې یو د عذرو څخه دا دی چې په مابنام کی میاشت ونه لیدل سوه او بیله زواله خلګو شاهدی اداء کړه چې مونږ مابنام میاشت ولیدل درویش وائی: چې هغه عذر چې مَراقی بیان کړی دی. چې خلګو د عیدګاه لمونځ وکړی لکن شدید اوریځ وه. وروسته داور معلومه سوه چې د عیدګاه لمونځ تر زوال اداء سوی داعذر په پخوانی زمانه کی متصور وو لکن په اوسنی زمانه کی داعذر هیڅ صورت ناری، ولی چې د هر سړی سره ساعت موجود دی چې ثابت او زوال وخت پر متیقنه توګه ورمعلومیږی که څه هم ګرده ورځ لړ په وریځ کی پټ وی، قَالَ المُصنِّفُ:

وَاَحْكَامُ الضُّحٰى كَالْفِطْرِ لٰكِنَّهٗ يُؤَخِّرُ الْاَكْلَ عَنِ الصَّلٰوةِ وَ

او احکام د لوی اختر دا سی دی لکه د کښتنی اختر لکن دا فرق دی چې خوړل دی وروسته کوی تر لمانځه

يُكَبِّرُ فِى الطَّرِيْقِ جَهْرًا

او تکبیر دی وائی په لاره کی په زوره سره **پُوهه سه**: چې ځنډ وَل دا کل او داغه رنګه د شرب وغیره چې منافی وی د روژی تر لمانځه پوری مُستحب دی. لکن د سپیدو څخه تر عید ګاه پوری» په مراقی کی وائی کی د مخه خوړلك وکړی مکروه نه دی، یعنی مکروه تحریمی په حدیث شریف کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام به د لوی اختر په ورځ خوړلك نه کاوه چې د عیدګاه څخه به راغلی د اختری غوښی به ئی خوړلې» او دی حدیث د سببه په بعض کتابو کی وائی چې دا تاخیر الاکل دهغه چاد پاره مندوب دی چې هغه اضحیه کوی» قیل هو المختار» لکن په زاهدی کی وائی چې په اخبارو کی د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم داسی راغلی دی چې دوی به کچنی هلکان هم دخوړلك څخه منع کوله. او حتیٰ چې تر شیدو خوړو

رضاع څخه منع کوله په ورځ د لوی اختر د اختر تر لمانځه پوری» کشیان بی هم د کښتانی چې د دغو اخبارو تصحیح چا نه ده کړی والله اعلم **مسئله**: دا مسائله درویش وائی چې د روژی نیت د روژی نه غولړی. او پر هغه چا دا مسائله جاری نه ده کما یتوهمه العوام، نو ځکه نیت د روژی نه غولړی. او پرهغه چا دا مسائل جاری روژه نه ده کما یتوهمه العوام» نو ځکه دی چې په ښار کی وی یعنی چې هلته د عیدګاه لمونځ کیږی» مصنفٌ وائی چې د لوی اختر په ورځ چې عیدګاه ته ځی الله اکبر دی په زوره وائی لکن دا مستحب دی لفعل النبی صلی الله علیه وسلم ذالك»

مسئله: تکبیر په زوره ویل سُنت دی مګر په دغو ورځو کی مګر نیزد مخامخ والی د بښمنه سره یا د غلو سره هم الله اکبر په زوره ویل مندوب دی. کذا نقل الامام الطحطاوی عن الزاهدی» قال المُصنِّفُ:

وَيُعَلِّمُ الْاُضْحِيَّةَ وَتَكْبِيْرَ التَّشْرِيْقِ فِى الْخُطْبَةِ

او ورښیی دی امام د عیدګاه وَ خلګو ته د اضحیه احکام او تکبیرونه د تشریق د اضحیه احکام چې وروسته به راسی ان شاء الله دا دی» چې اضحیه پر چا واجبه ده. او د څه سببه دا واجبیږی. او د اضحیه عمر او سن به څو مره وی، او وخت د ذبحی کله دی. او ذابح به خولك و او ملګرو د خوړلك په څه دی! او څونه به خیراتوی او څونه به ذخیره کوی **پُوهه سه**: چې تشریق په لغت کی وچولو ته د غوښو وائی په لرسره لکه چې عادت د عربو وو په پخوانی زمانه کی یعنی غوښی به ئی نری نری کړی او پر ډبرو به ئی واچولی» نو د دوی دا فعل پر یوولسم دوولسم دیارلسم کاوه. نو دا دری ایام تشریق بولی. او د اضحیه د ذبح ورځی هم دری دی لسم یوولسم دوولسم نو مجموع څلور ورځی کیږی. نو د اختر ورځ یوم النحر بولی یوم التشریق یی نه بولی که څه هم تکبیرونه په کښی ویل کیږی، او څلرم ورځ فقط یوم التشریق او د اختری ذبح نه ده پکښی رَوا، او د ما بین دوی ورځی هم ایام النحر دی او هم ایام التشریق دی»، ط،م»

اللهم اغفر لمولفه ولكاتبه ولمن سعى فيه امين

قال المصنف **وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ اِلٰى ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ وَالتَّعْرِيفُ لَيْسَ بِشَيْئٍ**

او ځنډول کیږی د لوی اختر لمونځ په سبب د عذر، تر درو ورځو پوری، او مشابهت کول په نورو وطنو کی د هغه کسانو سره چې پر عرفات ولاړ وی هیڅ شی نه دی، یعنې نه واجب دی او نه سنت دی او نه مستحب بلکه مکروه دی پر صحیح مذهب ولې چې دا اختراع ده په دین کی،» م او امام طحطاویؒ وائی چې د ظاهر څخه د روایا تو دا معلومیږی چې مکروه تحریمی دی، ولې چې د وقوف قربت او ثواب په هغه مکان مخصوص پوری اړه لری چې د عرفات نه دی لکه طواف چې د بیت الله شریفی خاصه ده نو پر بل ځای لکه یو مسجد او یا قبر د یو ولی طواف کول حرام دی لکه شیعه ګان چې پر قبر د امام رضا کوی، بلکه په کافی کی وائی چې پر بل ځای سوی د کعبة الله که څوک طواف وکړی بیره د کفر نه دی سته» قال المصنف

وَيَجِبُ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ مِنْ بَعْدِ فَجْرِ عَرَفَةَ اِلٰى عَصْرِ الْعِيدِ

او واجب دی تکبیر تشریق پر اختیار د اکثرو علماؤ او بعض فقهاء وائی چې سنت دی او د غه رنګه

مَرَّةً فَوْرَ كُلِّ فَرْضٍ اُدِّيَ بِجَمَاعَةٍ مُسْتَحَبَّةٍ عَلٰى اِمَامٍ

جهر یم واجب او شروع دی د تکبیر وروسته تر لمانځه د عرفات د ورځی کیږی د ماز دیګر تر لمانځه پوری د ماز دیګر د ورځی د اختر یعنې تر د غه ماز دیګر وروسته به هم وائی چې مجموع اته لونځه کیږی یو وار متصل په فرضی لمانځه پسې، نو د

مُقِيمٍ بِمِصْرٍ وَعَلٰى مَنِ اقْتَدٰى بِهٖ وَلَوْ كَانَ مُسَافِرًا اَوْ

جمعې لمونځ هم په کښې داخل دی او نفل او وتر او د جنازی لمونځ او د اختر و لونځونه خارج دی، چې د غه

رَقِيقًا اَوْ اُنْثٰى عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ

چې د غه فرضی لمونځ په جماعت سره ادا سی. نو منفرد و وتې پر هغه واجب نه دی. او د ا تکبیر واجب پر امام چې مقیم وي په ښار کی نو پر مسافر او یا مقیم د قریه باندی نسته. او د اغه رنګه واجب دی د ا تکبیر

پر هغه چا چې اقتداء یه کړی وی په د غه امام پسې» که څه هم دا مقتدی مسافر وی او یا مریئ وی او یا ښځه وی. **فائده.** بعض فقهاء وائی چې تکبیر واجب دی او جهر یه سنت دی والفتوی علی وجوب کل من التکبیر والجهر **پوهسه:** چې که د د غو ۸ لمونځو کی یو ځنډی قضا سوی وو، د هغه تر قضائی کولو وروسته هم تکبیر واجب دی،» مر او د غه جماعت به هم مستحب وی. په دی سره د ښځو جماعت خارج سُو.»

فَوائِد د مَرَّةً په قید کی احتراز د مذهب څخه د امام شافعیؒ چې هغه وائی چې تکبیر به دری وار وائی. او په قید کی د فور، اشاره ودې ته ده چې څرنګه چې سلام وګرځاوه دستی به تکبیر وائی. نو که سړی وروسته تر لمانځه په زوره وخندل او یا یه په قصد او د س مات کړی او یا یه خبری وکړی که څه هم په سهوه سره وی او یا د مسجده ووتی بیا دی تکبیر نه وائی او جهر په تکبیر سره یوازی د نرو د پاره دی ښځی به یې کرار کرار وائی چې آواز د دی عورت دی» یعنې په معنیٰ لغوی چې عورت په لغت کی عیب ته وائی طحطاویؒ»

تفریع نو هغه چې بعض ملایان وائی چې عورت دا معنا ده چې او ریدل یه حرام دی غلط خبره ده نعم د ښځی بیګانه چې زړه نه وی خبری کول یه منفضی و فتنی ته ګرځی کله کله» نو احتراز ځنډی لازم دی» او که د سړی څخه اول د لمانځه دا امام تیر سوی وی، هغه چې لمونځ پوره کړی تکبیر به وائی. **مسئله:** که سړی محرم وو، تر لمانځه وروسته به تلبیه وائی ولې چې تلبیه کلام اجنبی دی» په بحر الرائق او کافی وائی که پر سړی سجده سهوه لازمه سوی وه نو اول به سجده سهوه کوی ولې چې هغه په تحریمه کی د لمانځه داخله ده او وروسته دی تکبیر تشریق وائی ولې هغه اتصال په لمانځه پوری لازم دی. او وروسته دی تلبیه ووائی که سړی محرم وو. نو که دی سړی اول تلبیه وویل سجده سهوه او تکبیر ځنډی ساقط سوه، ولې چې تلبیه خبری دی لمونځ په قطع سُو، نو سجده سهوه نه سی کولای. او اتصال د لمانځه هم باطل سُو، نو تکبیر هم نسی ویلای. او کی پس له سلامه تکبیر و وایه سجده سهوه دی وکړی ولې چې په تکبیر سره لمونځ نه قطع کیږی»

وقد کتبه بقلمه حقر الوری فضل حق حقانی غفر له من تلامذ حضرت ایرانی مدظله.

قال المصنفؒ **وَقَالَا يَجِبُ فَوْرَ كُلِّ فَرْضٍ عَلَىٰ مَنْ صَلَّاهَا وَلَوْ**
او یاران وائی واجبیږی داتکبیر متصل په هر فرضی لمانځه پسی، پرهغه چاچی لمونځ یه وکړی که څه هم

مُنْفَرِدًا اَوْمُسَافِرًا اَوْقَرَوِيًّا اِلَىٰ عَصْرِ الْخَامِسَةِ
یوازی لمونځ وکړی، او یامسافروی اویا قریه والا وی. بیا ترمازدیګره پورې دپنځمی ورځی دعرفات

مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ دورځی څخه چی مجموع یه ۲۳ لمونځه کیږی»، قال المصنفؒ

وَبِهِ يُعْمَلُ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَىٰ او پرمذهب دیارانو عمل کیږی اوفتوی د علماوو هم پرمذهب دیارانو ده. دلیل یه دادی چی عمل په هغه عبادت چی پرده واجب نه وی، اولیٰ دی تر ترک دهغه عبادت چی بعض کسان وائی چی پرده واجب دی، یعنی امام اعظمؒ خو وائی چی تر ۸ لمونځو ورسته تکبیر پرسړی واجب نه دی، داسی خو نه وائی چی نه بی وائی، او یارانؒ وائی چی ۲۳ لمونځو پوری تکبیر واجب دی نو احتیاط په قول کی دیارانو دی»

سوال: څرنګه رواده چی پرخلاف دقول د صاحب المذهب ځوك فتوی ورکوی **جواب** په حاوی قدسی کی وائی چی دامام اعظمؒ او دیارانو چی اختلاف دی اسی نو اعتبار قوت لره ددلیل دی. او یا هر قول چی یارانؒ یه مختاره کړی هغه هم روایت د امام اعظمؒ څخه دی لکن ده رجوع ځنی کړی وی»، ط، در، **مسئله**: که د امام تکبیر په یوه لمانځه کی هیرسو نو مقتدی بی وجوباً وائی. تا چه د امام به هم ورپیاد سی،

حکایت امام محمدؒ وائی چی په یوه لمانځه کی د ورځو د تشریق امام ابویوسفؒ امام وو او امام اعظمؒ اقتداء پسی کړی وه. پس له سلامه د امام ابویوسفؒ تکبیر د تشریق هیرسو. نو امام اعظمؒ فوراً تکبیر وو وایه» قال المصنفؒ

وَلَا بَأْسَ بِالتَّكْبِيرِ عَقِبَ صَلَوَاتِ الْعِيدَيْنِ او پروانشته په تکبیر ویلو کی د اخترو تر لمونځو ورسته یعنی که

څه هم دادوه داخترو لمونځونه واجب دی او د واجب لمانځه ورسته تکبیرونه دی واجب لکن کی څوك ووائی پرواه نه لری **فائدة**: امام طحطاویؒ د فتاوا ظهیر یه څخه داسی نقل کړی چی فقیه ابوجعفر الطحاویؒ وائی چی زمونږ مشائخو به خلکو ته اجازه ورکوله چی تکبیر د تشریق په دغو ورځو کی په بازارو کی هم وائی بلکه داختر په لسو ورځوکی، کما فی البحر» او په درایه کی وائی چی یو چا دامام اعظمؒ څخه پوښتنه وکړه چی ایا اهل کوفه او دبل ځای خلق په ورځو کی د تشریق په مساجدو کی او بازارو کی تکبیرونه وائی... قال نعم» **درویش وائی** چی زمونږ په ګران هیوادکی افغانستان، او دغه رنګه په پاکستان کی رواج د تکبیرو په بازارو کی نشته. شاید وجه یی دا وی چی دغه روایت په صحیح ثبوت نه وی رسیدلی» قال المصنفؒ:

وَالتَّكْبِيرُ اَنْ يَقُوْلَ اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
او تکبیر دادی چی ووائی الله اکبر الله لوی دی الله اکبر الله لوی دی. نشته هیڅ معبود برحق د الله څخه ماسوا الله لوی دی الله

وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ لوی دی او خدای لره دی حمد او ثناوی. په مراقی کی مصنفؒ داسی حدیث رانقل کړی دی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم چی د سحار لمونځ دورځی د عرفات به ئی اداکړی نو بیا مخ مبارك واصحابو کرامو ته راوګرځاوه. او داسی به ئی ویله: خیرما قلنا وقالت الانبیاء قبلنا فی یومنا هذا اللّٰه اکبر تر پایه پورې **درویش وائی**: چی هغه څه چی مولوی اعزاز علیؒ د عنایه څخه نقل کړی ده چی داتکبیر د حضرت سیدنا ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام چی خپل زوی حضرت اسمعیلؑ یه قربانی کاوه. او دی وائی چی څه وخت چی ابراهیم علیه السلام وذبح ته زوی اماده سوا و ستړګی پټی وی. نو جبرئیل علیه السلام اول وار وویل اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ» نو ابراهیم علیه السلام چی ولیدی چی د قربانی په جبرئیل علیه السلام راوستی نو یه داسی وویل لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ» نو اسمعیل علیه السلام چی پوه سو چی د ذبح خلاص سوی نو یه وویل

اَللهُ اَکبَر وَ للهِ الْحَمد ،، روایم دغه قصه د مخنی حدیث سره موافقت نه لري. ولې چې حدیث شریف داسې عبارت دی، الانبیاء قبلنا ،، نو خو دی کلماتو تخصیص په ابراهیم علیه السلام اود ده په زوی پورې نشته، وَاللهُ اَعلم بالصَّواب،

مسئله مرط وائی چې پر دغو کلماتو داسې کلمات با لاکول پروانه لري، وَ اللهُ اَکبَر کبیرًا وَالحَمدُ لِلّهِ کَثِیرًا، وَسُبحَانَ اللهِ بُکرَةً وَّ اَصِیلًا، لَا اِلٰه اِلا اللهُ وَحدَهٗ وَصَدَقَ وعدَهٗ و نصر عَبدَهٗ وَاَعَزَّ جُندَهٗ. وَهَزَمَ الاَحزابَ وَحدَه، لَا اِلٰهَ اِلَّا الله وَلَا نَعبُدُ اِلا اِیَّاہُ مخلصین له الدّین، وَلوکرہَ الکافِرُونَ، درویش بگناه محمد عبد الله وائی چې څه وخت چې زما نوشته ودی ځای ته راورسیده. نو دا هغه ورځ وه چې د دنیا لوی ستر قدرت یعنی امریکا د بُش دصدارت په وخت کی یوه ورځ د مخه د جاپان د بندر څخه خپله دریابی بیړی یعنی چې د طیارو او د سلاحو څخه ډکه وه د پاره دحملې پر غریب وطن او ملک چې ۲۲ کاله نور جنګ ځپلی وو، پر سرد اسامه بن لادن چې عربي الاصل دی او په افغانستان کی دی او د روسانو سره چې پر افغانستان یې قبضه کړې وه د لوي مجاهد په توګه سره ونډه اخستې وه. راروان کړې وه، او د امریکا سره انګریزانو، پرانسویانو، جاپانیانو، جرمنیانو، او استرلیا، او هندوستان وغیرها من ممالک الکفرة،، هم موافقه ورسره کړې وه حتی لبعض اسلامي هیوادو لکه پاکستان هم موافقه ورسره کړیده. او امریکایانو ته د خپل فضا ئی طیارو د میدانو څخه وامریکایانو ته اجازه دحملې پر افغانستان باندی ورکړه،،

پوښتنه: پاکستان په وخت کی دیرغل د روسانو پر افغانستان د افغانستان د خلکو ډیر مادی او معنوی مرستې په داخل کی د افغانستان او د مهاجرینو سره چې په پاکستان کی مشته وه هم ډول کومک کاوه، او تر اوسه پورې تخمینًا دوه میلیونه د افغانستان خلګ مهاجرین په پاکستان کی موجود دی. نو اوس ولې بیا پاکستان وامریکا ته خپل د ملک د میدانو څخه د افغانستان پر بیچاره خلګو اجازه دفضائی حملو ورکړه.

جواب داوس وخت فوجي مشر جنرال مشرف خو پخپله بیانیه کی داسې وویل چې نه مجبور یم بیله اجازه ورکولو بله لاره نه لرم، شاید هغه اسباب به ته معلوم وي

پوښتنه: امریکایانو خو هم په وخت کی دیرغل دشوروی پر افغانستان ډیری مرستی د افغانستان سره کولې او قسم قسم سپکی او درنې وسلې یه او ترهر ملک ډیرې مرستی د افغانستان ته لیږلې. او د پاکستان او د مهاجرینو سره د افغانستان یې هم تر هر ملک ډیری مرستی کولې. نو اوس بیا ولې د افغانستان دښمن سو. او د جنګ او حملو اعلانونه ورته کوي او جنګی طیاری او توپونه او میزائل په بحري بېړیو را روان کړي دي!

جواب: په هغه وخت کی شوروی اتحاد، پر خپل ټوله قوت باقی وو، او امریکا بلکه ټول غربیان ملکونه ځندی بیریدل، حتی پاکستان هم. چون شوروی افغانستان اشغال کی او تخمینًا یو لک فوج مجهز په جنګی مهماتو سره وافغانستان ته راواستاوه. او جنګی طیاری حاصل دا چې ټوله وسائل د جنګ یې په افغانستان کی سره ځای پر ځای کړه. امریکایان بالخصوص او ټوله غربیان بالعموم د بیری سره تبې واخستل، نو یه د افغانستان خلګ د روسانو مخ ته په ډول دسپر د توری و مخته په کار واچول، هغه و چې خدای جل سلطانه په توفیق او د افغانستان د سرښند لو باشها مته مسلمانانو په واسطه شورویانو بیله وتود افغانستان څخه بله چاره ونه لیده. او د افغانستان څخه نا کام او نا مراده مختوری ووتی. علاوه پر هغه خدای جلّ سلطانه د روسانو د سرو څخه هغه کبر او لوئی چې دوی به په اتحاد شوروی سره بدئ کاوه ددماغو څخه د دوی یووړه. ولې چې اتحاد شوروی ورد ړی وړی کی. او روسان یه الګ تلګ پری بشووله،

نو داوخت راورسیدی دامریکایانو او غربیانو سره تبه وشکیدل او د راحت ساه یې وکښل تردي وروسته برای نام مرسته یې په داخل د افغانستان او د مهاجرینو سره کوله. او په سلو کی ۹۵ مرستی په ټپه ودروولې، وروسته پر افغانستان باندی د خپلو حزبی لیډرانو د لاس قسم قسم مصائب نازل سوه چې تفصیل یې هرچا ته معلوم دی وروسته خدای جل سلطانه پر افغانستان د دینی طالبانو په ډیره چټکی حکومت مسلط کړی. چې په ډیر لږ وخت کی د افغانستان پر ۹۵ فی صده تر خپلو ولکی لاندی راوستل. او طالبانو سمدلاسه د حقیقی شریعت نبوی ﷺ پخپل مملکت کی اعلان وکړی یعنی، قصاص، حد زنا، حد سرقه،

وغیره» او امنیت کامل یې په کامِل افغانستان کې پیاده کی، نوامریکایانو اوغربیانو چې
د اکارنامې دَ طالبانو ولیدی لاس دکومک خویه بیخې ځندی ټول کړ. بلکه پرضد د
طالبانو دامارت پرپرو پیگنډې شروع کړې، اوپه دې فکر کې سَوله چې داحکومت اسلامی
دمابین یومې، ولې چې کفارو ته دتاریخ په پاڼرو کې داثابته ده چې اسلام چې پرخپل
ماهیت اوحقیقت باقی هیڅ ابر قدرت ورسَره مقابله نسی کولای، اوامریکایانو
ډیر ډالرونه په کار واچوله اود افغانِستان وخلګوته ئې تور یع کړه چې تاسې پر ضد د
طالبانو دحکومت اسلامی پرو پاګنډه اوکوشش شروع کړې، ددې شاهِد هغه دهماکه (چړو)
وه چې دملامحمّدعمر پخوانی کور پرسَړك باندی وسَوه. اوخوکسه په کښې شهیدان
سَوه داد هماکه خومستقیمًا امریکایانونه ده کړې، بلکه دَهغو حلقه بَتوشه غلامانو
ډالرو په زور وکړه. اودغه رنګه نوری ګډوډی په امارتِ اسلامی افغانستان کې دامریکائی
ډالرو په واسطه سوې دی اوهم به کیږی. لکن داپالیسی دامریکایانوتراوسه نه دی
کامیابه سوې اوإن شآء الله کامیابه به هم نه سې، ډالرپه مفت تاوانیږی مزدوران
په پیسو قسم دروا غود امریکا څخه ډالرتيلاسه کوي. ددې مزدورانو سره نه د اسلام غم
سته اونه دافغانستان بلکه ددوی کار د ډالروسره دی.

بیا په اوس وَرځوکی یعنی هفته دوې د مخه پس امریکایانو یوه حیرت انګیزه حمله وسَوه.
چې ډیر خلګ په کښې مَړه اویاژوبل سَوله او ډیرې غتې ودانی دامریکا دلویو دوو ښارو
په کښې ویرانې سوې چې دراد یوګانو دلارې اواخبارا تودلارې. جهانیان ټوله په خبری
نوپه حقیقت کې خو خدای پرخبردی چې داسې منظمې حملې په لږ وخت دامریکا پر
لویو ښارو چا به کړې وي. لکن امریکایان که دغو حملو عامِل پیږنئي اوکه نه! خودوی
حملوبارې په داسامه بن لادن چې ستر مجاهِد دی. اود شوروي یانوسره دجهاد دوخته
څخه په افغانستان کې دمهاجرت ژوند تیره وی پر او بزو واچاوه. اودامارتِ اسلامی
افغانستان څخه یې غوښتنه وکړه چې اسامه بن لادن سَره دملګرو دی وامریکا ته وسپاري
چې دوی یې محاکمه کړي، دولت اسلامی افغانِستان دامریکا څخه طلب وکړی چې پرجهانی

سطح دې امریکا ددې ثبوت پیش کړی نوموږ به غور په کښې وکړو. خوامریکایان
چې ددې د ثبوت څخه عاجزه سَوه. نودغرور او تکبر څخه یې کار واخستی چې موږ سَره
ثبوت سته هرومرو به اسامه بن لادن موږ ته پلاس راکوی طالبانو ددې
مطالبه رد کړه. نوباعِث سو چې امریکا وجنګ او حملې ته ځان اوفوجونه تیار کړه. چې
دااوس هم په حال کې د حرکت دي،

پوښتنه

آیا امریکایان به دا حمله وکړې اوکه نه!

جواب

العلم عند الله وهوعلام الغیوب لکن امریکایان که په بنه غور تاریخ دافغانستان
مطالعه کړی حمله به ونه کړی. ولې چې یوشاعِر وائی ؎

زرودمرغ سوی دانه فراز : چون دگرمرغ بیند اندربند : پندگیراز مصائب دیگران : تا نگیرند دیگران زتوپند :

غرض درویش اینست: چې امریکایان دې پند واخلی د دوو پیښو څخه د افغانستان یوه
پیښه خوداده دی حمله د روسانو وه چې پرافغانستان یې وکړه. او خپل ټول توان اوطاقت
اوفوج اوسَلاح یې په کار واچول خو بیا هم امریکایانو وسان وَلیدل چې ناکام سوه اود
افغانستان څخه پرو تلو مجبور سول او ولاړل.

بله پیښه دانګریزانو وه چې په طاقت ترامریکا یانو ډیر بالاوَه. او ددوی په سلطنت
کې لمر نه لویدی او په عین حال کې پرلویه وَچه د هند ددوی سامراجیت وو. چې یو
سرحد دافغانِستان سره یې چمن وو او بل سرحد یې تورخم وو، اول وار چې انګریزانو
پرافغانستان یرغل وکړی. خو په افغانستان یې فوجونه ننوتل اوتر کشکنخود
(میوند) پورې ولاړه. اود هغځا یه څخه افغانانو په زړو تورو او په لرګو دوی ته
شکست ورکړی. او ډیر فوجیان د دوی پر ځای یې مردار کړه بالاخیر مجبور یې افغانِستان
پرې ښو او مخ تورې وَوتل، خو کاله وروسته بیا خیال فاسِد دافغانستان د قبضې
کولو په دماغ کې پیدا سو حتیٰ چې پرسپین بولدك یې حمله وکړه چې ددوی فوجی
مشرو انګریزانو ته داوعده ورکړې وه چې په درې ساعتو کې ذقند هار نیسو. هغه وو
چې په سپین بولدك کې د (۱۰۰) کسو په شاوخوا کې عسکر دافغانِستان موجود وَه.

دړې ورځې د غوسلو عسکرو د دوی مقاومت وکړې او د بولدک بیخ کشتی باز انګریزانو فتح نه کړې په دې وخت کې امان الله خان باد شاه د افغانستان وو، هغه د عوه د استقلال وکړه. او انګریزان یې دې ته مجبور کړه چې د افغانستان استقلال رسمًا و پیژني بلکه ټوله نړۍ د افغانستان استقلال په رسمیت و پیژندی، تردی اوسه پورې،،

اوس نو امریکایان که د دی درو [۳] واقعو څخه پند د اخلی خو پرافغانستان دی د حملې فکر د سره و باسي. بیرته دې خپل وطن ته ولاړ سي، او که پند نه اخلي نو دوی دې هم ځانونه تجربه کړي چې دوی خپل بد حشر په سترګو وویني، دوی یعنې امریکایان وائي چې مونږ په نړۍ ټوله کښې دهشت ګردی ختمه وو. زه وایم چې اول لوی، دهشت ګرد په نړۍ کې تاسې یاست او تر تاسې وروسته لوی دهشت ګردان اسرائیل دی چې تاسې یې هم حمایت کوی نو که تاسې دهشت ګردی ختموی تر ټولو لمړی اسرائیل د مابین یوسې او د فلسطین مستقل حکومت په رسمیت و پیژنئ، مطلب او حاصل دا دی چې هر مملکت چې امریکا ته لاس پرنامه ولاړ وی هغه دهشت ګرد نه دی، او چې د امریکا چاپه بَرداری نه کوی هغه مملکت دهشت ګرد دی.

والله المستعان علی هذه المصائب الواردة علی المسلمین.

درولیش وائي چې دا خوخبری په طور د جُمل معترضه وو په مناسبت د اخیری تسبیحات التشریق ذکر سوی اوس بیرته و شرحې ته د نور الایضاح رجوع کوم، قال المصنف رح

خوږ خبر انسا خبره ده: چې زه فضل الحق حقانی چې د دی کتاب لیکونکی یم او د حضرت ایوبی د شاګردانو څخه یم. څه وخت چې

بیا دا کتاب ما ته د لیکلو لپاره راکړل سو، نو هغسې امریکا او اتحادیانو علیهم لعنة الله إلی یوم الدین، پر مظلوم افغانستان باندی حمله وکړه. او د دی جهانی او عالمی دهشت ګردی مرتکب سو، او دنیا وال ټوله که کافران دی او که ضعیف الایمانه مسلمانان دی تماشه بین وړه ناست دی او خپل سیلونه کوی چې د افغان مجاهد اولس سره څه کیږی. رب العلمین دې د دی مظلوم اولس ناصر او مددګار سی امین.

بَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوْفِ وَالْخُسُوْفِ وَالْاِفْزَاعِ

باب ثابت دی په بیان کې د لمانځه د کسوف د لمر او د خسوف د سپوږمۍ، او د لمانځه د بیرې د رولیش وائي: که څه هم اهل لغت کسوف او خسوف په یوه معنی بولي: وهو ذهاب الضوء من کل منهما ای الشمس والقمر کما قال الازهري والجوهري وابن الفارس، او په احادیثو مبارکه وو کې دواړه لفظه په هر یوه کې د لمر تور یدو او د سپوږمۍ د تور یدو لپاره مستعمل سوی دی. لکن په عرف کې فقه شریفه کسوف په لمر کې مستعملوی او خسوف په سپوږمۍ کې، او صاحب قاموس وائي چې خسوف ذهاب د نور د بعض د لمر او سپوږمۍ ته وائي. او کسوف په لمر کې مستعملیږي او ذهاب د ټوله نور دی که د لمر وی او که د سپوږمۍ.

پوهسه چې کسف مصدر متعدی دی باب یه ضَرَبَ یَضْرِبُ دی، کما یقال کَسَفَ اللهُ الشمسَ کسفًا. او کسوف مصدر لازمی دی باب یه جَلَسَ دی. یقال کسفت الشمس کسوفًا وعلی هذا فقس الخسوف، چونکه مقصود دلته بیان د حال د لمر او سپوږمۍ وو نو ځکه مصنف رح لفظ د کسوف او خسوف وَرایه، **فَائِدَه**: د کسوف لمونځ سنت دی په نیز د جمهورو علماوو په جماعت مخصوصه سره بیله اذانه او اقامته، او بعض فقهاء وائي چې واجب دی کذا فی فتح القدیر **فَائِدَه**: په بخاری شریف او نورو کتابو کې د حدیثو راځي چې د اهل جاهلیت دا عقیده وه چې لمر یا سپوږمۍ چې تورېږي په سبب د مرګ د یوه عظیم شخصیت په عالم کې او یا په سبب د لوی شخصیت د پیدا والی یعنی زیږیدو. لکن آنحضرت صلی الله علیه وسلم دا عقیده رد کړه. او دا یې وفرمائیله، ان الشمس والقمر لا ینکسفان لموت احدٍ ولا لحیوته لکنهما آیتان من آیات فاذا رأیتم ذالک فافزعوا الی الصلوٰة او کما قال، **پوهسه**: چې افزاع جمع د فزع ده معنا یې بیره ده لکه، زلزله، سخت طوفان، یا د ورځې لویه تاریکه، نو عطف د افزاع پر کسوف او خسوف عطف د عام دی پر خاص. ولې چې نور د شمس په ظلمت بدل سو او یا کامل نور

دسپوږمۍ په تاریکه بدلېږي طبعًا دخلکو په زړونو کې خوف او هراس پیدا کیږي: قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰیَاتِ اِلَّا تَخْوِیْفًا۔

فَـائِـدَه: هر وخت چې پر مسلمانانو یوه واقعه د بیرې راشي یعنې ماسوا دکسوف او خسوف نځه لمونځونه کول په انفرادي توګه مستحب دي. کذا قال الامام الطحطاويؒ

قال المصنفؒ

سُنَّ رَكْعَتَانِ كَهَيْئَةِ النَّفْلِ لِلْكُسُوْفِ بِاِمَامِ

سنت ګرځول سوي دي دوه رکعته (دابیان داقل مرتبې دي او که بالاکوي هم بنه دي) او افضل خلور رکعته دي او دا دوه رکعته به پر ډول د نفلو کوي یعنې په اوقات مکروهه کې به نه کوي. کذا في المراقي

الْجُمُعَةِ اَوْمَامُوْرِ السُّلْطَانِ بِلَا اَذَانٍ وَّلَا اِقَامَةٍ وَّلَا

دپاره دکسوف په امام پسې جمعې او یا هغه خوله چې د سلطان مامور وي. بېله اذانه او اقامته او بېله جهره

جَهْرٍ وَّلَا خُطْبَةٍ بَلْ يُنَادٰى اَلصَّلٰوةُ جَامِعَةٌ وَّسُنَّ

به قراءت سره لکن په نیز د امام اعظمؒ او یارانو وائي چې قراءت دې په زوره وائي، او نه به خطبه وائي په اتفاق

تَطْوِيْلُهُمَا وَتَطْوِيْلُ رُكُوْعِهِمَا وَسُجُوْدِهِمَا

سره زموږ دائمه وو بلکه داسې نعره دې وکړي «الصلوٰة جامعة» او سنت ګرځول سوي دي اوږدول د دغو دوو رکعتو په اوږدوالي د قراءت او د هغو دعاګانو چې خاص په نفلو کې راوړي، او همدارنګه اوږدول د رکوع او سجود د دغو دوو رکعتو» او بعض فقهاء وائي چې قراءت دې لنډ وائي تا چې دعاګانو فارغه سي.

درویش وائي، چې اصل مقصود خو اشتغال دوخت د کسوف دی په لمانځه او دعاګانو نو که لمونځ اوږد کې دعا به کوتاه کوي او کې لمونځ سپک کړي دعاګانې به ډېرې وکړي لکن احادیث نبویهؐ پر تطویل د قراءت دلالت کوي ولذا قال المصؒ: وسُنّ تطویلهما. لکن په اوسني زمانه کې چې داکثرو امامانو حتی عربي دعاوي نه دي زده، او که د امام هم زده

وي مقتدیان خو عوام دي هیڅ عربي دعا چې مناسب دکسوف د لمره وي هیڅ یې نه دي زده. نو دوی به صرف ساکت ولاړ وي. نو پر مذهب د بعض فقهاوو چې لمونځ کوتاه وکړي او باقي وخت په دعاګانو چې امام یې کوي د خلکو په ژبه او خلک به اٰمین پر کوي او رقت قلب به په ټولو کې موجود سي چې عمل وکړه سي ډېر به ښه وي. واللّٰه اعلم بالصواب

اِخْتِلَاف درویش وائي چې په لمانځه کې دکسوف لوی اختلاف دی. هغه دا چې امام مالکؒ او امام شافعيؒ او امام احمدؒ وائي چې دکسوف په لمانځه کې به هر رکعت کې دوې دوې رکوع کوي، او زموږ د حنیفیانو مذهب دا دی چې صلوٰة الکسوف لکه نور لمونځونه په هر رکعت کې دې یوه رکوع کوي. زموږ دلیل هغه حدیث دی چې ابوداؤد یې روایت کړی دی، چې په زمانه کې د علیه الصلوٰة والسلام چې د ځاینت په وخت کې لمر تندر ونیوی، نو علیه الصلوٰة والسلام دوه رکعت لمونځ په جماعت وخلکوته چې ښځې هم پکښې وې شروع کړی فَاَطَالَ فِيْهِمَا الْقِيَامَ» ثُمَّ انْصَرَفَ» یعنې لمونځ یې پای ته ورسوی په داسې حال کې لمر د تندر څخه صفا سوی وو، نو علیه الصلوٰة والسلام ورسته داسې فرمائیله. چې اِنَّمَا هٰذِهِ الْاٰيَاتُ یعنې دا کسوف وغیره» يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهَا عِبَادَهُ» بیروي خدای پر دې سره خپل بندګان» فَاِذَا رَاَيْتُمُوْهَا فَصَلُّوْا» نو چې تاسې ووینې دغه قدرت الهی ایات نو لمونځونه کوئ» كَاَحْدَثِ صَلٰوةٍ صَلَّيْتُمُوْهَا مِنَ الْمَكْتُوْبَةِ» لکه تر ټولو نوي لمونځ چې تاسې وکړی د فرضي لمونځو څخه یعنې د سهار لمونځ، نو د سهار په لمانځه کې خو یوه رکوع په رکعت کې ده نو په صلوٰة کسوف کې هم لازما یوه رکوع ده په رکعت کې،،

پُوهَسَه: چې کمال الدین بن الهمامؒ چې د حنیفیانو په مذهب کې د احادیث نبویهؐ وو په باره کې یو لوی مهارت لري په فتح القدیر کې ډېر حدیثونه په تائید کې د مذهب د حنیفیانو راوړي دي» چې د هغو ټولو ذکر کول د دې مختصري شرحې د شان نه خلاف دي. نو ده په اخیر کې داسې ویلي دي» فهذه الاحادیث منها الصحیح ومنها الحسن یعنې ضعیف حدیث په کښې نسته او په صحیح او حسن دواړو احتجاج روا دی.

په اتفاق د اهل حدیثو او د ائمه اربعه وو» وقد دارت على ثلثة امور» یعنی د غه احادیث پر دری شی باندې دائر دی یعنی دلالت کوي ع۱ دا چې علیه الصلوة والسلام د کسوف لمونځ دوه رکعت کړی دی ع۲ امر په دې سره چې صلوة کسوف داسی دی لکه نورې لمونځ یعنی لکه د سحار د غنی کوي ع۳ هغه بیان چې کسوف د ایا تو څخه د قدرت الهی دی» نو کمال واي چې د دې حدیث څخه صراحةً دا معلومه سوه چې صلوة کسوف دی په یوه یوه رکوع کوی، و روسته کمال زیاته کړیده: وَمَا ذَهَبْنَا اِلَيْهِ رَوَاهُ کبار الصحابة رض فالاخذ به اولی لکثرة رواته وصحة احادیثه وموافقة الاصول المعهودة لانا لم نجد فی شئ من الصلوات الا رکوعًا واحدًا في رکعة فیجب ان یکون صلوة الکسوف کذالک»

دَرُوِیش وائی:

چې بیا نو کمال په تفصیل جواب ورکړی دی د هغو مد شو چې پر تعدد د رکوع دلالت کوی» ان شئت التفصیل فارجع الیه» درویش وائی چې په اثبات کی د مذهب د احنافو او په جواب کی د مخالفینو فقیه ابوجعفر الطحاوی په شرح کی د معانی الاثار هم لوی تحقیق کړی دی» وان شئت فارجع الیه» او د غه رنګه ملا علی قاری په شرح کی د مشکوة او بدر الدین العینی په شرح کی د بخاری ډیر په زړه پوری او د قوانینو سره د محدثینو د بیان کړی دی»

پوښتنه

چې نو د صلوة جامعة د دی دپاره ده چې خلګ راغونډ سي، او تطویل د قرأت د علیه الصلوة والسلام په لمانځه کی د کسوف په قدر د سورة البقره وو، کمال چې د هغی مسئلی څخه چې د امام تطویل په قرائت سره مکروه دی» صَلوة الکسوف» څنګه مستثنی دی. قال ولو خففها جاز ولا یکون مخالفًا للسنة» درویش وائی چې دا قول د کمال زماد مخنی خبری تائید کوی» قال المصنف:

ثُمَّ يَدْعُو الْإِمَامُ جَالِسًا مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ إِنْ شَاءَ أَوْ قَائِمًا

او بیا دی امام په ناسته سره دعا وکړي او مخ به یې وقبلی ته وي، که ئې خوښه وي. او یا دی په ولاړه

مُسْتَقْبِلَ النَّاسِ وَهُوَ أَحْسَنُ

دعا وکړی لکن مخ دی د خلکو و خوا ته وی او دا ښه طریقه ده» قال شمس الائمة

الحلوانی او د احسنیت وجه یه دا ده ولې چې په اجتماعی نمانځوکی او دعا ګانو کی سنت هم د غه طریقه ده، او بل په داسی قسم کی د دعا په خلګو کی عجز او رقة القلب او حضور پیدا کیږي چې امام و وینې چې څرنګه په عجز او نیاز او ابتهال سره دعا کوي، قال المصنف:

وَالنَّاسُ يُؤَمِّنُونَ عَلَى دُعَائِهِ حَتَّى يَكْمُلَ انْجِلَاءُ الشَّمْسِ

او خلګ دی امین وائی پر دعا د امام او تر هغه دی دا دعا ته دوام ورکوی چې په مکمله توګه لمر د تندرې څخه خلاصیږی» قال المصنف:

وَإِنْ لَمْ يَحْضُرِ الْإِمَامُ صَلَّوْا فُرَادَى كَالْخُسُوفِ

او که امام جمعه مثلًا حاضر نه وو نو بیا دی خلګ یوازې لمونځونه وکړي لکه په خسوف القمر کی چې یوازې کوي، ولې چې سپوږمی څو واره په زمانه کی د علیه الصلوة والسلام تندرې نیولی ده او په هیڅ حدیث موږ ته نه ده رسیدلی چې علیه الصلوة والسلام دی د هغه دپاره خلګ جمع کړي وی او لمونځ دی په جماعت سره اداء کړی وی کذا فی المراقی» قال المصنف:

وَالظُّلْمَةِ الْهَائِلَةِ نَهَارًا وَالرِّيحِ الشَّدِيدَةِ وَالْفَزَعِ

او یا لویه بیرونکی تاریکه جوړه سی د ورځې او یا سخت او تند باد خلاف العادة پیدا سی یعنی که د ورځې وی او که د شپې وي. او یا بیره وی مثلًا د زلزلی له سببه یا د ډیرو غلو تنانو په سبب یا د پرله پسی تیز و برښنا وو له سببه الی غیر ذالک» یعنی په د غه وخت کی دی هم خلګ یوازې یوازې لمونځونه کوی. او په جماعت سره دی نه کوي،

فائده:

د ډیرو خلاف المعتاد بیرو لکه ډیر بارانونه، یا واوری هم خلګ لمونځونه یوازې یوازې کوی چې دا مصیبت خدای دفع کړي. او په عمومی امراض وبائیه وو کی دی هم خلګ لمونځونه کوی او دعا ګانی دی هم کوی په دفع کی د هغو مرضونو» ط»

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین.

په اتفاق د اهل حدیثو او د ائمه اربعهؒ وو، وقد دارت علیٰ ثلثة امور، یعنی د غه احادیث پر دری شی باندی دائر دی یعنی دلالت کوی ۱ دا چی علیه الصلوٰة والسلام د کسوف لمونځ دوه رکعت کړی دی ۲ امر په دی سره چی صلوٰة کسوف داسی دی لکه نردی لمونځ یعنی لکه د سحار د غسی کوی ۳ هغه بیان چی کسوف د ایا تو څخه د قدرت الهی دی.» نو کمالؒ وائی چی د دی حدیث څخه صراحةً دا معلومه سوه چی صلوٰة کسوف دی په یوه یوه رکوع کوی، ور وسته کمالؒ زیاته کړیده: وَمَا ذَهَبْنَا اِلَیْهِ رَوَاه کبار الصحابةؓ فالاخذ به اولیٰ لکثرة رواته وصحة احادیثه وموافقة الاصول المعهودة لانا لم نجد فی شئ من الصلوات الارکوعًا واحدًا فیجب ان یکون صلوٰة الکسوف کذالک،

دَرْوِیش وائی:

چی بیا نو کمالؒ په تفصیل جواب ورکړی دی د هغو حدیثو چی پر تعدد د رکوع دلالت کوی، ان شئت التفصیل فارجع الیه،» درویش وائی چی په اثبات کی د مذهب داحنافو او په جواب کی د مخالفینو فقیه ابوجعفر الطحاویؒ په شرح کی د معانی الاثار هم لوی تحقیق کړی دی،» وان شئت فارجع الیه، او د غه رنګه ملا علی قاریؒ په شرح کی د مشکوٰة او بدر الدین العینیؒ په شرح کی د بخاری دیر په زړه پوری او قوانینو سره د محدثینو د یر بیان کړی دی،

پوښته

چی نعره د صلوٰة جامعةً د دی د پاره ده چی خلک راغونډ سی، او تطویل د قرائت د علیه الصلوٰة والسلام په لمانځه کی د کسوف په قدر د سورة البقره وو، کمالؒ چی د هغی مسئلی څخه چی د امام تطویل په قرائت سره مکروه دی،» صَلوٰة الکسوف،» څنډی مستثنیٰ دی. قال ولو خففها جاز ولایکون مخالفًا للسنة،» درویش وائی چی دا قول د کمالؒ زما د معنی خبری تائید کوی،» قال المصنفؒ:

ثُمَّ یَدْعُوا الْاِمَامُ جَالِسًا مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ اِنْ شَاءَ اَوْقَائِمًا

او بیا دی امام په ناسته سره دعا وکړی او مخ به یې وقبلی ته وي، که ئی خوښه وی. او یا دی په ولاړی

مُسْتَقْبِلَ النَّاسِ وَهُوَ اَحْسَنُ

دعا وکړی لکن مخ دی د خلکو وخوا ته وی او دا ښه طریقه ده،» قال شمس الائمة

الحلوانیؒ او د احسنیت وجه یه داده ولی چی په اجتماعی نما څوکی او دعا گانو کی سنت هم دغه طریقه ده، او بل په داسی قسم کی د دعا په خلکو کی عجز او رقة القلب او حضور پیدا کیږی چی امام وویني چی څرنګه په عجز او نیان او ابتهال سره دعا کوی،» قال المصنفؒ:

وَالنَّاسُ یُؤَمِّنُوْنَ عَلیٰ دُعَائِهٖ حَتّٰی یَکْمُلَ اِنْجِلَاءُ الشَّمْسِ

او خلک دی امین وائی پر دعا د امام او تر هغه دی دا دعا ته دوام ورکوی چی په مکمله توګه لمر د تندری څخه خلاصیږی،» قال المصنفؒ:

وَاِنْ لَّمْ یَحْضُرِ الْاِمَامُ صَلُّوْا فُرَادٰی کَالْخُسُوْفِ

او که امام جمعه مثلًا حاضر نه وو نو بیا دی خلک یوازی لمنځونه وکړي لکه په خسوف القمر کی چی یوازی کوي، ولی چی سپوږمی خو وار په زمانه کی د علیه الصلوٰة والسلام تندری نیولی ده او په هیڅ حدیث مونږ تر نه ده رسیدلی چی علیه الصلوٰة والسلام دی د هغه د پاره خلک جمع کړي وی او لمونځ دی په جماعت سره اداء کړی وی کذا فی المراقی،» قال المصنفؒ:

وَالظُّلْمَةِ الْهَائِلَةِ نَهَارًا اَوِ الرِّیْحِ الشَّدِیْدَةِ وَالْفَزَعِ

او یا لویه بیرونکی تاریکه جوړه سی د ورځی او یا سخت او تند باد خلاف العادة پیدا سی یعنی که د ورځی وی او که د شپی وي. او یا بیره وی مثلًا د زلزلی له سببه یا د ډیرو غښتو تنا وو په سبب یا د پرله پسی تیزو بریښنا وو له سببه الیٰ غیر ذالک،» لیعنی په د غه وخت کی دی هم خلک یوازی یوازی لمونځونه کوی. او په جماعت سره دی نه کوي،

فَائِدَه: د ډیرو خلاف المعتاد بیرو لکه ډیر بارانونه، یا واوری هم خلک لمونځونه یوازی یوازی کوی چی دا مصیبت خدای دفع کړي. او په عمومی امراض وبا ئیه ووکی دی هم خلک لمونځونه کوی او دعا گانی دی هم کوی په دفع کی د هغو مرضونو» ط»

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

احمقوں کی کمی نہیں غالب ؛ ایک ڈھونڈو ہزار ملتے ہیں۔ مرزا غالب الشاعر المشهور.
نوجوانوں کو میری آہ سحر دے ؛ پھر ان شاہین بچوں کو بال پر دے ؛ علامه اقبال الشاعر المشهور.
سبق پڑھ پھر صداقت کا، عدالت کا، شجاعت کا ؛ لیا جائے گا تجھ سے کام دنیا کی امامت کا ؛ .....

بَابُ الإِسْتِسْقَاءِ

پوهسه: چې ستیا اوبوته وائی. او سین او تاء دپاره دَ طلب دی. لکه په علم صرف کی چې معلوم خبره ده. نو د استسقاء معنیٰ لغوی طلب دی داوبو مطلقًا که څوک یو سړی وَ بل ته ووائی چې ماته اوبه راکړه. او په شرع شریفه کی طلب دی د باران دخدای پاك جل سلطانه څخه پر خاصه طریقه باندی چې بیان بی راشی، یعنی په استغفار او حمد او ثناء سره د پروردګار اوپه ډیر تضرع او تذلل سره د رب جل شانه څخه طلب د باران نافع کول دی: قَالَ المصنفؒ چې استسقاء مشروع ده په قرآن مبارك سره، او په سنت نبویؐ سره او په اجماع امت سره، اما الكتاب، فهوما حكىٰ ان نوح عليه الصلوٰة وَالسلام لما دعىٰ قومه مدةً مديدةً الى الايمان وترك الشرك فلم يؤمنوا به الا نذر قليل، حَبَسَ الله عنهم القطر، نو خدائ د دوی څخه بارانونه بند کړه او بنځی ئی د اولادو څخه وچی سوی څلویښت کاله، نو نوح عليه السلام ودوی ته ووئیل چې که تاسی ایمان راوړی "يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا، وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ الآية"، او داشرعی مسئله ده چې خدای پاك چې د ده مخه ادیانو په قرآن کی یو بیان وکړی او موږ منع ونکړی هغه زموږ دپاره هم شرعه ده، كما فى كتب اصول الفقه، واما الحديث: فقد رُوِى عنه صلى الله عليه وَسَلم انه استسقىٰ يوم الجمعة حين الخطبة على المنبر النبوى حين شكىٰ اليه الاعرابى بقحوط المطر وقصته مشهورة وفى كتب الصحاح مذكورة وهذا كان بعد النبوة، وقد استسقىٰ ابوطالب بطلب قريش به صلى الله

عليه وسلم حين كان صلى الله عليه وسلم غلامًا بمكة اخرج ابن عساكرؒ هذه القصة بتفصيل ولذالك يقول ابوطالب فى شانه؛ ـ
وابيض يستسقىٰ الغمام بوجهه ؛ ثمال اليتامىٰ عصمة للارامل ؛
واما الاجماع فقد اجمعت الامة سلفًا وخلفًا على الاستسقاء من غير نكير، قال الامام الطحطاويؒ: چې استسقاء سنت ده په نیزد حاجت. یو خو په داسی ځای کی چې خلک یه ولې لري او نه رود، او نه ځاهان چې دوی خپل ځانونه او مواشی په اوبه کی لکه لوی لوی ویالی او رودونه او ډنډونه، اویا ریګونه چې مالداران هلته استوګنه کوی. او بل داچې ځایونه چې رودونه او ولې او ځاهان خووی لکن دَخلګو د کښتو یا باغو وغیره کفایت نه کوی، او بیله ضرورت نه خلګ استسقاء نه کوی: قهستانی، قَالَ المُصَنِفؒ:

استسقاء لره لمونځ سُته یعنی نفلی بیله جماعته،

صَلٰوةً مِّنْ غَيْرِ جَمَاعَةٍ

پوهسه: چې نفس لمونځ مراقی والاوائی چې روا دی بیله کراهته او سُنت نه دی، ولی چې په حدیث کی د بخاری وغیره داسی راغلی دی چې آنحضرت صلى الله عليه وَسَلم ته چې شکایت د قحط المطر وسو رفع يَدَيه يَسْتَسْقىٰ او د لمانځه ذکر په کښی نسته، او بل داچې عمر رضى الله تعالىٰ عنه چې دَخلګو سره په استسقا کول لمونځ یه کړی دی. او عمر رضى الله تعالىٰ عنه اشد الناس اتباعًا لسنة رسول الله صلى الله عليه وَسَلم بعد ابوبكرؓ الصديق رضى الله تعالىٰ عنه، او بل داچې آنحضرت صلى الله عليه وسَلم په ټولو صحابهؓ سره استسقاء کړی نو که لمونځ په کښی نوده لمانځه ذکر به ئی په ډیر شهرت سره په روایا توکی دحدیثو راغلی وای، لکن مَراقی او امام طحطاویؒ وائی چې په یوه روایت شاذه کی روایت یه عبد الله بن عباسؓ او عبد الله بن زید کړی دی د آنحضرت صلى الله عليه وَسَلم دَ لمانځه کولو په استسقاء راغلی دی، قَالَ الطحطاویؒ وهوحديث شاذ لا يؤخذ به، نو دغه سبب موږ د جواز د لمانځه وایو، او ددی سَببه یه ابوحنيفهؒ لمونځ د استسقاء سنت نه بولی، لکن امام اعظمؒ داسی هرګز نه دی وَئیلی چې په استسقاء کی لمونځ کول بدعت دی لکه بعض دښمنان چې هغه ستر امامؒ ته دا نسبت کوی، او امام ابویوسفؒ او

امام محمدؒ وائی چی امام دی دوه رکعته نفل لمونځ وخلګوته ورکړی اوجهر بالقرائة دی هم وکړی لکه داختر لمونځ یعنی په جهر کی لکن اذان اواقامت به نه کوی، لکن امام محمدؒ وائی چی وروسته تر لمانځه دی امام دوی خطبی ووائی اوپه مابین کی دی کښینی، اوابویوسفؒ وائی چی یوه خطبه دی ووائی. اوورو سته دی شروع په دعا ګانو سره وکړی. دلیل دیاره ئی هغه حدیث دی چی د ابن عباسؓ څخه مروی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم یووخت په خلګو سره دوه رکعته لمونځ په جهر سره وکړی.

پوښتنه که اوس امام په جماعت سره لمونځ وخلګوته ورکړی. آیا په نیزد امام اعظمؒ د غه کار مکروه دی اوکه څرنګه؟ **جواب**: دحاکم شهیدؒ چی د کافی څخه په نقل کړی دی داسی معلومیږی چی مکروه دی، اوشیخ الاسلامؒ وائی که جماعت سُنت نه دی په نیزد امام اعظمؒ لکن روادی بیله کراهته، قال الامام الطحطاویؒ وعلیه التعویل، قال المصنفؒ:

وَلَهُ اِسْتِغْفَارٌ وَيُسْتَحَبُّ الْخُرُوْجُ لَهُ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ

اود استسقاء دپاره طلب د بخښنی دی خلګ کوی رخدای پاک څخه لقوله تعالی: فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ اِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا الآیة

اومستحب دی وتل دپاره د استسقاء دری ورځی لکن پرله پسی اوتر دری ورځی زیات منقول نه دی، قال المصنفؒ:

مُشَاةً فِيْ ثِيَابٍ خَلِقَةٍ غَسِيْلَةٍ اَوْ مُرَقَّعَةٍ

پیاده به وزی په داسی کالو کی چی زاړه وی او پیوندلی وی، یعنی پینه کړی نه وی، اویا پینه کړی وی، مراقی وائی چی پینه کړی کالی اولی دی. چی خضوع اوعجزته نزدی دی، قال المصنفؒ

مُتَذَلِّلِيْنَ مُتَوَاضِعِيْنَ خَاشِعِيْنَ لِلّٰهِ تَعَالٰى نَاكِسِيْنَ رُؤُسَهُمْ

یوه سره چی تذلل اوتواضع اوخشوع الفاظ دی چی معنایه نزدی ده. صرف فرق په دا دی چی خشوع د زړه صفت دی. اوتذلل اوتواضع د اعضاء ظاهرو صفت دی. ترجمه: اوکښته به کړوونکی وی سرونه خپل، په خلاصه کی وائی چی ښه صورت د استسقاء دا دی، چی هروخت چی

ولی، اوروړوه دوه ورځی وچی سی. اویا اوبه ترکفایت د څڅکو اود باغو مثلاً کمی سی، اوباران ئی تر خپل وخت وځنډیږی، نوامیر د ولایت دی خلګ امر کړی چی دری ورځی دی روژی ونیسی او حسب الطاقت دی نفلونه کوی، اوکی یو پر بل د نیائی ظلم کړی وی ... کړی. اوکه نور ظلم به کړی وی د هغه دی عفوه وغواړی د یو بل څخه، اوپر نورو ښځو ئی نهونودی خدای ته توبه وکاږی، اوڅلرم ورځ په فوق الذکر شرطو سره وصحراته ووزی، اوکه چیرې باران ئی په وخت کی. تر څلورمی ورځی د مخه شروع سوه. نو دپاره د شکر دی صحراء ته ولاړ سی اونوری دعاګانی دی وکړی.

وَاقِعَه

تردی اوسنی یعنی ۱۴۲۲ھ تی دیرش کاله تخمیناً د مخه په قندهار کی دباران قحطی جوړه سوه نووالی د قندهار امروکړی چی خلګ دی صبا واستسقاء ته اماده سی، چی څا بنت سونو دروېش څان او خپل طالبان پرشرائطو مذکوره وو برابر کړه، اوو عیدګاه ته چی هوری د استسقا ځای ځا کل سوی وو روان سوو، هلته چی ورغلو تیز رفتاره موټران د تجارانو ولاړ دی که ګورم فلانی مولوی صاحب دیو تجار سره سپور، عینکی پر سترګو ایښی دی او دیر زیبا کالی اوچوغه ئی هم فوق العادة اغوستی ده راورسیدی.

قصه مختصره تول ملایان صاحبان په ورته شان اوشوکت سره د ښاخته ګانو په تیز رفتاره موټرانو کی راغله. اولوی خطیب د قندهار تر ټولو په لوی شان اوشوکت سره راورسیدی، دروېش خپلو ملګرو ته وویل چی خوند د استسقاء نسته، ولی چی دعاوی به هم دغه جاه اوجلال والا ملایان کوی، نوګمان نه کوم چی قبولی به سی، او داغسی هم پیښه سوه. اواستسقاء هم دغه یوه ورځ وسوه وبس، اوکال هم هغسی وچ ووه، قال المصنفؒ

مُقَدِّمِيْنَ الصَّدَقَةَ كُلَّ يَوْمٍ قَبْلَ خُرُوْجِهِمْ

اوخیرات به ورکوی مسلمانان هره ورځ تر وتو د مخه لان الصدقة ترد البلاء

قال المصنف **وَيُستَحَبُّ اِخرَاجُ الدَّوَابِ وَالشُّيُوخِ الكِبَارِ وَالاَطفَالِ**

او بنه کار دی چې خلګ دی باسی ځای ته د استسقاء خپل چارپایان، غواوی، بوزی، میږی سره د اولادو دوی. او دغه رنګه دی باسی سپین ږیری خلګ چې کلان ساله وی، او دغه رنګه دی وباسی کچنیان که څه هم ډیر کم عمره وی، اما الصدقة «فهی تطفئ غضب الرب جل وعلا وتجلب رحمته التی من جملته الامطار» قال فی المراقی چې مسلمانانو ته بنائی چې تجدید د توبې دی هم وکړی» او قوله مسلمانانو ته دی طلب د بخښنې هم وکړی، او داهم مستحبه ده چې بهائم او اولاد د دوی دے هم وړسره جلا کړی، تا چې سره د ژړا د خلګو، او د حیواناتو او د اولادو د دوی، او د اولادو پر مندو باندی پوره ته سهی، شاید رحمت الهی هم په جوش راسی، او د رحمت باران نو ووریږی» سه تا نګرید ابر کی خند چمن ؛ تا نګرید طفل کی جوشد لبن، هر کجا اشک روان رحمت شود ؛ هر کجا آب روان سبزه شود ؛ واما اخراج الشیوخ والاطفال، فلما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: هل تُرزَقُونَ وَ تُنصَرُونَ اِلَّا بِضُعَفَائِكُم» بخاری، وفی حدیث اٰخر، لولا شباب خشع، وبهائم رتع، وشیوخ رکع، واطفال رضع، لصب علیکم العذاب صبا» مراقی: قال المصنف:

وَفِي مَكَّةَ وَبَيتِ المُقَدَّسِ فَفِي المَسجِدِ الحَرَامِ وَالمَسجِدِ الاَقصَى

یعنی خروج وصحراته په غیر کی د دغو ښار وغواړی، او په مکه مکرمه کی او په بیت المقدس کی نو

يَجتَمِعُونَ وَيَنبَغِي ذَالِكَ لِاَهلِ مَدِينَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم

د استسقاء د پاره دی خلګ جمع سی په مسجد حرام کی د مکی مکرمی او په بیت المقدس کی دی په مسجد اقصیٰ کی سره غونډ سی، او مراسم د استسقاء دی پر ځای کړی، او دغه رنګه بنائی واهل ته د مدینې منورې چې په مسجد نبوی کی دی مراسم د استسقاء پر ځای کړی،» **فائده**: په دی دره و مسجدو کی دی بهائم نه راولی، وجه یه دا ده چې

سلف او خلف تو اه مراسم د استسقاء په حرم مکی او مسجد اقصیٰ کی پر ځای کوله، او بل دا چې ځایونه شرافت په دربار کی د رب العزت لری، او شرف لره د مکان لویه برخه سته په نزول کی د رحمت الهی: واما مدینه الرسول صلی الله علیه وسلم فلاریب فی نزول الرحمة فی تلک البقعة المبارکة «وَمَا اَرسَلنٰكَ اِلَّا رَحمَةً لِّلعٰلَمِينَ» وهو صلی الله علیه وسلم هو الوسیلة لامته فی الدارین وهو الشفیع المشفع، نو خلګ دی د ذات انور د علیه الصلوٰة والسلام وسیله وګرځوی په دفع کی د شدت د قحط، او دغه رنګه وسیله دی وګرځوی ذات انور د ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه او ذات انور د عمر رضی الله تعالیٰ عنه.

مسئله: درویش وړاندی وویل چې دواب دی د غوډو ځایو ته نه راولی مراد دا وو چې داخل ته د غوډو ځایو دی نه راولی، مګر مراقی وائی چې دواب خو دی راولی لکن خارج ابواب المساجد المذکورة دی ودروی.. قال المصنف:

وَيَقُومُ الاِمَامُ مُستَقبِلَ القِبلَةِ رَافِعًا يَدَيهِ وَالنَّاسُ قُعُودٌ

او ودی دریږی امام مخامخ وقبلی ته لاسونه دی پورته کړی وی، او خلګ دی ناست وی

مُستَقبِلِينَ القِبلَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلٰى دُعَائِهِ

مخامخ وقبلی ته او خلګ دی امین وائی پر دعا د امام، **فائده**: په حدیث شریف کی چې روایت یې عمر رض کړی دی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې استسقاء کوله په مدینه منوره» لاسونه یې دونه پورته کړه چې سپین والی د تخرګو یې معلومیدی.

اوولاړه وو قبلی ته مخامخ **پوښته**: چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دونه بلیغ پورته کول د لاسو چې تخرګونه یې معلومیدل په اجتماعی دعا کی بیله استسقاء بل ځای نه ده ثابته داسی نه ده چې علیه الصلوٰة والسلام اجتماعی دعا بیله استسقاء بل وخت نه ده کړی،»

قَالَ المصنفؒ **يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُّغِيْثًا هَنِيْئًا مَّرِيْئًا**

او امام به په دعا کی وائی ای خدایه موږ او به کړی په باران سره. خلاصوونکی د سختی نه چی نماء ورکړی حیوانا تو ته بیله ضرره، چی عاقبت یه ښه وي، قَالَ المصنفؒ :

مَرِيْعًا غَدَقًا مُّجَلِّلًا سَحًّا طَبَقًا دَائِمًا وَمَا أَشْبَهَهُ

چی اوړونکی د زیادت وی په کښتو کی، چی ډیری اوبه په کښی وی، چی پټوونکی د افق وی یعنی عام وی په ټولو اطرافو، چی پر مځکه په څکان په زوره لوېږی، چی مځکه یه ګرده نیولی وی، او دوام داره وي یعنی په قدره د حاجت د کار یږو، روږدو، وَلو، او مځکی، او یا مشابه به د دغو الفاظو سره

سِرًّا اَوْ جَهْرًا وَلَيْسَ فِيْهِ قَلْبُ الرِّدَاءِ که دغه دعاء کرار کوی او که په زوره لکن جهر یه افضل دی تا چی ټول خلک یه هم واوري، او نشته په استسقاء کی اړول د پټو پر راسته او چپه اوږه، په نیزد امام اعظمؒ او ابو یوسفؒ: ولی چی امیر المؤمنین عمرؓ او نورو صحابهؓ وو چی استسقاء کړیده قلب الرداء په کښی نه دی راغلی، **پــوه ســه** : چه امام اعظمؒ د هغه تحویل الرداء نه منکر دی منکر چی په احادیثو مبارکه وو کی راغلی ده لکه د ده مبارک حاسدان چی وائی بلکه امام اعظمؒ وائی تحویل الرداء سنت نه دی، والا لفعله الصحابة الکرامؓ التابعین لسنته شبرًا بشبر بلکه تحویل الرداء آنحضرت صَلَّی اللہ علیه وَسَلم تبرکًا کړیده. او س هم که، څوک تبرکًا کوی روا ده، قَالَ المصنفؒ :

وَلَا يَحْضُرُهُ ذِمِّيٌّ او نه دی حاضریږی واستسقاء ته اهل ذمه، هر نوع کافر چی وی، لنهی عمرؓ عنه، م، لانهم مبغوضون له تعالیٰ، **فَـائِـدَة** : د علیه الصلوٰة والسلام نه ثابته دعا په استسقاء کی په دغو کلماتو سره وه. اَللّٰهُمَّ غَيْثًا مُغِيْثًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلًا غَيْرَ اٰجِلٍ، اَللّٰهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَبَهَائِمَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَاَحْيِیْ بَلَدَكَ الميت، اَللّٰهم انكَ اَنْتَ اللهُ لا

الاَنْتَ الغنی وَنَحْنُ الفقراء اَنْزِلْ عَلَيْنَا الغَيْث، وَاجْعَلْ مَا اَنْزَلْتَ قوةً وَبلاغًا اِلیٰ حِيْن، او که چیری باران ډیر سو او خلک د و دا نیو پر نه ږیدو وَبیریدل لکه په زمانه کی د علیه الصلوٰة وَالسَّلام هم په خطبه کی دعا وکړه. او دا سی پیښه وه. چی یو اعرابی د جمعی په ورځ چی علیه الصلوٰة پر خطبه ولاړ وو سوال د باران ئی وکړی، او علیه الصلوٰة وَالسلام هم په خطبه کی دعا وکړه: اللهم اسْقنا اللهم اسقِنا دری واره ،، راوی د حدیث وائی وریځ راپوره ته سول لکه سپر او باد پیدا سو. حالانکه مخکی تر دی آسمان بیخی صاف وو یعنی هیڅ وریځ نه معلومیده نا ببره داوریځ پیدا سوه. په آسمان کی سره تنکه سوه. او باران شروع سُو.

آنحضرت صلی اللہ علیه وَسَلم پر هغه خطبه ولاړ وو چی بام د ده مبارک پر برابر سری سو او اوبه د ده مبارک په ږیره کی توی سوي، او دا باران تر راتلونکی جمعه پوری وَوَریدی او خلک ډیر په تنګ سوه نو هغه صحرائی یا بل په داوروسته جمعه په وخت کی د خطبی د علیه الصلوٰة وَالسَّلام یه عرض وکی چی د ډیر باران نه هُدِمَت البُیوت ،، آه ،

نو ته خدای ته خواست وکه چی دا باران د موږ نه بند کړی، نو علیه الصلوٰة وَالسلام داسی دعاء وکړه، اَللهم حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا اَللّٰهُمَّ عَلَی الاٰکَام وَالظراب وَ بُطُوْنِ الْاَوْدِيَة وَمَنَابِتِ الشجر، راوی د حدیث وائی چی عَلیه الصلوٰة والسلام په وخت کی د ویلو د حوالینا دی په دواړو لاسو به اشاره کوی د شاه وَخوا ته. او وَ، یخ به هم د ده د اشارو سره هر طرف ته روانه وه، حتی چی موږ بلو نځ وکړی د جمعی ، او وَ تلو اسمان بالکل صاف وو، او بیو څا څکی باران نه وو هکذا فی البخاری وغیره من کتب الصحاح ،، وَمَا ذکرته مختصر منه ، وَنِعْم ما قیل فی مدحه صلی اللہ علیه وَسلم: لا یمکن الثناء کما کان حقه ؛ بعد از خدا بزرګ توئی قصه مختصر ؛ وقیل ؛ افاقها گردیده ام بسیار خوبان دیده ام اما تو چیزی دیگری ؛

باب صلوٰة الخوف

باب دی په بیان کې د احکامو دَ لمانځه چې په وخت کې د بیرې د دښمن دَ حملې یعنې دَکافرانو چې پر مسلمانانو نچۍ کوي، **پوښتنه**: چې دَ خوف لمونځ پر څو کیفیت په احادیثو مبارکو وو کې راغلی دي: چې ټوله کیفیات یه جائز دي په اتفاق دامامانو دَ څلورو مذهبونو صرف اختلاف د دوی په دې کې دی چې اولیٰ یه کوم کیفیت دی، لکن اول مشروعیت دصلوٰة خوف خو په جنګونو کې د کفارو سوی دی لکن صلوٰة خوف اوس په نورو اسبابو سره هم روادی چې بیان به ئې راسي اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالیٰ،

فائده اضافت د صلوٰة وخوف ته اضافت ده وشرط ته یعنې دَ دغه لمانځه پر هغه کیفیت چې را به سي. شرط یه خوف دی یعنی که خوف نه وي نو پر دغه کیفیت لمونځ نه دی روا،،

دَ فائدی خبره په کنز او هدایه کې وائي چې شرط دَ صحت د صلوٰة الخوف واقعي بیره ده د دښمنه څخه او سخت والی دی د بیرې د حملې، یعنې نفس حضور د دښمن یا قرب د ده د دښمن کافي نه دی، لکن امام طحطاوی وائي چې دا قول د بعض دی یعنی د تحقیق خلاف دی، او عام فقهاء پر دې دی مذهب دی چې نفس حضور د دښمن کېښه هم مسلمانانو نه څندې بیریږي کافي دی په صحت کې د صلوٰة الخوف، ولې چې معتبر په رخصات شرعیه وو کې وجود د سَبب ظاهر دی، نو حضور د دښمن سَبب ظاهر ی د خوف نو په ځای کې ۰ واقعي خوف د ریږي، لکه چې معتبر په اباحت دخوړلو د روژې مشقت دی . لکن چونکه سفر سبب ظاهر دی دَ مشقت نو سفر په ځای کې د مشقت وا[illegible] ر د رول شو حتیٰ چې نفس مسافرته د روژی خوړلو روادی کما تقرر [illegible] معتبرات کتب الفقه، بلکه په تحفه او عنایه کې وائي چې نفس قرب العدو هم سبب د صحت د صلوٰة الخوف،

قَالَ المصنف هِيَ جَائِزَةٌ بِحُضُورِ عَدُوٍّ وَبِخَوْفِ غَرَقٍ اَوْ حَرَقٍ

او لمونځ روادی په سبب د حضور د دښمن، د عبارت څخه د مصنف دا سی معلومیږی چې حضور د دښمن شرط دی نفس قرب کافي نه دی. او دا هم معلومه سوه چې حقیقي بیره نه ده شرط، او دغه رنګه روادی صلوٰة خوف په سبب د بیرې د غرق والی د کښتی او دغه رنګه روادی صلاة خوف که بیره د سَونګ داور وه، یعنی که بعض نفرو داور ځ نیوی وَنَه کې او ټوله پر لمانځه ودریږي او ر به انتشار پید اکړي او بعض متاع او شیان به وسوځي، قَالَ المصنف:

وَاِذَا تَنَازَعَ الْقَوْمُ فِي الصَّلوٰةِ خَلْفَ اِمَامٍ وَّاحِدٍ فَيَجْعَلُهُمْ طَائِفَتَيْنِ کرچیری د خلګو په دې کښې اختلاف سو چې په یوه امام پسې به اقتداء کوي یعنی دوه امامه به نه وي. نو دی امام واحد خلګ دوی ډلې وګرځوی،

پوښتنه: چې دوی ډلې که سره برابری وی په عدد کې. او یوه ډله تر بلی ډلې ډیروی په حساب کې دواړی لاری روادی، ولې چې لفظ د طائفة عام دی، حتیٰ چې یوه سړی ته هم وَیَل کیږی. حتیٰ که مسلمانان درې کسه وَه او د دښمن څخه بیریده یو دی امام سره او بل دی پسی ودریږی. او دریم دی پیره کوی، چې امام یو رکعت وکړي مثلاً بیا دی پیره دار راسي هغه دی پسی ودریږی او هغه دی یعنی دمخ سړی دی پیره کوی، قَالَ المصنف:

وَاحِدَةً بِاِزَاءِ الْعَدُوِّ وَيُصَلِّي بِالْاُخْرىٰ رَكْعَةً مِنَ الثُّنَائِيَّةِ

او ودی دَرَه وی یوه ډله برابره ده د دښمن وغیره د پاره د پیرې او امام دی وګذاری به، هغه بله ډله سره یو رکعت د دوه رکعتي لمانځه څخه خواه اصلاً دوه رکعتي لمونځ وی لکه د سحار لمونځ، او یا په سَبب د منفرد دوه رکعته د راغی وي،

قال المصنفؒ **وَرَكْعَتَيْنِ مِنَ الرُّبَاعِيِّ اَوِ الْمَغْرِبِ** اودوه رکعتۀ دی امام به اول ډله سره ادا کی که لمونځ څلور رکعته وو، او یا د ماښام لمونځ وو، د ماښام د دوو رکعتو په اوله ډله سره" دلیل دا دی چې د ماښام لمونځ خو نه نیمې کیږی نو ځکه دبوی ډلی دا به دوه رکعت وی، او اول ډله اولی په دوه رکعته سره لتقدمها"، قال المصنفؒ

وَتَمْضِي اِلَى الْعَدُوِّ مُشَاةً او ولاړه دی دغه طائفه چې د امام سره ئې لمونځ وکړ د دښمن وطرفته پیاده یعنی هغه اوله ډله،

مسئله: که چیری دوی سپاره سی او یا د صف ونځ خواته ولاړ سی لمونځ به باطل سو،

قال المصنفؒ **وَجَاءَتْ تِلْكَ فَصَلَّى بِهِمْ مَا بَقِيَ وَسَلَّمَ وَحْدَهُ**

او را دی سی هغه ډله چې په پیره کی وه یعنی په امام پسی دی نیت وکړی نو امام دی دوی ته ما بقی من الصلوة ورکړی، او امام دی یوائې سلام وګرځوی ولی چې د ده لمونځ خو پوره سو،

قال المصنفؒ **فَذَهَبُوا اِلَى الْعَدُوِّ ثُمَّ جَاءَتِ الْاُولٰى وَاَتَمُّوْا بِلَا قِرَاءَةٍ**

وَسَلَّمُوْا وَمَضَوْا او بیا دی دا دوهمه ډله ولاړه سی وخته د دښمن، او هغه اوله طائفه دی راسی یعنی هغه اول ځای ته دی راځی او کی خوښه وه هوری دی خپل پاته لمونځ پوره کړی، او بیله قرائت وی ئې لو ځکه ولی اوله ډله خو لاحق دی او لاحق خلف الامام دی حکماً او بسلام دی وګرځوی چې د دوی لمونځ هم پوره سو، او بیا دی دا ډله ولاړه سی د دښمن وخواته د پیرې ساره، قال المصنفؒ :

ثُمَّ جَاءَتِ الْاُخْرٰى اِنْ شَاؤُوْا وَصَلَّوْا مَا بَقِيَ بِقِرَاءَةٍ

او بیا دی راسی هغه بله ډله چې اوله ډله وه کی خوښه وه، یعنی اول ځای ته، او کی هوری لمونځ کاوه د دوی خوښه ده، او دا ډله دی پوره هغه پاته لمونځ په قرائت سره. ولی چې دوی خو

مسبوق دی او پر مسبوق قرائت لازم دی"

تنبیه مراقی والئ چې په صلوة الخوف کی ډیر روایتونه راغلی دی. او اصح

فائده روایتونه په شپاړس دی او علیه الصلوة والسلام ۲۴ واره صلوة خوف کړی دی، لکن امام طحطاویؒ د زاد المیعاد څخه نقل کړی دی "چې اصول د دغو حدیثو او کیفیات د صلوة خوف ۶ دی او دغه کسان چې د ډیر والی د کیفیاتو شوق لری هر وخت چې اختلاف د روات و د حدیث وینی هغه بل کیفیت د صلاة خوف ګرځوی او هغسی نه ده بلکه دا صرف اختلاف د روات او بیا نور دی و بس، او ابن حجرؒ په فتح الباری کی وائی هذا هو المعتمد" او په درر کی وائی چې صلاة خوف په صحیح روایتو کی په څلور ځایه کی ثابت دی،

غزوة ذات الرقاع، غزوة بطن نخل، غزوة عسفان، غزوة ذی قرد،

درویش وائی: چې والله اعلم مصنفؒ د کومه ځایه څخه صحیح روایات ۱۶ بولی او سره د دی چې زاد المعاد ئې ۶ بولی. او دغه رنګه مصنفؒ ۲۴ واره صلوة خوف د علیه الصلوة والسلام څخه نقل کړی دی، او صاحب الدرر صرف ۴ واره صلوة خوف د علیه الصلوة نقل کړی دی، او دا دی دوه عددو. یعنی ۱۶ = او شپږ او ۲۴ د څلور سره ډیر فرق دی نو باید د دی خبرو معلومات د کتابو څخه د حدیثو، او د شروحو څخه د حدیث د کتابو تر لاسه سی، لکن دا مختصر شرحه د دی تحقیق ځای نه دی، او مراقی وائی چې دا ټول کیفیات روادی، والاولی والاقرب من ظاهر القرآن هو الوجه الذی ذکرناه یعنی فی المتن"

مسئله: که امام په لمانځه کی د خوف سهوه سو سجده سهوه به کوی، دی او مقتدیان ټوله، ولی چې احادیث د سهوی عام دی.

مسئله صلوة خوف غلو او باغیانو لره نسته، ولی چې دوی اعداء الله دی پر دی سفر او صلاة خوف د احیاء الله د پاره دی. قال المصنفؒ :

اِنِ اشْتَدَّ الْخَوْفُ صَلَّوْا رُكْبَانًا فُرَادٰى بِالْاِيْمَاءِ اِلٰى اَيِّ جِهَةٍ

قَدَرُوْا او که سخته سوه بیره د دښمن د خوا څخه یعنی د دښمن د امهلت مسلمانانو ته نه

ورکاوه چې دوی د دا بوځغ یا په اوس وخت کې د موټرانو ځخه کېښته سي او صلوة خوف پر کیفیت مذکوره وکړی بلکه جنګ یه شروع کړی نو پـه داسی صورت کې دی مسلمانان د سپر تیا سره لمونځ کوی. لکن یوازی یوازی او هغه هم پـه اشاره سره وهر طرفته چې قدرت یه وي، یعنی استقبال القبلة شرط نه دی، ولی چې د مسلمانانو دپاره دا بیخي لوی عذر دی،،

تنبیه: داد لمانځه شان او عظمت او قوی فرضیت دی. او بخپل وخت کې دکولو نو ددغه بیان ځخه بايد سړی پوه سي، لعینی چې پـه دغسی سخت حالت کې نه لمونځ ساقط سُو. اوبنه د تا خیراجازه ومسلمانانو ته ور کړه سوه، فَیَا اَسَفی عَلی حال بعض المسلمین حیث یکونون سالمین ومع ذالک لا یصلون، لا فرادی ولا با الجماعَة وَلَا یُبَالون بذالك ولا یخافون غضب الجبّار جل سلطانه» اللهم اغفرًا و نصرًا وحبًا وعافیةً،،

مسئله: په تبیین او مجمع الانهر کې وائی چې سپور لمونځ کول پـه صحرا کې روادی او په بنارکی نه دی روا. ولی چې نفل په بنارکی راکبًا نه دی روا نو فرض پـه طریق اولی نه دی روا وان کان لضرورة» انتهى، دَرویش وائی چې نفل خو اختیاري لمونځ دی نو پـر بنار کی راکبًا څه ضرورت سته. که نفل پـه زړه غواړي خو کښته دی سي کم مشکل به کښنته کیدو کی نسته، او فرض لمونځ خو لازم دی او پـه وخت مقید دی» اِنَّ الصَّلٰوةَ کَانَتْ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ کِتٰبًا مَّوْقُوْتًا» نو خدای ناکرده که فوجونه د کفارو پـه بنار ور ننوزی او مجاهدین یـه وجنګ ته پـه وخت کی د لمانځه مجبوره سی، نو بـه ولی راکبًا ودوی ته لمونځ نه وی روا» نو دا مسئله تجدید نظر غواړی والله اعلم» قَالَ المصنفُ

وَلَمْ تَجُزْ بِلَا حُضُوْرِ عَدُوٍّ وَاِنْ لَمْ يَتَنَازَعُوْا فِي الصَّلٰوةِ

ونه دی روا صلاة خوف بیله حضوره ددښمن، قال فی البحر لعدم الضرورة حینئذٍ وقدمر اختلاف فی هذه المسئلة من قبل فتذکر» او که چیری نزاع پـه قوم کی نـه وه یعنی خواهِخوا

په موږ لمونځ په یوه امام پسی کوو، نو افضل دا ده چې هر یوه طا ئفه دی لمونځ پوره وکړی په امام پسی لکه په حال کې دامن، یعنی یوه ډله دی پیره کوی. او بله ډله دی په یوه امام پسی خپل لمونځ پوره وکړی. او سره د امامه دی سلام وګرځوی. وبیا دی دا ډله ولاړه سی د پیری و ځای ته. او اوله ډله دی راسی او پـه بل امام پسی دی خپل لمونځ پوره وکړی حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الوکیل،،

تاریخی کتنه او یادګار: تن ورځ ۲ دوشنبه ده د رجب الخیر میاشتی ده سنه ۱۴۲۲ هجری قمری ده، چې دوی هفتی د مخه تخمینًا پر امریکا باندی دوشنبی په بنار او دنیویارک په دوو لوی بنارو کی بعض کسانو هر ځولی چې وه یوه دا بی خودکشه حمله کامیابه وکړه، چې د نړی په تاریخ کی به تر اوسه دا غسی حمله چا نه وی کړي، او امریکا ته یه جانی ومالی ډیر لوی تاوان ورساوه. امریکا د دی حملی عاملان وپیژندل؟ یا نه!

خو امریکا چې رئیس جمهور یه په دغه وخت کې بش و. ۲۰۰۱/۹/۱۱ د دی حملی پړه پر یوه خوار غریب د ۲۲ کالو جنګ زده هیواد افغانستان پر غاړه واچول. په بهانه د دی چې د روسانو په یرغل کې پر افغانستان لوی مجاهد اسامه بن لادن پـه افغانستان کی وو. نو د امریکا بش په ډیر جوش د صلیبی جنګ اعلان وکړی، یعنی د نصارا وو او د اسلام جنګ، او د طالبانو حکومت ځخه چې امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد یـه لوی روحانی او ملکی پیشوا وو، دا مطالبه وکړه چې اسامه بن لادن دی وامریکا ته تسلیم کی چې امریکا یه په خپل ملک کی محاکمه کړي. او طالبانو او ددوی ټولو مشرانو دا خبره رد کړه چې اسامه زمونږ ورور مسلمان دی او لوی مجاهد دی، او د روسانو د قبضی په وخت کی افغانستان باندی لوی مجاهدانه کارنامی لري،،

نو په هغه وخت کې چې امریکایان د روسانو د پیش قدمی ځخه ویرېدل ددغه اسامه سره ئې ډیری او د وسلو لوی مرسته کوله، نو مونږ دا میلمه مجاهد مسلمان ورور وکافرانو ته حواله کړو، نو امریکا او بش په مغربی مما لکو کی حتی په بعض اسلامی مما لکو

لکه پاکستان، عربستان، سعودی امارات متحده عربیه وو لغاری او نغری جوړی کړی چی اسامه بن لادن د دهشت گردانو په نړی کی لوی مشر دی حتماً به ئی طالبانو مونږ ته سپاری اوکه ئی نه وسپاری مونږ د طالبانو پر حکومت په افغانستان کی هوائی او زمینی بریدونه کوو، او د طالبانو حکومت د ما بین څخه وړو، په دغه وخت کی د شمال اتحاد په نامه چی د طالبانو مخالف وو چی مشر یې برهان الدین وو او مرکز یې بدخشان وو» دغه برهان الدین امریکایانو ته دعوت ورکړی چی زمونږ شمال ایتلاف د تاسره ملگری یو د اسامه بن لادن په نیولو کی او د طالبانو د حکومت په نړنگولو کی» او د امریکایانو ملاړ انگریزانو په لندن کی ډیر لوئې آوازی گډی کړی چی د طالبانو حکومت به د ما بین څخه وړو» او امریکا اعلانونه کوی چی نن حمله کوو صبا حمله کوو مسلمانانو ته لوبه پاکستان کی خصوصاً د علماوو حضراتو مشرانو چی ډیر دی د افغانستان سره دیک جهتی اعلانونه شروع کړه، تراوسه معامله پر دغه ځای ولاړه ده. او د افغانستان په جنگ زده ملک کی په عامو خلگو کی ډیر اضطراب دی، آینده به وگورو چی خدای جل سلطانه به څه پیښوی» اللهم انصر الاسلام والمسلمین ودمر الکفرة خصوصًا الامریکا والانکلیس ومن یعاونهم من کانوا وحیث کانوا بحرمة السبع المثانی والقرآن الکریم، قال المصنفؒ:

وَيُسْتَحَبُّ حَمْلُ السَّلَاحِ فِي الصَّلٰوةِ عِنْدَ الْخَوْفِ

او مستحب دی د ځانه دړ لوول د سلاح یعنی په اختلاف د زمانو دهرې نوعی څخه چی حمل یې ممکن وي، په لمانځه کی په وخت کی د بیری د حملی د دښمن،

پوهه سه: چی استحباب مذهب دی د احنافو او امام مالکؒ او امام شافعیؒ رحمهما الله عنهما حمل د سلاح په نیز د خوف په لمانځه کی واجب بولی» ط

اللهم اغفر لکاتبه ولمصنفه ولقارئه ولمن طالعه ولمن نظر الیه بعین الشفقة امین

امین.

بَابُ أَحْكَامِ الْجَنَائِزِ

باب دی په بیان کی د جنازی د احکامو

پوهه سه: چی جنائز جمع د جنازی ده، مراقی وائی چی جنازه په زېر د جیم او په زبر د جیم مړی ته هم وائی او چارپائی ته د مړی هم وائی لکن چی مړی پر پروت وي، او بعض اهل لغت وائی چی په زېر د جیم خودی مړی ته وائی او په زبر د جیم چارپائی ته وائی: وقیل بالعکس ط

قال المصنفؒ

يُسَنُّ تَوْجِيهُ الْمُحْتَضَرِ لِلْقِبْلَةِ عَلٰى يَمِينِهِ وَجَازَ الْاِسْتِلْقَاءُ

سنت دی مخامخ کول د هغه چا چی زکندن یې وي و قبلی ته پر ښی اړخ او ستنی ستغ پریوتل هم روا دی لکن **پوهه سه** چی د اهلته سنت دی چی پر مریض تکلیف نه وي، او که تکلیف وو بیا دی پرخپل حال پریښودی،

فائده: محتضر صیغه د اسم مفعول دی ای حضرته ملائکة الموت او حل به الموت» هر مسلمان ته په کار دی چی همیشه و مرگ ته مستعد وسی په توبه سره او په زړه د مړ مفاد مرگ دې ډیر ډیر یادوی، کما ورد فی الحدیث النبویﷺ اکثروا ذکر هاذم اللذات» الموت، خصوصاً مریض ته» ـــه توبه بکن امروز تو هرگز نگو فردا کنم ⁂ شاید بمیری صبحدم فردا نیابی زرکمر ⁂ واستثنی من ذالک العلماء المصنفین والمدرسین، لئلا یخل ذکر الموت کثیرًا بالتصنیف خصوصًا اذا کان تصنیفهم یبلغ الی مجلدات وایضا یخل بالتدریس» قال المصنفؒ:

وَيُرْفَعُ رَأْسُهُ قَلِيلًا وَيُلَقَّنُ بِذِكْرِ الشَّهَادَتَيْنِ عِنْدَهُ مِنْ غَيْرِ

او سر دی لږ اپورته کړی، او تلقین دی ورته کوی یعنی ور یاده وی دی ورده ته دواړه کلمه شهادت»

أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ،

إِلْحَاحٍ وَلَا يُؤْمَرُ بِهِمَا

بیله ډیروالی د دغه تلقین، ولی مریض په حال د سکرات الموت کی

دی چې د ډیر تلقین څخه ئې زړه تنګ نېی ، دسرپوره ته کولو په باره کی مراقی وائی چې نځ یې
وقبلې ته ېږی، نو اسمان ته» درویش وائی چې دا په هغه صورت کی چې پرې استرخاء یې پرې
ایستلی وی» کما لایخفٰی»
او امر دی هم نو رته کوی چې فلانی کلمه ووایه ، ولی پر ده سختی ده نو شاید دی به ووائی - یا ، ولې چې
شیطان هم ورته حاضریږی او ورته وائی چې دین د نصاری ووسه » نو دی به و هغه ته وائی
یا ، ده امر به دا خیال سی چې زما وامر ته یې لا ووئیله » نو بې د کفر ګمان پرې ږېي، بلکه په
په مراقی کی وائی چې که چا د غرزکند ن والا ته وویل چې کلمه ووایه ، او ده صراحته وویله چې کلمه
نه وایم حکم به کفر سره ئې نه کیږی، ولې چې دی مغلوب العقل دی نو ځکه بعض علماء مرګ د بیهوش
او زوال العقل خوشی کړی دی لهذا الخوف» قال علیه الصلوٰة والسلام: لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فانه لیس مسلم یقولها عند الموت الا انجته من النار» وفی حدیث اخر من
کَانَ اٰخِرُ کَلَامِهٖ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دخل الجنة » ای دخولا اولیا »

فَائِدَه: په قنیه کی وائی: الواجب علی اخوانه واصدقائه ان یلقنوه آه لکن د وجوب
د تلقین خبره په بل کتاب کی نشته، بل ټوله د فقه کتابونه وائی چې تلقین سنت دی»

فَائِدَه: په هغه تیر سوی حدیث کی چې: لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ آه جمهور علماء پر دی دی متفق
چې مراد د میت څخه قریب الموت مراد دی حقیقت میت نه دی، لکه په دی حدیث کی
مَنْ قَتَلَ قَتِیْلًا الحدیث ومافی المضمرات» عن البزازیؒ: لو قال لمسلم قُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فلم
یقل کفر باللّٰه وان اعتقد الایمان آه فهو لیس فی المختصر المذکور بل هذا القول لایصح علی
اطلاقه والتفصیل فی شرح الطحطاوی» **مسئله**: که محتضر یو وار کلمه شهادت
ووئیله نو نور دی کلمه شهادت نه ور ته تکرار وی ولې چې شاید ددې اخیره خبره داغه وی،

قال المصنفؒ **وَتَلْقِیْنُهٗ فِی الْقَبْرِ مَشْرُوْعٌ وَقِیْلَ لَا یُلَقَّنُ وَقِیْلَ لَا یُؤْمَرُ**
او تلقین د مړی په قبر کی یعنی چې په قبر کی کښیښولو سره مشروع دی. او مراقی والا وائی چې

بِهٖ وَلَا یُنْهٰی عَنْهُ دا مذهب د اهل سنت والجماعت دی ، او بعض علماء وائی

چې په قبر کی دی مړی ته تلقین نه کوی، دلیل په هغه دی چې په کفایه کی ذکر سوی دی،
چې دا مړی که مسلمان وی نو تلقین ته یې حاجت نشته ، او که په کفر مړ وی نو تلقین فائده
نه ورته لری، آه . او ددی قول نسبت و معتزله وو ته کیږی ، او بعض فقهاء وائی که چا تلقین
و مړی ته کاوه خولې دی نه منع کوي او که چا نه کاوه خولې دی امر کوی په تلقین سره ، او دلیل
د اول قول دا دی چې په حدیث کی راغلی دی: لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ شَهَادَةَ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
دوی وائی حقیقت میت خو مړی دی نو مراد د تلقین څخه تلقین د قبر دی. لکن اکثر مشائخ د
احنافو پر دی مذهب دی چې مراد په حدیث کی معنیٰ مجازی ده ای مَنْ قرب الی الموت» کما
نو دا تلقین د وخت د نزع کندن دی کما مر» په هر حال کیفیت د تلقین د مړی په قبر کی دا دی
»یا فلان بن فلان اذکر دینک الذی کنت علیه فی دار الدنیا بشهادة اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ
مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ»

درویش وائی چې مسئله د تلقین د مړی معرکة الاراء ده چې لوی تفصیل یې په فتح
القدیر کی دی» او هغه ټوله تفصیل را نقل کول ددی مختصری شرحی سره مناسب نه دی، او
په زړه پوری طویل بیان په مراقی او طحطاوی کی هم موجود دی او هغه هم په سبب د طول
درویش ونه کی او نه ئې را نقل کی ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ» قَالَ المصنفؒ

وَیُسْتَحَبُّ لِاَقْرِبَاءِ الْمُحْتَضَرِ وَجِیْرَانِهٖ الدُّخُوْلُ عَلَیْهِ وَ
او مستحب ده قریبانو ته د محتضر او همسایه ګانو ته دده چې د محتضر خونې ته دی ورسی او هلته

یَتْلُوْنَ عِنْدَهٗ سُوْرَةَ یٰسٓ وَاسْتُحْسِنَ سُوْرَةُ الرَّعْدِ
دی کښینی او تلاوت د سورة یٰسٓ دی کوی. او بعض متأخرینو تلاوت د سورة الرعد هم مستحسن
ګڼلی دی» **فَائِدَه**: د غه خلق دی محتضر ته نصیحت د وصیت کولو کوی. او په
وخت کی د نزع دی په خوله کی اوبه ورواچوی، ولی په دغه وخت کی تنده ډیره وی لشدة
النزع و لذالک ورد فی الخبر، چې شیطان هم ورته حاضریږی او زلالی اوبه ور سره وي»

او محتضر ته وائی چی ته وو وایه لا اله غیری نوره به دی او به کرم نعوذ باللہ من ذالک او دغه خلک دی محتضر ته د پاک خدای لوی فضل وکرم ور پیاد کی او دده گمان دی پر خدای ښه کوی، په حدیث کی د مسلم راغلی دی، لاَ یمُوتن احدکم الاوھو یحسن الظن باللہ انه یرحمه ویعفو عنه»

او په صحیحینو کی دا حدیث هم راغلی دی قَالَ اللہ تعَالیٰ: اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِی بِی» واما قراۃ سورۃ یٰس فلما جاء فی الخبر» مَامِنْ مریض یقرء عنده یٰس الا مَاتَ رَیَّان وادخل قبره ریان واما قراءۃ سورۃ الرعد فلقول جابر انها تهوّن علیه خروج روحه» قَالَ المُصنفؒ:

وَاخْتَلَفُوا فِی إِخْرَاجِ الحَائِضِ وَالنُفَسَاءِ وَالجُنُبِ

او اختلاف کړی دی مشائخو په ایستلو کی د حائض او نفساء ښځی او د جنب، **پوه سه** چی ایستل د دغو کسانو صرف اولیٰ دی او هغه هم هلته چی ودوی ته ضرورت نه وی، نو پر دی سبب باسی چی د دغو کسانو سره چونکه نجاست موجود دی نو نبایده چی حضور د دوی مانع د حضور څخه د ملکو د رحمت وشی گرځی، او وجه د عدم الاخراج دا ده چی ممکنه ده چی دغه کسان د محتضر د تیر نواقرباء وو څخه وی او نه به ووزی، او طبیب دی هم ورته راولی.

درویش وائی: اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنَا اِذَا عرق الجبین، وکثر الانین، وَبکی علینا الحبیب ولیس منا الطبیب، اللهم ارحمنا اذا وارنا التراب، وودعنا الاحباب، وفارقنا النعیم وانقطع النسیم، اَللّٰهم ارحمنا اذا بلی جسمنا واندرس قبرنا، وانطوی، وَنُسِی اِسمنا»

او کافی څه هم قریب وی خندی باسی دی» قَالَ المُصنفؒ

فَاِذَامَاتَ شُدَّ لِحيَاهُ وَغُمِّضَ عَيْنَيهِ

نو چی محتضر مړ سو ور وه دی تړوسی زامی دده او په پټو ور تړکره چی خوله یې په کښی پټه سی او پرسر دی ور وتړی او پټی دی کړه سی سترگی دده» لورود الامر به فی السنة النبویة وتحسینا لوجهه کما هو الظاهر»

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن نظر الیه بعین الانصاف

قَالَ المصنفؒ **وَیَقُولُ مُغَمِّضُهُ بِسْمِ اللہِ وَعَلیٰ مِلَّةِ رَسُولِ اللہِ**

او وائی دی هغه سړی چی سترگی د مړی ور پټه وی، شروع په نامه د خدائے او تابع یو په ملت د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم

صَلَّی اللہُ علیه وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَیْهِ اَمْرَهُ وَسَهِّلْ عَلَیْهِ مَابَعْدَهُ

صلی اللہ علیه وَسَلم، یا اللہ آسانه کی پر ده موجود د حال ددده او آسانه کړی ور وسته تر دی یعنی د قبر حالات، او دی نیک بختی ور گرځوی په دیدار ستا او وگرځوی څه دنیا چی دی

وَاَسْعِدْهُ بِلِقَائِكَ وَ اجْعَلْ مَاخَرَجَ اِلَیْهِ خَیْرًا مِمَّاخَرَجَ عَنْهُ

ور وَوتی، یعنی قبر و مابعده خیر تر دغه دنیا چی دی څنده ووتی،

درویش وائی: چی په صحیح حدیث کی راغلی دی چی څه وخت چی ابوسلمهؓ وفات سو آنحضرت صلی اللہ علیه وَسَلم یې سترگی ور پټولی نو دا یې دعاء یې وکړه! چی خدایه و بخښی ابوسلمه او پورته کړی درجه دده په هدایت والاوو کی او دده په ور وستو پاته کورکی نه عوض ور کړی په فائزینو کی، او مونږ ته بخښنه وکی او ده ته یا رب العلمین، او فراخی ورکړی ده ته په قبرکی، او رونړا ور کړی ورده ته په قبرکی، کمال وائی چی بیا دی پټو وغیره پر اوار کړی،، قَالَ المُصنفؒ:

ثُمَّ یُوضَعُ عَلیٰ بَطْنِهِ حَدِیدَةٌ لِئَلَّا یَنْتَفِخَ

پوه سه او بیادی کښیږدی پر نس دده یوه وسپنه تاچی نس یه ونه پړسیږی، چی وسپنه خاصةً او طبعًا په دفع کی د پړسوب فائده لری، او که وسپنه نه وه نو یو بل د روند شئ دی پر کښیږدی،، قَالَ المصنفؒ:

وَتُوضَعُ یَدَاهُ بِجَنْبَیْهِ وَلَایَجُوزُ وَضْعُهَا عَلیٰ صَدْرِهِ

او کښی دی ښوول سی دواړه لاسونه دده پر دواړو اړخو دده. او نه دی ور وا یښوول

په ځیګرده، ولې چې داخوی او عادت د اهل کتابو دی، **فائده**: ګوګی دلاسو دی ومونډی چې آواری بې. او دغه رنګه بندوینه د لاسو او پښو دی بنه ور اوارکی چې دغسل په وخت کی ورته اسانی وی» قال المصنف:

وَتُكْرَهُ قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ عِنْدَهُ حَتّٰى يُغْسَلَ

او مکروه دی قرائت د قرآن مبارک په نیزد مړی ترهغه وخته پوری چې غسل ورکوی، د دپاره د دی چې تعظیم د قرآن وسې د حدثه او نجاست نه چې په مرګ سره پیدا سو او پسله غسله مړی پاکیږی»

پوهسم: چې غسل ومړی ته ته ورکول امر شرعی دی قیاس او عقل کار نه په کښی لری نو داپو ښتنه ځای نه لری چې مړی خو پاك وو نو غسل ولی ور کوی» لان الآدمی لا ينجس بالموت كرامة له، یا داهبره کول هم ځای نه لری چې که انسان په مرګ نجس ګرځي نو باید په غسل هم نه سی پاك، لکه نور حیوانات چې مړه سی په پریولو نه پاکیږی، او یا داخبره چې مړی خو جنب نه دی. نهایت داخبره ده چې په سختی ز کندن برده څخه یو او دس ما تو ونکی شئ وتلی وي، نو باید دده اعضاء داو د اسه ور پری مینځی وبس»

قال المراقی بخلاف الکافر یعنی هغه په غسل سره نه پاکیږی آه لکن امام طحاوی وائی چې مسلم او کافر په دغو احکامو کی سره یو دي، **سوال**، قال الله تعالى: انما المشركون نجسٌ **جواب**: دهغو نجاست څخه مراد نجاست دعقیدی دی نجاست دبدن نه دی مراد وهذا مذهب السلف والخلف: قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِإِعْلَامِ النَّاسِ بِمَوْتِهِ

او پروا نسته په خبرولو سره دخلګو په مرګ دده، تاچې جنازه ورکوونکی ډیر سی، بخاری او مسلم روایت کوی چې علیه الصلوة والسلام خبر ورکړی په مرګ د نجاشی په هغه ورځ کی چې دی په محکله کی د حبشه وومړ سوی وو، او دغه رنګه یې خبر کړو خلګ په مرګ د زید بن حارثه رض او د جعفر بن ابي طالب او عبدالله

ابن رواحه رض چې په یوه غزا کی دری سره شهیدان سوی وه، والتفصيل فی کتابی البلاغ المبین»

مسئله: په نهایه کی وائی که مړی یو عالم وو او یا یو زاهد سړی وو چې خلګو تبرك په کاوه نو بعض متأخرینو وئیلی دی چې پروا نه لری چې په بازارو کی د ده د مرګ اعلان وکړی وهوالاصح آه او په مراقی کی وائی چې ډیر د مشا ئخو څخه وائی چې دا پروا نه لری چې د جنازی د مړی خبر وه خلګو ته ورسوی تاچې هغه اقرباء یا نور دوستان چې په مرګ دده خبر نه وی خبر سي او حق د مړی پر ځای کړي، لکن فراط په مدح کی د مړی دی نه کوی بمانه هغه قدر الفاظ دی استعمال کړی چې خلګ یه و بیترني»

صاحب هدایة په تجنیس کی وائی چې مکروه دی تر حد تجاوز په مدح کی د مړی خصوصًا چې جنازه یه حاضره وی لانه من صنیع الجاهلیة » ط او پروا نه لری بیان د سوانح عمری د مړی که په نثر سره وی او که په شعر سره » لکن چې په واقعیت بیان سی او افراط په کښی نه وي

مسئله: ژړل پر مړی که قبل الموت او که بعد الموت وي په صرف او ښکو تو یولو سره پروا نه لري، چې آواز پورته کول او چیغی وهل په کښی نه وي، او نیاحت یعنی په زوره چیغی وهل لکه د ښځو چې غالبًا عادت دی او کالی پر ځان څیرل یا تندی تکول یا شکایت د خدای پاك څخه کول سخت مکروه دی، بعض ښځي د قریب د مړی په وخت کی داسی حالت پر ځان طاری کی لکه پیری ؟ نا نو چې نیولی وي، په بخاری او مسلم کی داحدیث موجود دی چې څه وخت چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم اخیری زوی چې ابراهیم یې نوم وو او دده د بی بی ماریة زوی خدای پاك ددی څخه ورکړی وو، د ۱۲ میاشتو په عمر کی مریض سو او بیا وفات سو، نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم په تویولو د اوښکو پروژړل » عبد الرحمان بن عوف رض چې د اته حاضر وو، وعلیه الصلوة والسلام ته ئي ووئیل: وَاَنْتَ یَارَسُوْلَ اللهِ تبکی »! فقال یا ابن عوف انها رحمة » یعنی زما د غه او ښکی د رحمت د سببه تو ئیږی یعنی دو صله رحمی له کبله معنا دا چې او ښکی تو یول ممنوع ژړا نه ده » وقال م ان العين تَدْمَع » په تحقیق سره سترګی اوښکی تویوی » وَالْقَلْبُ يَحْزَن او زړه غم کوی » وَلَا نقول اِلَّا مَا يَرْضِى رَبُّنَا » او په خوله نه وایو مګر هغه خبره چې خدای

اوپتی سترگی می نه سوای رونړه ولاړی، او روڼی سترګی می نه سوای پټولای، بالاخر دغه مرض د سکتې په ورځ رانه پیښ سوی وو، چې پلار مرحوم او نور قریبانو د نبض کتلو ورو سته، سل په سل داعقیده سوه چې عبید الله مړ سو، نو د قبر د پاره ئې خلګ ادرې ته واستول او کفن یه راوړی وو، او طالبانو د مسجد ته یه نه ورو سپارلی وم چې غسل ور کړي، او خلګ او قریبان یه هم خبر کړی وه. نو طالبانو چې غسل ورکاوه، او تودی اوبه د غسل یه پرما اچولی هغه طالب چې زما پر بدن یه لاس تیراوه، د زړه پر برابر یه د زړه لږ حرکت محسوس کړی وو، نو هغه بل طالب ته چې اوبه ئې پرما تویولې د یې بل طالب ته وویل چې ته راسه زما خیال دادی چې د دی مړي زړه حرکت لري او زو ندی دی هغه چې لاس زما پر زړه ایښی وو هغه هم ورته وئیلی وه چې هو زه هم په حرکت پوهیږم، خیر طالبانو غاسلانو زما مرحوم پلار ته ورغلی وه چې ته ئې راسه وګوره مونږ عبید الله ژو ندی بولو زړه یه حرکت لري، پلار مې د نورو قریبانو چې راغلی وه هغو ته هم زما د زړه حرکت محسوس سوی زو،

نو دغسل دځای په څنګ بیرته خونې ته راوړی وم، او هغه کالي یه راغوستي وه او په تلتک کی یه پټ کړی وم. چونکه د تبې د پروخت د تیریدو مخزنه ډیر ضعیف سوی وم چې سترګی می هم نه سوای رونړه ولاړی، او دوی آهم هرګز نه کتلم، خو څوساعته ورو سته د زړه حرکت و نبض ته راورسیدی او نبض هم په حرکت راغلی یوګړی ورو سته ما سترګی رونړی کړی او خبری می وکړی، په قریبانو کی د خوشحالی دور پیدا سو چې مړ عبید الله ژو ندی سو قبر کنا نیه بیرته راوغو ښتل، رفته رفته ما کامل صحت پیدا کړی او کفن یه راکالي کړه وای غوستل دادی تراوسه پوري ژو ندی یم یعنی ۸۳ کاله عمر د اوس می دی، وَاللّٰہُ جل سلطانہ یَعلم باجلی» اَللّٰھم انی اسئالك ختام الاجل علی الایمان والاسلام وکلمۃ الشھادتین عن وداع الروح من البدن علی الایمان والتوبۃ من جمیع المعاصی بحرمۃ سید الانام صلی اللہ علیہ وسلم،

قال المصنفؒ **فَیُوضَعُ کَمَا مَاتَ عَلٰی سَرِیْرٍ مُجَمَّرٍ وِتْرًا وَیُوضَعُ کَیْفَ** نو دی کیښنول سي مړی څرنګه چې مړ سو یعنی مرګ یه متیقن سو، پر تخته د غسل په داسې حال کی تخته دی خوشبویه کړي **اتَّفَقَ عَلَی الْاَصَحِّ وَیُسْتَرُ عَوْرَتُہٗ** وی تاک وارو نه یا ۳ یا پنځه بالاتفاق» زیلعی دا تجمیر بوخود پاره د دفع د راځه کړیهی د میت دی او بل دده د تعظیم پاره دی» کیفیت د تجمیر دادی چې عود یا اګربتی ته دی اور واچوی، او دری وار پر تخته هم دی شاوخوا راوګرځوی،، اوکه پر تخته نوره سمیتی ځای دی پری باسی او غسل دی ور کړي. او اینبوول د مړي پر تخته هر رنګه چې وي پروانه لري پر اصح روایت چې شمس الائمۃؒ وئیلی دی، او بعض وائی پر قبله دی پری باسی یعنی پښنی دی و قبلی ته کی لکه مریض چې لمونځ کوي او عورت دی ور پټ کی، وجوباً ولی چې عورت ته د مړي کتل ناروا دی لکه د ژوندی»

لکن زیلعی او نهایه والا وائی چې د نامه څخه تر زنګنو پوری دی عورت ور پټ کړي» او هدایه والا وائی چې صرف عورت غلیظه دی ور پټ کړي تیسیرا علی الغاسل» وھو ظاھر الروایۃ وھو المعمول فی الناس الیوم **مسئله**، ساتر العورۃ دی تر څپلو کالو لاندی دی اول توکر پر واچوی، قال المصنفؒ:

ثُمَّ جُرِّدَ عَلٰی ثِیَابِهٖ وَوُضِّیَ اِلَّا اَنْ یَّکُوْنَ صَغِیْرًا لَا یَعْقِلُ الصَّلٰوۃَ او ورو سته دی لڅ کی مړي د کالو څخه. او اودس دی ور تازه کړي، مګر نه کړ داسې کوچنی وو چې په لمانځه نه پوهیدی نو هغه اودس نه غواړي،،

مسئله: استنجاء دی داسې ورو وهی چې غاسل دی کڅوړه پلاس واغوندی نو تر ساتر لاندی د یې استنجاء ورو وهي، او که هغه نه وه نو پر ساتر سر بیره دی استنجاء ورو وهی

قال المصنفؒ **بِلَا مَضْمَضَةٍ وَّاسْتِنْشَاقٍ اِلَّا اَنْ یَّکُوْنَ جُنُبًا** او بیله پزې بیله خولی پریولو

پرېولو مګر که جنب وو، مراقي وائي د سر مسح دې وکړي په صحيح روايت کې، لکن خوله او پزه دې په تهکره ور مسح کړي، وعليه التعامل «مر» او که مړی جنب وو، يا حائضه يا نفساء نبځه وه نو په تکليف سره دې په خوله او پزه اوبه ور لګه وي تاچې طهارت يې پوره سي»

تحقيق غسل الميت

پوهسه، چې په نيز د امام ابويوسفؒ دې استنجاء نه ور وهي، تاچې نور نجاست خارج سي، لاسترخاء المفاصل او خلاصه والاهم وده غر مذهب ته تللی دی، **مسئله**: په ابتداء د اودس کې متوضي لاسونه مينځي د مړي د لاسو پرېولو نشته، ط

مسئله د پښو پرېولو د مړي دې نه ځنډه وي، ولې چې په ځای کې د جمع زالی داو بونږدی.

مسئله: که سړی بالغ سوا و ليوخي وو بيا په هغه ليونتوب کې مړ سو او دس نه غواړي قياسًا على الصبي **مسئله**: په فتح القدير کې وائي چې غاسل دې پر ګوته پوتکر و پېچي او د مړي غابونه او تالودی او سنډهان دې په مسح کړي، او د غر رنګه پر سر هودی. او د نو پر غاړ کې دې ګوته ولګره وي، وهذا امما استحبه بعض العلماء وهو حسن في تنظيف الميت

تنبيه استثناء د جنب چې مصنفؒ په نورالايضاح کې کړيده، او استثناء د حائض او نفساء چې په مراقي کې کړيده. دا يوازی د خلجالی نظر دی، قال الامام الطحطاويؒ وهو غريب مخالفٌ لعامة الکتب کما في الشبلي على الکنز،

او په تبيين کې وائي چې جنب لکه نور مړی دي» درويش وائي چې علماو ولره بنائي چې په قول ديوازی خلجالی دې فتوی نه ورکوي» قال المصنفؒ:

وَصُبَّ عَلَيْهِ مَاءٌ مُغْلًى بِسِدْرٍ اَوْحَرَضٍ وَاِلَّافَالْقَرَاحُ

وَهُوَ الْمَاءُ الْخَالِصُ

او بيا دې توی کړه سي پر مړي او به چې د بېري ددرختي بلګونه پر کښې ايشولي وي، او يا بروځه او که هغه دواړه

وه نو بيا دې قراح (خالصي اوبه) پرتوي کې» درويش وائي کې په صابون پرې مينځي هم روا دي بلکه د اتلو نکي خيرو دی طحطاوی»

فائده: د مغلی څخه د امعلوم سو چې تودی اوبه د مړي د غسل د پاره افضل دي، «لذا في النهر» کلمه د او د پاره د تخيير ده يعني غسل ورکوونکی مختار دي په پرېولو سره چې مينځي ولې هر يو کافي دی» په حديث شريف کې راغلي دي چې څه وخت چې په مدينه منوره کې د عليه الصلوة والسلام وفات سوه. نو ده مبارک غاسلانو بنځوته وويل چې غسل ورکړي په اوبو او سدر سره» قال المصنفؒ:

وَيُغْسَلُ رَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ بِالْخِطْمِيِّ

او پرېولو دې سي سر او ږيره د مړي په خطمي سره **پوهسه**

چې خطمي په کسره او فتحه د خاء دواړه روادی لکن کسره يه اکثره ده ترفتحې په عربو کې. او په پښتو کې فتح اکثره ده» ديو وابنه نوم دی چې اصلًا په عراق کې ډېر دی او خوشبو يې هم دی، او په پاکولو کې د ښتو د صابون ورکوي، او ديوناني طبيبا نو سره ډېر دی»

مسئله: که د سړي يعنې مړي پر ږيره و ښتان نه وه او يا په سر څرئيلی وو، او پر ږيره يې هم و ښتان نه وه يا نو ه راغلي يا کوسه وو يا يه ږيره څرئيلی وه نو تکليف ته د خطمي د پرېولو ضرورت نشته لعدم الباعث عليه» قال المصنفؒ

ثُمَّ يُضْجَعُ عَلٰى يَسَارِهٖ فَيُغْسَلُ حَتّٰى يَصِلَ الْمَاءُ اِلٰى مَا يَلِي التَّخْتَ مِنْهُ

بيا دې پرې ايستل سي مړی پر چپه اړخ، نو دی ور پرېوله سي، يعنې د ده راسته اړخ چې لوړ سو، ځکه چې شروع په راسته اندام سُنت دی. تر هغو پورې چې ور سيږي اوبه و هغه جانب ته د مړي چې و تخته ته څرمه دي چې چپه طرفته د مړي دی قال المصنفؒ:

ثُمَّ عَلٰى يَمِيْنِهٖ كَذٰلِكَ

او بيا دې مړی پرې باسي پر راسته طرف د غر رنګه يعنې تر هغو پورې مينځي چې و هغه ځای ته د مړي او به ور سيږي چې تختې ته څرمه دی يعنې چپه طرفته ته»

قال المصنف **وَالْكَافُوْرُ عَلٰى مَسَاجِدِهٖ** او ودی گرځول سی کافور چی یوه معلومه خوشبوئی ده پر ځایو سجدی دمړی، چی هغه تندی دی، اوپزه ده، او دواړه لاسونه دی، او دوه زنگنونه دی او دواړه پښی دی، روی ذالک عن ابن مسعودؓ او چنجیان هم د کافوره څخه بد وړي، قال المصنفؒ

وَلَيْسَ فِي الْغُسْلِ اِسْتِعْمَالُ الْقُطْنِ فِي الرِّوَايَاتِ الظَّاهِرَةِ

اونشته په غسل کی دمړی استعمال د پنبه وو په روایا تو ظاهره وو کی،، زیلعیؒ په شرح کی د کنز وائی چی پروا نه لری چی پر مخ دمړی پنبه واچوي، او په سوریو کی لکه دُبره، فرج، بنځی او پزی په غارو او د غوږو په غارو کی پنبه ور تخته کړی،، لکن فتاوی ظهیریه وائی چی په دبره او په فرج کی دی پنبه نه ور اینږدی،، قال المصنفؒ

وَلَا يَقُصُّ ظُفْرَهٗ وَشَعْرَهٗ

او نوکان دمړی که څه هم اوږده وي نه دی ور پری کوی مگر که مات نوك وو هغه دی ځندی پری کړي او ودی غورځوي، او ویښتان دی هم نه پری کوي یعنی که د سروي که د بریتو وی او که د زیر ناف وي - امام شافعیؒ وائی. چی دمړی بریتونه که تر مسنونی بالا وه ود نیغی دی کی او د هغه رنگه کی نوکان غټ وه پری دی کی، او د غه رنگه کی د زیر ناف ویښتان تر غنده مباح بالاوه ځندی پری دی کی. قاله الملامسکین،، او که فرضًا نوکان او ویښتان د مړی غاسلانو پری کړه زمونږ په نیزدی هغه په کفنو کی ور سره کښیږدی،، ق، تب. قال المصنفؒ

وَلَا يُسَرِّحُ شَعْرَهٗ وَلِحْيَتَهٗ وَالْمَرْاَةُ تَغْسِلُ زَوْجَهَا

او نه دی ورږ منځوی ویښتان د سر او د ږیری ولی هغه د زینت دپاره دي، **بِخِلَافِهٖ** مړی د زینت څخه فارغ سوی، په قنیه کی وائی چی دا فعل مکروه تحریمی دی که طلاق نه وی خو نکاح قائمه ده او که طلاقه وی نو هم نکاح قائمه ده، لبقاء النکاح في حقها من جهة العدة، که عدده د طلاق رجعی وی او یا د ظهار، او میړه و ما ینه ته غسل نسی ور

کولای ولی چی نکاح قطعه سوه، حتی که ښځه د غسل دپاره نه وه میړه دی تیمم ور وو هی او پر میړه نشته چی سترگی به پوټوی په وخت کی د مس د ذراعینو د دی، او که بیگانه سړی وو هغه په د غه وخت کی سترگی پوټوي،

مَسْئَلَه که ښځه د میړه د مرگه سره لنگه سوه او عده د رجعی طلاق یه تیره سوه او یا په عده کی د طلاق بائن وه او یا پر میړه حرام سوی وه په سبب د مرتد والی نو د غه ما ینه میړه ته غسل نه سی ور کولای، قال المصنفؒ:

كَاُمِّ الْوَلَدِ لَا تُغَسِّلُ سَيِّدَهَا لکه مینځه چی د بادار ه څخه لنگه سوی وی غسل نه سی ور کولای بادار ته او د غه مدبره مینځه یا مطلقه مینځه، ولی چی ملک د بادار په مرگ سره ده قطع سوا و پر منځو خو عیده هم نشته ،، نو که نر نه وو دا غه مینځه دی بادار ته تیمم ور وو هی تکر پر لاس پیچلی،،

بنهکانه فائده

په صحیح روایت کی راغلی دی چی ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه،، وصیت کړی و خپلی ماینی ته چی اسماء بنت عمیس وه چی که زه مړ سوم ما ته به ته غسل راکوی، او ابو موسی الاشعریؓ هم ماینی ته ورته وصیت کړی وو، او په بل حدیث کی د عائشهؓ داسی راغلی دي.....

لَوِاسْتَقْبَلْنَا مِنْ اَمْرِنَا مَا اسْتَدْبَرْنَا مَا غَسَّلَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اِلَّا نِسَائُهٗ" یعنی که مونږ د مخه پوهیدای په هغه شی چی وروسته پوه سوو نو به بروای ور کړی وعلیه الصلوة والسلام ته مگر خپلو بی بی گانو، یعنی په وخت کی د وفات وعلیه السلام ته مونږ ته دا نه وه معلومه چی ښځه و خپل میړه ته غسل ور کولائ، ورو سته مونږ ته معلوم سوه،

قال المصنفؒ **وَلَوْ مَاتَتْ اِمْرَاَةٌ مَعَ الرِّجَالِ تَيَمَّمُوْهَا كَعَكْسِهٖ بِخِرْقَةٍ** که مړه وه یوه ښځه په ډله کی د نرو یعنی محارم او غیر محرم، نو دوی دی تیمم ور وو هی لکه عکس د دی یعنی چی نر مړ سی په ما بین کی د ښځو چی ښځی یه محارم

وی، دا ښځی دی تیمم ورکوی په یو ټوکر سره چی پر لاس دی وپیچی کړی او که ښځه اجنبی وی تاچی لاس یه دهغی دبدن سره ونه مښلی او سترګی به هم پټوی د مړو ندو ځکه د ښځی کرهم سپین سری وی، قال المصنف:

وَاِنْ وُجِدَ ذُوْرَحِمٍ مَحْرَمٍ يَتَيَمَّمُ بِلَا خِرْقَةٍ وَكَذَا

او که موجود وو په ژوندو کی قریب محرم د مړی که مړی که نر وی او که ښځه نو تیمم دی

الْخُنْثَى الْمُشْكِلُ يَتَيَمَّمُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

ورووهیبله تکره. اودغه رنګ دی تیمم ورکوی دخنثی مشکل په ظاهر روایت کی"

مسئله: که خنثی مشکل نه وو بیا دنرخوا یه غالبه وه یاد ښځی. نو بیا دی غسل ورکړی یا ترې ښځه، ط، مر، قال المصنف

وَيَجُوْزُ لِلرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ تَغْسِيْلُ صَبِيٍّ وَصَبِيَّةٍ لَمْ يُشْتَهَيَا

او نر او ښځی لره روا دی غسل ورکول و کوچنی هلک او جینی ته چی اشتهاء د نر نه وی ته کیږی، او امام ابویوسف وائی چی مکروه دی بیګانه نر او ښځی ته غسل ورکول د نر هلک یا جینی ته، وجه داول روایت داده چی اعضاء ولره دکښنی هلک او جینی حکم دعورت نشته، لکن چی صغیر جدا وی که چیری اشتهاء ورته کیدل بیا نر و نرته غسل ورکوی او ښځه ښځی ته، بیا تر لس کاله پوری وروسته یه حکم د بالغ دی، قال

وَعَلَى الرَّجُلِ تَجْهِيْزُ امْرَأَتِهِ وَلَوْ مُعْسِرًا فِي الْاَصَحِّ

او واجب ده پر نر تیاری کارسازی د مړی ماینی دده که څه دی مسکین وی په اصح روایت کی، والمراد بالتجهیز هو الکفن والدفن، دا مذهب دی دابویوسف لکن امام مذکور وائی چی دا تجهیز هلته پر میړه واجب دی چی ماینه مسکینه وی، او دا خبره خوښه کړی صاحب

الغنی والمحیط والظهیرة، او امام ابویوسف دا روایت هم راغلی دی چی تجهیز د ماینی پر میړه واجب دی که څه هم دا غنی او میړه مسکین وی. نو ددی سببه مصنف ووئیله: علی الاصح او په مراقی کی وائی وعلیه الفتوی او د امام محمد مذهب دا دی چی پر میړه هیڅ تجهیز واجب نه دی لانقطاع الزوجیة من کل الوجوه، قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِتَقْبِيْلِ الْمَيِّتِ

او باک نشته په مچولو د مړی د محبت د د سببه، لکه چی په صحیح حدیث کی راغلی دی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم چی پر عثمان بن مظعون رض چی هغه وفات سوی وو داخل سو نو بی مچ پر اکور سو او عثمان رض یه مچ کړی او اوښکی یه پر مخ راتوی سوی، رواه الترمذی وابوداؤد وابن ماجه والحاکم،

او بیا د محبت او تبرک دوا روو پاره وی لکه چی بخاری روایت کړی دی د عائشة څخه هغه وخت چی علیه الصلوة وفات سو د ابوبکر رض په کور کی وو نو څه وخت چی دی خبر سو او راغی که څه هم کور د خلکو ډک وو لکن ابوبکر رض د هیچا سره خبره ونه کړه حتی خونی ته د عائشة راغلی او آنحضرت صلی الله علیه وسلم پروت وو او پر مخ مبارک یه کشمیره او اره وه نو مخ مبارک یه ورلغ کړی او بیا نسکور سو او مچ یه کی او وی ژړل، تراخیره د حدیث لکن که مچیده د شهوت دلاری وه کی څه هم ماینه وی نا روا دی، لانقطاع النکاح من کل وجه نو میړه بیګانه سړی دی، قال المصنف:

وَمَنْ مَاتَ وَلَا مَالَ لَهُ فَكَفَنُهُ عَلَى مَنْ تَلْزَمُهُ نَفَقَتُهُ

که څوک مړ سو او هیڅ مال یه نه درلودی، نو کفن یه پر هغه چا لازم دی چی د مړی نفقه په وخت کی دژوند دده پر ذمه لازمه وی، او که هغه کسان ډیر وه نو کفن یه پر انداز د میراث پردوی لازم دی، قال المصنف

وَاِنْ لَمْ يُوْجَدْ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ نَفَقَتُهُ فَفِي بَيْتِ الْمَالِ

او که چیری نه وو موجود هغه څوک چی دده نفقه پر واجبه

نوکفن دَمړی دی د بَیت المال څخه حکومت ورکړی» قَـالَ المُصَنِّفُ

فَاِنْ لَّمْ يُعْطِ عُجْزًا اَوْ ظُلْمًا فَعَلَى النَّاسِ

اوکه بیت المال کفن نه کړی ورد سَببه څخه د عجز د بَیت المال یعنی په بَیت المال کی روپۍ نه وی اویا د جهته د ظلم دبیت المال چی پَیسی خووی لکن حکومت ظالم وو، نوکفن دَمړی پر عمومی خلګو دی که همسایګان وی اوکه نور» در» قَـالَ المصنفُ:

وَيُسْئَلُ لَهُ التَّجْهِيْزُ مَنْ لَّا يَقْدِرُ عَلَيْهِ غَيْرُهُ

اوسوال دی کوی دپاره دمړی دکفن وغیره هغه څوک چی قدرت پځَله نه پرلری یعنی چی په مړی خبر سی. اوسوال دی دبل چا څخه کوی یعنی بَل قـادر سړی ته دی ووائی چی ته څه مبلغ راکړه چی فلانی سړی مړدی زه کفن پَه رانسم، ترکیب: التجهیز اول مفعول دیسئل دی. مَنْ لایقدر فاعِل دیسئل دی

مسئله: که پیسی ترکفن بالاسوی بیرته دی هغه سړی ته ورکړی چی څَنَدی ختی یه وی، اوکه سړی غائب سوا وسوال کونکی نه پیژندی بَل مړی ته دی کفن پَه رانسی او که مړی نه وو خیرات دی کی،،

مسئله: که یوڅوک لڅ وو پر بَل چا نشته چی دده دپاره سوال وکړی بلکه پخپل سوال وکړی **مسئله** که یوڅوک درنده خوړلی وو نوکفن یه پرمتبرع دی پر وارث نه دی

مسئله که دَمړی اکثر بدن موجود وو اویا نیمی بدن یه موجود وو سره دسره اونو یه درنده خوړلی اویا په اوسنۍ زمانه کی د مَین په چاودلو کی ټَللی وو نو غسل دی ورکړی اولمونځ دی هم ورکړی، اوکه ترمذکوری اندازې کم موجود وو نو نه غسل سته اونه لمونځ م» یعنی داغسی دی پـه ټکړه کی پټ کړی» ط»

پــوه سَــه: چی نفس کفن ورکول مړی ته خو فرض دی اوکفن دری قسمه دی، کفن سُنت، کفایت کفن، دضرورت کفن نومصنفؒ د غه دری۳ سره بیانوی:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ اٰمِيْن اٰمِيْن اٰمِيْن

قَالَ المصنفُ وَكَفَنُ الرَّجُلِ الْمَيِّتِ سُنَّةً قَمِيْصٌ وَاِزَارٌ وَلِفَافَةٌ

اوکفن دَنر سنت یه دری جامی دی. یو قمیص یَه نامه لکن دَقمیص څخه اصطلاحی نه دی مراد بلکه دَغاړی څخه نیولی تر پښو پوری لاندی

مِمَّا يَلْبَسُ فِيْ حَيَوَاتِهٖ

باندی لستوڼی دی نه ورکوی اونه ترخټری» او ازار دی،

پوه سه: چی ازار او رداء اولفافه په یَوه معنا دی چی هغه یوه جامه ده پَر وَره اوږده چی ټوله بدن دمړی پټ کړی د سَر څخه ترپښو پوری، او بَله لفافه چی هغه هم اوږده او پَراخه وره جامَه ده چی اول هغه اواریږی ومړی ته، اودا لفافه ترمړی به بالاوی تاچی دسر دَخوا اود پښو دخوا غوټه سی، اوټول مړی پـه کښی وپیچل سی، اوددی سببه یه لفافه بولی. اودا کفن به د هغه ټکره څخه وی چی ده پـه ژوند اغوستی یعنی دجمعی پـه ورځ اوپه اختروکی،

مسئله: مستحب دادَه چی کفن د ښی سپینی کپړی (جامی) وی، لِقوله علیه السلام «حَسِّنُوْا اَكْفَانَ الْمَوْتٰى فَاِنَّهُمْ يَتَزَاوَرُوْنَ فِيْمَا بَيْنَهُمْ». **مسئله**: به ډیر لوړ قیمت دی نه راانسی چی کالی داهل فخر دی په دنیا کی اود ریاء اوتکبر دپاره وی لِقوله عَلیه السَّلام: لَا تَغَالُوْا فِى الْكَفَنِ فَاِنَّهُ يُسْلَبُ سَرِيْعًا، حتی که یو چا وصیت وکړی چی ماته پـه زر درهمه مثلاً کفن راکړی دا وصیت دده نافِذ نه دی بلکه میانه کفن دی ورکوی جَلال الدین سَیوطیؒ پَه شرح الصدور کی وائی: اخرج ابن عساکر عن ابن عباسؓ عن النبی صلی الله عَلیه وَسَلم: اذا مات لاحدكم الميت «چی ستاسو څخه یو مړی وسو، فَاَحْسِنُوْا كَفَنَهٗ، نوښه کفن ورکړی، وَعَجِّلُوْا اِنْجَازَ وَصِيَّتِهٖ، اوتلوار وکړی پـه پوره کولو د وصیت دده: وَاَعْمِقُوْا لَهٗ فِىْ قَبْرِهٖ» اوښه جوړ کړی قبَر دده، وَجَنِّبُوْهُ جَارَ السُّوْءِ اوګوښه کوی لی په قبر ستان کی دبده همسایه څخه» چا د علیه الصلوة والسلام څخه سوال وکړی. یارسول الله يَنْفَعُ الْجَارُ الصَّالِحُ فِى الْاٰخِرَةِ» آیا نفع لری صالح همسایه پـه اخرت کی یعنی په قبر کی چی اول منزل داخرت دی قال م هَلْ يَنْفَعُ فِى الدُّنْيَا قالوا نعم قال كذالك ينفع فى الاخرة

آیا صالح همسایه په دنیا کی فائده لري ! خلگو ووئیل هو علیه الصلوٰة والسلام ووئیل داغسی نفع لري په اخرت کی اِنتهی ،،

فَائِدَه

رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته په درو (۳) جامو کی کفن ورکړ سوی دی، تر درو (۳) جامو با کفن مکروه دی، مگر که مړي د بالا جامو وصیت کړی وو بیا ئي زیا دت مکروه نه دی، او کی د دوو جامو وصیت کړی ور نو ده وصیت لازم الاجراء نه دی، ولی چې د خلاف د سنت دی بلکه په درو جامو کی دی کفن ورکوی، ط ،، زه نه پوهیږم چې پښتنو لی دَمړي کفن دَپاره که شاه وي او که گداوی کفن" سان " مختاره کړي دی، او سره ددی چې په تولو جامو کی ترهغه کم قیمته جامه نشته، او تقریبًا هیڅ څوك ددغه سان کالي په ژوند کی نه اغوندي خصوصًا په اوسنی زمانه کی، حتیٰ چې په عمومي ورځو کی هم نه اغوندي اختر ونه نو څه کوي. که څوك وائي چې وجه یې داده چې دا کپړه سپینه ده، نو زه وایم چې سپین رنگ خو تر دی بالام سته، او که څوك وائی چې داخو په قبر کی ژر خرابیږي جامه څه کوی ! نو زه وایم ددی حدیث به څه جواب وي : حَسِّنُوا اکفان المَوتیٰ ، آه قَالَ المُصنفُ :

وَكِفَايَةُ اِزَارٌ وَلِفَافَةٌ

معنیٰ اوسیل کفن کفائی دی د ن دپاره او هغه یوازې ازار، او بله لفافه ده، لکن دا اصح روایت دی، او بعض وائي چې قمیص او لفافه کفن کفایه دی ،،

پُوهِ سَه

: چې په حال کی د اختیار د غه کفن کفائي واجب دی بیله کراهته ،

مَسْئَلَه

: که دَسړي مال لږ وو او قریبان یې ډیر وه، نو د غه کفن کفائي اولیٰ دی تر سوال پر قریبانو د کفن سنت لپاره، او که مال ډیر وو او قریبان یې لږ وه، نو بیا کفن سنت اولیٰ دی،

مَسْئَلَه

: که پر سړي پور و نه باندی وه چې دده مال یې کافی نه وو، نو هغه پور ورکی ما نع د کفن سنت من حیث القیمة لو من حیث العدد نه ېی کیدلای، قَالَ المُصنفُ

وَفُضِّلَ الْبَيَاضُ مِنَ الْقُطْنِ وَكُلٌّ مِنَ الْإِزَارِ وَاللِّفَافَةِ مِنَ الْقَرْنِ إِلَى الْقَدَمِ

او تفضیل ورکړه سوی دی سپینی جامی ته چې پنبه وه وي

وائی چې مستعمل به ولی او نوی سره برابر دی، او هر یو د ازار او لفافه څخه دی د قرن یعنی د سر د ما بَین څخه تر پښو ږی پوری وی ،، وفی المراقی مع زیادة للربط ، قَالَ المصنفُ

وَلَا يُجْعَلُ لِقَمِيصِهِ كُمٌّ وَلَا دِخْرِيصٌ وَلَا جَيْبٌ

او نه دی ورکول کیږي قمیص ته، دَمړي لستوڼی او نَه تر خزي، او نه گریوان چاکوی، ولی چې دا تول شیان دَپاره د حاجت دَژوندی دي مړي و دغو شیانو ته ضرورت نه لري، او فخر الاسلامؒ په شرح کی د جامع صغیر او رضی الدین په محیط کی او حافظ الدین په کافی کی د جیب څخه جیب مصطلح اخستی دی چې خلق شیان په کښی اچوی چې په پښتو یې جیب بولی بکسر الجیم

قَالَ المصنفُ

وَلَا تُكَفُّ اَطْرَافُهُ وَتُكْرَهُ الْعِمَامَةُ عَلَى الْاَصَحِّ

او اطراف د کفن دی نه سره جوتوی. ولی چې حاجت ورته نشته، قال ط او که کف و کړی روا دی بیله کراهته ،، او مکروه ده لنگوټه په اصح روایت کی، ولی چې په کفن کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لنگوټه نه وَه، او بدائع والا یې علت دا بولی چې که عمامه ورکړه سی نو جامی د کفن جوړی گرځی او سنت خو داده چې تاك وی، وفی المراقی : چې لنگوټه دَمړي بعض بنه بولي ،،

پُوهِ سَه

: چې مراد د بعض څخه متأخرینؒ د احنافو دی. لکن په فتاوی ظهیریه کی وائي چې لنگوټه چې متاخرین حسین بولی دَپاره د علماؤ او صلحاؤ ده خاصةً نه د عمومي خلگو د پاره :

قَالَ المصنفُ

وَلُفَّ مِنْ يَسَارِهِ ثُمَّ يَمِينِهِ وَعُقِدَ اِنْ خِيفَ اِنْتِشَارُهُ

پوهسه: بیای و پیچی د چپه طرفه څخه او بیا د راسته طرفه څخه او غوټه دی کړی که چیری دَخلا صیدو ویره وَه،

پُوهِ سَه

: چې اصل پیچل دَمړي دا دی چې اول دی لفافه اواره کړي، او بیا دی ازار سربیره پر او آر کړي، او بیا دی په مړي قمیص واغوندی او پر ازار دی کښیږدی، بیا دی چپه طرف د څخه پر ر اواره وی. و روسته دی راسته طرف پر ر اواره وی تاچې راسته طرف سربیره سی، او بیا دی لفافه هم داغسی

پرې اواره وي. او بیا دې غوټه ورکړي که بیره ددې ویره چې کفن به سره وپاشل سي
یعنې که بیره نه وه چې قبر ته نږدې وو نو بیا غوټې ته ضرورت نسته کذا فی ط و در»

قال المصنف رح **وَتُزَادُ الْمَرْأَةُ فِي السُّنَّةِ خِمَارًا لِوَجْهِهَا وَخِرْقَةً**
او دیا تول کیږي دي ترکفن د ښځي لره دسنت پر طریقه کفن کی یو پوړنی دمخ پټېدو له پاره

لِرَبْطِ ثَدْيَيْهَا وَفِي الْكِفَايَةِ خِمَارٌ یعنی د سر دپاره هم، او یوه ټوټه ټکر
بل د پاره د تړلو د تیو د دی او دا
ټوکر به دونه پسره ور وي چې د تیو څخه ترسا مه پوري به وي، او بعض وائي تر زنګنو
پوري. او په کفن کفائي کی دی یو پوړنی بالا کوي» قال المصنف رح:

وَتُجْعَلُ شَعْرُهَا ضَفِيرَتَيْنِ عَلَى صَدْرِهَا فَوْقَ الْقَمِيصِ
او ودی ګرځول سي و سینتان د ښځي دوي (۲) کوڅې او پرځیګرد دي دې کښېښودی ترقمیص سر

ثُمَّ الْخِمَارُ فَوْقَهُ تَحْتَ اللِّفَافَةِ ثُمَّ الْخِرْقَةُ فَوْقَهَا
بیره، او بیا دی پوړنی پر سر او مخ ددی د هے واچوي سر بیره پر قمیص چې تر لفافی لاندي
راسي، بیا دی هغه ټوکر د تړلو د تیو سر بیره پر لفافه وتړي نو کفنونه به نه پاشل کیږي

قال المصنف رح **وَتُجَمَّرُ الْأَكْفَانُ وِتْرًا قَبْلَ أَنْ يُدْرَجَ فِيهَا وَكَفَنُ**
او خوشبوئي دی کړه سي کفنونه که د تر وي او که ښځي تا لك واره د مخه د پیچلو د مړي په

الضَّرُورَةِ مَا يُوجَدُ هغوکی او کفن د مجبوری که د نر وي او که د ښځي هغه قدر
دی چې پیدا سو، په صحیح حدیث کی راغلی دي چې څه
وخت چې په غزا کی د احد حضرت حمزه رض شهید سو په یوه جامه کی کفن سو. او مصعب
ابن عمیر رض چې هم په غزا کی د احد شهید سو یوه شړۍ د ده لوده چې پر سر بې ور واچول

پښې بې لڅې پاته سوي او که بې پر پښو ور واچول سر بې لڅ پاته سو. نو علیه الصلوة
والسلام امر و کړی چې سر یې ور پټ کړي او پر پښو یې اذخر واښه ور واچوي
نو دی کبله مصنف رح ویلي چې کفن ضرورت ما یوجد دی»

پوښتنه په حدیث شریف کی امام احمد رح یه روایت کړي دی او اصحاب سنن
بیله نسائی هم روایت کړی دی. داسی راغلی دی چې علیه الصلوة
والسلام وویل: مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ» او امر خو دپاره د وجوب
وي نو بایدچې پر غاسل د مړي غسل واجب سي، او پر حامل د مړي دی ودس واجب سي
نو احناف رح به په جواب کی څه وائي:

جواب: حنفیان وائي چې دا دوه (۲) امره چې په دغه حدیث شریف کی راغلی دی
د پاره د ندب دی. ولې چې په حدیث کی د ابن عباس رض تصریح په نفی د وجوب راغلی ده:
امام محمد رح په موطاء کی وائی: وَنَأْخُذُ بِأَنَّهُ لَا وُضُوءَ عَلَى مَنْ حَمَلَ جِنَازَةً وَلَا عَلَى مَنْ حَنَّطَ
مَيِّتًا أَوْ كَفَّنَهُ أَوْ غَسَّلَهُ» وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ» او ملا علی قاری وائی چې دا امر محمول پر احتیاط
دی، او بعض فقهاء رح چې هغه سړي چې مړي ته غسل ورکړی د ډېر وار خفاء او مغموم ګرځي
نو چې دی په خپله غسل وکړی هغه خفګان بې په نشاط او خوشحالی بدل سي،
او دغه رنګه هغه څوك چې مړي ته پر او ښو واخستي وي لږ ترلږه څه سوداء او دل خستګی ور
پیښیږي نو چې او دس وکړي هغه به دفع سي. دا وو حکمت د حدیث مذکور، ط، در..

فائده: غاسل د مړي دا ابتداء څخه د غسل تر پایه پوري دا دغه قول تکراره وي
» غفرانك یا رحمن». **فائده**: مشروعیت د غسل د وخت څخه دا دم علیه
الصلوة والسلام راغلی دی، حاکم یو حدیث چې ده یه حکم په صحت سره هم کړی دی د اسی
روایت کړي دی چې علیه الصلوة والسلام وویله چې آدم علیه السلام غنم رنګه سره تر نږدی
او ډېر جګ سړی وو» فو څه وخت چې دی وفات سو، ملائکو حنوط او کفن د جنت ور ته
راوړه او بیا ملائکو غسل ورکړی په او بو او بعد د سره درې (۳) واره، او په دریم وار کی
یوانداز کافور هم استعمال کړه. او په تا کو کفنو کی و پیچی او په قبر کی لحد ور جوړ

کی او لمونځ د جنازې یې ورکړي. او ملائکو دغه وخت عیال ته دَده وویل: یَا بنی آدم هـذه سنتکم من بعده فکذاکم فافعلوا،

تنبیه: په حدیث شریف کې راغلي دي که چا مړي ته غسل ورکاوه، او لعض علاماتي د بد بختي په کښې ولیدې مثلاً مخ یې تک تور سو، یا یې نس و پړسیدی او داسې نور شیان، او غاسِل هغه شیان پټ کړل خدای پاک به وده ته خلوینبت کبائر گناهونه ورو بخښي، او که چا کفن ورکړي مړي ته خدای به په هغه واغوندي کالي د سندس او استبرق، چې دوه قسمه ورېښم دي،

او که چا مړي ته قبر ورجوړ کړي. او دي یې په کښې پټ کړي" دومره ثواب لري گویا ده ومړي تر ورځې د قیامت کور ورجوړ کړي، وعنه علیه الصلوة والسلام: یا علی غسّل الموتی فانه من غسّل میتًا غفرله سبعون مغفرة، الحدیث،

تاریخي یادگار نن یعنی د جمعې ورځ ده تر دي ورځې د مخه شلور ورځې کیږي چې امریکا یا نو او انگریزانو پر افغانستان د شپې او د ورځې هوائي بریدونه شروع کړي دي، او سکه توغندي یې پر عام المنفعه ځایو او پر هوائي میدانو او د طالبانو پر شک مند ځایو بلکه پر بیگناه عوامو هم بې رحمانه ظالمانه اوروي پر کابل، قندهار، جلال آباد، مزار شریف، هرات، شندند او پرنورو ښارو د افغانستان ورته بمبارۍ د شپې او د ورځې د خوا شروع دي، او د زمینې حملې هم گواښ کوي، او په موجوده حال کې لعض اسلامي مملکتو هم فضائي حملو ته امریکا ته اجازه ورکړېده، او هم یې دوه هوائي میدانونه امریکا والو ته ورکړي دي. او امریکا او انگریزانو قصد کړي دي چې د طالبانو حکومت به د پښتو غور خوي، و بل طرف اوس هندوستان وشمالي اتحاد ته چې د طالبانو مخالف ځواک دي بیش رفته سلاح ورکوي بلکه هیلي کاپټري هم ورکړي دي، اللهم انصر الاسلام والمسلمین ودمر واهلك اعداء الدین من کانوا اللهم اهزم الکفرة والمشرکین ومن عاونهم: **پوهسه** چې مصنف تر دې او سه پورې بیان د غسل او کفن د مړي کاوه. ولې چې هغه د جنازې د لمانځه شرط دی او شرطونه خو هر ځای تر مشروط د مخه ذکر کیږي لکه طهارت تر لمانځه د مخه ذکر کیږي نو ځکه

چې مصنف د بیان نځه د شرط و فارغ سو نو اوس شروع په مشروط کوي فقال:

فصل

دا تورې خبر دی د مبتدا محذوف ای هذا فصل او د وروسته تورو سره اعرابي تعلق نه لري

الصّلوة علیه فرض کفایة لمونځ د جنازې د مړي فرض کفائي دی دلیل د فرض والي خو یې اجماع د امت ده تر که هم چې منکر یې کافر دی کما فی البدائع والقنیة، او علاوه تر اجماع احادیث صحیحه هم اثبات د فرضیت نه په کیږي، ولې اخبار احاد دي، قال علیه الصلوة والسلام: صلّوا علی کل برٍ وفاجرٍ، او هغه ایت مبارک چې طحطاوي پر صلوة جنازه دلیل گرځولی دی یعنی قوله تعالی: وَصَلّ علیهم، الآیه هغه استدلال صحیح نه دی، ولې چې مقصود په ایت کې خود عاده بدلیل ما بعده: اِنَّ صَلوتَكَ سَکَنٌ لَهُم، او فرض عین نه دی، ولې چې پر ټولو مسلمانانو فرض ده یو خو محال دی او بل حرج عظیم دی،

او بل دلیل دا دی چې په حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام و خلکو ته وویل: صلّوا علی صاحبکم، نو که فرض عین وای نو علیه الصلوة والسلام ولې پرېښو

پوهسه: چې جماعت په لمانځه د جنازې کې شرط نه دی که یو سړي لمونځ ورکړي هم فرض ساقط سوه: **مسئله**: د جنازې لمونځ د لوی سړي افضل دی د کوچني د جنازې تر لمانځه، ق، **مسئله**: نذر کول د جنازې. لمانځه صحیح دی ولې چې قربت مقصوده دی، او د تکفین یا د جنازې سره د تلو نذر نه دی صحیح، بحر،

فائده: چا چې ویلي دي چې د جنازې لمونځ د خواصو نځه د دې امت دی هغه غلطه خبره ده. ولې چې د مخه تېره سوه چې ملائکو و آدم علیه الصلوة والسلام ته پسله غسله د جنازې لمونځ کړی، او امام د جنازې د آدم ع حضرت جبرئیل علیه السلام وو، کما فی النهایة او ابن عماد وائي چې امام د لمانځه حضرت شیث علیه السلام وو،

پوښتنه: اُمنا خدیجة الکبریٰ رضی اللہ تعالیٰ عنہا چې پـسله نبوت نه د علیه الصلوٰة والسلام لس کاله وروسته وفات سویده، او علیه الصلوٰة والسلام د جنازې لمونځ نه دی ورکړی **جواب**: په هغه وخت کې د جنازې لمونځ مشروع نه وو، قال الواقدی،

قال المصنف **وَاَرْكَانُهَا التَّكْبِيْرَاتُ وَالْقِيَامُ** او اركان د جنازې د لمانځه تکبیرونه دی او په ولاړې کول دی، مراقي وائي چې اول تکبیر شرط دی په اعتبار د شروع د جنازې په لمانځه او رکن دی په اعتبار د دې چې په ځای کې د رکعت ولاړ دی لکه دری تکبیره نور چې هر یو په ځای کې د رکعت ولاړ دی. گویا د جنازې لمونځ څلور رکعته دی، محیط **مسئله**: د جنازې لمونځ په ناستې بیله عذره نه دی روا. او په سپرتیا کې هم نه دی روا. او که ځمکه د باران په سبب ټوله ختې وه، بیا په سپرتیا روادی، ط،

قال المصنف **وَشَرَائِطُهَا سِتَّةٌ اِسْلَامُ الْمَيِّتِ** او شرطونه د لمانځه د جنازې شپږ دی، اول اسلام د مړي دی، ولې د المونځ خو شفاعت دی او شفاعت د کافر دپاره نشته **پوهه سه**: چې اسلام عام دی که پخپله مسلمان وي او که په تبع د مور او پلار وي لکه د مسلمان کوچنی چې مړ سي، نو د جنازې لمونځ به ورکوی، او یا په تبع د دار وي لکه په دار اسلام کښې چې کشنی پیدا سي، **مسئله** که باغي سړی نه چا اسلام و پوښتو او د هغه نه وو زده، چې مړ سي د جنازې لمونځ به نه ورکوی، حموی س، قال

وَطَهَارَتُهُ او بل شرط په پاکوالی دی د مړي د نجاستِ حکمي او حقیقي نه ولې چې مړی لکه امام دی او د امام طهارت شرط دی، زاد في المراقي، وطهارة مکانه، نو د جنازې لمونځ ورکول نه دی روا چې غسل نه ورکړه سوی. او یا په بدن نجاست وي، **مسئله**: پاکوالی د کفن هم شرط دی نو که کفن د ابتداء نه نجس وو خو پرې د مینځې ورنه لمونځ د جنازې نه دی روا، او که وروسته تر غسل د مړي نه نجاست

او ووت او کفن په مردار سو په خزانه کې وائي چې دا نجاست مانع د لمانځه نه دی دفعا للحرج **مسئله**: که یو مړی بیله غسله ښخ کړی او قبر ئې خاورې ور واچولی، نو د غسل د پاره دی بیرته خاورې نه څندی غورځوی بلکه قبر ته دی لمونځ ورکړی بیله غسله للضرورة، او که صرف په قبر کې ایښی وو خاورې نه وی پر ور اچولې نو دی مړی را او کاږی غسل دی ورکړي بیا دی لمونځ ورکړي؛

او که غسل نه وو ورکړی او لمونځ یې ورکړی د سببه د هیرې، او یا د سببه د جهل، او مړی ښخ کړی خوارې یې پر واچولې، بیا دی قبر ته لمونځ ورکړي. ولې چې هغه د مخه لمونځ خو فاسد وو، او مراد د مکان نه ځای د مړي د پورتې دی،... نو که مړی پر جنازه وو او جنازه پاکه وه او لاندې ځمکه مرداره وه د جنازې لمونځ یه روادی، او که مړی پر ځمکه پروت وو نو د ځمکې طهارت شرط دی، او هغه خبره چې صاحب الفوائد کړیده. چې سره د نجاست د ځمکې یې هم لمونځ روادی. ولې چې کفن د مړي حائل دی، د اعتبار ور خبره نه ده، ولې چې په قنیه کې وائي چې کفن تابع د مړي دی نو حائل نه سی کیدای، در ولیش وائي: که مړی په پاک تلتک کې پیچلی وو کما هو المعتاد او لاندې ځمکه مرداره وه لمونځ د جنازې یه روادی ولې چې تلتاك په سبب د عدم اتصال په بدن پوري د مړي تابع نه دی،،

مسئله: که د امام خپله بې اودسه یا نه وه پیاد او لمونځ یې ورکړی، وروسته ورمعلومه سوه نو که خه هم قوم ټوله په اودسه وی لمونځ به بیرته راگرځوی، ولې د ټولو اقتداء نه وه پسې روا، او که امام او دس درلودی د قوم یا ټولو او یا بعضو او دس نه درلودی لمونځ صحیح سو په سبب د یوازې امام، ولې چې د جنازې په لمانځه کې جماعت شرط نه دی، ط، در **مسئله**: که د جنازې په لمانځه کې او دس مات سو او بل څوك یه خلیفه کړی لمونځ یه صحیح دی **مسئله**: که ځمکه مرداره وه او سړی چوټې یا گوټونه مثلاً په پښو وه لکن د پښو سره جوت تلی ده چوټې مثلاً پاك وو کې خه هم لاندې تلی مرداروی لمونځ د جنازې په کښې روادی،،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما ولمن نظر الیه بعین الانصاف آمین آمین

قال المصنف **وتقدمه وحضوره** لما رانکا الامام، اوبل شرط دادی چې مړی به دمخ وخواته وی او بل شرط دجنازی د لمانځه دادی چې مړی به حاضروی و غایب مړی ته لمونځ نه دی روا. مراقی وائی که اکثر بدن دمړی یا نیمی سره د سره، حاضروی دجنازی لمونځ به روادی:

فائده: نجاشی په فتحه دنون چې دحبشی بادشاه وو اوقوم یې اصحمه وو چې عربی معنایې عطیة الله ده اومسلمان وو. نوکله ورځ چې دی په حبشه کی مړ سو آنحضرت صلی الله علیه وسلم په صحابه وو ته خبرورکړی اوغائبانه دجنازی لمونځ ورکړی نودی څخه داسوال پیدا کیږی چې حضور دجنازی شرط نه دی، نومراقی په جواب کی ددی سوال وائی: چې جنازه د نجاشی ملکو راپورته کړه. چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم ولیدله نوئی لمونځ ور کړی. دا د نجاشی کرامت وو اودنبی علیه السلام معجزه وه، اوپه لمانځه کی دجنازی یوازی دامام لیدل ضروری دی دخلکو لیدل نه دی. اوبعض فقهاء وائی چې دا غائبانه لمونځ خصوصیت د نجاشی دی،

اوبعض علماء وائی چې مراد دصلاة څخه په قصه کی دنجاشی صلاة لغوی دی، یعنی دعاء یې ورته وکړه دجنازی اصطلاحی لمونځ نه دی. لکن دا اخیری جواب احادیثو سره سمون نه خوری ولی چې په حدیث کی راغلی دی چې څه وخت چې علیه الصلوٰة والسلام خبره د مرګ د نجاشی خلکوته ووایه نود څخه سو اوصحابهؓ په صفونو کی پس ودریدل، نودی څخه واضح معلومیږی چې مصطلح دجنازی لمونځ یې ورکړی. والجواب الاول هو المشهور المقبول، المطابق لما اخرجه الطبرانیؒ وابن سعدؒ فی الطبقات چې جبرئیلؑ راغلی وعلیه الصلوٰة والسلام اودی په تبوك کی وو، اوورته وی وئیله چې معاویه په مدینه منوره کی وفات سوی دی دجنازی لمونځ ورکوی علیه الصلوٰة والسلام ورته وو ئیل هو، نوجبرئیلؑ پخپل وزر محکه ووهله اوجنازه ښکاره اوحاضره سوه. نوعلیه السلام چې لمونځ ورکاوه دوه صفه ملکی پس ودریدی چې هر صف به اویا زره وو، نوپسله لمانځه علیه الصلوٰة والسلام د جبرئیلؑ څخه پوښتنه وکړه چې داسړی په څه سبب درجی ته رسیدلی وو، جبرئیلؑ ورته ووئیله چې په

محبت دسورة اخلاص چې د. قائمًا اوقاعدًا ذاهبًا او جائیًا وعلی کل حال داسورت مبارك به ویش وائی؛ چې ددی حدیث څخه عظمت اوشرافت دسورة اخلاص هم معلومیږی سبب دادی چې دا سورة مبارك توحید محض دی دخدای جل شانه. قال المصنف

وَكَوْنُ الْمُصَلِّىْ عَلَيْهَا غَيْرَ رَاكِبٍ وَغَيْرَ قَاعِدٍ بِلَا عُذْرٍ

اوکوم خولك چې پر جنازه باندی لمونځ کوی هغه به پر پود ابه باندی سپور او ناست نه وی بیله عذره، په مراقی کی وائی چې قیام رکن دی په لمانځه کی دجنازی. نوبیله عذره په ترك نه دی روا، او طحاوی وائی چې سره د عذره بیا صحیح دی، لکه چې امام مریض وی نودی په ناستی لمونځ ورکوی او خلك دی پس ولاړ وی، لکه چې په نورو لمونځو کی چې هم داغسی رواده، لکن دا په نیزد شیخینو. اوامام محمدؒ یې روانه بولی، دجنازی د لمانځه په ناستی، دغه اختلاف بناء دی پر اختلاف دا صلی لمونځو ولې چې هلته امام محمدؒ اقتداء دقائم په قاعد پسی روانه بولی اوشیخینؒ یې روا بولی، نو چې دامام لمونځ قاعدًا روادی په عذر سره دمقتدی په طریق اولی روادی. قال المصنفؒ:

وَكَوْنُ الْمَيِّتِ عَلَى الْأَرْضِ فَإِنْ كَانَ عَلَى دَابَّةٍ أَوْ عَلَى أَيْدِي النَّاسِ لَمْ تَجُزْ عَلَى الْمُخْتَارِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ

اوبل شرط دصحت د لمانځه دجنازی دادی چې مړی به پر ځمکه پروت وی، نوکه مړی پر یوه دابه وو اویا پر لاسو دخلکو وو دجنازی لمونځ نه دی روا پر مختار مذهب مګر نه دعذر د سببه، یو عذر خو دادی چې ځمکه ختی اوچکړ وی مړی نه پر ایښول کیږی»

مسئله: دا شرط په باره کی دهغه چا دی چې د امام سره یې اول د لمانځه نیولی وی چې د مدرك په نامه یادیږی. اوکه د چا څخه بعض تکبیرونه تیر سوی وه، چې مسبوق یې بولی نو دغه سړی بیریدی چې که زه پاته تکبیرونه سره دَ دعا ګانو وایم جنازه پورته کیږی دعاګانی

دی پریښی دی، صرف تکبیرونه دی پرله پسی وَوَالی اوکه نه بیریدی تکبیرونه سره د دعا ګانو وَوَائی وهوالمشهور وعلیه الفتوی، وَقیل غیرذالك،،

فَائِدَه: بوشرط چی مصنفؒ نه دی راوړی. دادی چی امام به بالغ وی لکه په نورو لمونځوکی، اوبل شرط دادی چی امام به دیوجزء سره دَمړی برابروی» در، قهر، لکن دا شرط هلته دی چی مړی یووی اوکه مړی ډیروَه دیوصف د مخه ترامام دی کښیږدی اوامام دی پربرابرد هغه مړی په دوی کی چی افضل وی ودریږی،، در، ط، قَالَ المُصنفؒ

وَسُنَّتُهَا اَربَعٌ قِيَامُ الْاِمَامِ بِحِذَاءِ صَدْرِ الْمَيِّتِ ذَكَرًا كَانَ اَوْ اُنْثٰى

اوسنت د لمانځه د جنازی څلوردی ۱ـ ولاړه دَ امام ده پربرابرد ځیګرد مړی که مړی نروی اوکه ښځه، ولی چی په ځیګر کی زړه دی. اوپه هغه کی نور دَایمان دی. نوپه دې دریدوکی اشاره وشفاعت ته دایمان دَمړی ده، **مسئله** صغیراوکبیر پـه دی دریدوکی یوشی دې،، مرط، س،،

پوښتنه: چی دریده پربرابر د صدر مذهب مختار دی،، اوبعض وائی چی دَنر دی پربرابرد سَردریږی، ولی چی سَرمعدن العقل دی. وفیه انه لافرق بین الرجل والمرأة فی ذالک فلاوجه لتخصیص الرجل، اوبعض وائی چی دنراوښځی دواړو دی پربرابردوسط دریږی،، قَالَ المُصنفؒ:

وَالثَّنَاءُ بَعْدَ التَّكْبِيرَةِ الْاُولٰى

۲ـ. اودوهم شرط ویل دی دسُبحانَكَ اللّٰهُمَّ ترپایه پوری پسله اول تکبیر قال فی المراقی یجوز قراءة الفاتحة بقصد الثناء کما نص علیه علمائنا: **پوښتنه** چی مسئلة قراءة الفاتحة لوبیه اختلافی مسئله ده. امام شافعیؒ قرائت دفاتحة الکتاب فرض بولي، اوامام مالکؒ وائی چی قرائت دفاتحه په بنارکی دمدینی معمول په صلاة الجنازه کی نه دی، **سَوَال:** په بخاری کی داسی حدیث راغلی دی چی ابن عباسؓ یوی جنازی ته لمونځ ورکړی اوفاتحة الکتاب یه وَوَئیله: وقال لتعلموا انه من السنة»

واجاب عنه الطحاویؒ چی قرائت دفاتحی چی داصحاب الکرامؓ څخه منقول دی هغه پروجه د دعاءاوثناء دی نه پروجه دَ تلاوة القرآن، اود مذهب احنافو علماءهم داوائی که فاتحه پروجه دثناء ووائی خوپروا نه لری، اوکی په نیت دقرآن ووائی هغه نه دی رَوا، وهذا مصرحٌ فی کتب المذهب، کالمحیط، والتجنیس، والولوالجیة وغیرها، بلکه پیدی قصد یـه ویـل مکروه تحریمی دی، ط ۳۸۱، ومزید التفصیل فی م وط۔

ومن خصائص صلاة جنازة النبی صلی الله علیه وسلم لا یجوز فی غیره من الاموات

دادی چی آنحضرت صَلَّی اللّٰه عَلَیه وَسَلم چی په ورځ د دوشنبی وفات سو، اوغسل اوکفن ورکړه سو، اودی مبارك پرتخته په خونه کی دبی بی عائشهؓ کښېنول سو، نوابوبکرؓ و عمرؓ حجری ته ورغله اوپه صف کی پربرابر دعلیه الصلوة وَالسلام ودریدل. اودوی سره بعض مهاجرینؓ اوانصارؓ هم ملګري وه خونه چی په حجره کی ځائیده. نودجنازې لمونځ یـه وَرکړی یعنی پـه امامت دابوبکرؓ وروسته ابوبکرؓ اوعمرؓ وَوَئیله، اَلسَّلام عَلیك ایها النبی وَرَحمت اللّٰه وَبرکاته، اومهاجرینو اوانصارو هم ورته سلامونه وَویل. بیا حضرت ابوبکرالصدیق (وحضرت عمرؓ داسی ووئیله، اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَشهَدُ اِنَّه بَلَّغَ مَا اُنزِلَ اِلَیه» ای اللّٰه مونږشاهدان یوچی علیه الصلوة وَالسلام وَرَساوه هغه دین چی ده ته نازل کړی سوی وُو: وَنَصَحَ لِاُمَّتِهٖ، اونصیحت یـه وکړی خپل امت ته، وَجَاهَدَ فِی سَبِیلِ اللّٰهِ، اوجهادیـه وکړی دکفاروسره په لارکی دخدائ: حَتّٰی اَعَزَّ اللّٰهُ دِینَه» حتٰی چی غلبه خدای پاك ورکړه ودین ته دَده، وَتَمَّتْ كَلِمَتُهٗ، اوپوره سوه کلمه دخدائ یعنی» لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه، واومن بـه وَحده لَاشَرِیكَ لَه» اوایمان راوړه پرخدای یَوازی چی شریك نستـه دَ لره، وَاجْعَلنَا اِلٰهنَا مِمَّن یتبع القول الذی مَعَه» مونږاو اګرځوی ای باداره زمونږ دَهغه کسانو څخه چی متابعت کوی دَهغه قول چی دَده سَره وو» یعنی القران والاحادیث، وَاجمع بینَنَا وَ بَینَه، اوسره جمع کړی مونږ او اودی یعنی پـه ورځ دقیامت کی، حَتّٰی تُعرفنَا بِه وَتعرفه بنا» حتی په مونږ وپیژندی

مبارك او په ده مبارك وپیژنو مونږ، فَاِنَّهٗ كَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفًا رَّحِيْمًا، ولحجہ
مبارك وو پر مؤمنانو مهربانه: لَا نَبْتَغِيْ بِالْاِيْمَانِ بَدَلًا، مونږ نه غواړو د ایمان
په مقابل کی بدل، وَلَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا اَبَدًا، او مونږ نه رانیسو په ایمان سره ثمنًا
همیشه، اوخلګو به وَیَل اٰمین، او د اخلګ به بیا وَوتل او نور به داخلیدل حتی چی
تر وه بنځو تیولو لمونځ وعلیه الصلوٰة والسلام ته ورکړی. په اخیرکی کښنیان راغله مغو
هم دا وظیفه اداء کړه. او په بعض روایاتوکی داسی راغلی دی چی صحابه کرام رض د لیری او
نژدی خلګو د راواله څخه د دوشنبی د ورځی ترزواله پوری د سه شنبی د ورځی
دا وظیفه د لما نځه او د سلام ویلو جاری وساتل، او بعض روایات داسی هم راغلی دی چی
تر د روو ورځو پوری لمونځونه ورکول جاری وه. امام طحطاوی په نقل د سید شارح ووائی چی
فرادی او مکرر لمونځونه د خلګو وعلیه الصلوٰة والسلام ته امر مجمع علیه دی هیڅ اختلاف
په کښی نشته، ط، ص۲۸۲ س ۷، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الثَّانِيَةِ

اودرود دی ووائی پرنبی علیه الصلوٰة والسلام وروسته تردوهم تکبیر یعنی اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی
مُحَمَّدٍ آه یعنی د التحیات درود. او د درود افضل دی او که بل درود ووائی هم روا دی.
تَنْبِیْه اولی دا ده چی تر دریم تکبیر وروسته چی دعا کوی په اخیرکی دی درود ووائی
بلکه د هری دعاء ادب دا دی چی په سر او پای کی درود ووائی. چی په حدیث شریف کی
راغلی دی: الاعمال موقوفة والدعوات محبوسة حتی یصلی علیّ اولًا، واخیرًا جوهره
سراج، سیّد، وبهذ اللفظ وان لم یکن فی الحدیث المرفوع لکن معناه صحیح مطابق للاحادیث
الاخر، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالدُّعَاءُ لِلْمَيِّتِ بَعْدَ الثَّالِثَةِ وَلَا يَتَعَيَّنُ لَهٗ شَيْءٌ وَاِنْ دَعَا بِالْمَاْثُوْرِ فَهُوَ اَحْسَنُ وَاَبْلَغُ

او بل سنت د لما نځه د جنازی دعا ده ومړی ته پسله دریم تکبیره څخه او د دعاء د مړی د پاره معین شی نشته،

او که چیری هغه دعا چی منقوله ده په حدیثو کی وکړی نو ډیره ښه او ابلغ ده: یعنی: اَللّٰهُمَّ
اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ
مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ
ثم یقرء الصلوٰة علی النبی کما مرّ، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمِنْهُ مَا حَفِظَهٗ عَوْفٌ مِنْ دُعَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د ماثورو دعاوو څخه هغه دعا هم ده چی عوف رض یاد کړیده. د دعا څخه د نبی
علیه السلام یعنی د جنازی په لمانځه کی، چی یو صحابی رض وفات سوی وو، چی ضمائر د دغی دعا
ګرده وهغه مړی ته راجع دي، هغه دعا دا ده: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ. خدایه ته دی
وبخښی او پر ده رحم وکړی " وَعَافِهٖ " او دی خلاص کی د عذاب څخه " وَاعْفُ عَنْهُ " او
ده ته بخښنه د ګنهو وکړی: وَاَكْرِمْ نُزُلَهٗ، او ده ته ښه میلمستیا ورکړی، یعنی ډیر
ثوابونه په اخرت کی او نعیم القبر ورکي، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهٗ، او فراخه کړی ځای د داخلید
د ده یعنی قبر، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ.
پُوهَسَه: چی په دی دعا کی مقصود پاکوالی د مړیده د ټولو صغیره او کبیره ګنهونو
څخه او د غمو څخه د دنیا او اخرت، ولی پر بول د کالو ذیروونو، په دنیا کی په اوبو کیږی، او د
واوری په اوبو او د ږلیو په اوبو. وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا. او ته ئی پاك کړی د ټولو ګنهو څخه
"كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ،، لکه چی پاکول کیږی سپین کالی د خیرو څخه
"وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِّنْ دَارِهٖ، او ده ته بدل ورکړی سرای چی قبر دی چی ښه وی تر سرای د ده
په دنیا کی، وَاَهْلًا خَيْرًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَزَوْجًا خَيْرًا مِّنْ زَوْجِهٖ، او ده ته ورکړی اهل چی یا مراد
ملائکة الرحمة دی او یا همسایګان د مړو دی چی هغه بهتروی تر همسایګانو د ده په
دنیا کی او ده ته ورکړی ماینه چی خیروی تر ماینی د ده په دنیا کی، یعنی په جنت کی،
پُوهَسَه: چی زوج اسم جنس دی هر څو ماینو ته شامل دی،، وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ،
او ته دی داخل کړی وجنت ته، وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ، او دی

وَسَاتِي دَ عذاب څخه دَقبر اود عذاب څخه داور يعني دوږخ، داوه دعا د عليه الصلوٰة والسلام حتیٰ عوفؓ وائی چی ارمان په زړه کی داخوښه وه چی کشکی دا مړی زه وای، رواه مسلمؒ، والترمذیؒ والنسائیؒ»

مسئله که چا دغه اوږدی دعاوی نه وی زده، نو دغه قدر دعاء دی وکړی: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلَنَا وَلَهٗ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ۔ **پوهه سه**: چی اکثر عوام دهر ځای دغه قدر دعاء د عربی هم نه وی زده، نو اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آه دی ووائی لکن د مړی نیت دی په کښی کوی قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُسَلِّمُ بَعْدَ الرَّابِعَةِ مِنْ غَيْرِ دُعَاءٍ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

او سلام دی وګرځوی پسله څلورم تکبیر یعنی وجوباً بیله دعاء په ظاهر روایت کی، او بعض علماوو ښه ګڼلی ده دعاء وروسته تر سلام یا اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا الخ یا رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا الخ په مراقی کی وائی چی په دواړو سلامو کی د مړی او د قوم نیت کوی یعنی امام او مقتدیان به د امام نیت هم کوی، **مسئله**: سلام دی په زوره نه وائی د جنازی په لمانځه برخلاف د نورو لمنځو او دعاء دی هم کراره کوی لکن تکبیرونه دی په زوره وائی: قَالَ

وَلَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي غَيْرِ التَّكْبِيْرَةِ الْأُوْلٰى او لاسونه دی نه پورته کوی په غیر کی ده اول تکبیر» او داهم ظاهر الروایه د امام اعظمؒ څخه او ډیر د مشائخو څخه د بلخ ده هر تکبیر لاسونه پورته کوی، **پوهه سه**: چی امام محمدؒ په خپل کتاب موطا کی وائی چی د جنازی د لمانځه سلام پرسری دوه قدره په زوره وائی چی وروسته څرمه سری اوری،، ثم قال وهو قول ابی حنیفةؒ: او امام ابی یوسفؒ وائی چی امام دی نه غایت جهر په سلام سره کوی لکه په نورو لمونځو کی اونه دی کراره وائی، او مقتدیان خودی کراره وائی قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَوْ كَبَّرَ الْإِمَامُ خَمْسًا لَمْ يُتْبَعْ وَلٰكِنْ يَنْتَظِرُ سَلَامَهٗ فِي الْمُخْتَارِ او که امام پنځه تکبیر ووئيله په پنځم تکبیر کی د ده متابعت نه کړه کیږی لکن

مقتدی دی د ده سلام انتظار وکړی په مختار روایت کی،، ولی چی پنځم تکبیر منسوخ دی، او په غیر مختار روایت کی راغلی دی چی څرنګه چی امام پنځم تکبیر وائی مقتدی دی وګرځوی لکن مختار ده داده چی د امام سره یوځای سلام وګرځوی، **مسئله**: که امام سهواً پر دری تکبیره سلام وګرځاوه مقتدیان دی څلورم تکبیر ووائی او بیا دی سلام وګرځوی،، مر، **فَائِدَه**: په دعاء کی د لمانځه د جنازی د ښځی دی تهوله ضمیرونه مونث وائی، ط، **مسئله**: مستحب په صفونو کی د لمانځه د جنازی دا دی چی صفونه دی تاک وی هر څو چی وی حتیٰ په فقهی شرینی کی مسئله ده چی که حاضرین د جنازی د لمانځه شپږ کسان وه. نو په امام پسی دی په اول صف کی دری کسه ودریږی او په دوهم کی دی دوه کسه ودریږی او دریږی به هغه یو سړی د دوهم صف ترشا، حاصل دا چی تر دری (۳) صفه دی کم نه وی.. او که خلک پنځه یا څلور وه چی دری صفه یه نه پوره کوی یعنی د (۶) شپږ وپړ رقم. نو په اول صف کی دی ۲ نفره وی په دوهم کی دی هم دوه ۲ نفره وی او په دریم صف کی دی یو سړی وی، د پنځو په صورت کی به اول دوه وی بیا یو بیا یو، همدارنګه داوو په صورت کی۔ او د څلورو او یا دریو په صورت کی دی کیف یشاء ودریږی، در، قَالَ

وَلَا يَسْتَغْفِرُ لِمَجْنُوْنٍ وَصَبِيٍّ او دعا دی نه کوی ولیونی او نه کچنی ته: کچنی خو اصلاً ګناه نه لری. او د لیونی څخه هغه لیونی مراد دی چی د اصلی لیونی وی ولی چی هغه هم ګناه نه لري، او که جنون عارضی وو یعنی وروسته تر بلوغ آفت د جنون ورپیښ شوی. نو د هغه یاره دی د مغفرت دعاء کوی. ولی چی امکان شته چی په وخت د افاقت کی دی د بعض ګنهونه کړی وی، خصوصاً چی اوائل د بلوغ د ځوان د شهوت وخت دی، او جنون عارضی خو دا ہی نه دی چی ما قبل ګنهونه دی لغوه کړي، ط در، قَالَ

وَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَذُخْرًا

ای الله! ته وګرځوی دغه مړی چی لیونی یا کشنی دی زمونږ د پاره ثواب مقدم او وګرځوی دغه مړی

ولې چې دا وصیت باطل دی، کما قاله الصدر الشهید وفیه رد علی ابن رستم ان الوصیة المذکورة جائزة. قال المصنف:

وَاِنْ دُفِنَ بِلَاصَلٰوةٍ صُلِّیَ عَلٰی قَبْرِهٖ وَاِنْ لَّمْ یُغَسَّلْ مَالَمْ یَتَفَسَّخْ

او که مړی ښخ کړه شو بېله لمانځه ورکولو یعنی خاورې یې هم پرې واچولې. نو پر قبر دده دې د جنازې لمونځ ورکړی کې څه هم غسل نه وي ورکړی چې مړی شوریدلی نه وي، یعنی چونکه د مړي راکښل حرام دی نو په دې سبب ترهغو طهارت د مړي د جنازې د لمانځه د پاره ساقط شو. او په غایة البیان کې وايي چې لمونځ دې هم نه ورکوي، ولې چې بې طهارته د مړي لمونځ نه دی مشروع. لکن قول د مصنف استحسان دی، وعلیه الفتوی، در، ط»

مسئله. که ورې نه وي پراچولې نو دې بیرته مړی را وکاږي غسل دې ورکړي بیا دې لمونځ ورکړي. للقدرة علی غسله کما یکون المیت علی السریر» **پوښتنه** چې شوریدل د مړي کوم معین وخت نه لري بلکه معتبر په تفسخ کې ظن غالب ژوندي دی. ولې چې تفسخ په اعتبار د ابدانو مختلف کیږي. یعنی ډېر چاغ سړی ژر شوریږي او ډنګر سړی ژر نه شوریږي. او په زمانه کې هم فرق لري. یعنی په ګرمۍ کې ژر شوریږي او په یخ کې ژر نه شوریږي.

فائده: پسله تفسخ ولې د جنازې لمونځ نه ورکوي؟ سبب یې دا دی چې لمونځ د جنازې بدن د میت غواړي. او تر شوریدو وروسته خو بدن نشته صرف اجزاء دي.

پوښتنه: په حدیث کې د بخاري په روایت د عقبه بن عامر داسې راغلي دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم پسله اته (۸) کاله شهداو ته داحد لمونځ ورکړي نو په دونه زمانه کې ختما مړي شوریږي بلکه غوښې یې لا هم توئیږي او هډوکي هلاجلا کیږي. **جواب:** بعض محدثین وايي چې صلوٰة په دغه حدیث کې په معنیٰ د دعا دی او دعا مړي ته هر وخت روا ده، لکن صحیح جواب دا دی چې شهداء

داحد نه وو شوریدلي. او نه به وشوریږي نکر یما الهم من الله عزوجل» دلیل یې دا دی چې په خلافت کې د حضرت معاویه رض چې ده غوښته چې شهداء داحد بل ځای ته نقل کړي تا چې هغه ویینه چې په احد کې وه د شهداء احد په هدیرې کې تیره کې، نو چې قبرونه د شهداء احد یې ښخ کړه، نو ویې لیدل چې شهداء رض هم هغسې پرته وه لکه چې اول ایښوول سوی وه»

حتی چې بیلچه ناګاه د ګوتې څخه د حمزه رض ومښته ترګوتې یې وینې راغلې. نو معاویه رض دوی بېرته بټ کړه او د دوی نقل یې صرف نظر کړی، او یا دا لمونځ ورکول خصوصیت دا نحضرت صلی الله علیه وسلم وو، لکه چې په ډېرو ډېرو آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته لمونځ ورکول کما مر د خصوصیاتو څخه دده مبارک دی، او د غه رنګه ځنډول د دفن دده مبارک د دوشنبې د ورځې څخه تر چهارشنبې تر ماښام پورې خصوصیت دده مبارک دی، او سره د دې چې په حق کې د بل چا دونه ځنډول مکروه تحریمي دی، او یا د دې سببه دفن د علیه الصلوٰة والسلام وځنډیدی تا چې ټولو صحابه کرام رض حتی الغائبین ورته لمونځ ورکړي.» ولې چې صلوٰة جنازه پر ټولو اصحاب کرامو رض فرض عین وو، داسې هم نه وه چې فرض د صلوٰة الجنازه دده مبارک په اول ډله سره پوره سو او نور لمونځونه نفلي وه، ولې که داسې وای نو په مسلمانانو تر یوم القیامة پورې وقبر انورته د علیه الصلوٰة والسلام د جنازې لمونځ ورکولای

مهمه فائده: امام طحطاويؒ او نور فقهاءؒ وايي چې جسد مبارک د علیه الصلوٰة والسلام هغسې لکه چې اوله ورځ چې په قبر کې ایښوول سوی دی هغسې تازه پروت دی بل: هُوَحَیٌّ یُرْزَقُ وَیَتَنَعَّمُ بِسَائِرِ الْمَلَاذِ وَالْعِبَادَاتِ» وکذا سائر الانبیاء علیهم السلام: لما جاء فی الحدیث: اِنَّ اللهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَی الْاَرْضِ اَنْ تَأْکُلَ اَجْسَادَ الانبیاء او کما قال: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِذَا اجْتَمَعَتِ الْجَنَائِزُ فَالْاِفْرَادُ بِالصَّلٰوةِ لِکُلٍّ مِّنْهَا

او که سره یو ځای سوې ډېرې جنازې نو هر جنازې یعنی مړي ته د هرې جنازې جلا جلا لمونځ

اَوْلٰی وَیُقَدِّمُ الْاَفْضَلَ فَالْاَفْضَلُ

ورکول اولیٰ او بنه کار دی او بیا دی په ترتیب جلا جلا لمونځ ورکړی چه په مړو کی دی اول افضل د هغو مړو لمونځ ورکوی او ور وسته بیل افضل ته تر اخیره پوری **فَـائِـدَه**: که یوه جنازه د مخه تر نور و را غلی وه که څه هم مړی په مفضولوی خو بیا هم هغه مړی ته دی د مخه لمونځ ورکړی وهکذا ،، م، ط، د، قال

وَاِنْ اِجْتَمَعْنَ وَصُلِّیَ عَلَیْهَا مَرَّةً وَّاحِدَةً

لکه په حرمینو شریفینو کی په سبب د ازدحام او که ډیری جنازی جمع سوی هم او س دا غسی رواج دی لکن په یوه پلا یه لمونځ ورکاوه، یعنی که څه هم خلاف الاولیٰ خو دی لکن روادی او که عذر وو بیا خلاف الاولیٰ هم نه دی، درویش وائی: چی اینبوولوکی د جنا زو دوه صورته دی یو د ظاهر الروایة صورت دی د حضرت الامام الاعظم څخه چی مصنفؒ وائی. قَالَ الْمُصَنِّفُؒ:

جَعَلَهَا صَفًّا طَوِیْلًا مِمَّا یَلِی الْقِبْلَةَ بِحَیْثُ یَکُوْنُ صَدْرُ کُلِّ

او وه دی ګرځوی امام د غه ډیری جنازی یو اوږد صف و طرفته د قبلی په داسی ډول

قُدَّامَ الْاِمَامِ

چی ځیګر د هر مړی مخته د امام وی. او غیر ظاهر الروایة دا دی چی تول مړی دی صف عریض وګرځوی. او امام دی وافضل ته د مړو برابر ودریږی، او ابن ابی لیلیٰؒ وائی چی سر د هر مړی به کښته تر سر د بل مړی وی په اندازه د فضیلت د دوی. او امام د اول مړی د ځیګر برابر ودریږی، امام اعظمؒ وائی چی داسی وضعه ښه ده. ولی چی نبی علیه الصلوٰة والسلام او ابوبکرؓ او عمرؓ په قبرو کی پر د غسی وضع دی او د لانځه وضع پر ترتیب د وضع د قبر ده،، قَالَ الْمُصَنِّفُؒ

وَرَاعَی التَّرْتِیْبَ فَیَجْعَلُ الرِّجَالَ مِمَّا یَلِی الْاِمَامَ ثُمَّ الصِّبْیَانُ

او په اینبوولوکی د مړو جنازی د لانځه د پاره دی مراعات د ترتیب د افضلیت د مړو وکړ سی.

بَعْدَهُمْ ثُمَّ الْخُنَاثٰی ثُمَّ النِّسَاءُ

هغه دادی چی تر هغو وروسته او بیا دی نر ښځیان وی او بیا دی ښځی وی یعنی لکه د نورو لمونځو د پاره صفونه چی هم د غسی ترتیب یه دی. او که چیری نر ان دی وامام ته حرمة او بیا دی کښتیان تر هغو تول نر وه نو حسنؒ د امام اعظمؒ څخه روایت کړی دی چی هغه قول د امام ابو یوسفؒ هم دی، چی افضل د مړو او یا مشر د مړو وامام ته نژدی کښیږدی،، قَالَ الْمُصَنِّفُؒ

وَلَوْ وُضِعُوْا بِقَبْرٍ وَّاحِدٍ وُضِعُوْا عَلٰی عَکْسِ هٰذَا

او که یه متعدد مړی په یوه قبر کی دفن کول یعنی په سبب د ضرورت چی مړی ډیر وه نو د هر یوه د پاره جلا قبر کښل حرج وو، نو د غه مړی دی پر عکس د ترتیب مذکور په قبر کی کښیږدی. یعنی د قبلی و خواته دی افضل فالافضل د مخه این دی. او اکثره علماؤ اولکثره قرانًا دی د مخه این دی لکه چی په شهداؤ کی د احد د غه ترتیب مراعات سوی وو چی په کتابو کی د احادیثو مبارکه وو د دی تفصیل موجود دی،، قَالَ الْمُصَنِّفُؒ

وَلَا یَقْتَدِیْ بِالْاِمَامِ مَنْ وَّجَدَهُ بَیْنَ التَّکْبِیْرَتَیْنِ

او اقتداء دی نه کوی په امام پسی هغه څوک چی امام ته ورسیږی او امام په مابین کی د دوو تکبیرو وی بلکه انتظار

بَلْ یَنْتَظِرُ تَکْبِیْرَ الْاِمَامِ فَیَدْخُلُ مَعَهُ

دی وکړی چی امام بل تکبیر ووائی نو دی په لانځه کی ور سره داخل سی، او دا هم مذهب د امام اعظمؒ او د امام محمدؒ دی او امام ابو یوسفؒ وائی چی څرنګه چی مقتدی حاضر سو د امام سره داخل سی په لانځه کی او هغه تکبیر چی امام د مخه تر حضور د ده ویلی دی هغه تکبیر مقتدی ګویا وئیوی، نو مثلًا که د مقتدی څخه فقط اول تکبیر تیر سوی وو، نو په مابین کی د اول تکبیر او د دوهم تکبیر سره دی اقتداء به پسی وکړی، نو د دی مقتدی تکبیرونه پوره سوه او د امام سره به یوځای سلام ګرځوی پر نیزد امام ابو یوسفؒ ،، او په نیزد

دطرفینو دیوه تکبیر به قضا راوړی، وَعَلیٰ هـذا فقس الصور الاخر»

دلیل د مذهب د امام اعظمؒ او د محمدؒ دادی چې تکبیرونه دجنازی په ځای کی د رکعتو دلا ئحُ ولاړ دی. او په نورو لمونځو کی خو مسبوق حکم دادی چې دی به پسله سلامه دامام تیر سوی رکعتونه راګرځوی، ودا سی نـه ده روا چې مسبوق به په خلال کی دلما نځه دامام خپل تیر سوی رکعتونه راګرځوی، نوپردغه قیاس په لمانځه کی دجنازی چې امام تکبیر تیر سوی تکبیر راوګرځاوه» نو ځکه دی به انتظار د بل تکبیر کوی»

پـوهـسـه: چې مذکور فی المتن ظاهر روایت دی کما فی النهر هـوالصحیح» او کافی والاختیار وقول ته دامام ابو یوسفؒ ور کړیده. او په در مختار کی وائی وعلیه الفتوی والله اعلم بالصواب» قـال المصنفؒ:

وَيُوَافِقُهُ فِي الدُّعَاءِ ثُمَّ يَقْضِي مَا فَاتَهُ قَبْلَ رَفْعِ الْجَنَازَةِ

ودغه مسبوق مقتدی بـه موافقت کوی دامام سره په دعاء کی، یعنی کی اوریده چې مشائخ د بلخ وائی چې دعادی دا بـی کوی چې هر صف والا ددغه صف څخي واوری، او بیا دغه مسبوق دی قضاء راوړی دهغه تکبیرو چې دده څخه تیر سوی وی، دمخه تر پورته کیدو د جنازی نو که دی مطمئن وو چې نه که مابین التکبیرات دعاوی کوم جنازه نه پورته کیږی، نـو تکبیرونه سره د دعاء دی قضاء راوړی. او که بیریدی چې جنازه پورته کیږی نوفقط قضاء سوی تکبیرونه دی ووائی» قـال المصنفؒ:

وَلَا يَنْتَظِرُ تَكْبِيرَ الْإِمَامِ مَنْ حَضَرَ تَحْرِيمَتَهُ

او انتظار د بل تکبیر د امام دی نه کوی هغه څوک چې په وخت کی دتحریمی حاضر وی، لکن دامام سره یو ځای تحریمه نه وی وتیلی، یعنی دی دې تکبیر ووائی او په اول تکبیر کی دامام شریک سو، او سلام دی یو ځای ور سره وګرځوی»

نوټ: ددی کتاب ټول حقوق دکتابت طباعت دمکتبة القراءت سره محفوظ دی»

قال المصنفؒ:

وَمَنْ حَضَرَ بَعْدَ التَّكْبِيرَةِ الرَّابِعَةِ قَبْلَ السَّلَامِ فَاتَتْهُ الصَّلوٰةُ فِي الصَّحِيحِ

او که حاضر سو جنازی ته پسله څلورم تکبیره د امام اما دمخه تر سلام نولمونځ د جنازی څنی فوت سو په صحیح روایت کی، چې د امذهب د طرفینو دی په بزازیه کی وجه دا وائی چې دامام ټول تکبیرونه خو تیر سوی دی نو دی بوازی تر څو نګه تکبیر ووائی، او امام ابو یوسفؒ وائی چې دغه سړی دی فورًا «الله اکبر» ووائی نو ګویا د څلورم تکبیر د امام ونیوی. او چې امام سلام وګرځوی در ی تکبیره نور به دی قضاء راوړی» قبل رفع الجنازة کما سبق فی الاختلاف الاول» قـال فی الخلاصة وغیرها وعلیه الفتوی کما فی ماسبق» ط مرد. قال المصنفؒ

وَتُكْرَهُ الصَّلوٰةُ عَلَيْهِ فِي مَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ وَهُوَ فِيهِ اَوْ خَارِجُهُ

او مکروه دی لمونځ د جنازی پر مړی په مسجد جماعت کی یعنی چې پنځه وخته لمونځ د جماعت په کښی کیږی- په دی کی احتراز

وَبَعْضُ النَّاسِ فِي الْمَسْجِدِ عَلَى الْمُخْتَارِ

دی عیدګاه د مسجد څخه او که مړی په مسجد کی وی او یا د باندی تر مسجد وی لکن بعض خلګ په مسجد کی بی ولاړ وی، **پـوهـسـه**: چې بعض فقهاء وائی چې داکراهت تنزیهی دی. او دې ته ترجیح ورکړی ده. ابن الهمامؒ په فتح القدیر کی او کراهت تحریمی دی علی المشهور مصنفؒ وائی چې دا مختار در روایت دی، درویش وائی چې څرنګه چې مسئله دمړی دلمانځه په مسجد کی ډیره مبتلیٰ بها مسئله ده نو باید مزید تحقیق په وکړه سي.

نو **پـوهـسـه**: چې بعض فقهاء سبب دکراهت دمړی دلمانځه په مسجد کی دا بولی چې احتمال دتلوث دمسجد سته په نجاست دمړی. نو پردی تقدیر کراهت به تحریمی دی» او پردی تقدیر چې مړی خارج المسجد وی او خلګ په مسجد کی وی باید لمونځ دجنازی مکروه نه بی. او کلام دشمس الائمة السرخسی هم پردغه دلالت کوی ...

حیث قال. وعندنا ان کانت الجنازة خارج المسجد لم یکره ان یصلی علیها فی المسجد انما الکراهة فی ادخال الجنازة فی المسجد: انتهی، وقال صاحب المبسوط فان امن التلوث لم تکره علی سائر الوجوه» یعنی که مړی په مسجد کی وی او که نوی، وفی المحیط وعلیه العمل وهو المختار آه. او روایت دامام ابویوسفؒ څخه نقل کړی دی. انه لا یکره صلوة الجنازة فی المسجد اذا لم یخف خروج شیٔ من المیت یلوث المسجد» وزاد الامام الامام الطحطاویؒ چی کراهت هلته دی چی تلویث د مسجد ظن غالب وی او که صرف توهم وو او یا شک وو په هغه سره کراهت نه ثابتیږی،

او بعض فقهاء په سبب کراهت دا بولی چی په دی کی شغل د مسجد دی په داسی شئ دی چی مسجد جماعت د هغه د پاره نه دی یعنی صلوة الجنازه. نو پر دی تقدیر صلوة الجنازه پر ټولو تقدیرو مکروه دی لکن کراهت یې تنزیهی دی، مر»

فائده: ملاعلی قاریؒ په شرح کی د موطا د امام محمدؒ وائی چی مسجد حرام د دی کراهت څخه پر هر تقدیر مستثنی دی، ولی چی مسجد حرام هم د جماعات خمسو ځای دی. او هم د جمعی د لمانځه او هم د اخترو د لمونځوهم د استسقاء د لمانځه او هم د کسوف او خسوف د لمانځه او هم د جنازی د لمانځه وعلیه العمل الی یومنا هذا، درویش وائی چی په دوهم سبب د کراهت که مړی په مسجد کی وی او خلګ د باندی پسی ولاړ وی کراهت نشته او که مړی د باندی تر مسجد وی او خلګ په مسجد کی پسی ولاړ وی بیا مکروه دی، کذا فی الجوهرة .ط. قال الامام الطحاویؒ ثم محل الکراهة اذا لم یکن عذر وان کان عذر فلا کراهة اتفاقاً، نو یو عذر دا دی چی مصلی د جنازی معتکف وی کما فی المبسوط، او بل عذر دا دی چی باران وی کما فی الخانیه» درویش وائی که په مقبره کی فارغ ځای د جنازی د لمانځه بالکل نه وو. او نژدی بل خالی ځګه نه وه، نو دا هم عذر کیدای شی چی لمونځ دی ومړی ته په مسجد محله کی ورکړی او بیا دی مقبری ته یوسی او دفن یې کړی» او هغه چی په حدیث شریف کی راغلی دی. مَنْ صَلّٰی عَلٰی جنازةٍ فی المسجد فلا اجر له» دلالت پر کراهت تنزیهی کوی» ولی چی نهی د لمانځه څخه ئی نه وکړی»

قال المصنفؒ **وَمَنْ اِسْتَهَلَّ سُمِّیَ وَغُسِّلَ وَصُلِّیَ عَلَیْهِ وَاِنْ لَّمْ یَسْتَهِلْ**
او که چیری آواز پورته کړی یعنی وژړل کشنی په وخت کی د زیږیدو نو دی نوم پر کښیږدئ

غُسِّلَ فِی الْمُخْتَارِ وَاُدْرِجَ فِیْ خِرْقَةٍ وَّدُفِنَ وَلَمْ یُصَلِّ عَلَیْهِ
یعنی که څه هم دستی مړ شی، او غسل دی ورکی او لمونځ د جنازی دی ورکی. او که بغاړه نه وکړه یعنی مړ سو پیدا سو غسل خو دی ورکړی پر مذهب مختار یعنی که تام الاعضاء وی او که بعض اجزاء وی، او په یوه کپړه یعنی ټکره کی دی وه پیچی یعنی کفن شرعی نه غواړی او ښخ دی کړی او لمونځ دی نه ورکوی»

پوښتنه: چی د استهلال لغوی معنا پورته کول د آواز دی کما فی قولهم: اِسْتَهلوا الهلال ای رفعوا صوتهم عند رؤیته الهلال» لکه پښتانه وائی هغه د میاشت» لکن مراد د استهلال څخه دلته معنای شرعی ده، یعنی چی یوه علامه د ژوند پر پیدا سی یا وژاړی او یا حرکت وکړی، وغیره لکن په دی شرط که کشنی راسته پید اسو یعنی سر یې د مخه راووتی، نو چی تر ځیګر راووزی، او که چپه وو یعنی پښی ئی د مخه راووتی نو چی تر نامه پوری راووزی»

مسئله: مستهل کشنی هم میراث وړای سی یعنی کی پلار مثلاً د حمل په وخت کی مړ وو، او دا ده څخه هم میراث وړ کیږی چی دی مړ سی، لکن په نیز د امام اعظمؒ د اهلته دی چی استهلال د ده په شاهدی ده دوو نرو د پاره یا د دو ښځو او یو نر ثابت وی» او یاران وائی چی په دی شاهدی یوازی قول د ښځو هم منل کیږی. ولی چی د زیږید و په وخت کی خونر موجود نه وی عادةً، او په حق د لمانځه یوازی قول د مو او یا قول د قابلی هم منل کیږی. البته قول د مور د میراث په باره کی یوازی نه دی قبول په اتفاق سره»

اَللّٰهُمَّ اغفر لِمُؤلفه ولکاتبه ولناشره ولمن طالعه ولمن نظر الیه بعین الانصاف»

بوزی اوکی خپه کوونکی هغه سړی میلمه کی مثلاً او بخیل کور په خپه مړ کړی، او یا هغو مخنوق کور ته ورسی او هلته یه په خپه مړ کړی، نو حاصل د مسئلی دادی چی دغه خانق که ونیول سی او مړ یه کړی د جنازی لمونځ دی نه ورکوی، ولی چی دغه خانق ساعی فی الارض دی په فساد سره، هر قـال المصنف:

وَمُكَابِرِ لَيْلًا بِالسِّلَاحِ فِي الْمِصْرِ او داغه رنګه دی لمونځ د جنازی نه ورکوی هغه چاته چی دهشت ګردی کوی په ښار کی د شپی سره د سلاح، نو دغه سړی چی په دغه حالت کی ووژل سی د جنازی لمونځ دی نه ورکوی

قال المصنف: **وَمَقْتُولِ عَصَبِيَّةٍ** او هلته ووژل سی یو څو لک د قومی جنګ په محاذ کی نو د جنازی لمونځ دی نه ورکوی **فـائـده** لمونځ نه ورکول ودغو کسانو ته دپاره د اهانت د دوی دی، او دپاره د زجر د نورو خلګو دی د سے ورته کار څخه، قال المصنف:

وَإِنْ غُسِلُوا وَقَاتِلُ نَفْسِهِ يُغَسَّلُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ که څه هم ومقتول عصبیة او دغو ټولو کسانو ته غسل ورکول کیږی، او قاتل د ځپل ځان که عمداً وی او که خطاً وی غسل دی ورکړه سی او لمونځ هم ورکړه سی، وهذا مذهب ابی حنیفة ومحمد لانه مؤمن فـاذنب، کالزانی مثلاً وقـال ابویوسف لایصلی علیه زجرًا لغیره، **فـائـده** قاتل د ځان اعظم دی وزرًا تر قاتل د بل چا، **فـائـده**: ملا مسکین په شرح کی د کنز وائی چی مقتول ته د عصبیت دی غسل هم نه ورکوی، وهکذا فی التنویر ط، قال المصنف:

وَلَا عَلَى قَاتِلِ أَحَدِ أَبَوَيْهِ عَمْدًا او لمونځ د جنازی دی نه ورکوی وقاتل ته د یوه د مور او پلار په قصد سره او که په خطاء سره څنګه ووژل سی هغه ته دی غسل هم ورکوی او د جنازی لمونځ هم **فـائـده**: د قاتل احد الابوین مذکور حکم هلته دی چی زوی ظلماً احد الابوین مړ کړی، او کی پلار حربی وو او یا باغی وو او زوی مړ کړی نو دا زوی چی مړ سی غسل او د جنازی لمونځ په اتفاق د فقهاوو ورکوی.

فَصْلٌ فِي حَمْلِهَا وَدَفْنِهَا

دا فصل دی په بیان کی د مړی د جنازی د وړلو او یا د ده دفن کولو

فـائـده: وړل د مړی تر هدیری پوری او دفن د ده فرض کفائی دی، او وړل د مړی عبادت دی. هر مسلمان ته دا ښائی چی ودغه حمل ته دی مبادرت کوی. په احادیثو مبارکه وکی ثابت ده چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم جنازه د سعد بن معاذ رض پر ځپلو مبارکو اوږو اخستی ده، **شکایت**: ملا صاحب چی د جنازی سره ملګری وی خصوصًا چی ځان په یه په خیال غټ ملا وګڼی د اخستلو څخه د جنازی بیخی ځان ساتی او دا ځپل اهانت بولی الا من وفقه الله للمبادرة الی العبادة: قـال المصنف:

يُسَنُّ لِحَمْلِهَا أَرْبَعَةُ رِجَالٍ سنت دی دپاره د وړو د جنازی څلور نر یعنی نه ښځی، ولی چی ښځی خو یو ضعیفی دی او بل ځای د فتنی د نه ورو دی، او په حمل کی د ښځو احتمال د کشف عورت د دوی سته، او د څلور والی وجه یه داده چی د میت تکریم وسی، او په حاملینو بار سپک سی، نو د دی سبب وړل د مړی په شاه او یا پر بوده مکروه دی، ولی چی په دی اهانت د مړی دی، یعنی مړی لکه نور متاع چی خلګ یه په شاوړی یا پر دوابو د اسی ګرځی،

مسئله: که نر نه وه بیا یه ښځی وړای سی، **مسئله**: کشتی مړی دی یو څو لک بر لاسو اخلی او بیا دی و بل ته ورکوی وهکذا الی المقبرة **مسئله**: په اوسنی زمانه کی چی مقبری ډیری لیری دی نو مړی پر چارپائی یا تخته کښیږدی او په موټر کی دی مقبری ته ورسوی، در، قـال المصنف:

وَيَنْبَغِي حَمْلُهَا أَرْبَعِينَ خُطْوَةً او ښائی یعنی هر سړی ته وړل د جنازی څلویښت (۴۰) ګامه بالا تر څه ثواب

په ډېره ی لکن حق دَمړی په څلو یښت (۴۰) ګامه پوره کیږی» قَـالَ المصنفؒ

يُبْدِءُ بِمُقَدَّمِهَا الْاَيْمَنِ عَلٰى يَمِيْنِهِ وَ يَمِيْنُهَا مَا كَانَ

شروع دی کوی یعنی په اول لس ګامه کی په مخنی حصه د جنازی چې طرف ر استه دی، او حامل

عَلٰى جِهَةِ يَسَارِ الْحَامِلِ

د ابو دی پرخپله ر استه اوږه، او راسته طرف د جنازی هغه دی چې پرجهت دچپه طرف دحامل وي ولې چې مړی خودشا پرتخته پروت دی، حاصل داچې حامل خپل چپه طرف دی د باندی ترلګو د جنازی وګرځوی اوچار پائی دی پرخپله ر استه اوږه کښیږدی» قَـالَ المصنفؒ:

ثُمَّ مُؤَخَّرِهَا الْاَيْمَنِ عَلَيْهِ ثُمَّ مُؤَخَّرِهَا الْاَيْسَرِ عَلٰى يَسَارِهِ

او بیا دی یعنی په دوهم لسم ګامو کی دی کښیږدی د پای پښه د جنازی هم پر ر استه اوږه خپل او بیا دی کښیږدی یعنی په د ریم لس ګامه، هغه د جنازی د پای طرف چې چپه دی پرچپه اوږه خپل یعنی ر استه اوږه د جنازی تر لرګو د باندی وګرځوی او چپه اوږه دی د جنازی ترچپه نغل لاندی کړی» قَـالَ المُصنفؒ:

ثُمَّ يَخْتِمُ الْاَيْسَرِ عَلَيْهِ فَـائِـدَه

او بیا دی ختم کړی چپه طرف پرجانب ایسر باندې

فَـائِـدَه: په حدیث شریف کی ر اغلی دی» مَنْ حَمَلَ جَنَازَةً اَرْبَعِيْنَ خُطْوَةً كُفِّرَتْ عَنْهُ اَرْبَعِيْنَ كَبِيْرَةً» او په حدیث کی د ابوهریره رض ر اغلی دی که چا یو وړه جنازه په څلور طرفه سره دَمړی حق یه اداء کړی» قَـال المُصنفؒ

وَيُسْتَحَبُّ الْاِسْرَاعُ بِهَا بِلَا خَبَبٍ وَهُوَ مَا يُؤَدِّيْ اِلٰى اِضْطِرَابِ الْمَيِّتِ

اومستحب ده چابک وړل د جنازی بیله ځغاستې، او خبب هغه دی چې مړی سره بنوروی» په حدیث شریف کی ر اغلی دے په ر وایت د ابن مسعود رض: اِسْرِعُوْا بِالْجَنَازَةِ فَاِنْ تَكُ مَا لِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُوْنَهَا اِلَيْهِ

وان غیر ذالک فشرٌ تضعونها عن رقابکم» **فَـائِـدَه**: په تجهیز او تکفین کی دی هم اسراع (چابکی) کوی» قَـال المُصنفؒ،

وَالْمَشْيُ خَلْفَهَا اَفْضَلُ مِنَ الْمَشْيِ اَمَامَهَا كَفَضْلِ صَلٰوةِ الْفَرْضِ عَلَى النَّفْلِ

او تګ د خلګو ترجنازی وروسته، افضل دی ترتګ ترجنازی د مخه، د

حضرت علیؓ څخه روایت دی، چې زما قسم په هغه خدای دی چې علیه الصلوٰة والسلام په حقه سره نبی ر ااستولی دی» چې فضیلت دتلونکی وروسته ترجنازی پرهغه چاچې دمخه ترجنازی ځی، لکه فضیلت د فرضی لمانځه پرنفلی لمانځه» ابوسعید الخدری ورته وویل چې ته پخپله ر ایه داخبره کوی او که شی دی چې تا د علیه الصلوٰة والسلام څخه اوریدلی دی، حضرت علیؓ پرغضب سو، چې یا ره پخپله ر ایه داخبره نه کوم بل کی ما اوریدلی د غه خبره ده علیه الصلوٰة والسلام نه یو وار، او نه دوه واره او نه دری (۳) واره حتی تراووه (۷) حضرت علی رض حساب کړه یعنی تر اووه (۷)، واره می بالاځندی اوریدلی ده. د ر وایتې والې چې سبب د غضب د علی رض دا او وچې د اخوامور د بینیه دی په هغوکی ر ابی لره څه دخل سته چې نه ئی پوښتنه کوی، قَـالَ المُصنفؒ:

وَيُكْرَهُ رَفْعُ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ

اومکروه دی پورته کول د اواز په ذکر سره، او قرآن شریف دی هم په زوره نه وائی یعنی په وخت کی دوړلو د جنازی.

فَـائِـدَه: مستحبه ده هغه چا لره چې جنازه پرده تیریږی او یا یه وینی چې داسی دی ووائی: سُبْحَانَ الَّذِیْ لَا يَمُوْتُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَالْحَیُّ الْقَيُّوْمُ» او مړی ته دې د خیر دعاء وکړی، او یا دی داسی ووائی: هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ، اَللّٰهُمَّ زِدْنَا اِيْمَانًا وَتَسْلِيْمًا، او ترجنازی وروسته کرار کرار» سُبْحَانَ اللّٰهِ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دې ووائی:

فَـائِـدَه: د دنیا خبری د جنازی دوړو څخه بیا تروخته پوری د دفن مکروه دی. او مکروه تحریمی دی تګ د مخه د جنازی سره. او مکروه دی چې څوک به د جنازی تر لمانځه

دمځه هدیری ځغزار اچی، بحر» قَـالَ المصنفُ:

وَالْجُلُوسُ قَبْلَ وَضْعِهَا وَيُحْفَرُ الْقَبْرُ نِصْفَ قَامَةٍ اَوْ اِلَى الصَّدْرِ

او دغه رنګه مکروه ده ناسته دخلګو مخه تر ایښو ولو د جنازی یعنی دا وبو ځغزه دخلګو ولې چې شاید

وَاِنْ يَزِدْ كَانَ حَسَنًا

په ایښود لو د جنازی به د خلګو کمک ته ضرورت پیدا سی او کښل کیږی دی قبر ترنیمی د قامت د سړی او یا تر ځیګر پورې او که تردی زیات وکښی ښه کار دی چې میت به ښه محفوظ سی، او بد بوئی به ئی د باندی نه راوځی»

فـائِـدَه: په کورکی د مړی ژړا په تویولو داوښکو پروانه لري. ولې چې په حدیث شریف کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په وخت کی د مرګ دځپل زوی ابراهیمؓ په تویولو د اوښکو ژړلی دی. او عبد الرحمن بن عوفؓ چې ورته وویل.. وَاَنْتَ یارسول الله یعنی ته هم ژاړی یا رسول اللهؐ علیه الصلوٰة والسلام په جواب کی ورته وویل.. هٰذه رحمة یعنی دا ژړا منهی عنه نه ده بلکه وسیله او رقت د زړه دی. البته نوح او چغې وهل یا کالی څیرل یا تندی ټکول مکروه دی»

مَسْـئَـلَه: که چا په جنازه کی د تګ اراده نه درلوده نه دی ورته ولاړیږی او په بعض حدیثو کی چې امر په ولاړ و سره راغلی دی هغه منسوخ دی» مَرَاقی» قَـالَ المصنفُ:

وَيُلْحَدُ وَلَا يُشَقُّ اِلَّا فِي اَرْضٍ رِخْوَةٍ

او قبرته دی لحد ورکړل سی او شق دی نه ورکړه کیږی مګر په داسی ځمکه کی چې سسته وی یعنی لحد نه قبلوی نړیږی

پـوښـتـنـه: چې لحد دا بولی چې د قبر د قبلی په خوا کی یوه غاره جوړه کړی. چې مړی په کښی ځائیږی، او مړی ته په هغه لحد کی کښیږدی او خښتی که موجودی وی او یا لرګی که خښتی نه وی ورته کښیږدی او غاړه د خښتو او یا د لرګو په ختو وتړی او بیا خاوری پر واچوي، او شق ودې ته وائی چې اول فراخه قبر جوړکی او بیا په مابین کی د قبر په قدر د مړی یوه چړګه وکینی او مړی په هغه چړګه کی کښیږدی، او بیا خښتی یا لرګی د چړګی پرخوله کښیږدی، نو ور وسته خاوری

پرواچوی نو مسئله داده که ځمکه کلکه وه خو سنت لحد دی، او که ځمکه خوړه او سسته وه یا ښره وه چې د لحد قابله نه وه بیا دی نو شق په کښی وکاږی. قال علیه الصلوٰة والسلام اللحد لنا والشق لغیرنا

مَسْـئَـلَه: که مړی په تابوت کی وی او ښخ یه کړی پروانه لری» م قَـالَ المصنفُ:

وَيُدْخَلُ الْمَيِّتُ مِنْ جِهَةِ الْقِبْلَةِ

او داخل کړه کیږی دی مړی د جهت ځغزد قبلی یعنی مړی دی د قبلی و خواته کښیږدی او دی تر مړی لاسونه لاندی کړي او سر دی راواخلی او په قبر کی دی کښیږدی که لحد وی ځلک دی او که شق وي، او خلاف السنت ده چې مړی پر تخته پروت وی او سر په اول قبرته واچوي او وروسته یه نور بدن، لکه په عربستان کی چې رواج دی، ولې په ورته کار کی شاید د مړی بعض رطوبات خولی او پزی ته ور سیږي، او بل دابې ادبی د مړی ده او بد فالی ده چې اول منزل ته د آخرت تا سر چپه ور واچاوه، کذا فی المدخل ط ، در،

لکن امام طحطاویؒ وائی چې د تابوت سره د مړی ښخول مکروه نه دی چې ځمکه یا خوړه وی او یا نما که وی او که داسی نه وه نو د تابوت سره ښخول مکروه دی په اجماع د علماوو، درویش وائی که مړی سره ټوټه ټوټه وو او په تابوت کی سره جمع کړي وو بیاد تابوت سره ښخول یه جائز بلا کراهت دی، لکه په موجوده زمانه کی چې مسلمانان د امریکا یانو او روسانو په بمباري سره ټوټه ټوټه شهیدان کیږی، او اندامونه ئی په تابوت کی سره ټولیږی» اللهم ارحم علی ملة افغانستان وخلصهم من هذا البلاء النازل علیهم من جانب الامریکیین و الروسیین والملحدین» اللهم انصرهم نصرًا عزیزًا وخذ اعدائهم اخذ عزیز مقتدر» دی ځای ته زه عاصي په داسی وخت کی راورسیدم چې د شعبان د میاشتی ۱۳ نیټه وه او د ځلورو هفتو ځغزه پر لپسی د شپی او د ورځی پرتمولو ښارود افغانستان او پر قریواو پر مسجدو او شفا خانو د امریکا یانو د خوا ځغزه او د تویونکی بمباري روانه ده» او په زرو ښځی او کوچنیان په دی اور کی کبابیږی. یا الله جل شانك دا اور دافغانستان د مسلمانانو د سرو ځغزه په خپل قدرت مړکړی، او تردی سخت اور د امریکایانو، انګریزانو او روسانو،

پوښتنه: چې مقدار د پورته والی د قبر په ظاهر روایت کې په قدر د یوې لویشتې وی، او بعض علماء وائی چې په قدر د څلورو ګوتو دې وي، لکن قدر د یوې لویشتې هله کیدای شی چې قبر ته لږ طولاً او عرضاً ورکړی او ورو سته یه مسنم کړی، ولې کې دلته تحت د تسنیم پر شکل پورته کړي. لکه زمونږ د پښتنو قبرونه نو ترسره چې سیرې تخمیناً یو ګز لوړیږی. او دا ظاهر روایت څخه دی خلاف، بلکه د ظاهر څخه د احادیث مبارکه وو هم خلاف دی، لکن قهستانی وائې چې په یوه روایت کې. چې بالا والی تر یوې لویشتې روا دی، دروایش وائی چې بیا هم اوله طریقه ډیره ښه ده او د اختلاف څخه وتلی ده. او په دی کی شک نشته چې یک لخته تر بیع مکروه دی. او دغه رنګه د قبر په ګچو او یا په سمټو کی نیول اشد کراهة دی. لنهی النبی علیه الصلوٰة والسلام عن تجصیص القبور وتربیعها.

مسئله: دا پروا نه لری چې پر قبر او به وپاشی د پاره د ټینګ والی د خاورو، او بل دا چې علیه الصلوٰة والسلام پر قبر د سعید او پر قبر د خپل زوی ابراهیم او به پاشلې وی، او پر قبر د عثمان بن مظعون رض یه خلګوته وویل چې او به پرو پاشی **پوښتنه**: چې تسنیم د قبر مذهب دی د امام اعظم او د امام ثوری او د امام لیث او د امام احمد او د مالک او امام شافعی وائی چې تر بیع د قبر افضله ده **فائده**: چاچې قبر د نبی علیه الصلوٰة والسلام لیدلی دی هغه مسنم وو، قال المصنف:

وَيَحْرُمُ الْبِنَاءُ عَلَيْهِ لِلزِّينَةِ وَيُكْرَهُ لِلْإِحْكَامِ بَعْدَ الدَّفْنِ

او حرام ده بناء یعنی ګنبده جوړول پر قبر د پاره د زینت، او مکروه ده د پاره د محکم والی پس له دفن د میت، لنهی النبی علیه الصلوٰة والسلام عن ذالک، امام طحطاوی وائی چې کراهت یه تحریمی دی **فائده**: مصنف بعد الدفن وویله د دی معنا داده چې که بناء او قبه د مخه جوړه وه نو د مړی ښخول په هغه کښې کراهت نه لری، کذا فی البرهان.

مسئله: پر قبر ډبرې اچول د پاره د حفاظت د قبر د ړنګ والی او د نبش څخه، او د پښو ځلاندی کیدو د پاره پروا نه لری، وفی الدر، وقیل لا بأس بالبناء علی القبر وهو المختار دروایش وائی چې دا قول د ظاهر المذهب او لا دا شو څخه خلاف دی، وفی التجنیس والمزید لا بأس بتطیین القبور یعنی په خټو ګلول د قبرو پروا نه لری وعلیه الفتوی، قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِالْكِتَابَةِ عَلَيْهِ لِئَلَّا يَذْهَبَ الْأَثَرُ وَلَا يُمْتَهَنُ

او پروا نشته په کتابت سره پر قبر، د دی لپاره چې د امړی د اقربا وو څخه ورک نسی یعنی او اثر یه ورلاړ نسی او خوک بی ادبی ورسره و نه کړی،

فائدة سنیة: کتابت پر قبر و دومره قدر روادی چې پر یوه ډبره او یا د ګچو څخه جوړی سوی تختی باندی د مړی نوم او پیژند نه نوشته کړی او یا یو بیت فارسی یا عربی یا پښتو هم ورسره نوشته کړی، او هغه چې په بعض بلادو کی رواج دی چې د مړی وسرته د ډبری ښخته ودره وي او پرهغه باندی، الحمد لله شریف یا ایت کرسی، یا سورة اخلاص نوشته کړی هغه مکروه تحریمی دی، ولې چې سپی بعض وختونه هدیری ته ورځی او پر دغه ښخته بولی کوي، قال المصنف

وَيُكْرَهُ الدَّفْنُ فِي الْبُيُوتِ لِاخْتِصَاصِهِ بِالْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

او مکروه دی دفن کول د مړی یعنی که کښتنی اوکه لوی، په کور کی خواه په خونه د استوګی کی دده یه دفن کوي، او یا یه په غولی کی د سرای دفن کوي، ولی دا د دفن خاصه د انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام ده، او د نورو مسلمانا نو د پاره مقبره ځای د دفن دی، قال المصنف:

وَيُكْرَهُ الدَّفْنُ فِي الْفَسَاقِيْ

او مکروه دی د فن کول د مړی په فساقی وو کی" په فتح القدیر او مراقی کی وائی پوه سه چې فساقی یو فراخه ځای نه وائی چې په محکه کی جوړکی لکه" زیرخانه" چې ډیر مړی ځایوی او هلته مړی

ودوړی او په کښتی این دی په سربیره په بناء پخوره کړی وی، چی سرې په ولاړې په کښتی د، یدلای سی، وجه دکراهت په داده چی دا خلاف السنة ده، اوبل داچی لحد دمړي دپاره په کښتی نشته، اوبل داچی بیله ضرورت نه پرمړي په یوځای کی اینبول دی، اوبل داچی مړي نروښځی په یوه خونه کی اینبول دي، قال المصنف

وَلَا بَأْسَ بِدَفْنِ اَكْثَرَ مِنْ وَاحِدٍ فِي قَبْرٍ لِلضَّرُوْرَةِ وَيُحْجَزُ

اوپروا نشته په ښخولو کی دبالاتر یوه مړي په یوه قبرکی، چی ضرورت وی مثلاً مړي

بَيْنَ كُلِّ اِثْنَيْنِ بِالتُّرَابِ ذالک من الضرورات، اوپه مابین کی ددوو مړودی خاوري حائل گرځوي، ولحچی علیه الصلوٰة والسلام داُحد په غزا کی شهداء داحد دغسی دفن کړه،

پوهسه: که ضرورت وودرې ځلو، یا بالادی هم په یوه قبرکی دفن کړی، نو که مړي یوجنس وه یعنی نران وه مثلاً نوافضل فالافضل دی دقبلی وخواته اینږدی، اوکه مختلف وه نو اول دی لوی خلک دقبلی وخواته کښیږدي، بیادی کشنیان، اوبیادی نرښځیان اوبیادی ښځی، لکن لږ حائل دی په مابین دمړوپه خاور وسره وی، درویش والی چی علامه امام طحطاویؒ په مابین کی ددفن په فساقی کی اود دفن د ډیرو مړو په یوه قبر کی په فرق یه نه دی پوه سوی نوځکه یه پرمصنفؒ اعتراض کړي دی کما یظهر بالرجوع الی ص۵۰ من تلک الحاشیة ولا یخفی الفرق علی ما ذکرناه، قال المصنفؒ

وَمَنْ مَاتَ فِي سَفِيْنَةٍ وَكَانَ الْبَرُّ بَعِيْدًا اَوْخَافَ الضَّرَرَ

اوکه څوک مړسو په کښتی کی اوځکه لیری وه، اویا بیره دضرر پرمړي وه مثلاً چی تغیر

غُسِّلَ وَكُفِّنَ وَصُلِّيَ عَلَيْهِ وَاُلْقِيَ فِي الْبَحْرِ یا بد بوئی به وکړي نو غسل دی ورکی او کفن

دی هم ورکی اولمونځ دجنازی په هغه کښتی کی ورکی اوبیادی دریاب ته سپرد کی،

مسئله: که دمړي اجزاء خاوري سوه نوروادی چی بل مړي داول مړي په قبرکی ښخ کړي

مسئله: دمړي اړکوما تول او یا بل ځای ته نقل کول نه دی روا که څه هم اهل ذمروي. اود قبرو سره غور ځول چی نبش یه بولي هم نه دی روا که څه دډیري زمانی قبروی، او دا اهل حرب دمړو نبش روادی کما فعل بهم فی وقت بناء المسجد النبویؐ فی المدینة

قال المصنفؒ **وَيُسْتَحَبُّ الدَّفْنُ فِيْ مَحَلٍّ مَاتَ بِهٖ اَوْقُتِلَ فَاِنْ نُقِلَ**

اومستحب دی دفن دمړي په هغه محل کی یعنی په هدیره کی دهغه محل چی مړي هلته مړوی یا قتل سوی

قَبْلَ الدَّفْنِ قَدْرَ مِيْلٍ اَوْمِيْلَيْنِ لَا بَأْسَ بِهٖ وَكُرِهَ نَقْلُهٗ اَكْثَرَ مِنْهُ وی اوکی نقل کړی په قدر دیوه میل یا دوه میله پروانشته، اومکروه دی نقل دمړي بالاتردوه میله،

مسئله: که دمړي وځای نه یوه نږدی هدیره وه اوبله هدیره یوڅه لږ گوښه وه لکن په لیري هدیره کی ډیر صالح کسان مدفون وه نو په نږدی هدیره کی دفن کول اولی دی، اوکه په جوار د صالحانو په دفن کول اولی دی. بحرالرائق که څه هم حکم جزمی په یوه خوا نه دی کړی. لکن ددرویش په عقیده جوار الصالحین هدیره اولی ده لانه انفع للمیت

پوهسه: چی استحباب ددفن په محل کی دموت، یو دلیل یه دادی چی ځکه بل ته ځای دمړوده نونقل دمړي تکلیف بلافائده دی، او تاخیر ددفن هم په نقل کی راځي او دا تاخیر مکروه دی،

اوبل دلیل یه هغه دعائشی رضی الله تعالیٰ عنها حدیث دی، چی ددی ورور عبد الرحمنؓ په شام کی مړووو اومړي دهغه یه مکی شریفی ته نقل کړی وو، اودا رضی زیارت ته ورغله نودی رض داسی وویل که ستاد دفن کار زما په لاس کی وای ما ته دشام څخه نه نقل کولی بلکه هلته می دفن کولی. درویش والی: چی مسئله دنقل دمړود یوه هیواده څخه بل هیواد ته سره دبعد مسافت په اوسنی زمانه کی چی دافغانستان مسلمانان په پردو هیوادو

کې تلل پاکستان او ایران او هلته شپې اوورځې د هجرت تیرې وې، او د دوی یو قریب څوارلس
نوقدرت مند خلګ به افغانستان ته وړل د دې سببه چې د دوی اکثراً په کیمپونو کې
وسې نه وې. نو که دا کیمپ بووخت مهاجرین څندی و لاړې سی خلګ د پاکستان یا
ایران دغه هدیرې سره اواره وې. او د کینت کار څندی اخلي یا کورونه پر جوړوي، که څه
هم قبرونه معلوم وی او هدیره برحاله وي، نو د دې کبله دوی خپل مړې داخل ته د افغانستان
وړي چې هلته چې د دوی د هجرت موضوع پای ته ورسیږي او افغانستان ځای د
امن او امان وګرځي، نو د مصنف د قوله سره سم چې تر دوه میله بالا نقل یې مکروه دی، باید
دا نقل مکروه نه وي، منګر که نوی اجتهاد ورواوای او دغه فوق الذکر عذرونه په نظر کې ونیول
سوی وای نو دغه نقل بې مکروه نه بللای، ای لانها اعذار واضحة، بلکه وروسته به راسي
چې بعد الدفن یه هم په عذر نقل د مړي و بل مکان ته روا دی، لکن دا حکم هلته دی چې
مړي ته به یعنی په اول مسئله کې تغیر بد بوئ وغیره نه پیښیږي ورنه بیا مکروه دی»

قال المصنف: **وَلَا يَجُوْزُ نَقْلُهٗ بَعْدَ دَفْنِهٖ بِالْاِجْمَاعِ اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ**
او نه دی روا نقل د مړي بل ځای ته پس له دفنه په اجماع سره مګر هغه وخت روا دی که د قبر

الْاَرْضُ مَغْصُوْبَةً اَوْ اُخِذَتْ بِالشُّفْعَةِ ځمکه یا تول هدیره مغصوبه وي
یعنی په زوره خلګو مړي په ځمکه کې د یوچا بیله اجازې دفن کوله، نو بیا روا ده چې مړی
د قبر څخه را او باسي بل ځای ته دی یوسي یعنی د سړي خپلې مملوکې ځمکې ته یا وقفي
هدیرې ته، او یا دغه ځمکه چې قبر یې په کښې دی چا په شفعه وګرځوله د مشتري څخه یعنی
یوچا د بل چا څخه ځمکه په بیعه اخستې وه او مړی یې په کښې ښخ کی د دې ګاونډي سړي د شفعې
دعوه پرې وکړه او هغه ځمکه یې وګټله نو مشتري دی خپل مړی وروسته تر دفن بل ځای
ته نقل کړي، در» او که پر قبرو باندې د یو سړي، روڅه یاد وځي نقشه را غلل نو خلګو ته
روا ده چې د مړو هډوکي و غیر بل ځای ته نقل کړي» در» و لندرة وقوعه لم یذکره المصنف

في ضرورة نقل الميت بعد الدفن» قال المصنف:

وَلَوْ دُفِنَ فِيْ قَبْرٍ حُفِرَ لِغَيْرِهٖ ضَمِنَ قِيْمَةَ الْحَفْرِ وَلَا يُخْرَجُ مِنْهُ
او که قبر جوړ سوی وو د بل ژوندي د پاره او بل چا خپل مړي په کښې دفن نو ضامن کښېلو
د قبر دی ورکړي یعنی یا د ترکې څخه د میت او یا د بیت المال څخه لکن مړي دی نه کاږي، نو که
ځمکه فراخه وه نو د بل چا په قبر کې مړي ایښوول مکروه دي، او که ځمکه د متبرکې تنګه وه بیا
کراهت نشته لکن قیمت د حفر به ورکوي»،

فائده: په ژوندکی د ځان د پاره قبر جوړول روا دي چې عمر بن عبد العزیز او
ربیع بن خثیم او نورو علماوو د ځان د پاره په ژوند قبرونه جوړ کړي وه، قالوا و یوجر
فیه» قال المصنف:

وَيُنْبَشُ لِمَتَاعٍ سَقَطَ فِيْهِ وَلِكَفَنٍ مَغْصُوْبٍ وَمَالٍ مَعَ الْمَيِّتِ
او د مړي قبر دی سره وشي په سبب د مال چې په قبر کې لوېدلی وي که نقد وي که واج، او دغه

وَلَا يُنْبَشُ بِوَضْعِهٖ لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ اَوْ عَلٰى يَسَارِهٖ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ
او نه قبر دی د مړي شي په سبب د کفن مغصوب یعنی که چیرې مالک د کفن بیله اخستلو
د کفن نه راضي کیدی، او د دی د پاره دی د مړي قبر نه شي چې مخ پر قبله یې نه وي ایښوول
سوی او یا پر چپه بغل ایښوسوی وي،

فوائد شتی

فائده: چې خلګ د مړي د دفن څخه فارغه سي مستحب دا ده
چې نیژدې د قبر دومره د کښېني دومره اندازه چې او بن حلالیږی او غوښه
یې ویشل کیږي، او به هم دغه وخت کې مړي ته دعا کوي او تلاوت د قرآن کریم دې کوي،
په حدیث شریف کې راغلي دي چې مړی په دوی سره الفت طلبوي او په دعاء یا قرائت سره
یې نفع اخلي، وهابیان او نور دوی ته ورته کسان دا کار مکروه بلکه بدعت سیئه یې بولي»

فائده: ډیرو متاخرینو څخه دمذهب وائې چې څرنګه چې خلګ د دفن څخه د میت فارغه سی هر سړی د خپل په کار پسی ځي، او د مړی قریب د خپل کار ته پریښ دی او دا مکروه ده چې د مړی پر کور سره غونډیږی **فائده**: په حدیث شریف کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې به د دفن څخه د مړی فارغ سو، نو به وقبرته ودریږ او خلګو ته به ئې وویل "استغفروا الله لاخیکم وسلوا له التثبت فانه الآن یُسئل" یعنی تاسو طلب د بخښنی وکی د خپل ورور د پاره، او سوال وکی د خدای جل جلاله څخه د ده د پاره د تثبت دعا وکړی یعنی پر قول ثابت چې کلمه مبارکه ده د ثابت والی په جواب کی د ملکو ولی چې د ده څخه اوس سوال کول کیږی یعنی چې مونږ ځندی ولاړ سو. **فائده**: په مضمرات کی وائې چې نقل د مړی پسله دفنه دری (۳) قسمه دی یو ئې په جائز بالاتفاق ده، او بل وجه یه حرام بالاتفاق ده، او په بله وجه کی اختلاف، اما الاول، چې مړی په ځمکه مغصوبه کی دفن سوی وی، او یا کفن مغصوب وی، او مالک د ځمکی نه راضی کیږی مګر په نقل د مړی د ده د ځمکی څخه او یا مالک د کفن نه راضی کیږی مګر په کښلود کفن د ده څخه نو روا ده چې مړی را وکاږی، که ځمکه مغصوبه وه نو بل ځای ته دې نقل کړی او که کفن مغصوب وو هغه سړي ته دی کفن ورکړی او مړی دی په بل کفن کی هلته دفن کړي، واما الثانی نګه مور یا پلار په وو وائې چې زمونږ زوی د قبره راو کاږی چې مونږ یه مخ وو وینو، یعنی چې دی ئې دفن کړه دوی نه وه حاضر، او یا مور پلار وغیره وو وائې چې مونږ خپل مړي خپلی هدیری ته وړو. نو دا نا روا ده بالاتفاق، واما الثالث، چې قبر ته دیوی خوا او به ور ننو تلی وی نو بعض فقهاء وائې چې روا دی چې مړي د دغه ځای څخه بل ځای ته نقل کی. ولی چې داسی روایت راغلی دی چې صالح بن عُبید الله رح چا د قریبانو څخه په خوب ولیدئ، او صالح په خوب کی هغه نه وویل چې ما د دغه قبر څخه بل ځای ته نقل کړي، ولی چې زه او به او بو په عذاب کړم، نو قریبانو نو چې قبر وشنی نو هغه نقل د ده چې ځمکی ته خرما وو په اوبو کی وو نو عبد الله بن عباس فتوی ورکړه چې نقل یه کړي"، او فقیه ابو جعفر الطحاوی چې سنه دی نقل کوی"

فائدة: بعض فقهاء رح وائی چې دفن د مړی د شپی مکروه دی که بیله عذره وي، لکن صحیح دا ده چې کراهت خو نسته که څه هم دفن کول د ورځی اولی دئ، ولی چې علیه الصلوٰة والسلام د چار شپی په شپه دفن سوی دی، او عثمان رض او فاطمه رض او عائشه رض هم د شپی دفن سوی دی،

فائدة: تلقین د مړی ور وسته تر دفن شافعیه مستحسن بولي" او بعض فقهاء د حنیفیا نو ئې حسن بولي، هغه داسی چې مړي ته دی وو وائی: چې ای فلانی د فلانی بنځی زوی یه ته در یاد که چې ته خود دنیا څخه پر کلمه د" لا اله الا الله محمد رسول الله، وتلی یه، او ته په دنیا کی راضی وی" په الله ربا، او په اسلام راضی وی دینا، او په محمد راضی وی نبیا، او په قرآن راضی وی اماما، او کی دمو، نو مرنه وو ور معلوم منسوب دی کی و حواء ام البشر دی تلقین په باره کی طبرانی او روند حدیث راوری دی، لکن هغه حافظ سیوطی ضعیف بللی دی مګر ابن الصلاح وائی چې د دی حدیث تائید په عمل د اهل شام سوی دی، لکن د پښتنو په وطنوکی دا تلقین نه دی رواج ولی چې ډیرو فقهاوو د حنیفیانو په دی تلقین سره نه دی قائل، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب"

فائده: د جنازی سره د قریب او یا یو همسایه چې صالح وی تلل افضل دی تر نفلی لمونځو او که نه قریب وو او نه صالح سړی وو بیا نفل افضل دی **فائدة سنیة** په مراقی کی وائې چې مکروه ده ناسته د قریبا نو د مړی په دروازه کی د سرای یا په یوه کوټه کی چې خلګ د تعزیت او فاتحی د پاره ور ته راځی، ولی چې دا دا عما لو څخه د جاهلیت دی او علیه الصلوٰة والسلام هم منع ځندی کړیده، او وها بیان هم ورته خبره کوی، لکن امام طحطاوی وائې چې دا هلته مکروه دی چې دا اقرباء د میت غالی او کمبلی هواری کړی، او د دوی د کور څخه چای راوزی او د غمی دخوارو د ی تیاری وغیره، نو دی ته اشاره کړیده سید په شرح کی چې وائې: ولا بأس بالجلوس لها" ای للتعزیة الی ثلاثة ایام من غیر ارتکاب محظور" او نهر فائق والا د تجنیس څخه نقل کړی دی او وائې: ولا بأس بالجلوس لها ثلثة ایام او مراقی وائې چې مکروه ده ناسته د فاتحی د پاره په مسجد کی لکه د پښتنو چې عادت دی"

درویش وائی: ملایانو هم خولې پټې نیولې ده، ځکه چې په مسجد کې د فاتحې په وخت کې
سر پر سر چاپانی راځي اوکور چې اواري وي او بالښتان پراته او د نسوارو تولې دا زم
پرتې وي.
درویش وائي: د اقرباء د مړي په کور کې ځای نه لري او فاتحه خوانان او قریبان او خښ
کان خوځنا فاتحې ته راځي، نو که اقرباء د مړي په مسجد کې بیله ذکر سوې کار و کښیږي او
خلک چې راځي تلاوت د قرآن کیږي او مړي ته دعا کوله کیږي او د نیا یې خبرې او نور مجلسونه
نه وي، نو امکان لري چې داعنبي فاتحه خواني به په مسجد کې روا وي بسبب العذر المذکور.
فائده: په مراقي کې وائي چې مکروه د میلمستیا د کور څخه د مړي، للسرور لا للشرور، وهي بدعة مستقبحة. لانها شرعت
اوپه بزازیه کې وائي چې مکروه دی میلمستیا د کور
د مړي په اوله ورځ او په دوهمه ورځ او په دریمه ورځ. درویش وائي چې په اول ورځ کې
دی همسایگان د مړي کورته ډوډی وغیره ور استوي کما یدل علیه الحدیث الشریف او
برهان حلبي وائي چې په دی باره کې یو حدیث ستنه چې روایت یې امام احمد او ابن ماجه کړی
دی په سند صحیح سره د جریر بن عبدالله رض څخه چې هغه وائي: کنا نعد الاجتماع الی اهل
المیت وصنعهم الطعام من النیاحة، یعنی من فعل الجاهلیة. برهان حلبي وائي چې دا حدیث
خو صرف د اولې ورځې پر کراهت الضیافت دلالت کوي، ولې چې جاهلیت والا هم دغسې کوله
بلکه په بزازیه کې په کتاب الاستحسان کې وائي: وان اتخذ طعاما للفقراء کان حسنا، او په
الاستحسان کې د فتاوی خانیه کې وائي: وان اتخذ ولی المیت طعاما للفقراء حسنا الا ان یکون
فی الترکة صغیرا فلا یتخذ ذالک من الترکة.
درویش وائي چې حاصل د کلام دا دی او **اختلاف** دا دی چې د ضیافت او خیرات فرق
ستنه، ضیافت هغه میلمستیا ده چې ورځې، غوښې او تکلفی خوارې برابر کړي او اغنیاء د کلي
او کوڅې او غنیان قریبان راوغواړي، او د فقیرانو دعوت په کښې نه وي، دا سې ضیافت د
مړي په کور کې مکروه دی. پر او لوشپو کې ولې دا سې ضیافت خو د خوشحالۍ وي لکه واده وغیره
په وخت کې کیږي د غم په وخت کې نه کیږي، او خیرات دا بولي چې یو اندازه غوښې مثلا

کړي او ډوډی پخه کړي او د کلي کوڅې یا نورو مسکینانو ته خبر ورکړي او هغوی
باندی کړي او په وخوري د کراهت نه لري که څه په اوله ورځ وي: وبهذا یحصل التطبیق
خیرات
بین الاحادیث واقوال الفقهاء، والله اعلم بالصواب.
فائده تعزیت یعنی دل اسائی ورکول: چې په اصطلاح یې مونږ فاتحه بولو
مستحب ده نرو او ښځو لره: قال علیه الصلوة والسلام من عزی
اخاه بمعصیته کساه الله من حلل الکرامة یوم القیامة: وقال علیه الصلوة والسلام
من عزی مصابا فله مثل اجره **فائده**: یو وار چې فاتحې ته سړی
ورسی نو نه بنائی ده لره چې بله پلا ورځي: کذا فی المراقی: والصبر ...
فائده سړي ته چې مصیبت ورسیږي بالفور دی انا لله وانا الیه راجعون
ووائي. ولې چې په حدیث شریف کې روایت په بخاری کړی دی
علیه الصلوة والسلام وائي: انما الصبر عند الصدمة الاولی. یعنی کامل صبر په شیځ
اول تکلیف دی چې سړي ته ورسیږي، او په بل خبر کې راغلي دي. که د چا هغه مصیبت
چې ده ته رسیدلی وو، بیا له خلو بنتو کلو وروسته یاد سو او هغه څخنی کلمه تکرار کړي
د ومره ثواب لري لکه چې په ورځ کې د وقوع د مصیبت.
فائده: طبراني او نورو ډیرو محدثینو روایت کړی دی چې علیه الصلوة
والسلام فرمائی که یو مسلمان ته د قریب د مرگ مصیبت ورورسیدی نو دی په یا د هغه
مصیبت چې زما د رحلت په سبب ده ته رسیدلی دی، فانها من اعظم المصائب.
چې زما د وفات مصیبت تر ټولو لوی مصیبت دی و لله در القائل.
اصبر لکل مصیبة وتجلد: واعلم ان المرء غیر مخلد، یعنی صبر کوه ای مسلمانه
د هر مصیبت په وخت کې او ځان قوي کړه یعنی زړه قوي لره، او په دی پوه سه چې هیڅ سړی
په دنیا کې د همیشه توب حق نه لري، واذا ذکرت مصیبة تسلو بها: فاذکر مصابک
بالنبی محمد: او که ستا په یاد وو مصیبت چې سته زړه د لاسائی ورکوي. نو ته بیا د که
د زړه د دلاسائی د پاره هغه مصیبت چې تا ته په وفات کې د علیه الصلوة والسلام د رسیدلی

رسیدلی وو» وقالت فاطمة الزهراء رضی الله تعالیٰ عنها بعد موت ابیها صلی الله علیه وسلم: سه. مَا ذَا عَلٰی مَنْ شَمَّ تُرْبَةَ اَحْمَدٍ
اَنْ لَّا یَشُمَّ مَدَی الزمانِ غَوَالِیَا

ترجمه! یعنی هیڅ حرج نسته پرهغه چاچې بوی کړی خاوری دقبرانور د علیه الصلوٰة والسلام پر دی کی چې بوی نه کړی د زمانی په تیریدو کی» غوالی «خوشبوئی چې یو بهترینه مرکبه خوشبوئی ده، ولې چې د علیه الصلوٰة والسلام دقبر د خاورو خوشبوئی تر ټولو خوشبوی گانو د دنیا بالاده» سه

صُبَّتْ عَلَیَّ مَصَائِبُ لَوْ اَنَّهَا
صُبَّتْ عَلَی الْاَیَّامِ صِرْنَ لَیَالِیَا

او توی کړه سوه پرما ډیرمصیبتونه یعنی په سبب دمرگ دعلیه الصلوٰة والسلام که چیری توی سوی دغه (وای مصائب) پر ورځو هغه به شپې گرځیدلای» صدقت رضی الله تعالیٰ عنها وصلی الله تعالیٰ علی ابیها وسلم سه قَالَ الشَّاعِرُ: په مدح کی دعلیه الصلوٰة والسلام:

افاقها گردیده ام مهرتبان ورزیده ام ؛
بسیارخوبان دیده ام اما توچیزی دگری ؛ عاشق ذات انورنبوی. حسن تلوکانی چه خوش گفته است:
تعالی الله زهی شاه یگانه ؛ زهی بخت وکمال جاودانه ؛ چه گویم وصف آن ذات کریمش ؛ که پیدا نیست مثلش درزمانه ؛
طفیلش گشته موجودات عالم ؛ غرض ذاتش دگرباقی بهانه ؛ بنوراوست روشن جسم آدم ؛ نه دریائی کمالش راگرانه ؛
زمن یارب بروح پرفتوحش ؛ رسان هردم دو دعا جاودانه ؛ رسول حق تعالیٰ اوست بیشک ؛ حسن آورده ایمان غائبانه ؛

درویش وائی: چې ډیری مسئلی په دی باب کی چې ډیرتفصیل یه غوښتی ماپه دې مختصره شرح کی صرف نظر کړی، تاچې طبع دقارئینو کرامو ملال نه سی پیدا. وعلی الله التکلان ومن یتوکل علی الله فهو حسبه

فَصْلٌ فِیْ زِیَارَةِ الْقُبُوْرِ

دافصل دی په بیان کی د زیارت دقبرو یعنی دمړو د زیارت. قال المصنف
نُدِبَ زِیَارَتُهَا لِلرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ عَلَی الْاَصَحِّ مندوب دی یعنی ښه کاردی زیارت دقبرو نرو لره او ښځو لره پر اصح روایت. لکن پرقبر به نه ختیږی، او بعض فقهاء وائی چې ښځو لره زیارت دقبرو حرام دی. اول ددوی جزع او بې صبری ډیره ده. او بل ښځې خصوصاً د اخیری زمانی به زیارت ته تلل بهانه ونورو کارو ته وگرځوی. لکن مصنف په ملاتی کړو چې که څه هم په اول کی نر او ښځې دواړه منع وی د زیارت څخه دمړو. لکن وروسته چې رخصت راغلی او نهی منسوخه سوی. نو دا رخصت نر او ښځو دوړو ته شامل دی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام: ذُوْرُوْا الْقُبُوْرَ تَذَکَّرُکُمُ الْمَوْتَ: تاسی زیارت دقبرو کوئ چې تاسی ته مرگ در پیاد وی، او په بل حدیث کی داسی راغلی دی: کُنْتُ نَهَیْتُکُمْ عَنْ زِیَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا وَاجْعَلُوْا زِیَارَتَکُمْ لَهَا صَلٰوةً عَلَیْهِمْ وَاسْتِغْفَارًا لَهُمْ، یعنی زه وم چې تاسی می منع کړی واست د زیارت څخه دقبرو پس تاسی زیارت کوئ دقبرو او گرځوئ زیارت ستاسی قبرو لره دعا گوئی ومړو لره او طلب دبخښی ددوی دپاره او دغه رنگه د محمد بن النعمانؓ څخه مرفوع حدیث مروی دی: مَنْ زَارَ قَبْرَ اَبَوَیْهِ اَوْ اَحَدِهِمَا فِیْ کُلِّ جُمُعَةٍ غُفِرَ لَهٗ وَکُتِبَ بَرًّا، رواه البیهقی، ترجمه: که چا زیارت دمور او پلار او یا د دواړه دقبرو او یا دیوه ددوی په هر جمعه کی. نو بخښنه به وکړه سی ورته، او دی به نوشته سی برًا یعنی دمور او پلار فرمان وړونکی:

پوهسه: چې «بر» مقابل دعاق دی. قَالَ الْاِمَامُ الطحطاویؒ اخرج ابن ابی الدنیا والبیهقیؒ فی شعب الایمان، عن محمد بن واسعؒ قال بلغنی ان الموتی یعلمون بزوارهم یوم الجمعة ویومًا قبله ویومًا بعده، وقال ابن القیم الاثر لسوان الاحادیث

والاثار تدل على ان الزائر متى جاء علم به المزور وسمع سلامه وانس به،
یعنی هر وخت چې قبر ته د مړي ورسي نو هغه مړی په پوهیږی او دده سلام اوری او ورسره
الفت کوي، وَرَدَّ عَلَیْهِ، او دده د سلام جواب ورکوی، نو دا عام دی که صاحب القبر
شهید وی او که نه وي، او په دی حدیث شریف کی وخت اینبول د وړخی د جمعی نسته،

فَائِدَه مستحب ده چې که چیری پر قبرو پښی لګید لی باید چې پښی ئی لڅی وی، او
مړی ته به دعا کوی او یا به تسبیح او یا دی دقران پاک یو سورت وائی: وفی الشرح چې که
چیری لاره وه بیله پښو اینبو لو پر قبرو په سبب د ضرورت پروا نه لري، قال الامام
الطحطاویؒ: ولا یکره المشی فی المقابر بالنعلین وکرهه احمدُ: **پوهسه**: چې د دی
عبارت معنا داده چې صرف په ادیړه (هدیره) کې د چوتهو سره تګ مکروه دی، دا معنا نه ده چې
پر قبرو د نعلینو په ښریدو کې کراهت نسته، ولی چې هغه مکروه اتفاقاً دی الا لضرورة،

مسئله سړی دی په هدیره کی شپه نه کوی، ولی په هغه کی سړی ته دهشت پیښیږی،
مسئله ، څوک چې د قبرو زیارت ته ورځي قصد به ئی رضا د خدای او اصلاح د خپل
زړه وی او نفع د مړی په دعا سره او یا په تلاوت د قرآن سره، **مسئله**: قبر دی نه
مسه کوی او نه دی ښکوی، فانه من عادة اهل الکتاب، او بل مسه کول خصوصیت د
حجر اسود او رکن یمانی دی او ښکول خاصه د حجر اسود ده، او د ښځو د زیارت په باره کی قدیماً
او حدیثاً د علماوو اختلاف دی، چنانچه مصنفؒ د ښځو د پاره هم مندوب بولي. او د قاضی
خان څخه سوال وکی چې ښځی زیارت ته تلای شی او که نه! قاضی ورته وویله چې ته
ئی د صحت او د فساد پوښتنه کوی بلک د دی پوښتنه وکړه. چې څونه قدر لعنت پر
دوی اوري، په فتاوی تاتارخانیه کی وائي چې څه وخت چې ښځه د کوره وزی یعنی
بیله ضرورت شرعی نو دا په لعنت کی د خدای او د ملائکو ده، او د هر طرفه په دی پسی
شیطانان وي، او چې هدیری ته ورسی روح د مړي پر دی لعنت وائي، او چې د کور وخواته

راروانه شی هم د خدای په لعنت کی به وي، او بدر الدین العینیؒ په شرح کی د بخاری
بیان دی چې او بز د بیان یې په زیارت کی د ښځو کړی دی په اخیر کی داسی وائي: چې زیارت
د قبرو و ښځو ته مکروه دی بلکه دی وائی چې په اوس وخت کی حرام دی، خصوصاً د بنارو
ښځی ولی چې د هغوی په وتو کی قطعي فتنه او فساد سته کما ترمنا اوط، د س، تحرز ایسی
نقل کړی دی که ښځی چې زیارت د قبرو ځی نیت یه غم نوی کول وي، او ژړا وي، کما جرت
به عادتهن، نو دوی ته زیارت د قبرو نه دی روا، او هم د غه دی محمل او معنا د هغه
حدیث صحیح چې علیه الصلوٰة والسلام فرمائي: لَعَنَ اللّٰهُ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ، او که د دوی
نیت عبرت اخستل وی او تبرک په زیارت د قبرو او صالحو بندګانو وی او مخالفت
الشرع کار هم نه کوي، نو پروا نه لري چې سپین سري وي، او د ځوانانو ښځو ته مکروه دی،
لکه جماعت ته ورتله و د ځوانانو ښځو کما فی کتب الفقه، قال ط، والاصح ان
الرخصة ثابتة للرجال والنساء کما قال المصؒ: لان السیدة فاطمة رضی الله تعالیٰ عنها
کانت تزور قبر حمزة رض کل جمعة وکانت عائشة رضی الله تعالیٰ عنها تزور قبر اخیها
عبد الرحمٰن رض بمکة،

درویش وائي: چې زموږ د زمانی ځوانانی ښځی دی باید پر هغو مبارکا نو ښځو قیاس نه
شی او نه په اوس زمانه کی عالم ته روا ده چې ځوانانو ښځو ته فتوی
د جواز ورکړي، کما لایخفی فتامل، در، وفی المراقی چې سنت دی زیارت د قبرو په ولاړه
او دعا و مړو ته هم په ولاړه لکه چې علیه الصلوٰة والسلام د جنت البقیع هدیری ته چې به
ورتلی نو په ولاړه بی داسی وویله: السلام علیکم دار قوم مؤمنین وانا ان
شاء الله بکم لاحقون اسئال الله لی ولکم العافیة، او په شرحه کی د مشکوٰة وائي
چې زائر له ښائي چې قبر ته دی نږدی دریږي، که ولاړ او که ناست وی لکه د ژوندو
سره کړه، په قهستانی کی وائي چې پر برابر د مخ دی دریږی، او امام غزالیؒ په احیاء العلوم
کی وائي چې مستحبه په زیارت کی د قبر داده چې مخ دی د مړی وخواته وګرځوی او شاه
وقبلی ته، او په حال کی د دعا دی هم دا غسی ولاړ وی: وعلیه عمل عامة المسلمین،

اووهابيان وَائی چی په حال کی د دعادِی مستقبل القبله درېږی. **پـوه سـه**

چی په حدیث شریف کی چی "دَارقومٍ مؤمنین" رَاغلی دی په حذف سره د مضاف یعنی اهل

دارقومٍ مؤمنین لکه چی پـه بل روَایت کی صراحةً رَاغلی دی، اوابن عبدالبرؒ به سند صحیح

سره د ابن عباسؓ څخه روایت کوی چی رسول الله صلی الله علیه وَسلم فرمائی: مَا مِنْ مُؤمِنٍ

يَمُرُّ بِقَبْرِ اَخِيه المؤمِن كان يعرفه فی الدنيا فَيُسلم عليه الاعَرَفَه وَرَدَّ عَلَيه السَّلامَ"

پـوښـتـنـه: آن حضرت صلی الله علیه وَسَلم ان شاء الله ولی ووئیله ! او سره ددی

چی الحاق دمړو سره خو یقینی دَی **جـوَاب**: بعض عُلماء وائی ویل د مشیت صرف

تـبرګا وَه، اوبعض علماء وائی: ای عـلی اَتـم الحَالات" اود عافیت معنیٰ دا ده چی د سخط

څخه د خدایٔ ورځ د اخرت محفوظ وی. فـتَـالَ المُصنفُ:

وَيُسْتَحِبُّ قِرَاءَةُ يٰسٓ لِمَا وَرَدَ اِنَّهٗ مَنْ دَخَلَ الْمَقَابِرَ وَقَرَءَ

اومستحب ده یعنی زیارت کونکی لره ویل دسورة یٰسٓ. ولی چی په حدیث کی رَاغلی دی چی روایت

يٰسٓ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْهُمْ يَوْمَئِذٍ وَكَانَ لَهٗ بِعَدَدِ مَا فِيْهَا حَسَنَاتٌ

یـه انسؓ کړی دی. چی ده ویل چی رسول الله صَلی الله علیه وسلم داسی وویل چی په

تحقیق چی څوک داخل سی هدیرو ته او ووائی سورة یٰسٓ یعنی ثواب یـه وَمړو ته دَمقبری ورکړی

خدایٔ بـه سپک کړی د دغو مړو څخه په دَغه ورځ عذاب اوبیا به عذاب څندی پورته کړی

اووی به قاری لره ثواب یَه قدر دَمړو د دغی هدیری اوحسنات،

پـوه سـه: چی په ورځ دجمعی هم عذاب د برزخ څخه پورته کیږی، اوبیا نه راګرځی

عذاب پر مسلمانانو" ط، **پـوه سـه**: چی دا ثواب او رفع د عذاب هلته صورت

نسی چی سـری هدیری ته ورسی اولیس شریف هوری ووائی **فـائـدَه**: ددی

حدیث څخه دا معلومه سوه چی قرائت د قرآن پـه هَدیره کی روادی بلکه مستحب دی،

اووهابیان پـه هدیره کی قرائت دقرآن نارَوَا بولی، امام محمدؒ وَائی چی دلیل د استحباب

په ورود د اثارِ نبویه ووَدی په دی باب کی. قال الطحطاوی وهوالمذهب المختار، کما صرح

به الفقهاء" فی کتاب الاستحسان، وملاعلی قاریؒ چی وائی چی په دی باره کی صحیح حدیث

نه دی راغلی د منلو وړ نه ده پـه مقابل کی د تصریح د امام محمدؒ اود نورو فقهاوو. فـتَـال

وَلَا يُكْرَهُ الْجُلُوْسُ عَلَى الْقَبْرِ لِلْقِرَاءَةِ فِي الْمُخْتَارِ وَكُرِهَ الْقُعُوْدُ

اونه ده مکروه ناسته پرقبر د پاره دقرائت دقرآن، ولی تروَلاړی په ناستی قرائت ښه په تسلی او

عَلَى الْقُبُوْرِ لِغَيْرِ قِرَاءَةٍ وَوَطْؤُهَا وَالنَّوْمُ عَلَيْهَا وَقَضَاءُ

اطمنان ویـل کیږی، اومکروه ده ناسته پرقبرو بیله قرائت دقرآن، اودغه رنګه مکروه ده تر پښو

الْحَاجَةِ عَلَيْهَا وَقَطْعُ الْحَشِيْشِ وَالشَّجَرِ مِنَ الْمَقْبَرَةِ وَلَا

لاندی کول دَقبرو اوداغه رنګه مکروه دی خوب کول پرقبر اودغه رنګه مکروه ده بلکه اشد کراهة بولی یا غوټ

کول پرقبر، اودغه رنګه مکروه دی ریبل د لند و

بَأْسَ بِقَطْعِ الْيَابِسِ مِنْهُمَا

وښو اوږی کول دلندی دَرختی د هـدیری. او

پروا نشته په ریبلو کی دَوچو وښو اویا دَوَچی دَقبرو،

فـائـده: په کتابو کی وَائی چی په لمړشی کی چی سروی هغه لره ژوند سته، اوچی

ژوندی وی هغه تسبیح د خدای پَاک وائی: کریمه، وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَ

لٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ، اوچی مړسی نو تسبیح یه قطعه کیږی، نو افسانانو اود حیوانانو

مرګ اوډو نه خو معلوم دی، اود نباتاتو ژوند دا دی چی شین اولوند وی، چی وچ سو نو

مړسی او تسبیح یه قطع سی، اود بوټو ژوند دا دی چی روغ وی لکه درود کانړی چی د بره مَاته

سی نو مړه سی اوتسبیح ویل یه قطع سی، نو بناءً علیٰ هذا ولبنه دا دی چی شنه اولانده

وی یا درخته د هدیری چی شنه اولنده وی، تسبیح د خدای جَل سُلطانه وَائی نو په دی

تسبیح وَیلو کی د دوی مړو ته نفع رسیږی، نو ځکه یـه قطع مکروه دَه، نوته فکر وکړه،

چې په تسبیح دَوَبنو اود رختو اوروغو کا نړومړو ته نفع رسیږي، نو په قرائت دقرآن
دا انسانانو مسلمانانو دخوا څخه به مړو ته څرنګه نفع نه رسیږي، نود وهابیا نو دا قول
چې قرائت دقرآن نفع ومړي ته نه رسیږي اوقرائت دقرآن دقبروسره مکروه دی، دشریعت
نبوي ﷺ څخه مخالفه خبره ده،

درویش وائي: چې هم دا راز دي چې مسلمانان دخپلو مړو وړو ته شنغزي او یا نوري
درختي سشني کوي او ترلوي والي پوري پالنه کوي، او هم دا بېړدي چې په وخت کي د پسرلي
خلک دخپلو قریبا نو پرقبرو د غنم داني یا اور بشي پاشي چې راشنه سي، او مړي ته ئي
فائده ورسیږي، او د دي بیان څخه هغه مسئله هم توضیح سوه چې په فقه شریفه کي وائي
چې په ګچ او یا په سمینټو د قبرو جوړول نا روا دي، ولې چې بیا نات نه پرشنه کیږي
واللّٰه اعلم بالصواب،،

مسئله شرعیه ابو حفص عبکری وائي چې مسلمان کولای سي چې ثواب دخپل و بل چا ت
وبخښي که هغه بل څوک مړوي او که ژوندی، بیله دي چې د ثواب
څخه دعامل کم سي، دارقطني دعلي رضي الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړي دي چې نبي علیه الصلوٰة
والسلام وویل، چې څوک چې تیریږي پر هدیرو باندي او قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ، یوولس ۱۱
واره ووائي او ثواب یه د هدیري و مړوته و بخښي، نو دي قاري ته به خدایٰ ورکړي ثواب
په قدر د مړو د دي مقبري، او طبراني او بیهقي په شعب الایمان کي دابن عمرؓ څخه روایت
کړي دي. چې هغه وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: اِذَا تَصَدَّقَ اَحَدُکُمْ
بِصَدَقَةٍ تَطَوُّعًا فَلْیَجْعَلْهَا لِاَبَوَیْهِ فَیَکُوْنَ لَهُمَا اَجْرُهَا وَلَا یَنْقُصُ مِنْ اَجْرِهٖ شَیْءٌ، ط،
که څوک صدقه وکړي یوه صدقه نفلي نو دي د هغي صدقي ثواب د مور او پلار د پاره
وګرځوي نو خدایٰ مور او پلار ته د ده اجر او ثواب ورکوي بیله دي چې د ثواب څخه د عامل
دي څه شي کم کړي،،

الٰهي! درویش وائي چې زما په تو له عمر کي چې ۸۳ کاله ته رسیږي ما هرڅه نوافل د عبادا تو
بدنیه وو، او یا قولیه وو یا مالیه وو، ما کړي دي د هغو ټولو ثوابونه زما مور او پلار ته ورسوي
آمین آمین

پوښتنه: چې معتزله وائي چې هیڅ څوک نشي کولای چې دخپل عمل هر عمل چې وي
وګرځوي هر څوک چې وي او دوی دا ایت خپل دلیل بولي، وَاَنْ لَیْسَ لِلْاِنْسَانِ
اِلَّا مَا سَعٰی، بل چا لپاره **والجواب عنه**، چې دا ایت منسوخ دی قال ابن عباسؓ په هغه ایت
وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّیَّتُهُمْ بِاِیْمَانٍ، الایه، ولې دیې څخه دا معلومه سوه چې
منه، اولاد په سبب د صلاح د ه ابا ؤ و جنت ته داخلیږي، او عکرمهؓ وائي چې دا مذکوره ایت
خاص دی په قوم سره دابراهیمؑ او دموسیٰؑ. او هرچه امت محمدﷺ دی هغوته ثواب د ماسعو
اود ماسعی لهم، ورکول کیږي، او نور جوابونه چې شمیر ۲ شپږ ته رسیږي، په حاشیه کي
دطحاوي مطالعه کړه،،

فائده لازم بروایه، امام مالکؒ په موطاء کي وائي چې حضرت علیؓ پر قبر سر ایښو او څنګ په
او فقیه ابو جعفر طحاويؒ په شرح کي د معاني الاثار موصول
حدیث د نافعؓ روایت کړي دی، چې ابن عمرؓ پر قبر کښېنستی، او امام مالکؒ وائي چې دفعله
څخه دعليؓ اودابن عمرؓ څخه دا معلومه سوه چې د جلوس پرقبر چې نهي څندي راغلي جلوسه
د پاره د قضاء حاجت یعني بول وغیره، واخرج الطحاوي حدیثا مرفوعا بروایة رجال ثقات،
عن زید بن ثابتؓ: قال انما نهی النبي صلی الله علیه وسلم: عن الجلوس علی القبور
لحدث او بول او غائط، او فقیه ابو جعفر طحاويؒ چې اعلم د خلګو دی په مذهب دابو حنیفهؒ
وروسته تر دیرو خبرو یه داوئیلي دي، وهذا قول ابي حنیفةؒ وابي یوسفؒ ومحمدؒ او
ملاعلي قاريؒ دا سي فیصله کړیده چې نهي د ناستي څخه پر قبر نهي تنزیهي دی او فعل
دعليؓ اودابن عمرؓ د پاره دبیان د رخصت دی،،

درویش وائي: چې په قول د ملاعلي قاريؒ ټوله حدیثونه، او اقوال مختلفه د فقهاؤ
سره جمع کیږي، فینبغي ان یفتیٰ به واللّٰه اعلم بالصواب، عاصي وائي سه
دا کتاب به په پښتنو کي ویل کیږي.. زما هره وکې به په قبر کي خاوري کیږي،،
که بو ورور ما ته دعا د مغفرت کي، خدای دي دي هم و بخښي په اخرت کي،،
غرض نقشیست کز ما یاد ماند: که هستی را نمی بینم بقائی: مګر صاحبدلی روزی ز رحمت: کند در حق این مسکین دعائی:

ـ آ ـ ـ تھے ہم مثل بلبل سیر گلشن کر چلے ؛ دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنا گھر چلے ؛

احب الصالحین ولستُ منهم ؛ لعل الله یرزقنی صلاحًا ؛

بَابُ اَحْكَامِ الشَّهِيْدِ

باب ثابت دی په بیان کی د احکامو د شهید. **پوهه سه**: چې شهید پر وزن د فعیل دی نو یا په معنیٰ د مشهود لهٔ دی، ولې چې ملائکه ده ته شاهدی اداء کوی په دخول د جنت سره د پاره د اکرام د ده، او یا په معنیٰ د مشهود علیه دی، ولې د ده ویني او تپونه پره شاهدی اداء کوی چې د حق په لاره کی مړ سو، او یا فعیل په معنا د فاعل دی، لشهوده عند الحق جل شـ ـ ـ ق عنده بما شاء الله، او یا د دی سببه چې روح ئې دار السلام ته داخلیږي فی الحال بخلاف ارواح غیره من المؤمنین، ولې چې د هغو حضور دار السلام ته په ورځ د قیامت کیږي، او یا د دی سببه چې پر دی شهادة الحق والاروو نو ځکه شهید سُو، او یا د دی سببه چې دی حاضریږي وهغه کرامت ته چې د ده د پاره خدای پاک د تیار کړی، وهذا حاصل ما فی المراقی والطحطاوی لکن بعض مذکوره معناوی خاص په هغه شهید پوری دی چې لاعلاء کلمة الله شهید سی. قال المصنف

اَلْمَقْتُوْلُ مَيِّتٌ بِاَجَلِهٖ عِنْدَنَا یعنی بای سبب کان یعنی لم یبق من اجله ورزقه شیء، یعنی په نزد د اهل السنة والجماعت، او معتزله وائی چې د مقتول اجل قاتل پر قطع کړی، او که قاتل نه وای وژلی نو دی به ژوندی پاته وای. قال المصنف

وَالشَّهِيْدُ مَنْ قَتَلَهٗ اَهْلُ الْحَرْبِ او شهید په شرعه شریفه کی که په مباشرت سره مړ کړی لکه چې په توری یا نیزه او یا په کلاشنکوف وغیره یه وولي، او یا تسبباً وي لکه په اوبو کی غرق کړی، یا اور پر توی کړی یا اهل الحرب مسلمانان بمبار کی لکه چې په هم دا اوس امریکایان خذلهم الله ولعنهم

چې مسلمانان د افغانستان نر اونبجي بمباروي، او په دی اوریه کیا بوي، قال المصنف

اَوْ اَهْلُ الْبَغْيِ اَوْ قُطَّاعُ الطَّرِيْقِ اَوِ اللُّصُوْصُ فِيْ مَنْزِلِهٖ لَيْلًا او یا باغیان د حکومت اسلامی مړ کړی. او یا په غله قتل کړی چې لاره نیولې وي. او یا په کور کی غله مړ کړي د شپې **پوهه سه**: چې قید د شپې اتفاقی دی ولی اکثره

وَلَوْ بِمُثَقَّلٍ غلا د شپو په وخت کی ترسره کیږی ورنه کی د ورځی غله مړ کړی هم شهید دی. که څه هم په درانه شی یه مړ کړی لکه لوبیه د برچی ور ایله کړی، قال المصنف:

اَوْ وُجِدَ فِي الْمَعْرَكَةِ وَبِهٖ اَثَرٌ او یا په جنګځای کی مړ پید اسو نو که دا معرکه د اهل حرب وی او که بغاتو وي او که د قطاع الطریق وی او پر ده باندی یو اثر او علامه د جنګ هم وی لکه، تپ، سوځل، ماتوالی د سر یا د پښو وغیره، او یا یه تر سترګو او یا تر غوږو وینی راغلی وي،

فَائِدَه حربی هر هغه کافر ته وائی که هندو وی او که یهودی وي که نصرانی وی وغیرهم چې تر حکم د امام المسلمین لاندی نه وي، او که د دغو طوائفو څخه څوک په دار الاسلام کی او سیدی او تر حکم د امام المسلمین لاندی ئې ګذاره کوله هغه ته ذمی وائي او که د دار الحرب څخه په پاسپورت او اجازه دار الاسلام ته راغلی وو هغه ته مستأمن وائي. د

فَائِدَه څرنګه لکه مسلمانان چې مامور دی په جنګ د اهل حرب، دغه رنګه مامور دی په قتال د بغاتو، نو حکم د اهل الحرب او بغاتو یو دی، ط. قال المصنف

اَوْ قَتَلَهٗ مُسْلِمٌ ظُلْمًا مصنف قتل وایه، ولې که یو سړی د بامه ولویږی او مړ سي او یا دیوال وغیره پر ونړیږی مړ سی، او یا په اور سره مړ سي او یا په اوبو کی غرق سی. نو دا ټول کسان په احکامو کی د دنیا شهیدان نه دی البته فی الاخرة شهیدان دي، او په ناحقه یه مړ کی، نو کی په رجم کی مړ کی او یا په قصاص کی مړ کړي هغه شهید نه دی چې ده ی پر چا حمله وکړی، او یا پر مال د چا حمله وکړی، نو هغه سړی مدافعةً وار پر مخه کړی او حمله کوونکی مړ کړی **عَمَدًا** په قصد سره نو که چا بل څوک مړ کی په خطاء

هغه شهید نه دی کله خوک چې بیکار کوی او پرمري و مبتلی «

مسئله: قال صاحب البحر: من وجد مذبوحا ولم یُعلم قاتله او وجد مقتولا في خلاء ولم یعلم قاتله فهو لیس بشهید لانه لا یدری اقتل ظالما او مظلوما عمدا او خطأ.

مسئله: که یو انسان زوخي مرکړي او بیا دا زخیل مرسیبی مرکړی هغه شهید دی او قصاص چې نشته هغه په سبب د عارض دا بیت یا سیدنۍ دی « قال المصنف

بِمُحَدَّدٍ ومرینه کړي په نه وتمی لکه توره، خنجر، چړه وغیره **پوهسه**: چې دولو کولو یاد کالاسته فولی هم بمحدد کی داخل دی، اگرچه تیره برای په به عارض داورد بار تودی «. نو په محدد د سره یه شبه عمد والیستی لکه چې په ډرند ډبره یه مرکړی.

قال المصنف: **وَكَانَ مُسْلِمًا بَالِغًا خَالِيًا عَنْ حَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَجَنَابَةٍ**

او دی مړ یموی شو مسلمان احتراز دی که ځوی کافر وی مسلمان وی، او بالغ به وی احترازدی د ځوی ځنځه. او خالي به وي معنوی د حیض او نفاس او جنابت ځنځه، ولی چې کشي مقتول ته او شي حائضي یا نفساء یا جُنب ته غسل ورکول کیږي. او نوی کفن هم لعني پیچلو کالوکی دی نسخه وي. قال المصنف:

وَلَمْ يُرْتَثَّ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ او دې مقتول د زنګ نه وی کړی پیله پای ته رسیدو د جنګ «

پوهسه: چې مرتث شرعا هغه خولک دی چې د صف ځنځه د جنګ ایستل سوی وي او یا دوا یه سوی وي، او یا خوړلي ترکړی وي د باندی ترصف انقتال، نو مرتث سری شهید دی په حکمونوکی د اخرت یعنی ده ته هغه ثواب موعوده د شهد و ورکړه کیږی حتی تواشرائط ټول موجود وي نو دا غه مقتول په حکم کی د شهداء د احد دی. قال المصنف

فَيُكَفَّنُ بِدَمِهِ وَثِيَابِهِ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ بِلَا غُسْلٍ نو کفن دی کړه سی په دوینو یعنی وینی دی نه ځندی و منیځی او په د کالوچې غوستي یه وي. او د جنازی لمونځ

دی ورکړی بیله غسل، هم دا غه حکم کړی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم په شهداء کی د احد «. بعض خلک پوښتنه کوی چې شهداء خو ژوندی دی به حکم د دی آیت کریمه "بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ"، او ژوندو ته خو د جنازی لمونځ نه دی روا **جواب** دوی محسوب احیاء دی په احکامونوکی د اخرت کما یدل علیه قوله تعالی: عِنْدَ رَبِّهِمْ. او د جنازی لمونځ خو د احکامو ځنځه د دنیا دی، نو ځکه د دوی ترکات وویشل کیږی او ماینی ئی بیا بل میړه کولای سي چې د اټول او هم دا رنګه نور د احکامو ځنځه د دنیا دي « **سوال**: لمونځ د جنازی خو د پاره د طلب د بخښنی دی د مړي د پاره او شهداء خو خدای جل جلاله بخښلی دی **جواب** که داسی وای نو نبی علیه الصلوة والسلام ته ئی ولی؟ د جنازی لمونځ ورکاوه: مع انه معصوم عن الذنب«، او کشي ته ولی د جنازی لمونځ ورکوی او سره د دی چې پرکشي خو هیڅ ګناه نشته، بلکه عمومی حکمت د جنازی د لمانځه. اداء د حق د میت ده چې په ذمه کی د مسلمانانو لازم دی، هر څه چې ... قال المصنف:

وَيُنْزَعُ عَنْهُ مَا لَيْسَ صَالِحًا لِلْكَفَنِ كَالْفَرْوِ وَالْحَشْوِ او کاږی دی د ده ځنځه هغه شیان چې صالح د کفن نه وي. لکه پوستین او چپنه چې په مابین کی پنبه وي، او هر وا ئی چې خولی دی هم ځندی وکاږی او بوټونه دی هم ځندی وکاږی. او ازار ولش وائی چې بایله پوبښ او چپنه. او صدری دی هم ځندی کاږی، لکن پرتوګ دی نه ځندی کاږی»، قه «

قال المصنف **وَالسِّلَاحُ وَالدِّرْعُ وَيُزَادُ وَيُنْقَصُ وَكُرِهَ نَزْعُ جَمِيعِهَا**

لکه توره، توپک، کلاشنکوف وغیره، او زغره د جنګ او سیني قمیص او زیاتوی دی بله جامه که موجود. حاجي د شهید ترکفن سنت کمی وی، او کمی دی کی که د شهید ځنځه بعض کالي که ترکفن سنت سا لاوي د پاره د حق د ورثه وو، او مکروه دی کښل د ټولو جامو د شهید، ولی دا کار خلاف السنه او خلاف الاجماع وي، نو مکروه تحریمي دی « در «

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما ولجمیع المؤمنین والمؤمنات آمین آمین آمین

قال المصنف: **وَيُغَسَّلُ اِنْ كَانَ جُنُبًا** که جنب وو نو غسل دی ورکړی شي په شهادت سره

چه دا مذهب دی د امام اعظم او بیا نو غسل دی ورکول شي. په صحیح حدیث کښې ثابت دی چې حنظلة بن راهبؓ چې په

ورځ د احد شهید شو. علیه الصلوٰة والسلام ووئیل چې ما ولیدل ملکې چې غسل

ورکوي حنظلة بن ابی عامر ته په مابین کښې د اسمان او ځمکې په اوبو د ورېځې په

لوښو کښې ده سپینو زرو، ابواسیدؓ وائي چې مونږ ورغلو او د حنظله رض مرې مو وکتلو د سر نه

وڅڅېدلو اوبه توئیدلې، نو علیه الصلوٰة والسلام د دې بیا چې وړې شهید ته ولې ملائکو غسل

ورکوي، نو بیا د حنظله رض ماینې ته سړي واستاوی هغې ورته ووئیل چې دی چې د کوره وتلو جنب

وو، په بل روایت کښې راغلې دي چې ده چې د جنګ اوغږ واورېدلو نو دېره تلواره وه غسل

نه وکړی،، قال المصنف:

اَوْقُتِلَ صَبِيًّا اَوْمَجْنُوْنًا او یا کوچنی او لیونی مړه کړه شول. ولې لوی ته غسل ځکه

ورکوی چې هغه ګناه کاره کیدلای شي، او کوچنی او لیونی

لره خو ګناه نشته نو په معنا کښې د شهدا او د احد نه دي، چې پرېښد او لویان خلک وه. قال المصنف

اَوْحَائِضًا اَوْنُفَسَاءَ اَوْ اُرْتُثَّ بَعْدَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ

یا ښځه چې شهیده شوه حائضه یا په نفاس کښې وه. او دلیل په هغه د جنب دلیل دی، او یا وځنډيدو

یعنې ژوندی وو، پس له ختمیدو د جنګ، قال المصنف:

بِاَنْ اَكَلَ اَوْشَرِبَ اَوْنَامَ اَوْتَدَاوٰى اَوْمَضٰى عَلَيْهِ وَقْتُ

دا ارتثاث صورت دا دی چې یا خوراک وکړی او یا او به وڅښلې او یا بیده شي او یا دوا وکړي، او یا وخت

الصَّلٰوةِ وَهُوَ يَعْقِلُ اَوْ نُقِلَ مِنَ الْمَعْرَكَةِ لَا لِوَطْيِ الْخَيْلِ اَوْ

د لمانځه پرتېر شي او دی په هوش کښې وي، او یا د جنګ د ځایه نقل کړی بیله دی سببه چې اسان

په پښو لاندې نه کړي بلکه د پاره د دواء وغیره نقل کړه شي، نو که د جهت نه د خوف د

پښو لاندې نقل کړه شو هغه مرتث نه دی غسل دی نه ورکوي **پوهه سه**: چې پوازې

هغه وخت په بې هوشۍ کښې ژوندی پاتې شو او پرې وخت تېر شو نو هغه بیا نه دی مرتث بلکه قدرت په ادا د لمانځه غواړي نو غه تېر شي په هوش کښې خو و مګر

قدرت په هیڅ ډول پر اداء د لمانځه نه د لوي حتی مرتث نه دی یعنی غسل نه ورکول

کوي،، قال المصنف:

اَوْصٰى اَوْبَاعَ اَوِاشْتَرٰى اَوْتَكَلَّمَ بِكَلَامٍ كَثِيْرٍ او یا یې وصیت وکړی خواه

په کار و د دنیا وي یا د اخرت لکن دا مذهب دی د ابویوسفؒ او امام محمدؒ چې په وصیت سره

د امور د اخرت مرتث نه دی، او فقیه ابوجعفر طحاویؒ چې په وصیت سره هله مرتث ګنړل

کیږي کله وصیت تر دوو خبرو بالا وو او که په یوه خبره یا په دوو خبرو وصیت وکړي مرتث نه دی

او یا یې یو شی رانیوی او یا یو شی خرڅ کړي او یا یې ډېرې خبرې وکړې، قال المصنف

وَاِنْ وُجِدَ مَا ذُكِرَ قَبْلَ انْقِضَاءِ الْحَرْبِ لَا يَكُوْنُ مُرْتَثًّا

او که دا مذکوره شیان او کارونه پیدا شوه د مخه د جنګ تر ختمیدو نو بیا مرتث نه دی حتی چې

غسل دی نه ورکوي، قال المصنف:

وَيُغَسَّلُ مَنْ قُتِلَ فِى الْمِصْرِ وَلَمْ يُعْلَمْ اَنَّهُ قُتِلَ بِمُحَدَّدٍ

او غسل دی ورکوی هغه چا ته چې په ښار کښې مقتول پیدا شي، او دا یې نه معلومېږي

ظُلْمًا اَوْقُتِلَ بِحَدٍّ اَوْقَوَدٍ وَيُصَلّٰى عَلَيْهِ او غسل دی ورکوی هغه چا ته چې دی په محدد ظلماً

وژل شوی دی او یا په حد زنا کښې او یا په قصاص کښې او لمونځ د جنازې دی هم ورکړي

فَائِدَهٔ هغه کسان چې مرتث ګڼړل شول هغه په امورو کښې د دنیا شهیدان نه دی یعنی غسل به ورکوي او په امورو کښې د اخرت: من الانعام والمراتب

۱۲ چی درنده په مړکړي ۱۳ چی هډوکی ني په ستوني کی بند سي او څندي مړسي ۱۷
چی په بندي خانه کی مړسي او ظلمًا بندي وي ۱۵ په ډېرو وهلو کی د حکومت یا جیل
۱۶ چی ماني یا الرم یا الندي یا عفونت ... او څندي مړسي ۱۷ په طلب کی د علم
۱۸ چی ... هم په تصنیف اخته وي او مړسي ... لکن بعضو خو بیله
۱۹ بل چی په فتح وهلو کی مړسي ۲۰ هغه خوک چی هره شپه د ... اجرت اختلو
او دغه دعا لولي: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لِيْ فِي الْمَوْتِ وَفِيْمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، نو کړدي په خپل
بستر مړسي هم ثواب د شهید لري، درویش وائي چی دغه مذکوره شیان اکثر سیوطي
ذکر کړي دي او بعض درویش پر قیاس کړي دي، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

درویش وائي: چی د روژی مبارکی میاشتی ته تخمینًا ۱۰ ورځي پاتی وي د کال ۱۴۲۲ھ
د چارشنبې په ورځ زه د کتاب الصوم و شرحی ته راورسیدم، اللّٰهم وفقني لفعل الخیرات
واحفظني من فعل المنکرات. والحمد للّٰه معطي التوفیق والصلاة والسلام علی نبیه
الصدوق وعلی آله وصحبه أهل الصدق والصفاء أجمعین.

خوشخبري

تفسیر ایوبي حنفي ۱۵ جلده

مکتبة القراءة والتجوید کاسي روډ کوئټه

المعانية للشهداء دوی د نورو شهداو سره شریك دي.

فائده سنیه: پوهسته: چی علامه جلال الدین السیوطي په خپل کتاب تثبیت کی په نقل د طحطاوي شهداء د اخرت نور کسان هم راوړي دي چی د عنه کسان په صحیح حدیثو کی هم په ډله کی د شهداء د اخرت راوړه سوي دي صراحةً یا اشارةً وقیاسًا.

۱ **مبطون:** هغه چی د ګېډی د مرض مړسي یعني یا د استسقاء په مرض یا د اسهال په مرض ۲ **غریق**، دی چی په رود یا خاکی ولوېږی او غرق سي نو مړسي.
۳ صاحبُ الهدم چی دیوال یا خونه پر ونړېږي او مړسي ۴ ذات الجنب په مرض مړسي، دا مرض په هغه دانی دی چی په داخل کی د ګېډی بغل پیداسي او ډېر سخت د دوږ سره وي او بعض فقهاء وائي چی ذات الجنب سکاروی ته وائي. او لوېشتی ته هم وائي.
۵ چی بنځه په جنګ کی مړسي یعني د لنګېدو په وخت کی خواه عیال یې په نس کی پاتی سي تړه مړسي، یا متصل په لنګېدو پسې مړسي. ۶ په مرض د سل مړسي چی دیو مرض دی په سږي کی پیدا کېږي او بدن کرار کرار مخ پر نقصان وي او بدن یې هم زېږېږي. ۷ او یا په دِق مړي چی هغه مرض دی چی په انه کی دانی پیداسي او تبه ورسره وي، چی په اوسني اصطلاح یې تور ټوخی بولي. او دا مرض د سرطان یو قسم دی چی مایوس العلاج دی، او په ډېره زمانه سړی ځندی مړکېږي یعني طولاني مرض دی لکه السل.
۸ چی په مسافرۍ کی څوك مړسي. ۹ او یا په صرع سره مړسي، چی په اصطلاح د یېریانو مرض یې بولي ۱۰ په محافظت کی د ځان او یا مال او یا د ماینی مړکړه سي ۱۱ چی په عشق کی څوك مړسي که عشق حقیقي وي، لکه د خدای او علیه الصلوٰة والسلام عشق، او یا په مجازي عشق کی د زړیاد سبب مړسي، لکن شرط دادی چی د حرام کار څخه پرهېز ورسره ملګري وي، لکه چیرته له پسه شهوت سره او زنا او لواطت، او بل شرط دادی چی دی به خپل عشق پټ ساتي
پوهسه: چی سبب د عشق مجازي خو حرام دی لکن پسله وقوع څخه په دی سبب کی که ځندی مړسي شهید دی.

كِتَابُ الصَّوْمِ

دا كتاب دى په بيان كى د معنىٰ د روژى او د احكامو د روژى ،

پوهه سه: چى مصنف او بعضِ فقهاوو نورو ترلمانځه وروسته كتاب الصوم راوړى دى كښله چى لمونځ او روژه دواړه عباداتِ بدنيه دى ، او بعضِ فقهاوو ترلمانځه وروسته كتاب الزكوٰة راوړى د دى سببه چى په قرآن شريف كى په ډيرو ځايو كى "اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ" يوځاى راغلى دى ، او بل د دى سببه چى بعض فقهاء وائى چى افضل د اعمالو نه پس له زكوٰة صوم دى ،

فائده، كه څه هم روژه نيول عبادت قديمه وو ، لكن فرضيت د روژو په مياشت كى د روژى د شعبان د مياشتى پر ۱۰ تاريخ او يا پر ۲ تاريخ نازل سوى دى ترهجرتِ نبوىؐ يونيم كال وروسته ، او هم په دغه تاريخ قبله د بيت المقدس څخه و كعبى شريفى ته نقل سوله ، قَالَ الْمُصَنِّفُ :

هُوَ الْإِمْسَاكُ نَهَارًا دا خو معنا لغوى د صوم ده ، نو د دى لغوى معنا پر بناء عرب وائى : صَامَ الْفَرَسُ ، چى واښه نه خورى او په شرع شريفه كى نَهَارًا ، يعنى امساك دى د ورځى ، **فائده**: شرعى ورځ د طلوع څخه د فجر صادق ده ترلمرلويد و پورى ، او په نيز د حكماوو د لمر ختو څخه ترلمرلويد و پورى نو ځكه دوى وائى : اذا كانت الشمسُ طالعةً فالنهار موجودٌ ، قَالَ الْمُصَنِّفُ :

عَنْ اِدْخَالِ الشَّيْءِ د داخلولو څخه د شى كه خوړك د هغه عادى وى لكه ډوډى او به وغيره او كه غير عادى وى لكه ډبره خاورى وغيره چى داخل كړى نس ته ، **پوهه سه**: چى چونكه ادخال متعدى دى نو په دې سره به دخول وايستى مثلاً كه د سړى په خوله گرځ ننوتى روژه يه نه ده ماته ، او يا په خونه كى اوربل كړى وو په خوله يه دود ننوتى روژه يه نه ده ماته ، او كى چلم وڅكاوه او دو يه

نيكرى روژه يه ماته ده ، م ط ، د ، **پوهه سه**: چى ادخال كه عادى شى وو نو هم يه روژه ماته ده او كفاره باندى سته او غيرعادى وو روژه خو يه ماته ده مگر كفاره نسته باندى » ط ، قَالَ الْمُصَنِّفُ :

عَمْدًا اَوْخَطَاءً كه په قصد وى او كه په خطاء ، د عمد صورت خو ظاهر دى ، د خطاء صورت لكه يو سړى چى روژه يه هم ياد وى په خوله او به لغړوه او څندى تيرى سى روژه يه ماته سوه لكن د دغى روژى امساك دى وكړى او وروسته به ئى قضا هم راوړى او كفارت باندى نسته ، مصنف چى عمدا و خطاء ذكر كړل نو مراد يه دا دى چى په هيره روژه نه ماتيږى ، قَالَ الْمُصَنِّفُ :

بَطْنًا اَوْمَا لَهُ حُكْمُ الْبَاطِنِ يا يه نس ته داخله كړى او يا هغه ځاى ته چى هغه حكم د باطن لري ، **پوهه سه** چى د بطن د داخليدو خولاړى دى » د خولى دخوا ، د پزى دخوا ، د غوږ دخوا ، لكه چى لنده دوايه غوږ كى څاڅكى كړى ، ولى چى د پزى دخوا او د غوږ و دخوا وستونى ته لار سته ، او بل لار د بطن لوته ده ، او بل څخول د ذكر د لارى دواء دې ، او بله لار د بطن جائفه تپ دى يعنى هغه تپ چى ونس ته سرى وې ، او هغه چى په حكم كى د باطن وى لكه چى په امه تپ كى چى لنده دوا واچوى : امه تپ بولي چى پردى ته د دماغ رسيدلى وې ، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَشَهْوَةُ الْفَرْجِ او امساك غواړى يعنى د ورځى د شهوت څخه د فرج كه په جماع معهوده وى لكه هغه سړى كه د نروى او كه د ښځى ، او يا قضاءِ شهوت په عبث كار سره وى چى استمناء يه بولي ،

مسئله: په جماع معهود سره هم روژه ماتيږى او هم كفارت پر لازميږى بيان د كفارة الصوم به وروسته راسى ، ان شاء الله تعالىٰ ، او په عبث كار سره روژه ماتيږى او كفاره نه پر لازميږى ، طحطاوى ، قَالَ الْمُصَنِّفُ :

بِنِيَّةٍ مِنْ اَهْلِهِ په نيت سره چى اهل د روژى وي **پوهه سه** چى نيت د روژى د دى د پاره غواړى چى د عبادت او عادت فرق په

وَسی مثلاً یو سړی چې عادت یې داوی چې د سپیدو څخه بیا تر ماښام پورې دوه ځله خوری وهکذا لکن روژی ته یې فکر هم نه وي، او اهل د روژې هغه څوك دي چې په ده کې دری شرطه د صحت د روژې موجود وي. چې اسلام دی، او پاك والی د بندګی د حیض او نفاس څخه او بل نیت دی. او بل علاوه پر هغو درو علم په لزوم پر فرضیت د روژې په دغه میاشت کې. که په دار حرب کې وو او که په دار اسلام کې وو نو دار اسلام یې په ځای کې د علم د وجوب ولاړ دی، که څه هم دی علم په وجوب د روژې نه لري؛

مسئله: بلوغ شرط نه دی، ولې چې روژه د نابالغ هم صحیح ده، او خدای ثواب ورکوي **مسئله**: که سړی نیت د روژې خوړ کړې مګر بیا بېهوښه سو تر ماښام پورې روژه یې صحیح ده. او که سړی پسله نیت د روژې لیونی سو دغه روژه خو یې صحیح ده چې مضطر د روژې څخه دی صادر نسی. او که د اغسی لیونی وو د بلی ورځی روژه یې نه ده صحیح لعدم النیت **مسئله**: ښځه چې د حیض او نفاسه څخه خلاصه سوه مثلاً په شپه کې غسل یې نه وی کړی نیت د روژی یې صحیح دی کذا فی البحر، ط. **پوهسه**: چې فقهاوو د تعریف د صوم دیر مختصر کړی دی او وائی چې: صوم امساك دی د مفطراتو څخه د ورځی په امر د خدای په خپل وخت کې، قَالَ المصنفُ:

وَسَبَبُ وُجُوبِ رَمَضَانَ شُهُودُ جُزْءٍ او سبب د فرضیت د روژو د رمضان د میاشتی حاضریدل دی یو جزء د میاشتی، یعنی چې صالح د روژې وي یعنی د سپیدو څخه بیا د لمر تر زوال پورې **سَوال**: یو کشی چې بالغ سی په مابین کې د میاشتی د روژې نو ده ته خو شهود د جزء صالح للصوم پیدا سوه نو پر ده باندې باید قضاء د تیرو سوو ورځو هم لازمه سي **جَواب**: په تیرو سوو ورځو کې خو په ده کې شرط د وجوب نه وو موجود نو قضاء پرې نسته" بحر ط. **پوهسه**، چې په جزء صالح سره شپه وَوَته او ما بعد الزوال وَوَتی، ولې دغه دوه صالح د روژې نه دي، او دا مذهب د فخر الاسلام علی البزدوی

دی، او شمس الائمة السرخسیؒ وائی چې سبب مطلق وخت دی د دغې میاشتی، قال المصنفؒ

وَكُلُّ يَوْمٍ مِنْهُ سَبَبٌ لِأَدَائِهِ یعنی سبب د وجوب د اداء د دغې ورځې ولې چې ورځې خو سره متصلې نه دي چې په مابین کې د دوه ورځو شپې سته، لکن په دی پوهسه چې سبب د وجوب د روژې د هرې ورځې نه تو له ورځ، ولې سبب خو تر مسبب د مخه وي نو باید د هرې ورځې جزء اول دی د هرې ورځې روژه د ابله ورځ و نه سي،

مسئله که یو سړی په اوله شپه کې د میاشتی د روژې پر سد وو. او بیا تر سپیدو د مخه لیونی سو، او پسله میاشتی د روژې پر سد سو، او یا په اخیره ورځ بعد الزوال پر سد سو، نو پر قول د شمس الائمة السرخسیؒ د ټولې میاشتی د روژو قضاء پر لازمه ده، ولې چې ده خو مطلق جزء د میاشتی د روژې یعنی اوله شپه په صحت کې وینیوله. او پر قول د فخر الاسلامؒ قضاء د هیڅ ورځی پرې نسته، ولې چې ده هو جزء صالح د روژې په میاشت کې په صحت کې نه دی نیولی، ومغنی والاقول د فخر الاسلام صحیح بولی وعلیه الفتوی کما فی المجتبی والنهر والدرایه وصححه غیر واحد من الفقهاء وهو الحق کما فی العنایه. **مسئله**: که څوك بالغ سو او یا کافر وو مسلمان سو په مابین کې د میاشتی د روژې نو بیا نه روژې پر فرض دی او د تیرو سوو ورځو روژې پر فرض نه دی، قَالَ المصنفُ

وَهُوَ فَرْضُ عَيْنٍ أَدَاءً وَقَضَاءً عَلَى مَنِ اجْتَمَعَ فِيهِ أَرْبَعَةُ

او روژه فرض عین ده پر هغه چا چې په هغه کې د اڅلور شیان موجود وي. اسلام، پر کافر روژه

أَشْيَاءٍ اَلْإِسْلَامُ وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ وَالْعِلْمُ بِالْوُجُوبِ

فرض نه ده، عقل، پر لیوني روژه فرض نه ده، بلوغ، پر کوچنی چې بالغ نه وی روژه فرض نه ده

لِمَنْ أَسْلَمَ بِدَارِ الْحَرْبِ أَوِ الْكَوْنِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ

اوبل به علم بالفعل لري په فرضیت سره د روژې هغه څوک چې مسلمان سي په دار الحرب کې، او صرف بود و باش دده په دار اسلام کې کافي دی دپاره د فرضیت د روژې پرده که څه هم دی به په فرضیت به خبر نه وي» قال المصنفؒ:

وَيُشْتَرَطُ لِوُجُوبِ أَدَائِهِ الصِّحَّةُ مِنْ مَرَضٍ

او شرط دی د واجب والی د اداء لپاره جوړوالی د دا سی مرض څخه چې سړی روژه نه سي ورسره نیولای یعنی د جهت څخه د مرض پر تکلیف وي روژه نیول **پوه سه** چې مطلق مرض مراد نه دی ولې چې غالبًا انسان دیو څه مرض څخه خالی نه وي، قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ (الآیة). قال المصنفؒ:

وَحَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَالْإِقَامَةُ وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ أَدَائِهِ

او د غړنګه شرط دی خالی والی د ښځې د حیض او نفاس څخه کله، او بل شرط د وجوب الاداء مقیم والی د سړي دی یعنی چې مسافر به نه وي لِمَا تَلَوْنَا مِنَ الْآيَةِ، او شرط دی دپاره د صحت د اداء د روژې»

پوه سه: چې مراد د اداء څخه نفس عمل د روژې تا چې قضاء ته هم شامله سي، ولې د صحت د قضاء دپاره هم دا غړ شرطونه دي» قال المصنفؒ:

ثَلَاثَةُ النِّيَّةُ

دری دی اول نیت دی، وفي المراقي: في وقتها لكل يوم،

فائده: صاحب هدایه وائی چې شهود د اول جزء د میاشتې د روژې سبب دی د ټولو روژو د دغې میاشتې، ثم كل يوم سببٌ لصومه ولا منافاة بينهما م، لکن امام طحطاويؒ پردی خبره سوال لري دده په حاشیه کې وګورئ، قال

وَالْخُلُوُّ عَمَّا يُنَافِيهِ مِنْ حَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَعَمَّا يُفْسِدُهُ

او خالی به وي روژه د هغه شی څخه چې منافي ده روژې وي چې حیض او نفاس دی، ولې چې سره د حیض او نفاسه روژه نه اداءً او نه قضاءً صحیح ده، او د غړنګ به روژه خالی وي د فاسد ونکی

څخه د روژې لکه خوړل او جماع وغیره» قال المصنفؒ:

وَلَا يُشْتَرَطُ الْخُلُوُّ عَنِ الْجَنَابَةِ

او شرط نه دی خالی والی د روژې د جنابت څخه یعنی که سړی د شپې جماع مثلا کړې وي او سپیدی پر راوچاودی روژه به صحیح ده، او یا د ورځې بیده وو به خوب کې شیطان بازي ورکړه روژه به صحیح ده، ولې چې ازاله د جنابت خو ممکنه ده، بخلاف الحيض والنفاس والمفسد» قال المصنفؒ:

وَرُكْنُهُ الْكَفُّ عَنْ قَضَاءِ شَهْوَتَيِ الْبَطْنِ وَالْفَرْجِ وَمَا أُلْحِقَ بِهِمَا

او رکن د روژې ځان ساتل دی د پوره کولو د خواهش د نس او د فرج که نروی او که ښځه، او چې ملحق وي په نس او فرج سره لکه چې وروسته به راسي، إِنْ شَاءَ اللهُ: قال

وَحُكْمُهُ سُقُوطُ الْوَاجِبِ عَنِ الذِّمَّةِ وَالثَّوَابُ فِي الْآخِرَةِ

او حکم د روژې یعنی اثر مرتب پر روژې نیولو که فرضي وي او که نفلي

وَاللهُ أَعْلَمُ

ساقط والی د واجب دی یعنی که د طرفه څخه د خدایؒ واجب وي لکه میاشت د روژې او که خودی د بنده د خوا واجب وي لکه نذري روژه، یا نفلي چې شروع یې وکړي او بل حکم یې ثواب دی په اخرت کې، **درویش والي** چې د شنبې په شپه د شعبان د میاشتې پر ۲۵ نیټه تخمینًا ازبکانو او تاجکانو د مزار شریف ښار په کومک د امریکایانو د طالبانو څخه پس له یوې هفتې سختې جنګ ځمینی او بمباری د امریکایانو څخه قبضه پر وکړه» انا لله وانا اليه راجعون ط ۱۴۲۲ھ

خبردار د نور الایضاح پښتو (۳) جلد د کتابت طباعت او کمپیوټري لیکنه او په هر لوی او کوچني سائز کې د مکتبة القراءة والتجوید» سره محفوظ دي» ورنه......

فَصْلٌ فِیْ صِفَةِ الصَّوْمِ وَتَقْسِیْمِهٖ

دافصل دی په بیان کی دصفت د روژی

یعنی فرض دیا واجب وغیرهما، او په بیان کی د تقسیم د روژی .. قَالَ الْمُصَنِّفُ

یَنْقَسِمُ الصَّوْمُ اِلٰی سِتَّةِ اَقْسَامٍ

روژه ویشل کیږی و شپږو قسمه ته **فَائِدَه** مصنف دغه اقسام د مخه وارمجمل ذکر کړه او اوس یه تفصیلاً ذکر کوی، ولې چې تفصیل بعد الاجمال اوقع دی په زړه کی بنه واقع کیږی: لما قال العارف الجامیؒ:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری :: بامید رسد امیدواری: وَقد بَین سرذالک فی المطول، چی شئ چې مجمل ذکر سي او سړی پوره په پوه نه سي، نو په زړه کی شوق او انتظار ته پیدا سی او بیا چی تفصیل یی وویل سی نو هغه پوهیږي و بیدا کیږی. او په دی پسی هم زیار کاږي، والعلم الحاصل بعد الشوق والانتظار والطلب والتعب الذ واعظم وقوعًا فی القلب وادفع لالم الطلب والتعب نحو تحصیله. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فَرْضٌ وَوَاجِبٌ وَمَسْنُوْنٌ وَمَنْدُوْبٌ وَنَفْلٌ وَمَكْرُوْهٌ

یعنی یو شپږ فرض عین روژه ده لکه روژه د میاشتی د روژی، او واجب، سنت، مستحب، نفل او مکروه ده **پُوْهٔ سه**: چی فرض او واجب هر یو دوه قسمه دي. یو معین فرض: لکه اداء د صوم رمضان، او بل غیر معین فرض لکه قضاء د فرضی روژو، او نذر معین چی مثلاً سړی ووائی چی پرما د میاشتی د وږمي ورځی روژه نذر ده، نو دا واجب معین دی، او که سړی ووائی چی پرما یوه روژه نذر ده دا واجب غیر معین دی، نو په دی دول اقسام د روژی اته ۸ سوه، قَالَ

اَمَّا الْفَرْضُ فَهُوَ صَوْمُ رَمَضَانَ اَدَاءً وَقَضَاءً وَصَوْمُ الْكَفَّارَاتِ

هر څه چی روژه ده چی قسم اول وو هغه روژه د میاشتی د روژی ده که اداء وی چی فرض معین وی او که قضاء وی چی فرض غیر معین دی، لکه روژی د کفارت ظهار چی په سورة مجادله کی

ذکر سوی دی، یا روژی د قتل خطاء چې په سورة النساء کی ذکر سوی دی، او روژی د کفارت د یمین چې په سورة مائده کی ذکر سوی دی، او روژی د فدیة الصید یا روژی د محذور الاحرام لکه چی سر وخریی بیله عذره، نو په دی دوو کفاراتو کی که څه هم سړی مخیر دی په مابین کی د ذبح الحیوان او اطعام الطعام او صیام نو چی دی روژی مختاره کړی نو هغه روژی فرض گرځی. دا دوی کفاري په سورة البقرة کی ذکر سوی دی، او یا کفارة افطار صوم عمدًا بغیر عذر **فَائِدَه**: روژه د قران او تمتع که څه هم فرض دی لکن هغه صوم الکفارت نه دي بلکه صوم الشکر دي، **فَائِدَه**: صاحب الملتقی صوم الکفارات واجب بولی نو که چیری هغه مذهب صحیح وی نو مراد د فرض څخه فرض عملی دی چی واجب ته هم شامل دی، نو منکر یې کافر نه دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمَنْذُوْرُ فِی الْاَظْهَرِ

او دوهم قسم څخه د فرض د نذر روژی که نذر مطلق وی او که مقید وی په اظهر روایت کی لقوله تعالٰی: وَلْيُوفُوا نُذُوْرَهُمْ - او لبعض فقهاء وائی چی صوم منذور واجب دی نو دی وجهی مصنف اظهر ووایه، قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَاَمَّا الْوَاجِبُ فَهُوَ قَضَاءُ مَا اَفْسَدَهٗ مِنْ صَوْمِ النَّفْلِ

او هر چی واجب روژه ده هغه قضاء راوړل دی د هغی نفلی روژی چی فاسدیه کړې، **فَائِدَه**: روژه د اعتکاف منذور بیله میاشتی د روژی هم واجب ده لکن لندرة وقوعه لم یذکره المصنف فلا یرد السوال بعدم صحة الحصر المفهوم من قوله فهو قضاء آه فافهم

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاَمَّا الْمَسْنُوْنُ فَهُوَ صَوْمُ عَاشُوْرَاءَ مَعَ الْيَوْمِ التَّاسِعِ

او هر چی سنت روژه ده هغه روژه د لسمې ورځې د محرم د میاشتی سره د نهم د ورځی په حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه السلام د لسمی ورځی روژه خوښوله لکن د اسی وویل چی که زه پاته سوم تر بل کاله پوری زه به د نهم روژه هم ونیسم، او په بل حدیث کی راغلی دی

چی د صوم عاشوراء روژه وی ژړوی گناهونه د تیر کال یعنی محوه کوی ئې، قال المصنفؒ

وَاَمَّا الْمَنْدُوْبُ فَهُوَصَوْمُ ثَلَاثَةٍ مِّنْ كُلِّ شَهْرٍ

او مندوب روژی دری (۳)، روژی دی په هره میاشت کی. سبب یې دا دی چی حسنه د مسلمان په لس مثله یې ثواب دی او په حدیث شریف کی راغلی دی چې د غه دری (۳) روژی په هره میاشت کی لکه د ټوله عمر روژی په ثواب کی: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُنْدَبُ كَوْنُهَا اَيَّامُ الْبِيْضِ وَهِيَ الثَّالِثُ عَشَرَ وَالْخَامِسُ عَشَرَ

او مندوب دی چې دری روژی په میاشت کی دی ایام بیض وي، او هغه دیارلسم او څوارلسم پنځلسم **پوه سه**، چی د غو ورځو ته ایام بیض وائی په اعتبار د شپو یعنی ایام لیالها بیض، ولې چی ټوله شپه سپوږمی ولاړه وي، په حدیث کی چی روایت یې ابوداؤدؒ کړی دی داسی راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام مونږ امر کولو چی مونږ ایام بیض روژی ونیسو" آه قال المصنفؒ:

وَصَوْمُ الْاِثْنَيْنِ وَالْخَمِيْسِ وَصَوْمُ سِتٍّ مِّنْ شَوَّالٍ

او مندوب د قسمه څخه دی روژه د دوشنبی او پنجشنبی او شپږ روژی د کشنی اختر د میاشتی: لقوله علیه الصلوٰة والسلام: چی اعمال د بندگانو وړاندی کړې شي ته د رب العزت په دوشنبی او پنجشنبی پیش کیږی نو زما د اخوښه ده چی زما عمل عرضیږی او زما روژه وی او په بل حدیث کی راغلی دی چی که چا د میاشتی د روژی روژه او بل ئې ورو سته شپږ روژی د شوال د میاشتی ونیولې دا لکه د ټوله عمر چی روژی ونیولی، قَالَ المصنفؒ

ثُمَّ الْاَفْضَلُ وَصْلُهَا وَقِيْلَ تَفْرِيْقُهَا

بیا نو افضله دا ده چی دغه شپږ روژی دی متصلې ونسی، یعنی پېـــه ورځې دا ختر دی دستی پرله پسې ونیسی، لظاهر قوله علیه

الصلوٰة والسلام فاتبعه آه او بعض فقهاءؒ وائی چی افضل یې جلا جلا نیول دی، د پاره د اظهار د مخالفت د اهل کتابو چی هغه ترڅو بالا نفلی روژی دستی نسی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَكُلُّ صَوْمٍ ثَبَتَ طَلَبُهُ وَالْوَعْدُ عَلَيْهِ بِالسُّنَّةِ كَصَوْمِ

او دغه رنگه مندوب ده هر هغه روژه چی طلب یې او وعده د ثواب یې ثابته وي په حدیث نبوی

دَاوٗدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا

سر لکه روژه د داؤد علیه السلام چی هغه به یوه ورځ روژه نیوله. او بله ورځ به ئې خوړله او دغسی

وَهُوَ اَفْضَلُ الصِّيَامِ وَاَحَبُّهُ اِلَى اللهِ تَعَالٰى

روژه بهترینه د روژو ده یعنی بیله فرضی روژو او واجب روژو. او دغسی روژه محبوبه د روژو ده په دربار کی د خدای جل جلاله، ولې چی دا سی روژو کی سړی نه عادت کیږی د روژو سره بخلاف صیام الدهر: قَالَ علیه الصلوٰة والسلام احب الصیام الی الله صیام داؤد واحب الصلوٰة الی الله صلوٰة داؤد کان ینام نصفه ای نصف اللیل ویقوم ثلثه وینام سدسه وکان یفطر یومًا ویصوم یومًا، رواه ابوداؤدؒ وغیره من المحدثینؒ، قال المصنفؒ

وَاَمَّا النَّفْلُ فَهُوَ مَا سِوٰى ذٰلِكَ مِمَّا لَمْ يَثْبُتْ كَرَاهَتُهُ

او هر چی نفل دی یعنی چی پنځم قسم د روژی دی هغه هغه روژه ده چی ما سوا د هغو اقسامو څخه وی چی بیان یې تیر سو لکن مکروه والی یې نه وی ثابت، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَمَّا الْمَكْرُوْهُ فَهُوَ قِسْمَانِ مَكْرُوْهٌ تَنْزِيْهًا وَمَكْرُوْهٌ تَحْرِيْمًا

او هر څه چی مکروه دی چی شپږم قسم دی د روژی دی هغه دوه قسمه دی یو مکروه تنزیهي دی او بل مکروه تحریمي دی چی حرام ته نژدی دئ،

قال المصنفؒ **اَلْاَوَّلُ كَصَوْمِ عَاشُوْرَاءَ مُنْفَرِدًا عَنِ التَّاسِعِ**

اول چې مکروه تنزیهی ده نکه دعاشورا یعنی دلسم دورځې دمحرم دمیاشتې روژه نیول یواځې د نهم دورځې نه، اودغه رنګه کراهت نشته که یوولسم ورځ روژه ورسره ونیسي۔

وَالثَّانِيْ صَوْمُ الْعِيْدَيْنِ وَاَيَّامُ التَّشْرِيْقِ اودوهم قسم یعنی مکروه تحریمي هغه روژه ده دوواخترو، ولې چې په روژه نیولو کې اعراض دی د میلمستیا نه دخدای او دغه رنګه مکروه تحریمي ده روژه دورځو د تشریق چې هغه درې ورځې دی دوړمې نه وروستو ورځې دی، په حدیث شریف کې راغلي دي چې ایام التشریق ورځې دخوراک او څښاک دي۔

وَكُرِهَ اِفْرَادُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاِفْرَادُ يَوْمِ السَّبْتِ

اومکروه ده یواځې روژه نیول دورځې دجمعې په روژه سره، اودغه رنګه مکروه دي یواځې والې دورځې دشنبې په روژه سره، چې ددغو دواړو روژو نه په حدیث نبوي ﷺ کې نهي راغلې دي **پوهـه**: چې مکروه افراد دی نو که ترجمې دمخه یوه ورځ روژه ونیسي اویا ترشنبې وروسته یوه روژه ونسي بیا کراهت نشته، اودغه رنګه که دجمعې اود شنبې دورځې روژه ونسي بیا کراهت نشته۔ **سـوال**: په صحیح حدیث کې طلب دورځې دجمعې د روژې راغلي دی نو بیا څرنګه مکروه کیدای سي **جـواب** چې حدیث د نهي وروسته دی نو د حدیث د طلب ناسخ دی، کذا في شرح الجامع الصغير للعلامة السيوطيؒ، اوپه دې کې وائي چې روژه دورځې دجمعې مندوب ده، كذا قال الامام الطحاويؒ والمعتمد ما ههنا، قال المصنفؒ:

وَكُرِهَ صَوْمُ يَوْمِ النَّيْرُوْزِ وَالْمِهْرَجَانِ اومکروه ده روژه د نوروز چې اوله ورځ د پسرلي ده دشمسي کال، اودغه رنګه مکروه روژه دورځې د مهرجان چې دمني اوله

ورځ ده په حساب شمسي کې، نو نوروز اوله ورځ د اول حمل ده چې لمر په اعتدال ربیعي کې وي اومهرجان اوله ورځ د میزان چې لمر په اعتدال خریفي کې وي، **فـائـده**: دغه دوي (۲) ورځې د آتش پرستانو د فرس د لختر ورځې وي، چې د فارس خلک که څه هم اوس مسلمانان دي خو بیا هم ددغو ورځو د اختر په توګه درانوي کوي بلکه د نوروز ورځ خو تر شرعي اختر بالا ګڼي وجه د نهي ددغو دوو (۲) روژو نخه دا ده۔ چې په روژه نیولو کې ددې دوو (۲) ورځو تعظیم دی اوپه حدیث شریف کې نهي راغلې دی د احترام نخه ددغو دوو ورځو، قال المصنفؒ

اِلَّا اَنْ يُّوَافِقَ عَادَتَهٗ مګر د نوروز یا مهرجان روژه مکروه نه ده که اتفاقًا دده دعادت سره برابره سوه مثلاً ده به همیشه د یکشنبې مثلاً روژه نیوله اویو کال هغه روژه بر نوروز یا مهرجان برابره سوه نو بیا کراهت نشته لعدم العلة المذكورة، قال المصنفؒ

وَكُرِهَ صَوْمُ الْوِصَالِ وَلَوْ يَوْمَيْنِ وَهُوَ اَنْ لَّا يُفْطِرَ بَعْدَ

اومکروه ده دوصال روژه که څه هم دوي ورځې وي، اوصوم وصال دا ده چې روژه نه ماتوي وروسته تر

الْغُرُوْبِ اَصْلًا حَتّٰى يَتَّصِلَ صَوْمُ الْغَدِ بِالْاَمْسِ وَكُرِهَ

لمرلویدو په هیڅ وخت یعنې دشپې حتی چې جوړنه سي روژه دصباورځې د پرون په ورځ پورې اودغه رنګه مکروه ده صوم الدهر چې ټول کال بیله ایام منهیه ووینه **صَوْمُ الدَّهْرِ** روژه وي، **فـوائـدشـتي (۱) فـائـده**: په عمدة الفتاوی کې وائي چې روژه د نوروز یا د مهرجان که بله روژه ورسره یوځای کړي بیا کراهت نشته **فـائـده**: دغه رنګه مکروه ده صمت الصمت چې روژه ونسي مګر هیڅ چاسره هیڅ خبره نه کوي، بلکه دی دې د خیر خبري کوي، یا چې کار یې وي هغه خبري دی هم کوي لکن داسې روژه هله مکروه ده چې د روژه تي په داسې روژه کې عقیده د ثواب وي، او کې اتفاقًا ګرد ورځ د چا سره خبري نه وکړي بیا کراهت نشته **فـائـده**: صوم وصال وعلیه

السلام ته مکروه نه وه کما ورد فی حدیث رواه البخاری **فائده** نبځی میره چې پر کور وي د ابه نفلي روژه بیله اجازې د میره نه نیسي، او هر څه چې فرضي روژه ده که اداء وي او که قضاء وي د میره اجازې ته ضرورت نشته» قال المصنف:

فصل فیما یشترط تبییت النیة وتعیینها وما لا یشترط

دا فصل دی په بیان کې د هغو روژو چې د شپې نیت په کښې شرط وي او تعیین د منوي روژې، او په بیان کې د هغو روژو چې د شپې نیت او تعیین په کښې شرط نه دی. قال المصنف:

اما القسم الذی لا یشترط فیه تعیین النیة ولا تبییتها

او هر چه هغه قسم دی چې په هغه قسم کې تعیین د نیت شرط نه دی او نه د شپې نیت غواړي

فائده: مصنف په عنوان کې د «ما یشترط» ذکر کړی د جهت د دې چې هغه وجودي دی شرافت لري تر عدمي» او په تفصیل ما لا یشترط ذکر کې یې د دې جهته چې دا دې اقسام لږ دی، او بل دا قسم شرافت لري چې اداء رمضان دوه قسم دی» قال المصنف:

فهو اداء رمضان والنذر المعین زمانه، والنفل

هغه اداء روژه ده د میاشتې د روژې او دا او کول دی د هغه نذر چې زمانه یې معین وي، لکه چې یو سړی ووائي چې پر ما به نذر روژه د یکشنبې د ورځې د دې هفتې او بل نفلي روژه ده» قال المصنف:

فیصح بنیة من اللیل الی ما قبل نصف النهار علی الاصح

نو صحیح دی هر یو د غو درو روژو څخه په نیت سره د شپې څخه تر مخه د نیمې ورځې په صحیح مذهب

پوهسه: چې مراد د نفلي روژې څخه دا دی چې فرض او واجب نه وي نو که سنت وي او

که مندوب وي او که مکروه کما مر **مسئله** که سړي تر غروب د لمر مخ د صبا ورځې د روژې نیت وکړي نو دغه نیت نه دی صحیح» رد» **فائده:** افضله دا ده چې د دغو درو روژو نیت معین یعني اداء رمضان یا صوم منذور معین یا نفل د شپې څخه وکړي **پوهسه:** چې د نیت معنی دا ده چې قصد جازم وکړي چې زه صبا روژه نیسم **فرعه:** که سړي داسې نیت وکړي که صبا ته فلاني سړي میلمه کړم نو روژه نه نیسم او که نه کړم میلمه نو زما روژه ده. په داسې نیت سره روژه نه ده صحیح ولې چې دی جازم نه دی **مسئله** که سړي سحار کړي نو ئې نیت د روژې نیولو د لوډي او نه ئې د خوړلو او په دې هم خبر وو چې صبا روژه ده، په دغه علم قدر سره دی روژه تي نه گرځي» ط

مسئله: که سړي پیشلمي وکړي او ده غالب گمان دا وو چې سفیدې نه دی چاودلې نو که دی په سفید و پوهیدی روژه یې صحیح ده او که نه پوهیدی نو باید پیشلمي ونه کړي

مسئله: که سړي چرگ د ډیر لوډي چې تیک د پیشلمي پر وخت بې اذان کاوه بعض مشائخ وائي چې د چرگ اذان ته اعتبار نشته» لکن په فتاوا هندیه یعني فتاوی عالمگیریه کې وائي که سړي دا چرگ تجربه کړی وو» چې پر وخت برابر ئې اذان کاوه نو ده ته د چرگ پر اذان اعتماد روا دی»

فائده: فی المراقی، نشي خالي کیدای مسلمان د نیت او قصد څخه د روژې، په شپو کې د ده د میاشتې د روژې، مگر نه نادر سړي چې یا فاسق معلنًا وي، او یا تر غروب الشمس د مخه بیده سي تر سپیدو پورې، حتی چې فقهاء وائي چې پیشلمي پر روژه بس نیت دی، د خولې نیت خو هیڅ نه دی لازم

سوال: په حدیث شریف کې راغلي دي چې روژه نشته هغه چا لره چې د شپې نیت ونه کړي **جواب** دا حدیث محمول پر نفي د کمال دی نه د جواز **پوهسه** چې په قدوري کې داسې عبارت واقع دی» اجزئته النیة ما بینه وبین الزوال» او مصنف ما قبل نصف النهار روایه» او په دې کې شک نشته چې نصف نهار شرعي څو تر زوال الشمس د مخه ده، نو په اصح ویلو کې رد پر قدوري وکړی»

فائدة: دلیل د صحت د نیت د روژی تر نصف النهار پوری دا دی چې روژه یو عبادت ممتده واحده دی، نو په اکثرو اجزاؤ کی د وړځی نیت کافی دی، نو د ماقبل ځنې د نصف النهار بیا تر غروب پوری ډیره حصه د وړځی ده". **پوهه سه** چې د مصنف عبارت د جامع الصغیر سره برابر دی، قال المصنف:

وَنِصْفُ النَّهَارِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ اِلٰى وَقْتِ الضَّحْوَةِ الْكُبْرٰى

او نصف نهار یعنی په شرع شریفه کی د وخت ځنې د راختو د سپیدو بیا تر وخت پوری د پاخه څاښت، که څه هم نهار په لغت او ریاضی ووکی د طلوع الشمس ځنې بیا تر لویدو د لمر ده، چې نصف النهار په استواء یعنی تر زوال د ځنې پوره کیږي، فاعرف الفرق، قال المصنف:

وَيَصِحُّ بِمُطْلَقِ النِّيَّةِ وَبِنِيَّةِ النَّفْلِ وَلَوْ كَانَ مُسَافِرًا

او صحیح کیږي یعنی دری سره قسمه روژه، چې فرض روژه ده، نذر معین دی، او نفلی روژه ده، په

اَوْ مَرِيْضًا فِى الْاَصَحِّ

مطلق نیت سره یعنی چې تخصیص د فرضی روژی، یا نذری روژی یا نفلی روژی نه وی ورسره، او دغه رنګه دری سره روا دی په نیت د نفلی روژی، که څه هم سړی مسافر یا مریض وی په اصح روایت کی، او دا مذهب دی د فخر الاسلام علی البزدوی او شمس الائمة السرخسی"، دلیل یه دا دی چې مسافر او مریض ته چې روژه روا کړه سوی وه په سبب د تکلیف پر دوی، نو چې دوی دا تکلیف پر سر واخستی او روژه یې ونیوله نو دوی ګویا عذر ونه درلودی، فیقع عن صوم الفرض"

پوښتنه: دی سړی خو د روژی د نیت سره د نفلی قید زیات کړی دی نو باید نفل سی ولی چې دوی ته چې خوراک وغیره اجازه په سبب د عذر د سفر یا مرض سته، نو نفل باید په طریق اولیٰ وی، ته روا وی لکه چې بعض فقهاوو هم په دغه عقیده دي **جواب** زیادت د قید د نفلیت لغوی دی لامحالة انقا چې دوی په حکم کی د "من لا عذر له" دی"

فائده: په مریض کی چې روژه ونسی په نیت د نفلو یا د واجب اخر دری قوله دي:

(۱) یو دا قول دی چې مصنف اصح ګڼلی دی چې روژه د رمضان ځنې د نیت د نفلو یا واجب اخر لغوه دی کما مر قاله المصنف تبعًا لفخر الاسلام وشمس الائمة: او (۲) دوهم قول دا دی چې روژه به د "ما نوی" ځنې ده یعنی نفل یا بل واجب، او هم دا مذهب مختار د صاحب هدایه دی، او د نورو ډیرو مشایخو حتی بعض علماء وائی چې دا غه ظاهر المذهب د امام اعظم دی، او (۳) دریم قول تفصیل دی په مرض کی یعنی که داسی مریض وو چې روژی تاوان ورته کاوه په قول د طبیبانو مګر سره د هغه مرض روژه ونیوله په نیت د نفلو وغیره نو روژه به د "ما نوی" ځنې واقع کیږي او که روژی تاوان نه ورته کاوه لکه "سوء الهضم" نو روژه به د رمضان ځنې ده" بحر

قال المصنف:

وَيَصِحُّ اَدَاءُ رَمَضَانَ بِنِيَّةِ وَاجِبٍ اٰخَرَ لِمَنْ كَانَ

او صحیح ده اداء د روژی د میاشتی د روژی په نیت د بل واجب لکه

صَحِيْحًا مُقِيْمًا

کفارة یمین یا منذور مطلق هغه چا لره چې دی په صورت جوړ وی او مقیم وی، ولی چې ورځی د روژی د میاشتی معیار د فرضی روژو دی نو په خطاء فی الوصف سره هم فرضی روژه ده، قال المصنف:

بِخِلَافِ الْمُسَافِرِ فَاِنَّهٗ يَقَعُ عَمَّا نَوَاهُ مِنَ الْوَاجِبِ الْاٰخَرِ

او مخالف حکم دی د مسافر چې نیت د واجب اخر وکړي په میاشت کی د روژی، چې هغه روژه ده د "ما نوی"، ځنې چې واجب اخر دی واقع کیږي، او دا هم مذهب دی د امام اعظم او یارانو چې د فرضی روژی د رمضان کیږي"، والدلائل للمذهبين فی المبسوطات"

قال المصنف:

وَاخْتَلَفَ التَّرْجِيْحُ فِى الْمَرِيْضِ اِذَا نَوٰى وَاجِبًا اٰخَرَ فِىْ رَمَضَانَ

او اختلاف دی د ترجیح په مریض کی چې روژه په نیت د واجب اخر ونسی په میاشت کی د روژی یعنی بعض فقهاء ترجیح ورکوی ته ور کوی چې روژه د مریض د "ما نوی" ځنې ده، او بعض فقهاء وائی چې روژه یه د رمضان ځنې واقع کیږي"

وقدمربيانه، قال المصنف:

وَلَايَصِحُّ الْمَنْذُوْرُ الْمُعَيَّنُ وَقْتُهُ وَزَمَانُهُ بِنِيَّةِ وَاجِبٍ

اونه صحيح كيږي يعني د ذمي څخه د ناذر نذر نه ساقطيږي هغه منذور چي ناذر په وقت معين كړي وي

اٰخَرَ بَلْ يَقَعُ عَمَّا نَوَاهُ مِنَ الْوَاجِبِ فِيْهِ

لكه چي ووېيلي ئې وي چي د چهارشنبې روژه د دې هفتې پر ما نذر ده، په نيت د بل واجب لكه كفارة اليمين مثلاً بلكه د غه ورځ روژه چي سړي نذر كړې وه ده خو ونيوله لكن په نيت د بل واجب، نو د غه روژه ده هغه روژه ده چي ده نيت كړېده چي هغه واجب اخر دی، په هغه ورځ كې چي ده په روژه نذر كړې، حاصل دا چي د نذري روژې به قضا راوړي **پوهه سه**: چي په دې مسئله كې اختلاف د روايا تو نسته، **مسئله** كه ناذر معين په هغه ورځ د نفلي روژې نيت وكړي يا د مطلق روژې نيت وكړي بيا په د غه روژه د منذور څخه واقع كيږي، نو د دې سببه مصنف بنيتِ واجبٍ اخر ووايه، قال المصنف:

وَاَمَّا الْقِسْمُ الثَّانِيْ وَهُوَمَا يُشْتَرَطُ فِيْهِ تَعْيِيْنُ النِّيَّةِ وَتَبْيِيْتُهَا

اوهر څرچي دوهم قسم دی چي په هغه كي شرط دی تعيين د نيت يعني چي فلاني روژه نيسم، او د غه شرط د تعيين دی نيت د روژې په شپه كي، قَالَ المصنف:

فَهُوَقَضَاءُ رَمَضَانَ وَقَضَاءُ مَا اَفْسَدَهُ مِنْ نَفْلٍ وَصَوْمُ

اوهر څرچي دوهم قسم دی چي په هغه كي تعيين د نيت غواړي آه هغه قضائي روژه ده مياشتي

الْكَفَّارَاتِ بِاَنْوَاعِهَا وَالْمَنْذُوْرُ الْمُطْلَقُ كَقَوْلِهِ اِنْ شَفَى

د روژې او د غه رنګه قضاء راوړه د هغې روژې چي نفلي ده نيولې وه مګر فاسده يې كړه، او د غه رنګه

اللّٰهُ مَرِيْضِيْ فَعَلَيَّ صَوْمُ يَوْمٍ فَحَصَلَ الشِّفَاءُ

روژې د كفارو

په ټولو اقسامو سره لكه كفارة اليمين يا صوم تمتع ونحوها، او د غه رنګه دی نذر مطلق لكه يو سړي چي ووائي كه زما مريض خداى پاك ر اجوړ كړي نو پر ما يو ورځ روژه نذر ده او مريض هم جوړ سو، درويش وائي چي د دې ټولو وجه دا ده چي د د غو روژو د پاره په شرع شريفه كښې ورځ نه ده ټاكل سوې، نو تعيين د روژې د روژتاني پر غاړه دی"

مُهِمَّه

په ټولو اقسامو كي د روژو كي د شپې نيت د روژې وكي د صبا د پاره او بيرته د هغه څخه يې رجوع وكړه چي نه ئې نيسم، صبا په زړه نيت دی صائم نسي ګرځيدای، ولې هغه نيت خو يې رجوع سره مات سو، نو كې د نفلي روژې د نيت څخه رجوع وكړه په شپه خو نه پر ده قضاء سته او نه ګناه، او كه د فرضي روژې د نيت څخه ئې رجوع وكړه صرف قضاء باندي سته، او كه پسله رجوع په نيت بيرته نوي كي نو هم روژه چي وه هغه روژه يې صحيح ده او كه يو سړي پسله نيت قلبي داسې وويله، اَصُوْمُ غَدًا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ، نيت يې نه باطليږي، ولې ده اِنْ شَاءَ اللّٰه وَيلو څخه د ده مقصد طلب د توفيق الهي دی وبس، ولې چي په ان شاء وېلو سره خو تلفظ باطل سو نيت خو عمل د زړه دی، بحر رائق، **مسئله**: كه چا په شپه نيت د صبا روژې وكړې وده ته خوراك جماع وغيره روا دي او دا رجوع د نيت څخه نه ګڼل كيږي بلكه هغه سابق نيت يې پر ځاى دی تجديد ته د نيت هم ضرورت نسته، علامه ملامسكين:

فَصْلٌ فِيمَا يَثْبُتُ بِهِ الْهِلَالُ وَفِي صَوْمِ يَوْمِ الشَّكِّ وَغَيْرِهِ

دا فصل دی په بیان کی د هغه شی چی په هغه سره لیدل د میاشتی ثابتیږی یعنی که د روژی وی او که د اختروی او که د نورو میاشتو وی او په بیان کی د شک روژی او نورو نورو احکام.

مسئله: واجب کفائی دی طلب د میاشتی د برات د پاره د روژی. قال المصنف رح:

يَثْبُتُ رَمَضَانُ بِرُؤْيَةِ هِلَالِهِ أَوْ بِعَدِّ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ إِنْ غُمَّ الْهِلَالُ

ثابتیږی میاشت د روژی په لید لو سره د میاشتی او د غه رنګه ثابتیږی په حساب کولو سره د برات د میاشتی دیرش ۳۰ ورځی، که میاشت د روژی ورکه سوه یعنی نه سوه معلومه په سبب د وریځی یا ګرد وغیره: قال علیه الصلوٰة والسلام: صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ الْهِلَالِ وَافْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ فَانْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاكْمِلُوا عِدَّةَ شَعْبَانَ ثَلَاثِيْنَ يَوْمًا. ترجمه: تاسی روژی نسی په لید لو د میاشتی د روژی او تاسی روژی ماتوی په سبب د لید لو د میاشتی یعنی د شوال، او که چیری میاشت د اول د روژی نه سوه معلومه نو تاسی پوره کړی حساب د میاشتی د برات دیرش ورځی.

درویش وائی: که په اول کی خو میاشت د روژی معلومه سوه، لکن په اخیر کی ورکه سوه نو دی روژی دیرش پوره کړی

مسئله: د غه رنګه واجب کفائی ده طلب د میاشتی د شوال په دیرشمه شپه کی.

مسئله: قول د نجومیا نو او جنتریو اعتبار نسته په شرعی امورو کی. قال المصنف رح:

وَيَوْمُ الشَّكِّ هُوَ مَا يَلِي التَّاسِعَ وَالْعِشْرِيْنَ مِنْ شَعْبَانَ وَقَدْ

او د شک ورځ هغه ورځ ده چی په نودیشتم ۲۹ د برات پسی ده او طرف د علم او جهل په سره برابر وی چی

اِسْتَوٰى فِيْهِ طَرَفُ الْعِلْمِ وَالْجَهْلِ بِاَنْ غُمَّ الْهِلَالُ

دا هم معنیٰ منطقی ده د شک، په دی سبب چی میاشت د روژی نه سوه معلومه یا په سبب د وریځی

یا ګرد یا دود، یا دیره تاریکه وه **درویش وائی** چی سبب د برابری د علم او جهل دادی چی د برات میاشت احتمال د نه ویشت ۲۹ ورځو لری، او د دیرشو ورځو هم لری. لقوله علیه الصلوٰة والسلام الشهر هکذا وهکذا وهکذا د دواړو لاسو په ګوتو یه اشاره کوله لکن په اخیروار کی یوه ګوته کټ کړه چی نه ویشت ۲۹ سی، او هکذا هکذا هکذا ګوته یه نه کړه کټ چی دیرش ۳۰ شی.

مسئله: چونکه د روژی میاشت لکه نوری میاشتی ګاهی ۳۰ ورځی وی او ګاهی ۲۹ ورځی وی نو آیا د غه دوی میاشتی د روژی چی یوه ۳۰ ورځی وی او بله ۲۹ ورځی وی په ثواب کی فرق سره لری او که څه رنګه

درویش وائی، چی ابن حجر العسقلانی رح په دی موضوع کی داسی تحقیق کړی دی چی په نفس فضیلت کی خو فرق نه سره لری ولی چی فرض د غه میاشت روژه نیول دی که ۳۰ وی او که ۲۹ وی، او په دی کی هم فرق نه سره لری چی مغفرة د ذنوبو کول کیږی د هغه چا د پاره چی د روژی میاشت روژه و نیسی ایمانًا واحتسابًا، او په دی کی هم فرق نه سره لری چی ټول به جنت ته په هغه دروازه ورځی چی د روژتیا نودپاره مخصوصه ده چی باب الریان نیه بولی کما جاء فی الحدیث الصحیح، اما په خصوص کی د دی ۳۰ ورځو والا یوه روژه بالاده او یو بیشلمی یه هم بالا دی او یوه روژه مات یه هم بالا دی، نو په دی سبب ۳۰ روژی والا میاشت په ثواب کی بالاده تر ۲۹ ورځو والا میاشتی د روژی، انتهی مع تفصیل و زیادة من هذا العبد العاصی

په خصوص د رخو مذکوره بالا بود کارد وبذا ظاهر لمن تامل ۱۲

قال المصنف رح:

وَكُرِهَ فِيْهِ كُلُّ صَوْمٍ اِلَّا صَوْمَ نَفْلٍ جَزَمَ بِهِ بِلَا تَرَدُّدٍ

او مکروه ده په ورځ کی د شک هره روژه که فرضی روژه وی یعنی چی په نیت د فرضی روژی د میاشتی یه و نه نسی، او د غه رنګه مکروه ده په د غه

بَيْنَهُ وَبَيْنَ صَوْمٍ اٰخَرَ

ورځ قضائی روژه یا واجب روژه، او هم هغه روژه مکروه ده چی نفلی وي لکن په نیت کی تردید وي، او نه ده مکروه نفلی روژه چی دده یقین وی پر نفلی او په نیت کی داسی تردید نه وي چی که فرضی روژه نه سوه نو نفلی خو به سي او که

مثلاً دوڅې دفرضي روژې حال معلوم سو بيا يه فرضي روژه **پوره سه** ، چې نيت نه خولې کارېږدي چې سړې ووائي چې زه صبا نفلي روژه نسم بلکه نيت د زړه کاردی نو کې په زړه کې تردد وو نو روژه يه مکروه ده ، نو دکراهت څخه سړي يا په دی خلاصيږي چې دسړي عادت وي چې په هفته کی يکشنبه اودوشنبه مثلاً روژه نيسي هغه دده معتادی روژې پرشک روژې برابرې سي. نو روژه نيول يـه مکروه نه ده اوپـه دي دوه دکراهت څخه خلاصيږي چې دړې روژې پـاخلور يابالاد روژې تر مياشتي دمخه سړي شروع کړي ،،

اختلاف د بعض فقهاءٔ وائي چې دشک روژه نه نيول افضل دي، ولې چې بې ترديد نيت قلبي ډيرمشکل دی عوام خوڅه کوي بلکه بعضِ ملايانو ته هم مشکل دی ، ددی سببه چې اکثرملايان په تول کال کی يوه روژه هم نفلي نه نيسي - نو په شک روژه کی څرنګه دی د نفلو بلا ترديد قلبي نيت کولای سي، دليل ددی فقهاوُو دادی چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم ددی روژې دنيولو څخه نهی کړې دی کما**م درويش وائي** چې زما هم داغ خوښه ده ، اوبعض علماء وائي چې روژه نيول يـه افضل دی ولې چې حضرت علی کرم الله وجهه اوحضرت عائشی رضی الله تعالی عنها دغه روژه نيوله ، والجواب انـه لاينبغی لاحدان يقيس نفسـه المتردد علی اصحابه، قـال المصنفؒ:

وَاِنْ ظَهَرَ اَنَّهٗ مِنْ رَمَضَانَ اَجْزَءَ عَنْهُ مَاصَامَهٗ

اوکه چيرې ښکاره سوه چې دغه دروژې دمياشتي ده يعني دورځې خبر صحيح راغلی نو دغه سړي چې په دغه ورځ يه نفلي روژه نيولې ده دفرضي روژې کفايت کوي ، قـالَ المصنفؒ:

وَاِنْ رَدَّدَ فِيْهِ بَيْنَ صِيَامٍ وَفِطْرٍ لَايَكُوْنُ صَائِمًا

اوکه سړې ترديد وکړي پـه مابين کی دروژې نيولو اوخوړلو مثلاً داپـه نيت وو که روژه سوه خو زما يه روژه اوکه روژه نه سوه زه به خورم نو پـه داسی نيت دی روژه اې نـه کرځي، يعنی که صبا تر ضحوة الکبرې وروسته معلومه سوه چې روژه ده ددغه سړي روژه نه ده صحيح

قـال المصنفؒ
وَكُرِهَ صَوْمُ يَوْمٍ اَوْ يَوْمَيْنِ مِنْ اٰخِرِ شَعْبَانَ وَلَا

اومکروه ګڼل سوی ده يوه ورځ روژه اويا دوی ورځی روژه داخيره څخه دبرات دمياشتي اومکروه نه ده بالاتر دوو ورځو لقوله عليه الصلوٰة والسلام: لَاتَقَدَّمُوا

يُكْرَهُ مَا فَوْقَهُمَا

الشَّهْرَ بِيَوْمٍ وَّلَا يَوْمَيْنِ ، متفق عليه مره اوامام شافعیؒ وائي چې دبرات مياشت چې نيمی ته ورسيږی بيا بله روژه مکروه ده بيله فرضي روژې ،قال المصنفؒ

وَيَاْمُرُ الْمُفْتِیُ الْعَامَّةَ بِالتَّلَوُّمِ يَوْمَ الشَّكِّ ثُمَّ يَاْمُرُ

اوامر کوی دی مفتی دمحکمه شرعيې عام خلق پـه انتظار سره دحال دروژې يعنی بيله نيته دروژې بلکه

بِالْاِفْطَارِ اِذَا ذَهَبَ وَقْتُ النِّيَّةِ وَلَمْ يَتَعَيَّنِ الْحَالُ

دخوړلو وغيره څخه پرهيز وکړي پـه ورځ کی دشک يعنی تر ياخه ثابت پوري اودامر دمفتی چې پـه بازارو کی دی يوه ورځ دمخه اوپرمنارو باندی اعلانونه وکړي، اوبيا دی مفتی امر وکړي خلکو ته چې اوس نوخوړل وغيره شروع کړي چې وخت دنيت تيرسی چې ضحوة الکبرې وه، اودروژې حال نه وی معلوم سوی **فـائـده** : ولی داامر دمفتی وظيفه ده دقاضی نه ده **جواب** قاضی خوصرف حکم ورکوونکی دی فتوٰی خود مفتی کاردی ، قـالَ المصنفؒ:

وَلْيَصُوْمُ فِيْهِ الْمُفْتِیْ وَالْقَاضِیْ وَمَنْ كَانَ مِنَ الْخَوَاصِّ

اوروژه دی ونيسي پـه ورځ دشک کی مفتی اوقاضی اوهغه خلک چې هغه دخواصو بندګانو څخه د خدائی وي، لکن داروژه به پـه پټه سره نيسي چې عوام پـه خبر نه سي، ولی عوام بيا اعتراض کوي چې وګوره موږ ته وائی چې روژه مه نيسي اوځپله يـه نيسي ، قال المصنفؒ:

وَهُوَ مَنْ يَّتَمَكَّنُ مِنْ ضَبْطِ نَفْسِهٖ عَنِ التَّرْدِيْدِ فِی النِّيَّةِ

وَمُلَاحَظَةُ كَوْنِهِ عَنِ الْفَرْضِ

اوخاص بنده دخدائ هغه سړی دی چې ګمان سات لری سی دتردید څخه په نیت کی یعنې د فرضی اونفلی ترمابین، اوهیڅ په زړه کی دا نه ورګرځی چې دا روژه به دفرضو څخه وه ګرځی یعنی که دمیاشتی معلومات وسو، **فَـــائِدَه:** په اوس زمانه کی په بعضی ملکونو لکه پاکستان چې شرعی مفتیان نشته، اویا مفتیان خووی لکن دا وظیفه نه اجراء کوی، نو دا وظیفه دملایانو په غاړه ده چې پخپلو مساجدو کی دی عوام په دغه تلوم او انتظار خبر کړي **فَـــائِدَه** په دغه شرط برابر خاص سړي دي نا دردی "فضلاً عن المفتي والقاضي: قال العلامة الزمخشري: قضاة زماننا صاروا لصوصًا ؛ عمومًا في القضايا لا خصوصًا ؛ نخاف منهم والوصاحونا ؛ للصوامن خوا تمنا فصوصًا ؛

فَـــائِدَه: د تلوم فائده په اوسنی زمانه کی چې راديو ګانی په ښارو او قريو کی بلکه په صحرا نشينوکی هم موجود دی، چې دمياشتی خبر پروخت خپره وی" داده" چې ممکنه ده چې دروژی دمياشتی دليد لو خبر دی حکومتی منابعو نه دشپی رسيدلی وی چې دسحار په خپرونه کی نشر کوی، وسحاری خپرونه خونا وخته شروع کيږی ه قَالَ الْمُصَنِّفُ ؛

وَمَنْ رَأَى هِلَالَ رَمَضَانَ اَوِ الْفِطْرِ وَحْدَهُ وَرُدَّ قَوْلُهُ لَزِمَ الصِّيَامُ

اوکه چا وليدله مياشت د روژی يا دکښتنی اختر يواځې او رد کړه سو يعنی دقاضی دخوا قول دده په سبب ديواځې والی يا دفسق" نو پرده روژه نيول خو لازم دی اوکې قاضی قول ومنی خو په طريق اولی، بيلا زمه ده. **مَسْــئَله** که شاهد فاسق وو اوسره دهغه امام يا قاضی قول ومنی او خلکوته يه امر د روژی وکړی، نوکه دمخبر اويا يوه د اهل بلد پله نيت کولو، روژه وخوړله په نيزد عاموم مشائخو کفاره باندی سته، او بعض فقهاء وائی کفاره باندی نشته، ولی دده خبر په سبب دفسق خود منلو نه وو اوکه ليدونکی عادل وو او امام يه اخبار رومانه او اعلان د روژی يه هم وکړی نوکه هرڅوک روژه وخوری کفاره باندی لازمه ده بلااختلاف ه

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولوالديهما ولجميع المؤمنين والمؤمنات

قَالَ المصنف وَلَا يَجُوزُ لَهُ الْفِطْرُ بِتَيَقُّنِهِ هِلَالَ شَوَّالٍ

او نه دی روا ودغه سړی ته ماتول د روژی په سبب د تيقن دده چې دا هلال دشوال ده، او فقيه ابوجعفر الطحاوي وائي. چې دغه سړی دی خوراك اوڅښاك اوجماع نه کوی لکن روژه دی فاسده کړی، اوپه روژه نيولو کی دي دثواب الهی خيال نه کوی، ولی خودده په نيز خو دغه داختر ورځ ده او بعض مشائخ وائی چې دغه سړی دی دی خوراك وغيره کوی لکن په پټه دحکم څخه، نومصنف دغه دواړه مذهبه رد کړه بقوله وَلَا يَجُوزُ آه قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاِنْ اَفْطَرَ فِى الْوَقْتَيْنِ قَضٰى وَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ وَلَوْ

اوکه دی سړی ماته کړه روژه، په دغو دواړو وختونو کی يعنی چې ده مياشت دروژی وليدل يواځې مګر دغه

كَانَ فِطْرُهُ قَبْلَ مَا رَدَّهُ الْقَاضِىْ فِى الصَّحِيْحِ

روژه يه ماته کړه اويا يه دسوال مياشت وليدل يواځې نو روژه يه وخوړله، نو حکم دادی چې په دواړو صورتو کی دی ديوی روژی قضا راوړی، که څه هم ماتول د روژی د مخه تر رد د قاضی وکړه د شاهدی دده پر صحيح روايت، ولی چې دد ی سړي ماتول د روژی په سبب دشبهی دی او سره دشبهی کفاره نشته، او بعض فقهاء وائی چې پر دغه سړي په دواړو صورتو کی کفاره سته کی دمخه تر رد دقاضی روژه ماته کړه" قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِذَا كَانَ بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ مِّنْ غَيْمٍ اَوْ غُبَارٍ وَّنَحْوِهٖ قُبِلَ

اوکه وو په آسمان کی بو علت يعنې چې مانع وو د تري سپوږمی د ليدو څخه يا وريځ وه يا ګرد وو يا مثل دهغه لکه شبنم يا تموښ

خَبَرُ وَاحِدٍ عَدْلٍ اَوْ مَسْتُوْرٍ فِى الصَّحِيْحِ

چې ضبات يه بولی په عربی، قبول دی کړي يعنی قاضی دی قبول کړي اخبار ديوه سړی

چې وائي ما میاشت ولیدله چې داخبر ورکونکی عادل وي، اویامستورالحاله وي، یعنی دفسق او عدالت دواړه یې نه وي معلوم، او عدل هغه سړی ته وائي چې نیکی ترېدی ډېرې وي، چې جامع تفسیر یې دادی ملکة تحمل علی ملازمة التقوی والمروة» یعنی یو محکمه قوت دی په مسلمان کې چې هغه قوت دی بامثه کوي پرهمیشه لوب دبیرې دخدائ او دغیرت بڼکارو» مصنفؒ صحیح وویئله په مقابل کې دظاهرالروایة چې خبر دمستور نه دی مقبول، «م ط» قال

وَلَوْشَهِدَعَلٰى شَهَادَةِ وَاحِدٍمِّثْلِهٖ وَلَوْكَانَ اُنْثٰى اَوْرَقِيْقًا

اوکه چیرې شاهدي اداکړه پرشاهدي دیوه سړي مثل دهغه یعنی هغه هم یو وو او عدل وو یا

اَوْمَحْدُوْدًافِىْ قَذْفٍ تَابَ لِرَمَضَانَ

مستور وو که څه هم ښځه وي اویا مرئی وي اویا محدود په قذف کې سوی وي اوتوبه یې کښلې وي چې داشاهدي په باره د روژې وي

مسئله عدل یامستور چې میاشت ولیدله په دغه شپه کې به حاکم ته ورځي اوخبر به ورکوي تاچې صبا روژه ونیسي **مسئله**، که میاشت پرده ناکه ښځې یعنی ځوانې لیدلې وه نو دا کولای سي چې بیله اجازې د ولي ولاړه سي قاضي ته څپله شاهدي اداء کړي ولې چې دااخبار پر دی فرض دی، په فرض عین کې د ولي واجازې ته ضرورت نسته» م»

سوال: د محدود فی القذف په باره کې ایت مبارکه داسې راغلی دی» وَلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا **جواب**: محدود فی القذف»، چې توبه وکاږي نوخو عدل ګرځي او دمیاشتې لیدلو خبر خو شاهدي نه ده بلکه صرف خبر دی نوکه محدود فی القذف پسله توبې څخه روایت دحدیثو وکړي نو هغه روایت یې خو بالاتفاق قبول دی» فاخباره برؤیة الهلال لرمضان مقبول باالطریق الاولی»

مسئله: په شاهدي کې پرشاهدي دمیاشتې دلید ونکي یو سړی هم کافي دی، ولې چې په اصل کې چې رویة دهلال رمضان دی یو کافي دی نو په فرعه کې هم یو کافي دی»

فائده: داخبر خاصه ده دروژې دشاهدي په نقل سره ده، ولې چې دااصلاً

شاهدي نه ده اخبار دی، لکن په اصل شاهدي کې چې دیوه سړي شاهدي نقل کوي دوه نر غواړي یا یو نر دوې ښځې کذا فی بحرالرائق» قال المصنفؒ:

وَلَايُشْتَرَطُ لَفْظُ الشَّهَادَةِ وَلَاالدَّعْوٰى

او نه دی شرط داخبار د رؤیة الهلال دپاره لفظ د» اَشْهَدُ بِاللّٰهِ مثلاً او دغه رنګه نه ده شرط دعوٰی»

مسئله په اتفاق دفقهاوو دمذهب حنیفي الا النادر، او په اتفاق د امام شافعيؒ قول ته دنجوم ګرانو یا جنتري جوړونکو اعتبار نسته» په باره کې دمیاشتې د روژې نه ابتداءً او نه انتهاءً نقله الامام الطحطاويؒ عن ابن الشحنة» قال المصنفؒ:

وَشُرِطَ لِهِلَالِ الْفِطْرِاِنْ كَانَ بِالسَّمَاۤءِعِلَّةٌ لَفْظُ الشَّهَادَةِ

او شرط کړل سوی ده ای لثبوته وکذا سائر الاہلة،»م» دکوچني اختر دمیاشتې دلیدلو دپاره که چیرې په اسمان کې علت وو لفظ دشهادت کمامر ذکرها» قال المصنفؒ:

مِنْ حُرَّيْنِ اَوْحُرٍّوَحُرَّتَيْنِ بِلَادَعْوٰى

مسلمین مکلفین غیر محدودین فی القذف دوو ازادو نارینه وو څخه اویا یو ازاد نر او دوې ازادې ښځې بیله دعوی کولو» **پوښتنه**، لیدل دمیاشتې دکوچني اختر خو هم خبر دی نو ولې عدد او حریت او لفظ دشهادت او دا چې شاهدان به محدود فی القذف نه وي» په کښو شرط دی، **واجاب عنه** صاحب البحرؒ چې په خبر کې دلیدلو دمیاشت دعید الفطر نفع دعبادو سته چې خولې یې وخوړلې ته خلاصي مې، نوبلکه نو حقوق دبندګانو» نو مذکوره شیان چې په حقوقو کې دبندګانو دشاهدي شرط دی نو دعید الفطر په اخبار کې هم شرط دی

قال المصنفؒ

وَاِنْ لَّمْ يَكُنْ بِالسَّمَاۤءِعِلَّةٌ فَلَابُدَّمِنْ جَمْعٍ عَظِيْمٍ

او که په اسمان کې علت نه وو نو چاره نسته، دلوی جماعت دشاهدي څخه دپاره د روژې او فطر

لِرَمَضَانَ وَالْفِطْرِوَمِقْدَارُالْجَمْعِ الْعَظِيْمِ مُفَوَّضٌ اِلٰى

رَأْيِ الْإِمَامِ فِي الْأَصَحِّ او انداز د جمع عظیم مفوض وراۍ ته د امام یا قاضي دی. **پوهه سه** چې مقدار د جمع کثیر په ظاهر الروایة کې خونه دی نو امام ابو یوسف وائي چې پنځوس کسه غواړي، او خلف بن ایوب وائي چې پنځه سوه کسه غواړي او بعض فقهاء وائي چې د هر مسجد جماعت څخه یو یا دوه کسه غواړي او مصنف چې تفویض وراۍ ته د امام کړې دی دا مذهب دی د امام محمدؒ کذا في البدائع او فتح القدیر والا وائي چې حق په دی مسئله کې مذهب د امام محمدؒ دی» قال المصنفؒ:

وَإِذَا تَمَّ الْعَدَدُ بِشَهَادَةِ فَرْدٍ وَلَمْ يُرَ هِلَالُ الْفِطْرِ

او که پوره سو عدد د روژې یعنی ۳۰ روژې په شاهدی سره د یوه سړي یعنی په سرکې د روژې

وَالسَّمَاءُ مُصْحِيَةٌ لَا يَحِلُّ لَهُمُ الْفِطْرُ

یوه سړي شاهدي د لیدلو د میاشتي ور کړې وه او قاضي د هغه شاهدي منلې وه او حکم د روژې یې کړی وو، او نه ولید له سول میاشت د فطر یعنی شوال او حال دا وو چې اسمان هم صاف وو، نو نه ده روا خلګو له روژه خوړل، او دا هم اتفاقي مسئله ده لکه شمس الائمة السرخسيؒ چې وائي، او دی وائي چې قاضي دي هم هغه شاهد ته دی تعزیر ورکړي چې ولې ده داسې غلطه شاهدي ادا کوله» کذا في الدر» وفي التجنيس اذا لم يُرَ هلال شوال في الصورة المذكورة خلګ دی یوه روژه بله ونیسي لظهور غلط الشاهد او زیلعي په شرح کې د کنز وائي که آسمان په دغه صورت کې وریځ درلوده، بیا دی خلګ د سبا روژې وخوري ولې چې غلطیا د هغه شاهد نه سوه ښکاره او عدد د روژو پوره هم سو» قال المصنفؒ:

وَاخْتَلَفَ التَّرْجِيحُ فِيمَا إِذَا كَانَ بِشَهَادَةِ عَدْلَيْنِ

او ترجیح د روژې په نیولو کې یا په ماتولو کې اختلاف په کښې دی یعنی د علماء په هغه صورت کې چې د روژې میاشت په شاهدۍ د دوو عادلانو ثابته سوې وه او د هغه وخت څخه روژې پوره ۳۰ سوې. او اسمان هم صاف وو لکن سره د هغه د شوال میاشت نه ولیدل سوله»

او په دې یې او خلاصه او بزازیه کې وائي چې فطر صحیح دی بلکه لازم دی. ولې چې د دوو شاهدانو په ثبات د رمضان داسې دی لکه عیان یعنی لیدل دشي، ګویا اوله میاشت ګردو خلګو لیدلې وه او په مجموع النوازل کې وائي او امام اجل سید ناصر الدین په هم تائید کړې دی. چې خلګ دې روژه ونیسي، ولې چې سره د صاف والي د اسمان چې خلګو هلال د شوال نه ولیدل نو دا دلیل دی د سهو د اولو شاهدانو» د رویش وائي چې د بنده هم دغه مذهب خوښ دی. د دې سببه چې اسمان صاف وي، نو ولې میاشت نه سوه معلومه او سره د دې چې ضبط د هلال شوال شرعًا او ښځې تر اووا هم تولې دی»

سوال: اول شاهدان خو مونږ عادلان فرض کړي وه نو خرنګه دوی په خطا بلل کیږي

جواب: عدالت د دوی خو دلیل د دې دی چې دوی په قصد دروغ نه دی ویلي لکن احتمال د سهوې د دوی خو عدالت ته د دوی کم نه کوي واو نه رسوي» قال المصنفؒ:

وَلَا خِلَافَ فِي حِلِّ الْفِطْرِ إِذَا بِالسَّمَاءِ عِلَّةٌ وَلَوْ ثَبَتَ

او خلاف د فقهاوو نشته په روا والي کې د فطر یعنی چې عدد د روژو پوره سي که چیرې په اسمان

رَمَضَانُ بِشَهَادَةِ الْفَرْدِ وَهِلَالُ الْأَضْحَى كَالْفِطْرِ

کې علت وو که څه هم د روژې میاشت په شاهدي د یوه سړي ثابته سوې وي او میاشت د لوی اختر په حکم کې لکه میاشت د کشني اختر ده یعنی که علت وو نصاب د شهادت غواړي، او که علت نه وو نو جمع عظیم غواړي، او دا هم ظاهر روایت دی، قال المراقي وهو الاصح لما تعلق به نفع العباد» او د امام اعظمؒ څخه داسې روایت هم راغلی دی چې د لوی اختر میاشت لکه د روژې میاشت په حکم کې یعنی نصاب په کښې شرط نه دی، لکن دا روایت نادر او شاذ دی که څه هم تحفې تصحیح کړیده خو بیا هم فتوی نه ده په روا بلکه اصل مذهب ظاهر الروایت دی کما مره

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولوالديهما ولجميع المؤمنين ولمن نظر فيه بالانصاف

قَالَ المصنفؒ **وَيُشْتَرَطُ لِبَقِيَّةِ الْاَهِلَّةِ شَهَادَةُ رَجُلَيْنِ عَدْلَيْنِ**
اوشرط دی د ثبوت د نورو میاشتو د پاره یعنی که په اسمان کی علت وو، شاهدی د دوو نرو
اَوْحُرٍّ وَحُرَّتَيْنِ غَيْرِ مَحْدُوْدِيْنَ فِي الْقَذْفِ
عادلانو، او یا یو حر نر او دوی ښځی حری، چی دوی محدود فی القذف هم نه وی، او په اسمان کی علت نه وو نو بیا جمع عظیم شرط ده" ولی چی په نورو میاشتو پوری حقوق د خلګو مربوط نه پو، و وعدی وغیره نو ځکه د محدود فی القذف شاهدی نه ده پکښی روا کام

پوښتنه: په وړاندی متن کی داسی وویل سول: وَلَا يشترط لفظ الشهادة وَلا الدعوى "دشهادت لفظ خو ظاهر دی، نو پوښتنه داده چی د دعوی تصویر څرنګه دی په لیدو کی د میاشتی د روژی چی مصنفؒ وویل چی نه ئی غواړی **جواب** یو سړی طلاق د ماینی یا عتاق د مریی مثلاً معلق کړځولی وی د روژی د میاشتی په نوی والی سره، نو ښځی یا مریی دعوه وکړه چی د روژی میاشت ننشیه ر انوی سوه او میړه یا مالک ځندی منکر وو نو هغه مدعی شاهدان تیر کړی چی موږ میاشت ولیدل، نو په دی شاهدانو سره خو هغه اصلاً هغه دعوی ثابته سوه لکن نوی والی د روژی ضمناً ثابت سو، ولی مجرد دخول د میاشتی بیله ور ته دعوی خو تر حکم د قاضی نه لاندی کیږی، **فائده**: د جمع عظیم په شاهدی کی عدالت شرط نه دی بلکه اسلام د مخبرینو هم شرط نه دی "ط" لانه بمنزلة الخبر المتواتر فی غیر الحدیث النبویؐ کالاخبار بالبلدان الخالیة والملوك الماضیة ولا یشترط فی التواتر المذکور اسلام المخبرین کلهم فضلاً عن العدالة" قاله الکمال بنقل ط قَالَ المصنفؒ

وَاِذَا ثَبَتَ فِيْ مَطْلَعٍ فِطْرٍ لَزِمَ سَائِرَ النَّاسِ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ
او که ثابته سوه د میاشتی لیده په مطلع کی دیوه وطن، نو لازم ده پر ټولو خلګو منل د

مغی میاشتی په ظاهر مذهب او روایت کی، قَالَ المصنفؒ
وَالْمَذْهَبِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى وَاَكْثَرُ الْمَشَائِخِ
او پر دغه مذهب هم فتوی ده او اکثر مشائخ رح هم پر دغه دی، د درویش وائی چی دا معنا ده د دی قول د فقهاوو او اهل المتون: ان اختلاف المطالع لا اعتبار له، **پوهسه** چی مسئله د اختلاف المطالع قدیماً وحدیثاً معرکة الاراء ده **فائده**: اختلاف د مطلع یو بلد او د بل بلد" په یوه میاشت مسافت کی راځی او دا یه اقل درجه ده" جواهر
فائده ثبوت د میاشتی په نیزد غیر لیدونکو په صرف حکایت سره نه کیږی چی یو یا دوه کسان ووائی چی په فلانی بلد کی میاشت ولیدله. بلکه په دی ډول کیږی چی څو کسه شاهدی اداء کړی چی د فلانی بنار قاضی حکم وکړی د میاشتی په لیدو په شاهدی د شاهدانو، او یا د شاهدانو شاهدی نقل پر نقل تر دی بلده پوری ر اورسیږی" او یا د لید و د میاشتی خبر مشهور سی، لکه په پخوا زمانه چی به قاضی د شاهدانو په شاهدی د میاشتی لیدل منظور کړه، نو په بنار کی به ئی ډیر توفونه وویشتل چی خلګو ته به دا ثابته سوه چی میاشت ولیدل سول، او په قریو کی به د توفکانو ډیر پیرو نه وکړه، او په اوسنی زمانه کی چی دیوه دولت اسلامی ر ادیو اخبر کی چی په فلانی دولت اسلامی کی میاشت ولیدل سول او قاضیانو هم حکم په وکړی"
پوښتنه: په ر ادیو کی خبری کوونکی یو سړی دی یا فاسق کما هو الاغلب او عادل، نو د راډیو په وینا څرنګه د میاشتی لیدل ثابتیږی، او سره د دی چی په ر ادیو ګانو کی خو ډیر د روا غ خبرونه هم خپریږی کما یدل علیه التجربة، نو بیا ید څوک د ر ادیو خبر ته په باره کی د میاشتی د روژی یا فطر اعتبار ور نه کړی **جواب**: تا بنه وویل چی خبر خپروونکی د ر ادیو یو سړی دی ګاهی فاسق او ګاهی عادل، او ګاهی رښتیا او ګاهی د روا غ، لکن په امور د ینیه وو کی لکه رمضان، فطر، ذو الحجة، د حکومت اسلامی پر ر ادیو باندی حکم وی چی په ورته خبرو کی به غلط خبر

نواخبار د ر ادیو دیوه دولت اسلامی پرمنزله د اخبار د ټول حکومت مسلمه ده هغه هیواد دی
نو ځکه مونږ اخبار د راډیو د اخبارو مشهوره و وغنر بولو. **مسئله**: که یو وطن والو ته ثابته
سوه چې په فلانی وطن کی یوه ورځ د مخه روژه وه نو پر دوی باندی یوه ورځ دخولې روژی قضا
لازمه ده بناءً علی ظاهر المذهب. م.

پوښتنه چې بعض فقهاءُ لکه صاحب التجرید وغیره پردی رایه دی چې اختلاف د مطالعو
اعتبار لری او د یوه مطلع روژه یا فطر د بل مطلع پرخلګو نه دی لازم، دوی وائی چې د مختلفو
بلادو مطالع داسی کیدای سی چې پر یوه بلد لمر زوال وکړی او د ماپښین وخت داخل سی او پر
بل بلد لمر غروب وکړی نو په اولو خلګو د ماپښین لمونځ واجب دی نه د ماښام بلکه د ماښام
لمونځ ورته روا هم نه دی، ولې چې سبب د ماښام د لمانځه چې غروب الشمس دی پر دوی نه دی راغلی
او پر دوهم بلد د ماښام لمونځ واجب دی نه د ماپښین وذالک ظاهرٌ، امام طحطاویؒ دلته یوه
عجیبه خبره کړیده دی وائی چې مذهب د صاحب التجرید اشبه یعنی د صواب سره که څه هم اول
اصح دی فتدبر. **درویش وائی** چې د عینی ده کلام څخه داسی فهمیږی چې اعتبار اختلاف
لره ده مطالعو سته یعنی خلاف د ظاهر المذهب، دی وائی چې میاشت که د روژی او که د بلی
میاشتی وی هلته نری والو ته معلومیږی چې د اشعاعو څخه د لمر جلا سی، او د اجلا والی مختلف
کیږی په اختلاف د بلدانو د محکی مثلاً کوم بلد چې د مشرق و خواته وی هلته سپوږمۍ و لمر ته
ډیره نژدی وی، نو ځکه په سبب د شعاعو د لمر دا نه معلومیږی او څرنګه چې لمر د مغرب و خواته
روان وی سپوږمۍ کرار کرار ځندی پاته کیږی حتی لمر بنه ډیر ولاړ سی د مغرب پر خوا او سپوږمۍ
۱۲ درجې ځندی پاته سی نو رویت د هلال ممکن ګرځی کما تقرر فی کتب الهیئة. لکه طلوع د سپیدو
او غروب د لمر چې هم په دغه ډول مختلف کیږی، او دغه رنګه چې لمر زوال وکړی په مشرق
کی دا نه ده لازمه چې په مغرب کی به هم وخت د زوال وی، بلکه ممکن ده بلکه واقع ده چې یو وخت
دی طلوع الفجر وی دیوه قوم د پاره او هم دا غه وخت دی طلوع الشمس وی د نورو د پاره او
وخت د غروب الشمس دی وی د بعض خلګو د پاره او نصف لیل دی وی د نورو د پاره. وهذا
مثبت فی علم الافلاک والهیئة انتهی قول العینی مع زیادة من در.»

درویش وائی چې حوالی د علم الهیئة ضرورت نسته، ولې چې خلګو ته په تجربه ثابته
ده مثلاً څوک چې امریکې ته ټلفون کوی نو دغه خلګ د دوی د وطن په څابنت کی ټلفون نه وکړی
ولې چې پر امریکا یا نو شپه وی او دوی غالباً بیده وی او دغه رنګه د غرمې په وخت کی یا د ماپښین
په وخت کی ټلیفونی تماس د امریکا یا نو سره نسی کولای بلکه دوی به د دوی د وطن په شپه
کی ټلفون ور کوی چې د امریکا یا نو ورځ سی، وهکذا فی البلاد والاوطان الأُخر المختلفة فی
المطالع والمغارب نعم هغه وطنونه چې تر یوی نصف نهار لاندی وی په طلوع او غروب
کی فرق نه سره کوی، نو د دوی تر مابین یو والی په روژه او فطر کی لازم دی کما لا یخفی علی
ماهری الافلاک والهیئة.

درویش وائی: که دا خبرای غریب نه وای، او دا شرح د مبتدیانو د پاره نه وای نو ما به دی
مسئلی ته ډیر تفصیل ورکړی وای. فائدة جدیدة کمغلطه ده که بنه: د د روایت ده دا نظریه:

پوښتنه: چې کتابونه ټوله وائې چې اقل مرتبه چې مطالع په کښی مختلف کیږی په
معلوم داره طریقه دیوی میاشتی مسافت دی د پښو په مابین کی د مشرق او مغرب د دوو ښارو
یا بالاتر هغه چې په اصطلاح دی ته مطالع کلیه وائې» او چې تر دی کم وی په هغو مطالعو
کی که څه هم طلوع او غروب لږ ناڅه فرق سره کوی، لکن دونه فرق نه سره کوی چې سبب د
اختلاف د لیدو د میاشتی د روژی یا فطر مثلاً دی وګرځی، او دی مطالعو ته په اصطلاح کی
مطالع جزئیه وائې: اذا عرفت هذا نو **پوښتنه** چې په زمانه کی د مجتهد اعظم ابوحنیفةؒ
څرنګه چې وسائل د نقل د خبرو په مابین کی د شرقی او غربی د ښارو پر ډېرو منزل وو او یا
پر آسانو یا پر خرو وغیره، نو په هغه زمانه کی خبرونه د نژدی ښارو سره رسیدله یعنی د
مطالعو جزئیه وو حالات چې هغه سبب د اختلاف د مطالعو پر داسی ډول چې یو ځای دی
په واضح توګه میاشت معلوم سی په بل ځای کی نه نو په ورته ځای کی په یوه بلد کی په سبب
د خراب والی د هوا یا د وجود د وریځې میاشت د روژی یا فطر نه ولیدل سی، او په بل بلد
کی چې هوا یه صافه وی او د ریاب ور ته نژدی او وریځ هم نه وی میاشت ولیدل سی، او هغه اول بلد
ته یه ورو سته حال معلوم سی نو که اول بلد والا اول روژه نه وه نیولی نو قضاء یې پر لازمه ده

اودا معناده ددی عبارت دفقها وُوچې اختلاف د مطالعو اعتبار نه لري يعني پر تهولو روژه یا فطر لازم دی، او هغه عبارت چې په بعضو کتابوکې د فقهي ليدل کيږي چې د غرب ليدل پر شرق باندی احکامی دینیه لکه روژه او فطر لازمول مراد عين شرق او غرب نه دی چې په مابین کی نصف دور د فلك وي بلکه مراد د غه بلاد شرقيه او غربيه دی چې ذکر سول، او دی ځنګ جانب مخالف بلکه هیڅ څوك انکار نسي کولای، او دا اوس چې وسائل د نقل د خبرو دير دی هر ګړی او ګړندی سوي، لکه تلفون، راډیو، تلویزون، انټرنیټ وغیره چې په یوه دقيقه کی مثلاً د غرب احوال و شرق ته رسوي و بالعکس نو بايد اختلاف د مطالعو يعني الکلیة اعتبار ولري، لکه چې عيني دلمږ ځو په مسئله کی تصريح په وکړه. داوود فقير د زره حال، والله اعلم بحقيقة الحال، قال المصنف:

وَلَاعِبْرَةَ بِرُؤْيَةِ الْهِلَالِ نَهَارًا سَوَاءٌ كَانَ قَبْلَ الزَّوَالِ

او اعتبار نسته ليدلو لره د مياشتی په ورځ کی خواه دا ليدل په د مخه تر زوال وي يا وروسته

أَوْبَعْدَهُ وَهُوَ لِلَّيْلَةِ الْمُسْتَقْبَلَةِ فِي الْمُخْتَارِ

ترجمه: په دی معنا اعتبار نسته، ليدلو لره د مياشتی په ورځ کی چې خلګ دی د غه ورځ د روژی وبولي يا د اختر، فلذا قال في الخانية فلا يصام ولا يفطر به، نو دا هلال د وروسته شپی ګڼل کيږي، په مذهب کی چې مختار مذهب دی د امام اعظم او امام محمد په بدائع کی وائی چې امام ابو يوسف وائی کی مياشت تر زوال وروسته وليدل نو دا مياشت د وروسته شپی ده، او د ليدلو ورځ ده د روژی نه ده، او کی مياشت د مخه تر زوال وليدل هغه مياشت د تيری شپی ده او ورځ د ليدو په د رمضان ورځ ده او هم پر د غه قياس دی ليدل د مياشتی د کوچنی اختر قبل الزوال او بعده، يعني په هغه کی هم د غه اختلاف سته،

اللهم اغفر لمؤلفه ولشارحه ولكاتبه ولجميع المؤمنين والمؤمنات آمين آمين
خدايه وبخښی مولف او هم کاتب :: لوی څښتن لره محبوب ده د غائب،

بَابُ مَالَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ

باب دی په بيان کی د هغو شيانو چې روژی نه فاسدوي.

وَهُوَ أَرْبَعَةٌ وَعِشْرُونَ شَيْئًا مَالَوْ أَكَلَ أَوْشَرِبَ أَوْجَامَعَ نَاسِيًا

او هغه خليرويشت شيان دي يو د هغو ۲۴ څخه دادی چې صائم خوړلك وکړی او یا څښك وکړي یا وطی وکړي يعني یا دوه د هغو څخه یا د ري سره، لکن په هيری سره د روژی نو روژه یې نه فاسديږی، په دليل د هغه حديث: إِذَا أَكَلَ الصَّائِمُ نَاسِيًا فَإِنَّمَا هُوَ رِزْقٌ رَزَقَهُ اللهُ إِلَيْهِ فَلَاقَضَاءَ عَلَيْهِ، **فَائِدَه**: چونکه جماع لکه خوړلك او څښك د ماتونکو څخه د روژی وو، نو د هيری په صورت کی جماع هم حکم د خوړلك لري يعني روژه نه پرماتيږي، **مَسْئَلَه**: کی د جماع و په صورت کی روژه ور پياد سوه دستی دی ځيل غړد فرج څخه وباسی، او کی يو څه ځند وکړي روژه يې فاسده ده مګر کفاره نسته باندی، او کی په له روژی پياد يدو څخه نو پکښی و ښوراوه او یا ئی را وکښی او بیرته يې ور ننه ایستی روژه يې هم فاسده سوه او کفاره هم پر لازمه ده،

مَسْئَلَه کسري د شپی په اخير کی د ما ينی سره کار شروع کړي وو، د مخه تر انزال پر سپيدو وبيريدی، نو ژر يې منړ را وکښی او د باندی او د س پر واوښتی، وروسته سپيدی راوچاودی هيڅ شی باندی نسته لعدم الجماع في النهار صورةً ومعنىً، م،

او مصنف چې ناسی ووايه ولی که ئی خوړلك مثلاً په خطاء سره وو يعني روژه یې پياد وه او قصد د ماتولو يې نه وو بلکه په خوله يې او به لغړولی ځندی تيری سوي، او یا يې د کهوی خوندکنی مثلاً نا ببره يو څه ښوروا ځندی تيره سوه او یا يې د ما ينی سره په لخه کونه سات تيراوه نا ببره يې د غړ سرچي حشفه يې بولي ننوتل لکن فوراً يې را وکښل روژه یې فاسده سوه لکن کفاره نسته، بحر س، ط،

سوال: روژاتی ته خودغسی کول حرام دی **جواب** دحرمت څخه دروژی ماتوالی نه دی لازم لکه روژاتی چې غیبت وکړی مثلاً اوکه دوو ښځو خپل فرجونه سره مښل چې محقق په بولی نوکه نه سوی انزال روژه یه نه ماتیږی اوکه انزال سوی روژه یه ماته ده۔

مسئله: مصنفؒ انزال په کتو اوپه فکرسره مقید کی ددی سببه که سړی انزال سی په لمسه کولو د ذکرد ښځی دیوځای سره که څه هم په مابین کی د ذکر او د ښځی دځای حائل وی لکن حرارت دبدن محسوسه کیږی روژه یه ماته ده **مسئله**: که روژاتی په لاس کی ځان انزال کړی روژه یه ماته سوه په نزد دعامة المشائخ ؒ وهوالمختار، قه، ط، در، **مسئله** ورته فعل چې استمناء یه بولی په عربی بیله روژی هم حرام دی کی عرض قضاء دشهوت وه اوکی غرض ځان ساتل وه د زناء څخه مثلاً یعنی د ایه گمان وی که نه استمناء ونه کړم دشهوت دغلبی دسببه به زنا بالواطت څندی وسی، نوبه ورته فعل جواز ولری، انما الاعمال بالنیات، قال المصنفؒ

اوپایه نه غوړ کړی

اَوِادَّهَنَ اَوِاکْتَحَلَ وَلَوْطَعْمُهُ فِیْ حَلْقِهٖ

یعنی روژه یه نه ماتیږی مراتی وائی لکه سړی چې په روژه کی دگرمی دسببه په یخو اوبو لمبیږی چې یخ طن یه هم یخ سی روژه یه نه ماتیږی، ولیچې دا یخوالی دبدن ترمساماتو داخلیږی اوهغه اعتبار نه لری کذا قال الطحطاویؒ، اودغه روژه نه ماتیږی چې سترکی توری کړی که څه هم خوند د رنجو په حلق کی محسوس کړی اوپا رنگ د رنجو په نارو کی ووینی، وهوالاصح وقول الاکثر، مره مراقی وائی که دغه رانجه خوشبویه وی اوکه نه وی، نوددی څخه دا معلومه سوه چې روژاتی ته بویول دګل یا د مشکو وغیره مکروه نه دی **مسئله** که روژاتی په سترګو کی شیدی واچولی اوپایه دواء ور واچوله سره دیوقتم روغنو یه په حلق خوند معلوم سو روژه یه نه فاسدیږی، ولیچې داخل من المسام دی اوهغه ته اعتبار نسته، مر، ط، په حدیث شریف کی چې روایت یه عائشه رض کړی دی داسی راغلی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به سترګی توره ولې وهوصائمؓ،

فائدهؒ: دحضرت الامام الاعظمؒ څخه داسی روایت دی چې روژاتی ته مکروه ده چې په واله کی مثلاً دګرمی دسببه لمبیږی اوپا کالی پرځان

پوهسه: چې هیڅ په حقوقو کی د بنده گانو عذر نه ده، مثلاً یو سړی وه بل ته شی په نیت ورکی اوپایه امانت ور کړی، نوهغه سړی بغل ته کښیلیښو مثلاً چې ولاړ پیدی څندی هیرسو او ور ک سو ضمان یه پر لازم دی، **پوهسه** چې فساد او بطلان په عباداتو کی یو شئ دی البته په معاملاتو کی فرق سره لری، لکه بیع فاسده اوباطله کما تقرر فی محله، ط، در، قال المصنفؒ:

فَاِنْ کَانَ لِلنَّاسِیْ قُدْرَةٌ عَلَی الصَّوْمِ یُذَکِّرُهٗ بِهٖ

نوکه چیری وو ناسی (هیرو ونکی) خوړونکی لره قدرت پر روژی یعنی پر پوره کولو دروژی

مَنْ رَاٰهُ یَاْکُلُ وَکُرِهَ عَدَمُ تَذْکِیْرِهٖ وَاِنْ لَّمْ یَکُنْ لَّهٗ

ترماښام بیله ظاهره مشقته لکه قوی ځوان، نو روژه دی ور پیاد کی هغه څوک چې روژاتی پر خوړلو ووینی، اومکروه ده چې نه

قُوَّةٌ فَالْاَوْلٰی عَدَمُ تَذْکِیْرِهٖ

ور پیاد نه کړی، پر مختاره مذهب کذا فی فتح القدیر اوبعض فقهاءؒ وائی چې نه دی ور پیاد وی ولیچې دغه خوړلو د ده خو فاسدوونکی دروژی نه دی، اوکه نه وو روژاتی لره قوت تامه دروژی د پوره کولو نو اولا داده چې نه دی ور پیاد وی لکه سپین ږیری اوپا ضعیفه ځوان، ولیچې په دی پیاده ولو کی قطع د رزق الهی راځی، قال المصنفؒ:

اَوْاَنْزَلَ بِنَظَرٍ اَوْفِکْرٍ وَاِنْ اَدَامَ النَّظَرَ وَالْفِکْرَ

اوپا نو انزال سو په سبب دکتو وکس ته د ښځی کی خپله مابینه وی اوکه بیگانه وی اوپا په فکر وهلو انزال سی، که څه هم ډیر ور ته گوری اوپا ډیر فکر ووهی روژه یه نه ده فاسده ولیچې د ده څخه نه صورة دجماع وپیدا سوی دی اونه معنا دجماع وچې انزال دی په مباشرة په لمس سره،

لندہ وی اود مراق څخه نقل اَنقا وسو چې په لمبیدو په یخوا وبو روژه نه ماتیږی **جواب** یو روژی ماتوالی دی او یو کراهت دی، مراق خو وائی چې روژه نه په ماتیږی امام علیه الرحمة خونه وائی چې روژه په ماتیږی لکن دا فعل مکروه بولی، ولې چې دی فعل کی اظهار د تنگدلی د عبادت په ادا کولو کی کذا فی المنح وط، **مسئله**: که روژاتی دانگور دانه په تاریوری غوټه کړه او تیره یه کړه او بیرته یه راکش کړو او روغ یه راوکښه روژه یه نه ده ماته»م،ط،

مسئله: که ښځی په فرج گوته چخ کړه چې گوته یه نه لنده وله او نه غوړه روژه یه نه ماتیږی په مختاره مذهب» م، قــال المصنفؒ: **اَوِاحْتَجَمَ** او یا روژاتی وینی وکښی هم یه روژه نه ماتیږی، ولې چې په حدیث شریف کی راغلی دی: انَّهُ اِحْتَجَمَ صلی الله علیه وَسلم وهو محرم واحتجم وهو صائمٌ»، رواه البخاری، او امام احمدؒ په وینو کښو روژه ماته بولي او احنافؒ وائي که وینو کښو روژاتی ضعیفه کاوه د روژی څخه نو وینی کښل یه مکروه دی والا فلا بأس به» قــال المصنفؒ **اَوِاغْتَابَ** او یا یه غیبت دچا وکی هم روژه نه په ماتیږی **پوښتنه**: چې غیبت خو گناه کبیره ده، او غیبت وړی ته وائی چې ته د یو مسلمان ورور هغه حال بیان کی چې هغه یه غوږ کی اَچوی» بعض عوام د غیبت څخه بیخی منکر سی، ولې چې دی دچا غیبت کوی او بل سړی ور ته ووائی چې غیبت مه کوه دی په جواب کی ور ته وائی چې زه خو یه غیبت نه کوم، زه ئی حال بیا نوم دا بیا بله گناه ده، څو وخت چې علیه الصلوٰة والسلام د غیبت بیان کاوه، یو سړی پوښتنه څنگه دی وکړه، اِن کَانَ فی اخی مَا اقولُ» یعنی که زما په ورور مسلمان کی هغه عیب وو چې زه ئی بیان کوم نو هم غیبت دی، علیه الصلوٰة والسلام جواب ور کوی: اِن کَانَ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وان لم یکن فیه مَا تقول فقد بَهَتَّه» که په هغه کی دا عیب وو چې ته ئی بیان کوی نو څو غیبت دی وکړی، او که هغه عیب نه وی پکښی نو تا بیا بهتان پر هغه وَوَایه چې تر غیبت ئی گناه دیره ده

مسئله: که یو سړی کومه گناه په جهر سره کوله د هغه بیان کول غیبت نه دی، نوح آفندیؒ په حدیث شریف کی راغلی دی چې غیبت: اَشَدُّ مِنَ الزنَا» د دی وجه داده چې زنا چونکه ناداره د مسلمان څخه پیښیږی نو چې یو وخت پیښه سی په زړه کی پښیمانی غالبًا پید اکیږی،

او په زړه کی د توبی اراده یا بالفعل توبه ور نما کیږی او غیبت کوونکی چونکه غیبت یو عادی کار گرځولی دی، نو نه پښیمانی او نه اراده توبی یه په زړه کی پید اکیږی، قال المصنفؒ

اَوْنَوَی الْفِطْرَ وَلَمْ یُفْطِرْ او یا یه نیت د ماتولو د روژی وکړی مگر ماته یه نه کړه، په مجرد نیت سره یه روژه نه ماتیږی او په دغه نیت کی گناه کار هم نه دی، مگر هغه وخت چې ټینگ قصد د ماتولو یه وکړی و څو بیا دیو مانع د سببه یه ماته نه کړه، نو روژه خو یه ماته نه ده لکن د عزم په سبب گناه کاره دی،

درویش وائی: چې هم دغه حال دی د قصد د هر گناه کبیره، لبعض العلماء مراتب د قصد د اسی نظم کړی کما فی حواشی البحاری ونقله الطحطاویؒ ایضًا، مراتب القصد خمس هاجس ذکروا: فخاطر فحدیث النفس فاستمعا: یلیه هم فعزم کلها رُفِعت: سوی الاخیر ففیه الاخذ قد وقعا: وتفصیل تلک المراتب» هاجس: هغه دی چې پر هغه زړه دیوه بدکار خیال و سړی ته لکن بیله د زړه په بیرته په هغه فکر د زړه څخه ووزی» او خاطر: هغه فکر ته وائی د بدکار چې یو کړی په کښی متردد وی لکن بیا د زړه څخه ووزی» او حدیث النفس» هغه گناه دی چې په خوله هم ووائی چې زه دا کار کوم لکن نه ئی وکړي او هم اراده ته بدکار وائی چې دده په زړه ور گرځید لی وه لکن بیا هم نه ئی وکی او عزم، ټینگی ارادی ته وائی چې دهغه بدکار په بعض اسبابو لاس پوری هم کړی لکن بیرته یه پریږی دی **فــائِدَه**: په عزم کی صرف گناه د عزم لیکل کیږی نه د هغه فعل بد لکه د زنا عزم چې سړی وکړی نو د زنا گناه نه پر لیکل کیږی، قــال المصنفؒ:

اَوْدَخَلَ فِیْ حَلْقِهٖ دُخَانٌ بِلَا صُنْعِهٖ او یا داخل سی دود دده په حلق کی بیله کسبه دده ولې چې په دی معذور دی ولی قدرت یه پر منع نه لری او که څوک ووائی چې خوله دی بنده ونسی، زه وایم خو بیا د غه دود په پزه ننوزی او حلق ته ځی، **مسئله** که څوک چلم وڅکوی او یا سگرټ وغیره روژه یه ماته ده، ولی دا خو دده په قصد سره وه لکن کفاره نسته با ندی، او که سته بیان به راسی **مسئله** هر دود چې سړی یه حلق ته ورسوی په صُنعه سره روژه یه ماته ده حتیٰ که روژاتی عود یا عنبر و لگولو او بیا یه وځان ته نژدی کړه او هغه دود یه دپزی وخواته

کش کړي او روژه یه هم بیادوه، نوروژه ماتیږي، ولې خوده ته معلومه وه چې دغه دود یه حلق وجوف ته وای داخل کړي **سوال**: د بخر تیره سوه چې د ګل یا د مشکو یه بوټیولو روژه نه ماتیږي نو فرق یه څه دی! **جواب**: یه بوټیولو کي د ګل وغیره صرف هغه هواء چې د ګل وغیره یه بوی خوشبویه سوي وه یزي ته داخله سوه، او یه ما نحن فیه کې جوهر د دخان نس ته ور سیدی» قال المراقي وهذا مما یغفل عنه کثیر من الناس» قال المصنف

اَوْغُبَارٌ وَلَوْغُبَارُ الطَّاحُوْنِ

او یا یه یه خوله ګرز ننوتی که څه هم ګرز د ورږو د ژرندی وي، یعنې روژه یه نه ده ماته، لکن یه سکب الانهر کي وائي که د روژاتي چاره کیده د کولو څخه د داسي کار چې ګرز دده یه خوله ننوتی، او بیا هم یه هغه کار کاوه روژه یه فاسدیږي فافهم **مسئله** که د سړي کسب داوو چې د ژرندی عنم لي وخلګو ته یه مزدوري وړ غلبیلول» چې یه هغه کي خواه مخواه ګرز یه خوله یا یزه ننوزي روژه یه نه یه ماتیږي للضرورة» **مسئله** که د سړي خیلي او ښکي وحلق ته ور توي سوي، او یا یه خوله وحلق ته ور توي سوه، او یا یه د باران څاڅکي یه خوله کي ولویدي روژه یه ماتیږي لامکان الاحتراز عنه» حتی کي یه قصد دغه شیان تیر کړه کفاره پر لازمه ده، بحر، ط، قال المصنف: **وَذُبَابٌ**: او یا د روژاتي یه خوله مچ ننوتی اوحلق ته ئي ورسیدی او تیر سو روژه یه نه ده ماته لعدم امکان الاحتراز عنه» او دغه حکم د غوماشي دی چې د روژاتي یه خوله ننوزي» قال المصنف:

اَوْاَثَرُطَعْمِ الْاَدْوِيَّةِ فِيْهِ وَهُوَذَاكِرٌلِصَوْمِهٖ

او یا اثر د خوند دد دواء یه یه خوله کي بیدا سو چې ده مثلاً تر سپیدو د مخه خوړلي وه روژه یه نه وه ماته، قال

اَوْاَصْبَحَ جُنُبًا وَلَوِاسْتَمَرَّيَوْمًا بِالْجَنَابَةِ

او یا یه سحار کړي روژاتي چې د شپي جنب سوی وو او غسل یه نه وو کړي نو یه دی جنابت یه روژه نه ده ماته که څه هم همیشه توب وکړي پر هغه جنابت پوره ورځ بلکه که ډیري ورځي دوام پر جنابت وکړي روژه

یه نه ماتیږي، البته دوام پر جنابت ګناه ده لقوله تعالی: فالآن باشروهن الآیة یعني تاسو د مانبو سره جماع کوی تر هغه دي پوري د سپیدو نو غسل خواه مخواه وروسته تر سپیدو او اخچي ورځ ده او د روژي وخت دی ولقوله علیه الصلوة والسلام: وانا اصبح جنبا وانا ارید الصیام واغتسل واصوم» قال المصنف:

اَوْصَبَّ فِيْ اِحْلِيْلِهٖ مَاءً اَوْدُهْنًا

او یا توی کړه سوه د غږ یه غاړک اوبه یا روغن روژه نه ده یه ماته لکن دا یه نیز د امام اعظم او امام محمد او امام ابو یوسف وائي که دا اوبه یا روغن سپوږی ته ور سیده روژه یه ماتیږي او که یه نلکه د ذکر وه بالاتفاق روژه نه یه ماتیږي **مسئله**: کي د ښځي وکس ته اوبه یا روغن واچول خواه مخواه روژه یه ماتیږي بالاتفاق علی الاصح» س، ط، قال المصنف:

اَوْخَاضَ نَهْرًافَدَخَلَ الْمَاءُاُذُنَهٗ

او یا یه غوټه وخوړل یه وياله کي نو یه اوبه غوږ ته ننوتی روژه یه نه ده ماته، ولې چې غسل ته خلګ ضرورت لري، مر قال المصنف

اَوْحَكَّ اُذُنَهٗ بِعُوْدٍفَخَرَجَ عَلَيْهِ دَرَنٌ ثُمَّ اَدْخَلَهٗ مِرَارًا

اِلٰى اُذُنِهٖ

او یا یه وکوږوی غوږ د لرګي یه خاشه نو ور او وتله پر خاشه باندي خیره د غوږ او بیا یه څو واره خاشه یه غوږ وچخ کړه، روژه یه نه ده ماته بالاجماع کما في البزازیه» ولې چې ما توونکي شئ و دماغ ته نه ور سیدی» کذا في المراقي قال

اَوْدَخَلَ اَنْفَهٗ مُخَاطًا فَاسْتَنْشَقَهٗ عَمَدًا اَوِابْتَلَعَهٗ

او یا یه داخل کي د یزي روژاتي بید اکړه ګرنګ نو اګرنګ ده پوره ته کش کړه او یا یه د ستوني د خوا تیر کړه روژه یه نه ده ماته، **مسئله**: مراقي وائي که د سړي نازي تر خوله را وتلي او ده بیرته پوره ته کش کړي او تیري ئي کړي نو که دده نازي د خولي څخه نه وي قطع سوي

کې نه کې محسوس، نو روژه یې نه ده ماته لعدم وصول شئ من خارج الی الحلق والبطن «قال المصنفؒ

بَابُ مَا يُفْسِدُ بِهِ الصَّوْمُ وَتَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ مَعَ الْقَضَاءِ

باب دی په بیان کې د هغو شیانو چې روژه په ماتیږي او کفاره هم په لازمیږي سره د قضاء ثابت «قال

وَهُوَ اثْنَانِ وَعِشْرُونَ شَيْئًا اِنْ فَعَلَ الصَّائِمُ شَيْئًا مِنْهَا

او هغه ۲۲ شیان دي که چیرې روژه تې یو د هغو شیانو څخه په خپل خوښه او قصد

طَائِعًا مُتَعَمِّدًا غَيْرَ مُضْطَرٍ لَزِمَهُ الْقَضَاءُ وَالْكَفَّارَةُ

سره وکې او مجبور هم نه وي، نو پر ده لازمه ده قضاء راوړه د هغې روژې چې ده فاسده کړه او کفاره هم پر لازمه ده **پوهه سه**: چې مصنفؒ خو شرطونه د قضاء او کفارې په دې ځای کې بیان کړي، او بعض شرطونه یې پرې ایښي دي ۱ روژه تې به مکلف وي که نابالغه وو او روژه یې ماته کړه نه قضاء باندې سته او نه کفاره ۲ چې روژه به اداځې وي د میاشتې د روژې نو که یو سړي قضائې روژه نیولې وي او بیا یې ماته کړي، نو قضائې خو هغه سي پاته ده او کفاره نسته باندې ۳ نیت د روژې به ئې د شپې کړې وي نو که د ورځې نیت د فرضې روژې وکړي او بیا یې ماته کړه نو قضاء خو باندې سته مگر کفاره نسته، ولې کفاره لکه حدود په شبهه نه ږیږي، نو چونکه امام شافعیؒ ده ورځې د روژې نیت روانه بولي نو دا شبهه ده په اسقاط کې ده کفارې د حنیفي څخه ۴ نیت به د تعیین د روژې فرضي کړي وي، نو که سړي په میاشت کې د روژې د صبا د مطلق روژې وکړي که څه هم روژه د حنیفیانو په نیز د غم نیت کافي دي، لکن شافعيؒ یې کافي نه بولي نو که دغه روژه حنیفي ماته کړه قضاء باندې سته، مگر کفاره باندې نسته لشبهة خلاف الشافعيؒ، مگر بیا هم یارانو وائي

کې د ورځې د فرضي روژې نیت وکړي او بیا یې ماته کړه کفاره باندې سته «حسن ط»

۵ د روژې ترنیولو وروسته به روژاتې ته داسې عذر و نه نه وي پیښ سوې چې ده ته روژه ماتول روا کړي لکه ناجوړي، **پوهه سه** چې مصنفؒ د غیر مضطر قید ووایه «د دې سببه چې که روژاتې مجبور سي و روژه ماتولو ته مثلاً سخت مریض سي چې د روژه ماتولو څخه چاره و نه لري، نو بیا قضاء که سته کفاره نو نسته «قال المصنفؒ

وَهِيَ الْجِمَاعُ فِي اَحَدِ السَّبِيلَيْنِ عَلَى الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ بِهِ

او د هغه شیانو څخه یو جماع دی په یو کې د دوو لارو چې کس او کُنه ده یعنې که د نروی او که د ښځې، او دا کفاره پر فاعل او مفعول به دواړو لازمه ده، لکن مراقي ووائي چې جماع به د انسان سره او ژوندې سره وي، نو که جماع د خرې سره وکړي مثلاً یا د مړې ښځې سره نو کفاره باندې نسته لعدم کمال الجنایة، **مسئله**: په نهر کې وائي چې که سړي د بیخې کشنی انجیل سره چې مشتهاة نه وي جماع وکړي نو کفاره باندې نسته «ط»

پوهه سه: چې فاعل که انزال سي او که نه سي کفاره باندې سته. ولې چې احکام د جماع لکه حد او غسل وغیرهما تعلق په نفس ننوتلو د ذکر لري او فساد د روژې او کفاره هم د دغو اقسامو څخه دي «زیلعي»، امام طحطاويؒ وائي چې وجوب د کفارت په وجود پورې د شهوت اړوند لري، لانه لا شهوة في المفعول به في دبره «آه» لکن درویش وائي چې دا خبره که بناء پر سلب کلي وي خو غلطه ده، او که سلب جزئي وي نو به صحیح وي علی سبیل الندرة فتامل **پوهه سه**: چې په باره کې د روژې د فساد او کفارې قُبل او دبر سره یو شی دی لکن په وجوب د حد فرق سره لري، ولې حد خو په زنا پورې مربوط دی، او د برې کار خو زنا نه بولي بلکه لواطت یې نوم دی، **پوهه سه**: چې گناه د افطار عمداً په توبه سره نه زائلیږي بلکه کفاره حتماً غواړي» هدایه، قال المصنفؒ:

وَالْاَكْلُ وَالشُّرْبُ سَوَاءٌ فِيهِ مَا يَتَغَذَّى بِهِ اَوْ يَتَدَاوَى بِهِ

او بل خوړل او څښل دی برابره ده په دغه ما تو ونکې کې که د غذاء شی وي او که د دوا شی وي

ونقل المصنفؒ فی المراقی عن الجوهرة اختلافًا فی معنی التغذی، بعض فقهاءو وائي چې د تغذی معناداده، چې طبع میل وخوراك ته دَهغه کوي او د نَس شهوت هم پرځای هم کیږي، او بعض علماء وَائي چې غذاء هغه شی دَه چې نفع یه واصلاح ته د بدن راجع کیږي، اود دی اختلاف فائده دَاده چې یو سړي یو گوله د غوښو مثلًا وژوئی بیرته ئې دخولي نه را اوباسي، او بیا یه خوله ته واچوی او تیریـه کړي، نو پردوهم قول کفاره باندی ستـه ولې چې د غه گوله خو بدن ته نفع لري، او پر قول اول کفاره نسته، ولې چې سړي گوله وژووی او راوی کا بری دَخولې نه، طبع بد ځندی وړی او خوایه پرگرځي وهذا هوالاصح کما فی المحیط»

تفـریع دیان بلگونه یـاد بنگو بلگونه چې سَړي وخوري او عادی وَرسره وي، نو پر قول ثانی کفاره باندی نسته، ولې چې د دی په خوراك کی اصلاح د بد ن نشته بلکه بدن او عقل ته تاوان دی، او پر اول مذهب کفاره پرسته، ولېچې د عادی سَړي طبع میل ورته کوي او د نَس شهوت یه هم پرځای کیږي، **بنـهَـا ئـه فائـدَه** که سړي د تمبکو دَچلم عادی وی او یا د چرسو دَچلم، یا د سگریټو یا بیړیو او یا نسوارو عادی وي، نو په روژه کی دَغه دود د چلم یا سگریټو مثلًا او یا نسوارو تیرکړي، او یاد تریا کو عملی تا ریاك وَخوري روژه خو یه حتمًا ماته ده لکن په لزوم کی د کفاره اختلاف دی پر اول تفسیر کفاره باندی ستـه ولې خو طبع د عادی خلگو یعني عَملیانو وَد غـو شـیانو ته میل کوی او د نس شهوت یه هم پرځای کیږي، او پر دوهم تفسیر کفاره نسته باندی ولېچې د غو شیانو کی نفع د بد ن نسته او اصلاح د بَدن هم نسته بلکه ټوله ضرردی دَبدن د پاره»، کذا فی المراقی والطحطاوی مع زیادة من هذا العبد العاصی»

پـوښتنـه: په نسوارو چې سَړي یه صرف وکړي په خوله کی نیولی وي او بیرته یه توکړي او دوه درې واره وروسته هم نارې توکړي او یا په خوله او بـه ولغړوي روژه ماتیږي او که څرنگه! **جـواب**: هو یه نسوارو روژه ماتیږي ولېچې نسوار کثنی کثنی اجزاء لري چې حتمًا حلق ته ځي او د سَړي بیله ارادې تیریږي، دلیل دادی چې نسوار سړي

چې نسوار خولې ته واچوی او یو گړي وروسته یه توکړي او ډیر مبالغه په توکلو کښې هم وکړي وروستـه چې نارې تیری کړي حلق یـه تریخ سی نو معلومه سوه چې دَغه کوچني اجزاء حلق ته رسیدلی وَه، **سـوال**: په تریخ او خواگرځنده دوا کی هم باید دا اختلاف وای، ولې طبع خو نفرت ځندی کوی لکه ژړوَلي غوښه **جـواب**: طبع سلیمه چې په دوا کی خپل صحت ویني نو که څهم هغه دوا تریخ او خواگرځنده وی وهغې دواء ته میل طبع کوی کما یدل علیه التجربة فلایکون فیه اختلاف بل یلزمه الکفارة زجرًا عنه قاله المصنف فی المراقی

قـال المصنفؒ **وَابتِلَاعِ مَطرٍ دَخَلَ اِلٰی فَمِهٖ** اود غه رنگه هم روژه ماتوی او هم کفاره لازمه وی د باران اوبه او څاځکی چې د سَړي په خوله کی وَلویږی او سَړي یه تیری کړي، او دا لی او واوره هم پر دَغه قیاس ده»، وَلېچې د دی خو احتراز ډیر آسانه کیدی چې یا یه سر کښته نیولی وای او یا یه خوله پټه نیولی وَای»، قـالَ المصنفُ:

وَاَکلُ اللَّحمِ النَّیِّئِ اِلَّا اِذَا دَوَّدَ اود غه رنگه روژه ماتیږي او کفاره لازمیږي په خوراك د اوموغوښو مگر هغه وخت کفاره نسته که د غو غوښو چینجیا ن کړي وی» ولې د غه غوښې هم طبع نفرت ځندی کوی او هم د غذا اصالح نه دي، **دَرویش وَائي** چې امام طحطاوی په نقل د سید شارح دامی وائي»، چې فقهاءؒ په خوړلو کی د دخټې د بلگو په لزوم کی یو کفاری دا معتبره کړیده چې سَړي د دغو بلگود خوړلو سره عادی وی نو کفاره باندی سته، او که عادت نه وو، نو روژه په ماتیږي او کفارت نه لازمیږي، نو باید د اوموغوښو په خوراك کی هم د عادت او غیر عادت فرق سره وکړه سي، **وَالجَوَابُ عَنهُ** چې د بعض دختو د بلگو دَخوړلو عادت وَالا ډیر دی، اود اوموغوښو د خوراك عادت په انسانانو کی خو نسته مگر لیوه طبع یا سپی طبع سړي وي» قـالَ

وَاَکلُ الشَّحمِ فِی اِختِیَارِ الفَقِیهِ اَبِی اللَّیثِ

اود غه رنگه کفاره سته په خوراك کی دوازگو چې اومی وی په مذهب مختار کی د فقیه ابو اللیثؒ

السمرقندیؒ او په تجنیس کی هم ورته خبره یې کړیده» قَالَ المصنفؒ:

وَقَدِيدُ اللَّحْمِ بِالْاِتِّفَاقِ

اوکه روژاتی وچې کړی غوښی وخوړلی که څه هم قدید الشحوي، په اتفاق روژه یې ماته ده اوکفاره پرلازمه ده، ولې چې ډیرخلګ وچې غوښې او خوري، په صحراء کی خلګ په اصطلاح لاندۍ وکړي اوما لګه پرغوښو یې واچوي اوپسله وچوالی نه بیا کښی کتري ځندی جوړه وي، نوپه دغه وخت کی نراوښځی لوی اوکوچنی داسی په مزه مزه دغه وچ اومه کبابونه خوري چی څه درته ووایم» قَالَ المُصنفؒ:

وَاَكْلُ الْحِنْطَةِ وَقَضْمُهَا اِلَّا اَنْ تَمْضَعَ قَمْحَةً فَتَلَاشَتْ

اودغه رنګه روژه ماتوي اوکفاره لازموي خوړلی دغنمو اوپه غاښو میده کولو اوبیا تیره ولو مګر که روژاتی یوه دانه غنم خوله ته واچول اوپه غاښونه میده کړه چی په نارو کی متلاشی اوو یا سوه اوهیڅ خوند یې نه معلومیدی، نونه روژه یې ماتیږی اونه کفاره یې لازمیږی» قَالَ المصنفؒ

وَابْتِلَاعُ حَبَّةِ حِنْطَةٍ سِمْسِمَةٍ اَوْنَحْوِهَا مِنْ خَارِجٍ فَمِهٖ فِى الْمُخْتَارِ

اودغه رنګه کفارت لازمیږی په تیره ولو د کنجدی ددانی اویا مثل دهغه لکه اربدن دانه دخولی د باندی څخه په مختار روایت کی، ولې په دی سره غذاء پیدا کیږي» **فَائِدَه**: اربشی که ئی نیني کړي اویا لندی دانی د اربشو یې د وبزی څخه راوکښی اووې خوړلی» کفاره پرلازمه ده ولې په دغه خوړلود اوربشود خلګو عادت جاری دی، اوکی وچه اربشه وخوړله روژه یې ماته سوه مګر کفاره نشته» لعدم الاعتیاد،» مرد» قَالَ المصنفؒ:

وَابْتِلَاعُ الطِّيْنِ الْاَرْمِيْنِيِّ مُطْلَقًا

اودغه رنګه روژه هم ماتوی او کفاره هم لازموی خوړل دارمینی ختو مطلقًا کی سړي عادتی وی اوکی نه وي، ولې چی طین ارمینی د دواء دپاره خلګ خوري» نو دغه خوړلی افطار کاملا دی، لکه د نورو دواوو خوړل»

پُوهَسَه: چی طین ارمینی عطاران پیژنی پوښتنه یې وکړه» قَالَ المُصنفؒ

وَالطِّيْنِ الْغَيْرِ الْاَرْمِيْنِيِّ كَالطِّفْلِ اِنْ اِعْتَادَ اَكْلَهُ

اودغه رنګه روژه ماتوی اوکفاره هم لازموی خوړلی دختو غیرارمینی وو، چی په عربی یې طفیل بولی اوپه پښتو یې دخړو اوبوکړګ بولي، لکن هلته دادوه شئ لازموي چی سړي عادتی وی لکه ډیری ښځی چی دغه کړګ دخوړلو عادت لری، اوکی عادت نه وو، نوروژه یې ماتیږی مګر کفاره باندی نشته» قَالَ المصنفؒ:

وَالْمِلْحُ الْقَلِيْلُ فِى الْمُخْتَارِ

اودلږ مالګی خوړل هم روژه ماتوی اوهم کفاره لازموي په مختار روایت کی، درویش والی چی مراقی والی» لا الکثیر منه» اوډیره مالګه خوړل کفارت نه لازموي، وروسته یې داسی ویلی دی، وانه من الامتحانیات بالجواب» اوداخبره چی دلږ مالګی په خوړلو کفاره لازمیږی اوډیری مالګی په خوړلو کفارت نه لازمیږی دامتحانی مسئلو څخه ده په جواب کی یعنی چی ددی مسئلی په صحیح جواب څوک پوهیږي اوکه به لاادری» وائی، ددی سئوال اول امتحان دادی چی ته یوسړی ته ووائی چی هغه کوم شئ دی چی دلږ په خوړلو یې کفاره پرروژاتی لازمیږی اوډیر په خوړلو یې کفاره نه لازمیږی» نوفرضا که دی درته ووائی چی هغه مالګه ده، نودوهم امتحان یې دادی چی نوولې داحکم صحیح دی» **درویش والی** چی هم مراقی اوهم طحطاویؒ داجواب داغسی مجهول پری ایښی دی دامتحان دپاره لکن عامی خلګ یعنی پښتانه وروڼه اوخویندی په تشویش کی نه اچوي، بلکه جواب داسی بیانوی چی دلږی مالګی دخوړلو ډیر خلګ عادتیان دی اوبل لږ مالګه خوړل دواهم ده، دبعض خلګو دپاره چی بدن کی دپراکتر په وینا د مالګی سیستم کمزوره سوی وي، نوچی لږ مالګه هم عادی شی ده اوهم دواء نو ځکه کفاره یې په خوړلو لازمیږی، اوډیره مالګه خوړل نه عادت کیدای سی اونه دواء، نو ځکه په خوړلو یې روژه ماتیږی، اوکفاره نه لازمیږی، لکن دلږ اوډیری مالګی مقدار [illegible] رائی ته دمبتلی به موکول دی، فتدبر

قال المصنفؒ **وَابْتِلَاعُ بُزَاقِ زَوْجَتِهٖ اَوْصِدِّيْقِهٖ لَاغَيْرِهِمَا**

اودغه رنګه کفاره لازمیږی او روژه ماتیږی په تیرولو دنارود ماینی اویاداشنای یعنې چې هلك وی اودده محبت ورسره وی. نه دبل چادناړو په تیرولو سره چې روژه خو په ماتیږی اوکفاره نه په لازمیږی، دلیل یې دادی چې د اولو دوو په نارو سره سړی خوند اومزه اخلي کما یدل علیه التجربة، اودنورو خلګو پرنارو خوند خو پریږده دسړي خوا پرګرځي:

قال المصنفؒ **وَاَكْلُهٗ عَمَدًا بَعْدَ غِيْبَةٍ اَوْبَعْدَ حِجَامَةٍ اَوْبَعْدَ مَسٍّ**

اودغه رنګه کفاره سته چې روژاتی په قصد روژه وخوری وروسته ترغیبت دچا. دا کفاره خواه

اَوْقُبْلَةٍ بِشَهْوَةٍ اَوْبَعْدَ مُضَاجَعَةٍ مِّنْ غَيْرِ اِنْزَالٍ

مخواه سته کرده ته هغه حدیث دعلیه الصلوٰة والسلام یعنې "الغیبة تفطرالصائم" ورسیدلی وی اوکه نه وي

اَوْبَعْدَ دُهْنِ شَارِبِهٖ ظَانًّا اَنَّهٗ اَفْطَرَ بِذٰلِكَ اوپه تاویل

ددغه حدیث پوهیږی کړنه . چې تاویل یې په اجماع دمجتهدینو دادی چې ثواب یې نسته، اوکه مفتی فتوٰی دماتیدو ورکړی اوکه نه، ولی چې داحدیث مخالف دقیاس ځکه دی من کل الوجوه اویا وروسته تروینو کبنو روژه یې په قصد ماته کړه هم کفاره پرسته، دوینو په صورت کی که څه هم نه وی ور رسیدلی خو کفاره سته، اوکه هغه حدیث چې "افطر الحاجم والمحجوم" ور رسیدلی وو، او په تاویل یې هم پوهیدی چې مراد دادی چې حاجم او محجوم وافطار ته نژدی سوه" حاجم په سبب دوینو کشولو په ذریعه دهغه بنیښی چې دی وینې په کاږی او محجوم په سبب د وینو کښلو سره نو هم کفاره باندی سته، ولې چې دده عمدًا ماتولو ده ره څه دلیل نسته، اوکه حدیث ور رسیدلی وو لکن په تاویل یې نه پوهیدی او پر ظاهر باندی حمل کړی وو اویا مفتی فتوٰی ورکړی وه چې ستا روژه په وینو کښلو ماته سوه"

نو په دی صورت کی کفاره باندی نسته. ولې چې په ظاهر دغه حدیث اوزاعیؒ اوامام احمدؒ فتوٰی ورکړیده، نو دا شبهه سوه، اودغه رنګه کفاره پر لازمه ده کی چې په ډیر شهوت سره واخسته د ماینې ځکه اویا یې ماینه په شهوت سره مسه کړه اویا ورسره پریوتی او ورسره لاس ترغاړه سو په دی د روسره وو صورتو کی انزال نه سو اوده دا ظن داوو چې په دغو کارو سره زما روژه ماته سوه، نو یې په قصد سره ډوډی وخوړله یا یې اوبه وچښلی نو کفاره باندی سته اوکه په دغه صورتو کی انزال سوا وبایه روژه لپسی وخوړله بیا کفاره نسته، ط "دلیل یې دادی چې په دغو کارو ده روژه فاسده سوه بیله کفاری" ولې چې جماع خو یې نه دی کړی نو ده چې ډوډی ور وروسته خوړله روژه یې نه وه نو ځکه کفاره باندی نسته"

مسئله مګر هغه وخت کفاره باندی نسته کړه داسی یو حدیث ور یدلی وو که څه هم هغه حدیث صحیح نه وی چې هغه حدیث پردی دلالت کوی روژه ماتیږی، نو یې له دغو کارو ئی روژه پسی وخوړله، اویا یې دیو فقیه عالم ځکه پوښتنه وکړه چې په دغو کارو روژه ماتیږی اوکه نه هغه فقیه فتوٰی دماتیدو ورکړه، که څه هم هغه فقیه خطا تللی وو په هغه فتوٰی کی نو ځکه ده وروسته روژه پسی وخوړله نو کفاره باندی نسته، ولې چې ظاهر حدیث اویاد فتوٰی شبهه وګرځیدله اود ور باندی تیره سوه چې شبهه مسقط دکفاری ده، بدائع، ط، در، اودغه رنګه کفاره باندی سته کی بریتونه غوړ کړه اوده ګمان داوو چې په دی غوړیدو سره زما روژه ماته سوه، نو خوړلك وغیره پسی شروع کړي، وجه دکفاره یې دا ده چې دغه ګمان دده کوم صند شرعی نه لری که څه هم هغه ثابت نه وی، نو چې ده وروسته خوړلك وکړی نو روژه یې په قصد ماته کړه نو کفاره باندی لازمه ده،

فائده، مصنفؒ په مراقی ص ۵۵ کی وائی چې که دغه بریتو غوړیدو والا که دیو فقیه ځکه پوښتنه په دغه باره کی وکړه هغه ورته وویل چې د بریتو په غوړیدو دی روژه ماته سوه، نو یې له هغه ده په خوړلك وغیره شروع وکړه، هم پر ده کفاره سته، ولې چې دا فتوٰی بیخی بی ځایه ده نو اعتبار لری، نو ور وروسته خوړلك دده په قصد روژه ماتول دی، نو کفاره باندی سته، دا حکم مصنفؒ دکمال ځکه اوهغه د بدائع ځکه نقل کړی، لکن وروسته

مصنفؒ وئیلی دی چې قاضیخان وائی چې سړي جاهل وی نو د دغی فتوی په صورت کی پرده کفاره نشته»، قَالَ المُصَنِّفُ:

اِلَّا اِذَا اَفْتَاهُ فَقِيْهٌ اَوْسَمِعَ حَدِيْثًا وَلَمْ يَعْرِفْ تَاْوِيْلَهُ عَلَى الْمَذْهَبِ مګر هغه وخت کفاره باندی نشته که دې سړي په موجوده کار ورکی دیو فقیه عالم څخه فتوی طلب کړې وه، او هغه ورته وویل چې روژه دی په دغو کارو ماته سوه نو بیا له هغه څخه په خوړلو وغیره لاس پوری کړي، او یا دی سړي یو حدیث اورېدلی وو چې هغه دلالت پر دی کاوه چې په دغو کارو روژه ماتیږی، او دی یې په تاویل د هغه حدیث د مذهب د لاری نه پوهیدی، نو بناء پر هغه حدیث ده خپله روژه ماته وبلله نو بیا یې څکله خوړلو وغیره شروع کړي نو کفاره بانَدی نشته، ولی چې فتوی د هغه مفتی او یا حدیث ده لره شبهه وګرځید له، او په شبهه سره کفارت ساقطیږی، کما مر مرارًا»، قَالَ المُصَنِّفُ

وَاِنْ عَرَفَ تَاْوِيْلَهُ وَجَبَتْ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ او که دی په تاویل د حدیث برابر د مذهب سره پوهیدی، یعنی چې د مذهب د لاری په هغه کار روژه نه په ماتیدَ له او حدیث تاویل درلودی او دا سړی هم په خبر وو نو کفاره پر لازمه ده، ولی چې ده ورَوسته روژه په قصد وخوړله، کما فی الحدیث: اَفطر الحاجم وَ المحجوم کما مر مع التاویل» قَالَ المُصَنِّفُ

وَوَجَبَتِ الْكَفَّارَةُ عَلَى مَنْ طَاوَعَتْ مُكْرِهًا او واجبه ده کفاره پر هغه ښځه چې میړه یې په روژه کی جماع د ورځی ځندی وغوښتی په زوره، او باره دې هم ور سره خوښه کړه پس تو که بیا یې خلاص کړي میړه یې ځان ته ور پریښو، نو پر دوارو کفاره لازمه دی»، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ»

اللهم اغفر لمؤلفه ولشارحه ولکاتبه ولوالدیهم ولمن نظر فیه بعین الانصاف، امین

فَصْلٌ فِي الْكَفَّارَةِ وَمَا يُسْقِطُهَا عَنِ الذِّمَّةِ بَعْدَ الْوُجُوْبِ

دا فصل دی په بیان کی د کفارت او د هغه شي چې کفاره د ذمی څخه ساقطه وی وروسته تر وجوب د کفارې

قَالَ المُصَنِّفُ **تَسْقُطُ الْكَفَّارَةُ بِطُرُوِّ حَيْضٍ اَوْنِفَاسٍ اَوْمَرَضٍ** او ساقطیږی کفاره په سبب د عارض والی د حیض یا نفاس و ښځه ته او یا یوه داسې **مُبِيْحٍ لِلْفِطْرِ فِي يَوْمِهِ وَلَا تَسْقُطُ عَمَّنْ سُوْفِرَ بِهِ** ناجوړی پیښه سی نر یا ښځی ته، چې هغه ناجوړي ور وړاندی ته روژه ماتول روا کوی، لکن دا دری سره **كُرْهًا بَعْدَ لُزُوْمِهَا عَلَيْهِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ** کاره په دغه ورځ کی پیښ سی، او نه ساقطیږی کفاره د هغه چا څخه چې په سفر بوتله سی. په زور سره لیله هغه چې کفاره پر ده لازمه سوی وه، په ظاهر روایت کی»، درویش وائی: چې صورت د مسئلی داسی دی»، چې یو ی ښځی په قصد روژه ماته کړه نو کفاره خو پر دی لازمه سوه، لکن دغه ښځه هم په دغه ورځ کی حائضه سوه او یا لنګه سوه چې نفساء سوه، هغه لازمه کفاره د دی څخه ساقطه سوه، او یا ښځه یا نر وو چې په قصد یې روژه ماته کړه نو کفاره خو پر لازمه سوه، لکن هم په دغه ورځ کی یوه داسی ناجوړي ود غه ښځی یا نر ته پیښه سوه چې که د دوی روژه وای ماتول یا او داماتول به د غه مرض ود وی ته روا کړي وای، نو هغه لازمه کفاره د دوی څخه ساقطه سوه او نه ساقطیږی کفاره په سبب د دی چې د غه سړي چې کفاره پر لازمه سوی وه له دی سببه چې په قصد یې روژه ماته کړې وه په زور چا سفر ته روان کړي، نو پر د غه سړي کفاه باقی ده»

فَائِدَه: که د غه سړي چې کفاره پر لازمه سوې وه پخپله خوښه په سفر وتلی وو نو کفاره په طریق اولی پر پاته ده» در»

پوښتنه: په دغو څلورو سره وو صورتونو کې چې ورسته ترلزوم دکفارې عذر پیښ سوي دی یعنی حیض، نفاس، مرض، سفر، نو ولې به درېو اولو صورتونو کې لازم کفاره ساقطېږي او په څلورم صورت کې نه ساقطېږي **جواب**: فرق په دا دی چې په اولو درېو صورتونو کې عذر د صاحب الحق دخوا دی یعنی دخدائ دخوا چې روژه هم دده حق ده. او په څلورم صورت کې عذر د بنده دخوا دی چې مکره دی او یا پخپله روژه ماتي دی۔

مسئله: که سړي مرض مُبیح پخپله ځانته پیښ کړي، یعنی یا په ځان تبې کړي او یا په قصد د بام څخه ځان راواچاوه وغیرذالک، نو هغه لازمه کفاره دده څخه نه ساقطېږي، ولې چې عذر د صاحب الحق دخوا نه دی بلکه دده دخوا دی «ک،م» **مسئله**، یو روژه دار په یو کار کې ډېر ځان ستړی کړي او وخت د دولې وو، نو ډېر تږی سو بیا ئې روژه ماته کړه کفاره باندی سته، ولې چې ستړتیا دده دخپله لاسه څخه پیښه سوه د صاحب الحق دخوا نده ۰ او هغه خبره چې بقالي کړیده چې پر دغه سړي کفاره نسته، اعتبار نه لري، ولې چې ددی سړي اود «مَن سُوفِرَبِه» څه فرق دی» قال المصنفؒ:

وَالكَفَّارَةُ تَحرِيرُ رَقَبَةٍ وَلَو كَانَت غَيرَ مُؤمِنَةٍ

او کفارة الصوم آزادول دی د مریي که څه هم مسلمان نه وي، او امام شافعيؒ وائي چې په تحریر د کافر کفاره نه ادا کیږي دئ دا کفارة الصوم پر کفارة د قتل الخطاء قیاسوي چې هغه کې تحریر رقبهٔ مُؤمنهٔ راغلي دي، موږ وایو چې په کفارة الصوم کې رقبه مطلق راغلی ده، «فالمطلق یجری علی اطلاقه والمقید علی تقییده»، ولې چې دا واقعي سره جلا دي، کما تقرر فی اصول الفقه۔

فائده: د مریي آزادول به په نیت دکفارې وي **فائده**: مریي که لوی وي او که کشنی حتی شیرخوره کفاره ادا کیږي، او یا چاته مریي په گرو ورکړي، او یا تبتیدلی وی لکن چې ژوندیه معلوم وي، او یا خصي وي، او یا په یوه سترگه ړند وي، او یا په یو لاس یا یوه پښه پری وی، او یا د سړي قریب وي چې په نیت دکفاری په ئې اخلي وی اود قریب څخه، ذارحم محرمٍ مراد دی، ولې چې د هغه په شراء کې نیت دکفارې شرط دی

فائده: کې دواړه لاسونه پری وه په نورو قرهیانو کې لکه دا کا نړوی وغیره، یا په دواړې پښې پری وي، یا گونگی وو، یا په دواړو سترگو ړوند وو، او یا د همیشه دپاره لیونی وو، نو د دغو مریانو په آزادولو سره د کفارې غاړه نه وو زي، م،ط،در، قال المصنفؒ

فَإِن عَجَزَ عَنهُ صَامَ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ لَيسَ فِيهِمَا

او که چیری دغه روژه ماتوونکی عاجز وو د مریي د آزادیدو څخه یعنی نه ئې مریي درلودی او نه ئې قیمت چې په راپه کښی او یا لکه په او سني زمانه

عِيدٍ وَلَا أَيَّامُ التَّشرِيقِ

کې په هیڅ اسلامي مملکت کې مریي موافق د شریعت سره وجود نه لري، نو بیا دی دغه سړي روژی ونیسي دوه میاشتي پرله پسې یعنی په مابین کې به ئې روژه نه خوری، او نه به وي په دی دوو میاشتو کې دا ختر ورځ، او نه د تشریق ورځې د لوی اختر، ولې چې ددغو ورځو نیولو څخه نهی راغلی دی» قال المصنفؒ:

فَإِن لَم يَستَطِع أَطعَمَ سِتِّينَ مِسكِينًا يُعَشِّيهِم وَيُغَدِّيهِم

او کې طاقت ددو میاشتو روژو نه درلودی یعنی په سبب د کبر سن (سپین ږیرتوب) یا مرض وغیره بیا دی نو ډوډی ورکړي، وشپیتو مسکینانو ته، ماښام

عِشَاءً وَغَدَاءً

او غرمه، مگر دونه ډوډی چې مړونکی ددوی وي، **مسئله** پر یو ځای اجتماع د ۶۰ مسکینانو ته شرط نه ده بلکه صرف عدد د (۶۰) مسکینانو شرط دی که څه هم په تپال تپال وي، قال المصنفؒ

أَو غَدَائَينِ أَو عِشَائَينِ أَو عِشَاءً وَسَحُورًا

او یا دی دوه غرمی ډوډی ورکړي، او یا دی دوه ماښامه ډوډی ورکړي، او یا یو ماښام او یو پیشلمی یعنی د روژه وه، ډوډی ورکړي، **مسئله**: دا شرط دی چې هغو اولو مسکینانو چې غرمه یا ماښام یې ډوډی ورکړې وی هم بعینه هغو مسکینانو ته دا بل وخت ډوډی ورکړی

حتیٰ کی غرمه ۶۰ مسکینا نوته ډوډی ورکړه او ماښام یه بیا نورو ۶۰ مسکینا نوته ډوډی ورکړه غاړی یه نه خلاصیږی تا چی دیوی ډلی ډوډی بیرته را اوه نه ګرځوی»

مسئله: کی یوه مسکین ته ۶۰ ورځی دغرمی او ماښام ډوډی ورکړه هم صحیح ده»

مسئله: چی پرسترخوان یه مسکینان کښینه ول نو ده ټولو مړیا تروخته بهٔ سترخوان نه ځندی ټولوي، **مسئله**: کړ ډوډی غلمینه وه نو وچه ډوډی هم کافی ده کهٔ هم غوښې وغیره نه وی ورسره، او که اوړ بښینه وه نو بوشی دتیریدو ورسره شرط دی کهٔ هم شلومبی یا کرتوي، ولی چی وړ بښین زیږه ده، **مسئله**: که یو یه دغو مسکینانو کی موړ وو یعنی یو بیلا یه ډوډی خوړلی وه هغه کفایت نه کوی کهٔ هم د دغه سړی دو نه لوی نسی وی چی سره دیوه را ډوډی خوړلو او بس هم د بل خالی نسی سړی قدر ډوډی خوړلای سي ولی چی دغه سړی خوده یعنی کفاری والا موړنه کی بلکه نیم نس یه وړ ډک کړي، قال المصنف

اَوْ يُعْطِى كُلَّ فَقِيْرٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ دَقِيْقِهٖ اَوْ سَوِيْقِهٖ

او یا دی ورکړی هر فقیرته نیمه کاسه دغنمو او یا اوړه دغنمو او یا سویق دغنمو، یعنی چی غنم

اَوْ صَاعَ تَمْرٍ اَوْ شَعِيْرٍ اَوْ قِيْمَتَهٗ

نني کړی او بیا یه اوړه کړی لکه دَ عربو چی په بچوا کی عادت وو یه سفرو کی، تا چی هرځای پنځولوته د ډوډی ضرورت نه وی بلکه دوی به دغه سویق په اوبو لانده کړه بیا بی خوړل یا چښل، او کی نني کړی نه وای بیا خو صرف اوړه خوړل د طبیعت ته موافق نه دی بلکه پر سړي بد لګیږی، کما هو ظاهر، او یا دی یوه کاسه خرما ورکړی، او یا یوه کاسه اوړ بښی او یا قیمت د هر یوه چی وي» **پوهه**: چی کاسه څلور کیلوده او نیمه کاسه دوه کیلوده» قال المصنف:

وَكَفَتْ كَفَّارَةٌ وَّاحِدَةٌ عَنْ جِمَاعٍ وَّاَكْلٍ مُتَعَدِّدٍ فِىْ

او کافی ده یوه کفاره دجماع و سیر روژه کی په قصد سره او د خوړلو څخه په قصد سره یه خوړو

اَيَّامٍ لَمْ يَتَخَلَّلْهُ تَكْفِيْرٌ وَّلَوْ مِنْ رَمَضَانَيْنِ عَلَى الصَّحِيْحِ

کی متعدد وارونه، لکن چی په مابین کی کفاره نه وی ورکړه سوي، کهٔ هم دغه جماعی او خوړلو دوو روژو وی لیعنی دد ۳ رو میاشتو روژی پر صحیح روایت باندی: در ویش وایی چی حاصل د دی مسئلی دا دی چی یو روژاتی دیوی روژی په میاشت کی څو واره جماع وکړي او څو واره یه خوړلی وکړي، یعنی په قصد یه دا کارونه دوه ځی وکړه نو د ټولو یوه کفاره کافی ده، په اتفاق د روایاتو، ولی چی مقصود دکفارې څخه زجردی او دَ غه سړي زجر به یوه کفاره کیدای سی» او کی د دوو میاشتو روژی یه دغه کارونه وکړه او کفاره یه تراوسه نه وه ورکړی هم یوه کفاره یه بس ده، په نیزد امام محمد، قال فی الاسرار والبزازیه وعلیه الاعتماد، ولذا قال المصنف علی الصحیح، لکن په بحر الرائق کی وایی چی ظاهر الروایه دا دی چی که روژه ماتول په دوو میاشتو کی وه دوه کفاری پر لازمیږی» کهٔ هم اول کفاره یه نه وی ورکړی قال وهو الصحیح کذا فی الجوهرة» فاختلف التصحیح فی هذه المسئلة فالاحتیاط فی ظاهر المذهب کما لا یخفی، در قال المصنف:

فَاِنْ تَخَلَّلَ التَّكْفِيْرُ لَا تَكْفِىْ كَفَّارَةٌ وَّاحِدَةٌ فِىْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ

او که چیری کفاره په مابین کی ورکړی وه لیعنی یو وار چی روژه یه په قصد ماته کړه په هره توګه چی وی لیعنی که جماع وی او که خوړل وی نو یه کفاره ورکړه وروسته یه بیا په هغه کار بیا بل کار بیا روژه قصدًا ماته کړه، نو هغه د مخه چی کفاره ورکړی ده هغه کفایت نه کوی بلکه بله کفاره به ورکوی په ظاهر روایت کی، ولی مقصود کفاری څخه خوزجر وو، نو ده چی بله پلا روژه ماته کړه نو په اول کفاره ده ته زجر نه دی حاصل سوی، نو ځکه بل زجر غواړی، او بله خبره دا ده چی زجر خوتر ګناه وروسته وي، نو اوله کفاره خوتر دوهمی ګناه د مخه ده» «شعر»

واحسن منك لم ترقط عینی ؛ واجمل منك لم تلد النساء ؛
خلقت مبرءًا من کل عیب ؛ کانك قد خلقت کما تشاء ؛

باب مَا يُفْسِدُ الصَّوْمَ مِنْ غَيْرِ كَفَّارَةٍ

دا باب ثابت دی په بیان کی د هغو شیانو چی روژه خوماتوی مگر کفاره نه لازموی،

وَهُوَ سَبْعَةٌ وَخَمْسُوْنَ شَيْئًا او هغه چی روژه فاسده وی اوه پنځوس شیان دی **بیـوه سـه** چی امام طحطاوی د دغو ۵۷ شیانو د پاره یو مختصر قانون کلی بیان کړی دی چی تر هغه د غه تولو ۵۷ اوه پنځوس شیان لاندی کیږی یعنی چی قضاء د روژی پر ستنه او کفاره نشته هغه قانون دادی، چی په بیوشی کی غذاء والی نوی او نه معناد غذاء پکښی وی نو د هغو په خوړلو سره روژه ماتیږی او کفاره نستنه، او یا غذاء پکښی وی لکن عذر شرعی ورسره ملگری وی، او یا قصرد غذاء، او د اشئ ورسیږی وئس ته یا و دماغ ته، او یا کمال شهوت د فرج پکښی وی یعنی مجرد جماع و چی دا دی تول مثالونه به د مصنف په بیان کی راسی ان شاء الله نو کفاره نستنه او قضاء ستنه،

قَالَ **اِذَا اَكَلَ الصَّائِمُ اَرُزًا نِيًّا اَوْعَجِيْنًا اَوْدَقِيْقًا** کچیری و خوړی روژاتی په وریځ کی دا داني روژی، وچی وریجی، یا خمیر اوړه او یا وچ اوړه، لکن چی د دغو اوړو سره غوړی یا دوبنا یا بوره نه وی کړه، او که د دغو شیانو نخړلو ورسره کړه وو بیا کفاره هم پر واجبه ده، م، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

اَوْمِلْحًا كَثِيْرًا دُفْعَةً او یا و خوری ډیره مالگه په یوه پلا، او کی په ډیرو وارو سره ئی و خوړله نو په اوله پلا خوړلو سره په هم روژه ماته سوه هم کفاره پر لازمه سوه، نو ځکه به ستا نخر سوال و کړی چی کوم دی هغه چی په لږ خوړلو سره ئی کفاره لازمیږی او د ډیرو خوړلو سره یه روژه ماتیږی لکن کفاره نه لازمیږی، نو ته ورته و وایه چی هغه مالگه ده،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه

قَالَ الْمُصَنِّفُ **اَوْطِيْنًا غَيْرَ اَرْمِنِيٍّ وَلَمْ يَعْتَدْ اَكْلَهُ** او یا یه و خوړله خته چی ارمینی نه وه، او حال دا او و چی دی یه په خوړلو عادی نه وو، او که خته ارمینی وه چی هغه دواء ده او یا غیر ارمینی خووه لکن خوړونکی ورسره عادت وو، نو بیا قضاء او کفاره دواړه پر ستنه مطلقًا، ط، عن،

قَالَ الْمُصَنِّفُ **اَوْاَكَلَ نَوَاتًا اَوْقُطْنًا اَوْكَاغَذًا** او یا یه و خوړلی د خرما مندکه یا پنبه یا کاغذ، یعنی د غه سی شیان چی عادتًا نه خوړل کیږی مراقی وائی چی یا یه شین رنگ او یا ژړ رنګ و خوله ته واچوه، نا ړی یه شینی یا ژړی سوی نو هغه نا ړی ده تیری کړی هم روژه ماته ده او کفاره نشته، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

اَوْسَفَرْجَلًا وَلَمْ يُطْبَخْ او یا یه و خوری بهی چی پوخ سوی نه وو، ولی دا سی وخت بهی، په عادت کی خلک نه خوری او که پخ بیا یه په خوړلو سره کفاره هم لازمیږی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

اَوْجَوْزَةً رَطْبَةً او یا یه و خوړی لوند جوز، لکن پوه سه چی چی دلانده جوز په خوړلو کی تفصیل ستنه هغه دادی چی د غه جوز مغز نه وو نیولی، نو په خوړلو کی کفاره نستنه، او کی مغز نیولی وو نو روژاتی هغه جوز سره د پوستکی وژ ووی او تیر یه کړی، نو موږ مشائخ وائی کی پوستکی تر مغز د مخه حلق نه ورسیدی نو الله خو یه ماته سوله مگر کفاره باندی نستنه، او کی حلق ته اول مغز ورسیدی بیا کفاره باندی ستنه، ولی چی په اول صورت کی په پوستکی روژه ماته سوه پوستکی خو کفاره نه لازموی، او په دوهم صورت کی په مغز و روژه ماته سوه او مغز خو غذائی شئ دی کفاره لازموی، **مسئله**: کی وچ جوز سره د پوستکی او د مغزه و ژیچی او تیر یه کړ، کفاره باندی نستنه، ولی دا سی خوړلک د جوز عادی شئ نه دی، م،

مسئله: کی لوند بادام و خوری کفاره پر لازمه ده، ولی چی د بادام لوند خوړلک هم عادی شئ دی لکن دا هغلته چی مغز یه نیولی وی او کی مغز نه وو نیولی بیا کفاره نستنه،

ولې چې د بادام خوړل په داسې صورت کې عادي شي نردی» ط » قـال المصنفؒ:

اَوِابْتَلَعَ حَصَاةً اَوْحَدِيْدًا اَوْتُرَابًا اَوْحَجَرًا

او يا يې تيره کړه د بره

يعنې کشنی تيکه او يا وسپنه، يا خاورې او يا ډبره، نو روژه ماته او کفاره نشته، ولې داشيان نه غذاده او نه په عادت کې خوراکي شيان دي، پردې شيانو قياس دی سره زر، يا سپين زر، يا زمرد لاجور وغيره، قـال المصنفؒ:

اَوِاحْتَقَنَ اَوِاسْتَعَطَ اَوْاَوْجَرَبِصَبِّ شَيْءٍ فِيْ حَلْقِهِ عَلَى الْاَصَحِّ

او يا يې دستور وکړي چې «اماله» يې هم بولي يعنې د کونې د خوا دواء نس ته رسول» او يا يې د پزې دخوا لوند شی وحلق ته ورساوه، او يا يې د پزې دخوا لوند شی وحلق ته ورساوه، او يا يې ايجار وکړي چې ورو ستنه عبارت يې تفسير دی يعنې يو شی يې په حلق کې د ننه توی کړي" پراصح مذهب» په اصح ويلو کې احتراز وکړي د قول څخه د امام ابو يوسفؒ چې هغه وائي چې په دغو درو سره صورتو کې کفاره باندې واجب ده. دليل د صحيح روايت دی چې کفاره خو مربوط په افطار پوری ده چې صورةً ومعنًا وي، او هغه په خوړلو سره راځي او په دغو صورتو کې خو خوړل نشته، او مطلق فائده چې په دغو شيانو کې ستنه چې هغه دواوې دی خو روژه ماتوی او کفاره نه لازموی «مر» **مسئله**: که سړی روژاتی په پزه سره او به په زوره کش کړي چې دماغ ته ورسيږي روژه يې ماته سوه» س، ط،

قـال المصنفؒ

اَوْاَقْطَرَ فِيْ اُذُنِهٖ دُهْنًا اَوْمَاءً فِي الْاَصَحِّ

او يا يې وڅڅولي په غوږ کې روغن يا او به نو روژه يې ماته سوه، کفاره نشته پراصح روايت

پوښتنه: چې په روغنو کې خو اختلاف نشته چې روژه په ماتيږي ولې روغن خو هم فائده ده او د غوږ د لاري دماغ ته مفطر ورسيدی، لکن په او بو کې اختلاف دی» قاضيخانؒ او کمالؒ وائي چې روژه په ماتيږي، ولې چې مفطر دماغ ته ورسيدی د روژه تابي

په فعل سره فائدی ته اعتبار نشته. او په محيط کې وائي چې صحيح داده چې روژه نه په ماتيږي ولې چې او به خود ماغ ته تاوان کوي، نو فطر که څه صورةً پيداسو لکن معنیً فطر نشته» مر» قـال المصنفؒ:

اَوْدَاوٰی جَائِفَةً اَوْاٰمَّةً بِدَوَاءٍ وَصَلَ اِلٰى جَوْفِهٖ اَوْدِمَاغِهٖ

او يا يې دواء وکړه د جائفه ټپ او يا امه ټپ په داسې دواء سره چې هغه دواء و نس ته ورسيږي او يا هغه دواء ورسيده ودماغ ته، **پـوښـتـنـه**: چې جائفه هغه ټپ دی چې په نس کې وي او امه ټپ هغه دی چې په سر کې وي، نو دواء عامه ده که چه وي او که لنده وي.

فـائـده: د جائفه ټپ په دواء کې تفصيل دادی، که تهې يقيناً په پوه سو چې دواء د ټپ څخه نس ته ورسيده، نو خو اتفاقاً يې روژه ماته سوه او که شک وو چې دواء به نس ته رسيدلې وي او که نه! نو که دواء لنده وه امام اعظمؒ وائي چې روژه يې ماتيږي، ولې چې لنده دواء غالباً د ټپ څخه نس ته رسيږي» او يارانؒ وائي چې روژه يې په شک نه ماتيږي او که دواء وچه وه او سړی په کښې شکي وو چې رسيدلې به وي او که نه! نو روژه اتفاقاً نه ماته» **پـوښـتـنـه**: چې د اشک او يقين په ټپ پوری اړه لري چې ډير ژور ټپ دی چې نس ته نژدې دی او که سر سري دی چې د نس څخه لېرې دی يا لږ يا ډير»

پوښتنه: د حديث مبارکه څخه داسې معلوميږي چې د روژې ماتوالی په نس او فرج پوری اړه لري، يعنې چې نس ته شئ داخل سي يا د فرج شهوت پرځای سي، نو د سر د ټپ په دواء سره که څه هم دماغ ته ورسيږي ولې روژه ماتيږي» **جواب**: چې اطباء او حاکمان او ډاکترانو په متفقه ډول دا خبره منلې ده چې د جوف الرأس او د جوف المعدة ترمابين سوري ستنه چې هغه شئ چې جوف الرأس ته ورسيږي جوف المعدة ته هم رسيږي» نو ځکه يې روژه ماتيږي» هذا حاصل ما في فتح القدير وشرح الطحطاوي مع زيادة من در» قـال

اَوْدَخَلَ حَلْقَهٗ مَطَرٌ اَوْثَلْجٌ فِي الْاَصَحِّ وَلَوْلَمْ يَبْتَلِعْهُ بِصُنْعِهٖ

او یا داخلی سی وحلق ته د روژاتی د باران اوبه یا واوره کی ځکه چې په اختیار سره تیری نه کړی
او کی په اختیار تیری کړی بیا کفاره هم پرلازمه ده، ط، **فــائـده**: په فتاوای
هندیه کی وائی که د روژاتی په خوله گرد د ژرندی ننوتی، او یا یه دواء میده کول او د هغی
دواء خوند یه په خوله کی محسوس کړی، او یا دود داور یه په خوله ننوتی او یا باد دوړی
جوړی کړی او ده په خوله ننوتې، او یا د آسانو وغیره د څغا ستو دوړی دده په خوله ننوتې روژه
یه نه ماتیږی» قال المصنف:

اَوْ اَفْطَرَ خَطَاءً بِسَبْقِ مَاءِ الْمَضْمَضَةِ اِلَى جَوْفِهٖ

او یا یه روژه ماته کړه په خطاء سره چې نه ئی قصد وو او نه ئی روژه هیره وه بلکه وړاندی سوی او به
دخولې پریولو ونس ته دده ولاړی، نو روژه خو یه ماته ده، او کفاره باندی نشته لعدم القصد
سـوال: په صحیح حدیث کی راغلی دی: رُفِعَ عَنْ اُمَّتِی الْخَطَاءُ وَالنِّسْیَانُ وَمَا اسْتُکْرِهُوا
عَلَیْهِ، نو ددی حدیث په مقتضی بایدبه خطاء سره روژه نه سبی ماته لکه په هیره چې نه ماتیږی،
جَـوابُ: په حدیث شریف کی مراد رفع د گناه ده یعنی به خطا چې روژه ځندی ماته
سی نو گناه کار نه دی، او د روژی ماتوالی یه په سبب د عدم احتیاط دی په مضمضه کی
وهذا هو الفرق بین الخطاء والنسیان» فافهم» مر، ط، در، قَــالَ المصنفؒ:

اَوْ اَفْطَرَ مُکْرَهًا وَلَوْ بِالْجِمَاعِ اَوْ اُکْرِهَتْ عَلَی الْجِمَاعِ

او یا چا روژاتی مجبور کړی د روژی پر ماتولو که څه هم پر جماع د ماینی مجبور کړی، قال المراق
فی الصحیح وبه یفتی، او یا ښځه روژاتی میړه وغیره مجبوره کړه پر جماع نو ده نر په صورت
کی پر نر کفاره نشته» **سـوال**: د نر چې د مجبوری په وخت کی د جماع و غړی لک سو نو
معلومه سوه چې دده د غه جماع ی خوښی سوی او په راضی سو، نو باید کفاره پر وی **جواب**
د آله لک والی خو طبعی کار دی دلیل د رضاء او خوښی نه دی، مر، او د روژاتی په صورت کی پر
ښځه کفاره نشته» **پـوښـتـنـه**، که ښځه په اول کی خود جماع و ځغزیه انکار
کاوه لکن نر په زور پر تگا بن په خلاص کړی او ځرنگه چې نر آله ددی په کس ور دننه کړه دی،

نو ئی هم خوند ور کړی او په دغه کار راضی سوله» نو هم پر ښځه کفاره نشته او که ځرنگه
جواب یا کفاره پر وی نشته، ولی نفس چې نر آلة ور داخل کړه ددی روژه ماته سوه
وروسته ئی خوند ور کول او یا راضی والی خو یه پسله فساده د روژی دی» قَــالَ المصنفؒ

اَوْ اَفْطَرَتْ خَوْفًا عَلٰی نَفْسِهَا مِنْ اَنْ تَمْرَضَ مِنَ الْخِدْمَةِ

او یا ښځی روژه ماته کړه د سببه د بیری پرځان باندی چې نه به مریض سم په سبب د خدمت
د بادار او یا د میړه که ښځه مینځه وی او که

اَمَةً کَانَتْ اَوْ مَنْکُوْحَةً

حره منکوحه دیو چاوی، نو کفاره باندی نشته،
ولی چې دې روژه په سبب د عذر ماته کړه، لکن معتبر به دی باب کی غلبة الظن دی نفس توهم
نه دی» **پـوسـه**: چې د فقه شریف په کتابو کی وائی چې مینځی ته روادی چې منع کړی
د خدمت ځنی د بادار کی دا عاجزه کوله د اداء ځنی د فرضو کار و، نو سره د دغه حکم شرعی بیا هم بر دی
باندی کفاره نشته چې روژه ماته کړی په سبب د عجز د خدمت ځنی د بادار، نو پر ځی ښځی
خو په طریق اولی کفاره نشته په سبب د عذر مذکور، وهذا التیمم مذکور فی التاتارخانیه»
قَــالَ المصنفؒ

اَوْ صَبَّ اَحَدٌ فِیْ جَوْفِهٖ مَاءً وَهُوَ نَائِمٌ

او یا یه توی کړي په نس د روژاتی
کی او به او حال دا چې روژاتی بیده وو مثلاً روژاتی بیده وو او خوله یه خلاصه یو لی وه بل سړی
به په خوله کی او به ور توی کړي هغه او به فوراً د حلق د لاری نس ته ولاړي او دی راولینس
سو، او یا نسوار و ینی خو بیا هغه بل سړی ورته وویله چې ماستا په خوله کی او به در توی
کړی او تا تیری کړي روژه خو یه ماته سوه، ولی چې مفطر یه ونس ته ور سیدی مگر کفاره
پر نشته ولی چې د روژاتی قصد او رضاء نشته، در» ط وائی چې دا مسئله مصنفؒ ددی دپاره
ذکر کړه چې د بعض خلگو به دا توهم وائی چې د غه بیده به لکه بیر وونکی وی او روژه به ئی
نه ماتیږی، وجه د فرق دا ده چې هیری والا افطار د صاحب الحق جل جلاله د خوادی، او د
مذکور سړی افطار د بنده د خوادی، نو ددی مثال بل ځای هم سته کله چې ذابح حیوان ذبح

کوی لبِسْمِ اللہ یہ هیره سو نوذ بیجه حلاله دَه، ولی شارع تا سی پرمنزله د ذاکرد تسمیه
نازل کړی دی، اوکه یو سړی دخوب سره سره یو حیوان بیله تسمیه حلال کړی ذبیحه
مرداره ده، نو په روژه کی هم یو پر بل نه قیاسیږی، ط، در» قَالَ المُصنفُ

اَوْ اَكَلَ عَمَدًا بَعْدَ اَكْلِهٖ نَاسِيًا وَلَوْ عَلِمَ الْخَبَرَ عَلَى الْاَصَحِّ

اویا خوړك وکړی یو روژاتی په قصد سره پسله دی څخه دمخی په په هیره شئ خوړلی وی که څه
هم په حدیث نبویؐ خبروی پر اصح مذهب» اوهغه حدیث دادی: مَنْ اَكَلَ اَوْشَرِبَ نَاسِيًا
وهو صَائِمٌ فليتم صَوْمَه»، نو د غه سړی روژه د قصد په خوړلو ماته سوه اما کفاره نشته باندی،

پوښتنه: سره د علم د حدیث نبویؐ چی معنا یه داده: چی په هیره روژه نه ماتیږی نو
دده روژه خو پر ځای وه، نو وروسته چی عمدًا خوړك وکړی، نو پس روژی جنایت وکړی باید
کفاره باندی وی.

جواب: حدیث مذکور چونکه خبر واحد دی او یقین نه فائده کوی، نو
حدیث د سببه په عمد خوړك سره دده روژه ماته سوه، او قضاء پر لازمه دَه، او کفاره په دی
سبب پرده نشته، چی دقیاس د لاری چی په وخت دنسیان خو مفطر. ده و نسِ نه وه سیدی
باید روژه یه ماته سی لکن حدیث نبویؐ په روژه خلاف القیاس ماته نه بولی، نو دا شبهه سوه په
عدم لزوم کی د کفاری چی عمدًا یه بیا خوړك وکړی، وهذا ظاهر الروایة، طحطاویؒ مراقی، قاضیخان در

قَالَ المصنفُ

اَوْ جَامَعَ نَاسِيًا ثُمَّ جَامَعَ عَامِدًا

اویا روژاتی اول وار جماع دمابینی سره په هیره وکړی او
بیا یه په قصد وکړه، دلیل یه هغه دی چی ذکر سو، قَالَ المصنفُ:

اَوْ اَكَلَ بَعْدَ مَا نَوٰى نَهَارًا وَلَمْ يُبَيِّتْ نِيَّتَه

اویا یه خوړك وکړی روژاتی
ومثل ذالک الشرب والجماع، پسله دی څخه چی نیت د روژی فرضی ته د ورځی کړی وو او
نیت یه د شپی څخه نه وو کړی لکن دا مذهب دی دامام اعظمؒ دی یعنی چی کفاره د نشته باندی،
ولحچی په دی روژه کی شبهه سته چی امام شافعیؒ د ورځی نیت د روژی روانه بوی، او کفاره

په شبهه سره نه پریږی کما مر مرارًا اویا راځو وائی چی کفاره باندی سته، قَالَ المصنفُ:

اَوْ اَصْبَحَ مُسَافِرًا فَنَوَى الْاِقَامَةَ ثُمَّ اَكَلَ

اویا سړی سحار کړه چی سفرته یه قصد وو، یعنی د شپی خو یه نیت د روژی کړی وو او لکن
سحار یه عزم د سفر وکړی بیا بیرته نیت د اقامت وکړی، نو خوړك یه وکړی نو کفاره نشته باندی
که څه هم د دغی روژی په موجوده صورت کی وده ته ماتول حرام دی، او کی د مخه تر نیت د اقامت
خوړك وکړی بیا خو یه طریق اولیٰ کفاره نشته بلکه حرمت هم نشته، قَالَ المصنفُ

اَوْ سَافَرَ بَعْدَ مَا اَصْبَحَ مُقِيمًا فَاَكَلَ

اویا د غه سړی چی ده
شپی یه د روژی نیت
خوکړی وو او سحار هم پر نیت د اقامت پاته وو لکن وروسته په سفر روان سو او بیا یه
خوړك وکړی، نو کفاره باندی نشته، که څه هم دا ماتول د روژی حرام دی. قَالَ المصنفُ

اَوْ اَمْسَكَ بِلَا نِيَّةِ صَوْمٍ وَلَا نِيَّةِ فِطْرٍ

اویا سړی داغسی د
خوړك وغیره څخه
ځان ساتلی وو، او نه ئی د نیت د روژی وو او نه ئی نیت د خوړك وو وروسته یه خوړك
وغیره وکړی کفاره نشته په سبب ددی چی شرط د صحت د روژی په ده کی نه سو پیدا نو
روژاتی نه دی» قَالَ المصنفُ:

اَوْ تَسَحَّرَ اَوْ جَامَعَ شَاكًّا فِي طُلُوعِ الْفَجْرِ وَهُوَ طَالِعٌ

اویا سړی کمی وکړی اویا یه دمابینی سره جماع وکړی په داسی حال کی چی دی په دواړو صورتو
کی شك وو په سفیدو چاودو کی لکن په حقیقت کی سفیدی چاودلی وی، چی وروسته
ده ته معلومه سوه نو کفاره نشته باندی، په سبب د شك وو، لکن دی په دی گناه گار
دی چی ولی بی معلومات نه کاوه، مگر د افطار گناه نشته باندی **مسئله** که سړی
ته سره د تلاش د سفیدو د رڼاك نه معلومیدی لکن شك وو بیا خوړك وغیره وکړی نو قضاء

د روژې په سبب د شک نشته بانديږ، د حضرت الامام محمد روايت دی چې سرې سره د شکه په طلوع الفجر کې په خوړلو وغیره سره ګناه ګاره دی کې سترګې ضعيفه وی، او يا سپوږمۍ وه چې د سفید ودرلو نه په کښې معلوميدې او يا وريځ وه، وهذا معنى قوله عليه الصلوة و السلام: دَعْ مَا يُرِيبُكَ اِلٰى مَا لَا يُرِيبُكَ، پريږده هغه کار چې تا په شک کې اچوی او مختاره کړه هغه کار چې تا په شک کې نه اچوي. قَالَ المصنفُ:

اَوْ اَفْطَرَ بِظَنِّ الْغُرُوْبِ وَالشَّمْسُ بَاقِيَةٌ

او يا روژتی روژه ماته کړه په غالب ګمان د لمر لويدو مګر لمر باقي وو مثلاً په وريځ کې وو او ورو سته ښکاره سو نو کفاره نشته باندی کې خو هم قضاء پر لازمه ده. **مسئله**: که په غروب کې د لمر صرف شک وو او روژه يې ماته کړه او لمر نه وو لويدلی کفاره باندی شته، په يوه روايت کی، او بل روايت: دا دی چې دا صورت هم لکه په طلوع الفجر کی شک وی يعنی کفاره نشته باندي. والصحيح ما في المتن تا چې عمل راسی په اصل سره په دواړو صورتو کی چې شپه وه نو اصل دا دی چې شپه به باقی وی سفيدی عارضی شوی دی او په دوهم صورت کی چې ورځ وه نو اصل دا وه چې ورځ به باقی وی او غروب الشمس عارضی دی دا فائده په ياد وساته. قَالَ المصنفُ:

اَوْ اَنْزَلَ بِوَطْیِ بَهِيْمَةٍ اَوْ مَيِّتَةٍ اَوْ بِتَفْخِيْذٍ اَوْ بِتَبْطِيْنٍ اَوْ

او يا روژتی انزال سو په جماع سره د خرې مثلاً او يا د مړې ښځې، او يا د ماينې په ورنو کې ځان انزال کی او يا پر نس د ماينې ځان انزال کی او يا په ښکولو د ماينې په ځان انزال

قُبْلَةٍ اَوْ لَمْسٍ

کړی، او يا په مسه کولو سره د ماينې انزال سو، نو روژه خو يې ماته سوه مګر کفاره باندی نشته، لقصور الجنايةِ على الصوم. **مسئله**: که روژتی په لاس سره ځان انزال کړی روژه يې ماته سوه لکن کفاره نشته باندي، لما ذکرنا. قَالَ المصنفُ

اَوْ اَفْسَدَ صَوْمَ غَيْرِ اَدَاءِ رَمَضَانَ

او يا سړی فاسده کړه يعنی يا په خوړلو يا جماع وغيره سره روژه د ماسوی محمد دادائی روژي

د مياشتی روژی که قضائی وی او که نفلی وی نو کفاره نشته ولې چې د بې حرمتی د مياشتی د روژی نه ده کړې چې هغه سبب د کفاری دی. قَالَ المصنفُ:

اَوْ وُطِئَتْ وَهِيَ نَائِمَةٌ اَوْ اَفْطَرَتْ فِيْ فَرْجِهَا عَلَى الْاَصَحِّ

او يا وغوول سوه ښځه لکن دا بيده وه مګر دَ شپې دی نيت د روژی کړی وو، روژه خو يې په وطی سره فاسده سوه لکن پر ښځه نشته ولې چې دې خو جنايت نه دی کړي، او يا دی ښځې په کس کی او به توی کړی روژه خو يې ماته سوه لکن کفاره نشته، ولې دا کار مشابه د اماله سره دی، کما حکم" په اصح روايت لکن سيد وائي چې په دی کی هيڅ اختلاف نشته. ط قَالَ المصنفُ:

اَوْ اَدْخَلَ اِصْبَعَهُ فِيْ دُبُرِهٖ مَبْلُوْلَةً بِمَاءٍ اَوْ دُهْنٍ اَوْ اَدْخَلَتْهُ

او يا يې چخ کړه روژتی ګوته خپله په کُنه کی چې ګوته يې لنده وه په او بو يا په غوړو او يا ښځې چخ

فِيْ فَرْجِهَا الدَّاخِلِ عَلَى الْمُخْتَارِ

کړه لنده ګوته په او بو يا غوړو په خپل د ننه کس کی، نو کفاره باندی نشته، لان هذا اقل من الحقنة. **پوه سه** چې روژه يې هلته فاسديږي چې په قدر د حقنی يې ور چخ کړي. **مسئله**: د استنجاء وهلو په وخت کی که ده روژتی په کنه کی او يا د ښځې په کس کی په سبب د مبالغی په استنجاء کی او به ننوتی نو که د حقنی تر اندازی کمی وی، نو روژه يې هم نه ده فاسده او که هغونه مقدار وه روژه خو يې فاسده سوه لکن کفاره نشته

فائده: که روژتی استنجاء وهله او د کنی کلمه يې راووتله نو ده هغه هم پريوله، نو که ده هغه کلمه وچه کړه په ټوکر د مخه تر دی چې دی ولاړ سی او کلمه يې خپل ځای ته ورسيږی نو ده هغه روژه نه ده ماته، ولې هغه او به خوده ځندی وچې کړي د مخه تر رسيدو و باطن ته او کی کلمه دا غسی لنده وه دی ولاړ سو او کلمه يې ننوتله بيا روژه ماته او کفاره نشته. مرط قَالَ

اَوْ اَدْخَلَ قُطْنَةً فِيْ دُبُرِهٖ اَوْ فِيْ فَرْجِهَا الدَّاخِلِ وَغَيَّبَهَا

اویا روژاتی چخ کړي پنبـه وغیره په کُنه کی اویـا بنځی پـه دنَنَه کس کی او اپنبه وغیره په کنه یا کس کی بیځی پټ سوه نو روژه خو یه ماته سوه، ولی چی یو شئ کامِل باطن ته ورسیدی لکن کفاره نسته، اوکه یو طرف د پنبـه وو او غیره د باندی پاته وو، نو روژه یه هم نه ده ماته" لانّ تمام الدخول کعدم دخول غئی بالمرة، مراقی، وقـال المصنفؒ:

اَوْاَدخَلَ حَلقَهٗ دُخَانًا بِصُنعِهٖ

اویا سَړی روژاتی داخِل کړي دود دشئ په قصد سره چی حلق تی ورسیدی اونس یاد ماغ ته تئ ورسیدی، نو روژه یه ماته ده او کفاره نسته، په مَراقی کی وَائی چی داحکم په غیرکی د دود عنبرو یـا اگربتی دی، او که د هغو دود وی نو د کفارة لزوم بعید نه دی للنفع والتداوی: ثم قـالَ، وکذا الدخان الحادث شربه، چی مراد څندی سگریټ او چلم، او بیړی دی یعنی پـه دی شیَانوکی هم کفارة بعید نه دی فتدبر" قـالَ المصنفؒ:

اَوِاسْتَقَاءَ وَلَوْدُوْنَ مِلْئَ الْفَمِ فِیْ ظَاهِرِ الرِّوَایَةِ وَ

اویا روژاتی په قصد قئ وواهه که څه هم تر ډکی خولی کموی سـه ظاهر روایت کی. او حضرت

شَرَطَ اَبُوْیُوْسُفَ رحؒ مِلْئَ الْفَمِ بُوْلِی پـوه سـه

امام ابویوسفؒ دخولی ډکوالی شرط چی د امام اعظمؒ نه چی قئ تر ډکی خولی کموی دوه روایت دي، یو دادی چی روژه یه ماتیږی وهوالموافق لقوله علیه الصلوٰة والسلام مَنْ استقاءَ فلیقض" او امام ابویوسفؒ شرط بولی په ما توَالی کی د روژی د قصد په قئ سره ډکه خوله، ولی چی کم تر هغه کالعدم دی ځکه او س نه پـه ماتیږی" بعض امامان چی د روژی او اودا سه فرق نسی کولای وعوام ته وَائی وائی چی پـر روژه کی قئ بی قصده په ډکه خوله وواهه روژه یه ماته ده" دا حکم دوی غلط دی"

قـالَ المصنفؒ اَوْاَعَادَ مَاذَرَعَهٗ مِنَ الْقَئْیِ وَکَانَ مِلْئُ الْفَمِ وَهُوَ ذَاکِرٌ لِصَوْمِهٖ

اویا روژاتی پـه قصد تیرکړي هغه قئ چی پر ده غالبه سوی وو یعنی په

قصدیه نه وو وَهَلی، او حال دا وو چی هغه قی په ډکه خوله وواهه او ده روژه هم په یاد وه" نو روژه یه ماته ده او کفاره نسته باندی، او کی روژه هیره وه نو روژه یه هم نه ده ماته" او که قئ تر ملئ الفم کم وو نو ده بیرته تیرکړي پـه هغه کی دوه روایته دی په یوه روایت کی یه روژه فاسدیږی امام طحطاویؒ وائی چی اصح عدم فسادی دی"، درعن المحیط" قـال المصنفؒ:

اَوْاَکَلَ مَابَیْنَ اَسْنَانِهٖ وَکَانَ قَدْرَ الْحِمَّصَةِ

اویا روژاتی وخوړ هغه شئ یعنی ډوډی یا غوښی وغیره چی د غا ښو په مابین کی بند وه او په قدر د یوه نخود وو، نو روژه خو یه ماته سوه او کفاره نسته، او که تر حمصی کم وو نو روژه یه نه ماتیږی للضرورة ولزوم الحرج

قـالَ المُصنفؒ اَوْنَوَی الصَّوْمَ نَهَارًا بَعْدَمَا اَکَلَ نَاسِیًا قَبْلَ

اویا یه نیت د روژی وکړي د وَرځی پسله دی چی د مخه تر نیت یه خوراک په هیره کړي وود مخه تر نیت

اِیْجَادِ نِیَّتِهٖ مِنَ النَّهَارِ اَوْاُغْمِیَ عَلَیْهِ وَلَوْجَمِیْعَ

کولو د نیت د ده وَرځی نو روژه یه ماته ده او کفاره نسته، او یا بیهوښی راغله پر سړي که څه هم ټـول

الشَّهْرِ اِلَّا اِنَّهٗ لَایَقْضِیْ الْیَوْمَ الَّذِیْ حَدَثَ فِیْهِ

میاشت وی مگر د هغه وَرځی قضاء پری نسته چی وده ته بیهوښی په دَغه وَرځ یا په شپه کی د

اِغْمَاءُ اَوْحَدَثَ فِیْ لَیْلَتِهٖ هغی وَرپیښه سوی وي پـوه سه

چی اغماء یو نوع د مَرض ده چی ډیر دیه نادر دی او احکام د شرعی شریفی بناء پر غالب دی، نو ځکه پر دغه ممتده بیهوښی قضاء لوَرځود بیهوښی لازم ده، مگر د هغه وَرځی قضاء نسته چی دی په هغه وَرځ کی یا شپه کی بیهوشه سوی دی، للعذر"

اویا روژاتی چخ کړي پنبه وغیره په کُنه کی او یا بنځی په دننه کس کی او د پنبه وغیره کنډ یا کس کی بیخی پټ سوه نو روژه خو یې ماته سوه، ولې چې یو شئ کامل باطن ته ور سیدی لکن کفاره نشته، او که یو طرف د پنبه وو او غیره دبا ندی پاته وو، نو روژه یې هم نه ده ماته لانّ تمام الدخول کعدم دخول شئ بالمرّة» مَراقی» قـال المصنفؒ:

اَوْاَدْخَلَ حَلْقَهٗ دُخَانًا بِصُنْعِهٖ

اویا سړي روژاتی داخل کړي دود د لوی شی په قصد سره چې حلق تی ور سیدی او نس یا دماغ ته ئی ور سیدی، نو روژه یې ماته ده او کفاره نشته، په مَراقی کی وائی چې د احکم په غیر کی د دود عنبرو یا اگربتی دی، او که د هغو دود وی نو د کفارې لزوم بعید نه دی للنفع والتداوی: ثم قـال، وکذا الدخان الحادث شربه، چې مراد څندی سگریټ او چلم، او بیړی دی یعنی په دی شیانو کی هم کفاره بعید نه دی فتدبر» قـال المصنفؒ:

اَوِاسْتَقَاءَ وَلَوْدُوْنَ مِلْئِ الْفَمِ فِیْ ظَاهِرِ الرِّوَایَةِ وَ

اویا روژاتی په قصد قئی وواهه که څه هم تر دکی خولې کموی په ظاهر روایت کی. او حضرت

شَرَطَ اَبُوْیُوْسُفَ ؒ مِلْئَ الْفَمِ بُوْلی پُوْهَسَه

امام ابو یوسفؒ د خولې ډکوالی شرط چې د امام اعظمؒ څخه چې قئی تر ډکی خولې کموی دوه روایت دي، یو دادی چې روژه په ماتیږی وهوالموافق لقوله علیه الصلوٰة والسلام مَنْ استقاءَ فلیقض» او امام ابو یوسفؒ شرط بولې په ماتوالی کی د روژی د قصد په قئی سره ډکه خوله. ولې چې کم تر هغه کالعدم دی ځکه او دس نه په ماتیږی» بعض امامان چې د روژی او او دس فرق نسی کولای وعوام ته وائی وائی چې په روژه کی قئی بې قصده په ډکه خوله وواهه روژه یې ماته ده» دا حکم دوی غلط دی»

قـال المصنفؒ اَوْاَعَادَ مَاذَرَعَهٗ مِنَ الْقَئِ وَکَانَ مِلْئَ الْفَمِ وَهُوَ ذَاکِرٌ لِصَوْمِهٖ

اویا روژاتی په قصد تیر کړي هغه قئی چې پر ده غالبه سوې وه یعنی په

قصد یې نه وو وهلی، او حال دا وو چې هغه قی په ډکه خوله وواهه او ده ته روژه هم په یاد وه» نو روژه یې ماته ده او کفاره نشته باندې، او که روژه هیره وه نو روژه یې هم نه ده ماته» او که قئی تر ملئی الفم کم وو نو ده بیرته تیر کړی په هغه کی دوه روایته دی په یو روایت کی یې روژه فاسده ده امام طحطاویؒ وائی چې اصح عدم فسادِ دی» در عن المحیط» قـال المصنفؒ:

اَوْاَکَلَ مَابَیْنَ اَسْنَانِهٖ وَکَانَ قَدْرَ الْحِمِّصَةِ

اویا روژاتی وخوړی هغه شئ یعنی ډوډۍ یا غوښې وغیره چې د غاښو په مابین کی بند وه او په قدر د یوه نخود وو، نو روژه خو یې ماته سوه او کفاره نشته، او که تر حمصی کم وو نو روژه یې نه ماتیږی للضرورة ولزوم الحرج

قـال المصنفؒ اَوْنَوَی الصَّوْمَ نَهَارًا بَعْدَمَا اَکَلَ نَاسِیًا قَبْلَ

اویا یې نیت د روژی وکړی د ورځی په له دی چې د مخه تر نیت یې خوړلي په هیره کړي وه د مخه تر پیدا

اِیْجَادِ نِیَّتِهٖ مِنَ النَّهَارِ اَوْاُغْمِیَ عَلَیْهِ وَلَوْجَمِیْعَ

کولو دنیت د ده ورځی نو روژه یې ماته ده او کفاره نشته، اویا بیهوښی راغله پر سړي که څه هم ټوله

الشَّهْرِ اِلَّا اَنَّهٗ لَایَقْضِیْ الْیَوْمَ الَّذِیْ حَدَثَ فِیْهِ

میاشت وی مګر د هغه ورځی قضاء پری نشته چې ور ده ته بیهوښی په دغه ورځ یا په شپه کی د

الْاِغْمَاءُ اَوْحَدَثَ فِیْ لَیْلَتِهٖ

هغی ور پیښه سوی وي پُوْهَسَه

چې اغماء یو نوع د مرض ده چې ډیر امتداد یې نادر دی او احکام د شرعی شریفی بناء پر غالب دی، نو ځکه پر دغه ممتده بیهوښی قضاء د ټولو ورځو د بیهوشی لازم ده، مګر د هغه ورځی قضاء نشته چې دی په هغه ورځ کی یا په شپه کی بیهوښه سوی دی، للعذر»

قـال المصنفؒ ## اَوجُنَّ غَيرَمُمتَدٍجَمِيعَ الشَّهرِ
او یا سړی لیونی سو لکن تول میاشت یه په برکی نو نیول نو قضا د ورځو د جنون پر ده لازم ده: لانه لاحرج فی قضاء مادون الشهر یعنی کهٔ ټـ بسته میاشت جنون ونیول بیا قضاء پری نسته للحرج ، قـال المصنفؒ:

وَلَايَلزِمُهٗ قَضَائُهٗ بِاِفَاقَتِهٖ لَيلاً اَونَهَارًا بَعدَفَوَاتِ

او نه ده لازمه قضاء د روژی په هغه لیونی چی د شپی به پرسد کیدی،، ولی چی شپه محل د روژی نه ده، او یا د ورځی به پرسد سو هغه وخت کی چی

وَقتِ النِّيَّةِ فِى الصَّحِيحِ
وخت دصحت د نیت د روژی به تیر سوی وو یعنی الضحوة الکبری لانه لا اعتبار للصحة فی هذا الوقت ، فکان الصحة فی هاتین الوقتین کالعدم فکان هو کالمستوعب جمیع الشهر فلا قضاء علیه للزوم الحرج فافهم،

پوهـ سـه: چی امام طحطاویؒ په ص۵۵۸ د دی باب په پای کی یوه مفید، تتمه راوړی ده چی ترجمه یه داده: په هغو ځایو کی چی په باب کی ذکر سوه چی کفاره پر روژه تی نسته، هغه ځای ونه دی چی د روژاتی څخه مرة بعد اخری په قصد د معصیت د افساد الصوم نه وی پیښ سوی، او که مکرر وارونه په قصد د معصیت د افساد الصوم پیښ سی بیا کفاره باندی سته کذا فی النهر الفائق،،

فَصلٌ وَيَجِبُ الاِمسَاكُ بَقِيَّةَ اليَومِ عَلٰى مَن فَسَدَ صَومُهٗ

واجب دی ځان ساتل د خوراک او نورو د روژی ماتوونکی شیانو څخه پاته ورځ پر هغه چا چی روژه یه فاسده سی، **پـوهـ سـه**: چی مصنفؒ چی واجب ووایه دا ظاهر الروایة دی او هم صحیح، بعض علماء وائی چی امساک مستحب دی، حکمت د امساک ئبه ده د روژداتیانو سره تا چی حق د وخت چی د روژی میاشت ده پرځای سی،، **فـائـده** د امساک پرچا واجب دی کی فساد د روژی په عذر سره وی لکه جنګ د دښمن یا تبه چی دوا ئی زائل سی او یا بی عذره فاسده سوی وی، قَالَ المُصنفؒ:

وَعَلٰى حَائِضٍ وَنُفَسَاءَ طَهُرَتَا بَعدَطُلُوعِ الفَجرِ

او واجب دی امساک پر ښځه چی د حیض او نفاس څخه پاک سی تر پیله سپیدو څخه **فـائـده** حرام دی امساک پر ښځه چی په حال کی د حیض وی یا نفاس، ولی چی حقیقتاً روژه خو دی ته حرامه ده نو تشبه په حرام سره هم دی ته حرام ده، **فـائـده**: که مسافر مقیم سو تر پیله طلوع الفجر او یا مریض جوړ سو روسته تر طلوع الفجر او یا لیونی پرسد سو په د غه وخت کی هم امساک پر واجب دی **پـوهـ سـه**: چی هغه کسان چی امساک ورته حرام وی لکه ښځه حائضه یا نفساء په حال کی د حیض او نفاس یا مسافر په حال کی د سفر یا مریض په حال کی د مرض چی خوراک وغیره کوی په پټه دی کوی علانیةً دی نه کوی،، قـالَ المُصنفؒ:

وَعَلٰى صَبِيٍّ بَلَغَ اَوكَافِرٍ اَسلَمَ وَعَلَيهِمُ القَضَاءُ اِلَّااَلاَخِيرَينِ

او د غه رنګه امساک واجب دی پر کشتی چی بالغ سی او یا کافر چی مسلمان سی تر پیله سپیدو څخه لحرمة الوقت بالقدر الممکن، او پر دغو ټولو قضاء د دغی روژی سته مګر دوه اخیر چی صبی بالغ دی یا کافر مسلمان پر هغو قضاء نسته، لعدم اهلیتهما للصوم فی اول الوقت للصوم فلم یجب علیهما الصوم حتی یجب القضاء،

فَصْلٌ فِيمَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ وَفِيمَا لَا يُكْرَهُ لَهُ وَمَا يُسْتَحَبُّ

دا فصل دی په بیان کی د هغو شیانو چی مکروه وی روژاتی ته، یعنی که څه هم روژه یې نه په ماتیږی او په بیان د هغو شیانو چی مکروه نه وی روژاتی ته، او په بیان کی د هغو شیانو چی مستحب وی یعنی روژاتی ته. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

كُرِهَ لِلصَّائِمِ سَبْعَةُ أَشْيَاءَ ذَوْقُ شَيْءٍ وَمَضْغُهُ بِلَا عُذْرٍ

مکروه دی روژاتی ته اوه شیان، خوند کتل د یو شي یا ژوول د یو شي بیله عذره، ولې چی دی فعل کی روژه وفساد ته پیشول دي، امام طحطاویؒ وائی چی د ظاهر څخه د مطلق کراهت د اسلوبیږی چی کراهت د دغو شیانو تحریمي دی، که څه هم روژه نفلي وی علی المذهب» ط، م، او شمس الائمة الحلوانیؒ وائی چی په نفلی روژه کی پرواه نه لري، ولې چی افطار او ماتول د نفلي روژي بیله عذره روادی، په یوه روایت کی لکن هغه روایت د ظاهر المذهب نه دی»

پوښته: چی عذر د خوند کتلو شی روژاتی لره داهم کیدای سی چی د ښځی میړه بد اخلاقه وی چی پر تروه او بی نمکه کتغ خوابده وي، نو دې ته رواده چی د کټوی وغیره خوند و ګوری او کی میړه حسن الاخلاقه وی بیا یې خوند کتل ورته مکروه تحریمي دی، او منځه هم پر دغه قیاس ده او که روژاتی شئ رانیوی او خوند یې ددی د پاره کتی چی په رانیولو کی خطا نه وړه، په دی مسئله کی اختلاف دی، او د ژوولو عذر دادی چی دیوی ښځی کښتنی د وړی ځڅپله نه سوای خوړلای ژوول یې غوښته او بل بی روژی څوک هم نه وو، چی د دی وکښنی ته د وړی ور وژوی نو دی ته کی څه هم روژه وی ژوول د وړی مکروه نه دی» والا یکره بالاتفاق» د، م،

پوښتنه: چی امام طحطاویؒ په مکروهاتو کی دغه شیان هم ذکر کړیدی ۱. چی روژاتی لمبیږی په او بو کی ډګوړ یا پوسکی نه اچوی نه باید ه چی او به په کونه ننوزی چی په کوز او پوسکی سی د کونی تناو خلاص سو ۲. ماینه ته مکروه ده نفلي روژه چی میړه یې پر کور وی بیله اجازی د میړه الاان یکون صائمًا او مریضًا، او محرمًا بحج او عمرة» او که میړه یې د غسی احوالو کی وو بیا منعه

د ماینی د نفلي روژی څخه نه سی کولای ۳. مرئی یا مینځی ته مکروه ده نفلي روژه بیله اجازی د بادار څخه که څه هم بادار یې مریض یا محرم وغیره وي، ولې چی مقصود د مرئی او مینځی څخه خدمت دی په روژه سره دوی د خدمت څخه ضعیفه کیږی ۴. چاچی څوک مزدور کړی وی نو که د مزدور روژی په خدمت کی تاوان کاوه بیا مزدور ته روژه نیول مکروه ده او کی تاوان نه کاوه بیا پرواه نه لري، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمَضْغُ الْعِلْكِ

او دغه رنګه مکروه دی ژوول د ژاولو، یعنی روژه نه په ماتیږی او دا کراهت تراوبنځی دواړو ته شامل دی، وجه د کراهت په دا ده چی سړی چی ژاولې ژوی خلګ چی وائی چی دا سړی روژه خوری نو ځای د تهمت دی» وقد قالَ رسول الله صلی الله علیه وسلم: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْآخِرِ فَلَا يَقِفَنَّ مواقف التهمة» **مسئله**: ژاولې ژوول په غیر کی د روژی ښځو لره مستحب دی او نرو ته مکروه دی مګر په خلوت کی» م، ط» **فائده**: عِلك بعض اهل لغت وائی چی مصطکی دی لکن مصطکی چی هم دا اوس د طبیبا نو سره موجود دی هغه دواء ده د ژاولو څخه نه دی، بعض اهل لغت وائی چی لبان دی چی کندر یې هم بولي، **فائده**: ژاولی دوه قسمه دی یو نوری ژاولی بولی چی د هغه څخه د ژوولو په وخت کی اجزاء جلا کیږی او د نا پوسره تیریږی هغه خو مطلقًا که نوی وی یعنی نه وی ژوول سوي او که زړه وی یعنی ژوول سوی وی روژه په ماتیږی، او یو سپینی ژاولی دی، هغه که نه وی ژوول سوي او یا ژوول سوي وی لکن سره غیر متصل الاجزاء وی چی هغو ته پر کند هاري پښتنو ژبه خارچنړ او ائی په دواړو سره روژه ماتیږی، ولې چی اجزاء ځندی جلا کیږی او د نا پوسره تیریږی او که سپینی ژاولی وی او متصل الاجزاء وی، نو د هغو ژوول مکروه دی،

تبصره: هغه ژاولی چی د خارج څخه په او سنی زمانه کی راځی چونکه په وخت کی د ژوولو د هغو خوږ پوښ یعنی خوږوالی ځندی جلا کیږی او د نا پوسره تیریږی کما یدل علیه التجربة او وروسته ژاولی په کښی پید اکیږی، نو د هغو په ژوولو هم روژه ماتیږی»

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولشارحه ولمن نظر فیه بعین الانصاف»

قال المصنفؒ **وَالْقُبْلَةُ وَالْمُبَاشَرَةُ اِنْ لَمْ يَأْمَنْ فِيْهِمَا عَلٰى نَفْسِهٖ**

او دغه رنګه مکروه ده مچه اخستل او لغړخیښته پریوتل دماینې سره چې دې کاره په عربي ژبه مباشرهٔ فاحشه وائي **اَلْاِنْزَالُ اَوِ الْجِمَاعُ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ** که سړی مطمئن نه وي په دغو دوو کارونو کې پرځان باندې د انزال چې صرف روژه بې ماته سي، او د جماع څخه چې هم بې روژه ماته سي او هم کفاره به پر لازمه سي که د رمضان روژه وه او دا حکم د ظاهر روایت دئ،

پوښتنه: چې فرق په مابین کې د مطمئن او غیر مطمئن په نفس قبله او مچه کې دی چې غیر مطمئن ته مکروه ده او مطمئن ته نه ده مکروه، ولې چې په حدیث شریف کې د عائشهؓ چې روایت یې بخاري او مسلم کړي دی راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسّلام به د خپلو ښځو څخه مچه اخستل او دی به روژاتي وو۔ **پوښتنه**: چې هغه تفسیر چې درویش د مباشرت فاحشه وکړي په هغه کې اختلاف او فرق په کراهت او نه کراهت په غیر مطمئن او مطمئن کې خوښته، او هرچې هغه تفسیر دی چې طحطاویؒ کړي دی چې مباشرهٔ فاحشه دا دی چې میړه او ماینه دواړه پرتوګان سره وکاږي او د نرد ذکر ښځې د فرجه سره په تماس کې وي، نو په فتاوی هندیه کې وائي چې هغسې مباشرهٔ مکروه علی الاطلاق دی یعنې که هم سړي د جماع او انزال څخه په امن کې وي بلکه په محیط کې وائي چې هیڅ اختلاف په کراهت کې د دغسې مباشرت، نسته"

فائده: کې د ماینې څخه داسې مچې اخستي چې شونډان د دې ئي بیښله هغه علی الاطلاق مکروه دی، ط، وکذا فی الفتاوی الظهیریة، درویش وائي چې وجه د کراهت د نفس مچې او نفس مباشرت دا ده چې سړي روژه خپله د فساد سره مخامخ کوي، قال المصنفؒ

وَجَمْعُ الرِّيْقِ فِي الْفَمِ ثُمَّ اِبْتِلَاعُهٗ وَمَا ظُنَّ اَنَّهٗ يُضْعِفُهٗ

كَالْفَصْدِ وَالْحِجَامَةِ او دغه رنګه مکروه دی جمع کول د نا ړو په خوله کې او بیا یې تیرول یعنې په قصد سره، وجه د کراهت په مشابهت دی د مفطر سره چې

یو غروب او به تیري کړي، او دغه رنګه مکروه دي هغه کار چې دده ګمان وي چې ددې کار په کولو به نو ضعیف سم د روژې څخه، لکه سړي چې رګ خلاص کړي او یا وینې وکاږي، درویش وائي چې مراق داسې لفظ هم زیات کړي دی، والعمل الشاق، لکن ددې کار کراهت وهغه چاته دی چې دغه عمل شاق ته ضرورت نه لري، او هرچې هغه کسان چې عیال نفقه په عمل شاق برابره وي هغوته هیڅ کراهت نسته، قال المصنفؒ:

وَتِسْعَةُ اَشْيَاءَ لَا تُكْرَهُ لِلصَّائِمِ اَلْقُبْلَةُ وَالْمُبَاشَرَةُ مَعَ الْاَمْنِ

او نه ۹ شیان مکروه نه دي روژاتي له، یوه مچه اخستل د ماینې څخه یعنې چې پرطریقه د فاحشې مچې نه وي کما مر عنقریب، او بل مباشرهٔ دی د ماینې سره یعنې چې مباشره په تفسیر ثاني نه وي کما مر، لکن دواړه کاره سره د اطمنان د انزال او جماع مکروه نه دي، لما مر من حدیث عائشةؓ المتفق علیه، او دا هم د ظاهر الروایت دی، او د امام محمدؒ څخه روایت دی چې مباشرت په تفسیر اول مکروه دی، او دا روایت دی د حسنؒ د امام اعظمؒ څخه، قال المصنفؒ:

وَدَهْنُ الشَّارِبِ وَالْكُحْلُ وَالْحِجَامَةُ وَالْفَصْدُ او نه دی مکروه غوړول د بریتو لانه لیس فیه شئ ینا فی الصوم، م، او نه دی مکروه سترګې تورول روژاتي لره لانه روی انه علیه الصلوٰة والسلام اکتحل وهو صائمٌ، او نه دی مکروه وینې کښل یا رګ خلاصول، لکن په شرط ددې چې ددی چې د روژاتي عقیده وي چې د روژې څخه نه ضعیفه کیږي، م، کما مر قال المصنفؒ

وَالسِّوَاكُ اٰخِرَ النَّهَارِ بَلْ هُوَ سُنَّةٌ كَاَوَّلِهٖ وَلَوْ كَانَ رَطْبًا

اَوْ مَبْلُوْلًا بِالْمَاءِ او دغه رنګه مکروه نه دی د مسواک وهل په اخیر کې د ورځې، کوم چې امام شافعيؒ په روسته کې تر زوال مکروه بولي، بلکه مسواک وهل سنت دی په اخیر کې د ورځې لکه په اول کې د ورځې که څه هم مسواک لوند وي، او یا په اوبو لوند وي لکه بعض علماء داسې مسواک وهل مکروه بولي، دلیل ددې مسئلې: دا قول د علیه الصلوٰة

والسلام دی: من خیر خلال الصائم السواك» ترجمه: دښو خویو څخه د روژه تی مسواك دی چی دا حدیث مطلق دی په اول سره نه دی مقید» وورد: كَانَ النبی صلی الله عَلیه وَسَلم یستاك اول النهار و اخره وهو صائم» كفایه «ط» وفی الجامع الصغیر للسیوطیؒ: السواك سنة فاستاكوا ای وقت شئتم» وفی الحدیث صلوٰة مع سواك افضل من سبعین صلوٰة بلا سواك» وهذا الحدیث لا تقید فیه بالرمضان وغیره ولا بـ اول الیوم فیه واخره» قَالَ المُصنفؒ:

وَالمَضمَضَةُ وَالاِستِنشَاقُ لِغَیرِ وُضُوءٍ وَالاِغتِسَالُ

او د غړ رنګه مکروه نه دی په خوله او به لغړول او په پزه او به دا خلول بیله او د اسه، نو په او داسه کی خوب طریق اولی مکروه نه دی، او د غړ رنګه مکروه نه دی غسل کول په روژه کی، وقد ورد کل ذالك فی الاحادیث النبویه م» قَالَ المُصنفؒ:

وَالتَّلَفُّفُ بِثَوبٍ مُبتَلٍ لِلتَّبَرُّدِ عَلَی المُفتیٰ بِهٖ

او د غړ رنګه مکروه نه دی پیچل د لندی جامی بدن پـه ګرمی کی د ختکی دپاره، پر مذهب مفتی به، چی هغه قول دی د امام ابو یوسفؒ، ولی چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم اوبه توی کړی پر سر باندی او دی روژاتی وو، د تندی څخه یا د ګرمی د وجهی» رواه ابوداؤد» وایضا ابن عمرؓ به بدن لنده جامه پیچل او روژه به ئی وه، او امام اعظمؒ دا فعل مکروه بولی، ولی په دی فعل سره روژاتی خپله تنګدلی ښکاره کوی په اداء کی د عبادت د روژی» قَالَ المُصنفؒ:

وَیَستَحِبُّ لَهٗ ثَلَاثَةُ اَشیَاءِ اَلسَّحُورُ وَ تَاخِیرُهٗ

او مستحب ده روژاتی لره دری ۳ کاره یو پیشلمی دی، لقوله علیه الصلوٰة والسلام: تَسَحَّرُوا فان فی السحور برکة» د پیشلمی برکت یو خو قوت دی، د ایندهوری پر روژی، او بل دا چی وخت د پیشلمی وخت د قبلیدو د عاء دی. نو چی سړی راکښینی شاید یو د عاء او استغفار به و وائی هغه به قبول سی او بل اقتداء ده په نبی علیه الصلوٰة والسلام پسی. او بل دا چی په ابتداء کی د اسلام وروسته

ترخوب خوړل وغیره حرام وو او پیشلمی د هغه ناسخ وګرځیدی، نو پیشلمی نه کول شبه د عمل بالمنسوخ ده، **مَسئَلهٔ**: که د سړی په پیشلمی شی خوړل زړه نه غوښتی نو چی راولیښی او یوه دانه خرما او یا یو غړپ او به وڅښی هم سنت پر ځای کیږی» **مَسئَله** که سړی د اول څخه د شپی ویښ وی، او چی وخت د پیشلمی سی پیشلمی وکی او بیا بیده سی سنت خو نه سو پر ځای بلکه دا سی کول مکروه دی ولی چی اغلب کی د دغه سړی څخه د سحار لمونځ قضاء کیږی او یا جماعت څندی تیر یږی، کما یدل علیه التجربة» او بل مستحب دی ځنډول د پیشلمی: لقوله علیه الصلوٰة وَالسَّلام: ثلث من اخلاق المرسلین: تعجیل الافطار وتاخیر السحور ووضع الیمین علی الشمال فی الصلوٰة» قَالَ المُصنفؒ:

وَتَعجِیلُ الفِطرِ فِی غَیرِ یَومِ غَیمٍ

او بل مستحب وختی روژه ما تول دی په غیر کی د ورځی د وریځی، **یو سه** چی روژه دی د مخه تر ما ښام د لماځه ما توی، په بحر الرائق کی وائی چی تعجیل مستحب دا دی چی د ترا شتباك د ستورو دې د مخه روژه ما توی، او په وخت کی د افطار دعا مستحب ده،

د روژه ماتی دعـاء اللهم لَكَ صُمتُ وَبِكَ اٰمَنتُ وَعَلیكَ تَوَكلتُ وَعَلی رزقك افطرتُ ومنَ الغدمن شهر رمضان نَوَیت فاغفرلی ما قدمتَ وما اخرتُ» ط»

تـاریخی خبره څو وخت چی زما شرح و دی پر اوته ورسیدله نو په افغانستان کی د طالبانو حکومت په سبب د سختو بمباریو او سختو راپیڅو تبلیغاتو د امریکایانو یك لخته ختم سُو» د شوال ۵ تاریخ ۱۴۲۲ ه ق وَلَعَلَّ الله یُحدِثُ بعد ذالك امرًا» اللهم انصر الاسلام والمسلمین اٰمین یارب العٰلمین»

ښهانه فائده داوسنی د مشکل سوال حل کوونکی فائده

سَوال بدین منوال: په پیچکاری په عبارت دیکرپه سَتن لګولو په بل عبارت پا څکښن روژه ماتیږی او که نه!

جواب به نستعین: د دی سوال حل موقوف پر څو مقدمو دی»

اول مقدمه: معنا د روژې کما في نور الایضاح والمراقي والطحطاوي کما مر وکذا في سائر کتب الفقه۔ یعنی په شرعه شریفه کې که څه هم معنا لغوي یې مطلق امساک دیوه فعل او یا قول څخه دی، داده چې سړی به امساک کوي یعنی په قصد، دوه څیزه یعنی د راچاودو څخه د سپیدو ترلمر لویدو پورې، د قصدي داخلولو څخه د شئ،، نو کې کرځ په خوله ننوتی روژه یه پر ځای ده که هغه شئ ماکول عادةً وي لکه ډوډې او یا عادي شئ نه وي لکه خاورې، ډبره، وغیره که داخال په قصد وي چې په بعض صورتو کې کفاره هم پرلازمیږي ،، کما مر مفصلاً او که خطا ځوي لکه چې دخولې د پریولو څخه او به حُندې تیرې سي، نو په دوا ړو صورتو کې روژه نه ده باقي ه البته که په هیره وي روژه یه باقي ده۔ وکل ذالک قدمر مفصلاً۔ او دا ادخال به ونس ته نه کوي دخولې دخواوي او که دېزې دخواوي او یا د تپ دخواوي لکه جا ئفه تپ یعنی چې تپ دمعدي پردې ته رسیدلې وي، ولې چې ودې تپ ته چې لنده دوا واچوي خواه مخواه نس ته رسیږي او په وچه دوا کې اختلاف دی کما مر،

او ته ودماغ ته چې په حکم کې د نس دی، لکه چې په امة تپ کې دواء واچوي، امة هغه تپ دی لکه د سر چې سرمات سي او أم الدماغ ته یعنی پردې د مغزو ته ورسیږي، ولې چې داسي تپ چې دواء واچوي سي مغزو ته رسیږي، او دغه رنگه به امساک کوي د شهوت څخه د فرج که د مخ دخواوي او که د شا دخواوي چې دې ته جماع ویل کیږي، او دغه رنگه به امساک کوي د شهوت د فرج څخه په صرف انزال سره لکه په مباشرت فاحشه د مابینی او یا عبث بالید وي وقد مر کل ذالک مفصلاً۔ او ددې امساک سره به نیت ملګري وي، تا چې عادت او عبادت سره جلاسي، او صائم به کافر نه وي لیونی به نه وي او ښځه به حائضه او نفساء نه وي، ولې چې داکسان اهل د روژې نه وي، وقد مر مفصلاً فتذکر،،

مقدمه ثانیه۔ روژه له ما تونکی شیان سته یا سره د کفارې لکه په قصد ډوډې خوړل یا او به وچښي یا جماع وکړي یا بیله کفارې لکه چې ډبره تیره کړي وغیره کما مر کل ذالک۔

مقدمه ثالثه،، د روژې په ماتولو غذائي شي او غیر غذائي که څه هم مضر بدن وي لکه سړې مرګوش وخوري روژه یه ماتیږي که څه هم مضر دی،،

مقدمه رابعه، که ونس ته بیله معلومولارو په تاثیر سره او یا ودماغ ته په تاثیر سره فائده

ورسیږي روژه نه په ماتیږي، مثلاً روژاتي اول درجه تبه وي تو دَه، نو په اکثران یه پر نس او سر یخې ورایږدي، تا چې د نس حرارت او دماغ حرارت یه کم سي او هغه سوم کیږي۔ کما یدل علیه التجربه،، نو د غې یخې تاثیر د مسلمات دقیقه وو څخه د بدن او معدي او دماغ ته رسیږي او روژه نه په ماتیږي،، عند الکل من الائمة ؒ؛

مقدمه خامسه: که چیرې لړم په روژاتي نیش جګ کې او په کنا تي مثلاً په زهر توی کړي یا لنډی یا مار په روژاتي غاښونه د ننه کې او د غاښو څخه زهر په کښې توی کړي روژه یه بالاتفاق نه په ماتیږي، ولې دا زهر یوه ادنی ادنی څاڅکی دی نه وجوف ته رسیږي او نه دماغ ته کما هو ظاهر، او سره د دې چې ګاهې دا زهر پر زړه تاثیر وکې او سړی څندې مړ سي او یا یه زړه په تکان سي نو دا تاثیر پر زړه او یا د پر اندام چې واقع کیږي، دا په تاثیر سره دی یعنی زهر په داغه کې دی نه نقل کیږي مګر په قدرت الهی تاثیر یې پر زړه وغیره طاری سي نو ځکه روژه نه په ماتیږي،، د دې تاثیر مثال په حدیث صحیح کې چې بخاریؒ وغیره روایت کړی دی موجود دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم صحابه رض امر کړی چې تاسي وژنی ابترمار،، چې ښتو یه لنډې بولي، او ذوالطفتین مار چې پر سر دوې ٢ لیکی لري، او علیه الصلوٰة والسلام وفرمائیله، چې دا دوه حاملی ښځې ته یو کړې وګوري حمل پر اچوي، او د سړې سترګو ته چې وګوري سړی په سترګو ړندوي، نو دا بیخي ظاهره خبره ده چې دا تاثیر په قدرت کامله الهی پورې مربوط دی وبس،

مقدمه سادسه: پیچکاري په قدیم زمانه کې د مجتهدینو هیڅ وجود نه درلودی بلکه د شروح قدیمه د فقه شریفې لکه هدایه وغیره، او په زمانه د متونو قدیمه وو کې لکه کنز او قدوری وغیرهما او د فتاوی قدیمه لکه شامی، عالمګیری وغیرهما یه هم هیڅ وجود نه لري، او دغه رنګه په زمانو کې د قدیم حکما وو لکه ابن سیناء جالینوس وغیرهما هم پیچکاری وجود نه لري، نو څوک چې د پیچکاري د روژې ماتولو حواله پر دغو کتابو ورکوي هغه حوالې ټولې غلطی دی،

مقدمه سابعه: بعض کسان چې خپلې خبرې په بلند آواز کوي او د بل خبره نه اوري هغه وائي چې د امة تپ یا د جا ئفه تپ په لنده دوا سره بالاتفاق او په وچه دواء سره علی الاختلاف روژه ماتیږي نو پیچکاری هم د دغه قسمه څخه ده دا قیاس د دوی مع الفارق دی ولې چې تا په اوله

مقدمہ کی دا مہٗ اوجائنہ تېر حال بالتفصیل و پېژندی، اومطلق پیچکاری پر هغونه قیاسیږی

مقدمهٔ ثامنه: د روښ یو لویه ورقه ولیده د فتوې چې ډېرې امضاوی او مهرونه هم باندې وُه، چې ما مطالعه کړه فقط د مفسدا تو د روژې د مختلفو فتاواوو څخه عبارات را نقل کړی وُه چې په هغو مفسداتو کښې پیچکاری نه عین وه او نه اثر. او په اخیرکښې ئې تفریع د روژې ماتولو د پیچکاری پر کړې وه، او د غه رنګه د قانون د شیخ د ابن سیناء په حواله وغیره نقلونه کړی وه، چې د مقام سره به ئې هیڅ رابطه نه درلوده: اذا عرفت هذه المقدمات ،، نو.....

پوه سه چې پیچکاری پر څو قسمه ده

یو قسم چې اصطلاح کښې سیرم ورته وائی او دلاسو یا د پښو د غټو رګو په ذریعه تر زیق کیږی په هغه پیچکاری کښې شک نشته چې جوف او نس ته رسیږی، ولې چې لبعض مریضان چې غټ غټ عملیات و آپریشنونه ډاکټران ور وکړی ډېری ورځې هغه ته خوړکښې شی نه ورکوی بلکه دا غه سیرم ورکوی چې د مریض کامله غذا په کیږی یعنی نه وږی کیږی اونه تږی کیږی. نو دا ظاهره خبره ده چې دغه رګونه چې سیرم په کښې وو لګوی بالذات یا بالواسطه معدې ته سیرم نقل کوی، نو روژه په ماتیږی او بل قسم پیچکاری د بعض ناجوړتیو د پاره او یاد طاقت د پاره، او یا د بعض درد و د پاره په پورګ کښې د لاس وغیره کیږی. د غه پیچکاری امکان لری چې په جریان د وینو د ی و نس او یاد ماغ ته ورسیږی نو که څه هم دا رسیدل خو یقینی نه دی او روژه په صرف شک نه ماتیږی خو غلبه ظن نو لکن د پاره د احتیاط د ی روژه اتی د دغه قسم پیچکاریو څخه ډډه وکړی، او بل قسم پیچکاری صرف په غوښه کښې ترزیق کیږی چې هغه هم د اسی غوښه وی چې هلته غټ رګونه بیخی نه وی، لکه د لاس موټ او یا کناتی په هغې سره روژه نه ماتیږی ۔

فائده: د هغې پیچکاری فائده صرف او صرف په تاثیر ده نه په انتقال د دواء، لعض نا پوه کسان وائی چې لبعض د غوښتنو و بدن ته طاقت ورکوی، نو ولې روژه نه په ماتیږی

جواب: ورکول د روژه اتی و بدن ته خو روژه ماتوونکی نه دی، ولې چې د خارج څخه تو قسم د بنګړی په شکل د دواء څکه آله راځی چې هغه خوله چې ئې تر لاس وتړی نو د وینې جریان یه په

بدن کښې نور مالوی، او بدن ته ډېر طاقت ورکوی، آیا که د غه بنګړی روژه اتی تر لاس کړی نو روژه په ماتیږی، او د غه رنګه روژه اتی که ډېری تندی څخه وحالت ته د ضعف رسیدلی وی، او بیا دی په واله کښې کښینی او او به پرسر و اچوی، او ضعف د تندی یه په قوت بدل سی. نو روژه به ماته سوه، لا ، بلکه د څخه تیره سوه چې پر مذهب د امام ابو یوسفؒ په ورته کار وکښې کراهت هم نشته. او نور الایضاح هم دا غه صحیح ګڼلی دی، او امام طحطاویؒ په هغه ځای کښې د امام اعظمؒ وه دلیل ته د کراهت په رنګ پوره جواب ورکړی دی،، وَاللّٰهُ اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب

ګرانو خوانندګانو! دا وه د فقیر فکر په باره کښې د پیچکاریو، لکن بیا هم چې هر عالم خپلې نظریه ته آزاد دی **فائده** ،، د د روښ مسئلې په کتابوکښې د پاره د تذلیل د علماوو نه دي بلکه د پاره د اظهار د خپل نظر دی او نه د دی د پاره چې علماء دی زما سره تحریری، یا شفاهی مناظره او بحث وکړی، البته خپله رایه و خلګو ته ښیا نولای سی، او کی زما رایه غلطه په فکر کښې ورغله نسبت د غلط ور ته کولای سی، لکن د جنګ امیزه خبرو څخه دی ډډه کوی ولې چې: جَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ بِمِثْلِهَا،،

فَصلُ فِی العَوارِض

دافصل دی په بیان کی دعوارضو چی خوړك د روژې وسړي ته روا کوي، چی هغه سفر، اومرض، اویا چادخوا پر روژه نه نیولو مجبور کول، اوحمل د ښځي چی پرضیاع په بیریږی، اورضاع، لوږه، اوتنده، اوکلان سالی ده چی هرمریه بولي، چی داتول به په دی فصل کی مفصل راسی ان شاءَ اللّٰه تعالیٰ **پوهسه**: چی عوارض جمع د عارض ده، عارض وریځی ته وائي: هٰذَا عَارِضٌ مُمطِرُنا، اوږ اوی ته هم وائي، اویا رخوته هم وائي، اوافة ته هم وائي، ط:

قال المصنف: **لِمَن خَافَ المَرَضَ اَو بُطأَ البُرءِ** **پوهسه**: داعبارت اوورسته نور عبارتونه مبتداء ده خبریه وروسته راځي، که خوك بیریږی پر زیاتوالی دمرض اویاد زیاتوالی دزمانی د نا جوړیدو، **پوهسه**: چی په بحرالرائق کی اوطحطاوی کی وائي چی داخوف په اجتهاد پوری د مریض اړه لري، چه غلبة الظن ته ورسیږی، دعلاماتو د لارې، یاد تجربي د لارې، اویا په اخبار د طبیب چی مسلمان وی اوظاهرالفسق نه وي اوبعض فقهاء یه عدالت شرط بولي نفس توهم اعتبار نه لري نوسړي ته په دغو دوو عذرو روژه نه نیول روادی ۔

مسئله: یوغازی چی په غزاکی وی یقینًا پوهیدی چی جنگ به شروع سی، اویا په غلبة الظن پوهیدی، ولی چی اول صف کی ددښمن په مقابل کی وو، اودی بیریدی که زه روژه ونیسم نو د جنګ څخه به ضعیفه سم، نوده ته روژه نه نیول یاماتول د روژې د مخه ترجنگ ،، م،

مسئله: که ښځی د بیری دحیض په بناء دعادت دد ہے، اویا یوسړي نوبتی تبی کیدلی اوتبی په واری وو، نودغو دواړو نیولی روژه ماته کړه، نوکحیض ښځی ته ورغلی یا پرسړي تبه راغله خو کار رخلاص سو، اوکه داد واړه عذرونه پیښ نه سوه په کفاره کی اختلاف دی صحیح داده چی کفاره نسته باندی، م د ر، **مسئله** که د روژی ۳۰ ورځ وه اودخلکو روژه وه نا بیره تکان وسوه یا ډول ووهل سو دخلکو داخیال سو چی اخترسو نو یه روژه ماته کړه وروسته معلومه سو چی تکان اوډول دواده د پاره وو مثلاً کفاره پردوی نسته ،، در مر،

سه خزانةفقه وکنزل ایوب ؛ بیا خوشخط ولیکل خوارحقانی،

قال المصنف: **وَلِحَامِلٍ وَمُرضِعٍ خَافَت عَلَی نَفسِهَا نَسَبًا کَانَ اَو رِضَاعًا**

اودغه رنګ فطر روادی ښځی ته چی حمل یه په نس وی اویا کشنی ته تی ورکوی، اودا بیریږی پرځپل ځان یعنی یادمرض څخه یا دمرګ څخه یا نقصان العقل څخه، خواه تی ورکول یه د نسب د لاری چی دکشنی موروی اویا دائی وی یعنی بیګانه ښځه وي، **مسئله**: که مسلمان طبیب ومرضعی ته وویل چی دهغی دکشنی نس ناسته کیده چی ته دغه دوا دوا ورځی مثلاً یاد ری وارو وچیښنه نو د کشنی نس ناسته به دی جوړه سی، نودی ته روژه ماتول روادی په سبب ددغه عذر، قَالَ عَلیهِ الصلوٰة وَالسَّلام: اِنَّ اللّٰهَ وَضَعَ عَنِ المسافِرِ الصومَ وشطرَ الصلوٰة ، وعن الحُبلیٰ والمرضعِ الصومَ، قال المصنف:

وَالعُذرُ المُعتَبَرُ مَا کَانَ مُستَنِدًا لِغَلَبَةِ الظَّنِّ بِتَجرِبَةٍ اَو

اوهغه عذر چی معتبر دی یعنی په دی باب کی هغه دی چی تکیه وی پرغلبه ظن یا په د مخه تجربه سره اویا په

اِخبَارِ طَبِیبٍ مُسلِمٍ حَاذِقٍ عَدلٍ اخبار د طبیب چی مسلمان وی، اوپه طبابت کی ماهر وی اوعادل وي،

وَلِمَن حَصَلَ لَهُ عَطَشٌ شَدِیدٌ اَو جُوعٌ یُخَافُ مِنهُ الهَلَاكَ

اودغه رنګه روژه ماتول روادی هغه چا لره چی پیدا سی وده ته سخته تنده اویا سخته لوږه چی بیریږی دمرګ څخه یعنی په سبب دلوږي یا تندی **پوهسه** چی قهستانیؒ وائی چی حرسړي چی دچا مزدوری یامرئی دچا اویا هغه سړی چی واله یه کاره وله چی سخته ګرمی وه چی د تندی د سببه د ځان پرهلاك وبیریدی نوده ته روژه ماتول روادي اویاحره ښځه وه یا مینځه وه چی په سبب د ډیرپه خولو اویا دکالی د پریولو په سبب تنده ډیره پرغالب سوه روژه ماتول ورته روادی، خ، ط، **مسئله** که سړی روژاتی پرخپل ځان ډیر تکلیف راوستلی وو چی په هغه سبب ده ته داتنده مهلکه پیښه سوه نو که

تکه یو څوک چې په روژه کې ډیر د غمو لو وکړي یا غوبل، وامثال ذالک روژه ماتول خوړ ته روادی لکن کفاره بانه دی ستنه پرظاهر روایت او لبعض فقهاء وائي چې کفاره فسته بانه دی» م طر

قال المصنفؒ **وَلِلْمُسَافِرِ الْفِطْرُ وَصَوْمُهُ اَحَبُّ** اوروا ده مسافرله د روژې خوړلو او روژه نیول ده

پوښتنه چې مراد د مسافر نه هغه سړی دی چې تر سپیدو د مخه یې سفر شروع کړي وي، نو ده ته روژه خوړل او نیول دواړه روا دی، او که چیري د روژې نیت کړي وو مګر روژه په ورځ کې سفر شروع کړي هغه ته روژه ماتول نه دی روا مګر هغه وخت چې یو نوی عذر ورپیښ سي،

قال المصنفؒ **اِنْ لَمْ يَضُرَّهُ وَلَمْ يَكُنْ عَامَّةُ رُفْقَتِهِ مُفْطِرِيْنَ وَلَا**

او د اروژه نیول هلته افضل دی مسافرله که ده ته روژه نیول ضرر نه کاوه، یعني مطلق ضرر نه هغه ضرر چې

مُشْتَرِكِيْنَ فِي النَّفَقَةِ فَاِنْ كَانُوْا مُشْتَرِكِيْنَ اَوْ مُفْطِرِيْنَ

بیره د هلاک په کښي وي ولی که بیره د هلاك وه په سبب د روژې بیا خو افطار یعنی روژه خوړل واجب دی،

فَالْاَفْضَلُ فِطْرُهُ مُوَافَقَةً لِلْجَمَاعَةِ نو افضل، اوبل دا چې اکثر اندیوالان د سفر ده په روژه خوړونکي نو ته. اونه دوی ټوله اندیوالان په انداز او خرڅ کې سره شریکان نه وه، او که چیري لین کسان دانديوالان په خوړونکي د روژې وه او ده یې روژه نیان وه. بیا نو فطر افضل دی، او که چیري دوی ټوله اندیوالان په خرڅ کې سره شریکان وه او یا اکثره او ډیر ملګري یه روژه خوړونکي وه بیا نو افضل ده له روژه خوړل دی، دپاره د موافقت د جماعت سره د ملګرو د سفر،

پوښتنه: چې صاحب البحرؒ په صورت کې د شراکت فی النفقه علت او دلیل د افضلیت د فطر دا وئیلی دی چې په روژه نیولو کې خود ده تاوان د مال دی تاوان د مال تکه تاوان د سړي د ځان دی، لکن مصنفؒ د دواړو مسئلو دلیل موافقة للجماعة وواٸیه. ولې چې دلیل د بحر والا صاحب النهر رد کړي دی،» او وائي چې ممکن ده چې د غه سړي دی سخی او جوا نمرد وي په

تاوان د مال دی باك نه کیږی، حاصل د کلام دا دی چې په سفر کې روژه خوړل رخصت دی. او روژه نیول عزیمت دی، نو عمل په عزیمت سره اولی دی، که چیري دا مذکوره عذرونه نه وه،

مسئله: په نیزد حنیفیانو په سفر کې قصرد لمانځه او خوړل د روژې هغه سړي ته هم شامل دی چې سفر یې د پاره د معصیت وی لکه یو سړي چې په غلا پسی سفر کوی، لکه هغه چا ته چې شامل دی چې سفر یې د امر مباح د پاره وی لکه سیاحت، او یا د طاعت د پاره وی لکه سفر د حج مثلاً ط. م. غ. در

قال المصنفؒ **وَلَا يَجِبُ الْاِيْصَاءُ عَلٰى مَنْ مَاتَ قَبْلَ زَوَالِ عُذْرِهٖ بِسَفَرٍ**

او نه ده واجب وصیت کول په هغه چا چې د مرګ سره مخامخ سی د مخه تر زوال د عذر د ده چې سفر وو

او یا مرض او یا مثل د هغه یوه د سفر او مریض والی **وَمَرَضٍ وَنَحْوِهٖ كَمَا تَقَدَّمَ** لکه چې د مخه تیره سوه یعنی هغه عذرونه چې روا کوونکي وه د روژې د خوړلو، ولې په دغه مړي د غه خوړلي روژې لازمي نه دی، د دی کبله چې ده نوري ورځي نه دی پیدا کړي او خدای جل شانه وائي: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ» قال المصنفؒ:

وَقَضَوْا مَا قَدَرُوْا عَلٰى قَضَائِهٖ بِقَدْرِ الْاِقَامَةِ وَالصِّحَّةِ

یعنی که د سړي سفر پای ته ورسیدی او یا یې صحت پیدا کړي او یا بل عذر وو هغه زائل سو، نو دغه کسان به قضاء راوړي د هغو روژو چې دوی قدرت پر پیدا کړي په قدر د اقامت که مسافر وو او روژه ئې خوړلي وه یا جوړ سو که مریض وو او روژه ئې خوړلي وه. او که قضاء نه وه راوړي پر ده باندی په وخت کې د مرګ وصیت د فدیه ورکولو واجب دی،

مسئله: که مړی وصیت د فدیې د روژو مثلاً وکړی، نو دا وصیت د ده د دریمی ځخه د مال د ده نافذ دی که وارث د ده لوډی، او که وارث نه وو، نو وصیت به د ټوله مال ځخه چلیږی، د اټوله هلته چې پر مړي پور نه وي باندی او که پور پر باندی وو که ټوله مال یې په پور کې ولاړي نو د ده وصیت لغو سو الا ان یتبرع به الوارث، او که د پور ځخه څه مال پاته سو بیا د ده وصیت د دریمي

ځکه د مَا بَقِيَ چلیږي کی وارث دَرلودی، او کی نه دَرلودی بیاد قوله مَا بَقِيَ بعد الدَّين ځکه چلیږي،

مسئله: که مړی وارث او قریب د مړي ځوا ځکه روژه ونیسي یا د مړي قضا ئی لمونځونه راوه گرځوي په هغه د مړي غاړي نه خلاصیږي لقوله علیه السلام: لَا يَصُومُ اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ وَلَا يُصَلِّي اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ» س، در، ط، م»

قال المصنف ر **وَلَا يَجِبُ التَّتَابُعُ فِي الْقَضَاءِ** او شرط نه ده سره یو ځای والی د قضا ئی روژو، ولی چی خدای پاک مطلق وئیلی دي» فَعِدَّةٌ مِنْ اَيَّامٍ اُخَر» او د تتابع قید یی نه دی وئیلی» لکن بیا هم عند القدرة مبادرة و قضائی روژو نه او تتابع د هغو مستحب ده مبادرة الی فعل الخیر» وبرائة الذمه»

فائده: په څلور قسمو روژو کی تتابع واجبه ده په نص قرآنی ع۱ اداء رمضان ع۲ کفارة الظهار ع۳ فدیة الیمین بالصوم ع۴ کفارة القتل الخطاء»

او کوم چي و ده ته اختیار دی که تتابع کوی او که نه! هغه قضاء د رمضان ده، روژي په سبب د سر خریلو د محرم الحج والعمرة په سبب د عذر» او روژی د متمتع الحج والقران، او روژی د جزاء الصید په حرم کی، او د ری قسمه روژی خو په قرآن مبارک کی نه دی ذکر سوی په احادیث صحیحه وو سره ثابتی دی یو قسم روژی د ما تولو د روژی د رمضان په قصد سره چی په هغو کی تتابع شرط ده، او نفلی روژی یا نذری روژی په هغو کی تتابع شرط نه ده، ط، در،

ابیات

بقبرستان نظر کردم صباحی ؛

ازانها می شنیدم یک صدائی ؛ گلان گلها در خاک میگفت ؛ همین دنیا نمی آرزد بکاهی ؛ غرض نقشیست کز ما یاد ماند ؛

که هستی را نمی بینم بقائی ؛ مگر صاحبدلی روزی برحمت ؛ کند در حق این مسکین دعائی ؛ ندارد توشه راه قیامت ؛

بجز شرمندگی و روسیاهی ؛ ندارد طاعتی مقبول درگاه ؛ بجز اشک ندامت آه آهی ؛ بحق و حرمت قرآن اعظم ؛

مرا از ذنب عفو کن عذر خواهی ؛ شفیع آورده ام روی محمد ؛ کرم کن بر من گم کرده راهی ؛

اعتذار ؛ ارسل النمل من خلوص وداد ؛ لسلیمان نصف رجل جرادٍ ؛

قائلًا ذالک منتهی جهدی ؛ والهدایا بقدر من یهدی ؛

احب الصالحین ولست منهم ؛ لعل الله یرزقنی صلاحًا ؛

درباب تقلید و حذر از لا مذهب

حق شده مذهب امام چهار ؛ رهروان ره شه ابرار ؛ خدمت دین احمدی مرسل ؛ کرد هر یک برون ز حد و شمار ؛

گفت هر یک که چون حدیث نبی ؛ یابی آنجا تو قول ما بگزار ؛ کین همه سعی ما بدین نبی است ؛ بهر آن عمر کرده ایم نثار ؛

جامعان حدیث مرسل پاک ؛ چون بخاری و مسلم احرار ؛ ابن ماجه نسائی و طائی ؛ ترمذی بیهقی اولی الابصار ؛

هم طحاوی حافظ عینی ؛ دار قطنی جامع اضمار ؛ حافظ داری ابوداؤد ؛ بود تقلید نزد شان مختار ؛

اتباع چنین ائمه کن ؛ گوش را نه بدین نوا یکبار ؛ که بتقلید هست سنت اوست ؛ بهتر از شر لا است سر دولت ؛

آئے تھے ہم بلبل سیر گلشن کر چلے ؛ دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنا گھر چلے ؛

دا ارزان چی پر همه وو څکواوری ؛ مشرف ئی کی دا ذات د کیمیا ولی ؛

ملامت پر عبید مه کوه بی حرمته ؛ خپله سعیه یه مبذول کړه د خدمته ؛

که د ما نه راته کړی د خپل حسده ؛ بد گوئی هم مه کوه ای بی عزته ؛

قال المصنف **فَاِنْ جَاءَ رَمَضَانُ اٰخَرُ قَدَّمَ عَلَى الْقَضَاءِ وَلَا فِدْيَةَ** نو که چیری راغله بله میاشت د روژی یعنی پر سر ي د تیری میاشتی د روژی قضائی باندی وپی نو د روژی د میاشتی روژی دی پر قضائی روژو د مخه کړی یعنی شرعًا **بِالتَّاخِيرِ اِلَيْهِ** د غه حکم دی حتی که سري د روژي په میاشتی کی د قضائی نیت وکړی هغه د ده نیت لغو دی او روژه یه د دی میاشتی روژه ده، او نسته پر د غه سري فدیه د قضائی روژو بلکه وروسته تر روژی به قضائی روژی نسی» وعلم جزاء.

قال المصنف **وَيَجُوزُ الْفِطْرُ لِشَيْخٍ فَانٍ وَعَجُوزَةٍ فَانِيَةٍ** او روا ده روژه خوړل و نر ته چی شیخ فانی وی او ښځی ته چی پیر سری فانیه وی، سپین ږیری یا سپین سري ته چی شیخ فان وائی پر دی سبب چی نږدی وی وفنا او مرگ ته، نو مجاز دی په اعتبار د ما يؤول الیه لکه په دی ایت کی: اِنِّيْ اَعْصِرُ خَمْرًا» ای عِنَبًا» او یا په دی اعتبار چی قوت د ده ختم سوی دی نو یا د غه

لفظ حقیقت دی، مر، ط، در۔

مسئله: یو سړی کړ داسی مریض وو چې د صحت څخه ئې امید قطع سوئ وو یعنی دو نه وړ ځی چې دی، قضائی روژی پہ کښی راوګرځوی، نو پہ ده وند دی فدیه ورکړی

مسئله: که یو سړی د سببه د ډیری ګرمی پر روژه نیولو قادر نه وو نو روژه دی وخوری ویا پہ ژمی دی قضاء راوړی، کذا قال الامام الطحطاویؒ۔ **پیوه سه:** چې د شیخ فانی دپاره معلوم کلونه او سن نه دی تا کل سوی ولی چې پہ بدنو کی د انسانانو فرق ستہ بلکہ مدار پر دی دی چې پہ سبب د کلان سالی پر ده روژه نیول ډیر بوجږ وی، او پہ بعض روایاتو کی چې د کاله سن و شیخ فانی ته بہانا کل سوی دی هغه ته اعتبار نشته، قال المصنفؒ

وَتَلْزِمُهَا الْفِدْيَةُ لِكُلِّ يَوْمٍ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ

او لازمه ده پر دوی دوو فدیه د هری ورځی دپاره نیمه کاسه د غنمو، یعنی یا قیمت د نیمی کاسی۔

مسئله: د شیخ فانی خوښه ده که دا فدیه پہ اول کی د روژی ورکوی او که پہ اخیر کی، لکن پہ شرط د دی چې د اعجز د دوی بہ تر مرګه پوری پاتہ وي، او که ور وسته ضعف د فعه سو او پہ روژه نیولو قادر سو بیا بہ قضاء راوړی کی څه هم فدیه ورکړی وی، مر، ط، در،

مسئله: که سړی مسافر وو او روژی ئې خوړلی وی او پہ هغه سفر کی مړ سو پر ده باندې فدیه د هغو روژو لازمه نه ده، نو وصیت هم نه غواړی او که مقیم سو بیو څو ورځی مګر قضاء د روژی یه نه راوړه نو د هغو ورځو فدیه پر لازمه ده نو به وصیت پہ فدیه سره کوی۔ قال المصنفؒ

كَمَنْ نَذَرَ صَوْمَ الْأَبَدِ فَضَعُفَ عَنْهُ لِاشْتِغَالِهِ بِالْمَعِيشَةِ

يُفْطِرُ وَيُفْدِي لکه هغه څوک چې به فدیه ورکوی چې نذر کړی ئې وی پر ځپل ځان ابدی روژه یعنی پہ ټوله ژوند کی ځپل او بیا ضعیف سی د همیشہ روژه نیولو څخه پہ سبب د دی چې د ژوند د معشیت پہ کاروبار اخته وي، لیعنی د غه سړی بہ هم روژه خوری او فدیه به ورکوی، ولی چې دی پر قضاء یقیناً نه دی قادر، ولی چې د ده ټوله ژوند خو

د نذری روژو دی نو قضائی روژی به څه وخت ونسی، قال المصنفؒ:

فَإِنْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَى الْفِدْيَةِ لِعُسْرَتِهِ يَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ تَعَالَى وَ

او که قادر نه وو د غریبی چې فدیه پر لازمه وه یعنی شیخ فانی او یا د صوم الابد

يَسْتَقِيلُهُ نذر والا، پر فدیه باندی پہ سبب د مسکنت نو دی دی طلب د مغفرت کوی یعنی همیشہ کما یدل علیه صیغة المضارع او طلب د عفوی دی کوی د خدائی څخه چې د ده څخه تقصیر و سو پہ حقوقو کی د خدائی، قال المصنفؒ:

وَلَوْ وَجَبَتْ عَلَيْهِ كَفَّارَةُ يَمِينٍ أَوْ قَتْلٍ أَوْ ظِهَارٍ أَوْ إِفْطَارٍ عَمْدًا فَلَمْ يَجِدْ

او که پر سړی واجبه وه کفاره د قسم او یا د قتل خطاء، یا کفاره د ظهار او یا د روژی پہ قصد خوړلو کفاره

مَا يُكَفِّرُ مِنْهُ مِنْ عِتْقٍ وَهُوَ شَيْخٌ فَانٍ أَوْ لَمْ يَصُمْ حَتَّى

او نه ئې درلودی د کفاری شی چې ازادیده د مریی دی، لیعنی د اطعام او کسوت طاقت ئې هم نه وو او دی شیخ فانی هم وو لیعنی چې د روژی نیولو توان ئې هم

صَارَ فَانِيًا لَا يَجُوزُ لَهُ الْفِدْيَةُ نه درلودی، او یا یه پہ اول کی خو ئې طاقت د روژی درلودی لکن روژی ئې نه و نیولی حتی چې شیخ فانی سو، نو ده ته فدیه ورکول نه دی روا ئې د دلیل چې قال المصنفؒ

لِأَنَّ الصَّوْمَ هُنَا بَدَلٌ عَنْ غَيْرِهِ ولی چې روژه پہ دغو صورتو کی خو بدل د بل شی ده، چې هغه کفاره مالیہ ده، د دی سببه چې پہ روژه کفاره د دغو کارو نه سی ورکولای تر څو چې دا کفاره مالیه څخه نه وی عاجزه سوی، د درولیش وائی چې حاصل د مذکوره مسئلو دا دی چې کم ځای چې روژه اصل او مستقل وی لکه د شیخ فانی روژه او یا د نذر ابدی والا روژه، نو چې دی عاجزی د روژو څخه، نو فدیه ورکول ورته روا دی. او پہ کومو ځایو کی چې روژه بدل د کفاره مالی وی لکه پہ مذکوره اخیری ځایو کی، نو پہ نیز د عجز د روژی څخه فدیه نه ده۔

وَیْتروا بَلَله ده لره بې استغفاره اوطلب دعفوی درب العزت بله چاره نشته « اللهم اغفر ذنوبنا وتقصيرنا فی اوامرک وهجومنا علیٰ معصیتك ، قَالَ المُصَنِّفُ :

وَيَجُوْزُ الْفِطْرُ لِلْمُتَطَوِّعِ بِلَا عُذْرٍ فِيْ رِوَايَةٍ

اورَوادی نفلی روژې والا لره ماتول د روژې بیله عذره په یوه روایت کی چې هغه روایت دامام ابی یوسفؒ دی، لکن ظاهر روایت دادی چې دده فطر بیله عذره روا نه دی، او محیط والاهم دغه ظاهر الروایت صحیح بللی دی» **سَوَال**: مصنفؒ ولې غیرظاهرالروایت ذکرکړی **جَوَابْ**: ځکه چې په صحیح حدیث کی راغلی دی چې: المتطوع امیرنفسه « یعنی که روژه خوری او کی پوره کوی، نوپه اعتبار د دلیل دا روایت قوی دی نوځکه یې ذکرکړې اوهم ددی سببه محقق ابن الهمامؒ صاحب دفتح القدیر دا روایت مختار کړی دی، قَالَ المُصَنِّفُ :

وَالضِّيَافَةُ عُذْرٌ لِلضَّيْفِ وَالْمُضِيْفِ وَلَهُ الْبِشَارَةُ بِهٰذِهٖ

او میلمستیا عذر دی هم میلمه لره هم کوربه لره، او ماتوونکی لره د روژې په دغه عذر سره زیری

اَلْفَائِدَةِ الْجَلِيْلَةِ ستته په دغه فائده جلیله کی، ولې په حدیث شریف کی راغلی دي « مَنْ اَفْطَرَ لحق اخیه یکتب له ثواب صوم الف یوم ومتی قضیٰ یومًا کتب له ثواب صوم الفی یوم » اودا حدیث په تاتارخانیه او محیط، او مبسوط کی نقل شوی دی، او په تجنیس اومزید کی وائی که یو سړی د سحار د خوا روژه نفلی نیولی وه بیا ده ته یو اشنای دشناخته گانوغخ راغلی او ده ته یې ووئیل چې روژه ماته کړه : لَا بَأْسَ بان یفطر ثم ذکرنه الحدیث »

فَائِدَه: په فدیه کی دوه وخته اباحت یعنی میلمستیا دوَرځی دوه وخته چې ډوډی ورکړي نو روا ده لکه تملیک چې روا دی ۔

فَائِدَه: هغه مالی کارچې په لفظ د اطعام راغلی وی لکه فدیه اوکفاره د ظهار او مفطر د روژې، فاطعام سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ، اویا په لفظ د طعام لکه جزاء د صید مقتول فی الحرم اوالاحرام، قال عزوجل : اَوْكَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِيْنَ ، په هغه کفاره کی تملیك او اباحت دواړه روا

دي اوچې په لفظ د ایتاء راغلی وی لکه زکوٰة : قَالَ اللهُ تَعَالیٰ: وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ، یا په لفظ د اداء راغلی وی لکه په سرسایه کی : قَالَ علیه السلام: اَدُّوْا عَنْ کل حُرٍّ ، الحدیث . په هغه کی تملیك شرط دی اباحت کافی نه دی» مر، ط » در»

پوښتنه ، ماتول د روژې یا فاسدول د لمانځه چې دواړه نفلی وی بیله عذره باید حرام وای: لقوله تعالیٰ: وَلَا تُبْطِلُوْا اَعْمَالَكُمْ ، **جَوَابْ**: چونکه دا ایت مبارکه که څه هم قطعی الثبوت دی، لکن قطعی الدلالة نه دی په عدم الابطال الظاهر یعنی فاسدول معنا دایت دی داوی - وَاللهُ اَعْلَمُ ، چې تاسی مه باطلوی ثواب د عملو په سبب د ریا اوهمو نو حرمت خونه په ثابتیږی البتة ماتول او فاسدول بیله عذره مکروه دی اوکه عذروو بیا کراهت هم نشته اتفاقًا، **مسئله**: ضیافت عذر دی لکن قبل الزوال او بیله زوال بیا روژه ماتول نه دی روا، مگر هغه وخت که په نه ماتولو کی عقوق د احد الوالدین راتی بیا پسله زواله یې هم ماتول ورته روادی، **مسئله**: که سړي ووئیله چې په ما دی ماینه طلاقه سی چې زه به خپله روژه نفلی ماتوم نو صحیح مذهب دادی چې روژه دی ماته کړي ولو بعد الزوال **سَوَال**: مصنفؒ ووئیله چې ضیافت عذر دی یعنی نفلی روژه ماتوی او سره ددی چې په حدیث صحیح کی دا سی راغلی دی: اِذَا دُعِيَ احدکم الی طعام فلیجب ، که څوك وبلل سو و ډوډی ته دعوت دی قبول کړي: فَاِنْ کَانَ مفطرًا فلیاکل وان کان صَائِمًا فَلْیُصَلِّ » نو کی روژه نه وه خو ډوډی به وخوري او کی روژه وه هو ری دی نفل وکړی، نو ددی حدیث مَعنا او مفاد خو دادی چې روژه دی نه ماتوي،

جَوَابْ: حدیث محمول پر دی دی چې د مضیف خوا نه بدیږی چې میلمه روژه نه کی ماته او عبارت د مصنفؒ محمول پر دي دی چې د مضیف خوا بدیږی، وهذا من سوانح الوقت **پوه سه** چې فرضی روژې که اداء وی او که قضائی وی اود غه رنگه د نذری روژې ماتول که د چا خوا بدیږی او که نه نه دی روا کذافی شرح الجامع الصغیر للسیوطیؒ ذکره الطحطاویؒ ، قَالَ المُصَنِّفُ

وَاِذَا اَفْطَرَ عَلٰی اَیِّ حَالٍ فَعَلَیْهِ الْقَضَاءُ

او کی نفلی روژه ماته کړه په هرصورت سره چې وی

یعنی کہ عذر وی او کہ نہ وی پر دہ قضاء لازمہ دہ، نو دا لکہ نفلی لمونځ چی سړی فاسد کړی

اِلَّا اِذَا شَرَعَ مُتَطَوِّعًا فِیْ خَمْسَةِ اَیَّامٍ یَوْمَیِ الْعِیْدَیْنِ

مګر هغه وخت قضاء نشته کله چی شروع وکړه په نفلی روژی په پنځو ورځوکی د کال چی ایام منهیه په بولی

وَاَیَّامُ التَّشْرِیْقِ فَلَا یَلْزِمُهُ قَضَائُهَا بِاِفْسَادِهَا

چی دوی د اختر ورځی دی او دریځ ورسته ورځی دی تر لوی اختر ورسته چی ایام التشریق یې هم بولی

فِیْ ظَاهِرِ الرِّوَایَةِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

ولی چی په دی پنځو کی چی نفلی روژه سړی ونسی او بیا یې فاسده کړی قضاء یې باندی نشته په ظاهر روایت کی، او خدای پاک ډیر ښه خبردار دی،

پوهه سه: چی امام ابویوسفؒ او امام محمدؒ وائی چی پردغو سړی خوافطار واجب دی للنهی عن الصوم فیها، او قضاء هم پر واجب ده، ولی چی شروع پر نفلوبیه وکړه، امام اعظمؒ وائی چی قضاء به هلته وائی چی ده تقصیر کړی وای په ماتولو کی د روژی، او سړه د دی چی دی مقصر نه دی بلکه افساد پر واجب دی،

حضرت ایوبؑ ته

خدای دی وساته له هره مشکلاته
ناروغی او دهرقسمه آفاته

داد عا د رته هر یو مسلمان تل کړی
حقانی هم داد عا کړی آفتا تاته

دخوار حقانی په قلم ولیکل سو

بَابُ مَا یَلْزِمُ الْوَفَاءُ بِهٖ مِنْ مَنْذُوْرِ الصَّوْمِ وَالصَّلٰوۃِ وَنَحْوِهِمَا

داباب دی په بیان کی د هغه عمل چی پر سړی وفاء په کول لازموی چی نذر یې روژه وی او یا لمونځ او یا مثل د هغوه. قَالَ الْمُصَنِّفُؒ:

اِذَا نَذَرَ شَیْئًا لَزِمَهُ الْوَفَاءُ بِهٖ اِذَا اجْتَمَعَ فِیْهِ ثَلَاثَةُ شُرُوْطٍ

کہ چا نذر کړه پر ځان باندی یو شی، نو پردہ وفاء په هغه سړه لازمه ده که په دی نذر کی دریځ شرط موجود وه، قَالَ اللّٰهُ تعالیٰ: وَلْیُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ، والامر المطلق للوجوب کما تقرر فی اصول الفقه وروی البخاریؒ: انّ علیه الصلوٰة والسّلام قال... مَنْ نذر ان یطیع اللّٰه فلیطعه ومن نذر ان یعصی اللّٰه فلا یعصیه، وایضا قد اجمع الامة المرحومة علی الایفاء بالنذر، نو دی کبله بعض فقهاء وائی چی ایفاء په نذر سره فرض ده، مردر، علامه اکملؒ او نور فقهاء هم وفرضیت ته تللی دی، امام طحاویؒ وائی چی قول په وجوب د ایفاء بالنذر او فرضیت ده، هغه دوه قوله دی چی هر یو سته ترجیح د فقهاؤ د خوا ورکړه سوی ده، قَالَ الْمُصَنِّفُؒ:

اَنْ یَّکُوْنَ مِنْ جِنْسِهٖ وَاجِبٌ

یو شرط په منذور کی دا دی چی د ده د جنسه څخه به واجب وی یعنی د طرفه د خدائ یعنی واجب اصالةً لا تبعًا نو ځکه نذر په او دا سه سره یا په قرائت د قرآن پاک نه دی صحیح ولی چی په تبع د لمانځه واجب دی یعنی فرض دی،

سَوَال: نذر د اعتکاف صحیح دی او سره د دی چی د خدائ د خوا شیئ من جنسه فرض نشته،

جَوَاب: د اعتکاف معنا لبث دی او دده د جنسه څخه فرضی لبث موجود دی چی هم اصلی دی، چی وقوف په لمانځه کی دی،

فَائِدَة سَنِیَّةٌ: ذکرها صاحب الکفایه، درویش وائی چی صاحب الکفایۃ، د شرط اول په باب کی یوه زیبا فائده راوړی ده، چی اصل په صحت کی د نذر دا ده چی منذور به د جانبه څخه د خدائ واجب او فرض نه وی، کما سیأتی، نو بنا ء علیه د صلوات خمسو

یا د شهر رمضان د روژې نذر صحیح نه دی، لکن د جنسه څخه د منذور به واجب او فرض عبادت د خدای جل وعلیٰ د خوا موجود وي، او هغه واجب به هم اصلي واجب وي یعنی تبعي به نه وي کما مر عنقریب، د دې خبرې دلیل دا دی چې عبادات الهیه باید په اندازه د انعامات الهیه وي، ولا داء شکرها، لکن چونکه نعمتونه د خدای پر بنده ګانو په پوره لحظه کې د حیات متواتر او متتابع او تکاثر وو او بنده نشي کولای چې دائم الاوقات په عباداتو کې د خدای مشغول وي، من جهة توافر الضروریات البشریه فی طول الحیوة، فلاجل هذه الضروریات د خدای ه پنځه وخته لمونځونه او یوه میاشت وهکذا الزکوٰة والحج، د ټولو شکرو په ځای کې وشمیرله تیسیرًا علی العباد، او س نو یو بنده چې نذر د یو عبادت پر ځای کوي، ګویا اراده د دې لري چې خپل عبادت منذوره و عبادت مفروضه د خدای ور ضم کړي تا چې فی الجمله د خدای شکریه نه دوام ور کړي، او دا قانون دی چې یو شی چې څوک وبل شي ته ور جوړنه وي، نو ملحق به شی موجود وي، نو که د جنس د منذور عبادت واجب اصلي عبادت د خدای د خوا نه وي موجود، نو خو هغه ملحق به مباح وي، او د مباح کار نذر نه دی روا، حتیٰ چې نذر د ولاړې یا ناستي یا خوراک وغیره نه دی صحیح، انتهی قول الکفایة مع کثیر من الزیادة، قال المصنف:

وَاَنْ يَكُوْنَ مَقْصُوْدًا اَوْاَنْ يَكُوْنَ لَيْسَ وَاجِبًا فَلَا يَلْزَمُ

او بل شرط دا دی چې هغه واجب اخر به مقصود وي یعنی اصالتًا لا اتبعًا لغیره لکه او دس چې په سبب د لما نځه

الْوُضُوْءُ بِنَذْرِهٖ وَلَا سُجْدَةُ التِّلَاوَةِ وَلَا عِيَادَةُ الْمَرِيْضِ

فرض وي، او بل شرط دا دی چې د غیر منذور عبادت به واجب وي د جانبه څخه د خدای جل شانه، نو نه لازمیږي

وَلَا الْوَاجِبَاتِ الْاُخَرْ

او دس په نذر کولو سره، ولې دی مقصود لذاته نه دی بلکه شرط د صحت د لمانځه دی مثلًا، او نه سجدة التلاوة په نذر کولو سره لازمیږي، ولې چې سجدة التلاوة خود خدای د خوا واجب ده، او عیادة المریض په نذر لازمیږي، ولې چې د جنسه څخه د هغه بل واجب من جانب الله نشته، او دا قوله ظاهر الروایة

دی د امام اعظم د خوا، د رویش وائي چې څلورم شرط چې مراقي زیاته کړیده چې منذور به محال نه وي مثال یې دا راوړی دی چې سړی ووائي چې پر ما یه نذر چې د صبا د ورځې روژه به نن ورځ نیسم، هغه ته ضرورت نشته، اذ لیس من شان العاقل نذر المحال، او نه هم لازم دی نذر د واجباتو، ولې چې هغه د خدای په ایجاب سره واجب دی، او ایجاب د واجب محال دی، مر قال المصنف

وَيَصِحُّ بِالْعِتْقِ وَالْاِعْتِكَافِ

او صحیح دی نذر په عتق د مریي یا مینځې، ولې چې ازادول د مریي مثلًا په کفاراتو کې په ایت سره فرض دی، او صحیح دی نذر د اعتکاف، ولې چې د جنسه د هغه فرضیت په شرع کې چې اخیره ناسته ده، فاصل مکث الاعتکا موجود فرضًا وهو المذکور، فالمعتکف کالجالس فی الصلوٰة للقعدة الاخیرة فصح نذره

مسئله نذر د حج ماشیًا صحیح دی، ولې چې نظیر یې په شرع کې شته، ولې چې د چا کور چې مکې شریفې ته نژدې وي پر هغه حج ماشیًا فرض دی، نو ده نا ذر کوي که څه هم لیرې وی مګر نذر یې صحیح دی لوجود الاصل فی الشرع: **مسئله** نذر د مریي په اعتکاف سره یا د سړي د مینځې په اعتکاف سره صحیح دی، نو که بادار او میره اجازه ورکړه خو اداء بې کړي او که بادار یا میره اجازه نه ورکړه بیا پسله عتقه او د مینځې د جلا والی به ئې د واړه قضاء راوړي، قال المصنف

وَالصَّلٰوةِ الْغَيْرِ الْمَفْرُوْضَةِ وَالصَّوْمِ

او دغه رنګه صحیح دی نذر د لمانځه چې فرضي نه وي یعنی نفلي او د روژې یعنی نفلي، ولې چې د دواړو مثل په شرع کې فرضي شته **مسئله** نذر د خیرات د نقود و صحیح دی او دغه رنګه نذر د ذبح د حیوان صحیح دی، لوجود مثل الاول وهو الزکوٰة ومثل الثانی وهو الاضحیة، قال المصنف:

فَاِنْ نَذَرَ نَذْرًا مُطْلَقًا اَوْمُعَلَّقًا بِالشَّرْطِ وَوُجِدَ الشَّرْطُ

لَزِمَهُ الْوَفَاءُ بِهٖ

نو که سړي مطلق نذر وکړي، یعني په شرط سره مربوط نه وو، او یا مربوط په شرط وو لکه سړی چې ووائي که خدای ما ته روغ راکړي

مثلاً پرما یوه میاشت روژې مثلاً نذر دی او شرط موجود سو، نو پرده با ندی په دواړه صورته کی وفاء بالنذر لازمه ده» قال المصنفؒ:

وَصَحَّ نَذْرُ يَوْمَيِ الْعِيدَيْنِ وَاَيَّامُ التَّشْرِيقِ فِي الْمُخْتَارِ

او صحیح دی نذر کول د روژو دد دواخترو او دورځو د تشریق په مختار روایت کی، او په غیر مختار روایت کی نه دی صحیح، ولې چې دا نذر په معصیت سره دی، **جواب**: روژه په اعتبار د ذات صحیح ده او حرمت خویې په اعتبار د اعراض دی د میلمستیا څخه د خدای جل سلطانه وهو امر عارض خارج عن الصوم فلا یمنع الصحة لذاته، قال المصنفؒ:

وَيَجِبُ فِطْرُهَا وَقَضَاؤُهَا وَاِنْ صَامَهَا اَجْزَأَهُ مَعَ الْحُرْمَةِ

نو پر ناذر واجبه ده خوړل د دغو روژو چې نذر کړی یې دی ترڅو چې اعتراض د ضیافت څخه د خدای رانسی، او قضاء راوړل یې هم واجب دی د سببه د وفاء بالنذر، قال المصنفؒ: او که روژه ونیوله نو د ناذر غاړې یې خلاصی سوی سره د حرمت ولې چې اعراض د ضیافت څخه د خدای پاک دی او ده اعراض وکړی»

مسئله: که سړی نذر د داسی شی وکړی چې د ده په اراده د وجود نه دی لوده لکه چې سړی ووائی که ما خبری د زید سره وکړی پرما یې نذر چې زه به مریی ازادوم، او بیا یې خبری ورسره وکړی نو ظاهر روایت خو دادی چې وفاء بالمنذور لازم د یرده که معلق وی او که نه او په روایت کی د نوادرو وائی چې د ده خوښه ده که مریی ازادوی او که کفاره یمین ورکوی، مصنفؒ په مراق کی وائی چې صحیح روایت د نوادرو دی» قال وهو المفتی به» لقوله علیه الصلوة و السلام: کفارة النذر کفارة الیمین» درویش وائی چې په دی مسئله کی ډیر تفصیل او قیل وقال سته، نو که څوک تفصیل غواړی، نو بحر ائق یا طحطاوی دی مطالعه کړی،، قال المصنفؒ

وَاَلْغَيْنَا تَعْيِينَ الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ وَالدِّرْهَمِ وَالْفَقِيرِ

او مونږ لغوه بولو تعیین د ناذر دیوی خاصی زمانی

او د غه رنگه لغوه بولو معینه ول دیوه خاص ځای، او د غه رنگه لغوه بولو دیوه خاص درهم نذر او درهم لغوه دی دا نذر ورکول و یوه خاص فقیرته، والدلیل علی الکل، چې نذر خو واجبول دی د یو فعل په ذمه کی خپل د جهته د ثواب، نو دا تعلق نه لری په خصوصیوری د زمانی یا د ځای یا د فقیر او تقدیریه لکه د درهم یا درهمین مثلاً صرف د یاره د تعیین د مقدار د منذور دی، قال المصنفؒ

فَيُجْزِيهِ صَوْمُ رَجَبٍ عَنْ نَذْرِهِ صَوْمَ شَعْبَانَ وَيُجْزِيهِ

نو کافی ده نذر کونکی لره روژه د خدای تعالیٰ د میاشتی کړه ده نذر کړی وه روژه د میاشتی د برات، او د غه رنگه کافی

صَلٰوةُ رَكْعَتَيْنِ بِمِصْرَ نَذَرَهُمَا بِمَكَّةَ وَالتَّصَدُّقُ بِدِرْهَمٍ

دی دوه رکعته لمونځ په مصر کی چې ده نذر کړی چې زه به یې په مکه شریفه کی کوم، او د غه رنگه کافی دی خیرات ول

عَنْ دِرْهَمٍ عَيَّنَهُ وَالصَّرْفُ لِزَيْدٍ الْفَقِيرِ بِنَذْرِهِ لِعَمْرٍو

د یوه درهم په ځای کی د هغه معین درهم چې ده یې خیرات پر ځان نذر کړی وی، او د غه رنگه کفایت کوی ورکول د خیرات و زید ته چې فقیر وی چې ده نذر کړی وی چې زه به یې عمر ته ور کوم،

مسئله که چیری یو سړی نذر کی اعتکاف یا روژه، نو اعتکاف یا روژه په تر هغه معین کړی وخت د مخه اجراء کړه صحیح ده، **مسئله** که سړی نذر کړی چې زه به په فلانی کال کی حج کوم او تر هغه کال د مخه یې حج وکړی صحیح دی، **مسئله**: که سړی نذر کړی چې زه به په فلانی ورځ دوه رکعته نفل کوم بیا یې هغه دوه رکعته د مخه تر هغی ورځی اداء کړه صحیح دی، د د ریو سرو مسئلو دلیل دادی چې سبب د وجوب د دغو عباداتو خو نذر دی، هغه پید اسو پسله تحقق د سبب ټوله تعیینات لغوه دی، شرن، ط، در، قال المصنفؒ:

وَلَوْ عَلَّقَ النَّذْرَ بِشَرْطٍ لَا يُجْزِئُهُ مَا فَعَلَهُ قَبْلَ وُجُودِ شَرْطِهِ

او که چیری یو چا معلق کړی په یو شرط سره مثلاً وئی ویله که زما زوی خدائ د سره څخه صحیح سالم

راوستی نوپرماد یوه پوُسه خیرات نذر دی، نودی نذر پرځای کی نه دریږی، هغه خیرات دپسه چی دمخه تر راتګ د نروی د ه ذبح کړی وی، ولی چی نذر معلق په شرط سره د مخه تروجود دشرط ګویا نه دی پیدا، کما هو القاعدة المقررة فی اصول الفقه، کما فی قول الرجل لامرأته ان خرجتِ من الدار بدون الاجازة فانتِ طالق ۔

بَابُ الْاِعْتِكَافِ

باب دی په بیان کی داعتکاف یعنی دمغه دمعنا او احکامو **پوُهه سَه**: چی اعتکاف په لغت کی حبس او منع ته وائی، نو اعتکاف اصطلاحی شرعی هم منع کول او بندی کول دمعتکف د ے خپل ځان لره په مسجد کی، او په شریعت کی ئی تعریف دادی... قَالَ المصنفؒ:

هُوَالْاِقَامَةُ بِنِيَّتِهٖ فِىْ مَسْجِدٍ تُقَامُ فِيْهِ الْجَمَاعَةُ بِالْفِعْلِ

اعتکاف اوسیدل دی په نیت داعتکاف په مسجد کی چی په هغه مسجد کی دَجماعت لمونځ اوس کیږی

لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

دپنځه وخته لمونځو د پاره، حضرت علیؓ او حذیفهؓ وائی: لَا اِعْتِكَافَ اِلَّا فِىْ مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ،

فَلَا يَصِحُّ فِىْ مَسْجِدٍ لَا تُقَامُ فِيْهِ الْجَمَاعَةُ لِلصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُخْتَارِ

نونه دی صحیح اعتکاف په هغه مسجد کی چی په هغه کی جماعت د پنځو لمونځونو کول کیږی پر مختار مذهب چی مذهب د امام اعظمؒ او د محمدؒ دی، او د امام ابو یوسفؒ نه روایت دی چی اعتکاف واجب لکه منذور اعتکاف نه دی صحیح بیله مسجد جماعت نه او اعتکاف مسنون یا نفلی په هر مسجد کی روادی:

: دفضل الحق حقانی په قلم ولیکل شو:

قَالَ المصنفؒ وَلِلْمَرْأَةِ الْاِعْتِكَافُ فِىْ مَسْجِدِ بَيْتِهَا وَهُوَ مَحَلٌّ عَيَّنَتْهَا

او ښځه اعتکاف کولای سی په مسجد کی دکور، او مسجد دکور هغه خونه ده چی دې ټاکلی

لِلصَّلٰوةِ

وی د پاره د لمانځه، او که دی د لمانځه د پاره ځای نه وو معین کړی، نو دی لره اعتکاف نشته، قال الرافعی وهی ممنوعة عن حضور المساجد فلا اعتکاف لها فی المساجد ه او د نهایه د عبارت نه داسی معلومیږی، چی اعتکاف د ښځی په مسجد کی مکروه تنزیهی دی، لکن صحیح داده چی ناجائز دی

فَائِدَه: رکن داعتکاف لبث او درنګ دی او شرط یه مسجد مخصوص دی، یعنی مسجد جماعت او بل نیت دی، او روژه په منذور اعتکاف کی، والاسلام والعقل والطهارة من حيض ونفاس فی المنذور، ولی چی د منذور دپاره روژه شرطه ده، او حائض او نفساء لره روژه نشته، او بلوغ شرط نه دی، او پاکی د جنابت نه هم شرط نه ده، ولی چی روژه سره د جنابته هم روا ده، ولو فی المنذور، او سبب داعتکاف نذر دی په منذور کی او طلب دثواب دی په نفلی کی، او حکم د اعتکاف سقوط دی د واجب منذور، او پیدا کول دثواب دی په نفلی ه

مَسْئَلَه: دمسجد تعیین په شروع سره کیږی په یو مسجد کی نو معتکف ته نه ده روا چی په یو مسجد کی شروع په اعتکاف وکړی او بیا بل مسجد ته نقل کیږی بیله عذره کما سیأتی، ط، م، د، قَالَ

وَالْاِعْتِكَافُ عَلٰى ثَلٰثَةِ اَقْسَامٍ وَاجِبٌ فِى الْمَنْذُوْرِ وَ

او اعتکاف پر دری قسمه دی، واجب چی سړی نذر کړی وی، او سنت مؤکده کفائی دی په لس اخیرو

سُنَّةُ كِفَايَةٍ مُؤَكَّدَةٌ فِى الْعَشْرِ الْاَخِيْرِ مِنْ رَمَضَانَ وَ

ورځوکی د روژی، او مستحب یعنی ښه کار دی په ماسوا کی د منذور، او د لسو ورځو اخیرو د روژی د

مُسْتَحَبٌّ فِىْ مَا سِوَاهُ

میاشتی، زاهدی وائی وائی چی تعجب دی د مسلمانانو د پاره عوام لا څه کوی بلکه علماء، چی څرنګه دوی پری ایښی دی اعتکاف او سره د دی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم به بعض عبادات ګاهی کوله او ګاهی به ئی پریښوله

اواعتکاف یې د غه وخت چې ومدینې منورې ته یې هجرت کړی دی، اعتکاف دعشر اواخر د رمضان یې نه دی پرې ایښی الیٰ ان توفاه الله تعالیٰ» نوعلماء صرف په میاشت کې د روژې دااخیر لسیزې یوطالب علم جبرًا واعتکاف ته موظف کوی، اودی پخپله ور ته ګرځي اودی سنت مؤکد به یو وخت هم قصد نه دی کړی طول عمره» اوعوامو ته هم ملاصاحب دا تبلیغ نه کوی چې د ټولو مسلمانانو پاره سنت مؤکد دی، ولې چې ملاصاحب بیریږی چې عوام به راته ووائی چې ته ولې دا سنت مؤکد نه پرځای کوی، نو د عوامو عقیده داده چې اعتکاف سنة المسجد دی هغه طالبعلم اجراء کړی،

سوال: نو په سبب د همیشه توب د علیه الصلوٰة والسلام پراعتکاف باید اعتکاف واجب وای

جواب: وجوب د عمل همیشه د علیه الصلوٰة والسلام پر تعوله امت هلته ثابتیږی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به پر تارک باندې انکار کړی وی، لکن بعض صحابه کرامؓ چې اعتکاف مذکور به ئې نه کاوه، آنحضرت صلی الله علیه وسلم انکار نه وی پر کړی، نو دا دلیل د دې دی چې اعتکاف مذکور سنت کفائی دی،» م ، ط ، د ، قَالَ المصنفؒ:

وَالصَّوْمُ شَرْطٌ لِصِحَّةِ الْمَنْذُوْرِ فَقَطْ

او روژه شرط ده د پاره د صحت د نذري اعتکاف د پاره فقط نوکه یو سړی داسې ووایله چې زه اعتکاف نذر کوم یوه میاشت بیله روژې، نو پر ده باندې اعتکاف یوه میاشت لازم دی سره د روژې، **مسئله**: نذر په ژبه پورې اړه لری، ولې نذر خود متعلقا تو څخه د ژبې دی، نوکه د سړي په زړه نذر وی او تلفظ نه په وکړ هیڅ شی نه نذر کیږي

پوهه: چې د فقط معنا داده چې په نفلي اعتکاف کې روژه نه ده شرط، لقوله علیه الصلوٰة والسلام لیس علی المعتکف صیام الا ان یجعله علیٰ نفسه، قَالَ المُصنفؒ:

وَاَقَلُّهٗ نَفْلًا مُدَّةٌ یَسِیْرَةٌ وَّلَوْکَانَ مَاشِیًا عَلَی الْمُفْتٰی بِهٖ

او هغه لږ موده د اعتکاف نفلي لږ موده ده که څه هم په مسجد کې ولاړ وی یعنی ناسته لازم نه وی بلکه که څه هم تیریږي وی، پر مفتی به مذهب، او حسنؒ د امام اعظمؒ څخه روایت کړی دی چې روژه په نفلي

اعتکاف کې هم شرط ده» ولې چې نفلي اعتکاف هم په ورځ پورې اړه لری لکه منذور او اقل اندازه یې یوه ورځ ده، لکن معتمد مذهب دا دی چې اعتکاف نفلي مبنی پر مسامحت دی. نو مطلق نفل په لږ درنګ سره د نیت د اعتکاف که د شپې وی او که د ورځې وی رواوی. قال الملاقي چې د غه لږ نیت د اعتکاف نفلي حیله ده د هغه چا د پاره چې د مسجد پر یوه دروازه ورننوزی وې بله دروازه وزي تاچې مسجد لاره ونه ګرځي چې هغه ممنوع ده»

پوهه: چې پر جزء د اعتکاف نفلي سره د نیت عبادت دی بیله د نفلي د بل جزء تمکد نفلي اعتکاف په نیت او شروع سره نه لازمیږی لانتهائه بالخروج. **مسئله مهمه** که سړي نیت د اعتکاف مسنون په عشر اواخر کې د روژې وکړی. ونه کړی ئې سه ور. نو یوه ورځ یا دوه ورځې اعتکاف وکړی بلکه که یو ساعت یې وکړی او بیا یې پرېږدی قضاء باندې نه ده ولې چې اعتکاف خو چې غیر منذور وی نه فاسدیږی بلکه پای ته رسیږی په ترک سره» وهــ سانځ عزیز فتذکره.

د اما نو مفکوره داده

چې یو چا چې نیت د عشر اواخر د اعتکاف وکړی او داسې ووئیله چې زه لس ورځې اخیري د روژې د میاشتې اعتکاف کومه، نو په د غه وینا پر ده نذر سو» او دوی نه پوهیږی چې نذر خپل الفاظ لري

سوال: یو سړي چې د دوو رکعتو لپاره نیت وکړي او شروع یې هم پر وکړ لکن دوه رکعته یې پوره نه کړه پرې ئې ښودوله، نو ولې د دوو رکعتو قضاء پر ستنه، **جواب**: تر دوه رکعته کم خولمونځ نه دی، او اعتکاف خو حد محدود نه وی لری هر اندازه لبث اعتکاف دی سره د نیته، مثال د دې دا دی چې سړي د څلورو رکعتو نفلي لپاره نیت وکړي اما پر دوه رکعته سلام وګرځوی، نو د دوو نورو قضاء پرې نسته، ولې چې لمونځ پوره سو، فافهم، قَالَ المُصنفؒ:

وَلَا یَخْرُجُ مِنْهُ اِلَّا لِحَاجَةٍ شَرْعِیَّةٍ کَالْجُمُعَةِ

او نه دی وزی معتکف څخه چې مسجد دی د نوره پاره یا هغه خونه معینه ده چې د ښځې د پاره د اعتکاف ځای د ئی» مګر د حاجت شرعی د پاره لکه د جمعې لپاره چې ځي»

مسئله: معتکف به دجمعې لمانځه ته دجامع مسجد ته په خوا داسې وخت ځي چې دی سنت قبلي او دجمعې لمونځ او سنت بعدي په دغه وخت کې کولای شي نو بیرته به مسجد ته د اعتکاف راځي بالغور.

قال المصنف: **اَوْطَبِيْعَةٍ كَالْبَوْلِ اَوْضَرُوْرِيَّةٍ كَانْهِدَامِ الْمَسْجِدِ**

او یا طبعي ضرورت وي لکه بولي وکذ الغائط، او دغه رنګه وتل یې دپاره د پریولو د نجاست او یا غسل د جنابت

وَاِخْرَاجِ ظَالِمٍ كَرْهًا وَتَفَرُّقِ اَهْلِهٖ وَخَوْفٍ عَلٰى نَفْسِهٖ

چې احتلام ورته پیښ شوی وي، او یا د ضروري حاجت لپاره لکه چې مسجد ونړیږي او یا یو ظالم په زوره وباسي، او یا یې کور دربدره شي، او

اَوْمَتَاعِهٖ مِنَ الْمُكَابِرِيْنَ او یا بیرېږي په ځان یا په کالو د ظالمانو دخوا څخه، نو دی سمدلاسه بل مسجد ته ولاړ شي یعنې کې اعتکاف منذور وو یا په دمسنون یا نفلي اعتکاف پوره کولو د پاره کې قصد وو، **مسئله**: که معتکف ووتې دپاره د حاجت انساني او وروسته ترقضا ئې حاجت دیو مریض پوښتنې ته ولاړې او یاد جنازې لمانځه ته بیله دې چې قصدًا د هغه دپاره وتلې وي روا ده یعنې اعتکاف یې نه ختمیږي» ط »
او امام طحطاوي په نقل د تاتارخانیه څخه وائي که معتکف په وخت کې د اعتکاف نذر دا شرط کړه چې زه به د مریض پوښتنې ته ځم او د جنازې لمانځه ته به ځم، او حضور ته د مجلس د علم شرعي به ځم، روا ده، او د اتوله مشروطه کارونه کولای شي، فليحفظ هذه الفائدة» در»
مسئله: که معتکف د حاجت انساني دپاره ووتې وروسته تر هغه یو ګړی ناحقه څنډ وکړې اعتکاف به ختم شو، ط » قال المصنف:

فَلَوْخَرَجَ بِلَاعُذْرٍ سَاعَةً فَسَدَ الْوَاجِبُ وَانْتَهٰى بِهٖ غَيْرُهٗ

که معتکف د مسجد څخه ووتې بیله عذره یو ګړی نو که واجب اعتکاف وو لکه منذور هغه فاسد سو یعنې قضائې پر لازمه ده او پای ته رسیږي سنت یا نفلي اعتکاف یعنې د نور وورځو چې ده یې نیت کړی وو قضاء پرې نشته، کمامر»

پوهسه: چې مراق وروسته تر «فسد الواجب» داسې لیکلي دي «ولا اثم عليه» او امام طحطاوي وائي چې ګناه هلته نشته چې په عذر سره یې فاسد کړي او که بې عذره یې فاسد کې بیا خو ګناه کار ده دی لقوله تعالى: وَلَا تُبْطِلُوْا اَعْمَالَكُمْ،
مسئله: اعتکاف باطليږي په بیهوشۍ سره او په جنون سره کې دوام وکي یو څو ورځې مګر نه اول ورځ کې په مسجد کې تیره کړه، قال المصنف:

وَاَكْلُ الْمُعْتَكِفِ وَشُرْبُهٗ وَنَوْمُهٗ وَعَقْدُ الْبَيْعِ لِمَا يَحْتَاجُهٗ

او خوړک د معتکف او څښل دده، او خوب دده او عقد د بیع رانیولو د هغه شي چې دی حاجت ورته لري د ځان

لِنَفْسِهٖ اَوْعِيَالِهٖ فِى الْمَسْجِدِ وَكُرِهَ اِحْضَارُ الْمَبِيْعِ دپاره او یا د عیال په مسجد کې به وي

او مکروه دی حاضرول د مبیع وه مسجد ته، دا قوله جواز په سبب د ضرورت د اعتکاف دی، حتی که معتکف د دغو شیانو د پاره د اعتکاف څخه ووتی که واجب اعتکاف وو هغه خو فاسد سو او که نفلي وو پای ته ورسیدی، او فتاوای ظهیریه وائي چې فقهاء جائز بولي وتل د مسجد څخه دپاره د اکل او شرب بسله غروبه څخه دلمر، والفتوی على الاول» در» او احضار د مبیع چې مکروه دی دی دپاره چې مسجد ځای د حقوقو د خدای دی د کان نه دی، **مسئله**: بعض علماء د زمانې د طالبانو په مسجد کې کوي او هلته میلمنو ته چای او ډوډی ورکوي پر تهولو باندې نیت د اعتکاف نفلي لازم دی ورنه خوړک وغیره په مسجد کې مکروه دي، قال المصنف:

وَكُرِهَ عَقْدُ مَا كَانَ لِلتِّجَارَةِ وَكُرِهَ الصَّمْتُ اِنِ اعْتَقَدَهٗ

او مکروه دی هغه عقد د بیع او د شراء چې دپاره د تجارت وي، که مبیعه حاضره کړي او که نه» ط،م،در

قُرْبَةً وَالتَّكَلُّمُ اِلَّا بِخَيْرٍ او مکروه دی پټه خوله کیدل په اعتکاف کې یعنې د چا سره خبرې نه کول که دده دا عقیده وه چې دا د ثواب کار دی، او دغه رنګه مکروه دي خبرې کول مګر نه په خیر سره

فـرعـه: چونکه په مسجد کی بیله معتکفه د مباح بیع او شراء مکروه ده، خو په مسجد کی سخری بوکی بپاکی قهقهه خندا به څرنګه مکروه نه وی **فـرعـه**: په صحیح حدیث کی راغلی دی چی وږی خوروونکی یا ګندنه یا پیاز خوروونکی دی د حضور ﷺ د جماعت په سبب د بد بوئی دَ خولې منع دی د مسجد څخه، نو څرنګه ملایان بد بوئیه وږسته توک دانې د نسوار و په مسجد کی استعمالوی! **فـرعـه**، چونکه مسجد د پاره د عبادت دی او د حقوقو د خدائ دی او دنیائی مباح خبری په کښی مکروه دی، نو څرنګه مُلایان د منطقو او د فلسفی درسونه په مسجد کی کوی، البته د قران مبارك درس او د احادیث نبویهٔ وو درس او یا هغه علوم چی ناموړی علوم توقف باندی لری لکه نحو، صرف، معانی، بدیع، عقائد وغیره وو درس په مسجد کی مکروه نه دی، قال المصنفؒ

وَحَرُمَ عَلَيْهِ الْوَطْئُ وَدَوَاعِيْهِ وَبَطَلَ بِوَطْئِهٖ وَ

اوحرام ګرځیدلی سوی دی پر معتکف باندی وطی د ماینی، او اسباب

اِلْاِنْزَالِ بِدَوَاعِيْهِ د وطی لکه ښکل اختل او یا لمس د اعضاوو په شهوت سره او باطلیږی اعتکاف په وطی او په انزال سره په دواعیو د وطی، لقوله تعالیٰ: وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَاَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ. نو چی جماع ممنوع سوه، نو دواعی یې په اعتکاف کی هم ممنوع دی لکه قُبلهٔ ولمس بالشهوت» ولی چی دواعی اسباب دی دَ جماع او قانون دی چی سبب د حرام هم حرام دی، م، ط، د، **پـوهـسـه**: چی وطی فرق نه لری که عامدًا وی او که ناسیًا وی او که مکرهًا وی او که د ورځی وی او که د شپی وی، **مسـئـله**: که معتکف په فکر و ملو او یا په کتلو سره انزال سو، نو اعتکاف یې نه باطلیږی، مراقی، قَالَ المصنفؒ:

وَلَزِمَتْهُ اللَّيَالِيْ اَيْضًا بِنَذْرِ اِعْتِكَافِ اَيَّامٍ وَلَزِمَتْهُ

او لازمیږی پر ده باندی اعتکاف دَ شپو په نذر سره د اعتکاف د ورځو، ولی چی فقهاء وائی چی لفظ

اَلْاَيَّامُ بِنَذْرِ اللَّيَالِيْ مُتَتَابِعَةً د ایام په صیغه د جمع سره هغه د ورځو پر برابر شپو ته هم شامل دی نو دا سړی باید

په اوله شپه تر غروب الشمس د مخه وه اعتکاف ته داخل سی، او په اخیره ورځ باید تر غروب وروسته ووزی، م، قال المصنفؒ:

وَاِنْ لَمْ يَشْتَرِطِ التَّتَابُعُ فِيْ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَلَزِمَتْهُ

که څه هم تتابع یعنی پیوسته اعتکاف کول شرط نه دی، ګرځول سوی په ظاهر روایت کی، لان مبنی الاعتکاف فی العرف علی التتابع، او پر ده لازم دی اعتکاف د دوی

لَيْلَتَانِ بِنَذْرِ يَوْمَيْنِ شپی په نذر سره د اعتکاف د دوو ورځو، او امام ابویوسفؒ وائی چی د اول شپی اعتکاف نه دی پر لازم»، قَالَ المصنفؒ:

وَصَحَّ نِيَّةُ النَّهَارِ خَاصَّةً دُوْنَ اللَّيَالِيْ وَاِنْ نَذَرَ اِعْتِكَافَ

او صحیح دی نیت د ورځو نه د شپو یعنی تر میاشت کم عدد یاد کړی، ولی چی نیت معنا حقیقی د ایام وکړی چی بیاض النهار دی

شَهْرٍ وَنَوَى النَّهَارَ خَاصَّةً اَوِ اللَّيَالِيْ خَاصَّةً لَا تُعْمَلُ

او که سړی نذر کړی اعتکاف د پوره میاشتی یعنی که میاشت معین کړی چی مثلًا د برات میاشت او که مطلق میاشت ذکر کړی، او په

نِيَّتُهٗ اِلَّا اَنْ يُّصَرِّحَ بِالْاِسْتِثْنَاءِ نیت کی ورځی وی خاص او یا شپی وی خاص نو دا نیت د ده معتبر نه دی، البته که تصریح په استثناء د ورځو یا د شپو وکړه نو بیا صحیح دی، دلیل یې دا دی چی "شهر" په شرع او په عرف کی نوم دی د مقدرو ورځو او شپو د وارو، صورت د استثناء دا دی چی وو وائی چی پر ما نذر دی یوه میاشت اعتکاف په ورځو کی نه په شپو کی، او یا داسی وو وائی چی پر ما اعتکاف د یوی میاشتی نذر دی اِلَّا اللیالی، وعلیٰ هٰذا فقس استثناء الایام، قَالَ المصنفؒ:

وَالْاِعْتِكَافُ مَشْرُوْعٌ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ

او اعتکاف مشروع دی په کتاب الله سره قال الله تعالیٰ: وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَاَنْتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ» او په حدیث سره» ابوهریره رض او عائشه رض

روایت کوي، چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به همیشه اعتکاف کاوه په اخیرو لسو ورځو کې د روژې د، تر وخت تېرېدو چې دی مدینې منورې ته راغلی تر هغه وخته پورې چې خدای پاک دی وفات کړی **پوښتنه**: چې سره ددې چې اعتکاف په مذکوره ورځو کې سنت مؤکد دی لکن مع ذالک سنت کفائي دی ولا منافاة بینهما، ط» قال المصنف:

وَهُوَ مِنْ اَشْرَفِ الْاَعْمَالِ اِذَا كَانَ عَنْ اِخْلَاصٍ

او دغه اعتکاف د بهترین اعمالو څخه دی چې د اخلاص دلارې وي یعنې ریا او سمعت نه وي په کې او

وَمِنْ مَحَاسِنِهٖ اَنَّ فِيْهِ تَفْرِيْغُ الْقَلْبِ عَنْ اُمُوْرِ الدُّنْيَا

بعض د ښو فائدو څخه د اعتکاف زړه فارغ کول دي د دنیا د کارو څخه په سبب د اشتغال په عبادت د خدای جل سلطانه» قال المصنف،

وَتَسْلِيْمُ النَّفْسِ اِلَى الْمَوْلٰى وَمُلَازَمَةِ عِبَادَتِهٖ فِيْ بَيْتِهٖ

او بل تسلیم دی د ځان د خپل بادار عز اسمه ته او بل همیشه والی دی په ورځو کې د اعتکاف په عبادت د خدای بنوافل الصلوات وتلاوة القرآن العزیز وسائر

وَالتَّحَصُّنُ بِحِصْنِهٖ

انواع الاذکار، هغه هم په بیت الله کې چې مسجد دی، او عادت د کریمانو خلکو دا دی چې څوک چې دروی کور ته میلمه ورسي حتی المقدور په ښا نروي فکیف بالمعتکف الذی نزل بیت ارحم الراحمین ضیفًا، قال السعدی: مَن دَقّ باب الکریم انفتح» او معتکف د دښمنانو څخه خپل ځان خوندی کې په قلعه کې د خدای نو هیڅ د دښمن پره نه وی کامیاب کیدای کالنفس والشیطان ومردة الجن، قال المصنف

وَقَالَ عَطَاءٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ مَثَلُ الْمُعْتَكِفِ مَثَلُ رَجُلٍ يَخْتَلِفُ عَلٰى

او ویلي دي عطاء بن ابي رباح چې مثال د معتکف لکه هغه سړی دی، چې دی درولې ته د یولوی سړي

بَابِ عَظِيْمٍ لِحَاجَةٍ

ورځي یعنې یا باچا وي، یا وزیر وغیرهما دیو کار د پاره چې د هغه عظیم د قدرت هم پوره وي ورځي وراځي، یعنې په کرا تو مراتو یعني هغه عظیم بالعاقبة د هغه سائل کار کوي، او نا امید یې نه پرېږدي نو خالق العالم جل شانه خو نګه دا سائل معتکف به د خپل عظیم فضله څخه څنګه محروم کي» سعدي رحمه الله ای کریمی که از خزانهٔ غیب ؛ گبر وترسا وظیفه خور داری، دوستان را کجا کنی محروم ؛ تو که با دشمنان نظر داری ؛ قال المصنف

چې عطاء ابن رباح جلیل القدر تابعي دی او عارف بالله دی، او امام مجتهد دی او شاګرد د ابن عباس رض دی، او د مشائخو څخه د امام اعظم ابوحنیفه رح دی او امام اعظم وائي چې ما نه دی لیدلی افقه تر حماد رح او نه مې دی لیدلی اجمع د علوموتر عطاء بن ابي رباح، وفات د عطاء رح په ۱۱۵ سنه کې دی او سن دده نه اتیا کاله وو» قال المصنف:

فَالْمُعْتَكِفُ يَقُوْلُ لَا اَبْرَحُ حَتّٰى يُغْفَرَ لِيْ

پس نو معتکف وائي یعنې په ژبان حال که څه هم په ژبان قال و نه وائي، چې زه ددې ځایه یعنې مسجد څخه نه ځم حتی چې بخشش و نه سي و ما ته یعنې عمومي بخښنه د صغائرو ګنهو او د کبائرو ګنهو، او د کریم بادار د خواڅخه لیرې نه ده چې داغسې دې وکړي، کیف وقد ورد فی الحدیث الصحیح انه تعالی یقول: اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِیْ بِیْ وانا اقول: اللهم اغفرلي ذنوبي کلها» درویش باګناه وائي چې مصنف چونکه د بیان څخه د عبادات بدنیه وو څخه فارغ سوا او نوبت د عباداتو مالیه وو راورسیدل، نو په خاتمه کې د عبادات بدنیه وو داسې یو عبارت زیبا راوړی دی» قال المصنف:

وَهٰذَا مَا تَيَسَّرَ لِلْعَاجِزِ الْحَقِيْرِ بِعِنَايَةِ مَوْلَاهُ الْقَوِيِّ الْقَدِيْرِ

او دغه چې تیرسو یعنې بیان د عباداتو بدنیه وو داهغه شی دی چې ما ته یعنې عاجز حقیر بنده ته په مهربانی او توفیق د بادار خپل چې خاوند د قوت او قدرت دی» **پوښتنه**

چې مصنف په دې عبارت کې نفي دانانیت او کبر او لوئي د ځانه څخه وکړی»

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِمُتَرْجِمِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِمَنْ نَظَرَ اِلَيْهِ» اٰمین

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدَانَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِیَ لَوْلَا

ټوله ثنا او صفت خدائ لره دی چې موږ ته ئې هدایت اوښوونه وکړه د دې دپاره یعنی اول د دین اسلام

اَنْ هَدَانَا اللّٰهُ وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا

بیا د بیان د مسائل فقهیه وو په باره کی د عباداتو بدنیه وو، او موږ نه وو چې موږ دی لاپیدا کړی وای و د غه کار ته که موږ ته ښوونه د رب العزت د خوا نه وای"

مُحَمَّدٍ خَاتَمِ الْاَنْبِیَاءِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَذُرِّیَّتِهٖ

او د خدای پاک عظیم رحمتونه دی وی پر سید زموږ او با دار زموږ محمد چې ختم د انبیاء ع م پر ده سوی دی، او پر آل دده او پر اصحابو دده او پر هغه چا چې دده سره دوستی

وَمَنْ وَّالَاهُ لری هم درود وی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَنَسْاَلُ اللّٰهَ سُبْحَانَهٗ مُتَوَسِّلِیْنَ اَنْ یَّجْعَلَهٗ خَالِصًا

او موږ سوال کوو د الله سبحانه څخه چې په وسیله د سید الرسل دی ورګرځوی دا کتاب او بیان

لِوَجْهِهِ الْكَرِیْمِ وَاَنْ یَّنْتَفِعَ بِهِ النَّفْعَ الْعَمِیْمَ

د مسائلو د فقه علی خالصه دده رضاء دپاره، او د دی سوال کوو چې نفع دی ورکړي یعنی مسلمانانو ته

وَیُجْزِلُ بِهِ الثَّوَابَ الْجَسِیْمَ

په د غه بیانا تو سره نفع عامه یعنی ټوله مسلمانانو ته په نړۍ ټوله کې نروی او که ښځې او لوی دی راکړي خدائ ثواب عظیم یعنی وماته، درویش وائ چې حقیقت دادی چې د مصنف د نفع عمومی سوال خوبیله شکه او تر دده قبول سوی دی، ولې چې په اسلامی نړۍ ټوله کی نور الایضاح یو معتمد او د اعتبار وړ کتاب ګنړل سوی دی او په ټوله نړۍ کی په مدرسو او په انفرادی درسو کی قبول حسن او رواج عظیم لري، نو د خدائ

د فضل عظیم څخه لیری نه ده چې دوهم سوال دده دی یعنی سوال د ثواب جسیم دی هم قبول سوی وی.

درویش وائ: چې ورته سوال زه باګناه محمد عُبَید الله مترجم د دی کتاب عظیم الشأن نور الایضاح په پښتو ژبه هم کوم او وایم چې خدایه ته د اکوشش او عرق ریزی زما هم قبول کړې او ماته ثواب عظیم او عفوه د ټولو ګناهو راته وکړی او پښتنو ورونړو او خوېندو ته لویه نفع په د غه شرحه سره ور سوی امین، و لِلّٰهِ الحمد والثناء الحسن اولاً واخیرًا والصلوة والسلام علی سیدنا وآله وصحبه جمیعًا برحمتك یا أرحم الراحمین.

خبرتیا

عاصی وائ چې څه وخت چې ما د اشرحه پښتو تر کتاب الزکوٰة پوری ورسول خدای جل سلطانهٗ وعظم شانهٗ وکرمه ماته سره د خپل زوی سفر د حرمینو شریفینو په برخه کړې، هغه وو چې د اشرح پر کتاب الزکوٰة معطله وه څو چې زه د خپل ملګری سره د سفر عظیم الشان څخه د حج بیتُ الله شریفې په خیر او عافیت او صحت او سلامتی سره په توفیق د رب جل وعلی بیرته راستون سوم، نو می بیرته خپل د شرحې و کار ته ادامه ورکړه" اَللّٰهم وفقنی لاتمام هذا الشرح بالخیر والصحة والسلامة وارزقنی زیارة الحرمین الشریفین فی العام الآتی تمام القدرة والصحة والسلامة وما ذالك علیك بعزیز برحمتك یا ارحم الراحمین

زموږ نوی چاپ شوی اسلامی اثار

آسان فقه	تعلیم العقائد	تعلیم الاسلام
الفقه المیسر	ارشاد الصرف	نکاح قدوری

كِتَابُ الزَّكٰوةِ

داكتاب ثابت دى په بيان كى د زكوٰة

فَائِدَه: زكوٰة په دوهم كال كى د هجرت نبوىؐ فرض سوى لكه روژه چې هم پر دغه كال كى فرض سوې ده لكن زكوٰة تر روژى د مخه فرض سوى دى، امام طحطاوىؒ وائي چې د زكوٰة وركول واجب دى على الفور يعنى په اول وخت كى وعليه الفتوى، نو بناءً على هذا سړى گناه كاره دى په ځنډ ولو د زكوٰة او شاهدى به نه قبليږى،

مَسْئَلَه: پر انبياء عليهم الصلوٰة والسلام زكوٰة نه دى واجب، ولې چې زكوٰة خو پاكى ده د هغه چا د پاره چې شايد په گناهو ككړ وي، لقوله تعالىٰ: خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا، او انبياء عليهم الصلوٰة والسلام د گناهو څخه پاك دى، ولې چې عصمت د انبياء عليهم الصلوٰة والسلام په تفصيل او په حواله د معتبرو كتابو او په د لائلو سره و پېژنئ نو د درويش رساله چې نوم ئې "كشف الغطاء عن عصمة الانبياء" دى دستياب او په غور ئې مطالعه كړئ تا چې په دى مسئله كى زړه روښانه سى، او د زړه شكوك او شبهات په زائل سى،

فَائِدَه: د زكوٰة يو معنا په لغت كى طهارت يعنى پاكى ده چې په سبب د زكوٰة وركولو نفس د سړي د بخل څخه پاكيږى او مال يې د خبث او نجاست څخه پاكيږى، او بله معنا يې بركت دى چې د زكوٰة وركوونكى په باقى مال كى خدائ بركت اچوى، او په دى دنيا كى خدائ سره د ثواب د آخرت عوض وركوى، او بله معنا يې مدحه او ثنا ده چې خداى جل جلاله د زكوٰة وركوونكى په قرآن مبارك كى مدحه كړيده، او د خدائ مخلوق هم د مزكي مدحه او ثنا وائي ۰

درويش وائى: چې د مانع الزكوٰة په باره كى ډير آيتونه او ښځې ډير حديثونه راغلى دى چې د هغو ټولو بيان د لته گران دى، او ولې به مانع الزكوٰة د خير څخه محرومه نه وى او سړه د دى چې دغه مال دا ره چې مثلاً د زوى واده يې وي، په زړو روپو د فساقو او فجارو حتى پر شوقيانو غزليانو بلكه پر مسليانو ښځو صرفوى، او په دى فخر كوى او لسم حصه د هغو روپو په زكوٰة

كى نه وركوى، افسوس صد افسوس د دغسى اغنياوو پر حال، د مانع الزكوٰة په باره كى سعدى شيرازىؒ وائي: بخيل ار بود زاهد بحر و بر ؛ بهشتى نباشد بحكم خبر ؛ قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَهِيَ تَمْلِيْكُ مَالٍ مَّخْصُوْصٍ لِشَخْصٍ مَّخْصُوْصٍ فُرِضَتْ

او د زكوٰة په ملك وركول دى د يو مخصوص مال و يو مخصوص او معين سړي ته، او د زكوٰة فرض كړل

عَلٰى كُلِّ حُرٍّ مُّسْلِمٍ مُّكَلَّفٍ مَالِكٍ لِنِصَابٍ مِّنْ نَّقْدٍ

سوى دى پر هر آزاد مسلمان او مكلف باندى چې مالك وى د نغدى نصاب ۰

پوښتنه چې چونكه زكوٰة د فقهى شريفى مسئله ده، او موضوع د فقهى افعال د مكلف دى نو د دى سببه مصنفؒ تفسير د زكوٰة په تمليك سره وكړى چې فعل د مكلف وگرځى، او دا هم مذهب دى د محققينو د اهل اصول الفقه، نو بناءً على هذا هغه مال مخرج ته زكوٰة وائي كما في قوله تعالىٰ: وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ، مجاز شرعى دى كذا قال الفقيه الطحطاوىؒ،

فَائِدَه: د تمليك په لفظ سره اباحت خارج سو، نو كه سړي بعض فقراء ميلمانه كړي او ډوډى وركړى په نيت د زكوٰة هغه د زكوٰة په ځاى كى نه دريږى چې دى ته اباحت وائي تمليك نسته ۰

مَسْئَلَه كه يو سړي يتيم ته كالى وركړى مثلاً نو د زكوٰة په نيت سره يه غاړي خلاصيږى په شرط د دى چې هغه يتيم د قبض په معنا پوهيږى ۰ در، ط ۰

فَائِدَه: مال خاص په اعيانو سره دى يعنى چې يو ذات وى نو په قيد د مال په منفعت خارج كړى، نو كه چيرى يو غني مسكين ته د ده په سراى كى د استوگى اجازه وركړى د زكوٰة غاړي نه په خلاصيږى، ولې استوگنه منفعت دى مال نه دى، ط، در، رد، قوله مَخْصُوْصٍ، چې هغه څلورم د لسمې حصى د نصاب دى، او يا د دى په ځاى كى ولاړي لكه چې په صدقة الفطر كى او زكوٰة د سوائمو كى به ئې بيان راسى، اِنْ شَآءَ اللّٰه ۰ قوله لِشَخْصٍ مَّخْصُوْصٍ، چې هغه فقير وى يا د هغو مصارفو چې په قرآن مبارك كى يې ذكر راغلى لكن په شرط د دى چې هاشمى به نه وى او د سړي خپل مرئى به هم نه وى، قوله عَلٰى حُرٍّ، په دى سره مرئى مينځه خارج سوه چې پر هغو زكوٰة نسته ۰ قوله مُسْلِمٍ خرج به

الكافر بناءً على انه غير مكلف بفروع الشرعية حتىٰ كه يو سړى مرتد سى العياذ بالله او بيرته مسلمان سى» په هيڅ هغه عبادت سره چې ده په وړ ځوكې د ردت نړدى كړى مكلف بالقضاء نړدى قوله مكلف اى بالغ عاقل» نو پړ نا بالغ كشنى يا پړ ليوني زكوة نسته» قال المصنف

وَلَوْتِبْرًا اَوْحُلِيًّا اَوْاٰنِيَةً اَوْمَا يُسَاوِيْ قِيْمَتَهٗ مِنْ عُرُوْضِ

كه څه هم دغه سره زر او سپين زر داغسي ځكى پراته وى لعني سكه نه وى پړ وَهَل سوى» اويا

اَلتِّجَارَةِ فَارِغٌ عَنِ الدَّيْنِ وَعَنْ حَاجَتِهِ الْاَصْلِيَّةِ نَامٍ

زيور وى لكه غاړګى، ګنتمى وغيرهما اويا لوښى وى لكه د سپينو زرو يا د سرو زرو ګلاس

وَلَوْتَقْدِيْرًا وغيره، اويا برابر وى د قيمت د لارى نصاب سره د شيانو څخه د تجارت لكه مال د غالى فروش، يا كمبل فروش، يا د برچون دكاندار وغيره چې د تجارت د پاره وى، او دغه نصاب به فارغ وى د پور څخه يعني پر مالك د نصاب به پور نه وى بلكي چې د پور په اندازه كه پړده وى نو پړده باندى زكوة نسته، او دغه نصاب به زائد وى تر حاجت اصلى د ده، لكه د كور شيان كه څه هم غالى وى اويا لوښى يا د سپرېدو آس يا موټر سائيكل يا موټر، او تر تورى توپك، كلاشنكوف وغيره. او دا نصاب به نما اوكته كوونكى وى كه څه هم تقديرًا، تقديرى نما داده چې دغه نصاب د تجارت څخه معطل په صندوق كى ايښى وى او بالفعل تجارت نه په كوى، قوله اوحليًا آه عام تردى كه جائز الاستعمال وى لكه د ښځى د پاره د سرو زرو ګتمى يا نور زيورات او كى استعمال جائز وى لكه د نر د پاره د سرو زرو ګتمى مطلقًا يا د سپينو زرو ګتمى چې يو مثقال يا بالا تر هغه وى،

قوله اوانيةٍ اويا لوښى وى لكه ګلاس، غاب، چاى خورى وغيره د سرو زرو يا سپينو زرو» قوله اوما يساوى اويا په قيمت برابر وى د نقدينو د نصاب سره د اسبابو څخه چې د تجارت د پاره وى

مسئله: كه چا په كور كى غالى ډير قيمت والا د پاره د استعمال نه ده تجارت آوارى وى اويا څوك د سپرتيا د پاره يو ګران قيمته موټر لرى لكن د تجارت په نيت يې نه وى رانيولى،

يا موټر ګاډى يا نور ورته شيان په هغو كى يعني په قيمت كى د هغو زكات نسته، قوله فارغ عن الدين.

پوهه سه: چې مراد د پور څخه هغه پور دى چې د بنده د خوا يه طلب كيږى، كه څه هم د پاره د خدائ وى لكه زكوٰة چې حكومت يې طلب كولاى سى مثلًا پر سړى د بخوا څخه زكات وى، او اوس دوهمه پيسى لرى چې د بخوانى زكات غاړه په وزى فقط، نو پر دغه اوس زكات نسته، اويا خراج ماليه ده محكى پر با ندى وى چې بيت المال يې غوښتونكى دى، اويا يې پور د بنده وى، لكه عام پور وته، اوكه پور وعده لرى وكى نه لرى، او د ښځى د مهر مؤجل په اندازه هم پړده زكوٰة نسته، اوكه بند د خوا مطالبه نه وه لكه نذر يې پوروى پر هغو رو پو زكات سته، قوله وعن حاجته آه لكه د اغوستلو كالى او د اوړيدو شيان او ګرم پوستينان يا چپنى وغيره او نفقه د عيال او سراى ده پاره د سكونت اويا د كرايو د پاره سرايونه چې د تجارت د پاره نه وى، يا آلات د جنګ او جهاد لكه كلاشنكوف، توره، توپك وغيره، يا د كاسب د پاره لكه اهنګر زرګر وغيره د پاره د كسب اسباب، او د سپرتيا شيان لكه موټر وغيره لكه آس او بل يا كتابونه د علمو د هغه چا د پاره چې دى ئى اهل وى يعنى درس يا مطالعه كولاى سى»

مسئله كه د سړى سره روپۍ وى چې د مذكوره شيانو د رانيولو د پاره يې ايښى وى او كال پر تير سى او مصرف كړى يې نه وى زكوٰة پر واجب نه دى، طحطاوى، **مسئله** كتابونه د غير اهل د پاره د حاجت اصلى څخه نه دى لكن په قيمت كى د كتابو زكات نسته چې د تجارت نيت يې نه وى پر كښى كړى» بحر» **فائده**: كه سړي ډير پوستينان د رلوده يا چينى لوښى يا د كور نور اسباب چې حاجت يې ورته نه وو، مګر د تجارت نيت يې هم نه در لودى زكات خو نسته په كښى لكن د بل چا زكات ور ته حرام دى» در، **مسئله** كتابونه د نا اهله د پاره چې قيمت يې ونصاب ته رسيږى، اويا ملا صاحب د ډير و كتابو متعدد ى نسخى لرى اويا د منطقو، حكمتو، يا رياضى كتابونه لرى چې قيمت يې ونصاب ته رسيږى زكات خو پر لازم نه دى لكن د بل زكوٰة ور ته حرام دى، پر دى مسئله كى ملايان بايد غور وكړي يا عمل په وكړي يا يې ردكړي لكن الثانى غير ممكن فتأمل» **مسئله**: د نفقى د پاره كه سړي نقدى روپۍ ايښى وى او كال پر تير سو» مشهوره داده چې زكات په كښى نسته لكن په بحر رائق كى وائ

چې په نقدو روپو کې زکوة سته پرے دول چې ئې اینبي وي که د نفقې دپاره وي او که د نما دپاره وي چې کال پرتیرسي ، والله اعلم ، قال المصنف:

وَشَرْطُ وُجُوبِ اَدَائِهَا حَوَلَانُ الْحَوْلِ عَلَى النِّصَابِ الْاَصْلِي

اوشرط د وجوب داداء د زکوة تیریده دکال دے پر اصلي نصاب باندے

وَاَمَّا الْمُسْتَفَادُ فِي اِثْنَاءِ الْحَوْلِ فَيُضَمُّ اِلَى مُجَانِسِهٖ

او هغه مال چې سړي ته پیدا شي په مابین کې دکال د اصلي نصاب یعنې گته وکړي چې دگتې پر مال کال نه

وَيُزَكِّى بِتَمَامِ الْحَوْلِ الْاَصْلِي سَوَاءٌ اِسْتَفَادَ بِتِجَارَةٍ اَوْ

وي تیره شوې او پر اصلي نصاب کال تیرسي نو دغه گته مال د وړ جوتي کړي و خپل هم جنسه نصاب ته، او د ټول

مِيْرَاثٍ اَوْغَيْرِهٖ

اصلي او عارضي مال زکوة دې ورکړي په تیریدو سره دکال پر اصلي مال باندې، خواه دا عارضي مال یې په تجارت گټلي وي او یا دیو قریب څخه میراث وړ پاته شوی وي او یا په بله توگه لکه یو چا چې ورته هبه کړې وي.

پوښتنه چې سرو زرو او سپین زرو په زکات کې یو جنس دی نو که سړي سره او سپین زر درلوده دکال په مابین کې مثلاً سپین زرو گټله، نو دغه مال دی ود واړو ته ورضم کې، او که سړي دغو واو او بانو او د سپین زرو سرو زرو نصابونه درلوده او د کال په مابین کې نوی غواړې پیدا کړه هغه به دغو نصاب ته جوتوی د نقدینو یا او بانو نصاب ته به ئې نه وړ جوتوی وعلی هذا فقس، قال

وَلَوْعَجَّلَ ذُوْنِصَابٍ لِسِنِيْنَ صَحَّ

که وړاندې وړکې مالک د نصاب زکوة د څو کلو صحیح دی یعنې د هر څو کلو صحیح دی یعنې د هر څو کلو زکوة چې ورکړي د هغومره کلو غاړې یې خلاصوي، مثلاً یو سړي د ری ۳۰۰ سوه روپۍ درلودې او کال پرتیر سو نو یې سل روپۍ د هغو څخه په زکوة د شلو کلو ورکړي روا ده، ولې چې نصاب چې دوه سوه روپۍ دی هغو هم پاته دي،

مسئله: که سړي تر دوه سوه روپۍ کمې درلودې، نو څه ترکال یې پنځه روپۍ د دوه سوه روپو زکوة ورکړې وروسته کال پوره سوا و نصاب هم پوره سو هغه مخنی زکوة یې نه دی صحیح ولې چې هغه وخت خو نصاب نه وو پوره نو زکات مفروض نه وو، **مسئله**: که چیرې سړي تعجیل وکړي او زکات یې ورکړي په مابین کې دکال نصاب نه ود تاوان سو که څه هم په اخیر کې د کال بیرته نصاب کامل سي هغه زکات یې نه دی صحیح کذا فی الطحطاوی، قال المصنف:

وَشَرْطُ صِحَّةِ اَدَائِهَا نِيَّةٌ مُقَارِنَةٌ لِاَدَائِهَا لِلْفَقِيْرِ اَوْوَكِيْلِهٖ

او شرط د صحیح والي داداء د زکوة نیت دی چې جوت به وي د وخت سره د ورکړې د زکات و فقیر ته او یا

اَوْعَزْلِ مَاوَجَبَ وَلَوْمُقَارَنَةً حُكْمِيَّةً كَمَا لَوْدَفَعَ لِلْفَقِيْرِ

بې نیت جوت وي د وخت سره د ورکولو د روپو د زکات و وکیل ته، نو بیا کې وکیل بیله نیت د زکوة ورکړي صحیح دی او نیت د موکل

بِلَانِيَّةٍ ثُمَّ نَوٰى وَالْمَالُ قَائِمٌ بِيَدِ الْفَقِيْرِ

کافی دی حتی که یو مالدار سړي د زکات روپۍ وهند و ته ورکړې او ورته وئې ویل چې ته زما وکیل یې په فقراء و یې وو یشه هم صحیح دی، ولې اعتبار نیت لره د موکل دی، ط در، او یا یې نیت جوت وي د هغه وخت سره چې دوې روپۍ د زکات د نورو ماله څخه جلا کوې یعنې یو سړي د زکات مقدار روپۍ جلا کړي د نورو روپو څخه او د ایې نیت وکړي چې د دغه روپۍ به زه په زکوة کې ورکوم د غه مقارنت کافي دی بیا د هغو روپو څخه چې کم مسکین ته یې ورکوې نیت د زکوة نسي ورته حاضر زکات یې صحیح دی، او که څه هم دا مقارنت حکماً وي لکه یو سړي چې مسکین ته یو اندازه روپۍ ورکړې او په دغه وخت کې د زکوة نیت نه وې، وروسته نیت د زکوة وکړي صحیح دی لکن چې هغه مال به پلاس کې د فقیر موجود وي یعنې صرف کړې به ئې نه وي، قال المصنف:

وَلَا يُشْتَرَطُ عِلْمُ الْفَقِيْرِ اَنَّهَا زَكٰوةٌ عَلَى الْاَصَحِّ

او نه دی شرط علم د فقیر پر دې چې دغه روپۍ د زکات دی پر اصح روایت حتی که فقیر ته ئې یو اندازه

حَتّٰی لَوْ اَعْطَاهُ شَیْئًا وَسَمَّاهُ هِبَةً اَوْ قَرْضًا وَنَوَی الزَّکٰوةَ صَحَّتْ

یوه اندازه روپۍ ورکړی او په خوله یې ورته وویل چې دا روپۍ هبه ده او یا قرض دی اوده نیت د زکات کړی وو زکات یه صحیح سُو»

پُوښتنه: بعض زکوٰة ورکوونکی تصریح په دی سره کوی چې دا روپۍ په زکوٰة کی واخله نو د دے تصریح څه فائده ده **جواب** د دی تصریح دا فائده ده چې د غنی په یو سړی د مسکین ګمان وی لکن په حقیقت حال نه وی خبر نو دی تصریح په زکوٰة د دی سببه کوی چې د غه سړی که غنی وو، نو بیا ورته ووائی چې زه غنی یم ما ته زکات نه دی روا. لکن په دی زمانه کی دا تصریح فائده نه لری بلکه اعتبار غالب الظن ته د زکات ورکوونکی دی، ولی چې هغه بل سړی که څه واړه غنی وی خصوصًا د مسجد مُلا صاحب هغه نه ورته وائی چې زه غنی یم زکات ما ته نه دی روا بلکه غالبًا به دا ورته ووائی چې کور دی ودان پر ځنګه سپوخت دی زما د احتیاج زکات را کړی»

مسئله: که یو سړی په نیت د زکوٰة وکښنیا نو ته د فقیر قریب د اختر په مبارکی کی روپۍ ور کړی، یا یو چا مسکین زیری پر غنی وکړی ده په زیری کی روپۍ ور کړی لکن په نیت د زکات صحیح ده غاړی د زکوٰة یه خلاصیږی، **مسئله** که یو شاګرد واستاذ ته یاد عِلم یاد صنعت روپۍ په نیت د زکات ورکړی، نوکر داسی وو چې د غه شاګرد روپۍ نه وای ورکړی هغه تعلیم نه ورته کاوه نو د زکات غاړی یه نه په خلاصیږی» اوکه په داسی حال کی معلم وو چې روپۍ یه نه وای ورکړی هم یه تعلیم ورته کاوه، نو د زکوٰة غاړی یه په خلاصیږی **مسئله**: که یو غنی په قصد د نذر او یا بل واجب مسکین ته روپۍ ورکړی، د زکوٰة غاړی یه نه خلاصیږی»

تنبیهانه که د یو غنی پر مسکین پور باندی وو چې هغه پور نه سوای ادا کولای

فائده نو داسی خو یه د زکوٰة غاړی نه خلاصیږی چې مسکین ته ووائی چې هغه زما پور په زکوٰة کی قبول کړه، بلکه داسی دی وکړی چې مسکین ته دی زکات ورکړی بیا دی ورته په زور دی دلاسه څندی وکاږی اوکه د اغنی وکړه بیا هغه مسکین روپۍ او پور نه ورکاوه په زور دی دلاسه څندی وکاږی اوکه هغه شی نه سوای کولای قاضی ته دی بوزی چې هغه یه څندی

د واخلی » ط د » قَالَ المصنفؒ:

وَلَوْ تَصَدَّقَ بِجَمِیْعِ مَالِهٖ وَلَمْ یَنْوِ الزَّکٰوةَ سَقَطَ عَنْهُ فَرْضُهَا

که سړی خیرات کړی ټولی روپۍ یعنی نصاب پوره وو او کال هم تیر سوی وو اوده نیت د زکات نه وو پکښی کړی نو په د غه خیرات سره زکات فرضی ساقط سو» قَالَ المُصنفؒ:

وَزَکٰوةُ الدَّیْنِ عَلٰی اَقْسَامٍ فَاِنَّهٗ قَوِیٌّ وَ وَسَطٌ وَضَعِیْفٌ

او زکوٰة د پور پر درې قسمه دی یعنی په اعتبار د پور لیعنی پور پر درې قسمه دی قوی، اوسط، ضعیف

فَالْقَوِیُّ هُوَ بَدَلُ الْقَرْضِ وَمَالُ التِّجَارَةِ اِذَا قَبَضَهٗ

نو قوی پور هغه دی چې یا په بدل کی د قرض وی یعنی چا ته قرض روپۍ ور کړی وی او پور یه پر باندی وی، او یا د تجارت د مال بدل وی یعنی یو شی پر خرڅ کړی وی چې دا سې هغه پور قبض کړی»

قَالَ المصنفؒ **اَوْ کَانَ عَلٰی مُقِرٍّ وَلَوْ مُفْلِسًا اَوْ عَلٰی جَاحِدٍ وَعَلَیْهِ بَیِّنَةٌ**

او یا دا پور یه باندی وی پر هغه چا چې وی هغه په د غه پور اقرار کوی که څه هم مُفلس وی، او یا د غه پور وړی پس منکر وی خو پر هغه منکر پوره ګی شاهدان وی» قَالَ المصنفؒ:

زَکَاهُ لِمَا مَضٰی وَیَتَرَاخٰی وُجُوْبُ الْاَدَاءِ اِلٰی اَنْ یَّقْبِضَ

نو د غه سړی به زکات ورکوی د تیرو کلو یعنی هر څو کاله چې دا پور د ده باندی وی او د ده لاس ته نه وی رسیدلی او واجب دی دا داء په ځنډیږی تر هغه وخته پوری چې څلویښت روپۍ قبض کوی نو په هغو کی یو درهم دی

دِرْهَمًا فَفِیْهَا دِرْهَمٌ لِاَنَّ مَادُوْنَ الْخُمُسِ مِنَ النِّصَابِ

ولی چې تر پنځمی کم نصاب چې څلویښت روپۍ دی یعنی ۴۰ روپۍ د ۲۰۰ روپو پنځمه حصه کیږی

عَفُوٌ لَازَكٰوةَ فِيْهِ وَكَذَا فِيْمَا زَادَ بِحِسَابِهٖ نسته پکښې، او دغه هغه کم عفوه دی زکوٰة

رنگه دی زکوٰة ورکوی د با لا بود روپو چې قبض یې کړی په حساب د څلویښتو روپو، قَالَ

وَمُتَوَسِّطٌ وَهُوَ بَدَلُ مَالَيْسَ لِلتِّجَارَةِ كَثَمَنِ ثِيَابِ الْبِذْلَةِ

او بل میانه پوروی لکه قیمت د هغه شیانو چې د تجارت دپاره نه وی مثلاً قیمت د کالود استعمال کېدو

وَعَبْدِ الْخِدْمَةِ وَدَارِ السُّكْنٰى اغوستلو کالي وی او که داوریدو شیانو یعنې یو سړي دغه د استعمال شیان په پور چا ته ورکړی، او پور یې پر باندی وي، او یا یې خپل د خدمت مریی پر چا خرخ کړی وو او روپۍ پر باندی وي، او یا د استوګنې سرای ئې پر چا خرخ کړی وی او روپۍ ئې پر باندی وي،

پوښتنه: د خپلې سپې تیا موټر چې پر چا خرخ کړي او روپۍ ئې پر باندی وی هغه هم وسط پور دی، قَالَ المصنفؒ:

لَايَجِبُ الزَّكٰوةُ فِيْهِ مَالَمْ يُقْبَضْ نِصَابًا وَيُعْتَبَرُ لِمَا مَضٰى

نو په دغه وسط پور زکات پر ده نسته ترهغو پوری چې یو نصاب روپۍ یې قبض کړی نه وی، او اعتبار

مِنَ الْحَوْلِ مِنْ وَقْتِ لُزُوْمِهٖ فِيْ ذِمَّةِ الْمُشْتَرِيْ فِيْ صَحِيْحِ الرِّوَايَةِ

کال د زکوٰة د هغه وخت څخه پر ده لازم دی چې د ده دغه پور په ذمه کی د مشتری لازم شوی دی په صحیح روایت کی، **پوښتنه:** چې په دین وسط کی دوه روایته دی، یو روایت دی د مبسوط وغیره هغه دغه مذکور فی المتن دی، یعنې د زکات اداء د دغه پور هغه وخت پر ده لازمه ده چې دوه سوه روپۍ د دغه پور وکا زی د پوره وړی څخه او د کال تیریده د وخت څخه د لزوم پر مشتری باندی نه د وخته څخه د قبض، او بل روایت دی د ابن سماعهؒ د امام اعظم څخه په هغه روایت کی وائي: چې د وخت څخه د قبض د ۲۰۰ روپۍ چې کال پر تیر سی، نو

زکوٰة یې واجب الاداء دی نه د وخت څخه د لزوم پر مشتری، و دلائل الروایتین و وجه صحة روایة المتن فی الکتب المبسوطة فراجعها، قَالَ المُصنفؒ:

وَالضَّعِيْفُ وَهُوَ بَدَلُ مَالَيْسَ بِمَالٍ كَالْمَهْرِ وَالْوَصِيَّةِ

او بل ضعیف پور دی هغه هغه پور دی چې بدل د مال څخه نه وی، لکه ولور د مایني چې پر میړه

وَبَدَلُ الْخُلْعِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمَدِ وَالدِّيَةِ وَبَدَلُ

باندی او کال پر تیر سی، او یا سړي وصیت وکړی چې مثلاً زما د دې یمی زر روپۍ فلانی ته ورکړي، نو ته

الْكِتَابَةِ وَالسِّعَايَةِ لَايَجِبُ فِيْهِ الزَّكٰوةُ مَالَمْ يُقْبَضْ

هغه روپۍ وځند ولی چې یو کال پر تیر سو بیا یې ورکړي، او یا دغه پور بدل وی د صلح د دم عمد یعنې یو

نِصَابًا وَيَحُوْلُ عَلَيْهِ الْحَوْلُ بَعْدَ الْقَبْضِ سړي یو چا په قصد سره مړ کړي بیا ورثه و د

مقتول د قاتل سره صلح پر یوه اندازه روپو باندی وکړه، هغه روپۍ قاتل وځنډولی یو کال او بیا یې ور کړي، او یا بدل د خلع وی یعنې مایني میړه ته وویل چې ما ایله که زه به دوني روپۍ در کړم، نو میړه هم قبول کړه، لکن مایني هغه د خلع بدل روپۍ یو کال وځنډولی او بیا یې ور کړي، او یا دیت وی مثلاً یو سړي بل سړي په خطا مړ کړی چې د هغه دیت پر عاقله د وژل کوونکي لازم دی لکن هغوی پور وځنډ اوه یو کال مثلاً او بیا یې ور کړی، او یا بدل د کتابت وی لکه چې مریی بادار ته ووائي چې ما مکاتب کړه زه مثلاً په دوو میاشتو کی تاته زر روپۍ در کړم هغه قبول کړه لکن مریی دغه بدل یو کال وځنډ اوه او بیا یې ور کړي، او یا سعایة لکه سړي چې نیم مریی مثلاً آزاد کړی او ورته ووائي چې ته کوشش وکړه د هغه بل نیمی روپۍ ماته برابری کړه، نو مریی یو کال هغه نوری روپۍ وځنډولی او بیا یې ور کړي، نو په دی ټولو صورتو کی هم هغه سړي زکات نسته، ترهغو چې یو نصاب روپۍ یا بالاتر هغه قبض نه کړی، او پس قبض

کړي روپو نوی کال تیرنه سي» قــال المُصنفؒ

وَهٰذَا عِنْدَ الْاِمَامِ وَاَوْجَبَا عَنِ الْمَقْبُوْضِ مِنَ الدُّيُوْنِ

او دا فرق په مابین کی د قوی او د وسط او د ضعیف پورو لکه چی تاسی واوریدی په نیز د امام اعظمؒ دی او یاران و وائی زکوٰة د مقبوض رپو

الثَّلَاثَةِ بِحِسَابِهٖ مُطْلَقًا واجب بولی په دریو قسمو کی د پورو ومطلقًا کی لږ قبض کړی او که ډیری» والدلائل فی الکتب المبسوطة. قــال المصنفؒ:

وَاِذَا قَبَضَ مَالَ الضِّمَارِ لَاتَجِبُ الزَّكٰوةُ لِلسِّنِيْنَ الْمَاضِيَةِ

که یو سړی قبض کړی مال د ضمار یعنی سره دا شکال د مال ضمار که ده قبض کړی د تیرو کلونو زکوٰة نسته باندی

پُوه سه: چی مال ضمار هغه مال ته وائی چی رسیده وهغه ته ډیر مشکل وی لکه چی د مثال په توګه

قــال المصنفؒ: **وَهُوَ كَاٰبِقٍ وَمَفْقُوْدٍ وَمَغْصُوْبٍ لَيْسَ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ**

د مال ضمار یو مثال لکه مرئی یو بیا ډیر چی وتښتی یا ورک سی لکن د تجارت د پاره وی وروسته هغه مرئی پیدا کړی، بل مثال په دا دی چی مال د سړی که نغدی وی او که تجارتی مال وی خولک یه څُندی غصب کړی او مالک شاهدان نه لری، لکن اخر غاصب پښیمانه سی او هغه مال یه ورکړي» قــال المُصنفؒ

وَمَالٍ سَاقِطٍ فِى الْبَحْرِ وَمَدْفُوْنٍ فِىْ مَفَازَةٍ اَوْدَارٍ عَظِيْمَةٍ

یا د سړی تجارتی مال په دریاب کی غرق سو بیا څو کال د دریاب څخه په یوه زرلو لاس ورغلی، بل مثال په هغه مال او نغود دے چی ده ښخ کړی وی په بیابان کی، او یا په لوی سرای کی او ځای د ښخید وخُندی هیروی، بخلاف

وَقَدْ نَسِىَ مَكَانَهٗ وَمَاْخُوْذٍ مُصَادَرَةً د هغه تولو سرای شنل ممکن دی چی کشنی سرای وی ولی دی، بل مثال په دادی چی یو اندازه مال ظالم په زور دده څخه اخستی وی چی دده زور نه په رسیدی

مثلاً حکومت وقت په زوره څُندی اخستی وی او ضبط کړی وی وروسته هغه حکومت پښیمانه سی یا بل عادلانه حکومت قائم سی او دده مال بیرته لاس ته ورسی، قــال المُصنفؒ:

وَمُوْدَعٍ عِنْدَ مَنْ لَا يَعْرِفُهٗ او یا یه مال امانت ایښی وی دا سی چا ته چی دی ئی نه پیژنی، لکن هغه سړی د دی سړی مال ورته راوړی، بخلاف د دی چی مال په وه شناخته سړی ته ایښی وی او بیا څُندی هیروی په هغه باندی د تیرو تیرسوو کلونو زکات لازم دی، ولی نقصان په ده کی دی څرنګه شناخته سړی څُندی هیرسو، قــال المُصنفؒ:

وَدَيْنٍ لَابَيِّنَةَ لَهٗ عَلَيْهِ او یا یه پور پر چا باندی وی او هغه پور وړی پر منکروی او دی هم شاهدان نه پرلری، وروسته هغه پوروړی خپله پښیمانه سی او مال یه ورته راوړی، درویش وائی چی په د غه تولو مثالو کی د مال ضمار چی مالک ته په بیله ډیرو کلو لاس ته ورسی، د تیرو کلونو زکوٰة باندی نسته بلکه چی بیله وصوله کال پر تیرسی بیاد یو کال زکات پر کیږی» قــال المُصنفؒ:

وَلَا يُجْزِءُ عَنِ الزَّكَاةِ دَيْنٌ اَبْرَءَ عَنْهُ فَقِيْرٌ بِنِيَّتِهَا

او کفایت د زکوٰة څخه نسی کولای یعنی د زکات غاړی نه په خلاصیږی، هغه پور چی د یوه غنی یوه فقیر باندی وی او ابراء ورکړه سی وهغه ته په نیت د زکات» درویش وائی چی د دی مسئلی تول بیان وړاندی عنقریب تیرسو» قــال المصنفؒ:

وَصَحَّ دَفْعُ عَرَضٍ وَمَكِيْلٍ وَمَوْزُوْنٍ عَنْ زَكَاتِ

او صحیح دی ورکول د عرض یعنی کالی کمبلی لوښی وغیره، او هغه شی چی په پیمانه خرڅیږی لکه غنم

النَّقْدَيْنِ بِالْقِيْمَةِ خرما او وریشی وغیره په اصطلاح د عربو، او یا په ترازو تلل کیږی لکه وسپنه قلعی وغیره په زکات کی د نغدو یعنی سپین زر یا سره زر لکن په قیمت د عرض او د مکیل او موزون، یعنی دا سی غاړی نه په خلاصیږی چی دلسو روپو،

عرض وغيره دسلورو پو نغد په زکات کی ورکړی، لکه بعض عوام چی داغسی حیله جوړه وی چی یو مسکین یو جوړه کالی ورکړی چی مثلاً قیمت یې لس روپۍ وی اودی مسکین ته ووایی چی دغه کالی دسلورو پو په زکوة کی قبول کړه مسکین کالی غیمت وبولي. وړته ووائی بنردی لکن دغنی فقط د لسو روپو د زکات غاړی یه خلاصیږی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِنْ اَدّٰی مِنْ عَیْنِ النَّقْدَیْنِ فَالْمُعْتَبَرُ وَزْنُهُمَا اَدَاءً کَمَا اُعْتُبِرَ وُجُوبًا

اوکه سړي زکات ورکاوه دخودی نقد ینو څخه نومعتبر یې وزن دی په اداء کی لکه چی وزن د دوی معتبر وو په وجوب کی یعنی د نصاب په باره کی، مطلب دادی چی قیمت ته دسپین زرو اوسرو زرو اعتبار نشته، مثلاً په سرو او سپینو زرو کی جید اوردی چی په قیمت کی ډیر فرق سره لری. او یا یو ګینړه دښځو دسرو زرو څخه مثلاً جوړه سوی وی چی قیمت یه ۳۰ مثقاله وی مثلاً لکن سره زر په کښی ۲۰ مثقاله کارسوی وی نومعتبر وزن دی قیمت نه دی، اودا مذهب دی دامام اعظمؒ اودامام ابویوسفؒ اوامام زفرؒ وائی چی قیمت ته اعتبار دی. اوامام محمدؒ وائی چی هریو قیمت اووزن څخه چی د فقیرفائده په کښی وی معتبردی

فَائِدَةُ الْاِخْتِلَاف:

پریوسړی پنځه درهمه د ښو سپینو زرو زکوة واجب وو دهد بیکاره سپینو زرو څخه چی په وزن پنځه درهمه وه ورکړه فقیرته چی قیمت د هغو یې جیاد سره څلور درهمه کیدی، نو په نیزد شیخینوؒ زکات یې صحیح دی، ولی چی وزن خو یې برابردی لکن سره د کراهت اوامام محمدؒ اوزفرؒ وائی چی زکات یې ترهغو نه دی صحیح چی هغه بالابود دقیمت ورنه کړی، امام زفرؒ پرمذهب خوظاهره ده ولی چی دی قیمت ته اعتبار ورکوی، اودامام محمدؒ په نیز چی انفع للفقیر ته اعتبار ورکوی د دی سببه غاړی نه خلاصیږی چی شك نشته چی انفع وفقیرته خومودی سره د فضله دی، فافهم، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتُضَمُّ قِیْمَةُ الْعُرُوْضِ اِلَی الثَّمَنَیْنِ وَالذَّهَبُ اِلَی الْفِضَّةِ قِیْمَةً

اوضـ... قیمت دعروض یعنی چی د تجارت دپاره وی و سپینو زرو یا سرو زرو ته

چی د مجموع زکات د نقد ینو څخه ورکړی روا ده، او دغه رنګه ضم کړه کیږی سره زر وسپینو زرو ته په اعتبار دقیمت د سرو زرو چی نو زکات د مجموع د سپینو زرو څخه ورکړی،

قَالَ الْمُصَنِّفُ: وَنُقْصَانُ النِّصَابِ فِی الْحَوْلِ لَا یَضُرُّ اِنْ کَمَلَ فِیْ طَرَفَیْهِ

او نقصان دنصاب په مابین کی دکال تاوان نه لری یعنی زکوة نه په ساقطیږی کچیری هغه نصاب په سر او پای کی دکال پوره وو، مثلاً یو سړی دوه سوه ۲۰۰ درهمه په سرکی دکال درلوده، نو ده بیا بوشی دګتی په امید په رانیوی، مګر په وروسته کی د هغه شی قیمت ۱۰۰ سل روپۍ راکښته سو، مال پروت وو رفته رفته په اخیرکی دکال بیرته دوه سوه ۲۰۰ روپوته ورسیدی نو زکوة کامل پر واجب دی،

قَالَ الْمُصَنِّفُ: فَاِنْ تَمَلَّكَ عَرَضًا وَهُوَ لَا یُسَاوِیْ نِصَابًا وَلَیْسَ لَهٗ غَیْرُهٗ

که دسړي په ملک کی وو یو عرض هرشی چی وی د تجارت دپاره لکن قیمت د هغه شی په ابتداء کی دکال

ثُمَّ بَلَغَ قِیْمَتُهٗ نِصَابًا فِیْ اٰخِرِ الْحَوْلِ لَا تَجِبُ زَکٰوتُهٗ

نصاب ته نه رسیدی مثلاً قیمت یې سل روپۍ وو لکن دی سړي چی تجارت شروع کی رفته رفته دی په اخیرکی دکال دوه سوه ۲۰۰ ته ورساوه. نو د دغه کال زکات باندی نشته، تاچی

لِذٰلِكَ الْحَوْلِ

بل کال پرتیریږی، لکن شرط دادی چی بل شی د نقد ینو څخه به دی نه لری چی نصاب په اول کی دکال په پوره سی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَنِصَابُ الذَّهَبِ عِشْرُوْنَ مِثْقَالًا وَنِصَابُ الْفِضَّةِ

او نصاب د سرو زرو شل مثقاله دی او نصاب د سپینو زرو ۲۰۰ دوه سوه درهمه دی د

مِائَتَا دِرْهَمٍ مِنَ الدَّرَاهِمِ الَّتِیْ کُلُّ عَشَرَةٍ وَزْنُ سَبْعَةِ

هغو درهمو څخه چی هر لس درهمه یې اوه مثقاله وی، او هغه روپۍ سړي یاسپیق، چی ترشل

وَمَازَادَ عَلٰى نِصَابٍ وَبَلَغَ خُمُسًا زَكَّاهُ بِحِسَابِهِ

مثقاله بالاسي اوياد هغو درهمو څخه چې هر لس درهمه يه اوه مثقاله وي، اوهغه روپۍ سرې يا سپينې چې ترشل مثقاله بالاسې اويا تر دوه سوه درهمه بالاسې، لكن پنځمې حصې ته د نصاب ورسيږي يعني ۴ مثقاله د سرو زرو يا ۴۰ درهمه د سپينو زرو نو زكات بې په حساب د نصاب وركوي"

پوهسه: پوهسه چې دپاره دپيژند گلوى دمقدار د دينار اودرهم چاره نشته، چې د هغو كسو به سرې پيژنى، نو واوره چې دينار شپږ حبې دى، اوحبه دوه ارېشى ده نو د حبې اربشى ۱۲ كيږيه او اربشه ۲ خردله ده، اوخردل ۱۲ فلس دى، اوفلس ۲ فتيله دى، او فتيل ۲ نقيردى، اونقير ۲ قطيردى، اوقطمير ۱۲ ذرة دى، نوتر په ضرب سره د دينار ذرې معلومې كړه، اوهغوې ذرې چې غونډې كړې دينار به څنډى جوړسى، اودرهم خوهغه دى لكه مصنفؒ چې وويل لس درهمه اوه مثقاله كيږي، او **پوهسه**: چې مثقال او دينار يوشى دى، نو په بل عبارت پيژند گلوى دمثقال اودينار داسې كيداى سي چې يو دينار شل قراط دى، اودرهم ۱۴ قيراط دى، اوقيراط پنځه اربشې دى، نو په دې حساب دينار ۱۰۰ اربشې دى، اودرهم ۷۰ اربشې دى"

تنبيه: درهم چې ۱۴ قيراط هغه درهم شرعي اودرهم متعارف ۱۲ قيراط دى، نو مقدار د نصاب د دراهمو متعارفوو په حساب ۲۰۰ درهمه دى، اودرهم شرعى په حساب ۱۷۵ كذا قال الامام الطحطاويؒ" اوبعض متاخرينؒ چې دهبنا اووطن خپل دراهم معتبردى په نصاب كى لكه افغانى په افغانستان كى، كالدارې په پاكستان كى، ريال په سعودى كى په فتح القدير كى وائى: وهوالحق، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ" **فائده**: علامه طحطاويؒ په مصنفؒ باندى داسې نيوكه كړيده، چې مناسب داوه چې پر سپينو زرو مصنف د مخه تر سرو زرو خبره كړې واى، ولې چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم وعمالو ته خپل اول د سپينو زرو نصاب اوزكوة بيانوى بيا به ئې بيانوى د سرو زرو، اوبل دا چې په خلكو كى عمومًا

اوالترا سپين زر رواج دى، نو ددى سببه مهر ښځو اونصاب د سرقه هم دد غه سپينو زرو په روپوسته كل كيږي، **درويش** وائى چې شايد مصنفؒ ددى لپاره د سرو زرو نصاب ذكر كړى وي چې سره زر خواعزد نقدينو وه، نوحلك چې په دى پوهسى چې په كى دنقدينو زكات نو پر سپينو زرو به دلاورسى، د زكات په باره كى" قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمَا غَلَبَ عَلَى الْغِشِّ فَكَالْخَالِصِ مِنَ النَّقْدَيْنِ

اوهغه سكه وبلى زر چې زر په ترقوتو ډيروى، نو هغه لكه خالص زر داسې دى يعني په نصاب اوزكوة البته كى غش غالبه وه هغه حكم د عروضو لرى په اعتبار د قيمت يې زكات سته،

وَلَا زَكٰوةَ فِى الْجَوَاهِرِ وَالْاٰلِىْ اِلَّا اَنْ يَّتَمَلَّكَهَا بِنِيَّةِ

اوزكوة نشته په جواهراتو كى لكه عقيق، مرجان، يا قوت، اونور د دغه قسمه جواهرات اونه په ملغلروكى زكوة سته، مگر هغه وخت بيا زكات

التِّجَارَةِ كَسَائِرِ الْعُرُوْضِ

پكښې سته، يعني په اعتبار د قيمت دهغو كړده په ملك كى د غه جواهرات وغيره اوسَلى وه په نيت د تجارت، **پوهسه**: چې امام طحطاويؒ د درمخه نقل كړى دى، چې غير د سرو زرو او سپينو زرو اوغير د سوانه وهرشى چې موتران وى كه سرايونه وى كه غالى وى كه جواهرات وغيره وى، په هغو كى زكوة نشته مگر چې په نيت د تجارت په رانيولى وى په وخت د عقد كى، **مسئله**: كه سړي يوشى د دغو شيانو رانيوى اوپه وخت كى د عقد په نيت د تجارت نه وروسته، په نيت د تجارت په كښې وكړي زكات نشته باندى" ط" **مسئله** كه يوچا د دغو شيانو نه څخه يوشئ رانيوى دپاره د استعمال اونيت يې داووكړ چيرې به گټه پر اغله خرخوم يې تر هغو چې خرڅ كړي يه نوى زكات په كښې نشته در، ط،

قال المصنفؒ

وَلَوْ تَمَّ الْحَوْلُ عَلٰى مَكِيْلٍ اَوْ مَوْزُوْنٍ فَغَلَا سِعْرُهٗ

اوكه په كيلى شى لكه غنم وريشى، جوارې، ورجې وغيره اويا په وزنى شى لكه وسپنه وغيره كال تير سو يعني د تجارت دپاره ئى

أَوْ رُخِصَ فَأَدّٰى عَنْ عَيْنِهٖ رُبُعَ عُشْرِهٖ اِجْزَئَهٗ وَلَوْ اَدّٰى

زیتول وه، نو رخ د غوښیانو پورته سو او یا کښته سو نو که د غه تجار د عینی د غوښیانو ځخه غلر مه د لسمی حصی ورکړه د زکات غاړی

مِنْ قِيْمَتِهٖ تُعْتَبَرُ قِيْمَتُهٗ يَوْمَ الْوُجُوْبِ وَهُوَ تَمَامُ

په غه حیسوی، او که د قیمت ځخه د غوښیانو زکات ورکړی، نو حضرت الامام الاعظمؒ چی هغه ته یه اعتبار دی چی

الْحَوْلِ عِنْدَ الْاِمَامِ وَقَالَا عِنْدَ يَوْمِ الْاَدَاءِ لِمَصْرِفِهَا

پرد زکات د غوښیانو واجب سو چی حولان د کال دی، او یارانؒ وائی چی قیمت د هغه ورځی معتبر دی چی دی یه و مصارفو ته د زکوٰة ورکوی، قال المصنفؒ:

وَلَا يُضْمَنُ الزَّكَاتَ مُفْرِطٌ غَيْرُ مُتْلِفٍ فَهَلَاكُ الْمَالِ بَعْدَ

او د زکات ضامن نه دی هغه سړی چی په اداکولو کی د زکوٰة ئی تفریط کړی وی یعنی پر مال کال تیر سو لکن مالک د مال بیله عذره زکات و ځنډوی حتیٰ چی مال

الْحَوْلِ يُسْقِطُ الْوَاجِبَ تو له بیله د ده د صنع هلاک سو مثلاً غلو ځنډي یو وړی او یا ځندی وړک سو وغیره، نو دی ضامن د زکات نه دی، نتیجه دا سوه که مال تول بیله تمام الحول هلاک سو، نو هغه واجب زکات ساقط سو که څه هم ده په اداء کی تفریط کړی وی

قال المصنف وَهَلَاكُ الْبَعْضِ حِصَّةً وَيُصْرَفُ الْهَلَاكُ اِلَى

او د بعض مال بلاک ساقطوی حصه د هغه بلاک مال زیاتی مال زکات پر ستره، او مرفول کیږی بلاک اولاً و هغه قدر ته چی عفوه

الْعَفْوِ فَاِنْ لَمْ يُجَاوِزْهُ فَالْوَاجِبُ عَلٰى حَالِهٖ

دی یعنی زکات نه وی پکښی، نو که بلاک تر عفوی نه سو بالا نو د ټوله مال زکات پر لازم دی یعنی هغه چی باقی مال دی،

مثلاً یو چا سره اوښان درلوده، نو پر ده خو یو پسه کیږی او یو اوښ عفوه دی، نو که پله تمام الحول یو اوښ هلاک سو نو پر ده پوره پسه کیږی هغه هلاک متوجه و عفوی ته دی، نور اموال د تجارت هم پر د غه قیاس کړه، فتفکر، قال المصنفؒ:

وَلَا تُؤْخَذُ الزَّكَاةُ جَبْرًا وَلَا مِنْ تَرِكَتِهٖ اِلَّا اَنْ يُّوْصِيْ بِهَا

او نه دی اخستل کیږی زکات په زوره او نه زکات دی اخستل کیږی د میراث ځخه د ده مګر نه که مړی د خوا ځخه وصیت کړی سوی وی په زکات نو له مړی وصیت

فَتَكُوْنُ مِنْ ثُلُثِهٖ د زکوٰة کړی وی نو بیا دی قدر د زکوٰة د دریمی ځخه ورکړی فقط کی غاړی به خلاصیږی او که نه ولی چی دوه ثلث خو ده ورثه و حق دی، الا ان یتبرعوا به.

وَيُجِيْزُ اَبُوْ يُوْسُفَ الْحِيْلَةَ لِدَفْعِ وُجُوْبِ الزَّكٰوةِ وَكَرِهَهَا

او روا بولی امام ابو یوسفؒ حیله د پاره د دفع د وجوب د زکوٰة، او امام محمدؒ یه مکروه بولی مثلاً یو سړی دا سی مال درلودی

مُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا که کال پر تیر سوی وای پر ده زکوٰة واجبیدی لکن ده په مابین کی د کال هغه مال وچاته و بخښه بیا چی کال پوره سو او هغه مال په نیز د موهوب له موجود وو بیا دوباره واهب رجوع په هبه کی وکړه، او هغه مال یه د ځنه بیرته واخستی یا په رضا او یا په قضا د قاضی، نو د د غه مال پر یوه باندی زکات نسته، لعدم حولان الحول عند احدهما، خانیه ط وفی المعراج، که یو سړی اوښان چی نصاب یه پوره وو، نو د یوه ورځ تر کال پوره کیدو د مخه خرځ کړه فرارًا عن وجوب الزکوٰة، قال محمد یکره وقال ابو یوسفؒ لا یکره وهو الاصح، او که د کور د نفقی د پاره خرځ کړه لا یکره بالاجماع وتمام هذا البحث فی البحر، درویش وائی چی خدای جل سلطانه چی سړي ته دو نه مال ورکړی چی پر ده زکوٰة واجبیدی نو مناسب دا ده چی د پاره د اسقاط د حق الله چی زکات دی حیله ونه کړی، وَلَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ، ایت کریمه دی، او شک نسته چی زکوٰة شکر د مال دی،

بَابُ الْمَصْرِفِ

باب ثابت دی په بیان کی دمصرف دزکوٰة

پوښـتـنـه چی دمصرف تعریف قهستانیؒ په اصطلاح کی دَشرع په داسی ډول کړی دی چی هغه مسلمان دی چی هغه ته ورکول دزکات روا وی» **فـائِـدَه**: مصنفؒ دباب په عنوان کی داسی ونه وَیل، باب مصرف الزکوٰة » که څه هم بحث خود زکات دی، ددی دپاره چی مصرف الزکوٰة مصرف العشر، مصرف خمس المعادن» ته هم شامِل سی، چی دمعادنو دخمس المصرف بیت المال دی

فـائِـدَه: په قرآن شریف کی دزکوٰة اته ۸ مصارف ذکرسوی او مصنفؒ اوۀ مصارف ذکرکړه، ولی چی مؤلفة القلوب چی په قرآن مبارك کی ذکرسوی دي د هغو برخه په اجماع دصحابه کرامؓ ساقطه سوه»

پوښتنه: مؤلفة القلوب څه کسان وه چی صحابه کرامؓ د مصرفیت څخه والیستل»

جـواب: مؤلفة القلوب هغه ضعیف الایمان مسلمانان وَه چی د اسلام سره ئې قوی رابطه نوه، نوآن حضرت صَلَّی اللّٰهُ علیه وَسَلم په امرالهی ودوی ته په صدقاتوکی و نډه ورکړل تا چه دایمان سره ئې علاقه په مرور د زمان ټینگه سی، نوځکه اضافه دمصرف دصدقاتو په قرآن مبارك کی اشره ذکرسوی دي، قَالَ اللّٰهُ تعالیٰ: اِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَآءِ الی ان قال وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ الآیة

پوښتنه: چونکه دمؤلفة القلوب په قرآن کی ذکرسوی دی نود صحابه کرامؓ په قول څرنگه منسوخه کیدای سی، **جـواب**: په اصولو کی دفقه راغلی دی چی اجماع دصحابه کرامؓ دلیل قطعی دی، نوکیدای سی چی ناسخ دقرآن وگرځي: والتفصیل یطلب من کتب فن الاصول

قال المصنفؒ **هُوَ الْفَقِيْرُ وَهُوَ مَنْ يَّمْلِكُ مَالَا يَبْلُغُ نِصَابًا وَّلَا قِيْمَتَهُ**

یو مصرف دزکات فقیر دی، او فقیر هغه څوك دی چی مالك خووی دڅه مال لکن نه رسیږی مال دده نصاب ته اونه قیمت ته د نصاب،

مِنْ اَيِّ مَالٍ كَانَ وَلَوْ صَحِيْحًا مُكْتَسِبًا دهر مال څخه چی وی که څه دی په صورت جوړ او دکسب اومزدوری قابل وی، **مَسْـئَـله**: که سړی نصاب خود رلودی لکن هغه غرق دده په حاجتِ اصلی سره وو نو زکوٰة اخستنه ورته روادي ط. **مَسْـئَـله** که د سړی پور په بوچا باندی وو چی نصاب کیدی لکن په مده سره اومده نه وی رسیدلی او دی نفقی ته محتاجه سو، نوده ته زکات اخستل روادی تروخت داجَل **مَسْـئَـلهٔ**: که پور دده اجل نه درلودی نوکه پوروړی دده مسکین وو، نوده ته اخستل دزکوٰة روادی په صحیح روایت کی اوکی پوروړی غنی ؤو لکن دده دپوره څخه منکرو، اوده شاهدان د پور نه درلوده، نوده ته اخستل دزکات روادی، اوکی پوروړی غنی وو اوده په پور یه اقرار کاوه ، نوده ته اخستل دزکات ناروادی» ط » در» **فـائِـدَه**: هغه چاته چی روغ رمټ وی او پرکسب هم قادر وی، اولیٰ داده چی د زکات وا نخلی، اوداذلت پرځان نه کړی تیرۀ در، ط، قال المصنفؒ

وَالْمِسْكِيْنُ وَهُوَ مَنْ لَاشَیْءَ لَهٗ نه دی یعنی چی نه قمیص لری او نه پرتوګ لری وغیرذالک **پوښـتـنـه**: چی مراد نفی دشئ مطلق بلکه مراد نفی دهغه شی دی چی دهغه شی په نصاب کی زکوٰة کیږی لکه سره زر اوپین، پسه، وغیره **پوښـتـنـه**: چی بعض فقهاءؒ تعریف دفقیر اومسکین پر عکس د ماقال المصنف کوی، لکن دمصنفؒ قول اولیٰ دی: لِقَوْلِهٖ تَعَالیٰ: اَوْمِسْكِيْنًا ذَامَتْرَبَةٍ ، قال

وَالْمُكَاتَبُ او دریم مصرف مکاتب دی چی بادار وده ته ووائی چی دونه مقدار روپې ماته راکړه نوته ازاد ئې، وهوالمراد بقوله تعالیٰ: وَفِي الرِّقَابِ ، عند اکثر المفسرینؒ **پـوښـتـنـه**: چی په مکاتب کی دا فرق نسته چی مکاتب دغنی مالک وی یاد فقیر پر مذهب صحیح ط **مَسْـئَـله**: ومکاتب ته دهاشمی زکوٰة نه دی روا، ط ،

فـائِـدَه: ومکاتب ته نه دروا چی چا زکات ورکړی چی دی به ئې صرفوی په غیرکی دبوځ دکتابت» بحر»

اللهم اغفر لمؤلفه ولمترجمه ولشارحه ولکاتبه وقد کتبه بقلمه قاری فضل الحق حقانی غفرله

قال المصنف: **وَالْمَدْيُوْنُ الَّذِىْ لَا يَمْلِكُ نِصَابًا وَلَا قِيْمَتَهُ فَاضِلًا عَنْ دَيْنِهِ**

اوبل مصرف دزکوٰة هغه سړی دی چې پوروړ باندی وی او دی مالك دنصاب یادقیمت دنصاب چې بالاده تر پوروی نه وي، په فتاوٰی ظهیریه کی وائي چې مرکول دزکات ولپوروړی سړی ته اولی ده تر ورکړی وفقیرته، لکن مدیون به هاشمی نه وی.

قال المصنف: **وَفِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَهُوَ مُنْقَطِعُ الْغُزَاةِ اَوِ الْحَاجِّ**

اوبل مصرف دزکوٰة فی سبیل الله دی یعنی په لاره کی دخدائ **پوښتنه:** چې کله تول زکاتونه فی سبیل الله دی لکن په عرف دشرع فی سبیل الله هغه کسان دي چې په غزا کی نفقه او خرچ به خلاص سی، یا به داپه یاموټر دکاره ولوېږی نو هغوته دزکات ورکړل او اخستل روا دي که څه هم کسب کاره خلك وی، ولی که دوی به کسب لاس پوری کړي نو د غزا څخه باتیږی، او دغه خلکوته ورکول دزکات دېرښه کاردی په سبب دفقر او جهاد څخه پاته کیدو، او دا تفسیر مختار د ابی یوسف دی دفی سبیل الله. یا منقطع الحاج یعنی چې دحاجی دحج په وخت کی نفقه خلاصه سی او یا غله یې خندی یوسي. او دا هم قول دامام محمد دی دفی سبیل الله او بعض فقهاء وائی چې فی سبیل الله طالبان دعلم دی چې فقیران وي. **فائده:** دا اختلاف په مابین کی د امام ابو یوسف او دامام محمد په تفسیر کی دهغه ایت دی چې فی سبیل الله په کښی ذکر سوی دی ورته په اتفاق ورکړه دزکوٰة وتولوته روادی، په شرط دفقر. قال المصنف:

وَابْنُ السَّبِيْلِ وَهُوَ مَنْ لَهُ مَالٌ فِىْ وَطَنِهِ وَلَيْسَ لَهُ فِىْ سَفَرِهِ

اوبل مصرف دزکات ابن السبیل دی یعنی دلاری زوی، چې معنا یې مسافر دی، او دی هغه سړی دی چې په وطن کی څه مال لری لکن دا مال ده سره نه وي په سفر کی **پوښتنه:** چې ابن السبیل چې په وطن کی مال دنصاب لري پر ده زکوٰة واجب دی چې څه وخت مال ولاس ته ور سیږی لکن فی الحال په لاس کی ده مال نسته، نو دی فقیر دی دزکات اخستل ورته روادی.

سوال منقطع الغزاة او منقطع الحاج که په وطن کی مال لری، نو دوی خو په ابن السبیل کی داخل سوه، او که په وطن کی هم مال نه لری نو خو په فقراوو کی داخل سوه نو څرنګه ابن السبیل حلا قسم سو **جواب** په اختیار دشق ثانی چې چونکه په منقطع الغزاة او منقطع الحاج کی عبادت دخدای ولاړ دی چې غزا یا حج دی نو ددی کبله دفقیر مطلق څخه جلا قسم سوله، **مسئله** دابن السبیل دپاره قرض کول دیوچا اولی دی تر قبول دزکات ځنګه کذا فی بحر الرائق، قال المصنف:

وَالْعَامِلُ عَلَيْهَا يُعْطٰى قَدْرَ مَا يَسَعُهُ وَاَعْوَانَهُ اوبل مصرف په عامل دی

پر صدقاتو جمع کولو باندی، یعنی که هغه سړی چې حکومت اسلامی دی مقرر کړی پر راغونډولو د زکات داو بنا نو، پیسو وغیرها باندي، نو دغه عامل ته دی دزکات دمالو څخه دومره قدر تنخواه ورکوي چې ده او دده ملګری یعنی مرستیالان یا مزدورانو بسیږی که هم دغه عامل پخپله غنی وي،

وَلِلْمُزَكِّىْ الدَّفْعُ اِلٰى كُلِّ الْاَصْنَافِ وَلَهُ الْاِقْتِصَارُ عَلٰى وَاحِدٍ

او روا ده زکات ورکوونکی ته چې خپل زکات پر تولو دغو صنفو وویشي، او هم ده ته روا ده چې خپل زکات پر یوه صنف قسم کړی یعنی یوه صنف ته یې ورکړي **مَعَ وُجُوْدِ بَاقِى الْاَصْنَافِ** سره ددی چې باقی اصناف هم موجود وی، بلکه دا هم موجود وی، بلکه دا هم ورته روا ده چې دیوه صنف ویوه سړی ته یې ورکړی فقط، او بعض امامان وائی چې مزکی به حتمًا خپل زکات وتولو اصنافو ته او په هر صنف کی کم از کم درو کسانو ته ور کوي، وفی النهر روی عن کثیر من الصحابة رض عدم التعیین یعنی دمزکی اختیار دی. قال

وَلَا يَجُوْزُ دَفْعُهَا لِكَافِرٍ وَغَنِىٍّ يَمْلِكُ نِصَابًا اَوْ مَا يُسَاوِىْ

او نه ده روا ورکړه دزکات وکافر ته یعنی که مشرك وی او که دهري وي او که یهودی وی او که نصاري وي، او دغه رنګه روا ده ورکړه دزکات وغنی ته چې مالك دنصاب وی دهر ماله څخه چې وي

لکن دا نصاب دَحوَا ئجواو پوره څخه خالي وي ۔ قـــال المصنفؒ:

قِيمَتُهٗ مِنْ اَيِّ مَالٍ كَانَ فَاضِلًا عَنْ حَاجَتِهِ الْاَصْلِيَّةِ

خواه هغه نصاب نامي بالفعل وي اوکه صالح نماوي لکن ده معطل پریښوی، اویا بل شی چې برابروي قیمت د هغه د نصاب سره د هر مال څخه چې وي، **فــائِــدَه**، مراد د بل شي څخه هغه شي دي چې دَ تجارت د پاره وي، نه د استعمال دَ پاره مثلًا یو سړی په کور کې ډیری غالی اولوښی او سپړتیا موټر وغیره د استعمال د پاره نودهغو په قیمت کې زکات نشته، که څه هم نصاب ته رسیږي اوکي یوه غالی مثلًا تجارتی د ره لوده چې قیمت یې نصاب ته رسیدی زکات یا ندی فرض دی، وعلی هذا القیاس ډیر سرایونه دکرائی دَپاره نه دَ تجارت دَپاره د هغو په قیمت کې زکات نشته، وهکذا اسرې ډیری ځمکی رانیولې وی لکن نه په نیت دَ تجارت فتأمل، قـــالَ المصنفؒ:

وَطِفْلِ غَنِيٍّ

اود غه رنګه نه ده روا ورکول د زکات وکشنی ته د غني سړي کرنروی اوکه بنځه اوکه په عیال کې دغني وي او حلاوي، **پوهـــه** چې مراد د طفل څخه هغه دي چې بلوغ ته نه وي رسیدَ لي، دلیل د عدم جواز چې طفل غني ګنړل کیږي په غنا د پلار **فــائِــدَه**: دغني زوی چې لوی وي زکوٰة ورته رَوادي، که څه م مثل وی نفقه یې پلار ورکوی **مســئَــلَه**: په لورکی دغني چې میړه لری اختلاف دی صحیح دادی چې زکوٰة ورته روادي، **مسئَلَه** رواده ورکړه د زکات ومایني ته دغني سړي چې دا پخپله مالکه د نصاب نه وی، ط **مســئَــلَه**: دغني بنځې وه کشنی زکوٰة روادی ولی چې دی غني په غنادمور نه ګرځي که څه م د دی سره یوځای وي، ط قـــال المُصنفؒ

وَبَنِيْ هَاشِمٍ وَمَوَالِيْهِمْ وَاخْتَارَ الطَّحَاوِيُّ جَوَازَ دَفْعِهَا لِبَنِيْ هَاشِمٍ

اودغه رنګه دی زکوٰة نه ورکوي وبني هاشم ته اود دوی ازادکړه سوي مریانوته اومختاره کړیده امام اوفقیه ابوجعفر الطحاويؒ چې مصنفؒ د شرح معاني الاثار دی په حدیثو کې، اوده په شان حنیفیانؒ وائي چې اعلم دنا سوي مذهب

د امام ابوحنیفهؒ هم د غه طحاویؒ دی چې د زکوٰة ورکړه وبني هاشموته روادی، **پوهـــه** زکات ورکول وبني هاشموته ناروادی په اختیار د معؒ کې بل څوک ودوی ته زکات ورکوي اوکې دوي یو بل ته زکات ورکوي، اوامام ابویوسفؒ یو بل ته د بني هاشموزکات روابولي"

پوهـــه: چې حرمت د زکات وبني هاشموته لبعض فقهاءؒ بلکه اکثر قدماء یې شرافت د نسب د دوی بولي او زکات د مال خیره ده نو دا شریف نسب باید په ملوث نه سي، نو بیا دي تقدیر ودوی ته زکات الی یوم القیامه نارَوادی، واختاره المصنفؒ واکثر الفقهاءؒ او لبعض فقهاء لکه امام طحاویؒ اونور ډیر فقهاء وجه یې دا بولي چې بني هاشموته خمس الخمس د بیت المال څخه ورکول کیدی، نو زکات ته د دوی ضرورت نه وو، **پـــوهـــه**: چې ابوعصمتؒ د امام اعظمؒ څخه دا هم روایت کړي دی چې دفع د زکات وبني هاشموته په دی زمانه کې رواده، ولې چې عوض د زکات چې خمس الخمس وو دوی ته اوس نه ورکول کیږي، ولې چې بیت المال په باره کې د غنائمو ډیر سست عمل مختاره کړی دی اوپه مستحقینو یې نه ولیشي بلکه غیرمستحقین کسانوته ورکوي، نو بني هاشموته چې عوض د زکات یعني خمس خمس الغنائم نه رسیږي نو چې معلوم خبره ده، نو د دوی حال واصل ته رسو چې جواز د اخذ الزکات دی، اوامام قهستانيؒ هم په جواز د زکات وبني هاشموته فتوٰی ورکړیده،

تبصره دروېش وائي په اوسني زمانه کې یعني سنه ۱۴۲۳ه ق، بلکه تردي ډیر کلونه د مخې چې کفارو غلبه وکړه او مسلمانان په هر کنج کنج دَ نړۍ د کفارو سره دَ جهاد توان نه لري نوغنائم بیخي اوس وجود نه لري حتی چې خمس الخمس یې وبني هاشموته ورکړه سي، اوبله خبره دا ده چې بني هاشموته څوک مزدوري هم نه ورکوي، ولې وائي چې دا بې ادبي ده، نو چې زکات هم نسي ورته روا نو خیر بني هاشم به څه کوي **مســئَــلَه** نفلي صدقات اودوقفی ځمکو غله وبني هاشموته اتفاقا رواده، وهوالحق کما في فتح القدیرؒ او سیدؒ وائي چې د زکات خمس د بیت المال څخه هم وبني هاشموته روادی، وابعد الزیلعيؒ حیث سوّی في المنع بین الصدقة الواجبة والتطوع "والعلم عند الله"

قَالَ المصنفؒ **وَاَصْلُ الْمُزَكِّيْ وَفَرْعِهٖ** اودغه رنګه زکوٰة نه دی روا د زکات ورکونکی خپل واصل ته لکه پلار نيکه که څه هم لوړوي اويا مورته اود هغې مور يا پلار ته، اودغه رنګه زکوٰة نه دی روا وفروعوته د مزکی لکه زوی يا د زوی زوی وَان سَفَل يا لور، يا د هغې عيال **مسئله** چې نه اصول د مزکی وی او نه فروع وی وهغوته زکات روادی، لکه خوندی، وروڼه، او د هغو اولادونه، دا کا زامن اويا خودی آکا او اخوال اوخالاتوته زکوٰة ورکول روادی، بلکه دوی ته دفعه اولی ده تر بيګانو وخلګو ولې چې په ورکړه کی صله رحمی هم راځی علاوه تر زکوٰة، **مسئله**: د زوی ومايني ته زکات روادی، لکن په تولو کی شرط دادی چې فقراء به وي، وفي الصورة الاخيرة نظرٌ فتدبر.

قَالَ المصنفؒ **وَزَوْجَتِهٖ** اودغه رنګه زکات د ميړه ومايني ته روانه دی که څه هم مسکينه وي داخو اتفاقا نا روادی، اود مايني چې غني وی وميړه ته چې فقير وي يا ران ؒ وائی چې روادی اوامام اعظمؒ وائي چې نا روادی، قَالَ المصنفؒ:

وَمَمْلُوْكِهٖ وَمُكَاتَبِهٖ وَمُعْتَقُ بَعْضِهٖ وَكَفَنُ مَيِّتٍ وَقَضَاءُ دَيْنِهٖ اودغه رنګه زکات نا روادی وخپل مريی ته اودسړي خپل مکاتب ته، اويا د مريي بعض بل چا يا ده ازاد کړی وی، اودغه رنګه نه دی روا چې د زکات په روپو مړی ته کفن رانسی اويا د مړي پوروونه په اداء کړی، لکن اشباه ونظائر داسی حيله د مړي کفن ته ذکر کړيده چې د زکات روپۍ دی يو فقير ته ورکړی، اوهغه دی مړي ته کفن رانسی، او ثواب د زکات ورکوونکی اوفقير ترمابين شريك دی، او دا حيله په قضاکی د پورو د مړي کی هم جاری کيږئ **مسئله**: د زکات په روپو خولۀ مسجد نه سی جوړولای، ولی به زکات کی تمليك وفقير شرط دی، نودی چې په مسجد صرفوی تمليك به چاته کوی، نودی د مسجد امام چې فقير وی يا بل سړی ته وواڼی چې مسکين وی چې زه به تاته روپۍ په زکات کی درکړم ته مسجد په جوړکړه ثواب به نيمی وی نو داسی کار کيدای سی، **پوښتنه**: که هغه فقير روپۍ تنګ سوا او وی ويل چې مسجد نه په جوړوم نو بيا يه څه حکم دی **جواب**: غني بيرته

خپل د زکات روپۍ په زوره نه سی اخستلای، ولی ده خو تمليك وکړی د زکوٰة غاړي خلاصي کړی، هبه خو نه دی چې رجوع په کښی وکړی.

مسائل شتی فی باب الزکوٰة: ۱ که چا خپل مريی يا مکاتب ته په شپه کی مثلا روپۍ په زکات کی ورکړی اوده نه پيژندی چې زما مريی وو يا مکاتب وروسته داورته ښکاره سوه چې ماخو زکات خپل مريي يا مکاتب ته ورکړي دی، ده زکات غاړي نه خلاصيږی، ط، ع۲ اوکه چا زکات ويوچا ته ورکړي په تا ريکه کی او پيژندی يه نه، وروسته دا ښکاره سوه چې هغه سړی هندو وو، يا زما پلار وو يا می زوی وو، يا می ماينه وه يا هاشمی وو د زکات غاړي يه خلاصی سوی، ط، ع۳ يو فقير ته چې پوره وړی وو دونه روپۍ په زکات کی ورکول چې هغه وروسته تر پوره اد آکولو پوره نصاب وړ يا تيدی دا ورکړه مکروه ده، بلکه دونه قدر به ورکوی چې د سوال را اوګرځی ع۴ حتی که يو سړی سل اوبه نوی ۱۹۹ روپۍ درلودی مزکی يو درهم په زکات کی ورکړي چې نصاب په پوره سود اهم مکروه ده، ط، ع۵ اوکه مزکی و يو فقير ته تر نصاب ډيری روپۍ ورکړی لکن دونه روپۍ وی که هغه فقير د خپل کور پر ټولو افرادو وويشلی وای هر يوه ته ترنصاب کمی ور رسيدلی نو بيا کراهت نه لري، مراقی، ع۶ که سړي مثلا يو درهم زکوٰة مثلا ما ني کړی يعنی ۳ ځايه يا ۴ ځايه کړي نو يوه يوه حصه فقراء ته ورکړه داسی کول خلاف د اولی ده، ولی چې جمع اولی ترتفريق، لقوله تعالیٰ: اَفَرَأَيْتَ الَّذِيْ تَوَلّٰى وَاَعْطٰى قَلِيْلًا، بحر، فخر،

قَالَ المصنفؒ **وَثَمَنُ قِنٍّ يُعْتَقُ وَلَوْدَفَعَ بِتَحَرٍّ لِمَنْ ظَنَّهٗ مَصْرِفًا** اودغه رنګه د زکات غاړي به نه په خلاصيږی که سړي د زکوٰة په روپو مريی رانيوی چې بيا ازاد کړه يې ولې چې قبض د فقير شرط دی هغه نه راغلی.

فَظَهَرَ بِخِلَافِهٖ اِجْزَئَهٗ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدَهٗ اَوْمُكَاتَبَهٗ که چا زکات ورکړی يو چا ته اوفکر يې هم پکښی وکړي اوده غالب ګمان دا وو چې دا مصرف د زکات

دی، وروسته ورته بنکاره سوه چې هغه سړی چې ما زکات ورکړی زما د زکوٰة مصرف نه وو هغه ورکړه کافی ده یعنی د زکات غاړې یه خلاصی سوی، مگر نه کړ هغه څوک د ده مرئی اویا مکاتب وو، وقد مر تفصیله من قبل فتذکره. قـــال المصنفؒ:

وَكُرِهَ الْإِغْنَاءُ وَهُوَ اَنْ يَّفْضُلَ لِلْفَقِيْرِ نِصَابٌ بَعْدَ قَضَاءِ

او مکروه دی غنی کړ څول د فقیر په زکات سره هغه داسی چې بالاسی و فقیر ته نصاب کامل پسله اداء کولو

دَيْنِهٖ وَبَعْدَ اِعْطَاءِ كُلِّ فَرْدٍ مِّنْ عِيَالِهٖ دُوْنَ النِّصَابِ

څخه د پوره چې پر فقیر باندی وه، او پسله دی څخه چې د غه فقیر ورکړی وای و هر فرد ته د ده د عیال

مِنَ الْمَدْفُوْعِ اِلَيْهِ وَاِلَّا فَلَا يُكْرَهُ وَنُدِبَ اِغْنَاؤُهُ عَنِ السُّؤَالِ

کم تر نصاب د هغه مال څخه ده ته د غنی د خوا ورکړه سو، او که پوره نصاب فقیر ته نه پاته کیدی، نو بیا که څه کم تر نصاب بالا ورکړی مکروه نه دی، او مستحب ده چې دو مره زکات دی ورکړي چې فقیره سوال څخه په راوګرځی، او ددی تفصیل هم د مخه تیر سو،

مسـئله: په تنویر او شرح کی د هغه وائی: چې نه دی روا و سړي لره سوال د نفقی د خلکو څخه چې د ده سره دیوې ورځی نفقه موجوده وی بالفعل یا بالقوه یعنی چې په صورت جوړ او پر کسب قادر وی، او هغه سړی چې د د غه سوال گر په حال خبر وی، په ورکولو کی د قوت گناه کار دی، ولې چې ده پر حرام کار چې ور ته سوال وو کومک وکړی، او کی د کالو د پاره سوال کاوه او یا د سوال کاوه د دی سببه چې دی د کسب څخه په جهاد مشغوله وو، او یا په طلب د علم مشغول وو بیا ده ته سوال روادی او ور نوو نکی په گناه کار نه دی، ط، قـــال المصنفؒ:

وَكُرِهَ نَقْلُهَا بَعْدَ تَمَامِ الْحَوْلِ لِبَلَدٍ اٰخَرَ لِغَيْرِ قَرِيْبٍ اَوْ

او مکروه دی وړل د زکات وروسته تر پوره والی د کال د اقید چې مصنفؒ وو ایه د پاره ددی چې حق

د فقراوو د خپل ښار هغه وخت په مال د غنی سره تعلق نیسی چې پر مال د غنی کال تیرسی، قـــال

اَحْوَجَ وَاَوْرَعَ وَاَنْفَعَ لِلْمُسْلِمِيْنَ بِتَعْلِيْمٍ وَالْاَفْضَلُ صَرْفُهَا

او یا سوا ته د دیر محتاج وی او وه پرهیزگاره ته او چې نفع ئی رسیږی مسلمانانو ته په تعلیم سره، او بنه خبره داده چې

لِلْاَقْرَبِ فَالْاَقْرَبِ مِنْ ذِيْ رَحِمٍ مَّحْرَمٍ مِّنْهُ ثُمَّ لِجِيْرَانِهٖ

ورئی کی و نږدی او نږدی قریب ته چې د ده سره قرابت نسبی لری او محرم د زکوٰة والا، تر هغه وروسته و همسایه

ثُمَّ لِاَهْلِ مَحَلَّتِهٖ ثُمَّ لِاَهْلِ حِرْفَتِهٖ ثُمَّ لِاَهْلِ بَلْدَتِهٖ وَ

او بیا د خپلی محلی او کلی محتاج ته، او بیا د خپل کسب هم شریکه ته، او بیا د خپل ښار و محتاجه ته او و

قَالَ الشَّيْخُ اَبُوْ حَفْصٍ الْكَبِيْرُ رَحِمَهُ اللّٰهُ لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ

ئیلی دی شیخ ابو حفص کبیر الله دی پر ده رحم وکړي، چې نه قبلیږی د یو چا صدقه تر څو چې د ده

وَقَرَابَتُهٗ مَحَاوِيْجُ حَتّٰى يَبْدَاَ بِهِمْ فَيَسُدَّ حَاجَتَهُمْ

خپلو قریبانو کی احتیاج والاوی تر څو چې ابتداء د دوی څخه و نه کی او د دوی حاجتونه پوره نه کی،

فـائده: او وړل د زکوٰة مکروه دی و بل ښار ته یعنی که څه هم تر مسافت د قصر د لا کم کړوی

یـوه مسـئله: چې معتبر په زکات کی ځای د مال دی نه ځای د مالک حتیٰ که سړي په یوه ښار کی وو لکه هرات مثلاً او مال یه په بل ښار کی وو لکه قندهار مثلاً نو دی به د زکات روپې پر فقیرانو د قندهار ویشی، او په صدقة الفطر کی معتبر د ده ځای دی نه د ده د عیال دا ری او مکروه دی نقل و غیر ته د قریب او کی خپلو اقربا و وته نقل کاوه بیا هیڅ کراهت نسته، او یا سوا ته د دیر محتاجه، او کی احوج ته نقل کی یعنی تر اهل بلد محتاج وو هغو ته نقل د زکات روادی او یا په بل ځای کی بنه پرهیزگاره فقیر وی و هغه ته هم نقل کول د زکات مکروه نه دی، او یا په

بل ښار کې یو عالم فقیر وو چې مسلمانانو ته یې دېر نفع رسېږي په ښوونه ددین، او افضل داده چې زکات دې سړی ترټولو نږدې قریبانو ته اوبیا ترهغو وروسته اقرب ته چې خاوند دقرابت نسبي او محرم د زکوٰة والاوي لکه ورونه د سړي یا خوېندې وروسته د هغو اولاد چې وریرونه او خورزي گاني دي وعلی هذا فقس » او وروسته ترهغو افضل داده چې همسایه گانو ته زکوٰة ورکړي، او وروسته د محل والا فقیرانو ته او وروسته هغه کسانو فقیرانو ته زکات والا چې دغني سړي سره په کسب او کار کې شراکت لري، یعنې د هغو کسب هم دغني کسب وي لکه آهنگران، موچیان، بنایان، نجاران وغیره او بیا وروسته دې د ښار ومسکینانو ته ور کوي، شیخ ابوحفص کبیرؒ خدای دې پرده رحم وکړي ویلي دي چې زکات د هغه سړي نه قبلیږي چې دی ئې وبل چاته ورکړي، او د ده خپل قریبان محتاجه وي، یعنې مسکینان وي حتیٰ چې دی اول شروع د زکات ورکولو د دوی څخه ونه کړي او د دوی احتیاجات ورد فع نه کړي،

پوهه سه: چې مراد دابوحفص المرحوم د نه قبلیدو څخه دادی چې ودغه سړي ته خدای جل شانه ثواب نه ورکوي که څه د زکات غاړې خلاصي شوي یعنې دوزخ هم خدائ نه ور کوي پر دغه فعل دده، په معراج کې وائي چې ورکول د زکات وعالم فقیرته اولیٰ دي ترجاهل فقیره ق

مسئله: که غني په دار حرب کې وو او زکات یې د دار اسلام فقیرانو ته استاوه کراهت نه لري که څه هم په دار حرب کې مصرف د زکوٰة وي، ط ۔

بَابُ صَدَقَةِ الْفِطْرِ

داباب دی په بیان کې د صدقې دوږمي داختر،

پوهه سه: چې فطر اسلامي لفظ دی او څوک چې په پښتو یې «سرسایه» بولي. **فائده**: د صدقة الفطر سرسایه ته صدقة الفطرة وائي هغه غلط لفظ دی، ط

امر نبوي هغه کال کې وسو چې په هغه کال روژه فرض شوله، او تر زکات د مخه، او د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم عادت داوو چې تراختر د مخه یوه یا دوه ورځې به ئې خطبه ویله او د صدقة الفطر امر بې خلګو ته ورکاوه، **فائده**: زکات چې پر سړي واجب سي او د مخه تراداء د زکات مال یعنې نصاب هلاک سي یعنې د لاسه څخه ئې ووځي زکات څخه ئې ساقط دی، او سرسایه پسله وجوب څخه که څه هم مال هلاک سي واجب الاداء ده، قاله الامام الطحطاويؒ، قال المصنفؒ:

تَجِبُ عَلٰى كُلِّ حُرٍّ مُسْلِمٍ مَالِكٍ لِنِصَابٍ اَوْقِيْمَتِهٖ وَاِنْ لَمْ

واجب ده صدقة الفطر پر هر حر یا ندې، ولې چې پر غلام مالک د تملیک د شي نه دی، چې مسلمان وي ځکه صدقة الفطر عبادت مالي دی

يَحُلْ عَلَيْهِ الْحَوْلُ عِنْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ

او کافر اهل د عبادت نه دی چې مالک یو نصاب وي یعنې د هر شي نصاب چې وي، د دې شرط وجه داده چې غرض د صدقة الفطر

وَاِنْ لَمْ يَكُنْ لِلتِّجَارَةِ څخه دادی چې احتیاج د فقیر د فع سي، نو چې سړی پخپله فقیر وي بل فقیر به څرنګه د فقر ه خلاص کړي، یا مالک وي د قیمت د نصاب د عروضو څخه که څه هم کال نه وي پر تیر شوی او دا صدقة الفطر واجبیږي په وخت کې د طلوع د سپیدو د دوږمي داختر، که څه هم دغه نصاب د تجارت د پاره نه وي بلکه زیور وي اد بنځي۔

تفریع نوکه پوسرې ترسپیده وو اخترد ورځې د مخه مړ سي وو د غه کس ته صدقة الفطر نسته اوکه په سپیدو کی وزیږی صدقة الفطر یې سته یعنی واجب ده **پوه سه** چې نصابونه دری قسمه دی ۱ یو هغه نصاب دی چې نامی وی حقیقةً او تقدیرًا په هغه نصاب پوری تعلق لری زکوٰة ۲ او بل نصاب هغه دی چې هغه پوری صدقة الفطر او وجوب داضحیة وحرمة الزکات اړه لري او په هغه پورې نفقه داقرباء و تعلق لری په هغه نصاب کی نما او تجارت وحولان الحول شرط نه دی ۳ او بل نصاب هغه دی چې په هغه سره وسړي ته سوال حرامیږی لعض فقهاء وائي چې پنځوس درهمه ولری، او بعض فقهاء بیا وائی چې نفقه دیوی ورځې او شپې لري، نو سوال ورته حرام دی. فقال المصنف:

فَارِغٍ عَنِ الدَّيْنِ وَحَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ وَالْمُعْتَبَرُ فِيهَا الْكِفَايَةُ لَا التَّقْدِيرُ دو چې فارغ وی د پور څخه او د حاجت اصلیه څخه لکه د کور سامان او فاضل نه تر حوائجو دده د عیال وی، او معتبر په حوائجو اصلیه کی دده او په حوائجو د عیال دده مقدار د کفایت دی اندازه نه لری. فقال المصنف:

وَهِيَ مَسْكَنُهُ وَأَثَاثُهُ وَثِيَابُهُ وَفَرَسُهُ وَسِلَاحُهُ وَعَبِيدُهُ لِلْخِدْمَةِ او حوائج اصلیه دا دی د سړی دی د او سیدو او که مال دار وو مسکن خیمه یا کیږدی ده، او بل د کور سامان دی لکه کمبله، تلینک بالښت، کټوه وغیره او بل کالی د اغوستو دی د سړي او بل آس دی د سپرتیا، بل سلاح ده لکه توره، توپک وغیره او بل مریان دی د خدمت دپاره **درویش وائي**، چې دلیل د وجوب د صدقة الفطر هغه حدیث دی چې ابوداؤد یې روایت کړی دی: قال علیه الصلوٰة والسلام فی خطبة: اَدُّوا عن کل حرٍ و عبدٍ صغیرٍ او کبیرٍ نصف صاع من برٍ او صاعًا من شعیرٍ او صاعًا من تمرٍ، اصولی قانون چې امر مطلق دپاره د وجوب وي **مسئله** صدقة الفطر واجب موسع په ټول عمر کی یعنی هر وخت چې ورکی اداء ده، نزد جمهور حنفیه وو په نیزه

قال فی البحر وهو الصحیح لکن رکات، او بعض فقهاء وائی چې خاص د اختر ورځ په وخت دا ادا دی وروسته کی ورکی هغه قضا ده، واختار هذا المذهب الکمال فی التحریر، فقال المصنف:

فَيُخْرِجُهَا عَنْ نَفْسِهِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ الْفُقَرَاءِ وَإِنْ او صدقه فطر دی د خپل ځان دا ورکوی، او اولاد دده که نر وي او که ښځې چې دا اولاد فقراء وي، او که چیري اولاد اغنیاء وه مثلاً یو

كَانُوا أَغْنِيَاءَ يُخْرِجُهَا مِنْ مَالِهِمْ سړي د عو کچنیا نو ته ورپه وربخښلی وي، نو بیا دی صدقة الفطر دوی د مال څخه ورکړي، **مسئله** د بالغانو اولادو صدقهٔ فطر پر پلار نسته که څه هم دوی په عیال کی وي، او فقراء هم وي. او د ماینې سرسایه هم پر میړه نسته، فقال المصنف:

وَلَا تَجِبُ عَلَى الْجَدِّ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ وَاُخْتِيرَ أَنَّ الْجَدَّ او نه ده واجبه سرسایه پر نیکه باندی پر ظاهر الروایت کی، او دا خبره مختاره کړه سوې ده چې نیکه

كَالْأَبِ عِنْدَ فَقْدِهِ أَوْ فَقْرِهِ پلار دی چې د لمسي پلار نه وی یعنی مړ وی او یا مسکین وی یعنی د لمسیانو په د غه دوه صورته کی سرسایه پر نیکه ده، او دا هم روایت د حسن دی، امام اعظم واختاره هذه الروایة الکمال، واختارها فی الاختیار او صاحب الدر هم وو د غه روایت ته تګ کړی دئ،

تنبیه درویش وائی چې د دغه روایت په مختارولو سره هغه سوال دفع سو چې فقهاء خو وائی چې سبب د صدقة الفطر د وجوب هغه سړی دی چې مؤنت یې پر سړي وی او سړي کامل ولایت او تصرف پر لری نو نیکه چې د لمسیانو پلار یې مړوی او یا فقیر وی او لمسیان نیکه ساتی نو خو نیکه مؤنت د لمسیانو د نفقی پر ځان اخستی دی او نیکه هم ولایت کامله پر لمسیانو لری، نو بیا ید د دغو لمسیانو سرسایه پر نیکه واجب وی او سره دد دی چې په ظاهر روایت کی وائی چې پر نیکه مطلقًا د لمسیانو سرسایه نه ده واجبه، نو خو سبب چې رأس

يمونه وشي عليه پيدا سو او مسبب نشته چې وجوب الفطره دی ومثل هذا لايجوز، حاصل د دفع اختيار دی د روايت د الحسنؒ يعنې چې مذکوره د دوه صورتونو د لمسيانو سرسايه پرځنګه واجبه فلا يلزم تخلف المسبب عن السبب فافهم، وقد خطئ صاحب البحرؒ فی جواب هذا فارجع الی کتاب الکمالؒ، قال المصنفؒ:

وَعَنْ مَمَالِيْكِهٖ لِلْخِدْمَةِ وَمُدَبَّرِهٖ وَأُمِّ وَلَدِهٖ وَلَوْ كُفَّارًا

او د غږ نګه سرسايه کوی د هغو مريانو چې د خدمت د پاره وی يعنې کرد تجارت د پاره وه بيا به صدقة الفطر پر مالک نشته بلکه په هغوی زکات سته او دوړی صدقی نه سره بوځای کيږي او د غږ نګه سرسايه د مدبر مريي ورکوي، مدبر هغه مريي دی چې مالک ورته ووائي چې پس له مرګه زما ته حر (آزاد) يې، او د غږ نګه سرسايه ورکوی د ام الولد چې هغه مينځه چې د بادار ځنې لنګوی کړی هم د غږ دړی کافران وي، قال المصنفؒ:

لَاعَنْ مُكَاتَبِهٖ وَلَاعَنْ وَلَدِهِ الْكَبِيْرِ وَزَوْجَتِهٖ وَقِنٍّ مُشْتَرَكٍ

او نه دی واجب پر سړي سرسايه د مکاتب مريي، او نه ده واجبه پر پلار سرسايه د لوی بالغ عيال کړی وی

وَاٰبِقٍ اِلَّا بَعْدَ عَوْدِهٖ وَكَذَا الْمَغْصُوْبُ وَالْمَاسُوْرُ

اوکه بنځه کړه د ده په عيال کی وی يعنې نفقه پلار ورکوی اوکه نه وي، او د ماينې سرسايه پر سړي نه ده واجب، او د هغه مريي سرسايه چې شريکي يې پر يو شريک هسته، او د تښتيدلی مريي سرسايه پر مالک نشته مګر هغه وخت چې بيرته مولی ته راشي، او د غږ نګه سرسايه د هغه مريي نشته چې د مالک ځنې غصب کړی وی، او د غږ نګه د بندی مريي سرسايه پر مالک نشته، قال المصنفؒ:

وَهِيَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ دَقِيْقِهٖ اَوْ سَوِيْقِهٖ اَوْ صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ اَوْ زَبِيْبٍ اَوْ شَعِيْرٍ

او صدقة الفطر نيمه کاسه ده د غنمو او يا د وړو د غنمو او يا د سويق

د غنمو او يا پوره کاسه ده د خرما او يا د اوچکو د انګورو، او يا د اوربشو، **پوه سه** چې سويق د عربو په اصطلاح د ابولي چې غنم نني کړي او بيا يې ميده کړي او د لوږی په وخت کی او به ورواچوی، يا ګولی ځندی کوی او کی ډيری او به ورواچولې بيا يې چښي، عربو به ځوانی کی د اسويق د ځان سره اخستی، ولی چې هرځای دوی ته دوړ دی ځول ګران کار وو او نفروکی هرځای به بوخته هم نه وه، ولذالک يقال فی الشئ النافع غاية النفع هوانفع من تفاريق العصاء، او د محمد د ننی کيد وحکمت دا دی چې صرف او به او مرخوړل يې خوند نه کوی او بل مرضی ځندی پيدا کيږی کما هو الظاهر بالتجربة، قال المصنفؒ:

وَهُوَ ثَمَانِيَةُ اَرْطَالٍ بِالْعِرَاقِيِّ

او کاسه اته رطله په عراقی حساب **پوه سه:** چې عراقی رطل د وزن په حساب يو سل او ديرش ۱۳۰ درهمه دی، نو په د غه حساب کاسه يو زر او شلو ليښت درهمه وزن ده، دا قول د امام اعظمؒ او د محمدؒ دی، والتفصيل فی شرح الامام الطحاویؒ **فائده** صاع يا نصف صاع په پيمانه او په وزن دواړه روا دی کذا ذکره الزيلعیؒ شارح الکنز، قال

وَيَجُوْزُ دَفْعُ الْقِيْمَةِ وَهِيَ اَفْضَلُ عِنْدَ وِجْدَانِ مَا يَحْتَاجُهٗ

او روا ده ورکړه د قيمت يعنې د د غو خوراکی شيانو بلکه قيمت افضل دی په وخت کی د دی چې

لِاَنَّهَا اَسْرَعُ لِقَضَاءِ حَاجَةِ الْفَقِيْرِ

د فقير سړه به غالبًا د غه خوراکی توکی موجود وی يعنې چې وخت د حاصلاتو مذکوره شيانو وی په سبب د دی چې قيمت اولیٰ دی چې دراهم دی شلا ژر او سيدونکی دی، وَمَا يحتاج اليه الفقير ته يعنې کالی دکور د بندګانو يا نور ورته شيان ولی به نغدو روپو هرشی رانيول کيږی بخلاف الحبوبات المذکورة، قال المصنفؒ:

وَاِنْ كَانَ زَمَنُ شِدَّةٍ اَلْحِنْطَةُ وَالشَّعِيْرُ فَهُمَا وَمَا يُؤْكَلُ اَفْضَلُ مِنَ الدَّرَاهِمِ

اوکه زمانه د سختی د غنمو او اوربشو وه يعنې د حاصلاتو وخت نه وو، نو غنم او اوربشی او چې

خوړل کیږی ښو شیان لکه خرما یا سویق ښه افضل دی تر دراهمو، قــال المصنف :

ووقتُ الوُجُوبِ عِندَ طُلُوعِ فَجرِ يَومِ الفِطرِ فَمَن

او وخت دواجبوالی د صدقة الفطر په نیزد راختو د سپیدو دورځی د کښتی اختر دی نو که څوک

مَاتَ اَوِ افتَقَرَ قَبلَهُ اَو اَسلَمَ اَوِ اَغنىٰ اَو وُلِدَ بَعدَهُ

مړشی او یا مسکین شی د مخه تر طلوع الفجر او یا مسلمان شی او یا غنی شی او یا وزیږیدی پس د سپیدو څخه

لَا تَلزِمُهُ وَيَستَحِبُّ اِخرَاجُهَا قَبلَ الخُرُوجِ اِلىٰ

پر ده باندی لازمه نده، او مستحب دی ورکول د صدقة الفطر دمخه تر وتو د خلکو وعیدگاه ته تا چی ورسیږی دفقیرانو

المُصَلّىٰ وَصَحَّ لَو قَدَّمَ اَو اَخَّرَ وَالتَّاخِيرُ مَكرُوهٌ

دمصلی سیغمه سی او اضطراب په د فع سی، او صحیح دی د مخه تر اختر ورکول د سرسائی او ځنډول یــه هم روادی لکن ځنډول یــه مکروه دی، په هدایـه کی وائی چی تفصیل یه په جواز کی د صدقة الفطر په مابین کی دیوی مُدی او بلی مُدی شــته، یعنی واجب موسع دی لکه زکوة، او خلف بن ایوب وائی چی تعجیل ورسته تر دخول د میاشتی روادی، او د مخه تر روژری نه دی روا، او بعض فقهاء وائی چی تعجیل په نصف اخر کی د روژری روادی، او بعض وائی چی په لسو اخیرو ورځو کی تعجیل روادی، وعند الحسن بن زیاد: لا یجوز تعجیلها اصلاً کالاضحیة" د دولتی وائی چی تفصیل ددی مبحث په کفایه شرح الهدایه او یا په بحر الرائق کی مطالعه کړه، قَالَ

وَيَدفَعُ كُلُّ شَخصٍ فِطرَتَهُ لِفَقِيرٍ وَاحِدٍ وَاختُلِفَ فِي جَوَازِ

تَفرِيقِ فِطرَةٍ وَاحِدَةٍ عَن اَكثَرَ مِن فَقِيرٍ

او ورکوی دی هر یو سړی خپله سرسایه یوه فقیرته او اختلاف د فقهاؤ

دی په رواوالی کی د ویشلو دیوی سرسائی پر بالاندیوه فقیر، د دولتی وائی صحیح اول مذهب دی او عادت د خلکو داسی دی چی مثلاً شل روپی سرسایه پر کیږی عیدگاه ته نو په لار کی فقیران ولاړ وی نو دی یوه یوه روپی وفقیرته ورکوی چی فقیرانه په از ارسی، قــال المصنف

وَيَجُوزُ دَفعُ مَا عَلىٰ جَمَاعَةٍ لِوَاحِدٍ عَلَى الصَّحِيحِ

او روا ده ورکړه د ډیرو کسانو د سرسائی وه یوه نفرته یعنی فقیرته پر صحیح روایت،

وَاللّٰهُ المُوَفِّقُ لِلصَّوَابِ

او خدائ توفیق ورکوونکی دی د حق لاری

كِتَابُ الْحَجِّ

داكتاب دی په بیان کی د احکامو د حَج

مُقَدِّمَہ: پوہ سالہ: چی لفظ د حَج په زور د حاء اوزیر د حَاء دواړه راغلی دی، اومشهور په عاموکتابوکی داده چی حَج په لغت کی مطلق قصد ته وائی، لکن طحطاوی وائی چی غلط خبره ده بلکه حج قصد دی ومحترم ځای ته اویاوینه کاره دی.

اِخْتِلاف: په دی کی شک نشته چی حَج په شریعت کی د نورو انبیاء علیهم السلام هم وو، لکن په دی کی اختلاف دی چی پرهغوبا ندی هم حَج فرض وو صحیح داده چی فرضیت د حَج په امت مرحومه پوری خاص دی، **اختلاف آخر** حج په سنه شپږ کی د هجرت فرض سوی دی، وهو المشهور والصحیح ایضًا کذا قال العلامة نوح؛ وقیل، په سنه پنځه کی د هجرت فرض سوی، وقیل په سنه نه ۹ کی د هجرت مختار د قاضی عیاض د غه خبره ده، وقیل حَج د مخه تر هجرت فرض سوی دی وهو بعید، اوتر دی ابعد خبره داده چی په سنه لس کی هجرت فرض سوی دی،

اختلاف آخر: آنحضرت صلی الله علیه وسلم څو حَج کړی دی! دارقطنی د جابر بن عبد الله رض څخه روایت کوی چی علیه السلام دری حجه کړی دی، دوه ۲ د مخه تر هجرت، او یو حَج په سنه لس کی د هجرت کړی چی د حجة الوداع په نامه مشهوره دی او علیه السلام په دغه کی قارن وو اوهغه کال حج اکبر هم وو یعنی د عرفات ورځ د جمعی وه، او په سنه ۹ نه کی ابوبکر الصدیق رض حج ته استولی وو او پیغام یه داورکړی وو چی په سله سن کاله دی مشرک حج ته نه راځی کذا فی البخاری، اوملاعلی القاریؒ: وائی چی علیه الصلوة والسلام تر هجرت د مخه ډیر حجونه کړی دی چی عدد یه نه دی معلوم، اوعلامه ابن الاثیرؒ پخپل تاریخ کی وائی چی علیه الصلوة والسلام قبل الهجرة او وروسته تر نبوت هر کال چی مانع به نه وو حج یه کاوه، وَاللّٰهُ أَعْلَمُ وعلمه اتقن واحکم،

د حج د مخه څه کول پکار دی؟

پوه سالہ ۸: چی یو سړی چی د حج اراده ولری نوکی مور او پلار دواړه یا یو تر وندی وه او د ده وخدمت یا نفقی ته اړوه نود هغو څخه دی اجازه د حَج واخلی، اوکی بی اجازی د دوی ولاړی نو گناه کاره دی، اوبعض علماء یه حج مکروه بولی البته که مور او پلار د ده وخدمت یا نفقی ته محتاجه نه وه خو بیا هم اجازه اخستل خو ډیر ښه کار دی مگر که بی اجازی د دوی ولاړ سی گناه کار نه دی، دا هلته که رو پی د حَج د نوری خپلی گټلی روپی وی. اوکی د پلار د ړهائی څخه روپی اخستی وی بیا خو یه بی اجازی حَج صحیح هم نه دی،

پوه سالہ چی نیکه او انا حکم د مور او پلار لری کی مور او پلار مړه وه" په کتاب النوازل کی وائی که زوی بی ږیری وو او ښائسته وو پلار د ده حج کولو څخه منع کړی" د زمانی بعض متکبر مالداران داسی هم کوی چی بی ږیری ښائسته زوی په سفر د حَج د بیگانه خلگو سره استوی چی د هغه بل سړی حج هم ورمکروه یا فاسد کړی، په دی سبب چی په طول کی د سفر د حج چی په یو اطاق کی دوی سره او سیږی په حجه بازی بلکه په بدکاری دی سره اخته سی، شیطان په داسی مواقعو کی ډیری هلی ځلی کوی، بلکه عجیبه بله ده چی د فتاواو په کتابو کی داسی مسئله راغلی ده چی د سړی زوی ډیر ښائسته وی که څه هم بالغ وی ترکور د باندی د گلی او کلی د کانو ته دی نه پریږدی لکه لوی جی کو څو ته نه پریږدی لخوف الفتنة" بلکه فتنه په زوی کی ډیره ده تر لور، ولی لور ته خو یوازی بد کاره ځوانان گوری، او زوی چی ښائسته وی هم بد کاره ځوانان سترگی ورته کشوی او هم بد کاره ښځی سترگی د شهوت ور اړه وی" نو زوی چی ښائسته وی د ږیری تر راتلو باید په کور کی وی، خصوصًا د مسکینا نو، امن چی پلار یه د جیب خرڅ ور کولو توان نه لری نو د هغه زوی په شل روپی مثلاً و بد کاری ته تیا ریږی،

پوه سالہ: چی د فرضی یا واجب مثلاً کار کولو یا د حرام او مکروه کار کولو حاجت د استخاره خو هیڅ نشته مگر په سفر کی د حَج د اقدر استخاره دی وکی چی زه حج ته په موټر وکی ولاړ یم یا په آب گوټه کی یا په طیاره کی ولاړ سم، او دا استخاره دی هم وکړی چی د فلانی سړی سره ملگری

سره که د فلانی سره، ## نوی شرط د حج د سفر مخکې دادی

چې سړی به د زړه په اخلاص د ټولو ګناهونو څخه توبه کاږي اود ټولو فرائضو، واجباتو، سنتو د کولو به د خدای جل وعلیٰ سره وعده کوی، او مظالم کی کړی وه پر خلکو باندی یا به بخښنه غواړی یا به یې رد د مظالمو کی امکان وو، او هغه عبادات لمونځونه روژی وغیره چې ده په وخت نه وی کړی د هغو به قضاء او یا شروع کوی، او ټینګ قصد دی وکړی چې زه به اینده داسی نه کوم، او کی د چا سره د خولی یا د لاسو خصومت کړی وی د هغو څخه دی هم عفوه وغواړی، او که د چا پور پرباندی وی د هغو ټولو دی وصیت وکړی، او په طول د سفر د حج دې دا دوه کلمی ډیری وائی: لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ،

او په ټوله سفر کی دی د ا نړیوالانو سره ښه اخلاق په کار واچوی، قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ: فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِی الْحَجِّ، الآیة ۰ او چې هرکله حرمینو شریفینو ته ورسیږی نو شپې او ورځې چې ډیری محدودی دې و خدای جل جلاله په طاعت او عبادت کی صرف کړی داسی دی نه کوی چې ټوله ورځ په بازار کی د تحفو د رانیولو دپاره تیروی، او داسی دی هم نه کوی چې د بعض وطندارانو سره مثلًا د ابوجهل په سرای کی یا په حرم شریف کی په باندار ورځ تیره وی درولیش وائی: ما ډیر وا رونه ولیدل چې د عرفات شریف چې ځای د دعا ګانو د قبلیدو دی حاجیان صاحبان په مخرو په خندا سره دیوی خیمی څخه بلې ته او بلې خیمه ته تلل چې ماز دیګر به سوی کړی به ئی دعا وکړه بیا به په موټرانو کی سپاره سوه د مزدلفی پر خوا به روان سو،

حاجی باید فکر وکړی چې ما دا دونه روپې په طیاره کی مصرف کړې او دونه سترتیاوی پر ځان برداشت کړی او د کور او لاد څخه می ځان مسافر کړی دی دڅه دپاره؟ ډیر خلک د شرمه او بیغورې څخه چې فلانی روپې لری او حج نه کوی حج ته ولاړ سې، هغه کسان نو ځکه داغر شپې او ورځې په حرمینو کښی عبث تیره وی چې راسی خلک وائی چې فلانی حاجی صاحب د حجر اغلی

دی، ومن التوفیق لما یرضی به الرب جل سلطانه، قال علیه الصلوٰة والسلام: انما الاعمال بالنیات وانما لامرءٍ ما نوی، الی اخر الحدیث رواه البخاری فی اول کتابه، قال المصنف

هُوَ زِیَارَةُ بِقَاعٍ مَخْصُوْصَةٍ بِفِعْلٍ مَخْصُوْصٍ فِیْ اَشْهُرِهٖ

حج زیارت کول دی د خاصو ځایو لکه عرفات کعبه وغیرهما من المقامات المتبرکة فی مکة المکرمة وحوالیها، هغه دا چې

وَهِیَ شَوَّالُ وَذُوالْقَعْدَةِ وَعَشْرُ ذِی الْحِجَّةِ

دی بجمرو وی په نیت د حج اولًا او طواف کول نکی په طواف قدوم او بیا په عرفات دریدل وغیرها من الافعال التی ستجی بیانها، په میاشتو کی د حج چې هغه د کښنی اخترمیاشت او د میانی میاشت ده، او لس ورځې د لوی اختر د میاشتی دی. نو که څوک یو فعل دا فعالو د حج تر دغو میاشتو خارج وکړی هغه به درد نه خوری، یعنی نه دی رواحتی چې احرام تړل د مخه تر دغو میاشتو د مخه وکړی مکروه تحریمی دی که څه هم پر ځان په اعتماد وی چې زما څخه محظور الاحرام نه صادریږی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فُرِضَ مَرَّةً عَلَی الْفَوْرِ فِی الْاَصَحِّ

فرض کړه سوی دی حج یو وار یعنی په ټوله عمر کی لکن کول یې پوری لازم دی په هغه شروط ثمانیه چې عنقریب به راسی، امام طحطاوی وائی چې وقت د حج په اصطلاح د اهل اصول مشکل بولی، د دی سببه چې د بعض عباداتو وقت معیار وی. د معیار معنا دا ده چې څومره وخت هغو ته به عبادت وی لکه د روژی وخت په ټری او د ورځې کی او بل د جنسه د هغه عبادت نور سره ځائیږی لکه د فرضی روژی سره نفلی یا قضائی نه ځائیږی، نو د دی جهته چې چونکه په اشهرو کی د حج په یوه کال کی بل حج نه ځائیږی، نو بیا یې وخت د حج معیار وی، او د بعض عباداتو وخت ظرف وی یعنی سره د هغه عبادت بل د جنسه دده ځائیږی، او عبادت ټوله وخت نه نیسی، لکه وخت د لمانځه چې نفل او قضائی لمونځ په وخت کی د فرضی لمانځه ځائیږی، او لمونځ ټوله وخت هم نه نیسی، دا اخری خبره د دی سببه یعنی چې د حج افعال ټوله میاشتی د حج نه نیسی نو بیا یې وخت د حج ظرف سی، نو څوک چې جهت د معیاریت

ترجیح ورکوی نو هغه با لفوره واجب بولي، لکن نه په دی معنیٰ کی سړی تر اول کال یه وځنډوی نو حج قضائی بلل کیږی لکه روژه چی تر خپل وخت تیروسی نو قضائی گنړل کیږی، بلکه په دی معنا چی تر اول کال یه وځنډیدی گناه کار فاسق، مردود الشهادة دی، لکن بیا هم کی سپه وروسته کلو کښی اداء کړي، دغه مذکوره جریمی بیرته پوره نه کیږی، نو څوک چی ترجیح و ضرفیت نه ورکوی هغه حج واجب علی التراخی بولی، یعنی په تراخی گناه کار نه دی لکن نه په دی معنا چی هیڅ گناه نسته، البته که مذکوره جریمی نسته، او په دی کی شک نسته چی عبادت ته تیاره بنه کوردی، ط، دروئیش» قـال المصنف:

وَشُرُوطُ فَرْضِيَّتِهِ ثَمَانِيَةٌ عَلَى الْأَصَحِّ اَلْإِسْلَامُ

وشرطونه دفرضیت دحج اته دی پر صحیح مذهب باندی، اول یه اسلام دی، نو پر کافر حج نسته حتی که کافر په وخت کی دکفر غنی ؤ بیا ورسته مسکین سو او مسلمان سو نو دکفر د غنا په سبب پر ده حج نه دی فرض. او که مسلمان طاقت دحج یه درلودی لکن ده ونه کړی او بیا مسکین سو حج یه پر ذمه کی پاته دی، قـال المصنف:

وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ وَالْحُرِّيَّةُ وَالْوَقْتُ

دوهم شرط یه عقل دی نو پر لیونی نسته، او دریم شرط بلوغ دی نو پر کشنی که څه قدرت مالی دحج لری حج باندی فرض نه دی. او څلورم شرط ازادوالی دی، نو پر مریی باندی حج نسته، او پنځم شرط وخت دی چی دحج میاشتی دی نو دمخه دحج تر میاشتو حج فرض نه دی حتی که یو سړی تر شهره حج دمخه غنی وو چی اشهر دحج راتلی نو دی مسکین سو حج پر فرض نه دی». قـال المصنف:

وَالْقُدْرَةُ عَلَى الزَّادِ وَلَوْ بِمَكَّةَ بِنَفَقَةٍ وَسَطٍ

او شپږم شرط یه قدرت دی پر توښه یعنی نفقه، که څه هم په مکه کی وي یعنی توښه دلاری او د مکی هم شرط دی، لکن میانه نفقه. **پوښتـنه** چی بحر الرائق او طحطاوئ کی وائی چی مراد د زاد څخه وسطه هغه نفقه مراده چی د سړی صحت د بدن ورسره عادت وی، او دا چي

نفقه په خلکو کی تفاوت لری لبعض خلک د سړی او وچی ډوډی سره عادت وي لیعنی که غوښی نه وخوري صحت د بدن نه یه تاوان نه رسیږی، او لبعض خلک د غوښو یا د وریجو سره عادت لری **نو معلومه** که یو سړی د غوښو سره یه عادت وود خوړلو او د حج کولو په صورت کی صرف پر وچه ډوډی یا د شلومبو سره قدرت یه درلودی، پر غوښو خوړلو یه قدرت نه درلودی نو دی قادر علی الزاد نه بلل کیږی او حج پر فرض نه دی **پوښتنه** د وسط معنا نو څه ده **جـواب** د وسط معنا دا ده چی په معتاده نفقه کی میانه وی، فتدبر

وَالْقُدْرَةُ عَلَى رَاحِلَةٍ مُخْتَصَّةٍ بِهِ أَوْ عَلَى شِقِّ مَحْمَلٍ

او بل شرط یه قدرت دی پر راحله یعنی اوښ یا اوبنه، او یا قدرت دی پر نیمی دکجاوی داوښ لکن

بِالْمِلْكِ اَوِ الْإِجَارَةِ لَا الْإِبَاحَةِ وَالْإِعَارَةِ

په ملک وی او یا په کرایه وي، نه په اباحت یعنی چی یو سړی وبل ته ووائی چی زما پر راحله تاته سپریدل مباح دی یا په عاریت غوښتلو سره لیعنی چی یو سړی وبل ته ووائی چی دا ستا اوښه ماته په عاریت راکړه چی زه حج ته پر ولاړ سم هغه هم ورته ووائی ښه ده، غرض په دی دوو صورتو کی سړی قادر پر راحله نه بلل کیږی او حج پر فرض نه دی، او د موټر او طیاری هم دا غه حال دی شبرا بشبر، فتکر د رویش» **دیاد وړ خبره:** بحر الرائق په بحث کی د راحلی وائی چی که پر اوښ نه وو قادر پر غاتره یا خره قادر وو حج پر واجب نه دی آه، **مسـئـله:** که یو سړی ته بل سړی د حج روپۍ وره هبه کولی پر سړی قبول نه دی لازم، نو په دی سره حج نه پر فرضیږی ط» **مسـئـله** که یو سړی د اهل مکه ومن حولها څخه وو بلکه وطن یې لری وو لکن مع ذالک قادر پر مشی پیاده وو حج نه دی پر فرض» در، قـال المصنف:

لِغَيْرِ اَهْلِ مَكَّةَ وَمَنْ حَوْلَهُمْ اِذَا اَمْكَنَهُمُ الْمَشْىُ بِالْقَدَمِ

او قدرت پر راحله شرط دی د غیر اهل مکه او هغه څوک چی پر شا وخوا د مکی مکرمی وی که دوی ته ممکن

وو تگ پر پښو، نو پر دوی حج فرض دی پر پښو ولې چې دا لکه تګ جمعې ولمانځه ته دی» قال:

وَالْقُوَّةِ بِلَا مُشَقَّةٍ وَإِلَّا فَلَا بُدَّ مِنَ الرَّاحِلَةِ مُطْلَقًا

او څلورم شرط قوت سره بیله مشقته دی او کې تګ د پښو بیله تکلیفه نه سوای کولای نو چاره نشته په فرضیت کی د حج د راحلې څخه مطلقًا که مکې وی او که بل ځوك وی» د رولیش و ائی، چې نن صباچونکه داوبن سفر د حج ډیر نادر دی بلکه په ځای کی داوبن نن ورځ موټران لوی او کښتۍ ولاړ دی نو که مشقت وو نو ده کرایه د موټر څخه چاره نشته په فرضیت کی د حج» قال المصنف:

وَتِلْكَ الْقُدْرَةُ فَاضِلَةٌ عَنْ نَفَقَتِهِ وَنَفَقَةِ عِيَالِهِ إِلَى

او دغه قدرت مالی دده به زیاتی وی تر نفقې د ده او تر نفقې د عیال دده تر وخت دده د بیرته راتلو

حِيْنَ عَوْدِهِ وَعَمَّا لَا بُدَّ مِنْهُ كَالْمَنْزِلِ وَأَثَاثِهِ وَاٰلَاتِ

د سفر څخه د حج او د غه رنګه به زیاتی وی د هغه شیانو څخه چې ده لره د هغو چاره نه وی لکه سرای خواه ملکًا وی خواه په کرایه وی، او اسباب د منزل

الْمُحْتَرِفِيْنَ وَقَضَاءِ الدَّيْنِ

او کور لکه کمبله نالی و تلتك وغيرها، او زیاتی به وی تر آلاتو د کسب کارانو لکه تیشه، اره وغیره د نجار، د پاره اویانو کسب کاران، او زیاتی تر اداء کولو د پور چې پر ده باندی وی، **پوهه سه**: چې عیال د سړی هغه څوك دی چې نفقه یې پر ده لازم وی، **مسئله** که د سړی په سرای کې ترحاجت د ده بالا څکه یا خونې وی چې ده هغو خرڅې کړی وای، نو حج به په کولای سو لې ایا پر ده خرڅول د دغه بالا څوکای واجب دی او حج پر فرض دی او که څرنګه! **جواب**: خرڅول خو یې واجب نه دی لکن افضل دا ده چې خرڅ یې کړی او حج په وکړی، ط، قال المصنف:

وَيُشْتَرَطُ الْعِلْمُ بِفَرْضِيَّةِ الْحَجِّ لِمَنْ أَسْلَمَ بِدَارِ الْحَرْبِ

او یولسم شرط د فرضیت د حج علم دی د سړی پر فرض والی سره د حج هغه چا لره چې په دار الحرب کی اسلام راوړی

أَوِ الْكَوْنِ بِدَارِ الْإِسْلَامِ

وی او یا دا چې په دار اسلام کی بود باش کوی نو که په دغه وخت کی په فرضیت د حج خبر وی او که نه وی حج پر فرض دی، ولی نا خبرتیا په دار اسلام کی عذر نه دی بلکه د سړی خپل تقصیر او بې پاکی ده چې په دار اسلام کی او سیږی او ده د اسلام په فرائضو سره دی خلاص او په ناخبر دی بخلاف دار الحرب کما لا یخفی، عز، در، قال المصنف:

وَشُرُوْطُ وُجُوْبِ الْأَدَاءِ خَمْسَةٌ عَلَى الْأَصَحِّ صِحَّةُ الْبَدَنِ

او شرطونه د وجوب د اداء یعنی پر سړی لازمولو کول د حج پنځه دی پر صحیح روایت اول جوړوالی د بدن دی نو پر غنی سړی چې ناجوړه وی که څه هم حج فرض دی لکن اداء یې نه ده فرض لعذر المرض، قال:

وَزَوَالُ الْمَانِعِ الْحِسِّيِّ عَنِ الذَّهَابِ لِلْحَجِّ وَأَمْنُ الطَّرِيْقِ

دوېم شرط دا دی چې مانع چې په سترګو معلوم وی د تګه څخه د حج زائل یعنی نه به وی، لکه چې حکومت پاسپورت نه ورکوی چې بیله پاسپورته حاجی ته سفر ممکن نه دی الی غیر ذالك دریم شرط دا دی چې لاره حج ته په خطره کې نه وی، **پوهه سه**: چې معتبر په امن کی دا ده چې غالبًا لاره امن وی، ولی حقیقت امن په علم کی د خدای جل سلطانه دی، لکه په موټر کی حج کول او یا په طیاره کی حج کول او یا په آب ګوټ کی حج کول، چې که څه هم احتمال د دی شته چې موټر دی په لاره کی د سفر د حج چپه سی، او یا دی طیاره سقوط وکړی یا دی آب ګوټ په دریاب کی غرق سی، لکن دا احتمالات فرضیت د حج د اداء سړی د ذمی څخه نه ساقطیږی، ولې چې اغلب په دغو سیرلیو کی سلامتیا ده کما یدل علیه التجربة، قال المصنف:

وَعَدَمُ قِيَامِ عِدَّةٍ وَخُرُوْجُ مَحْرَمٍ وَلَوْ مِنْ رَضَاعٍ

او یولسم شرط د وجوب الاداء دا دی چې د ښځې سره چې حج ته ځی محرم به په سفر ور سره وتری، **پوهه سه**: چې محرم هغه څوك چې ابدی د دغې ښځې نکاح ور ته حرامه وی، نو اجنبی

اَوْمُصَاهَرَةٍ مُسْلِمٍ مَامُوْنٍ عَاقِلٍ بَالِغٍ نواخښې يعنې د ښځې د خور ميړه محرم نه دی

الى غيرذالك، کې څوک محرم د رضاع د سببه وي لکه د ښځې سره رضعي زوی يا ورور ملګری وي او يا د خيښې د لارې په محرم وي لکه د ښځې سره چې زوم په سفر کې د حج ملګری وي. لکن شرط دا دی چې دغه محرم مسلمان وي او د امن سړی وي يعنې زنا کاربه نه وي، او عاقل به وي ليونی به نه وي او بالغ به وي کشنی به نه وي، سبب دا دی چې مقصود ملګرتيا څخه د محرم ساتنه ده د حاجيه ښځې د خلګو د بدکاری څخه او دا مقصد په کافر خائن ليونی يا نابالغ کې نه پوره کيږي،

پوهسه: چې اصلي خائن مجوسي دی چې د هغه عقيده روا والی د نکاح د خور او مور سره ده لکن چونکه مجوسي په قيد مسلم ووتی، نو دلته د مامون څخه اخراج د خائن مومن دی کما لا يخفى» در، قال المصنف:

اَوْزَوْجٍ لِاِمْرَأَتِهِ او يا به ميړه د ښځې د دې سره ملګری وي. **مسئله** ښځه که ځوانه وي او که بڼې سپين سرې وي خو د ذکر سوو ملګرو څخه چاره نه لري. او امام شافعيؒ وايي چې ښځه که څوک ځوانه وي د نورو سپين سرانو ښځو حاجيانو سره بې محرم او ميړه سفر د حج کولای سی، لحصول مقصود من الحاجية من الزناء، لکن نصوص د منع د سفر د حج بيله محرمه او ميړه عام دی، نو د ښځو سپين سرو سفر د حج ښځې ته مطلقاً حرام دی. **مسئله** که ښځه کونډه وه او غنی وه، د مالي حيثيت پر حج قادره وه، او محرم يې نه درلودی، او يا نور سره تلي، پر دې فرض نه ده چې د حج د پاره به ميړه کوي، او کې وکړي ښه کار دی لکن دا شرط غلط دی چې دا به ميړه ته وايي چې د حج ر اغلو ما به طلاق وي، او نه يا سره به په سفر کې د حج جماع نه کوي، او کی شرط هم کړي ميړه ته روا ده چې په سفر کې د حج جماع ورسره کوي، او چې د حج څخه راغله خواه مخواه به ئې طلاقوي، بلکه دده خوښه ده کې طلاقوي او که نه» در، قال

وَالْعِبْرَةُ بِغَلَبَةِ الظَّنِّ فِى السَّلَامَةِ بَرًّا وَبَحْرًا

او اعتبار غالب ګمان لره دی په سلامتيا کې ده سفر ده حج که په وچه کې وی او که په دريا ب کې وي

درويش وائي: چونکه په زمانه د قدماء د امامانو او مصنفانو طياره نه وه، نو ځکه په عباراتو کې د دوی ځوا لفظ نه دی راغلی، وقدمر منا التفصيل في ذالك»

مسئله: که ښځې بې محرمه حج وکړي د حج فارې خلاصی سوي لکن مکروه کار دی،

مسئله: که ميړه د حج اسلام يعنې فرضي څخه ماينه نه سي منع کولای. البته د نفلي حج څخه يې منعه کولای سی لکه فرضي روژه او نفلي روژه، **مسئله** که د ښځې محرم د دې سره حج ته ولاړی نو ټوله خرڅ او نفقه او کرايه وغيره پر ښځه باندې دی، البته که محرمه غنی وو او حج پر فرض وو او د خپل حج د پاره تلی، او ښځه يې چې دی محرم وو ور سره ملګری سوه نو پر ښځه يې نفقه نه ده لازمه» در» قال المصنف:

وَيَصِحُّ اَدَاءُ فَرْضِ الْحَجِّ بِاَرْبَعَةِ اَشْيَاءٍ لِلْحُرِّ الْاِسْلَامُ

او صحيح کيږي اداء د فرضي حج په څلورو شيانو سره حُر سړي لره، قيد به لان العبد ليس عليه الحج المفروض، او اسلام چې مسلمان به وي، او دوهم

وَالْاِحْرَامُ وَهُمَا شَرْطَانِ احرام او دا دوه شرطه دی يعنې د صحت د پاره او رکن د حج نه دي، **پوهسه** چې شرط خارج موقوف عليه او رکن و داخل ته وائي، قال

ثُمَّ الْاِتْيَانُ بِرُكْنَيْهِ وَهُمَا الْوُقُوْفُ بِعَرَفَةَ لَحْظَةً

او بيا راتګ کول دی په دوو رکنو سره د حج، او هغه نو اول رکن د حج دريده دی پر عرفات لحظةً

مِنْ زَوَالِ يَوْمِ التَّاسِعِ اِلَى فَجْرِ يَوْمِ النَّحْرِ بِشَرْطِ عَدَمِ

يعنې که څه هم يو کم وخت وي، د وخت څخه د زوال د نهم ورځې بيا تر سپيدو پوري د اختر د ورځې

الْجِمَاعِ قَبْلَهُ مُحْرِمًا په شرط د دی چې د مخه تر عرفات بې جماع نه وي کړي په داسې حال کې چې دی محرم وو، **مسئله** کې جماع کړي وي نو حج يې فاسد سو نو د غه حج افعال به ټوله پوره کوي، او بل کال بې قضا راوړي در

قال المصنفؒ **وَالرُّكْنُ الثَّانِى اَكْثَرُ طَوَافِ الْاِفَاضَةِ فِى وَقْتِهٖ**

اود وهم رکن د حج اکثر د شوطو د طواف زیارت دی چې څلور شوطه دي، یعنی هغه دری شوطه واجب دی که د سړي څخه پاته سي

وَهُوَ مَا بَعْدَ طُلُوْعِ فَجْرِ النَّحْرِ چاره یه په دمرسره کیږي، اودا طواف به په خپل وخت کی کوي چې وروسته تر طلوع د سپیدو دی د ورځي د اختر، معنا داده چې تر دغه وخت د مخه طواف زیارت نه دی روا کی څه هم تراخیره عمر څخه ول روا دي، لکن واجبه داده چې په ورځو کی دغه نحر نی کوي، چې دری ورځی دي، والا یجب علیه الدم ۔

پوښتنه: چې دی طواف مفروض ته طواف افاضه وائي یعني چې حاجي د عرفات څخه راګرځي سو بیا ئی کوي، او طواف زیارت یه هم بولي چې دی زیارة ته بیت الله شریفی راځي» ط ، در

قال المصنفؒ **وَوَاجِبَاتُ الْحَجِّ اِنْشَاءُ الْحَجِّ مِنَ الْمِيْقَاتِ**

او واجب شیان د حج دادی د شروع کول دی د حج د میقات څخه، **پوښتنه:** چې په اطرافو د مکی مکرمی څو ځایونه دي، بعض لیری او بعض نزدی د پچې وهغو ته میقاتونه وائي د میقات معنا داده چې آفاقی سړي به تر هغه ځای بی احرامه د حج یا د عمري نه تیریږي،
۱ میقات دی د مدینی والاوو، چې هغه ته ذوالحلیفه وائي، چې د مدینې منوري څخه ۲ شپږ یا ۷ میله لیری دی، او تر مکی مکرمي پوري لس منزله دی یا نه ۹ » او دا هغه لیری میقات د مکی مکرمي څخه او د التربه پخوانی زمانه کی خاهان وه چې عوام ور ته ابیار علی« وائي، ۲ ذات عرق بولي» چې هغه میقات د اهل مشرق د مکی مکرمي څخه دی چې په مابین کی د دغه میقات او د مکی مکرمي ۲ منزله دی، ۳ جحفه ده یاد مهیعه» امام نوویؒ وائي چې د دغه میقات او مکرمي مکی تر مابین ۳ منزله دي، او دا یوی قریه نوم دی په مابین کی د مغرب او شمال د مکی څخه پر لاره د تبوك » او دا ځای میقات دی د اهل شام او مصر او د اهل مغرب، ۴ قرن دی او قرن دیوه غره نوم دی چې پای په عرفات ته رسیدلی دی، چې د مکی او قرن تر مابین دوه منزله دی، او دا میقات دی د نجد یا نو»

۵ یلملم دی چې جنوب ته د مکی واقع دی دوه منزله د مکی مکرمی څخه لیري دی او دا میقات د یمن د خلکو دی» **پوښتنه** چې دغه ځایونه چې میقات دیوخاص خلکو د پاره تا کل سوي د دی معنا دانه ده چې بیله د غو خلکو بل څوك د الته احرام نسی تړلای، لما ورد فی الحدیث النبویؐ هُنَّ لهم ولمن اتی علیهن» بحر، در» قال المصنفؒ

وَمَدُّ الْوُقُوْفِ بِعَرَفَاتٍ اِلَى الْغُرُوْبِ وَالْوُقُوْفُ

او بل واجب ځنډه ول د وقوف پر عرفات تر لویدو د لمر پوری او غایه په مغیا کی داخله ده، او بل

بِالْمُزْدَلِفَةِ فِيْمَا بَعْدَ فَجْرِ يَوْمِ النَّحْرِ وَقَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

واجب دریدل دی پر مزدلفه چې دیوځای نوم دی چې د عرفات پای ته دی، او دا دریدل په سپیدو څخه د ورځې د اختروی او د مخه تر راختو د لمر، قال المصنفؒ:

وَرَمْىُ الْجِمَارِ وَذَبْحُ الْقَارِنِ وَالْمُتَمَتِّعِ او بل واجب ویشتل دی د ځلو چې په عرف کی شیطانان ورته وائي، او بل واجب ذبح کول دیو حیوان دی قارن لره چې د میقات څخی د حج او عمري یو ځای نیت کړي او متمتع لره چې د میقات څخه یې د عمري نیت کړي او د عمري تر افعا لو وروسته احرام خلاص کی، بیا اشهر یا او ورځ په ورځ د حرمه څخه د مکی احرام د حج وتړي، چې عوام ورته د شکریه پوسه وغیره وائي» قال المصنفؒ:

وَالْحَلْقُ وَتَخْصِيْصُهٗ بِالْحَرَمِ وَاَيَّامِ النَّحْرِ وَتَقْدِيْمُ الرَّمْىِ

او بل واجب سرخریل دی یعنی یا تقصیر دی یعنی تا نو د سر چې عوام ورته ځان حلالیده ائي، او بل واجب خاص کول دی د حلق په حرم پوري او په ورځو کی د اختر او د مخه کول دی د ویشتلو د جمرة عقبی په حلق باندی

عَلَى الْحَلْقِ وَنَحْرِ الْقَارِنِ وَالْمُتَمَتِّعِ بَيْنَهُمَا

او ذبح د قارن او متمتع به په مابین کی وی یعنی تر رمی وروسته او تر حلق د مخه چې دا هم واجب دی

وَاِيْقَاعُ طَوَافِ الزِّيَارَةِ فِيْ اَيَّامِ النَّحْرِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ

اوکول واجب دی دَطواف زیارت په ورځوکی دَنحر چې درې ورځې دی، اوبل واجب سعی دَه په مابین کی دَصفا

الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فِيْ اَشْهُرِ الْحَجِّ وَحُصُوْلُهُ بَعْدَ طَوَافٍ

او دمروا، چې دوه غرونه دی، په میاشتوکی دحج، اوبل واجب کول دسعی دي پسله طواف **مُعْتَدٍّ بِهٖ** څخه چې داعتبار ور وی، یعنی تر نفلی طواف وروسته سعی به د صفا اومروه

نشته، در، ف، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمَشْيُ لِمَنْ لَا عُذْرَ لَهُ وَبِدَايَةُ السَّعْيِ مِنَ الصَّفَا وَ

طَوَافُ الْوَدَاعِ اوبل واجب پر پښو تګ کول دی د سعی هغه چالره چې عذر نه لری یعنی که عذر وو بیا دی د کرائی په ربې یا نوکی سپور سی، اویادی بل سړی په شاکی په شا دې سعی وکړي، اوبل واجب شروع د سعی دد د صفا څخه، نوکی دمروه څخه شروع وکړه هغه اول شوط لره اعتبار نشته. اوبل واجب طواف وداع دی چې طواف رخصت یه هم بولي اوطواف الصدر یه هم بولي، چې په اخیرکی چې کورته روانیږی دغه طواف به کوی۔

پُوه سه: دوداع معنا اودرخصت معنا یوه دَه. اوصدر په معنا درجوع دی، دامعنا نه نرده لکه بعض امامان چې کوي اوعوام هم چې پرځیګردی کعبی شریفی څخه دحرم څخه وزي، قَالَ

وَبِدَايَةُ كُلِّ طَوَافٍ بِالْبَيْتِ مِنَ الْحَجَرِ الْاَسْوَدِ وَالتَّيَامُنُ فِيْهِ

اوبل واجب شروع کول دهرطواف چې پرکعبه شریفه یه کوی دحجراسوده څخه، اوبل واجب دادی چې پر راسته طرف دی روانیږی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمَشْيُ فِيْهِ لِمَنْ لَا عُذْرَ لَهُ وَالطَّهَارَةُ مِنَ الْحَدَثَيْنِ

اوبل واجب دادی چې طواف دی پرخپلو پښو کوی بنځوک چې عذر نه لری، اوبل واجب کی دبدن ده دکښي اولوی لی اودسیا څخه چې جنابت

وَسَتْرُ الْعَوْرَةِ وَاَقَلُّ الْاَشْوَاطِ بَعْدَ فِعْلِ الْاَكْثَرِ مِنْ طَوَافِ الزِّيَارَةِ

اوبل واجب پټ والی دعورت دی په طواف کی، اوبل واجب کول دی داقل شوطو پسله دی چې اکثرطونه یه د مخکې کړي وي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَرْكُ الْمَحْظُوْرَاتِ كَلُبْسِ الْمَخِيْطِ وَسَتْرِ رَأْسِهٖ وَوَجْهِهٖ

اوبل واجب پرېښول دی دممنوعاتود احرام لکه پټول دنرسرخپل اومخ خپل اودګنډلی جامی اغوستل

وَسَتْرُ الْمَرْأَةِ وَجْهَهَا وَالرَّفَثُ وَالْفُسُوْقُ وَالْجِدَالُ

اوپټول دښځی محرمی خپل یعنی سرتری پټوی، اونه به کوی رفث چې جماع ته وائی اوبعض فقهاء وائی چې رفث قول فحش ته وائی اوفسوق به نه کوی یعنی مطلق معاصی اوګناهونه، **پُوه سه** چې ګناه کول خو په احرام اوغیراحرام کی ممنوع دَه لکن په احرام کی اشد منع دَه لکه دورېښمي جامی اغوستل په ښځه کی اشد ګناه دَه ترخارج د ښځه اوجدال به نه کوی یعنی خصومت دانه یوالانو سره د خادمانو سره اودهیچا سره، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَقَتْلُ الصَّيْدِ وَالْاِشَارَةُ اِلَيْهِ وَالدَّلَالَةُ عَلَيْهِ

اوقتل دښکار لکه هوسی، کوتره یعنی صید بری ولې چې دبحری صید لکه ماهی روادی په احرام کی اواشاره به نه کوی وبل چاته که محرم اوکه حلال دښکار وخواته، اودلالت به نه کوی دچاوښکارته یعنی داچې فلانی ځای ته ولاړ سه هلته هوسی دَه. نواشاره حاضرته وائی، اودلالت وغائب ته ده فافهم الفرق بین الاشارة والدلالة، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَسُنَنُ الْحَجِّ مِنْهَا الْاِغْتِسَالُ وَلَوْ لِحَائِضٍ اَوْ نُفَسَاءَ اَوِ الْوُضُوْءُ

اوسنت کارونه په حج کی دادی یو دسنتو څخه دحج غسل کول دی که څه هم حائضه ښځه وی یا نفاء اویا

إِذَا أَرَادَ الْإِحْرَامَ اودس تازه کول دي چي سړي يا ښځی اراده د احرام وکړه پوه سه چي غسل خوافضل دی کما لا يخفیٰ **فـائده**: د حائض او نفساء د غسل يا اودس د طهارت د پاره نه دی، ولي چي دوی که شل واره غسل وکی مثلاً په زمانه کی د حيض ياد نفاس وکړي پاکی نه کيږی بلکه دا غسل مثلاً د پاره د احترام د احرام دی، قـال المصنف

وَلُبْسُ إِزَارٍ وَرِدَاءٍ جَدِيدَيْنِ أَبْيَضَيْنِ اوبل سنت د حج اغوستل دی د لنګ يعنی د پاره د ستر د عورت، اوبل بتهو يعنی د پاره د پټولو د اوږو، ولي چي لمونځ سره د لڅ والی د اوږو مکروه دی، ط، اوهغه دوی جامی به نوی او سپينی وي. اوکی د نوی طاقت نه درلودی نو غيلينه هم کافی دي، **وَالتَّطَيُّبُ** اوبل سنت خوشبوئی لګول دي يعنی قبل الاحرام لکن په بدن نه پر کالو. ولي چي تطيب د جامو په نيزد تهولو اماما نو روانه دی لکه بعض جاهلان عوام چي کوی، اود بدن سر يا بزيری خوشبوئی عامه ده که ذات د خوشبوئی پاته لکه مشک اوکی صرف بوی يه پاته وي، کذا في البحر و در، ط، قـال المصنف

وَصَلَوٰةُ رَكْعَتَيْنِ وَالْإِكْثَارُ مِنَ التَّلْبِيَةِ بَعْدَ الْإِحْرَامِ رَافِعًا او دوه رکعته لمونځ هم سنت د حج دی د مخه تر احرام، او ډيره دی وائی تلبيه پسله احرامه نخز اوپورته کوونکی

بِهَا صَوْتَهُ مَتَىٰ صَلَّىٰ أَوْ عَلَا شَرَفًا أَوْ هَبَطَ وَادِيًا أَوْ لَقِيَ به وی اواز لره په تلبيه سره هروخت چي لمونځ وکړی، اويا پر بيولو ځای پورته کيدی، اويا کښته

رُكْبَانًا وَبِالْأَسْحَارِ شيلی ته شوه کيدی، اويا د نورو سپرو خلګو سره ملاقی سو اود سحار په وخت کی دی هم تلبيه ډيره وائي"

وَتَكْرِيرُهَا كُلَّمَا أَخَذَ فِيهَا وَالصَّلَوٰةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مکرر دی وائي چي شروع يه په وکړه يعنی هروخت چي شروع په تلبيه وکړه يو څو واره دی پر له پسی وائی

اثله مرتبه يه دری واره دي، او والصلوٰة عطف دی پر تلبيه يعنی د سنتو څخه د حج درود ويل دی پر نبی عليه الصلوٰة والسلام باندي، قـال المصنف:

وَسُؤَالُ الْجَنَّةِ وَصُحْبَةِ الْأَبْرَارِ وَالْاِسْتِعَاذَةُ مِنَ النَّارِ اوبل د سنتو څخه د حج سوال دی يعنی په لوی دربار کی د خدای جل سلطانه د جنت او ملګرتيا د نيوخلګو په جنت کی اود پناه غوښتلو د اور څخه، درويش وائی چي د دغو درو شيانو درخواست بايد په بار بار په ډير عجز او انکساری سره حاجی وکړی ولي چي مقصود د حج څخه بلکه د ټولو اعمالو حسنه وو بلکه د اسلام د دين څخه هم دغه دری شيان دي، قـال المصنف

وَالْغُسْلُ لِدُخُولِ مَكَّةَ وَدُخُولُهَا مِنْ بَابِ الْمُعَلَّاةِ نَهَارًا اوبل سنت غسل دی د پاره د داخلی د مکی مکرمی اوبل سنت دخول دی ورتنه د مکی مکرمی د باب المعلاة څخه چي اوس په نامه د کدا يا ديری او عوام يه کدی بولي، درويش وائی چي دا سنت په اوسنی زمانه کی عمومی حاجيان چي د شرق او مغرب او د ليری مملکوته څخه راځی نسی اجراء کولای، ولي چي کارو بارد حاجيانو د معلمانو په لاس کی دی، حاجيانو ته هيڅ درک نه معلوميږی البته په ۱۴۲۳ سنه چي دا فقير حج ته تللی وو اتفاقاً موپر دغه دروازه دخول راغلی هغه په دی سبب چي زمونږ د معلم په کداء کی کور اود فتر وو اود کداء عمارې د حاجيانو د پاره په کرايه اخستی وي. او چي مونږ ورغلو نبان او مطوف راسره کړی پردغه دروازه هم دوړ ځی داخل سو، فللّٰه الحمد والمنة، قـال المصنف

وَالتَّكْبِيرُ وَالتَّهْلِيلُ تِلْقَاءَ الْبَيْتِ الشَّرِيفِ او الله اکبر دی وائی او لا اله الا الله دی وائي په وخت کی د ملاقات يعنی د ليدلو د بيت الله الشريف، **پـوهسه**: چي معنا د تکبير دا ده الله اکبر من کل کبير کما هو المتعارف فی الکتب وما قال ط معناه الله اکبر من الکعبة لئلا يقع نوع شرك آه، فمما لا افهمه تدبر، درويش.

اللهم اغفر لمولفه ولكاتبه ولوالديهما ولجميع المؤمنين.

وَالدُّعَاءُ بِمَا أَحَبَّ عِنْدَ رُؤْيَتِهِ وَهُوَ مُسْتَجَابٌ وَطَوَافُ [13]

اوبل سنت دحج دعا کول دی په هغه شی چی دحاجی خوښ وی په وخت کی دليدو دکعبی شريفی او دغه دعاء په دغه وخت کی قبليږی، اوبل سنت

الْقُدُومِ وَلَوْ فِي غَيْرِ أَشْهُرِ الْحَجِّ طواف قدوم يعنی اول وار چی کعبی شريفی ته ورسيږی که څه هم په غير کی دمياشتو دحج وی، لعنی دعمری په نيت، حاصل دا چی طواف قدوم په حج پوری تخصيص نلري،

وَالْاِضْطِبَاعُ [14] اوبل سنت دحج يعنی دطواف په وخت کی لعنی طواف قدوم اضطباع ده داضطباع معنا داده چی پڅوډی تر استه اوږ لاندی برچيه اوږه واچوي

تنبيه لعض عوام حاجيان چی په طواف کی ئی اضطباع وکړه نو وهغه ته دوام ورکوی په غير کی دطواف په هم کوی حتی درويش وليد دچی لعض حاجيانو په کلپی سنتن پټوبي جبه اوږه تينګ تړلی وو اولمونځونه ئی کول اوسره ددی چی دمخه ذکر سوه چی په لڅه اوږه لمونځ مکروه دی حتی چی ما پر دغسی خلګوته ووئيله چی اوږه دی پټه کړه لکن عمل يه نړيه کاوه ولنعم ما قيل. آن کس که نداند وبداند که بداند : درجهل مرکب ابد الدهر بماند: قال المصنف:

وَالرَّمَلُ إِنْ سَعَى بَعْدَهُ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ اوبل سنت دحج اوږی سنورول دی په هغه طواف کی وروسته سعی ده صفا او مروا ليسی کوی، او په اشهر کی دحج وی **پوهسه** چی رمل چابک تګ دی چی ګامونه نژدی سره ايږدی، او اوږی به هم سنوروي، **مسئله** که په اولو درو شوطو کی رمل نه وکړی په هغه پاتی شوطو کی به ئی هم نه کوی، ط، او که په ازدحام دخلګو کی راغلی چی رمل به نسوای کولای نودی ودريږی چی فرجه پيدا سی بيا دی رمل وکړي

پوهسه: چی دمتن څخه دا معلوميږی که طواف قدوم والا اراده دسعی نه درلوده بيا طوافونو پر هغه رمل هم لازم نه دی، وسيأتی بيانه فی الفصل الآتی إن شاء الله،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه وقد كتبته بقلمه فضل الحق حقانی ١٤٢٣ه ٧-٩-

وَالْهَرْوَلَةُ فِيمَا بَيْنَ الْمِيلَيْنِ الْأَخْضَرَيْنِ لِلرِّجَالِ وَالْمَشْيُ

اوبل سنت دحج چابک تګ دی په سعی کی په مابين کی ددوو ميلانو چی په تلل نږغونه دی، لکن نرانو لره نه ښځو لره او تلل دی کوی په سکون او اطمنان

عَلَى هَيْئَتِهِ فِي بَاقِي السَّعْيِ کوی چی تر ميلينو تيرسی. قال المصنف

وَالْإِكْثَارُ مِنَ الطَّوَافِ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ صَلوٰةِ النَّفْلِ لِلْآفَاقِيِّ اوبل سنت دحج ډير طوافونه کول دی او طواف افضل دی تر نفلی لمانځه دهغو حاجيانو دپاره چی داطرافو څخه دعالم اسلام راغلی وی سبب دادی چی نفلی لمونځ خو حاجی کورهم کولای سی، او طواف خو هر وخت نه ميسريږی كما لا يخفى **فائده** دمکی خلګو لره په موسم کی دحج نفلی لمونځ افضل دی تر طواف، تا چی طواف ګاه افاقيانو ته خالی سی، او په غير کی دموسم الحج دوی لره هم طواف افضل دی تر نفلی لمانځه، قال المصنف:

وَالْخُطْبَةُ [19] بَعْدَ صَلوٰةِ الظُّهْرِ يَوْمَ سَابِعِ ذِي الْحِجَّةِ

اوبل سنت دحج ويل دخطبی دی لعنی امام لره دحرم شريف په مابين د لمانځه څخه په اوومه ورځ

وَهِيَ خُطْبَةٌ وَاحِدَةٌ بِلَا جُلُوسٍ يُعَلِّمُ الْمَنَاسِكَ فِيهَا

دلوی اختر ده مياشتی چی دا خطبه يوه خطبه ده په مابين کی نا سته نشته لکه دجمعی دخطبی په مابين کی او ور ښيئی به وحاجيانو ته مناسك او افعال دحج لکه وقوف عرفات، مزدلفه، او نور افعال دحج چه په دغو ورځو کی حاجيان کوی، قال المصنف:

وَالْخُرُوجُ بَعْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ مِنْ مَكَّةَ إِلَى مِنًى وَالْمَبِيتُ بِهَا اوبل سنت دحج وتلل دی دحاجی بيله راختلو څخه دلمر په ورځ داتمه دمکی مکرمی څخه ومنی ته او شپه تيرول دی په منی کی

ثُمَّ الْخُرُوْجُ مِنْهَا بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ يَوْمَ عَرَفَةَ اِلٰى عَرَفَاتٍ

اوبیا سنت د حج وتَل دی دحاجی دِمنٰی څخه پله راختلو د لمر په وړاندې دعرفات اوعرفات ته دروِلیږدوالی چې په ورو سره کی تر لمر راختو حاجیا ن دلوی تکلیف سره چې عرفات ته وزری ځانځ کیږی، هغه داچې چونکه د معلمانو نفر ډیر دی، نو دوی نسی کولای چې ورو ورسته تر راختو لمر دی تر زوال پورې خپل حاجیا ن وعرفات ته ورسوي، نوځکه دوی د سپیدو څخه موټران اولیسان حاجیانو ته ورته ورکوی چې په هغه وخت کی هیڅ بیربار اوازدحام په موټرانوکی نه وي نودوی چې یوه یَره حاجیان وعرفات ته وخپلو خیموته ورسَوَل، بیرته موټران بلا معطله راځی، نور حاجیان ترخیمو د عرفات رسَوي ثم وشم»

چې لمر راوخیژی حاجیان د دغه سنت د پرځای کولو د پاره ډیر اواکثر په منٰی کی وی اوپه یو ځلا پر بسانو راووزی، حتی چې داسی ازدحام جوړیږی چې په موټرانو کی ځای په حملو او په جنګو نه پیدا کیږی، یوکری وروسته د بسانو آمد ورفت هم بند سی، نوکوم حاجیان چې په منٰی کی هنوز باقی پاتې دی پیدا به پښو ځی هغه ډیر لوی مَزل دی، ولی چې د منٰی څخه تر عرفات پوری ۶ میله لاره ده، اویا به تکسی موټرانوکی ځی. اول خو تکسیان د موقع څخه استفاده سره ډیر پیسې غواړي، او بیا چې تکسی والا چې صرف حاجی په عرفات کی داخل کړي نو بیه تا کې، حاجی بیچاره دَخپل معلم په خیمو پسی سرګردان وي، اوبیا معلم او خپلو خیموته نه رسیږي . دهر معلم خپل ټکټ دحاجی سره وی چې هغه و، بیکاره نه کی په دروازه کی د مجموعَه خیمو، کی دهر مُعلم سَرې ولاړ وی ټکټ کوري نه ئی پرینږدی اوکه څه هم معلم خو خپل حاجی ته ټکټ دخیمو ورکړی هم وی، لکن حاجی ته داپته هم نه لګیږي چې زما د معلم خیمی به چیری وي، په زره بلکه په لکو خیمی وَلاړې وی ، حتی ما داسی حاجیان ولیده چې خیمی به څنګه ورکی وی نو لږ پریوه دړخته بیتهو وغیره اچولی وو، وږی اوتږی تر لمر لویده پوری به ناست وو، اوکوم حاجیان چې د معلم په موټرانوکی به وَلاړه هغه خویبه دخپلو خیمو څخه تا کوی هلته بنی بنی فرش کړی خیمی ولاړې وی اود چینګ او به فراوانه وي، اودچکر ځایونه ډیری اوداودس یا غسل کولو ځایونه هم فراوان وی، او د ی سره دغری په وخت کی د معلم دخوابنی ورچی

اوغوښنی مفتی ور کول کیږی اوحاجی د ټولو سرګردانیو څخه دخدای جل سُلطانه وعبادت ته فارغ البال وي؛

تشریح نوددی تکلیفو اوکړاوونو سببه که حاجی په منٰی کی دلمر راختو ترسُنت تیرسیږ اوقبل ازان بی ازدحامه به عرفات ته وخپلو خیموته ورسیږی، نود عرفات سخته ورځ به بی دسرګردانی څخه خلاصوی اوعبادت اودعا ګانوته پسله زواله د لمر به په استراحت وي، وَقد قالوا الضروريات تبيح المحظورات . نوپه نظر د درویش ود غه سنت بنی د لمر راختو وروسته وتلل دمنٰی څخه په پاتیدوسره اوپه پټ لمرونلوسره دمنٰی څخه، درویش رائی چې د انولې واقعاتې چې مابیان کړی زما چشم دید واقعی وي. ولی چې د درویش اوداته کسه اندیوالان وَه څه وخت چې سپیدی سوی په منٰی کی اود مُعلم د موټرانو انتظار نه وګرځیده دوی ما ته وویل چې اوس مُوټران ډیر فارغ اوخالی دی راځی چې عرفات ته ولاړسو ما ورته وویل چې دا کار خلاف السنة دی نودوی هم پاته سوه اخیرچې لمر راوختی ازدحام دومره ډیرسو، چې موږ اندیوالانو په اجتماعی صورت کی په موټرانوکی ځای پیدا کول ناممکن سوه ، اخیرچې موټران قطع سوه په تکسی کی ولاړو، اوهغه بیان کړه سوی تکلیفونه موګرده ولیدل . قال المصنف:

فَيَخْطُبُ الْإِمَامُ قَبْلَ صَلٰوةِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ مَجْمُوْعَةً

اوبیا سنت د حج دادی چې امام به د مخه د ماپښین اومازدیګر ترلمانځه حال کوی دمازدیګره چې جمع کړه

جَمْعَ تَقْدِيْمٍ مَعَ الظُّهْرِ خُطْبَتَيْنِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا

کیږی په جمع تقدیم سره یعنی ترخپل وخت د مخه د ماپښین د لمانځه سره اداکیږی دوی به وائی چې په ما بین کی به کښینی، **پوښته:** چې ټوله حاجیان چې حساب په لکوته رسیږی په مسجد کی دنمره چې په عرفات کی واقع دی نه جمع کیږی اونه ئی امکان د جمع سته، بلکه په اوس کلو کی داسی حاجیان ډیروی چې دغه مسجد یه په سترګو نه وی لیدلی، نو هغه کسان چې دغه مسجد ته که حاضر نسی نو غرمازدیګرلمونځ پخپل وخت کی کوی او جمع ورته روا. هو کولای سی چې هریو دغو دوو لمونځو

پخپل خپل وخت کی په جماعت سره وکړي، قال المصنفؒ:

وَالْاِجْتِهَادُ فِي التَّضَرُّعِ وَالْخُشُوْعِ وَالْبُكَاءِ بِالدُّمُوْعِ

اوبل سنت دحج دادی چی ډیر کوشش به کوی ټوله حاجیان په تضرع یعنی عجز ظاهری سره اوخشوع یعنی په عجز باطنی سره اوژړا به کوی په اوښکو سره یعنی نه په غرغرو سره لکه لعض ریا کاران چی په سترګوکی وښکه نوی اوناری اوغلبلی ئی تراسمان تیری وی، گفته اند ؎

بروی دریا خرقه سهلت دوخت ؛ اگر برخدا درپروسشی نکوست ؛ والله الغنی عن العبادة الشریکة. قَالَ

وَالدُّعَاءُ لِلنَّفْسِ وَالْوَالِدَيْنِ وَالْاِخْوَانِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِمَا شَاءَ

اوبل سنت دحج دادی چی دعا به کوی دځان دپاره اودمور اوپلار دپاره اودپاره د ټولو ورونړو مسلمانانو دپاره په هغه دعا سره چی دده

مِنْ اَمْرِ الدَّارَيْنِ فِي الْجَمْعَيْنِ

خوښه وي د کار روښه د دنیا اوآخرت په دواړو جمعوکی یعنی دعرفات اومزدلفی شریفی. قال المصنفؒ:

وَالدَّفْعُ بِالسَّكِيْنَةِ وَالْوَقَارِ بَعْدَ الْغُرُوْبِ مِنْ عَرَفَاتٍ

اوبل سنت دحج دادی چی په آرام اوعزت سره دی تپله لمر لویدو د عرفات نه رار وان سی اوبل

وَالنُّزُوْلُ بِمُزْدَلِفَةَ مُرْتَفِعًا عَنْ بَطْنِ الْوَادِي بِقُرْبِ جَبَلِ قُزَحَ

مزدلفه دی ورته واړوی، دشیلی دنسه نخه لوړچی وادی محسر یه بولی. نژدی وجبل قزح ته چی مشعر حرام یه هم بولی، **مسئله** دماښام لمونځ دی تروخت وځنډوی اودماختن دلما نځه دمخه دی وکړي انفرادًا کان اوجماعتًا، قال المصنفؒ:

وَالْمَبِيْتُ بِهَا لَيْلَةَ النَّحْرِ وَالْمَبِيْتُ بِمِنًى اَيَّامَ مِنًى بِجَمِيْعِ اَمْتِعَتِهٖ

اوبل سنت شپه تیرول دی په مزدلفه کی اوبل سنت دحج شپی تیرول دی په منی کی په ورځو کی

دمنی سره د ټوله کالو اوسامانه، قال المصنفؒ:

تقدیم

وَكُرِهَ تَقْدِيْمُ ثِقْلِهٖ اِلٰى مَكَّةَ اِذْ ذَاكَ

اومکروه دی د مخه استول دخپل سامان ومکی ته په دغه وخت کی چی دی په منی کی وي،

مهمه مسئله، یوه دامسئله چی ټوله امتعه دده سره به وي سره وي! اوبله دا چی خپل سامان د مخه ومکی ته نه استوي، اوبله دامسئله چی حاجی دخپل سامان په مکه مکرمه کی نه پریږدی بلکه ټوله به عرفات ته ورسره وړي، اوپه کتابوکی دفقهی وائی چی ددی ټولو کراهت تحریمی دی، اوسره ددی چی حاجیانو ډیر سامانونه اوشیان په مکه مکرمه قبل ایام الحج رانیولی وی اوهغه ټوله په مکه شریفه کی دمعلم پرځای په کوټه اطاق کښی پریږدی اطاق لیی قلف کی نه ئی عرفات ته ټوله وړای سی اونه ئی خولک وړی اونه ئی منی ته خولک وړی اونه ئی وړای سی، اولعض خلګ دمنی خپل لعض دروند بار مکی ته خپل اطاق د مخه لاراوړی دطواف زیارت په ورځ، نودغه کراهت جواب به څروي! قال المصنفؒ:

وَيَجْعَلُ الْمِنٰى عَنْ يَمِيْنِهٖ وَمَكَّةَ عَنْ يَسَارِهٖ حَالَةَ الْوُقُوْفِ

اوګرځوی به منی پر استه اړخ اومکه پرچپه طرف په حال کی د دریدو د ځلودویشتلو دپاره

لِرَمْيِ الْجِمَارِ وَكَوْنِهٖ رَاكِبًا حَالَةَ رَمْيِ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ فِيْ كُلِّ الْاَيَّامِ

اوبل به دی سپور وی پراس یا اوبن په حال دویشتو د جمرة العقبة یعنی اول خلی، په ټولو ورځوکی، درویش وائی چی په حال کی دسپرتیا پریوشی داشیا وو که څه هم با ئسکل وی و یشتل دجمرة العقبه په اوسنی زمانه کی هیڅ امکان نه لری لازدحام الناس غایة الازدحام حتی چی ویشتونکی دخپلودوو پښوځای په ډیر تکلیف به پیدا کوی نودا سنت په سبب د مجبوری په ننی زمانه کی پاته دی اوپه پرینبولوکی ئی ګناه هم نسته،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولجمیع المسلمین آمین

قـال المصنفؒ **مَاشِيًا فِي الْجَمْرَةِ الْأُوْلَى الَّتِي تَلِي الْمَسْجِدَ وَالْوُسْطٰى**

او پیاده به وی په حال کی دویشتو داول خلی چی خرمه دی ومسجد ته یعنی مسجد خیف ته اود میانځ دخلی

وَالْقِيَامُ فِي بَطْنِ الْوَادِي په ویشتو، او په وخت کی دویشتلو دجمارو دی په نس کی دشیلی ربړی

پُوهـ سـه: چی دهرخلی سره په پخوانی زمانه کی شیله، تیره سوی وه. چی د درو ویشتلو هم په اولو ځایو کی هغه شیلی پیا دي، په اوسنی زمانه کی نه د شیلی نوم سته نه ئی نښانی بلکه چونکه خوکاله د مخه په دغو ویشتلو کی د شیطانانو ډیر ضعیفه خلک اوښځی دخلکو تر پښو لاندی مړه سوه، نو د سعودی حکومت هرځلی ته لوړځای هم جوړکړی چی دهغی خواهم خلق ویشتل کیدای سی اوکښته پخوانی ځای هم باقی دی، تاچی خلک سره تقسیم سی اولوی ازدحام سپک سی فی الجملہ"

لعض مشککین کسان وائی چی دلوړ خوا یه ویشتل نا روادی، لکن دا ددوی غلطیاده، ولی اصلی مقصود خو رمی د جمارو دی. دهره ځای مخ چی وي، تر نه وینی چی دسببه دا ازدحام دخلکو سعودی حکومت شاوخوا برندی جوړی کړی دی چی په هغو برندو کی هم طائفین طواف کوي، اوسره ددی چی په خیر القرون کی بلکه زمونږ په اولو ځوکی یوازی طواف کښته پر ځمکه کیدی وبس، وروسته چونکه په وخت کی د اجتماع د حاجیانو داختر په نژدو شپو کی چونکه پرځمکه او په برندو کی هم طواف کوونکی نه ځائیدل، نو سعودی د برندو پربام چی ترپام دکعبی شریفی ډیر لوړ دی طواف ځای جوړکړی چی پرهغه بام چی ساحه یه ډیره فراخه ده حاجیان طوافونه کوي، نو په مقتضی د قول د دغو مشکک باید په برندو او یا پر بام د برندو دی هم طواف نه وی روا"

سـوال: په کتابو کی دحدیثو او د فقه دا سی وائی چی کعبه شریفه ترعنان پوری ده اسمان کښته

جـواب: دهرڅولوړ ځای په سبب د عذر د ازدحام زد بیری د مرګ چی شیطانان وولی هم رواده ولی چی مقصود د دوی ویشته دي، وبس، قـال المصنفؒ

وَكَوْنُ الرَّمْيِ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ فِيمَا بَيْنَ طُلُوعِ الشَّمْسِ إِلٰى زَوَالِهَا

او بل دا سنت دی چی په اوله ورځ دی رمی دشیطان په مابین کی دراختو دلمر بیا ترزواله پوری وکړی

درولیش وائی چی معذورین سپین ږیری اوښځی چی د ډیر ازدحام سره په دغه محدود وخت کی نه سی کولای مخ کیږی کولای سی چی داولی ورځ رمی دی ترماښام پوری وکړي، قـال المصنفؒ

وَفِيمَا بَيْنَ الزَّوَالِ وَغُرُوبِ الشَّمْسِ فِي بَاقِي الْأَيَّامِ

او رمی دی کوی یعنی د درو سره خلو په مابین کی زوال تر لویدو دلمر په باقی ورځو کی . . .

وَكُرِهَ الرَّمْيُ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ وَالرَّابِعِ فِيمَا بَيْنَ طُلُوعِ

او مکروه دی ویشتل په اوله ورځ او په څلورمه ورځ په مابین د راختو د سپیدو او د راختو دلمر

الْفَجْرِ وَالشَّمْسِ وَكُرِهَ فِي اللَّيَالِي الثَّلَاثِ وَصَحَّ لِأَنَّ

او مکروه دی رمی دخلو په درو شپو کی یعنی د منی او که چا وکړی صحیح دي. ولی چی شپې

اللَّيَالِيَ كُلَّهَا تَابِعَةٌ لِمَا بَعْدَهَا مِنَ الْأَيَّامِ إِلَّا اللَّيْلَةَ الَّتِي

تابع دی دو ورسته ورځو یعنی په شرع کی مګر هغه شپه چی وروسته د عرفات دورځی ده،

تَلِي عَرَفَةَ حَتّٰى صَحَّ الْوُقُوفُ فِيهَا بِعَرَفَاتٍ وَهِيَ لَيْلَةُ الْعِيدِ

مګر هغه شپه چی خرمه ده د عرفات ورځی ته چی هغه تابع دو وروسته ورځی نه ده بلکه تابع دده مخی ورځی ده چی د عرفات ورځ ده، حتی چی صحیح دی دریده پر عرفات په دغه شپه کی او په حقیقت کی خو دا شپه داختر ده نو که دغه شپه تابع دو وروسته ورځی وای، باید وقوف دعرفات په دغه شپه نه وای صحیح، قـال المصنفؒ:

وَلَيَالِي الرَّمْيِ الثَّلَاثُ فَإِنَّهَا تَابِعَةٌ لِمَا قَبْلَهَا

او دغه رنګه تابع نه دی هغه دری شپی د رمی د جمراتو، ولی چی هغه تابع دو وروسته ورځو نه دی بلکه د مخه ورځو تابع دی کما لایخفیٰ"

وَالْمَبَاحُ مِنْ اَوْقَاتِ الرَّمْيِ مَا بَعْدَ الزَّوَالِ اِلٰى غُرُوْبِ

او مباح یعني جائز د اوقاتو څخه د رمي وروسته تر زوال تر لویدو پوري د لمر د اولی ورځي یعني سنت طریقه خو هغه وه چي د مخه تیره سوه لکن په

الشَّمْسِ مِنَ الْيَوْمِ الْاَوَّلِ

مذکوره اوس وخت کي هم رمي د اولی ورځي یعني چي ویشتل د جمره عقبی دی هم مباح او جائز دی، قـــال المُصنفؒ:

وَبِهٰذَا عَلِمْتَ اَوْقَاتَ الرَّمْيِ كُلِّهَا جَوَازًا وَكَرَاهَةً وَاسْتِحْبَابًا

او په دغه تول تیر سوی بیان سره تا وپیژندل وختونه د رمي د ټولو ټولو یعني د روسره ورځو من حیث الجواز یعني روا والی او مکروه والی او مستحب والی دي، **پــوه ســـه** چي په جوهره کي چي شرح د قدوري ده، داسي وائي، چي اوقات د رمي الجمار څلور ورځي دي. د اختر ورځ او دری ورځي وروسته تر اختر، نو په اوله ورځ کي وقت مکروه سته چي په مابین د سپیدو او د طلوع الشمس وخت دی. اوبل وخت مسنون سته، چي وروسته تر طلوع الشمس زوال پوري، او وخت مباح سته چي بعد الزوال تر غروب پوري د لمر، و بعد غروب الشمس تر طلوع الفجر پوري مکروه دی، یعني د رمي په هیڅ صورت کي نسته البته په اخیري صورت کي کراهت موجود وي، او په دوهمه ورځ او دریمه ورځ خو رمي الجمار د راختو څخه د لمر تر زوال پوري خو هیڅ روانه دی، او پــله زواله تر غروب پوري وخت مسنون دی، او وروسته تر غروب تر سپیدو پوري وخت مکروه دی، یعني صرف کراهت دی د مرنه پر لازمیږي. حاصل دا چي ه د دغو دوو ورځو رمي که په شپه کي وکړي تر سپیدو د مخه روا دی، وَلَا شَیْءَ عَلَيْهِ، او څلورمه ورځ وخت د رمي یه په نیزد امام اعظمؒ د سپیدو څخه شروع کیږي تر غروب الشمس پوري، لکن قبل الزوال مکروه دی، او بعد الزوال مسنون دی او په نیزد یارانو د څلورمي ورځي وخت دویشتو بعد الزوال دی او د مخه تر زوال هیڅ روانه دی.

وَمِنَ السُّنَّةِ هَدْيُ الْمُفْرِدِ بِالْحَجِّ وَالْاَكْلُ مِنْهُ

او د سنت څخه دی هدیه د مکي شریفي یعني که او بن وسے او که غویئ وی او که پوسه وی

وَمِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ فَقَطْ

دیاره د هغه حاجي یوازي د حج په نیت یه کړي وی، او خوړلک به هم کوی د هغه هدئ د غوښو څخه، او د غه رنګه دی خوړاک کوي د نفلي خیرات څخه چي په مکه شریفه کي وکړي. او د غه رنګه د تمتع د شکریه د غوښو څخه فقط یعني د جنایاتو د دم د ه د پــه غوښي به دی نه خوري. **پــوه ســه**: چي د هدی المفرد یا هدی التطوع یا هدی التمتع یا هدی القران د حیوان د غوښو خوړاک لازم نه دی. بلکه جائز دی په دی غرض د مصنفؒ احتراز د خوړلو د دم الجنایات دی، چي د هغه خوړلک و سري ته روانه دی. قال:

وَمِنَ السُّنَّةِ الْخُطْبَةُ يَوْمَ النَّحْرِ مِنَ الْاُوْلٰى يُعَلِّمُ فِيْهَا

او بل د سنت څخه دی خطبه ویل د امام په ورځ د اختر په مثل د اولی خطبي چي ور ښیه به په

بَقِيَّةَ الْمَنَاسِكِ وَهِيَ ثَالِثَةُ خُطَبِ الْحَجِّ

دغه خطبه کي باقي مناسک د حج لکه رمي الجمار طواف زیارة وغیره، او دا هم دریمه خطبه د خطبو څخه د حج ده، **پــوه ســه** چي د دوو خطبو ذکر وړاندی تیر سو فتذکر، قـــال المصنفؒ:

وَلِتَعْجِيْلُ النَّفْرِ اِذَا اَرَادَهٗ مِنْ مِنًى قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ مِنَ

او بل سنت څخه دی تلوار په وتو کي د مني څخه کی اراده وه د وتو د مخه تر لویدو د لمر د دو لسمی

الْيَوْمِ الثَّانِيْ عَشَرَ

ورځي **فــــائِدَه**: دا نه ده لازمه چي حاجي به تر لمر لویدو د مخه مکي شریفي ته ځان رسوی بلکه چي د نفر اراده ولري نو تر حدودو د مني دی صرف ځان وباسي تر لمر لویدو د مخه نو د کراهت څخه خلاص سو، **فــائِدَه** اوله ورځ یوم النحر بولیٰ دوهمه ورځ یوم القر بولی چي حاجیان قرار لري په منیٰ کی، او دریمه ورځ یوم النفر الاول بولي، چي بعض خلک وزی د منیٰ څخه او څلورمه ورځ یوم النفر الثاني بولی چي تول خلک منیٰ پریږدی، کذا في الجوهرة.

وَاِنْ اَقَامَ بِهَا حَتّٰى غَرَبَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِي عَشَرَ

اوکه حاجي پاته سو په منیٰ کې تر هغه چې لمر لویدلی د دولسمې ورځې یعنې وروسته تر لمر لویدو دوتې نوشي یعنې دمره ئېره

فَلَاشَيْئَ عَلَيْهِ وَقَدْ اَسَاءَ وَاِنْ اَقَامَ بِمِنٰى اِلٰى

خو بانديدنسته، لکن په دغه کار سره گناه گار سو، اوکه دی پاته سو په منیٰ کې تر ستیدو چا ود لو ئخلري

طُلُوْعِ فَجْرِ الْيَوْمِ الرَّابِعِ لَزِمَهٗ رَمْيُهٗ وَمِنَ السُّنَّةِ

ورځې نو پر ده لازم دی رمې د څلورمې ورځې، او بل د سنت

اَلنُّزُوْلُ بِالْمُحَصَّبِ څخه نازلیده دی په محصب کې، **پوهسه**: چې محصب چې ابطح په هم بولې دیو نژدې ځای نوم دی ومکه ته چې هوری شیله ده چې میده میده شګې په کښې دي، **پوهسه**: چې د ابطح نزول صرف زمونږ حنیفیا نو په نیز سنت دی په دی سبب چې علیه الصلوٰة والسلام په حجة الوداع دلته اړولی وه او په منبوط کې وائی که چا نزول د محصب پرینو گناه کاره دی، دَرویش وائی چې که څه هم ما په اولو څو کې محصب لیدلی دی او هلته چې یو مسجد دی چې علیه الصلوٰة والسلام چیری چې په محصب کې لمونځ کاوه پر هغه د ګردغه مسجد هغه جوړ دی او ډیر بنائسته مسجد لری غرمه مې په کښې تیره کړیده، او دما پښین لمونځ مې په هغه مسجد کې اداء کړي دی او بیا مکې شریفې ته تللی یم، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

سَاعَةً بَعْدَ اِرْتِحَالِهٖ مِنْ مِنٰى یو گړي دی نزول په کښې وکړي وروسته ترکوچ د منیٰ څخه، درویش وائی چې د نزول د محصب په هغه وخت کې حاجیا نو کولای سوای چې د منیٰ څخه به دوی پر پښو مکې شریفې ته تلل نو بې یو گړي غرمه مثلاً په محصب کې تیر کړه بیا به مکې ته روان سوه، مګر په اوسنی زمانه کې محصب خوك پیژني لانه، ولې چې دوی یعنې حاجیان په ټکسي موټرانو د منیٰ څخه برابر مکې ته ځي حتیٰ که حاجي ورته ټکسي والانه ووائي چې ما محصب ته صرف یو گړي وروله چې د اسنت پر ځای کړم،

ټکسي والا ورته ووائي: وَاللّٰهِ مَا اَعْرِفُ الْمُحَصَّبَ وَلَا الْاَبْطَحَ، نو د دغه مجبوری د سببه د حاجیانو تـولو څخه دا سنت پاته دی، اِلَّا الشَّاذُ وَالنَّادِرُ، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَشْرَبُ مِنْ مَّاءِ زَمْزَمَ وَيَتَضَلَّعُ مِنْهُ او دغه رنګ سنت دی چې سړی به چښی اوبه د زمزم د څا او بنه دی ځان په اوبه کې، او نس دی په ډکوی پر دری واره سره.

وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ اَلنَّظْرُ اِلَيْهِ قَائِمًا وَالصَّبُّ مِنْهُ عَلٰى رَاْسِهٖ

او مخامخ و قبلې ته دی دریږی په وخت کې د چښلو د اوبو د زمزم، او د قبلې و خوا ته دی ګوري او په ولاړ ی

وَسَائِرِ جَسَدِهٖ وَهُوَ لِمَا شُرِبَ لَهٗ مِنْ اُمُوْرِ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ

دی چیښی او اوبه د زمزم دی توی کړي پر سر او پر نورو بدن خپل، او د زمزم اوبه د هر غرض د پاره د امورو څخه د دنیا او اخرت چې وچښی کافی دی، **پوهسه**، چې اهل تجربه د علماوو او د صالحینو اوبه د زمزم د مختلفو امراضو د پاره او د رقم رقم اغراضو او مطالبو د پاره چښلی دی خدای جل جلالهٗ هغه د دوی مقاصد او مطالب حاصل کړي دي، لکن درویش وائی چې حسن نیت او ټینګه عقیده په دی باره کې مهم رول لري، د شك او شبهې په سترګو دی نه ورته ګوري، لان ماء زمزم من عظيم قدرة الله جل سلطانه في تلك البقعة الشريفة، درویش وائی چې طریقه او داد ادب د آب زمزم چښلو داده: چې حاجی دی د زمزم څا ته ورسي او څښلی دی اوبه را او کاږي یعنې په سولاغه لکن د اکار په پخوا زمانه کې چې د زمزم اوبه په سولغور اګښه کیدلې، چې د درویش هغه وخت هم پیاد دی خو مکن وو، لکن اوس چې د زمزم څا څوك لیدلای نه سي، بلکه د مشین په ذریعه اوبه ځندی را کاږی او هلته ټلکی دی هغه اوبه او س خلګ چښي خو په هر صورت حاجی دی په اوسنی زمانه کې په هغو اوبو مخامخ و قبلې ته بنه ځان اوبه کړي، او بیا دی ساه وکاږی، او بیا دی اوبه وچښي او څو واره دی د غسی وکي او هم بیا دی کعبې شریفې ته ګوري، درویش وائی د داخله څخه د احاطې د زمزم څخه کعبه شریفه نه معلومیږی نو صرف وجهت ته د کعبې شریفې دی ګوري. او مخ دی په پریولی او نسری هم په

په سر يولي او پڅان دي هم او به توی کړي حتی الممکن » قـــال المصنفؒ:

وَمِنَ السُّنَّةِ اِلْتِزَامُ الْمُلْتَزَمِ وَهُوَ اَنْ يَّضَعَ صَدْرَهٗ وَوَجْهَهٗ عَلَيْهِ

او بل د سنت څخه دي په غيږ کې ټينګ نيول د ملتزم شريف په دي ډول چي سينه دي څيګر او مخ پر ملتزم کښيږدي . او هر څه دعاء چي زړه يې غواړي هغه دي وکړي ، د روايتونو دي چي پخوا زمانه کي چي زمانه بنياد دي دا کار ډير آسانه وو هر سړي کولای سواي ، اما په اوسني زمانه کې که حاجي به اول حاجيانو کي ولاړ سي ، او يا په اخير و حاجيانو کي پاتروي نو شايد دا کار به وکړای سي ، او که د حاجيانو د ازدحام وخت وو نو زه ګمان کوم چي بيله پري وهلو او کښولو به دا کار ډير مشکل وي" والله الموفق"

وَالتَّشَبُّثُ بِاَسْتَارِ الْكَعْبَةِ سَاعَةً دَاعِيًا بِمَا اَحَبَّ

او لاسونه دي ټينګ کړي پر پردو د پوړو د کعبي شريفي يو ګړي او دعا دي کوي په هغه دعاء سره چي د ده خوښه وي از اهم سنت دي ، که چيري لاس ور رسيدی او که لاس نه ور رسيدی نو لاسونه دي تر سر لوړ و نيسي او د کعبي شريفي پر ديواله دي کښيږدي » قـــــال المصنفؒ :

وَتَقْبِيْلُ عُتْبَةِ الْبَيْتِ وَدُخُوْلِهٖ بِالْاَدَبِ وَالتَّعْظِيْمِ

او دغه رنګه سنت دي مچول د چارچوب د بيت الله شريفي ، او بيت الله شريفي ته دي داخليږي په ادب او تعظيم سره ، **پــوښتــنــه**: چي مچول د حجراسود يا تشبث په پردو د پوړو د کعبي ، او يا ملتزم شريف په څيګر پوري نيول يا دخول وخولی ته د کعبي شريفي ټوله سنن او آداب دي ، نو که حاجي ته د غه کارونه ممکن سوه بيله ازاره د خلګو او بيله کښولو او پري وهلو د خلګو خو ډير اعلیٰ او د ثواب کارونه دي ، او که بي ازاره ممکنه نه وه لکه په اوس زمانه د حج کي خو بيا دي حاجي د دغو سنتو تر سر تير سي ، ولی ازار د خلګو خو حرام دی » قـــالَ المصنفؒ:

ثُمَّ لَمْ يَبْقَ عَلَيْهِ اِلَّا اَعْظَمُ الْقُرُبَاتِ وَهُوَ زِيَارَةُ

وروسته چي افعال د حج فرائض واجبات ، سنتونه مستحبونه ټول ټي ته ور رسيده نه دي پاته پر حاجي باندي مګر يو لوی د ثواب

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَصْحَابِهٖ فَيَنْوِيْهَا عِنْدَ

کار دی څخه چي هغه زيارت دی د نبي عليه الصلوٰة والسلام او د اصحابو د دهؓ يعني د قبر و د دوی ، نو حاجي دي نيت د زيارت

خُرُوْجِهٖ مِنْ مَكَّةَ مِنْ بَابِ سُبَيْكَةَ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلٰى

کوي په وخت کی د وتو د ده د مکی مکرمی څخه پر دروازه چي په نامه د باب السبيکة ياديږي د کښته غونډی

وَسَنَذْكُرُ لِلزِّيَارَةِ فَصْلًا عَلٰى حِدَةٍ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

پر لار ، او زر دی چي موږ به ذکر کړو د زيارة نبویؐ د پاره مستقل او جلا فصل که د خدای خوښه او رضا وه .

فــــائِدَه: د دی بيان څخه د مصنفؒ دا ښکاريږي چي زيارة النبي صلى الله عليه وسلم ته به حاجي وروسته تر حج ځي ، په اوسني زمانه کي هغه حاجيان چي په د مخه تيار ولي مکي مکرمي ته ورسيږي هغه حاجيان چونکه تر وخته پوري د حج ډيره زمانه پاتروي نو نه دا فرادی حج نيت کوي او نه د قران حج بلکه ټول دی نيت د تمتع کوي ، نو چونکه څرنګه چي مکی شريفي ته ورغله نو د هر معلم سره نامه چي وي هغه په جوازات يعني پاسپورتونه سره جمع کړي ، او خپل مُطوف ور سره کړي چي په حاجيانو عمره وکړي يعني اوه شوطه طواف او اوه واره سعی د صفا او د مروا ، نو حاجيان ځانونه د احرام څخه خلاص کړي نو معلم په سمدلاسه په صبا ورځ مثلاً مديني منوري ته استوي د زيارة نبویؐ د پاره ثمروشم ، تر هغه وخته پوري چي د حج شپي رانژدي کيږي ، او حاجيان اته ورځي د ۴۰ لمونځو د پاره په مدينه منوره کي پريږدي ، وروسته به بيرته مکی مکرمي ته را استوي ، او دغه حاجيان پر ذو الحليفه چي پخوا به ئې ابيار علی بلله ، چي ميقات د اهل مدينه دی او تر ټولو ميقاتونو ليري ميقات دی ، و مکی شريفي څخه احرام د بلي عمري تړي چي مکی شريفي ته راسي ، عمره ادا کوي او ځانونه حلال کړي ، او پر د غه ميقات آنحضرت صلى الله عليه وسلم هم احرام تړلی دی سره د ډيرو صحابوؓ ، نو دا حاجيان چي د حج مراسيم پوره کړي سمدلاسه په د مکي شريفي څخه جدی ته استوي ، او د جدی څخه خپلو خپلو وطنو ته ځي . نو د دغو حاجيانو څخه که څه هم اصل سنت چي زيارة النبي صلى الله عليه وسلم وروسته تر حج پاته سو

لکن په دې کې ګناه نشته، ولې چې دا کار په دوي جبرًا سعودي دحکومت دخوا وسو، ومع هذا
بل سنت چې احرام د ذوالحليفه څخه دی پرځای سو، او هم يوه نري عمره په نصيب سوه، وهمانې
او هم حاجيان چې ډير وروسته مکې شريفې ته راځي هغه دافراد اوقران نيت هم کولای سي، ولې
چې تر وخته د حج لږ شپې پاته وي، نو دغه قسم حاجيان دسعودي حکومت وروسته تر حج ومدينې
منورې ته استوي او اصل سنت د دغو حاجيانو پرځای سو، او دغه حاجيان وروسته تر ۸ اته شپو
سيده د مدينې منورې څخه جده ته استوي او بيا د هغه ځای څخه خپلو وطنونه ځي،

سوال: دسعودي دحکومت پردې څخه او وروسته زيارة النبي صلى الله عليه وسلم ته
استولو کې څه غرض او حکمت دئ، **جواب:** دسعودي دا حکمت دئ چې په حرمينو کې بلاضرورته
ازدحام جوړ نه سي، او په نژدې ورځو کې دا ختر که څه هم ازدحام عظيم جوړيږي، هغه خو حج د مراسمو
د اداء ضرورت پيښ سو،

پوه سه: چې مصنف چونکه افعال د حج او د عمرې ټولو په متفرقو ځايو کې ذکر کړه
چې د هغو ټولو په ياد ساتل و حاجي ته ګران وو، نو هم دا اوس هغه ټوله مناسک پر يوه ځای
ذکر کوي ستا چې حاجي ته آساني سي، نو وائي:

فصل في كيفية تركيب أفعال الحج

دا فصل دی په بيان کې د يو ځای کولو کې د افعالو د حج،

إذا أراد الدخول في الحج أحرم من الميقات كرابغ

هر کله چې يو سړی اراده وکړي چې په حج کې داخل سي، نو دی احرام وتړي د يوه ميقات څخه لکه رابغ چې
عوام په رابك بولي، رابغ د يوې شيلې نوم دی دريباب ته نژدې، **پوه سه:** چې ذکر د
رابغ مصنف پر سبيله د مثال کړی دی، ولې چې د مخه تيره سوه چې ميقاتونه ډير دي، او رابغ خاص
لازم نه دی، قال المصنف:

فيغتسل أو يتوضأ والغسل وهو أحب للتنظيف

نو دی غسل وکړي او يا دی اودس تازه کړي او غسل چې دی تر اودسه افضل هم دی معرف د بدن
د پاکوالي د پاره دی يعني نه ده طهارت د پاره، ورنه پر حائض او نفساء حاجيه باندې به دا غسل
نه وای، "فنسله" د پاره د تفصيل ده احرام ترلو د پاره ده، د تعقيب د پاره نه ده، قال المصنف

فتغتسل المرأة الحائض والنفساء إذا لم يضرها

نو چونکه دا غسل د تنظيف د پاره دی نو هغه ښځه چې فعلاً په حيض کې وي يا نفساء ښځه چې
هنوز هم په نفاس کې وي هم به دا غسل کوي لکن که نفساء ته دا غسل تاوان نه کاوه، قال

ويستحب كمال النظافة بقص الظفر والشارب ونتف الإبط

او مستحب ده کامل پاکي د بدن، حتى په پرې کولو سره د نوکانو، او په پرې کولو سره د
بريتو يعني پر وجه مسنونه باندې، او همدا رنګه د بغل ويښتان دی کاږي

وَحَلْقِ الْاِبْطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ وَجِمَاعُ الْاَهْلِ وَالدُّهْنِ وَلَوْ مُطَيَّبًا اوکی نسوای کنای نودی وخرئی، اوودی خرئی زیر نافهم که نروی اوکه ښځه، اود ماینی سره جماع هم دکړي، د جماع سره ادی چې زړه یه مطمئن سي، اوبیا په حج کی د ماینی سره د جماع سو داترو ورته بید انبی. اود حج په دوران کی نامحرم ښځوته په نظر د شهوت ونه گوری، اوروغن که څه هم خوشبویه وی په سر یوری اوپه ږیره یوری ومو ږي، قـال المصنف:

وَيَلْبِسُ الرَّجُلُ اِزَارًا اَوْرِدَاءً اجَدِيْدَيْنِ اَوْغَسِيْلَيْنِ وَالْجَدِيْدُ او غوندی دې نریولنگ اویو د وپټه که نوی وي، اوکه پریولی مگر نوي اوسپین افضل

الْاَبْيَضُ اَفْضَلُ وَلَاتَزِرُّهُ وَلَايَعْقِدُهُ وَلَا يُخَلِّلُهُ دي. اوتنې دی نه ښکنبی ایږدی، اونه دی لنگ ته غوټه ورکوی، اونه دی په مابین کی د لنگ یا پټوکلپی ستن جنگوي، قـال المصنف:

فَاِنْ فَعَلَ كُرِهَ وَلَاشَئَ عَلَيْهِ وَتَطَيَّبَ وَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ اوکی د دغو کاروڅخه یو کار وکړی مکروه خودی، لکن شی نه دی پر لازم، اوخوشبوئی دی ولگوی، لکن په سر، بدن، اومخ اوکالو، لنگ، وغیره دی نه موږی پـوه سـه: چی مصنف تولصیغی دلته د مخاطب پر ډول لیکلی دی گویا مخاطب یه حاجی یا عمره کوونکی دی، عینیؒ وائی چی په دغو صیغو کی باعث کول د حاجی یا معتمر پر زړه کړه د افعالو د حج اود عمری، اود وه رکعت لمونځ دی وکړی افضل داده چی اقتداء دی په علیه الصلوٰة والسلام ښی وکړی چی ده مبارك علیه السلام په اول رکعت کی د دغه لمانځه پسله الحمد لله څخه قُلْ یَا اَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ. وایه اوپه دوهم رکعت کی قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ. وپله کړ څه هم هر سورت چی ووائی کافی دی.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِكَاتِبِهٖ وَلِمُؤَلِّفِهٖ وَلِوَالِدَيْهِمَا اَجْمَعِيْنَ.

وَقُلْ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِیْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّیْ اوووایه ای الله زما اراده د حج ده، نوته ئې راته اسانه کړی اوقبول یه کړی زما څخه، پـوه سـه چی داد مفرد حج نیت دی، اوبیا متمتع چی تر عمری وروسته نیت د حج کوی، او متمتع به اول داسی ووائی اَللّٰهُمَّ اِنِّی اُرِیْدُ الْعُمْرَةَ فَیَسِّرْهَا لِیْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّیْ، اوقارن به داسی وائی اَللّٰهُمَّ اِنِّی اُرِیْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَیَسِّرْهُمَا لِیْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّیْ، قـال المصنف:

وَلَبِّ دُبُرَ صَلٰوتِكَ تَنْوِیْ بِهَا الْحَجَّ وَهِیَ لَبَّيْكَ اووروسته تر لمانځه دی تلبیه ووائی چی نیت د حج به په کښی وي، اوهغه تلبیه داده چی زه په خدمت در ته پـوه سـه: چی دا بیان دافضل دی ورنه حج په مطلق نیت سره روادئ،

اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ ولاړیم ای خدایه په خدمت درته ولاړیم هیڅ شریك نشته تالره. په خدمت درته ولاړیم، په تحقیق تول تعریفو

وَالنِّعْمَةَ وَالْمُلْكَ لَكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ وَلَاتَنْقُصْ اوټول نعمتونه اوبادچهی خاص تالره دی، اوتالره هیڅ شریك نشته، اوتر دغو الفاظو دی څه

مِنْ هٰذِهِ الْاَلْفَاظِ شَيْئًا وَزِدْ عَلَيْهِ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ شی نه کموی، اوکه ئې خوښه سی نو پردی تلبیه دی وړزیات کی داالفاظ

وَالْخَيْرُ كُلُّهٗ بِيَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرُّغْبٰی اِلَيْكَ وَالزِّيَادَةُ سُنَّةٌ زه ستا طاعت کوم په بار بار، اوخیر یعنی د دواړو دنیا واخرت ستا په قدرت کی دی، اوزه عاجزی اوسوال تاته کوم، اودا زیاتوالی هم سنت دئ،

دتلبیه مختصره ترجمه: زه ولاړيم په دروازه کی د عبادت ستا يا الله په بار بار، او ما قبوله کړی ستا
دعوت نامه په بار بار (ملاعلی قاری) هيڅ شريک نشته تا لره لبيك، په تحقيق سره حمد او نعمت او بادشاهي
تا لره ده. او سعديك، زه ستا طاعت کوم په بار بار، او خير يعنی د دوارو د دنيا و اخرت ستا په قدرت
کی دی، والرغبی يعنی عاجزی او سوال ستا نه دی يعنی تا ته عاجزی کوم او ستا نه سوال کوم.

فَاِذَا لَبَّيْتَ نَاوِيًا فَقَدْ اَحْرَمْتَ فَاتَّقِ الرَّفَثَ وَهُوَ

نو چی هر کله تا تلبيه ووئيله چی نيت دی هم وو نو ته محرم سوې، يعنی شرعًا چی محرم سوې نو به ځان

الْجِمَاعُ وَقِيْلَ ذِكْرُهُ بِحَضْرَةِ النِّسَاءِ وَالْكَلَامِ الْفَاحِشِ

ساتی د رفث نه او رفث جماع ته وائی، او بعض مفسران وائی چی رفث ذکر د جماع دی په حضور کی د

وَالْفُسُوْقَ وَالْمَعَاصِیْ وَالْجِدَالَ مَعَ الرُّفَقَاءِ وَالْخَدَمِ

ښځو او ځان وساته د ببيا کو خبرو نه لکه بکنځل يا فحش مسخری او د فسق او د گناهو نه او معاصی وو
نه عطف تفسيری دی، او جنگ دی نه کوی د انديوالانو سره او خادمانو سره يعنی نه دی قولی جنگ ورسره
کوی او نه عملی جنگ، قال الله تعالی: فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِی الْحَجِّ، قال

وَقَتْلُ صَيْدِ الْبَرِّ وَالْاِشَارَةُ اِلَيْهِ وَالدَّلَالَةُ عَلَيْهِ

او ځان ساته د وژلو نه د ښکار د وچی لکه هوسی، کوتره، وغيره، په بر کی اشاره ودی ته ده چی
صيد البحر لکه ماهی وغيره و حاجی ته مباح دی، او ځان ساته د اشاری نه و صيد البر ته، او دلالت وځانته
هم مه ورکوه پر صيد البر باندی، د اشارت او دلالت دا فرق دی، چی اشارت وحاضر ته ده او دلالت پر غائب
باندی ده، کفايه، عن، قال المصنف:

وَلُبْسَ الْمَخِيْطِ وَالْعِمَامَةِ وَالْخُفَّيْنِ وَتَغْطِيَةَ الرَّأْسِ

او ځان د ساته ای حاجی د اغوستلو د دروغ کړی جامی نه قميص وی که پر توگ وی او کی د پتو په مابين کی درز ورگنډلی وی

وَالْوَجْهِ وَمَسَّ الطِّيْبِ اوهم دا رنگه ځان و ساته د ترلو نه د لنگوټی، او ده په
پښو کولو نه د موزو، پوهه سه: چی د
موزو نه مراد متعارف موزی يواځی نه دی بلکه هر د پښو شی چی بجلکی په پټيږی مراد دی
او مه پټوه سر او مخ.

مسئله: د تولو او د بعض مخ وغيره فرق نشته. حتی که ئی پر سر د وه په دسمال وغيره
بوئی نه تړی، او نه به خوله پټوی او نه باړخو او که لاسونه پر سترگو کښيږدی پروا نه ژی، بحر، ائق، او
خوشبوئی هم مه مسه کوه، مسئله: چونکه حاجيان د حجر په غاړه کی عطر و سيبی چی
کوی نو محرم حاجی ته نه ده رواجی يا لاسونه د نه ور ننباسی، ولی چی دا هم مس الطيب دی.

وَحَلْقِ الرَّأْسِ وَالشَّعْرِ اوحاجی دی ځان ساتی د خرئيلو نه د سر او د ويښتا نو
دا تعميم بعد التخصيص دی، پوهه سه
چی مراد د حلق الراس نه هغه عرف خرئيل مراد نه دی، او د ويښتا نو د خرئيلو نه هم متعارفه معنا
مراد نه ده، بلکه کی مراد ازالة د ويښتا نو ده د بدن د هر ځايه نه چی وی که په خرئيلو سره وی که
په غچی پری کولو سره وی او که په کښلو سره او که په موی پاک سره وی او که په سوځلو سره وی. کی
بچيله دا کار وکی او کی بل سړي ور وکی، البته کی په سترگه کی بانروماتسوی هغه کښلای سی
کما ذکره بعض المشائخ، بحر، ودر، عن، قال المصنف:

وَيَجُوْزُ الْاِغْتِسَالُ وَالْاِسْتِظْلَالُ بِالْمَحْمِلِ وَالْخَيْمَةِ وَغَيْرِهِمَا

او روا ده حاجی ته غسل کول يعنی نه په استعمال د صابون و نحوه. او د غه رنگه روا ده حاجی ته پر سايه
کی د کجاوی يا د خيمی او يا بل شی لکه سايوان ته کښينستل لکن په شرط د دی چی سر او مخ بی د محمل
او خيمی او سايوان نه نه مښلی او که رسيدی بيا د اغسی کول مکروه دی، مسئله: که حاجی
بر سر تالی يا غاب وغيره واخستی نه کراهت سته او نه جزاء او که کالی پر سر واخستی بيا جزاء پر سته نحرر

وَشَدُّ الْهِمْيَانِ فِی الْوَسْطِ او روا ده و حاجی ته تړل د هميانی يا د جيبو والا
کمربند پر ملا باندی د پاره د ساتلو د پيسو که څه هم

همیانی یا کمربند خوګنډلی دی، لکن الضرورات تبیح المحظورات، وَمَا جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَاَكْثِرِ التَّلْبِيَةَ مَتٰى صَلَّيْتَ اَوْ عَلَوْتَ شَرَفًا اَوْ هَبَطْتَ

اوته ډیره وایه تلبیه هروخت چې دې لمونځ وکړی، اویا لوړځای ته پورته کیدل اویا کښته کیدل

وَادِيًا اَوْ لَقِيْتَ رُكْبَانًا وَبِالْاَسْحَارِ رَافِعًا صَوْتَكَ

ویا کښته ځای ته شوه کیدلې. اویا نور سپاره په مخه درغله، اوډیره وایه تلبیه په وخت کې د سحار

بِلَا جُهْدٍ مُضِرٍّ په داسې ډول چې آواز په تلبیه سره بلند کوه، اوپه لوړوالی کې د آواز به تکلیف پرځان چې تا وان درته کوی مه کوه، اویا ملګرو آزاروی دی. قَالَ المُصَنِّفُ:

فَاِذَا وَصَلْتَ اِلٰى مَكَّةَ يَسْتَحِبُّ اَنْ تَغْتَسِلَ او هر کله چې ته ورسیږې ومکې ته یعنی ښارته د مکې مکرمې نو مستحب داده چې ته غسل وکړی، **پوهه سه**: چې دا غسل د تعظیم البلدة الشریفه اود نظافت دپاره دی. نو ددی سببه حائض او نفساء ته هم مسنون دی.

پوهه سه: چې دخول و ښارته د مکې که لیلاً وی اوکه نهاراً وی پروانلري، کنه هم افضله دخول دورځې دی. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَتَدْخُلُهَا مِنْ بَابِ الْمُعَلّٰى لِتَكُوْنَ مُسْتَقْبِلًا فِيْ

اوته داخل سه ښارته دمکې د دروازې څخه د ښار چې باب المعلی یه بولي چې د مکې مکرمې په

دُخُوْلِكَ بَابَ الْبَيْتِ الشَّرِيْفِ تَعْظِيْمًا

شرقی طرف کې واقع ده، ددې دپاره چې ته په وخت کې د دخول د ښار و دروازې ته د بیت شریف مخامخ

سې چې دروازه د بیت الله شریف هم مشرقی ده او ددپاره د تعظیم د بیت الله الشریف کیږی.

وَيَسْتَحِبُّ اَنْ تَكُوْنَ مُلَبِّيًا فِيْ دُخُوْلِكَ حَتّٰى تَاْتِيَ بَابَ السَّلَامِ مستحب داده چې ته دې تلبیه ویونکې یې په وخت د دخول و ښارته ترهغه وخته چې ورشې باب السلام ته چې د حرم یوه مشهوره دروازه ده، قَالَ المُصَنِّفُ:

فَتَدْخُلُ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ مِنْهُ مُتَوَاضِعًا خَاشِعًا مُلَبِّيًا

نو ته داخل سه مسجد حرام ته د باب سلام څخه، په داسې حال کې چې عاجزی د ظاهر به درسره وی او

مُلَاحِظًا جَلَالَةَ الْمَكَانِ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُصَلِّيًا عَلَى

خشوع یعنی ویره د باطن به هم همراه وي، او تلبیه ویونکی به یې، او په خیال کې به دې وي عظمت

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَلَطِّفًا بِالْمُزَاحِمِ دَاعِيًا بِمَا اَحْبَبْتَ

د دغه ځای چې مسجد حرام او بیت الله شریفه ده، او اَللّٰهُ اَكْبَرُ به وایې او لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ به وایې

فَاِنَّهُ مُسْتَجَابٌ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ الْمُكَرَّمِ او درود ویونکی به یې پر نبی علیه الصلوٰة والسلام باندی، او دعا کوونکی به یې په هغه دعاء سره چې درته خوښه وي که د دنیاوی او که د اخرت وي، ولې چې دعا په نیږد لیدلو د بیت المکرم مستجاب او قبوله ده او د لطف او نرمی څخه به کار واخلې د ازدحام کوونکی سره یعنی د ازدحام کوونکی سره د زور، او د خشونت کار مه اخله، **فائده**: په دغه ځای کې د اقاربو دعاء خصوصًا د مور او پلار دعاء هم د فهم څخه مه باسه، او هغه کسان چې وتا ته یې وصیت د دعاء کړی وي، او تا هم وعده د دعاء ورسره کړې وی، که تفصیلی دعاء یې ډیره وی اجمالاً دعاء ورته وکړه مثلاً ووایه اللهم اغفر لکل من اوصانی بالدعاء.

پوښتنه: چې په حدیث کې دعطار داد عاء د آنحضرت صلی الله علیه وسلم نه راغلی ده: اعوذ برب البیت من الدین والفقر ومن ضیق الصدر وعذاب القبر. په مناقبو دامام اعظم راغلی دی چې یو سړي چې بیت الله ته تی وحضرت الامام ته ئ وویل چې زه په نیت د روئیت د بیت الله شریفي کمه دعا وکړم امام اعظم ورته وفرمائیله، چې ته دغه دعاء وکړه په وخت دلیدلو د بیت الله شریفي» ای الله ته زما دعاوی قبلوه، نوکه دې دغه دعاء خدائ قبوله کړه ته به دا ابد د پاره مستجاب الدعات وګرځې، مجرو بیلعی. انظر ایها الناظر الی غزارة علم ابی حنیفة الامام الاعظم رحمه الله. قال المصنف:

ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْحَجَرَ الْاَسْوَدَ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا رَافِعًا يَدَيْكَ كَمَا

وروسته ته لیدو دبیت الله او دعا ګانو، بیا نو مخامخ روان سه د حجر اسود پر خوا لاسونه پورته وَنیسه

فِي الصَّلٰوةِ وَضَعْهُمَا عَلَى الْحَجَرِ الْاَسْوَدِ وَقَبِّلْهُ بِلَا صَوْتٍ

لکه یې لمانځه یعنی په افتتاح کې او الله اکبر ووایه او دواړه لاسه کښیږده پر حجر اسود باندې او حجر اسود مچ کړه بیله آواز د مچیدو په وخت، قال المصنف:

فَمَنْ عَجَزَ عَنْ ذٰلِكَ اِلَّا بِاِيْذَاءٍ تَرَكَهُ وَمَسَّ الْحَجَرَ

نو څوک چې عاجزه سو د مذکوره ډول د حجر اسود د مچیدو نه لکه چې اغلب په موسم کې د حج داعجز

بِشَيْءٍ وَقَبَّلَهُ اَوْ اَشَارَ اِلَيْهِ مِنْ بَعِيْدٍ مُكَبِّرًا حَامِدًا مُصَلِّيًا

سنت . نو دی پرېږدی هغه قسم ښکول، ولې چې په هغه ډول مچیدو په سبب د ډېر ازدحام

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خلک ازاروول راځي او د خلکو ازاروول خو حرام دی او د حجر اسود مچول سنت دې، درویش وائي چې زه ګمان نه کوم چې په موسم کې د حج یا په شپاړ ورځ کې

څوک حجر اسود بیله پوره ازاره د خلکو دی څوک مسه کړي، او عوام کالانعام خو بیه په داسې وجه مسه کوي چې یو پر بل سپریږي، او یو پر بل سره کشوي نو به مسه کوي او ورته کا رخو یقیناً حرام دی، او عوام په دی فخر کوي چې نن په طواف کې مې په هر شوط کې حجر اسود مسه کړی. فالحذر الحذر.

مصنف وائي، که اوله طریقه بې ازاره نه وه ممکنه نو دی به یو شی لکه ټمبوریا لکړه حجر اسود مسه کړي او بیا هغه شی مچ کړي او که هغه هم نه وه ممکنه نو دی لرې اشاره دی ورته وکړي په لاسونو، په داسې الله اکبر ویونکی به وي، او لا اله الا الله ویونکی به وي، او درود ویونکی به وي پر نبي علیه الصلوٰة والسلام باندی» درویش وائي چې د ډېر ازدحام په وخت کې د دغو شیانو دویلو وقوف او دریده هم وسړی ته نه میسره کیږي کما یدل علیه التجربة، بلکه صرف دی الله اکبر دې واره ووایی او فرصت چې سړي پیدا کړي ډیر خوشحالي به وي. والله الموفق.

ثُمَّ طُفْ اٰخِذًا عَنْ يَمِيْنِكَ مِمَّا يَلِي الْبَابَ مُضْطَبِعًا

بیا نو طواف شروع کړه چې شروع په راسته اړخ کوي چې د دروازې ته د کعبی شریفي څرمه وي. او مضطبع

وَهُوَ اَنْ تَجْعَلَ الرِّدَاءَ تَحْتَ الْاِبْطِ الْاَيْمَنِ وَتُلْقِيْ طَرَفَيْهِ

به وي، اضطباع دی ته وائي چې پټو د ګرځوه لاندې تر راسته تخرګ او دواړه طرفه یې پرچپه اوږه

عَلَى الْاَيْسَرِ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ دَاعِيًا فِيْهَا بِمَا شِئْتَ

واچوي او طواف دی اوه شوطه وکړه په داسې حال کې چې په اوه شوطه کې دعا کوه هغه دعا چې

وَطُفْ وَرَاءَ الْحَطِيْمِ

ستا خوښه وي یعنی تعیین د دعاء نشته او طواف کوه د حطیم د باندې، **فائده**: حطیم مشتق د حطم نه دی په د قطع دغه تهوبته ده چې شکل د دال لرې د بیتی شریفي نه ده، د جاهلیت په وخت کې قریشو جلا کړیده، ولې دوی هغه روپۍ سره جمع کړي وې په هغو روپو

مکمله کعبه پر قواعدو د ابراهیمؑ نه جوړیده نود غه توته یه جلا کړه او ټول حطیم د کعبې شریفې جزء نه دی بلکه په قدر د شپږو گزو ده، موجود دیوال ځنې د کعبې جزء د کعبې دی، په روایت د مسلم د عائشه رضی الله تعالیٰ عنها ځنې.»

پوښتنه: نو په دی صورت کی حطیم باید مربع وائی لکه کعبه شریفه نو پر دغه شکل د دال ولی دی، د رولیش وائی چی په غایة البیان کی وائی چی قبرد هاجرؑ او اسمٰعیل علیهما السلام په حطیم کی دی آه نو زما خیال دادی چی حطیم ته چی دوی ته فراخی ور کړیده، او په شکل مذکور جوړ سوی دی په قدیم الزمان کی د پاره ده مراعات د دغو قبرو لکن په مرور د زمانې هغه دوه قبره محو د سوه او د حطیم جزء و گرځیدل، والله اعلم بالصواب.»

او په حدیث شریف کی راغلی دی که چا تبرا وکړه په حطیم کی وهغه چا ته چی پرده ئی ظلم کړی وو هغه به خدای د هغه ظلم په وجه تو کړ تو کړ کړی «بحر» د، عزه **فـائـده**، دا قانون دی چی تجربه د دی قانون شاهد عدل دی چی هره دعا چی سړی یه په معنا یه پوهیږی په هغه دعا کی حضور د زړه او هم رقت د زړه او هم عجز او انکسار ډیروی تر هغه دعا چی سړی په معنا نه پوهیږی. او دا هم شرعی مسئله ده چی هیڅ الفاظ ویل بیله فهمه د معنا ثواب نه لری، بیله الفاظ قرآنیه وو مبارکه وو، نو بناءً علی هذا هر حاجی دی په ټولو شوطو کی د طواف د کعبې شریفې او یا په اشواطو کی د سعی بین الصفا والمروة پخپله مورنۍ ژبه دعا کوی، ولی چی هر حاجی ته خپل ضروریات او حاجات چی په دربار کی د خدای جل جلاله یو عریضه وی ښه معلوم دی او دا نه د معلومه چی په عربی دعا کی به د حاجی ټول خصوصی حاجات درج سی او که څرنگه! لهذا مصنفؒ وویل داعیاً فیها بما شئت، او د ټولو کتابو د فقهی شریفې د غه مسئله ده،

التفریع بعض مناسك په پښتو او بعض په فارسی یا اردو، چی بعض ملایا نو جوړ کړی دی هغه مسائل د حج او د عمری او د فرائضو، واجباتو، سننو او جنایاتو وغیرها چی په دغو ژبو لیکلی دی د هغه مونږ ډیره شکریه وایو، او دا یو لوی خدمت بو لو د خپل قوم او هم ژبو د پاره، لکن دوی چی وائی: د شوط اول دا دعا ده، او د شوط ثانی دا دعا ده، وهکذا دا کوم لازم شئ دی

خوانده عوام داگمان کوی چی دا شوطونه بیله دغو دعاگانو نه دی صحیح نو ځکه دوی په طواف کی او په سعی کی هغه د مناسکو رسالې وځته نیولی وی، او طواف یا سعی کوی، او په دوران کی د طواف چونکه دده سترگی په مناسك کی دی دا حاجی په ډکه وو هی او د بل حاجی پښو ورو خیژی، حتیٰ گاهی ښځه په ډکه وو هی او د حاجی په سترگی کی نه وریځ دا و نکو معلومیږی، او نه ئی پر اعضاء ظاهره وو باندی د عجز او انکسار او خشوع او خضوع علامی معلومیږی.

پوښتنه: مطوفان چی د حاجیا نو د تعلیم د پاره معلما نو مقرر کړی وی هغه ټوله خوبه عربی ژبه دعا کوی **جـواب** هغه د دغو دعاگا نو په معنا هم پوهیږی. نو که ته ای حاجی د غسی یه چی هم په عربی الفاظو پوهیږی او و یلای ئی هم سی. او هم یه په معنا پوهیږی نو خو ډیر اعلیٰ» او که صرف الفاظ ویلای سی، نو پخپله مورنۍ ژبه ټول حاجات خپل د رب العزت په دربار کی په ټولو شوطو کی د طواف یا سعی عرض وه وبالله التوفیق،

وَاِنْ اَرَدْتَّ اَنْ تَسْعٰی بَیْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَقِبَ الطَّوَافِ

او که ستا اراده وه چی تر طواف وروسته سعی په مابین کی د صفا او مروه وکړم نو رمل وکړه په دری

فَارْمُلْ فِی الثَّلَاثَةِ الْاَشْوَاطِ الْاَوَّلِ وَهُوَ الْمَشْیُ

اولو شوطو کی چی اول دی، او رمل ځه معنا ده تگ دی په طواف کی چابك، سره د ښورولو د اوږو

بِسُرْعَةٍ مَعَ هَزِّ الْكَتِفَیْنِ كَالْمُبَارِزِ یَتَبَخْتَرُ بَیْنَ الصَّفَّیْنِ

لکه یو سړی چی جنگ ته د کافرانو ورځی، نو دی په ښه فخر ایمانی په مابین کی د دوو صفونو د مسلمانانو

فَاِنْ زَحَمَهُ النَّاسُ وَقَفَ فَاِذَا وَجَدَ فُرْجَةً رَمَلَ لِاَنَّهُ لَا بُدَّ لَهُ

او کافرانو گرځی، او که چیری د خلگو په ازدحام کی راغلی نو دی و دریږی، هر وخت چی فرجه او لاره پیدا!

مِنْهُ فَيَقِفُ حَتّٰى يُقِيْمَهُ عَلَى الْوَجْهِ الْمَسْنُوْنِ بِخِلَافِ

سوه بيا دی رمل شروع کړی او چاره نشته تالوه د رمل څخه تا چی نه وکړی طواف په طريقه مسنونه باندی

اِسْتِلَامِ الْحَجَرِ الْاَسْوَدِ لِاَنَّ لَهٗ بَدَلًا وَهُوَ اِسْتِقْبَالُهٗ وَ

او خلاف د مسه کولو د حجر اسود ولی د هغه د استلام د پاره دی نه دریږی، ولی چی مسه د حجر اسود بدل لری چی هغه مخامخ ورته دریدل دی او مسه کوه ته

نَسْتَلِمُ الْحَجَرَ كُلَّمَا مَرَرْتَ بِهٖ

حجر اسود هره پلا چی ته تیریږی پر ده

يعنی کی د مسه امکان وو بیله ازاره د خلګو او چونکی رمل بدل نه لری نو خوله مخواه به ورته دریږی د روښ والی چی نژدی د اختر به ورځوکی به یه ډیره مشکله به حاجی پروجه مسنونه یعنی د رمل سره به طواف کوی که خه هم ورته ودریږی چی په ساعتو ساعتو به حاجی پر ځای بلك تګ او نزی بنوروله به قدرت پیدا کوی" والله اعلم بالصواب: پوهه سه: چی دا رادی په قید نفل طواف خارج سو ولی ترهغو وروسته خو حاجی اراده د صفا او مروه د سعی نه لری،

مسئله: د رکن یمانی مسه کول ښه کار دی لکن په ظاهر روایت کی سنت نه دی، او رکن شامی او عراقی چی د حطیم پرخوا دی نه دی مسه کوی" ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَخْتِمُ الطَّوَافَ بِهٖ وَبِرَكْعَتَيْنِ فِىْ مَقَامِ اِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ

او حاجی دی طواف ختم پر مسه کولو د حجر اسود کوی، او په دوه رکعته لمونځ کولو په مقام ابراهیم

السَّلَامُ اَوْحَيْثُ تَيَسَّرَ مِنَ الْمَسْجِدِ ثُمَّ عَادَ فَاسْتَلَمَ

کی یعنی هغه ته نژدی، او یا هر ځای د مسجد حرام څخه چی ده ته ممکنه او اسانه وی یعنی که پر مقام ابراهیم

الْحَجَرَ وَهٰذَا طَوَافُ الْقُدُوْمِ وَهُوَ سُنَّةٌ لِلْاٰفَاقِىْ

ازدحام وو او بیله دوه رکعته لمانځه دی بیرته راسی حجر اسود ته او مسه دی کړی یعنی پالاسونه

دی ورته پوره کړی که ازدحام وو، او دی طواف ته طواف قدوم وائی، او دا طواف سنت دی هغه چا ته چی د اطرافو څخه راغلی وی یعنی د مکی سړی ته سنت نه دی **فَائِدَه**: مقام ابراهیم په قول د طحطاوی د هغی ډبری نوم دی چی ابراهیم علیه السلام به کاهی کاهی د هاجرۃ او د ده زوی اسمٰعیل علیه السلام د ملاقات ته راتی چی ده به امر د ساره چی د ده بله ښځه وه د امور او زوی په خالی شیلی کی د مکی چی هلته نه انسان وو او نه اوبه وی پری ایښی وو او بیا په هغه ځای کی خدای د زمزم څا پیدا کړی او نور خلګ هم د لته اباد سوه نو چی دی پر اوښ سپور راغلی پر دغه ډبری بی پښه کښېښوول را تا به سو، او چی سپریدی به هم به ئی پر دغه ډبره پښه ایښوله او سپریدی به" نو قدرتی د ده مبارك قدمونه په هغه ډبره کی پیدا سوه او اوس هم ښته، او بعض فقهاؤ وائی چی مقام ابراهیم هغه ډبره ده چی ابراهیم او اسمٰعیل علیهما السلام خدای جل جلاله امر کړه چی زما د عبادت د پاره هغه ځای ته چی جبرئیل ع ورښوولی وو یو خونه جوړه کړه، نو دوی چی په بناء د کعبی مبارکی لاس پوری کړی نو تر هغه وخته پوری چی د دوی لاسونه دیواله ته رسیده خو ډبری او خښتی به ئی پر ایښوولی، او هرګاه چی دیوالونه لوړ سوه او د دوی لاسونه ور رسیدله نو خدائ دی امر کړی چی پر دغه ډبره ډبری یا خښتی د رسره اخله دا ډبره په قدرت د خدای پورته کیږی تر څو چی ته هغه ډبری او خښتی پر دیواله د کعبی شریفی ایږدی او بیرته به کراره را کښته کیږی وهکذا څو چی دیوالونه د کعبی شریفی پوره کیښودی نو په دغه ډبره کی پردی تقدیر هم نښانه د قدمونو د ابراهیم پیدا سوه او اوس هم ښته،

فَائِدَه: بیت الله شریفه د ادم علیه السلام تر نزول مخکی ته د مخه ملائکه وو جوړه کړی وه، قَالَ اللهُ: اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِىْ بِبَكَّةَ" الآیه: بیا په طوفان نوح علیه السلام کی خرابه سوه او تر خاورو لاندی سوه، او بعض وائی چی اسما نو ته نقل سوه خو په هر صورت په نوی بناء سره د بیت الله شریفی خدای پاك ابراهیم او د دوی زوی اسمٰعیل علیهما السلام مامور کړه هغه چی بیت الله از سر نو تعمیر سوه **فَائِدَه**: د تواریخو اسلامیه وو په کتابو کی وائی چی د کعبه شریفی موجوده بناء چی حجاج بن یوسف کړیده، ۱۵ پنځلسمه بناء ده،

فائده مقام ابراهیم په قدیمه زمانه کی په کعبه شریفه پوری متصل پروت وو د دروازی وراسته طرفته: قال الله تعالیٰ: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى، نو څه وخت چې طائفین ډیریدل او مصلین او دوی ته سره ځائیدل نو بیه مقام ابراهیم د طواف د ځای څخه یواندازه گوښه د هندارو په ښیښه کی کیښنو. د درو لیش داولو څجو په وخت کی هم مقام ابراهیم ترمطاف دباندی وو» نو چا چې به طواف وکړی نو د مقام ابراهیم سره به ئې دوه رکعته د طواف اداء کړه رفته رفته چې حاجیان ډیریدل او مطاف تنگیدی نو مقام به په مطاف گډ کړی، حتی چې هم اوس مقام ابراهیم تخمیناً په مابین کی د مطاف دی»

جاہل عوام:

چې دایه اوریدلی دی چې دوه رکعته د طواف د مقام ابراهیم سره اداکیږی، نو په عین مطاف کی پرلمونځو ولاړوی چې طائفین یه ترښا او مخ نیږی، او گاهې چې دوی په سجده پراته وی د طائف فکر وی په سر ئې پښه ورکښیږدی، او گاهې خوک سره ملگري وی او ترلا سونې سره نیولی وی پرلمونځو کو نکو پیره کوی او د طائفانو څخه یه ساتي، دا د دوی ناپوهی ده، ولی دوه رکعته لمونځ د طواف په ټوله حرم شریف کی روادی، دا د عوامو پر موجوده نقشه د غسی لمونځ مکروه دی، بلکه په بحر رائق کی وائي چې په حرم شریف کی صرف د غه لمونځ افضل دی کی پرا طاق کی وکړی هم روادی تر هغو چې په بل طواف د شروع اراده نه لری او کی بل طواف ته اراده وه نو داول طواف لمونځ علی الفور لازم دی، او که بل طواف به نه کاوه چې وطن ته ولاړ یې هم د غه دوه رکعته کولای شی ولی چې دا واجب علی التراخی دی،

فائده: د غه اول طواف ته نکه چې طواف قدوم وائی طواف التحیه او طواف اللقاء او طواف اول العهد یه هم بولی کذا فی العنایه **فائده**: وروسته تر دوه رکعته د طواف هغه دعاء چې آدم علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام څخه منقول ده ډیره زیبا او جامع او په زړه پوری دعا ده، او هغه دا ده، اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ تَعْلَمُ سِرِّی وَعَلَانِيَتِی فَاقْبَلْ مَعْذِرَتِی» خدایه ته خبر ئې زما په پټ حال او په ښکاره حال ته قبول کی زما عذر، یعنی چې د گنهو په باره کی سوال د مغفرت دی، وَتَعْلَمُ حَاجَتِی فَاَعْطِنِی» او ته خبر یې زما په حاجت نو ته زما حاجت راپوره کی

چې خیر د دنیا او اخرت دی، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ اِيْمَانًا يُّبَاشِرُ قَلْبِیْ» خدایه زه ستا څخه سوال کوم د داسی ایمان چې کله وی د زړه سره زما یعنی نوع د نفاق نه وی پکښی، وَيَقِيْنًا صَادِقًا حَتّٰی اَعْلَمَ اَنَّهٗ لَا يُصِيْبُنِیْ اِلَّا مَا كَتَبْتَ عَلَیَّ. او زه ستا څخه غواړم د رښتیا گو یقین ستا پرکار و چې هغه نو دادی حتیٰ چې زه پوه شم په دی سره چې ماته نه رسیږی یعنی د مصائبو څخه مگر هغه څه چې تا په ازلی قلم پر ما لیکلی وی، یعنی د هغو څخه د خلاصون لاره نشته په هیڅ حیله، وَالرِّضَاءُ بِمَا قَسَمْتَ قَدْ غَفَرْتُ لَكَ» او خدایه زه د تا څخه رضا غواړم په هغه څه چې تا زما په قسمت کی لیکلی وی، په حدیث شریف کی راغلی دی چې خدای پاك آدم علیه السلام ته وحی راواستولی: ما وبخښلی عموی بخښه می کړیده و تا ته، او هیڅ خوك ستا د اولادی څخه به ماته د رخواست ونه کړی په مثل ستا د درخواست مگر نه زه به بخښم گنهونه د هغه، او به دستی ورکوم هغه شی چې د ستی چارو څخه وی، او دا چې دنیا به ورته داسی کوم چې د دې په سپیره وی یعنی، مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ، چې د ده به گمان نه وی، که څه هم د ده اراده و هغه دنیا ئې شي ته نه وی، عن. در، قال المصنفؒ

ثُمَّ تَخْرُجُ اِلَى الصَّفَا فَتَقْعُدُ وَتَقُوْمُ عَلَيْهَا حَتّٰى تَرَى الْبَيْتَ

بیا به نو ته ووزی د حرم شریف څخه د صفا وغره ته یعنی پر باب الصفا باندی او وره پوره ته به سی او وه

فَتَسْتَقْبِلُهٗ مُكَبِّرًا مُّهَلِّلًا مُّلَبِّيًا مُّصَلِّيًا دَاعِيًا وَتَرْفَعُ

به دریږی پر صفا تر څو چې ته وینې بیت الله نو به مخامخ ودریږی و هغی ته په داسی حال کی چې الله اکبر به وائي، او لا اله الا الله به وائي او تلبیه به وائي

يَدَيْكَ مَبْسُوْطَتَيْنِ

او درود به وائي او دعا به کوی یعنی هر څه چې دی خوښه وی، او لاسونه به هم دواړه پورته کوی سره خلاص، **پوه سه** چې ما په بار بار وئیلی دی چې دعاء ځکیل موږ نی ژبه کول ډیر حضور د زړه راولی خو بیا هم نیلغ په شرح کی د کنز دا جامع عربي دعا راوړی ده: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِیْ

وَيُمِيتُ وَهُوَحَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَعَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنُ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ» درې واره درویش وائي چي دغه کلمات که څه پرې بنو کلمات دي، لکن عبارت دمصنفؒ ډېرجامع دی ولې چي مصنفؒ اَللّٰهُ اَکْبَرُ ووایه اوده تلبیه ویَل او درود ویَل، اوبیا دحاجت خپل غوښتنه هم زیاته کړېده، نوکه دَدغو کلماتو سره دمصنفؒ دعبارت هم مراعات وسی ډېره ښه بیا وی لکن دازدحام په وخت کی دونه اوږدی ولاړی ته اودعا وو ته به خلگ سړی نه پرېږدی» کمایدل علیه التجربة فی هذا الزمان

ثُمَّ يَهْبِطُ نَحْوَ الْمَرْوَةِ عَلٰى هِيْنَتِهٖ فَاِذَا وَصَلَ بَطْنَ الْوَادِيْ

بیله صفا نځه حاجی دی ددغه غره نځه کښته سی وطرفته دمروه دغره، په سکون او اطمنان

سَعٰى بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ الْاَخْضَرَيْنِ سَعْيًا حَثِيْثًا فَاِذَا تَجَاوَزَ

سره نو چي دی ورسیږی نس دهغه شیلی ته بیادی څغلی په مابین کی دهغودوو میلا نو چي په رنگ زرغونه دی سعیًا یعنی تگ چابک

بَطْنَ الْوَادِيْ مَشٰى عَلٰى هِيْنَتِهٖ

حتی تر هغه شیلی چي تیرسي نو بیا دی معتاد تگ په سکون او اطمنان سره کوی» درویش وائي چي په اولوکلوکی چي مونږ چه تللو زیا په دغه ځای کی د دغودوو میلانو ترمابین شیله وه چي په هغی کی به شگی وی او ډېره کښته وه. او اوس خونه شیله سته او نه شگی او نه جوړوالی صرف د غه دوه میله پردوا ړو طرفو په زرغونه رنگ وهلی دی چي حاجیان هلته چابک چابک ځي وبس». قَالَ الْمُصَنِّفُ:

حَتّٰى يَاْتِيَ الْمَرْوَةَ فَيَصْعَدُ عَلَيْهَا وَيَفْعَلُ كَمَا فَعَلَ عَلَى

حتی چي ورشي دمروة غره ته نو پرهغه دی ور پورته سی او وهوری دی هم هغه کاروونه وکړي

الصَّفَا يَسْتَقْبِلُ الْبَيْتَ مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا

لکه پر صفا چي کړی وه مخامخ و بیت الله شریفی ته دی ودریږی، اللّٰه اکبر دی ووائی

لا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه دی ووائی تلبیه دی ووائی درود دی ووائی دمادی کوی لاسونه دی خلاص نیولی وی وطرفته د آسمان اودانو یو شوط سو، **فَائِدَه:** مصنفؒ چي دغه عبارت اول ووایه ویَفْعَل آه نو دغه وروسته عبارت ته یستقبل آه ضرورت نه وو خو تهوله په صفاء کی تیر سوه اَللّٰهُمَّ الاان یقال اوردها لمزید التوضیح وللمبالغة فی بیان افعال الحج»

دَقِیقَه: مصنفؒ د صفا په وقوف کی داسی وویَیله حتی ترى البیت آه اود مروه په وقوف کی هغه عبارت نه را اوړی صرف دایه وویَیله: یستقبل البیت ولې چي دمروه نځه بیت الله شریف نه معلومیږی، چي په مابین کی بناوی دی نو صرف وجهت ته دکعبی دی مخامخ سی کی څه هم نه وینی، **مسئله** په دی مسئلی کی چي د صفا نځه تر مروه پوری یو شوط دی دا زمونږ د ټولو حنیفیانو مذهب دی مگر فقیه ابوجعفر الطحاویؒ وائی چي دمروه نځه چي بیرته صفا ته راسی نو یو شوط دی، نو ۱۴ څوارلس واره سعی غواړی د فقیه مذکور دلیل اود هغه جواب په بحر رائق او عنایه کی مطالعه کړي». قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ يَعُوْدُ قَاصِدًا الصَّفَا فَاِذَا وَصَلَ اِلَى الْمِيْلَيْنِ الْاَخْضَرَيْنِ

او بیادی راوگرځی د مروه نځه په قصد د صفا او هر وخت چي ورسیږی میلینو اخضرینو ته نو دی

سَعٰى ثُمَّ مَشٰى عَلٰى هِيْنَتِهٖ حَتّٰى يَاْتِيَ الصَّفَا وَيَفْعَلُ

بیا دی چابک سی، چي تر هغو تیر سی، بیا دی نو د عادی تگ کوی، حتی چي صفا ته ورسیدی

كَمَا فَعَلَ اَوَّلًا وَهٰذَا شَوْطٌ ثَانٍ فَيَطُوْفُ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ

بیا دی نو پر صفا هغه کاروونه وکړي چي اول واریه کړي وه، اودادوهم شوط سو، یعنی خلافًا لابی جعفر الطحاویؒ ولې چي هغه وائی چي صفا ته چي بیرته راغلی نو یو شوط پوره سو کما مرانفا

يَبْدَاُ بِالصَّفَا وَيَخْتِمُ بِالْمَرْوَةِ وَيَسْعٰى فِيْ بَطْنِ الْوَادِيْ

نو اوه شوطه ته پر دغه ډول پوره کړه،

فِي كُلِّ شَوْطٍ مِنْهَا حتیٰ چې شروع د طواف د صفا نخه کیږي اوختم به پرمروه کیږي، اوچابک تګ به کوي په رفتن کي دشیلي په هرشوط کي، په بحر، ائق کي وائي چې چابك وَالي په شیلي کي په هرشوط کي سنت خودی لکن په ترک سره یه شی لیعنی دَم یا صدقه نه لازمیږی آه قَـالَ المُصَنِّفُ :

ثُمَّ يُقِيمُ بِمَكَّةَ مُحْرِمًا وَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ كُلَّمَا بَدَا لَهُ وَهُوَ بیا دی نواوسیږی چې حاجی وی په مکه مکرمه کی احرام بَنده اوطواف د بیت الله دی کوی هروخت

أَفْضَلُ مِنَ الصَّلٰوةِ نَفْلًا لِلْاٰفَاقِي چې دده خوښه وی اوطواف نفلی افضل دی ترنفلی لمانځه اطراف سړي لره، ولې چې نفلی لمونځونه خودی په وطن کی هم کولای سی چې زیارت په غواړي هغونه قدر او د طواف خود اخو محدودی شپې اوورځی دي، قَـالَ المُصَنِّفُ :

فَإِذَا صَلَّى الْفَجْرَ بِمَكَّةَ ثَامِنَ ذِي الْحَجَّةِ تَاَهَّبَ لِلْخُرُوْجِ نوبیا چې ده لمونځ وکړی د سحار د اتمې ورځی دلوی اختر د میاشتی نوځان دی اراسته کړي وتو ته

إِلٰى مِنًى فَيَخْرُجُ مِنْهَا بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَيَسْتَحِبُّ دمنیٰ نودی ووزی دمکی نخه لپاره اختلوذ لمر، اومستحبه داده چې د ماپښین لمونځ دی په منیٰ

أَنْ يُّصَلِّيَ الظُّهْرَ بِمِنًى وَلَا يَتْرُكُ التَّلْبِيَةَ فِيْ أَحْوَالِهٖ کی وکړي. اوتلبیه دی نه پریږدی په هیڅ وخت دوختوکی مګرنه په طواف کی **يوه سَعٰي**

كُلِّهَا إِلَّا فِي الطَّوَافِ چې منیٰ په پخوا زمانه کی دیوی قریې نوم وو چې دری کوڅې په کښې وی، او په اوسنی زمانه کی ښه ښائسته ښار دی اومنیٰ په حرم کی داخله ده، بحر، در،

قَالَ المُصَنِّفُ **وَيَمْكُثُ بِمِنًى إِلٰى أَنْ يُّصَلِّيَ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ وَيَنْزِلُ** اوحاجی دی د رنګ کوی په منیٰ کی ترهغوچې د نهم دورځی د سحار لمونځ دی په تاریکه کی وکړی او

بِقُرْبِ مَسْجِدِ الْخَيْفِ دده نزول باید قریب ومسجد خیف ته وی چې هغه په اوسنی زمانه کی ډیرښائسته مسجد دئ، اوپه پخوازمانه کی زما بیاد دی صرف دقبلې پرخوا خوبرنډی وی اوپه نورمیدان کی دمسجد ځګی اواری وې، وبس، قَـالَ المُصَنِّفُ :

ثُمَّ بَعْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ يَذْهَبُ إِلٰى عَرَفَاتٍ فَيُقِيْمُ بِهَا نوروسته تر راختود لمرلعینی د نهمی ورځی ولاړسی دعرفات پرخوا چې هلته ورسیدی نودی اوری (هلته) اوسیږی، عرفات ته عرفه هم وائي چې نوم دی د ډیرفراخه مبارك میدان چې په اوسنی زمانه کی چې تعداد د حاجیانو کاهی وشل (۲) لکه ته ورسیږی داټول حاجیان بې ازدحامه په هغه مبارك میدان ځائیږی، قَـالَ المُصَنِّفُ :

فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ يَأْتِيْ مَسْجِدَ نَمِرَةَ نوچې لمرزوال وکړي نودی حاجی ورسی ومسجد نمره ته چې پرعرفات دیو مسجد نوم دی، **فَـائِدَه:** چونکه په اوسنی زمانه کی حاجیان به لکودی اوپه مسجد نمره کی یې امکان د ځائیدو نشته، نوکه څوك په خیموکی لمونځونه وکړي کوم حرج نه وی ان شاء الله تعالیٰ:

فَيُصَلِّيْ مَعَ الْإِمَامِ الْأَعْظَمِ أَوْ نَائِبِهِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ نوچې مسجد نمری ته ورغلی نودی لمونځ دی وکړي سره دلوی امامه چې دبیت الله شریف امام دی یا د نائب

بَعْدَ مَا يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا وَيُصَلِّي الْفَرْضَيْنِ سره دهغه حتیٰ چې شروع د طواف د صفا نخه کیږی اوختم یه پر مروه کیږی، اوچابك تګ به کوی

دماپښین لمونځ او د ماز دیګر لمونځ یعنې په وخت کې د ماپښین پسله دې چې امام دوې خطبې ووائي چې په مابین کې جلسه هم وکړي، یعنې لکه د جمعې د لمانځه په یوه اذان دوه اقامتو سره،

فائده: په بحرالرائق کې وائي چې مصنفؒ چې د ماز دیګر لمونځ ذکر کړي پس د ماپښین د لمانځه نه اشاره په ودې وکړه چې ۲ دوه رکعته سنت چې د ماپښین نه لمانځه وروسته دی هغه دې په مابین کې نه کوي او کول ئې مکروه دي، نو نفل خو په طریق اولیٰ مکروه دی کما سیأتی۔

ښکاره فائده چونکه امام د حرم شریف په مذهب وهابي دی او دوی په نزد تر عرفات هم مسافر ګڼل کیږي، نو ځکه دی د ماپښین دوه رکعته سفریانه کوي او د ماز دیګر لمونځ هم دوه رکعته او زمونږ د حنفیانو په نیز سړي هلته مسافر بلل کیږي چې د درو ۳ ورځو او شپو د پاره د کور وزي، نو په دې سبب زمونږ اقتداء په دغه ئې نه ده صحیح، ولې چې د امام لمونځ زمونږ په عقیده فاسد دی، ولې چې مونږ دې مقیم بولو او دی دوه رکعته کوي۔ **پوښتنه**

بعض خلګ بلکه بعض ملایان وائي چې د سعودي حکومت د پاره د مراعات د نورو مذهبو امام مکه په ورځ د عرفات د سحار طائف ته بوزي چې د مسافت د سفر عند الکل ده، او ده هغې خوا نه په عرفات ته راولي، چې دی مسافر وګرځي او لمونځ په دوه رکعته بالاتفاق وګرځي، نو بیا ولې زمونږ لمونځ نه دی پسې روا! **جواب** وهابیان خپل مذهب بولي او په مراعات کې د مذهب هم ډیر جدي دی نو ګمان نه کوم چې دوی به داسې کوي، او چا د حکومت د خوا نه هم داسې ګواهي بالمشافهه نه ده ورکړي، نو بنه به داوي چې زمونږ حاجیان دې د ماپښین لمونځ سره د سنتو په جماعت د ماپښین پخپل وخت کې اداء کړي او بیا دې د ماز دیګر لمونځ د ماز دیګر په وخت کې وکړي۔ قال المصنفؒ

وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَهُمَا اِلَّا بِشَرْطَيْنِ اَلْاِحْرَامُ وَالْاِمَامُ الْاَعْظَمُ

او جمع نه ده روا په مابین کې د دغو دوو لمونځو مګر په دوه شرطه سره یو به سړي محرم وي او

فَلَا يَفْصِلُ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ

بل به ئې لمونځ په امام اعظم پسې وي نو چې احرام سړي جمع د لمونځو نه سي کولای

او که په امام اعظم پسې نه وو ولاړ کړځه لمونځ په جماعت کوي مثلاً په خیمو کې هغه ته هم جمع نه ده روا، او حلال والي دی نه کوي په مابین کې د دغو دوو لمونځو په نفلو سره.

پوښتنه: چې مراد د نفلو څخه زائد تر فرضو دی چې معنا عامه د نفلو ده نو راتبه سنت بعدی د ماپښین دي هم نه کوي کما مر" در، قال المصنفؒ:

وَاِنْ لَمْ يُدْرِكِ الْاِمَامُ الْاَعْظَمُ صَلّٰى كُلُّ وَاحِدٍ فِيْ

وَقْتِهَا الْمُعْتَادِ

او که سړي ونه رسیدی و امام اعظم ته یا سهواً یا قصداً، نو دی هغه سړي اداء کړي هر یو د دغو دوو لمونځو نه په معتاد وخت د ماپښین او ماز دیګر کې یعنې کې یوازې کاوه او کې په جماعت کاوه، قال المصنفؒ:

فَاِذَا صَلّٰى مَعَ الْاِمَامِ يَتَوَجَّهُ اِلَى الْمَوْقِفِ وَعَرَفَاتٌ

نو چې سړي لمونځ وکړي سره د امام نو منخ دې کې د موقف خواته، او عرفات ټوله ځای د دریدو دی

كُلُّهَا مَوْقِفٌ اِلَّا بَطْنَ عُرَنَةَ

مګر نس د عرنه شیلي، **پوښتنه** چې عرینه وغربي طرفته د مسجد نمره ده حتی چې هم داوس عرنه وجانب غربي ته د مسجد نمره ور ضم سوي دی، **فائده**: باجيؒ د ابن حبیب څخه روایت کوي چې عرفات ټوله د حل محکه ده، مګر عرنه په حرم کې داخله ده واللّٰه اعلم

قال المصنفؒ

وَلْيَغْتَسِلْ بَعْدَ الزَّوَالِ فِيْ عَرَفَاتٍ لِلْوُقُوْفِ

او غسل دې وکړي وروسته تر زوال په عرفات کې د پاره د وقوف د عرفات

وَلْيَقِفْ بِقُرْبِ جَبَلِ الرَّحْمَةِ مُسْتَقْبِلًا مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا مُلَبِّيًا

او ودې دریږي قریب و جبل رحمت ته مخامخ وقبلې ته په داسې حال کې چې اللّٰه اکبر به وائي

دَاعِيًا مَادًّا يَدَيْهِ

او لا اله الا اللّٰه به وائي او تلبیه به وائي او دعا به کوي دواړه لاسونه برته او به ده نیولي وي،

پوه سه: چې جبل رحمت د یوه کښتنۍ غرۍ نوم دی په مابین کې د عرفات، قال المصنفؒ

كَالْمُسْتَطِيعِ وَيَجْتَهِدُ فِي الدُّعَاءِ لِنَفْسِهِ وَوَالِدَيْهِ وَ

لکه یو سړی چې د چا ځنډ وو دی غواړی او کوشش دی کوي په دعا کې د پاره د ځان یعنې که اخروی شی غواړي

إِخْوَانِهِ وَيَجْتَهِدُ عَلَى أَنْ يَخْرُجَ مِنْ عَيْنَيْهِ قَطَرَاتٍ

او که دنیوی شی غواړي، او د غه رنګه دې دعا کوي د مور او پلار د پاره یعنې خصوصًا چې دوی مړه وي او د پاره

مِنَ الدُّمُوعِ فَإِنَّهُ دَلِيلُ الْقُبُولِ

د ورونړو دی هم دعا کوي، یعنې که نسبي ورونړه وي او که دیني ورونړه وي چې ټول مسلمانان دی، د رونیش وائي چې علاوه پرمور او پلار، ټولو اقرباؤ ته اجمالاً یا تفصیلاً دعا کوي او د غه رنګه هغه کسانو ته چې په وخت کې د رخصت وحاجی ته به وصیت کړي وي چې ما ته پر عرفات دعا وکړه، نو که تفصیلاً نه وي ممکنه اجمالاً دعا خو دی ورته وکړي، او حاجی دی کوشش کوي چې یو څاڅکی د اوښکو تر دواړو سترګو توی کړي، ولی د غه اوښکی دلیل د قبلیدو د دعا دئ، قال المصنفؒ:

وَيُلِحُّ فِي الدُّعَاءِ مَعَ قُوَّةِ رَجَاءِ الْإِجَابَةِ وَلَا يُقَصِّرُ فِي

او ډیره دی ټینګیږی وحدائی ته په دعا کې یعنې په بار بار دی درخواست ورته کوي، سره د کلکی عقیدی

هٰذَا الْيَوْمِ إِذْ لَا يُمْكِنُهُ تَدَارُكُهُ سِيَّمَا إِذَا كَانَ مِنَ الْآفَاقِ

د قبلیدو، او حاجی به په د غه ورځ کې کوتاهی نه کوي په دعا ګانو کې، ولی چې د دی ورځې پیدا کول بیا ممکن نه دی، او خصوصًا هغه کسان چې د اطرافو څخه د عالم راغلی وي، ولی ډیرو افاقیانو په خپل عمر کې یو حج نصیب دی، د دی سببه چې مرګ نه دی معلوم او د وهم وار د حج قدرت هم نه دی معلوم،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه كتبه احقر فضل الحق حقانی بقلمه ۲۵-۰۷-۱۴۲۳ھ

وَالْوُقُوفُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفْضَلُ وَالْقَائِمُ عَلَى الْأَرْضِ أَفْضَلُ

او دریدل په د غه ځای کې پر اوښ وغیره سپور افضل دی، لان رسول الله صلی

مِنَ الْقَاعِدِ

الله علیه وسلم کان راکبا علی الناقة في هذا الوقت، او بیا چې ولاړ وی پر مځکه افضل دی تر ناست سړی **پوه سه:** چې په او سنی وخت کې وقوف علی الراحله کالعدم دی کما یدل علیه التجربة که څه هم بعض اعراب و دی ورځی د پاره ډیر بنا ئسته کړی او ښانه د رولی وي، د پاره د اجرت لکن په سبب د ډیر والی د اجرت ډیر کسان نه پر سپریږی او که پر سپاره هم سی نو د سیل او د میلی د پاره وی نه د پاره د دعا او عجز او انکسار، قال المصنفؒ:

فَإِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ عَلَى هَيْنَتِهِم

نو چې لمر ولویدی نو دی را تاسی امام او خلګ دی ور سره وی په سکون او اطمنان سره،

فائده: په او سنی وخت کې حاجیان په لکو پر عرفات جمع وي، نو هغو ته د امام حال معلومیږی نو صرف په علامه د لمر لویدو خلګ پوهیږی چې د افاضی وخت دئ، او دا هم یاد لره چې که حاجی تر غروب د لمر هلته ولاړ وی بیا به تر مزدلفې پوری په مشکله موټر پیدا کوي ولی چې د معلمانو بسان د ماز دیګر د لمانځه په وخت کې بیا د کسی بیانه په مابین کې او نه پر سر ځای پیدا کیږی، او د کرائی ټیکسیان ډیر اجرت غواړی نو سړي مجبور دی چې پر پښو به مزدلفې ته ځي او دا د ری میله لاره ده د بنځو او سپین ږیرو او د ناروغو کسانو د پاره لوی حرج دئ، او بل دا چې د عرفات د ډګر څخه بیخی ډیر سړکان وتلی دی نو نا ولده حاجی نه پوهیږی چې کوم سړک د مزدلفې دی سرګردان ګرځي، **نو اسانه کار دا دی** چې حاجی که په امام اعظم پسی د واړه لمونځونه یو ځای کړي وه خو ډیر اعلی او کی د ماپښین لمونځ په خیمه کې وکړي نو د هغه لمانځه وروسته دی په وقوف او د عا ګانو شروع وکړي، او بیا وروسته دی د ماز دیګر لمونځ دی په اول وخت کی وکړي، او بیا دی دعا وی، تکبیرونه، کلمه طیبه، تلبیه، ډیره ډیره وائي، او چې لمونځ لا نه لوي ولاړ وي د معلمانو په موټرانو کې چې د دوی د خیمو مخ ته ولاړ وی او حاجیان په کښی

سپرېږي دي ده دې ځای په کښې ونيسي، او هلته په موټر کې دي هم خپلو دعاګانو ته ادامه ورکړي يو خود مزدلفې دلارې د چپنود تګه او سرګرداني څخه خلاص سو، او بل

دوى۲ فائدى

افضليت دوقوف على الدابة هم لاس ته ورغلى ولې چې موټران

سوال:

په دې موټرانو کې چې سرې دونه په عصر حاضر کې لکه اوښان د عصر قديم دي، وحتى سپور سي نو خولې د عرفات څخه قبل غروب الشمس وباسي، او خروج قبل الغروب خو مکروه دي

جواب:

موټران په دغه ورځ پر عرفات په ډېر زيات دي، او د ټولو لارې بنجې مشکله وي حتى چې دومره وختي هم سپور سي نو که د ماخستن د وخت نږدې اخليدو پورې د عرفاتو وزې ډېر به نه ولاړه وي

فائده،

دا ټوله ماجرا د بنځو او د سپين ږيرو او ناجوړو او ناولده خلګو د پاره د ډېر شان ذکر کړې، ورنه چې سرې ګوار ګرار پر پښو روان وي او د غروب سره د لمرځان د عرفاته وباسي يا ځه ورو ستنه او بيا چونکه ډېر قوي خلګ د مزدلفې پر لار روان دي هم په هغو پسې روان وي که څه هم سترې سي خو ثواب به يې ډېر وي، قال المصنف:

وَاِذَا وَجَدَ فُرْجَةً يُسْرِعُ مِنْ غَيْرِ اَنْ يُّؤْذِيَ اَحَدًا وَ

يا نو چې حاجي کم سپور وي او که پياده پيدا کړي خلاصه نو دي چابک چابک په کښې روان سي بيله

يَحْتَرِزُ عَمَّا يَفْعَلُهُ الْجَهَلَةُ مِنَ الْاِشْتِدَادِ فِي السَّيْرِ

دې چې د ورو وړي په ډکو وهلو سره ويو چا ته، او حاجي دې پرهيز کوي د هغه کار څخه چې جاهلان

وَالْاِزْدِحَامِ وَالْاِيْذَاءِ فَاِنَّهُ حَرَامٌ

ئې کوي چې ډېر سخت ځغلي او د خلګو سره ازدحام کوي او خلګ پر يېک وهلوسره او په ډکو وهلو سره ازاروي ولې ورته فعل خو حرام دي، قال المصنف

حَتّٰى يَاْتِيَ مُزْدَلِفَةَ فَيَنْزِلُ بِقُرْبِ جَبَلِ قُزَحَ وَيَرْتَفِعُ

او د عرفات دي د روان وي خو چې راځي مزدلفې ته نو دي واړه وي نږدې وغره ته چې

عَنْ بَطْنِ الْوَادِيْ تَوْسِعَةً لِلْمَارِّيْنَ

چې د قزح په نامه ياديږي او پورته دي واوړوي تر لنډ شيلي تا چې فراخي راسي پر خلګو چې په شيله کې تيرېږي،

پوښتنه:

چې د عرفات پای او د مزدلفې سر دی او ناولده سرې په دې نه پوهيږي چې عرفات څېرې خلاص سو او مزدلفه د کومه ځای څخه شروع کيږي، لکن د سعودي حکومت يو ډېر به کار کړي دی چې غټې لوحې يې نوشته کړې پر لکړو لوحې يې ځړولي دي مثلاً دا سې پرنوشته وي" منتهى العرفة، ومبدء المزدلفة، وهكذا بين المزدلفة ومنى، وبين الحرم ومنى، نو حاجي د دغو لوحو څخه زده کړه کوي، قال المصنف:

وَيُصَلِّيْ بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِاَذَانٍ وَاحِدٍ وَاِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ

او اداء دې کي په مزدلفه کې د ماښام او ماخوستن لمونځ په يوه اذان سره او په يوه اقامت سره يعنې د اول لمانځه د پاره

پوښتنه:

چې دا جمع تاخير بولي او د ماښام په لمانځه کې به د قضائي نيت نه کوي ولې چې په دغه شپه کې د ماښام او د ماخستن وخت يو دی، او کې په ما بين کې د دوو لمونځو تطوع وکړه، يعنې که څه هم سنت مؤکده د ماښام وي پر صحيح روايت، او يا په يو بل کار مشغول سو نو د دوهم لمانځه د پاره دې بل اقامت وکړي ه بحر، قال المصنف:

وَلَمْ تَجُزِ الْمَغْرِبُ فِيْ طَرِيْقِ الْمُزْدَلِفَةِ وَعَلَيْهِ اِعَادَتُهَا مَا لَمْ يَطْلُعِ الْفَجْرُ

او نه دي روا د ماښام لمونځ په لار کې د مزدلفې يعنې د مخه تر رسيدو و مزدلفې ته نو د ماښام لمونځ چې نه دي روا د ماخستن په طريق اولى نه دي روا که هم وخت داخلي وي، ولې چې اول د دغه وخت د ماښام دی، بحر در، او پر ده به اعاده لازمه ده چې سپيدې ترې را څاودلى،

وَيُسَنُّ الْمَبِيْتُ بِالْمُزْدَلِفَةِ

او سنت دي شپه تيرول په مزدلفه کې

فائده

حاجي بايد پوه سي چې په دغه شپه کې شرافت

درمانی چې : لوی اختر شپه ده دوا ړه سره جمع دئ نو باید ټوله شپه په عبادت تیره کړي کذا في البحر. قــــال المصنفؒ:

فَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى الْإِمَامُ بِالنَّاسِ الْفَجْرَ بِغَلَسٍ

نو ځرنګه چې سپیده راوچاودی، نو امام دې خلګو ته دې سحار لمونځ ورکړي په تاریکه کې اوبیا

ثُمَّ يَقِفُ وَالنَّاسُ مَعَهُ

دې ودریږي او خلګ به ورسره وي، درویش وائي چې دا ډیره زمانه د مخه داغسې موضوع بروه چې حاجیانو به ټولو په امام اعظم پسې لمونځ وکړي اوبیا به دامام سره دیاره دد عاء ودریدل اما په اوسنۍ زمانه کې چې حاجیان په لکو دی، نه وډیرو حاجیانو ته دامام د لمانځه ځای ورمعلوم وی، او نه د ټولو د سره جماعت کول او وقوف ممکن دی. نو خلګ او حاجیان په موجوده زمانه کې په سوو ځایونه یوملا پیدا کړي، او هغه اذان وکړي او بیا په سوو ځایونه بلکه یوبل ته نژدې ځایو کې جماعتونه د سحار د لمانځه کوي بلکه بعض حاجیان یوا ځې لمونځ وکړي، او ورسته بیا چې په انفرادي یا اجتماعي توګه دعا ګانې کوي، کتابونه د فقهی شریفې ټوله مبني پر قدیم اصطلاح دی چې حاجیان په سوو وه حتی چې درویش په اولو اولو حجو دغسې امکانات موجود وه او په اوسنی کلو چې درویش حج ته ولاړی هغه امکانات ټوله دمابینه تللی وه، قال

وَالْمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ إِلَّا بَطْنَ مُحَسِّرٍ

او مزدلفه ټوله ځای د درېدو دی مګر نس دوادی محسر. درویش وائي چې ما په اول کې هغه شیله لیدلې وه، چې د جبل قزح څخه چې به سرې راکښته سوه ستی وادی محسر وه چه میده ریګ په کښې وو **پوه سه** چې صاحب البحر وائي چې وادی محسر د فاصل دی د مِنیٰ او مزدلفې ترمابین ده او په یوه کې د مِنیٰ او مزدلفې حساب نه ده. او ۵۴۰ ګزه ده. **وجه التسمیه** چې اصحاب الفيل چې پر مکه شریفه حمله د یمن نه خوا کوله د مخه تر ولادت د علیه الصلوٰة والسلام هغه فیلان هم په دغه وادی محسری د کار ولویده او پرمخ تګ یه نسوای کولای چې قرآني قصه ده،

وَيَقِفُ مُجْتَهِدًا فِي دُعَائِهِ وَيَدْعُوا اللّٰهَ أَنْ يُتِمَّ مُرَادَهُ

او ودې دریږي یعنی امام هرحاجي کوښش کونکی دې وي په دعا کې، او د خدائ جل جلاله څخه دې

وَسُؤَالَهُ فِي هٰذَا الْمَوْقِفِ كَمَا أَتَمَّهَا لِسَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

درخواست وکړي چې زما مراد او سوال ای پوره کړه په دې موقف کې د مزدلفې لکه تا چې پوره کړي مراد د علیه الصلوٰة والسلام څخه یعنی په دې موقف کې. **پوه سه** چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم خدائ ته خواست وکې چې زما دامت څوک چې پر موقف د عرفات وتا ته خواستونه کوي هغه ټول ور پوره کړي که څه هم مظالم د بندګانو وي، خدائ جل جلاله د علیه الصلوٰة والسلام دا دعا ومنله مګر نه په حقوقو کې د بندګانو، نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم بیا دعا په موقف کې د مزدلفې بیا مکرر کړه، په ډیر عجز او انکسار سره، نو ارحم الراحمین وعده ورسره وکړه چې دا خواست دې هم قبول سو

ضمیمه

په صحیح حدیث کې راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام په عین حال کې د موقف وخندل چا پوښتنه څنده وکړه چې په دې موقف کې د ژړا سبب د خندا څه وو علیه الصلوٰة والسلام په جواب کې ورته وویل چې ما دغه خواست هم خدای پاک ومانه، ابلیس علیه اللعنة چې به شیله کې ناست وو پر سر یې خاوری باد کړې د ډیره غمه څخه ما پر هغه وخندل. **فائده** د حقوق العباد بخښه دا ډول کیږي چې په ورځ د آخرت به خدائ و مظلوم بنده ته د خپلې خوا عوض ورکوي او ظالم به په بخښي کما تقرر في موضعه. قــــال المصنفؒ

فَإِذَا أَسْفَرَ جِدًّا أَفَاضَ الْإِمَامُ وَالنَّاسُ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ

نو بیا چې سبه رڼا سي چې تخمینًا د دوو رکعتو لمانځه تر لمر ختو پوری پاته وي کذا في المحیط

نورا کېښته دی مې امام او خلګ د محسـه نر، اختو دلر، قـــال المصنف

فَيَأْتِيَ إِلَىٰ مِنىً وَيَنْزِلُ بِهَا ثُمَّ يَأْتِي جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ

نو دی ولاړ سی مِنیٰ ته او هلته دی ورته واوړي، وروسته دی ورسی حاجی هغه ځلی ته چې جمرة

فَيَرْمِيهَا مِنَ الْوَادِي فَيَرْمِيهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ مِثْلَ

العقبه یه بولي چې د مکی شریفی دخوا اول ځلی دی، او د منیٰ دخوا اخیر ځلی دئ، نو هغه دی وولی ڈشیلی

دخوا څخه یعنی د کښتی خوا څخه او ودی ولی په اوو ډبرو یه مثل د

حَصَى الْخَزَفِ ډبرو د خزف، **پوهـ سـه** چې خزف ویشتل دی دخرما د مندکی

او یا د کشنی ډبری په مابین کی د دوو د تسبیح دګوتو چې پر یوه به کښیږدی پر مابین دګوتی او په

هغه بله ګوته یه وَلی، او بعض طالبان چې دخزف ترجمه کشنیا نو نه دخرما په مندکه کوی هغه

دروغ دی، مقصود د مصنف دادی چې په عتیه ډبره دی نه ولی چې داخلاف السنت دی

فـائِـدَه: دغه کیفیت دویشتلو چې ډیرو کتابو د فقه شریفی بیان کړی دی چې ډبره دی

پر وسط د سبابی کښیږدی او ابته ګوته دی ولي، پر هغه کیفیت ویشتل په اوسنی زمانه

کی حاجیان چې په لکودی امکان نه لری، ولی چې ډیر حاجیان وجمره ته یه رسیدګی نسی کیدلای،

نو اوس هر ډول ویشتل چې ممکن وه هغه ډول دی ولي،

فـائِـدَه: د شیلی دخوا ویشته زما پیاد دی چې حاجیان به لږوه نو په اندک

ازدحام سره په ځان ور رسولای سوا و ویشتل دشیلی دخوا کولای سوای، اوس چې حاجیا ن

په لکو سول تول د شیلی دخوا ولی یو د بل تر پښو لاندی به مری، لکه چې په تجربه په نژدی

کلوکی دغه رنګه مړګونه ثابت سوه، د سعودی د حکومت دحاجیانو دساتلو دپاره د مرګه څخه په

ژغورلو کی د جمراتو عاقلانه موافق الشریعة الغراء اقدام دی. **پـوهـ سـه:** چې په دین

نبوی کی حرج نسته حتیٰ چې، الضرورات تبیح المحظورات، دائر علی الالسنه دي،

هغه تدبیر دادئ چې حکومت د سعودی د درو څلو سرونه پوښلی دی، او بیا پر هر ځلی برابرد

لوړی خوا د ویشتلو د ځلی غار جوړ کړی ده چې د لاندی شیلی د خوا هم د ځلی ویشتل کیږی

او د لوړی د خوا هم، نو په دی ډول د حاجیانو ازدحام او یو د بل تر پښو لاندی کیدل خصوصًا

ښځی او بوډا ګان کسان، نو اوس چې څوک قوی وی هغه یه د لاندی د خوا ولی او ښځی او

ضعیفان او بوډا ګان یه د لوړی خوا ولي، او سعودی داسی کړی دی چې لکه لاندی چې یو آخور

مانند ځای دی، او په مابین کی ځلی ولاړی دي، دغه رنګه لوړ یه هم آخور غوندی شی جوړ کړی

دی او په هغه کی ځلی را استلی دی، نو لکه کښته حاجیان چې هغه ځلی په ډبرو ولی، لوړ

حاجیان هم هغه ځلی ولي"

فـائِـدَه: بعض سخت دریزه ملایان وائی چې د لوړی ویشتل د ځلو نه دی روا. ولی چې

آنحضرت صلی الله علیه وسلم د شیلی دخوا څخه جمرات ویشتلی دی، او بل دا چې د فقهی شریفی په

کتابو کی وائي چې جمرة العقبه دی د غره د خوا څخه ولي. نو د روایش وائی چې دا دواړی خبری صحیح دی

لکن چې د مرګ خطر نه وی لکه د علیه الصلوٰة والسلام په زمانه کی چې حاجیان ښځی محدود کسان وه او

یا د قدیم فقهاؤ په زمانو کی چې ازدحام به ښځی کم وو بلکه د رویش په اولو کلو کی دحج چې امکانات

د ویشتلو پر طریقه مسنونه باندی ممکن وه لکن اوس امکانات بدل سوه او حاجیان په لکهو

سوه او خطر د مرګ او تر پښو لاندی کیده په تجربه ثابته سوه نو اوس که د غه رنګه د لوړی خوا څوک

روانه بولي ګویا هغه سړي د حاجیانو ژوند دښمن دی، که دی وو وائي چې بوډا امکان دی بیا ځوانان

په رنګه کی خپل وکیلان وګرځوي او دا غه رنګه ښځینه حاجیان دی هم په رنګه کی د جمارو وکیلان وټاکی

جَـوَابُ: د فتهی شریفی په کتابو کی وائي چې څوک چې په ولاړی لونځ کولای سی هغه

ته نو کیل د رمی د پاره نه دی روا،

دانـصـاف خـبـره: اصل رمی خو واجب دی او کیفیات یه یا سنت یا مستحب دی نو دا

سنت یا مستحب که د مرګ د بیری په سبب پاته سی، ان شاء الله، حرج به نه وي: وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ

إِلَى التَّهْلُكَةِ، کـرهـمـه: او بله خبره داده چې حکومت د سعودی پر خپل سر دا کار نه دی کړی بلکه

د جیدو علماوو څخه د مذاهبو مختلفه وو به فتویٰ حاصله کړی وي،

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهِ وَلِكَاتِبِهِ وَلِجَمِيعِ الْمُؤْمِنِينَ اٰمِين يَا رَبَّ الْعٰلَمِين،

وَيَسْتَحِبُّ اَخْذُ الْجِمَارِ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ اَوْمِنَ الطَّرِيْقِ وَيُكْرَهُ

اومستحب دہ اخستل د ډبرو د مزدلفی څخه او یا د لاری څخه ترمنی پوری، اومکروہ دہ د هغه ډبرو

مِنَ الَّذِیْ عِنْدَ الْجَمْرَةِ

اخستل چی د ځلی سره وی پرتی، ولی چې حجر رائی وائی چی په حدیث کی راغلی دی چی ډبری د هغه حاجی چی حج یَ قبول سوی وی هغه ډبری ورځ کیږی، نو دا یا ته ډبری د هغه حاجی چې حج یَ نه وی قبول سوی۔ قـــال المُصنفؒ:

وَيُكْرَهُ الرَّمْىُ مِنْ اَعْلَى الْعَقَبَةِ لِاِيْذَائِهِ النَّاسَ

اومکروہ دی ویشتل د جمرة العقبہ د لوړی خوا څخه یعنی د غره د خوا څخه ولی چې هغو ویشتلو کی د خلگو ازار رائحی یعنی هغه ډبری چی د ه لوړی خوا ویشتل کیږی دلاندی دخوا ویشتونکو پر سر و سرو منبلی **پوه سه** چی لبعضی ملایان چی په دغه عبارت د فقهی دکتا بو استدلال کاوہ چی د سعودی دلوړی دخوا ځایو څخه ویشتل مکروہ دی باطل سو، ولی چی مصنفؒ د دی کراهت دلیل ازار ښکاره کړی دی... ښکاره بالہ او شک نشته چی د سعودی جوړ کړو په لوړو خوا وو کی هیڅ چا ته ازار نسته ولی چی د لوړی دخوا ویشتلی ډبری پرکښتو حاجیانو هیڅ نه مُنبلی کما یدل علیه التجربة۔ قال

وَيَلْتَقِطُهَا الْتِقَاطًا وَلَا يَكْسِرُ حَجَرًا اِجْمَارًا وَيَغْسِلُهَا لِيَتَيَقَّنَ

او ټولوی دی ډبری د ویشتو یَ ټولیدو سره او نه دی ماتوی ډبرہ۔ یعنی لویه ډبرہ د کشتنی ډبری د پاره

طَهَارَتَهَا فَاِنَّهَا يُقَامُ بِهَا الْقُرْبَةُ وَلَوْ رَمٰى بِنَجَسَةٍ

او دغه ټولی کړی ډبری دی بیری مینځی تا چی یقینی سی پاکوالی د هغو چې دغو ډبرو د ثواب کار کیږی چی

اَجْزَاءُ وَكُرِهَ

د ځلو ویشتل دی او کی بالفرض په مرداره ډبره ویشتل وکړہ کفایت خو کوی لکن دا کار مکروہ دیٔ۔

وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ مَعَ اَوَّلِ حَصَاةٍ يَرْمِيْهَا وَكَيْفِيَّةُ الرَّمْيِ

او پریږدی دی تلبیہ سره د اول ډبری د جمرة العقبہ د ویشتلو یعنی بیا تر آخر پوری د حج تلبیہ نشته، البته که د رو ترجیح عمره کوله نو په عمره کی بیا تلبیہ نشته۔ او کیفیت

اَنْ يَّاْخُذَ الْحَصٰى بِطَرَفِ اِبْهَامِهٖ وَسَبَّابَتِهٖ فِى الْاَصَحِّ

درمی دا دی چی ډبرہ دی په سر د بټی گوتی دی وسبابہ گوتی په سر ونسی او وروی دی غورځوی، په اصح کی د روایت، ولی دا سی ویشتل اسانہ دی او سپکاوی د شیطان ډیر په کښی دی. درولش

لِاَنَّهٗ

وائی چی پر دغه اصح روایت باندی ویشتل د خلو په نننی زمانه کی معمول دی، وجه د آسانی یہ تجربہ دہ، او وجه د رسوایانت د شیطان یہ دادہ چی گویا حاجی په زبان حال شیطان ته وائی چی ته دومره شئ نه ئی چی زه دی په موټه کی نیولی ډبره وولم، او یا دی کښیږدی ډبره پر شاد بټی گوتی او کومک دی وغواړی په ویشتو کی د سبابی گوتی څخه، درولش وائی چی دا قسم ویشتل نسبت واولته گران دی **پوه سه**: چی مقابل دا صح هغه کیفیت دی چی دوراندی درویش بیان کړی فتذکر

قَالَ وَالْمَسْنُوْنُ الرَّمْىُ بِالْيَدِ الْيُمْنٰى وَيَكُوْنُ بَيْنَ الرَّامِيْ

او سنت دی ویشتل په راسته لاس یعنی که عذر نه وو، او وی به په مابین کی د ځای د ویشتونکی او د

وَمَوْضِعِ السُّقُوْطِ خَمْسَةُ اَذْرُعٍ

لویدو د ډبری کم از کم پنځه گزه یعنی منتل د ډبری پر ځلی لازم نه دی بلکه په مذکوره فاصله سره هم رمی روا دی، او لبعض فقهاءؒ وائی که ډبرہ تر رامی و ځلی ته نژدی ولویده کافی دہ، او که تر ځلی و رامی ته نژدی ولویدل کافی نه دہ، واللہ اعلم بالصواب۔ قـــال المصنفؒ

وَلَوْ وَقَعَتْ عَلٰى رَجُلٍ اَوْ مَحْمَلٍ وَثَبَتَ اَعَادَهَا وَاِنْ

او که چیری ولویدل ډبره د رمی د رامی پر سینه او یا پر ځین د اوښ او هلته تکیه سو نو هغی پر ځای دی

سَقَطَتْ عَلٰى سَنَنِهَا ذٰلِكَ اَجْزَئَهٗ وَكَبَّرَ بِكُلِّ حَصَاةٍ

بلہ ډبرہ وروغوبخوی، اوکہ ډیئبی یا څینہ څخرومُبتل او روانہ سول کافی دہ اوتکبیر دی وائی دهری ډبری سرہ» قــــــال المصنفـ:

ثُمَّ يَذْبَحُ الْمُفْرِدُ بِالْحَجِّ إِنْ أَحَبَّهُ

بیا دی یو حیوان ذبح کړی هغه حاجی چی یواځې په حج احرام تړلی وی کی خوښه وي، **پوه سه**: چی دغه ذبح پر متمتع او قارن لازم او واجبه دہ، او د مفرد دا دہ په خوښه سره اړولری» قــــــال المصنفـ:

ثُمَّ يَحْلِقُ أَوْ يُقَصِّرُ وَالْحَلْقُ أَفْضَلُ وَيَكْفِي فِيهِ رُبُعُ الرَّأْسِ

او وروسته تر ذبح دی سر وخرئي او یادی ویښتان د سر لنډ کړی او خرئیل ئی افضل کار دی، لموافقة فعلہ صلی اللہ علیہ وسلم او بل دا چی علیه الصلوٰة والسلام دری واره دعا د مغفرت و محلقینو ته کړیده او څلوړم وار ئې ومقصرینو ته او په خرئیلو کی څلورمه د سر کافی دہ **مسئله** کہ حاجی اقرع وو یعنی پر سر ئې ویښتان نه وو نو صرف دی چاړه پر سر راتیره کی صرف د چړی تیرول دده د پاره حلق دی «هـ، در» قــــــال المُصنفـ:

وَالتَّقْصِيرُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ رُؤُسِ شَعْرِهِ مِقْدَارَ الْأَنْمُلَةِ

او د تقصیر کیفیت دا دی چی د سر د ټولو ویښتانو څخه دی په مقدار د یوه بند د ګوتی پری کړی

وَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ ثُمَّ يَأْتِي مَكَّةَ

او وحاجی ته وروسته تر حلق یا قصر هر شی روا سو یعنی ګنډلی جامی خوشبوئی لګول سر پټول مګر ښځی یعنی

مِنْ يَوْمِهِ ذَالِكَ أَوْ مِنَ الْغَدِ أَوْ بَعْدَهُ

جماع د ماینی سره نه دی ورته روا او بیادی و لاړسی مکی مکرمی ته په دغه ورځ چی د اختر ورځ ده او یادی صبا ولاړسی او یـــــا وروستـه تر صبا»

فَيَطُوفُ بِهَا طَوَافَ الزِّيَارَةِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ وَحَلَّتْ لَهُ النِّسَاءُ

او طواف دی وکړی پر مکه شریفه چی طواف د زیارة یه بولي او شوطه او دا طواف فرض دی، او او س روا سوی ورته ښځی یعنی کی ماینه ور سره وطی یه روا دی، **مسئله**: کہ حاجی تر عرفات د تللو د مخه طواف قدوم کړی وو، او په کښی ئی وو نه ئی بنوږولی وی چی رمل یه بولې وبیا سعی په مابین د صفا او مروه هم کړی وه، نو په طواف د زیارة کی رمل دی نه کوی. او نه دې سعی د صفا او مروه کوی او کی د مخه طواف قدوم نه وو کړی، نو په طواف د زیارت کی دی هم رمل په دریو اولو شوطو کی وکړی او هم وروسته تر طواف دی سعی د صفا و مروه وکړی، قال

وَأَفْضَلُ هٰذِهِ الْأَيَّامِ أَوَّلُهَا وَإِنْ أَخَّرَهُ عَنْهَا لَزِمَهُ شَاةٌ

او نه د دغو دریو ورځو د طواف زیارت د پاره اوله ورځ دہ، او کی تر دریو سره وو

لِتَاخِيرِ الْوَاجِبِ

وځنډاوه نو پښه پر لازمه سوه ولی چی ده وځنداوه واجب یعنی فرض چی طواف د زیارت وو تر خپل وخت» قــــــال المُصنفـ:

ثُمَّ يَأْتِي مِنًى فَيُقِيمُ بِهَا فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْيَوْمِ الثَّانِي

او بیا له طواف زیارت دی بیرته منیٰ ته ولاړسی او په منیٰ کی دی اوسی بیا چی زوال وکړی لمر د دوهم

مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ رَمَى الْجِمَارَ الثَّلَاثَ يَبْدَءُ بِالْجَمْرَةِ الَّتِي

ورځی دا ایام النحر نو دی وولی دری ځلی او ابتداء دی د هغه ځلی څخه کوی چی مسجد خیف ته ورنژدی

تَلِي مَسْجِدَ الْخَيْفِ فَيَرْمِيهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ مَاشِيًا يُكَبِّرُ

دی یعنی د منیٰ د خوا اول ځلی نو دی وولی په دوو ډبرو پیاده او تکبیر دی وائی د هری ډبری سره

بِكُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَقِفُ عِنْدَهَا دَاعِيًا بِمَا أَحَبَّ حَامِدًا

اوبیا دی ودریږی په نزد دد عن جمري اودعا کوونکی دی وی په هغه دعا سره چی دده خوښه وی اوحمد ویونکی به وی

لِلّٰهِ تَعَالٰی وَمُصَلِّیًا عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

دخدای جل جلاله اودرود ویونکی به وی پرآنحضرت صلی الله علیه وسلم یعنی حمد اودرود دی ؤمخه

وَیَرْفَعُ یَدَیْهِ فِی الدُّعَاءِ وَیَسْتَغْفِرُوْا لِوَالِدَیْهِ وَاِخْوَانِهِ الْمُؤْمِنِیْنَ

تر دعا وواتی کما هو الادب فی الدعاء، اود واړه لاسونه دی پورته ونسی په دعا کی کما هو المستحب فی الادعیة، او طلب د بخښنی دی وکړی د مور او پلار د پاره او د مسلمانانو وروڼو د پاره. قَالَ الْمُصَنِّفُ

ثُمَّ یَرْمِی الثَّانِیَةَ الَّتِیْ تَلِیْهَا مِثْلَ ذٰلِكَ وَیَقِفُ عِنْدَهَا دَاعِیًا

اوبیا دی وولی دوهم ځلی چی اول ته څرمه دی په مثل داول ځلی او د هغه ځلی تر څنګ دی هم ودریږی دعا کوونکی یعنی په مثل داول په تمام مومنانو وی کی، **تنبیه**: دی دوو ځلوته دی حاجی نژدی نه دریږی، ولی چی ازدحام د خلکو ډیر دی د دی دعا وغیره فرصت نه بی پید اکولای بلکه کافی مسافت لری دی ورته ودریږی، تاچی تول مذکوره شیان پوره کړی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

ثُمَّ یَرْمِیْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ رَاکِبًا وَلَا یَقِفُ عِنْدَهَا

اوبیا دی وولی جمرة العقبه په حال کی د سپرتیا او هلته دی نه دریږی. **فائده** په اوس وخت کی رکوب د دابی هیڅ نه دی میسر نو دا امر مستحب نن صبا پاته دی. قَالَ

فَاِذَا کَانَ الْیَوْمُ الثَّالِثُ مِنْ اَیَّامِ النَّحْرِ رَمَی الْجِمَارَ الثَّلَاثَ

او بیا چی دریمه ورځ شوه د ایام النحر بیا دی دری سره ځلی وولی پسله زواله په هغه دول چی دوهمه

بَعْدَ الزَّوَالِ کَذٰلِكَ

ورځ یه ویشتلی وه مثلاً بمثل

کتبه احقر فضل الحق حقانی

وَاِذَا اَرَادَ اَنْ یَتَعَجَّلَ نَفَرَ اِلٰی مَکَّةَ قَبْلَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ

او که د سږی تلوار وو نو دی اوزی مکی ته د مخه تر لویدو د لمر او که چیری تر غروب د لمر په منی

وَاِنْ اَقَامَ اِلَی الْغُرُوْبِ کُرِهَ وَلَیْسَ عَلَیْهِ شَیْءٌ

کی او بیا ورو سته ووتی مکروه دی مګر هیڅ شی پر ده نشته. **پوهه سه**: چی په وتو کی د منی څخه صرف دا کافی ده چی تر لمرلویدو د مخه د منی د حدودو څخه ځان وباسی که څه هم مکی ته نه وی رسیدلی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِنْ طَلَعَ الْفَجْرُ وَهُوَ بِمِنٰی فِی الرَّابِعِ لَزِمَهُ الرَّمْیُ وَجَازَ

او که سپیدی راچاودی او دی په منی کی وو، نو پر ده لازمی سوی رمی د جمارو د څلرمی ورځی، او روا دی

قَبْلَ الزَّوَالِ وَالْاَفْضَلُ بَعْدَهُ وَکُرِهَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

د دغی ورځی رمی د مخه تر زوال او افضله دا ده چی وروسته تر زوال دی په دغه ورځ وولی، او مکروه دی ویشتل د دغی ورځی د مخه تر راختو د لمر، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَکُلُّ رَمْیٍ بَعْدَهُ رَمْیٌ تَرْمِیْهِ مَاشِیًا لِتَدْعُوَ بَعْدَهُ وَاِلَّا

او هر رمی چی وروسته یه هم رمی وی لکه داول او د دوهم ځلی رمی وولی بی پیاده تاچی ته دعا وکړی

رَاکِبًا لِتَذْهَبَ عَقِبَهُ بِلَا دُعَاءٍ

وروسته ترهغه رمی، او که چیری وروسته رمی نه وی لکه رمی د جمرة العقبه سپور ئی وله تا چی ته ولاړسې وروسته تر دی بیله دعاء، **پوهه سه** چی دا سپور او پیاده ویشتل صرف بیان د افضلیت دی، ورنه اصل مقصود خو رمی دی نو څرنګه چی ولی هغه سی روا دی، بجره

فائده: په تاریخ کی دامام ابویوسف رحمه الله راغلی دی چی غروخت چی دی ناجوړی وو ابن الجراح چی ستر عالم دمنا سکو دحج وو وائی چی پوښتنی دده لوی پیشوا او ره علم اودی مبارك بیهوشه وو، نو چی په هوش کی راغلی ماتر لئ ووئیله: ما تقول! ته څه ووائی په رمی کی د جمارو چی حاجیان یه وُلی راکبًا ښه دی او که ماشیًا، ما ورته وویل ماشیًا دی وُلی، امام مذکور وو ئیل خطاوتلی، بیا ما ووئیله چی راکبًا دی وُلی امام مرحوم ووئیل خطا وتی، نو ما ورته وویل چی ته څروائی فقال کل رمی آه ابن الجراح وائی چی زه چی دامام مرحوم دکوره راووتمه د بنځو ژړا می ترغوږ سوه پوښتنه چی وکړه خلکو وویل چی امام ابویوسف رحمه الله وفات سو فرض الله تعالی عنه ورحمه ابن الجراح وائی چی ما تعجب وکړی وحرصه دده د امام پر تعلیم په مثل کی دده حالت یعنی د نزع کندن، درویش وائی چی داواقعه او امثال ددغی واقعی ټوله نتیجه دعشق او محبت د علم دین سره تعلمًا وتعلیمًا،

واقعه درویش وائی یوستر لیکوال او ادیب پوه ومات په پښتو ژبه یو اوږد خط لیکلی وو چی خلاصه یه داده چی په دی دیرو تصنیفا تو او حواشیو پر درسی کتابو څرنګه نه خواری کیږی او سر د دی دقرار معلوم چی ستا عمر ۸۵ کاله ته رسیدلی څرنګه دماغ نه ستړی کیږی، نو درویش وهغه وروړ ته جوابًا دایو څو بیته نوشته کړه او د خط جواب می ورکړی هغه بیتونه دادي،

دعشق مقام ډیر عالی ؛ وهر مطلب تر خولی په عشق رسیږی ؛

زما په زړه کی د ښووني عشق دی ؛ ځکه قلم می پر صفحو چلیږی ؛

زما ټول عمر په دی کار کی تیر سو ؛ یخ او ګرمی وما ته یو معلومیږی ؛

سره د درس او تدریس تصنیف ؛ برابر او همیشه کرم کیږی ؛

دا د خدای فضل او مهربانی ده وروره ؛ چی په دی کار کی می ملال پر زړه نه تیریږی ؛

خلک حیران دی ودی کار ته زما ؛ لکن قلم دی چی دعشق پر کاغذه چلیږی ؛

دنیا طلبو ته په غور ګوری ؛ چی په هیڅ ډول په دنیا فانی نه مړیږی ؛

دا دوی عشق کامیا بر کړی دی دوی ؛ چی په هیڅ ډول د طلب څخه نه تیریږی ؛

دمنهومان لا یشبعان حدیث ؛ همیشه ستاسی ترغوږ و تیریږی ؛

عُبَید الله لکه پتنګ همیشه ؛ ددی ښوونی پر ډیوه کرځیږی ؛

داجمله معترضه وه اوس په شرحه دکتاب بیرته شروع کوم ان شاء الله تعالی، قال المصنف

وَكُرِهَ الْمَبِيتُ بِغَيْرِ مِنًى لَيَالِي الرَّمْيِ ثُمَّ إِذَا رَحَلَ إِلَى

او مکروه دی شپه تیرول بیله منی په شپو کی د رمی د ځلو، او بیا چی حاجی د منی څخه کوچ کوی و مکی ته

مَكَّةَ نَزَلَ بِالْمُحَصَّبِ سَاعَةً ثُمَّ يَدْخُلُ مَكَّةَ

نو یو ګړی دی تم سی په محصب کی، پوره د محصب د نزول تفصیلی بیان د مخه تیر سو، او بیا دی داخل سی مکی ته او طواف دی

وَيَطُوفُ بِالْبَيْتِ سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ بِلَا رَمَلٍ وَسَعْيٍ إِنْ قَدَّمَهُمَا

وکړی پر بیت شریف باندی اوه شوطه، بیله اوږ و ښورولو او بیله سعی د صفا او مروه کی د مخه په طواف قدوم کی رمل او سعی یه کړی وه، قال المصنف

وَهٰذَا طَوَافُ الْوَدَاعِ وَيُسَمّٰى أَيْضًا طَوَافُ الصَّدْرِ وَ

او دا طواف وداع بولی یعنی طواف د رخصت د مکی مکرمی څخه او دغه رنګه یه نوم طواف صدر دی

هٰذَا وَاجِبٌ إِلَّا عَلٰى أَهْلِ مَكَّةَ وَمَنْ أَقَامَ بِهَا

د صدر معنا رجوع ده مکی څخه و خپل وطن ته، او بعض جاهلان امیان وغیره وائی چی صدر ځیګر ته وائی یعنی ځګر دی و مکی مکرمی ته کی پرښادخندی غلطه خبره ده، په بحر رائق کی وائی چی د صدر معنا رجوع ده او دا طواف واجب دی مګر نه پر اهل مکه، ولی دوی خود مکی مکرمی څخه رخصت نه اخلی، او پر هغه چا هم واجب نه دی چی په سله حج په مکه کی اوسیږی که څه هم اصلاً آفاقی وی،،

وَيُصَلِّي بَعْدَهُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَأْتِي زَمْزَمَ فَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا

او پسله طواف دی دوه رکعت نفل وکړی یعنی په هرځای کی چی کوی لوبیادی ورسی و زمزم ته

وَيَسْتَخْرِجُ الْمَاءَ مِنْهَا بِنَفْسِهِ إِنْ قَدَرَ وَيَسْتَقْبِلُ

اوراودی کاږی د زمزم د څا څخه اوبه په خپله کی قدرت در لودی، درویش وائی چی اوس قدرت

الْبَيْتَ وَيَتَضَلَّعُ مِنْهُ وَيَتَنَفَّسُ فِيهِ مِرَارًا وَيَرْفَعُ بَصَرَهُ

په دی زمانه کی استه ولی چی د زمزم څا حکومت بند کړی دی او به په مشین خندی راکاږی، او مخامخ قبلی ته دی ودریږی او ګمان دی وریښه د زمزم په

كُلَّ مَرَّةٍ يَنْظُرُ الْبَيْتَ وَيَصُبُّ عَلَى جَسَدِهِ إِنْ تَيَسَّرَ وَإِلَّا

اوبو اوبه کړی او څو واره دی په وخت کی د څښلو ساه وکاږی او هره پلا چی اوبه په وڅښلی سترګی دی پورته کړی او بیت الله شریف ته

يَمْسَحُ بِهِ وَجْهَهُ وَرَأْسَهُ وَيَنْوِي بِشُرْبِهِ مَا شَاءَ

او اوبه دی توی کړی پر خپل بدن که چیری ورته اسانه وه او که چیری د بدن ټوله پریوله ورته ګران وه نو دی مخ په پری منځی او سر دی هم په پری منځی اذیت دی کوی حاجی په څښلو کی د اوبو د زمزم هغه شی د ده خوښه وی مثلاً صحت وعافیت او توفیق د خیر د کارو او نجات د بدو کارو او نور او نور، درویش وائی چی داچی حاجی به ومکی شریفی ته ګوری دا نظر هم نه سی کیدای ولی چی د داخل د احاطه د ده د زمزم څخه بیت الله شریف نه معلومیږی

وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا إِذَا شَرِبَ يَقُوْلُ

او وو عبد الله بن عباس چی ولی څښلی اوبه د زمزم داسی به ئی ویله یا الله زه د تا څخه

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَشِفَاءً لِكُلِّ دَاءٍ

سوال کوم یعنی په برکت د اوبو د زمزم د ګټور او فائده مند علم او د فراخ رزق او شفا د هر مرض

وَقَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ

او علیه الصلوة والسلام ویلی دی چی اوبه د زمزم د هغه شی د پاره دی یعنی کافی دی چی د هغه شی په نیت څښلی وی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُسْتَحَبُّ بَعْدَ شُرْبِهِ أَنْ يَأْتِيَ بَابَ الْكَعْبَةِ وَيُقَبِّلَ الْعَتَبَةَ

او مستحب ده چی وروسته د زمزم د اوبو د څښلو څخه دی ورسی دروازی ته د کعبی مبارکی او ښکل کړی چوب

ثُمَّ يَأْتِي الْمُلْتَزَمَ وَهُوَ مَا بَيْنَ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ وَالْبَابِ

د هغی د مچ کړی، او بیا دی ورسی ملتزم شریف ته چی هغه په مابین کی د حجر اسود او د دروازی

فَيَضَعُ صَدْرَهُ وَوَجْهَهُ عَلَيْهِ وَيَتَشَبَّثُ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ

د دیوال نوم، نو دی ټینګ او مخ پر هغه دیواله کښیږدی او لاسونه دی ټینګ کړی په پردو پوری د

سَاعَةً يَتَضَرَّعُ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى بِالدُّعَاءِ بِمَا أَحَبَّ مِنْ

هغی او عجز دی وکړی و خدای ته په دعاء کی په هغه کارکی چی د ده خوښه وی د شیا نو د دنیا او اخرت

أُمُوْرِ الدَّارَيْنِ **تنبیه**: درویش وائی چی دا ټوله کارونه چی مستحب دی هغه دی چی په دغو کارو کی وبل چا ته ازار ونه رسوی او پری وهل او ده کی نه وی، او زما ګمان دی چی دغه ټوله کارونه به په وخت کی د ازدحام او ږش د ده حاجیانو بیله ازاره د بل اسان نه وی، البته که یو حاجی بیخی په اخر د حاجیانو کی مکی مکرمی ته راووزی امکان لری چی دغه مذکوره کارونه دی بی ازاره د چا وکړای سی،

حاصل: داچی هر کاره مذکوره کارو څخه چی بیله ازاره د چا ممکن وی هغه دی وکړی او په هر کار کی چی ازار د نورو خلګو وی هغه دی پریږدی، ولی چی ازار چا ته رسول حرام دی نو مستحب

کار مستحب د پاره باید د حرام کار مرتکب نه شی، قال المصنف رحمه الله

وَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا بَيْتُكَ الَّذِيْ جَعَلْتَهٗ مُبَارَكًا وَّهُدًى

او په دعا کی دی دا ووائی یا الله جل جلاله په تحقیق سره دا ستا بیته ده هغه بیته ده چی تا مبارکه

لِلْعٰلَمِيْنَ اَللّٰهُمَّ كَمَا هَدَيْتَنِيْ لَهٗ فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ وَلَا تَجْعَلْهُ

گرځولی ده او هدایت دی گرځولی ده د عالمیانو د پاره یا الله په تحقیق لکه تا چی ماته هدایت وکړی

هٰذَا اٰخِرَ الْعَهْدِ مِنْ بَيْتِكَ وَارْزُقْنِي الْعَوْدَ اِلَيْهِ حَتّٰى

د دی بیتی ستا د رتلو نو زما طرف نه قبول کړی یعنی تول مراسم د حج او دعا گانی، او مه گرځوی ای خدایه

تَرْضٰى عَنِّيْ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

دا وار زما اخیری وخت د ملاقات ستا د بیتی سره بلکه زما نصیب کی بیا راتگ و دی بیت الله ته حتی چی ته په ما راضی کیږی د ما طرف، برحمتك یا ارحم الرحمین

وَالْمُلْتَزَمُ مِنَ الْاَمَاكِنِ الَّتِيْ يُسْتَجَابُ فِيْهِ الدُّعَاءُ بِمَكَّةَ الْمُشَرَّفَةِ

او ملتزم د هغو ځایو طرف دی چی په کښی قبلیږی دعا په مکه شریفه کی، او هغه ځایونه د قبلیدو

وَهِيَ خَمْسَةَ عَشَرَ مَوْضِعًا نَقَلَهَا الْكَمَالُ بْنُ الْهُمَامِ عَنِ

د دعاء ۱۵ ځایه لس دی لکه چی نقل کړی کمال بن همام رح د رسالی ځخه د حسن بصری په دی قول سره

الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ بِقَوْلِهٖ فِي الطَّوَافِ وَعِنْدَ الْمُلْتَزَمِ

د طواف کولو په وخت کی او د وهم د ملتزم شریف سره چی د هغه تفصیل د دعای او کیفیت ئی مخته تیر سو۔

وَتَحْتَ الْمِيْزَابِ وَفِي الْبَيْتِ وَعِنْدَ زَمْزَمَ وَخَلْفَ الْمَقَامِ

او لاندی تر ناوی د رحمت چی په حطیم شریف کی راایله ده، او د ننه خونه کی د کعبی شریفی، او په نزد د زمزم چی بیان ئی مخته تیر سو، او په شا کی د مقام ابراهیم علیه السلام، قال المصنف

وَعَلَى الصَّفَا وَعَلَى الْمَرْوَةِ وَفِي السَّعْيِ وَفِيْ عَرَفَاتٍ

او پر صفا او مروه باندی چی تفصیل ئی مخته تیر سو، او په سعی کی د صفا او مروه چی بیان ئی تیر سو و پاندی، او په عرفات کی چی تفصیل ئی تیر سو

وَفِيْ مِنًى وَعِنْدَ الْجَمَرَاتِ

او په منیٰ کی چی بیان ئی تیر سو، او په نیزد د ویشتلو ځایو، چونکه پوره ویشتل ځلور ځلو ورځی وو، نو ځکه مصنف علامه د ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵ پر لیکلی ده، انتهی باقی در سید کی قول لابن الهمام رح

وَالْجَمَرَاتُ تُرْمٰى فِيْ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ يَوْمُ النَّحْرِ وَثَلَاثَةٌ بَعْدَهٗ كَمَا تَقَدَّمَ

او ځلی ویشتل کیږی په ځلورو ورځو کی د اختر په ورځ او دری نور ورځی لکه څرنگه چی

وَذَكَرْنَا اسْتِجَابَتَهٗ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ الْمُكَرَّمِ

موږ ذکر کړه، چی دعا په وخت کی د اول رؤیة د بیت الله شریفی هم قبلیږی، او بیان په هم موږ د مخته تیر کړی، د عطاءؒ ځخه روایت دی چی علیه الصلوٰة والسلام په وخت کی د رؤیت د بیت الله شریفی دا سی دعا کوله: اَعُوْذُ بِرَبِّ الْبَيْتِ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَمِنْ ضِيْقِ الصَّدْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، او لاسونه به ئی هم د واړه پورته کړی وی، او د مهمو دعاوو ځخه ده په هر ځای کی ده اجابت د دخول د جنت بلاحسابه، فتح، رد، قال المصنف:

وَيُسْتَحَبُّ دُخُوْلُ الْبَيْتِ الشَّرِيْفِ الْمُبَارَكِ اِنْ لَّمْ يُؤْذِ اَحَدًا

او مستحب دی د خول و بیت الله شریفی ته یعنی د ننه خونی ته د کعبی مبارک په شرط د دی چی هیڅ ازار

پہ کنبی نہ وی، دروليش وَالیٔ چی پہ خوانی کلوکی چی يوه ورځ به دکعبی شریفی دروازه خلاصه شوه په ارام ډیر کوشش سره داخله ممکنه وه، اوهرچه نن ضبادی که دروازه هم خلاصه کړی بیله خوزیزی داخله امکان نه لري، قـــــال المـصنفؒ:

وَيَنبَغِي اَنْ يَقْصُدَ مُصَلَّى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قِبَلَ

اوبائی چی سړی دی تیـله دخوله دبیت الله قصد وکړی وهغه ځای ته چی علیه الصلوٰة والسلام پر

وَجْهِهِ وَقَدْ جَعَلَ الْبَابَ قِبَلَ ظَهْرِهِ حَتّٰى يَكُوْنَ

هغه ځای لمونځ کړی دی. اودغه دلمانځه ځای د علیه الصلوٰة والسلام وطرف ته دمخ دداخل دی چی

بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِدَارِ الَّذِيْ قِبَلَ وَجْهِهٖ قُرْبُ ثَلٰثَةِ

دی وګرځوی دروازه دکعبی وطرفته دشا څخه حتی چی دسړی په مابین کی او دهغه دیواله څخه په مابین

اَذْرُعٍ يُصَلِّيْ

کی قریب درې ۳ ګزه پاته شی نوهلته دی نفل وکړی،

فَاِذَا صَلّٰى اِلَى الْجِدَارِ يَضَعُ خَدَّهٗ عَلَيْهِ وَيَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهٗ

نوچی لمونځ ئی وهغه (دیوال) ته وکی بیادی پرهغه دیواله خپل بارخو کښیږدی او طلب دی د بخښنی دې دخدائ څخه وکړی اوو خدای حمد دی ووائي، ولی چی دایولوی نعمت دی دده په عمرکی خدای جل شانهٗ ودهٔ ته په نصیب کړ، قـــال المُصنفؒ:

ثُمَّ يَاْتِى الْاَرْكَانَ فَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ وَيُسَبِّحُ وَيُكَبِّرُ وَيَسْاَلُ

اوبیادی ورسی ونوروديوالوته دکعبی شریفی، نوحمد دخدای جل جلاله دی ووائی اوکلمه طیبه دی ووائی اوتکبیردی ووائی اوسوال دی وکړ.

اللّٰهُ مَاشَاءَ وَيَلْزِمُ الْاَدَبَ مَا اسْتَطَاعَ بِظَاهِرِهٖ وَبَاطِنِهٖ

دخدای څخه دهغه څه چی ده خوښه وی، او ټينګ دی ساتی ادب دخدای دسیتی په ظاهر سره خپل اوپه باطن سره چی خشوع اوخضوع وربته وائی، قـــــال المُصنفؒ:

وَلَيْسَتِ الْبَلَاطَةُ الْخُضْرَاءُ الَّتِيْ بَيْنَ الْعَمُوْدَيْنِ مِنْ مُّصَلّٰى

او نه ده هغه ښوبیه ډبره چی په رنګ شنه ده، اوپه مابین کی ددوو ستنو ده دلمانځه ځای دعلیه

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الصلوٰة والسلام یعنی نه ده بعض کسان چی ګمان کوی

وَمَا تَقُوْلُهُ الْعَامَّةُ مِنْ اَنَّ الْعُرْوَةَ الْوُثْقٰى هُوَ مَوْضِعٌ عَالٍ

اوهغه چی وائی عوام خلګ چی عروة الوثقیٰ چی په قرآن کریم کی په هم ذکر نا علی دی هغه ده هغه لوړ

فِيْ جِدَارِ الْكَعْبَةِ بِدْعَةٌ بَاطِلَةٌ لَا اَصْلَ لَهَا

ځای نوم دی چی په دیواله کی دکعبی شریفی موجود دی یعنی په شکل دیوی الفی، هغه بدعت باطلة دی اوهیڅ اصل هم نه لری

يُوْ سَه

چی مراد د بدعت څخه بدعت دعقیدی دی یعنی دغه عقیده دشریعت څخه خارجه ده،

وَالْمِسْمَارُ الَّذِيْ فِيْ وَسْطِ الْبَيْتِ يُسَمُّوْنَهُ الْعَامَّةُ

اوهغه میخ چی په مابین کی دخولي دکعبی شریفی دی، اوعوام الناس هغه ته ددنیا نوم وائی، اودوی

سُرَّةَ الدُّنْيَا يَكْشِفُ اَحَدُهُمْ عَوْرَتَهٗ وَسُرَّتَهٗ وَيَضَعُهَا

خپل عورت لڅ کی اونوهم لڅ کی اوپرهغه مسمار باندی ایږدی دا کار دهغه چا دی چی هیڅ عقل نه لری، فضل تردی چی دی دې علمولري لکه چی وئیلی دی کمالؒ یعنی ابن الهمامؒ صاحب فتح القدیر

عَلَيْهِ فِعْلُ مَنْ لَاعَقْلَ لَهُ فَضْلًا مِّنْ عِلْمٍ كَمَا قَالَهُ الْكَمَالُ

وَاِذَا اَرَادَ الْعَوْدَ اِلٰى اَهْلِهٖ يَنْبَغِىْ اَنْ يَّنْصَرِفَ بَعْدَ طَوَافِهٖ

او چې حاجي اراده وکړي د تللو خپل اهل ته یعنې وطن ته، نو بنا ئې یعنې مندوبه ده چې دی د بېرته پېله

لِلْوَدَاعِ وَهُوَ يَمْشِىْ اِلٰى وَرَائِهٖ وَوَجْهُهٗ اِلَى الْبَيْتِ

طواف د وداع په داسې حال کې د شا پر خوا بېځي او مخ به ئې وکعبه شریفې ته وي. ـــیـــا به

بَاكِيًا اَوْ مُتَبَاكِيًا مُتَحَسِّرًا عَلٰى فِرَاقِ الْبَيْتِ حَتّٰى يَخْرُجَ

واقعو ژړېږي او یا دې د ژړا کوونکي هیئت پرځان طاري کړي، او اظهار د غم دې کوي پر جلا والي د بيت الله

مِنَ الْمَسْجِدِ وَيَخْرُجُ مِنْ مَّكَّةَ مِنْ بَابِ بَنِىْ شَيْبَةَ

شریفې ترهغو چې د مسجد الحرام نه خروزي، او حاجي چې د مکې نه خروزي پر دروازه د بني شيبه دې وزي د ښکتې

مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلٰى غونډۍ د لارې. **پـوه سـه**: دروازه بني شيبه ومعلومه دروازه چې پر نوشته هم دی شرق طرفته د کعبې

پـوښـتـنـه: تاوېلندی وَوَئیل چې بعض جاهلان امیان آه نو د مصنف د دی متن سره

سا قول متناقض دی **جـواب**: هیڅ تناقض نشته چې د جاهلانو حکم کړی وی پر

هغو کسانو کړی وو چې والي د صدر معناګیر دی او ما وَئیلي وه په حواله د بحر، چې د صدر معنا

دلته رجوع ده. وَلیس. دا چې نه دی وَئیلي دا فعل چې مصنف دلته بیان کړی یعنې وَهُوَ يَمْشِىْ آه،

دا فعل د جاهلانو دی. وبينهما بون بعيد، البته ملایان د مکې مکرمې د دغسې فعل نه سخت بدوړي

او د حاجي شا په زړه کعبې ته ګرځوي کې قدرت وو **مسـئـله**) پوه سه. چې که دا حاجي د اخیال

وو چې زه به صبا وطن ته ځم، نو طواف الوداع دی په ترتیب مذکور وکړي. لکن کار به نه سو نو بیا

یعنې خوور ځي پاتـه سُو، نو دی به داسې نه کوي چې ما خود کعبې شریفې نه رخصت اخستی دی

باید زه نو لمونځونه په اطاق کې کوم، بلکه حرم شریف ته دی لمونځو ته ورځي هر وخت چې په بیا

خیال سو ځي نو به وطن ته ځم بیا دی بل طواف وداع په هغه طریقه چې بیان یه تیر سو وکړي نو

وَالْمَرْاَةُ فِىْ جَمِيْعِ اَفْعَالِ الْحَجِّ كَالرَّجُلِ غَيْرَ اَنْ لَّاتَكْشِفُ

او ښځه په ټولو افعالو کې د حج لکه نر داسې ده، بیله دې چې ښځه به سر نه لڅوي نکړي او دا پر مخ

رَأْسَهَا وَتَسْدِلُ عَلٰى وَجْهِهَا شَيْئًا تَحْتَهٗ عِيْدَانٌ كَالْقُبَّةِ

بو تېکر، او ځوړوي چې لاندی تر ټیکره یعنې پر تندی باندې د نرۍ لرګو پوښتي وي لکه قبه چې منع کړي

تَمْنَعُ مَسَّهٗ بِالْغِطَاءِ وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا بِالتَّلْبِيَةِ وَلَا تَرْمُلُ

هغه عیدان مسه کیده د دی مخ د غطا سره،

او نه دی پورته کوي آواز خپل په تلبیه ویلو کې بلکه صرف په ځان به ئې اوري، او اوږی به نه ښوروي

په طواف کې **فـائـده**: نو ښځې ته اضطباع هم نشته، ولې چې هغه د رمل دپاره غواړي

وَلَا تُهَرْوِلُ فِى السَّعْىِ بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ الْاَخْضَرَيْنِ بَلْ تَمْشِىْ

او ښځه نه ځغلي نه چې سعي کوي په مابین کې د دوو شنو میلانو لکه نر، بلکه ښځه به په ارام سره تګ

عَلٰى هَيْنَتِهَا فِىْ جَمِيْعِ السَّعْىِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

په ټولو سعیو کې د صفا او مروه **فـائـده**، د دی مسائلو سبب صرف د دې ستر دی، قـال

وَلَا تَحْلِقُ وَتُقَصِّرُ وَتَلْبَسُ الْمَخِيْطَ او ښځه چې د احرامه نه ځان خلاص کړي سر به نه خروي

بلکه قصر د وېښتا نو دی وکړي په قدر د یوه بند د ګوتې **فـائـده**: د ښځې سر خرېيل مثله

دی یعنې بدخوندي ده لکه نر چې ږیره وخروي، او دا به زغ کړي حاجي اغوندی، او بحر

رانو کې وائي چې موزې هم په پښو کولای سي او دستکلي هم په لاس کولای سي، قَالَ المصنفُ

وَلَا تُزَاحِمُ الرِّجَالَ فِي اِسْتِلَامِ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ او ښځې به په مسحه کولو

کې دحجراسود د نروسره ازدحام نه کوي **فَائِدَه**: ښځه بې میړه یا بې محرمه حج نسي کولای و نرو ئ کولای سي. لکن چونکه دا مسئله په حج پوري تخصیص نه لري بلکه ښځه هیڅ سفربې له محرمه نسي کولای، نوځکه مصنفؒ ذکرنه کړه، او ښځې څخه طواف صدر په سبب د حیض ساقط دی قاله الزیلعی شارح الکنز، قَالَ المصنفُ:

هَذَا تَمَامُ حَجِّ الْمُفْرِدِ وَهُوَ دُوْنَ التَّمَتُّعِ فِي الْفَضْلِ وَ

دا وو پوره بیان دحج مفرد، او حج افراد کم دی تر تمتع په ثواب کې او قران افضل تر تمتع

اَلْقِرَانُ اَفْضَلُ مِنَ التَّمَتُّعِ دی، پوه سه: چې دا زمونږ مذهب دی او امام شافعیؒ حج افراد افضل بولي، او امام مالکؒ تمتع افضل بولي والدلائل في الکتب المبسوطة من الشروح والفتاوی.

فَصْلٌ اَلْقِرَانُ اَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ اِحْرَامِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ

دا فصل دی دقران دا دی چې حاجي جمع وکړي په مابین کې د احرام دحج او د

فَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ بَعْدَ صَلٰوةِ رَكْعَتَيِ الْاِحْرَامِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ

عمرې نو داسي دې ووائي ای الله زه اراده لرم دعمرې او حج پسله دوه رکعته لمانځه د احرام نو ته

اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ وَالْحَجَّ فَيَسِّرْهُمَا لِيْ وَتَقَبَّلْهُمَا مِنِّيْ ثُمَّ يُلَبِّيْ

دواړه راته آسانه کې او ته ئې راڅخه قبول کړې بیا دې تلبیه ووائي **فَائِدَه**: په خوله ویل مستحب دي ورنه صرف نیت قلبي هم کافي دی **فَائِدَه**: په عنوان کې دفصل به حج دمخه کړي په سبب دافضلیت او په نیت کې ئې عمره دمخه کړه ولي! فقهاءُ وائي چې په نیت کې دي عمره دمخه کوي تاچې ترتیب ذکري د ترتیب عملي سره برابر سي، او هغه خبره چې مولانا اعزازعليؒ د بحر څخه نقل کړي ده چې واو دپاره د ترتیب دی آه » هغه د نورو کتابو څخه د اصول الفقه مخالفه ده، او دغه رنګه د دې ایت څخه هم مخالفه ده، فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُؤُسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ « کما لایخفی » هو کې داسي ویلی وای چې ترتیب ذکري ګاهي پر ترتیب عملي دلالت کوي کما في قوله تعالیٰ: اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ» الایة: نو صحیح به وای «

فَائِدَه مذکوره صورت ته قران حقیقي وائي او قران حکمي دا دی چې د میقات څخه اول دعمرې نیت وکړي او مخه تر دې چې دعمرې څلور شوطه طواف کوي نیت دحج هم پسې وکړي او بیا دې دعمرې شوطونه او نور کارونه پسې پوره کړي، او یا د میقات څخه دحج احرام وتړي او مخه تر څلور شوطه ده طواف دحج دعمرې نیت وکړي لکن بحر وائي چې په صورت ثاني کې ګناه ګار دی، **فَائِدَه**: دمصنفؒ دعنوان الفصل عبارت دواړو ته شامل دی یعني قوله ان یجمع آه » ولې چې مطلق جمع عامه ده که حقیقي وي او که حکمي وي، که څه هم د نیت

عبارت به یواځې د قرآن حقیقي د پاره دي. قَالَ المُصنّفُ

فَاِذَا دَخَلَ مَكَّةَ بَدَءَ بِطَوَافِ الْعُمْرَةِ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ

پس چې داخل شي د مکې ښار ته او حرم شریف ته نو شروع دې وکړي په طواف د عمرې او وه واره

يَرْمُلُ فِي الثَّلٰثَةِ الْاُوَلِ فَقَطْ ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ

چې اوږې دې ښوروي په اولو درې شوطو کې فقط او بیا تر طواف وروسته دې دوه رکعته واجب د طواف لمونځ وکړي. قَالَ المُصنّفُ:

ثُمَّ يَخْرُجُ اِلَى الصَّفَا وَيَقُوْمُ عَلَيْهِ دَاعِيًا مُكَبِّرًا مُهَلِّلًا

او بیا تر طواف وروسته دې ووزي و صفا ته او هلته دې ودریږي تکبیر وېونکی کلمه طیبه وېونکی او

مُلَبِّيًا مُصَلِّيًا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَهْبِطُ نَحْوَ

درود وېونکی پر نبي علیه الصلوٰة والسلام باندې، او بیا دې د صفا څخه کښته شي د مروه خواته

الْمَرْوَةِ وَيَسْعٰى بَيْنَ الْمِيْلَيْنِ فَيُتِمُّ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ وَهٰذِهٖ

او په مابین کې د میلین دې چابک تېر شي، او پوره دې کړي په دغه ډول اووه شوطه او دا هم افعال

اَفْعَالُ الْعُمْرَةِ وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ

د عمرې وه. او عمره په ګرده عمر کې یو وار سنت ده او بعض امامان یې واجب بولي، **پوهه سه**، چې وروسته تر پوره کولو د افعالو دې ځان د احرامه نه باسي ولې خودې قارن دی،

ثُمَّ يَطُوْفُ طَوَافَ الْقُدُوْمِ لِلْحَجِّ ثُمَّ يُتِمُّ اَفْعَالَ الْحَجِّ

او وروسته دې طواف قدوم وکړي د حج د پاره، او بیا دې پسې پوره کې افعال د حج لکه چې

كَمَا تَقَدَّمَ فَاِذَا رَمٰى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ وَجَبَ

د مخه تېر شوه نو هر کله چې ئې ووېشتې جمرة العقبه په ورځ د اختر، نو واجب شوه پر ده باندې

عَلَيْهِ ذَبْحُ شَاةٍ اَوْسُبُعُ بَدَنَةٍ

ذبح د پسه او یا اوومه حصه د شراکت د اوښ **پوهه سه**

چې بدنه که څه هم په عرف عام کې اوښ یا اوښې ته وائي لکن دلته مراد معنا ئې لغوي ده یعني لوی حیوان نو غوا او غوایه ته هم شامل شوه، قَالَ المُصنّفُ:

فَاِذَا لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ قَبْلَ مَجِيْئِ يَوْمِ النَّحْرِ مِنْ

او که ئې پیدا نه کړه پسه وغیره یعني قدرت یې نه وو پر ذبح د شاة وغیره د مالي سببه، نو دې درې ورځې

اَشْهُرِ الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الْحَجِّ وَلَوْ بِمَكَّةَ

روژې ونیسي د مخه تر راتګ د لوی اختر د ورځې، ولې د اختر په ورځ روژه مکروه ده، او دا

بَعْدَ مُضِيِّ اَيَّامِ التَّشْرِيْقِ وَلَوْ فَرَّقَهَا جَازَ

درې ورځې به د اختر د میاشتو څخه د حج وي

او اووه ورځې دې روژه ونسي بعد الفراغ د حج د افعالو څخه که څه هم په مکه کې نسي یعني کې په وطن کې نسي هم روا دي، لکن پسله دې چې ورځې د تشریق تېرې شي ولې چې په هغوی کې هم روژه نیول مکروه ده، او که متفرق ونسي هم روا دي، قَالَ المُصنّفُ:

تعلیم الاسلام پښتو

فضائل اعمال پښتو

د حضرت مولانا محمد زکریا

فَصْلٌ اَلتَّمَتُّعُ هُوَاَنْ يُّحْرِمَ بِالْعُمْرَةِ فَقَطْ مِنَ الْمِيْقَاتِ

دا فصل دی دتمتع، تمتع دا دی چې سړی احرام وتړی په عمره سره یواځې د میقات ځنه **پوهه سه**: چې په قید د میقات یې مکی والا وایستله. ولې چې هغوته نه قران روا دی اونه تمتع اوهغه سړی نه دی خارج چې دکوره ځنې ترمیقات وړاندی احرام وتړي هغه روا ده، قـــــال المصنف:

فَيَقُوْلُ بَعْدَ صَلٰوةِ رَكْعَتَى الْإِحْرَامِ اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اُرِيْدُ

نو بیا دی ووائی پسله د دعا کولو ځنې د دوه رکعتو د احرام، یا الله زما اراده ده دعمری نو ته ئې راته

الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِىْ وَتَقَبَّلْهَا مِنِّىْ ثُمَّ يُلَبِّىْ حَتّٰى يَدْخُلَ

اسانه کړی او ته ئې را ځنې قبوله کړي. او بیا دی تلبیه ووائې. نو چې داخل سي و مکی شریفې

مَكَّةَ فَيَطُوْفُ لَهَا وَيَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ بِاَوَّلِ طَوَافِهٖ وَ

ته نو دی طواف وکړي دپاره دعمري او پرې دی بندی تلبیه په اول طواف سره او رمل دی وکړي

يَرْمُلُ فِيْهِ ثُمَّ يُصَلِّىْ رَكْعَتَىِ الطَّوَافِ ثُمَّ يَسْعٰى بَيْنَ

په طواف کی یعنی په دریو اولو شوطو کی، او بیا دی لمونځ وکړي دوه رکعته د طواف، او بیا دی

الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ بَعْدَ الْوُقُوْفِ عَلَى الصَّفَا كَمَا تَقَدَّمَ سَبْعَةَ اَشْوَاطٍ

سعی وکړي په مابین کی د صفا او مروه پسله دی دریدو ځنې پر صفا باندی لکه د مخه چې تیره سوه اووه شوطه دی پوره کړي،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين

ثُمَّ يَحْلِقُ رَأْسَهٗ اَوْيُقَصِّرُ اِذَا لَمْ يَسُقِ الْهَدْىَ

او سر دی وخروی او یا دی قصر وکړی کی هدیه د مکی نه وو ورسره یعنی یا اوبن یا غوئې یا پسه دی قید فائده داده چې که چیرې هدیه ورسره وی هغه نه حلق او قصر نه دی رواحتی کی سرو خرایه دم پر لازم دی ولې چې هدیه مانع د تحلل ده شرعًا. **مسئله** پر متمتع خواه مخواه لازمه نه ده چې ځان به د احرام باسی په حلق یا قصر سره بلکه دی اختیار لری که حلق وغیره کوی او که دی پر احرام باندی دوام کوی تر احرامه د حج، عجز ودر، قـــــال المصنف:

وَحَلَّ لَهٗ كُلُّ شَىْءٍ مِّنَ الْجِمَاعِ وَغَيْرِهٖ وَيَسْتَمِرُّ حَلَالًا اِنْ

او حلال سول وده ته هر شی چې په احرام کی ځندی منعه وو که جماع دمایني سره کوی او نور لکه گنډلی جامی اغوستل یا خوشبوئی لگول او نور ورته کارونه.

لَمْ يَسُقِ الْهَدْىَ لَا يَتَحَلَّلُ مِنْ عُمْرَتِهٖ

پوهه سه: چې په دوران کی د حلال والی د عمری ځنې طوافونه دی ډیر کوی، ولې چې طواف تر نفلی لمانځه افضل دی افاقی سړی لره کما مر، او نوری نفلی عمری دی کوی خصوصًا عمره د جعرانه ځنې چې هغه آنحضرت صلی الله علیه وسلم کړیده، او د تنعیمه ځنې چې د وسه یه پوره وی هغوئي عمری دی کوی، او هغه ملا چې په تنعیم کی ناست دی او خلکو ته وائې چې دا ډېرې عمری کول بدعت دی دلیل دا وائی چې علیه الصلوٰة والسلام د حج په وخت کی یوه عمره کړیده، نو دی ملا ته چې منع کونکی دی د معروف فی الشرع ځنې چې عمره ده تاسی دا ورته وواياست چې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خو پسله هجرته ځنې صرف یو حج کړی دی او د قبل الهجرت د حجو رک یې نه دئ معلوم، نو اهل مکه والمدینه ولی په لس گونی حجونه کوی باید هغه بدعت وي،

فائده: دهر عمل اصل چې په شرع شریف کی ثابته وی هغه نه بدعت ویل گمراهی ده، مثلًا تسبیح متعارف الیوم خو آنحضرت صلی الله علیه وسلم لیدلی هم نه دی لکن چونکه اصل لري نو بدعت نه دی او که بدعت وي نو د سعودی حکومت ولی دا اسباب د بدعت یعنی تسبیح په

خپل وطن کی بیع وشراء ته پریښي دی، قــــال المصنفؒ:

فَاِذَا جَآءَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ اَحْرَمَ بِالْحَجِّ مِنَ الْحَرَمِ وَ

نو چې داتم ورځ راسی نودی متمتع احرام دحج وتړی دحرم شریف ځخه او د منیٰ پرخوا دی روان سی کما

يَخْرُجُ اِلَى مِنًى فَاِذَا رَمٰى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ لَزِمَهُ

تفصیله پس چې ووله جمره عقبه په ورځ دلوی اختر کی نو پرده واجب سو په ذبح کول او یا

ذَبْحُ شَاةٍ اَوْسُبُعُ بُدْنَةٍ فَاِنْ لَّمْ يَجِدْ صَامَ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ

وومه حصه داوښ یا د غوائي، او کی طاقت نه در لودی نودی دری ورځی روژی ونیسی مخه تر

قَبْلَ مَجِيْئِ يَوْمِ النَّحْرِ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعَ كَالْقَارِنِ

راتلو دورځی داختر او اوه ورځی چې د حج ځخه رجوع کوی لکه د قارن چې حکم یې عنقریب تیر سو

فَاِنْ لَّمْ يَصُمِ الثَّلَاثَةَ حَتّٰى جَاءَ يَوْمُ النَّحْرِ تَعَيَّنَ عَلَيْهِ

او که دغه دری روژی نه وی نیولي حتیٰ چې ده اختر ورځ پر راغله نو بیا متعین سو پرده باندی

ذَبْحُ شَاةٍ وَلَا يُجْزِئُهُ صَوْمٌ وَّلَا صَدَقَةٌ

ذبح د شاة یعنې په ده دی خراجی کوی او کافی نه ګڼل ده ته روژی که هر څو ونیسی او همدا رنګه بله صدقه او خیرات"

خوشخبری

ډیر ژر به ان شاء الله تعالیٰ د تجوید ټول متعلقه کتابونه په ډیر ښه انداز کی ستاسو تر لاسو پوري سره ورسیږی" ادارهٔ

فَصْلٌ اَلْعُمْرَةُ سُنَّةٌ فِىْ جَمِيْعِ السَّنَةِ

دا فصل دی د عمری، عمره سنت ده او وخت یې په ټوله کال کی دی،

مَسْـئَلَه: چې یوه عمره سړی وکړی یوائې هر وخت چې وی سنت یې پرځای سو مګر عمره په روژه کی تر ټولو افضل ده، لکن د قران عمره په ځای کی د سُنت نه دریږی کذا قال شامی فی رد المحتار، قــــال المصنفؒ:

وَتُكْرَهُ يَوْمَ عَرَفَةَ وَيَوْمَ النَّحْرِ وَاَيَّامَ التَّشْرِيْقِ

او مکروه ده د عمری احرام تړل په ورځ د عرفات او په ورځ د اختر او په ورځو کی د تشریق چې دری دي، حتیٰ کی په مذکوره ورځو کی احرام د عمری وتاړه دم پر لازم دی کی خدای بریه بریږ دی

فــائــده: کی احرام د عمری تر دغو ورځو مخکی تړلی وو مګر اداء دا فعال یې په دغو ورځو کی وکړه بیا هیڅ کراهت نسته او نه دم پر لازم دی، قــــال المصنفؒ

وَكَيْفِيَّتُهَا اَنْ يُّحْرِمَ لَهَا مِنْ مَّكَّةَ مِنَ الْحِلِّ بِخِلَافِ اِحْرَامِهِ

الکیفیت د عمری یعنی مکی والو له دا دی چې احرام دی د حدود ځخه د مکی وتړی لکن د امین

لِلْحَجِّ فَاِنَّهُ مِنَ الْحَرَمِ وَاَمَّا الْاٰفَاقِيُّ الَّذِىْ

حل ځخه بخلاف د هغه چې حاجی متمتع وی احرام د حج دیا روتړی ولی هغه به د حرم شریف ځخه

لَمْ يَدْخُلْ مَكَّةَ فَيُحْرِمُ اِذَا قَصَدَهَا مِنَ الْمِيْقَاتِ

تړی کما مر، او هر څوک چې اطرافی سړی دی چې هنوز مکی ته وی داخل سوی نودی احرام تړی د عمری د باره کی قصد د دخول د مکی وو د میقات ځخه، حاصل د کلام دا دی که د سړي دخول د مکی مکرمی قصدو وی په وخت د رسیدو د میقات ته، نو پر هغه سړي واجبه ده چې احرام د عمری به د میقات

تخه لازم نه دی، حتی که دغه سړی ترخپل کار د دخول مکی قصد وکړی دخول د مکی وده ته بیله احرام روادی، عن در، قـــــال المصنف:

ثُمَّ يَطُوْفُ وَيَسْعٰى لَهَا ثُمَّ يَحْلِقُ وَقَدْ حَلَّ مِنْهَا كَمَا بَيَّنَّا

او بیا دی طواف او سعی وکړی د پاره د عمری او بیا دی سر وخرئ او په تحقیق دی خلاص سو د عمری تخه لکه چې مونږ په دغه بیان کړی وو په حمد د خدای جل جلاله

بِحَمْدِ اللهِ

یعنی په توفیق د خدای جل جلاله، قـــــال المصنف

تَنْبِيْهٌ وَاَفْضَلُ الْاَيَّامِ يَوْمُ عَرَفَةَ إِذَا وَافَقَ يَوْمَ

آګاهی: وافضل د ورځو د عرفات ورځ ده چې برابره سی د جمعی دورځی سره او دغه حج افضل

الْجُمُعَةِ وَهُوَ اَفْضَلُ مِنْ سَبْعَةٍ مِنْ حَجَّةٍ فِىْ غَيْرِ جُمُعَةٍ

دی تر او یا حجو چې د عرفات ورځ یې په غیر کی د جمعی وی، د دی خبری روایت کړی دی مصنف د

رَوَاهُ صَاحِبُ مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ بِقَوْلِهٖ

معراج الدرایه په دی قول سره خپل دا قول د مصنف د معراج الدرایه دی

وَقَدْ صَحَّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ اَفْضَلُ

چې په تحقیق صحیح ثبوت ته رسیدلی دی دا خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم تخه چې ده مبارک ویلی چې

الْاَيَّامِ يَوْمُ عَرَفَةَ إِذَا وَافَقَ جُمُعَةً وَهُوَ اَفْضَلُ مِنْ

بهترینه د ورځو د عرفات ورځ ده، چې برابره سی د جمعی د ورځی سره او دغه حج افضل دی تر او یا حجه

سَبْعِيْنَ حَجَّةً ذَكَرَهٗ فِىْ تَجْرِيْدِ الصِّحَاحِ بِعَلَامَةِ الْمُوَطَّا

دا حدیث ذکر کړی دی صاحب تجرید الصحاح چې د حدیثو کتاب دی چې د مصنف په دا خیال دی چې په دی

وَكَذَا قَالَهُ الزَّيْلَعِيُّ شَارِحُ الْكَنْزِ

کتاب کی خالص صحاح حدیث ذکر سوی دی، او صاحب تجرید ودی حدیث ته علامه د موطا یعنی د امام مالک ورکړی ده، او همدا رنګه خبره زیلعی چې شارح د کنز دی کړیده،

تحقیق: دا حدیث چې مصنف ذکر کړی، مناوی د بعض حفاظو تخه نقل کړی دی چې دا حدیث باطل دی اصل نه لری، هو! امام غزالی په احیاء العلوم کی ذکر کړی، د خبره چې بعض سلف وائی چې برابره سی ورځ د عرفات د ورځی سره د جمعی بخښنه کیږی ټولو عرفات خلګو، او دا هغه شریفه ورځ ده په دنیا کی او د علیه الصلوٰة والسلام حجة الوداع هم په دغه ورځ کی وو، او علیه الصلوٰة والسلام په عرفات ولاړ وو چې دا ایت په نازل سو. اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ، الاية: نو اهل کتابو یعنی یهودیانو حضرت عمر ته وویل چې دا ایت زمونږ په کتاب کی نازل سوی وای مونږ به ئی ورځ د نزول اختر ګرځولی وای،

حضرت عمر وهغوته وویل چې زه شاهدی ورکوم په دی سره چې دا ایت په ورځ کی د دوو اخترو نازل سوی پر علیه الصلوٰة والسلام باندی چې هم ورځ د عرفات وه او هم ورځ د جمعی وه. او علیه الصلوٰة والسلام پر عرفات ولاړ وو، انتهی قول الغزالی فی الاحیاء، د رویش وائی چې په افضلیت د دغه ورځی هیڅ خوک دامت محمدی تخه مخالف نه دی، او په دی کی شک نسته چې ایت مذکور هم په دغه ورځ کی او په دغه وخت کی نازل سوی دی، لو محاوره ده عمر رضی الله تعالیٰ عنه او د یهودیانو هم روسته ده، لکن د حدیث فوق الذکر په صحت کی اختلاف دی عمیق هغه د حفاظو د حدیثو کار دی یعنی د دوی وکتابو ته دی رجوع وکړل سی، زه په دی باره کی ډیر عاجز یم، او خبره د اَللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ غوره کوم، او حافظ ابن حجر په شرح کی د بخاری د دی حدیث په باره کی وئی هو حدیث لا اعرفه» ولی راوی صحابی ئی نه دی ذکر سوی او نه ئی هغه خولک ذکر سوی دی چې دا حدیث ئی استولی وی» د رویش وائی چې مزید تحقیق د دی خبری په شرحه کی د بخاری د ابن حجر مطالعه کړه سی او شامی دی هم په غور سره مطالعه سی،

وَالْمُجَاوَرَةُ بِمَكَّةَ مَكْرُوهَةٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ

او اوسېدل په مکه مکرمه کی مکروه دی په نیز د امام اعظمؒ، ولې چې خوك هميشه توب نشی کولای

اللّٰهُ تَعَالٰى لِعَدَمِ الْقِيَامِ بِحُقُوْقِ الْبَيْتِ وَالْحَرَمِ

په حقوقو یعنی د آداب د بیت الله شریف او د حرم منیف، او نفی کړی دی کراهت د مجاورت مذکوره

وَنَفَى الْكَرَاهَةَ صَاحِبَاهُ رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى

دواما اعظمؒ دوو شاګردانو

یعنی امام ابو یوسفؒ او امام محمدؒ، او طحطاوی وائی چې د مجاورت د مدینی منوری هم دغه حکم دی آه، په احياء العلوم کی وائی چې په قول د امام اعظمؒ عمل کوی هغه علماء چې ډیر احتیاط کوی او د خدائ څخه ډیر بیریږی، تفصیل د دی مسئلی په رد محتار کی مطالعه کړه.

بَابُ الْجِنَايَاتِ

دا باب ثابت دی په بیان کی د جنایاتو، یعنی د حج او عمري او قران او تمتع په باره کی، درویش وائی چې زړه کړه د دی باب حاجی ته ډیره مهمه خبره ده، تا چې د فساده د حج یا دیوه د مبا د دوو د مود تاوان څخه خلاص سی چې بیان به ئې په دی باب کی راسی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَهِيَ عَلٰى قِسْمَيْنِ جِنَايَةٌ عَلَى الْاِحْرَامِ وَجِنَايَةٌ عَلَى الْحَرَمِ

یعنی مطلق جنایت یعنی تجاوز تر شرعی حد پر دوه قسمه دی یو جنایت پر احرام دی او بل جنایت پر حرم او

وَالثَّانِيَةُ لَا يَخْتَصُّ بِالْمُحْرِمِ وَجِنَايَةُ الْمُحْرِمِ عَلٰى اَقْسَامٍ

او دوهم قسم جنایت پر حرم تخصیص په محرم پوری نه لري بلکه حلال سړی ته هم نا روا دی او جنایت د محرم څو قسمه دی، یو قسم په دا دی چې دم واجبوی.

مِنْهَا مَا يُوْجِبُ دَمًا

یوه پسه چې دم چې مطلق ذکر سی مراد څخه دی یو دی، نو یوه پسه په ټولو ځایو کی مراد دی مګر نه په دوه ځایه کی، یو دا دی چې جماع وکړي د مابین سره پسله وقوف څخه د عرفات د مخه تر حلق ده سرا او دوهم دا دی چې طواف زيارت په جنابت سره وکړي او یا په حال د حیض او نفاس یې وکړي، ولې چې واجب په دی دوه ځایه کی اوښ دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمِنْهَا مَا يُوْجِبُ صَدَقَةً وَهِيَ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ وَمِنْهَا

او بعض په صدقه واجبوی چې هغه نیمه کاسه د غنمو او بعض یې کمه تر نصف صاع واجبوی، لکه

مَا يُوْجِبُ دُوْنَ ذٰلِكَ

لکه چې شپږه مړه کړي یا ملخ یا کیکه وامثالها، ولې دا صدقه د سړي په اختیار پوری اړه لري هر څه چې وکړ

نور الایضاح پښتو | مكتبة القراءة والتجويد كوئته بلوچستان | جلد دریم (۳)

قال امیر المؤمنین عمر بن الخطاب حین سُئل عن قتل المحرم الجراد، التمرة خیر من جراد،

وَمِنْهَا مَا يُوجِبُ الْقِيمَةَ وَهِيَ جَزَاءُ الصَّيْدِ وَيَتَعَدَّدُ

او بعض هغه دي چې قیمت دشي واجبوي چې هغه نو جزاء د ښکار ده، او جزاء د ښکار په تعدد د قاتلانو مجرمانو متعدده کرځي، مثلاً که دوه

الْجَزَاءُ بِتَعَدُّدِ الْقَاتِلِينَ الْمُجْرِمِينَ

کسه یو ښکار مړکړي پر هریوه مستقله جزاء ده، دوئ جزاوي په دې سته چې دوه قتله پیدا سوه، او که چیري دوه حلال کسان د حرم ښکار وکړي یوه جزاء ده ولي د هغو جزاء خو په بیحرمتي د حرم ده حرم خو یو دي. ط، در، بحر

فَالَّتِي يُوجِبُ دَمًا هِيَ مَا لَوْ طَيَّبَ مُحْرِمٌ بَالِغٌ عُضْوًا

نو هغه جنایت چې واجبوي دم یو مثل یه دا دي چې خوشبویه کړي محرم بالغ، په قید د بالغ کښي نابالغ خارج سو ولې چې پر هغه شی نشته، **پوښتنه**: چې خوشبوئي لګول عام مرده که په هیره سره وي او یا په حکم شرعي ناخبره وي او یا په زوره څوک په ولګوي، او عضو عام ده حتی خولی ته هم شامل ده، عن، بحر

اَوِ اخْتَضَبَ رَأْسَهُ بِحِنَّاءٍ

او یا سر رنګ کړي په نکریزو **پوښتنه** حناء خو طیب او خوشبوئي ده لقوله علیه الصلوٰة والسلام، الحناء طیب، نو پس لہ ذکر د طیب د حناء ذکرته څه ضرورت وو **جواب** د حناء په طیب والي کي په احادیثو کي اختلاف دي نو یه څکه حناء ذکر کړه **مسئله** که د حناء اوبه نرۍ وي خو په حناء سره یو دم لازمیږي او کې کلکی نکریزي پر سر واچولي چې سر یې په پټ کړي نو بیا دوه دمه لازمیږي یو د طیب لګولو د سببه وبل د سر د پټېدو له کبله لکن د تغطیة الرأس دم هلته لازمیږي چې شپا نه روز دا نکریزي د ده پر سر پرتي وي، او بل دا چې یا ټوله سر یې نیولی وي او یا ربع د سر او که زمانه تر شپانه کموه و یا نکریزي یې تر ربع د راس پر لږ ځای باندي ایښي وي، نو د وهم د م نشته" بحر [illegible] زیري په حناء سره نګول هم دا غه حکم دي، او په مبسوط چې دا سي عبارت

واقع دي، "راسه ولحیته بحناء" هغه واوپه معنا ده اودی **مسئله** کي د دواء وغیره د پاره ماسوا د حناء نخه لکه خطمي یا کندري پر سر په احرام کي وتړلي چې سر یې په پټ کړي بیا هم یو دم د تغطیة الرأس پر لازمیږي بالشرطین المذکورین کذا فی البحر وغیره، قال المصنف

اَوِ ادَّهَنَ بِزَيْتٍ وَنَحْوِهِ

او یا ځان غوړ کړي یعني یا سر یا مخ او یا بل ځای، په غوړو د زیتون د درختي که څه هم خوشبویه نه وي، او یا ځان غوړ کړي په مثل د روغن زیتون لکه غوړي د کنجتو یا غوړي د بادامو یا غوړي د کوفري وغیره الک، والضابط فیه، هر هغه غوړ او تیل چې په عادت کي سر یا مخ یا بل ځای خلګ په غوړ وي نو د هغو په غوړ ید وسره دم لازمیږي او که په عادت چا سر و مخ وغیره په هغو غوړ و نه غوړول لکه دواز ګو غوړي یا د لد غوړي نو په هغو که حاجي چاودي د پښو یا لاس و په غوړي کړي دم نه لازمیږي، **مسئله**: د دغو ټولو غوړو او تیلو په خوړلو کي دم نه لازمیږي، وهذا احاصل مافي البحر، قال المصنف

اَوْ لَبِسَ مَخِيطًا

یا وا غوندي رغ سوي یعني ګنډلي جامه هره جامه چې وي **فائده** مراد د لبس نخه لبس معتاد دي نو که حاجي پر توګ پراوږه واچوه یا قمیص په لنګ کړي یا یې صدري په غیر کي نیولي وه په دې شی نه لازمیږي، کذا في البحر، قال المصنف

اَوْ سَتَرَ رَأْسَهُ يَوْمًا كَامِلًا اَوْ حَلَقَ رُبُعَ رَأْسِهِ

او یا یې پټ کړي سر چې هر یو د م لبس مخیط او د ستر الرأس یوه کامله ورځ وي، او یا یې وخروي ربع سر یې څلورمه وي او که په موي پاک وي، حتی کي د ږیري و ښیتان پر نسي وکښه، حاصل دا دي چې مراد د حلق نخه لیري کول دي د وښتا نو د سر یا د ږیري وغیره په هر توګه چې وي، ولو که زیره په اول لګیت وسوځي، قال

اَوْ مَحْجَمَهُ اَوْ اَحَدَ اِبْطَيْهِ اَوْ عَانَتَهُ اَوْ رَقَبَتَهُ

او یا په ځای د وښیو کښلو وخرایه او یا یې بود تخرګو نخه (بغلو) وخرایه، او یا یې زیر ناف وخرایه او یا یې څټ وخرایه،

اَوْقَصَّ اَظْفَارَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ بِمَجْلِسٍ وَاحِدٍ اَوْ يَدًا اَوْ رِجْلًا

او یا یې پرې کړه نوکان د دواړو لاسو او د دواړو پښو په یوه مجلس کې، او یا د یوه لاس یا د یوې پښې نوکان ئې پرې کړه، نو په دغو صورتو کې یو دم پر لازم دی، او کې د یوه لاس نوکان په یوه مجلس کې پرې کړه او د بل لاس نوکان یې په بل مجلس کې پرې کړه دوه دمه پر لازمیږي، او کې د یوې پښې نوکان بیا په بل مجلس کې پرې کړه دریم دم پر لازمیږي او کې د بلې پښې نوکان هم په ورته ډول پرې کړه څلورم دم پر لازمیږي ولذا قید المنصف بمجلس واحدٍ، قــــــال المُصنف رح

اَوْتَرَكَ وَاجِبًا مِمَّا تَقَدَّمَ بَيَانُهُ وَفِي اَخْذِ شَارِبِهِ حُكُومَةٌ

او یا پریږدي یو واجب چې بیان یې د مخه تیر سو او په پریکولو کې د بریتو حکمه کیده د بزیري ،، د دي حکومت بیان دا دی چې سړی دی فکر وکړي چې دغه وهلي وینتان د بږیري د ربع څومره حصه جوړوي حتی که په دغه وینتا ن د بریتو په اندازه دا تمې حصې وه نو ربع الدم پر لازمیږي. قــــــال

وَالَّتِي تُوجِبُ الصَّدَقَةَ بِنِصْفِ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ قِيمَتُهُ

او هغه شیان چې صدقه واجبوی په نیمی کاسه د غنمو یا په قیمت د نیمی کاسي هغه دا دی ،، لکه چې حاجی

هِيَ مَا لَوْ طَيَّبَ اَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ اَوْلَبِسَ مُخِيطًا اَوْ غَطّٰى

خوشبویه کړي کم تر یوه اندامه، او یا ئې کړي جامه واغوندی، او یا سر پټ کړي کم تر یوې ورځې

رَأْسَهُ اَقَلَّ مِنْ يَوْمٍ اَوْحَلَقَ اَقَلَّ مِنْ رُبُعِ رَأْسِهِ اَوْ

او یا وخرئي کم تر څلورمې د سر او یا پرې کړي یو نوک، او د غه رنګه د هر نوک په پرې کولو کې نیمه کاسه

قَصَّ ظُفْرًا وَكَذَا لِكُلِّ ظُفْرٍ نِصْفُ صَاعٍ اِلَّا اَنْ يَّبْلُغَ الْمَجْمُوْعُ

د، مګر هغه وخت که مجموع او یا تولو پرې کړه نو ودم ته ورسیده،،

دَمًا فَيَنْقُصُ مَاشَاءَ مِنْهُ كَخَمْسَةٍ مُنْفَرِدَةٍ

نو بیا دی کم کړي ددمه څخه لکه چې یو سړی چې پرې کړي پنځه نوکان جلا جلا، **پوه سه**: چې پنځه نوکان چې سره متصل وي خو بیړه لازم وه کم او س چې ده پنځه نوکان متفرق پرې کړه په اندازه پنځو خوږو ورسیده، نو که دم ذبح کې خوښه کاردی، او که د نوکانو په حساب پنځه نیمی کاسی ورکوي چې تر دم کمیږی، هم دده خوښه ده، قــــــال المُصنف رح:

اَوْطَافَ لِلْقُدُومِ اَوْ لِلصَّدَرِ مُحْدِثًا وَتَجِبُ شَاةٌ لَوْ طَافَ جُنُبًا

او د غه رنګ صدقه د نصف صاع واجبه ده کی طواف وکړي د قدوم د پاره یا د صدر د پاره، په بې اودسیا او واجب دی شاة کی طواف په جنابت کی وکړي،، قال

اَوْتَرَكَ شَوْطًا مِنْ طَوَافِ الصَّدَرِ وَكَذَا لِكُلِّ شَوْطٍ مِنْ اَقَلِّهِ

او یا پریږدي یو شوط د طواف صدر یعني صدقه د نصف صاع پر لازمه ده او د غه رنګه نصف صاع پر لازمه ده هر شوط د پاره د اقل وارو څخه یعني چې دري دي، او کی اکثره پریښوله بیا دم پر لازم دی. قــــــال المُصنف رح:

اَوْحَصَاةٍ مِنْ اِحْدَى الْجِمَارِ وَكَذَا لِكُلِّ حَصَاةٍ مَالَمْ يَبْلُغْ رَمْيَ يَوْمٍ

او د غه رنګه صدقه پر لازمه ده کی پریښول ویشتل د یوې ډبری په یوه کې د جمارو، او د غه رنګه صدقه لازمه وه د هري ډبري د پاره تر هغو چې هغه متروکه ډبري وه رمی ته د یوې ورځي نه وي رسیدلې چې اوه دانی دی امام طحطاوی وائي که چیري ورمی ته د یوې ورځې ورسیدی یا اکثري حصی ته د یوې ورځې نو بیا ده شاة لازم دی، قــــــال المُصنف رح:

اِلَّا اَنْ تَبْلُغَ شَاةً فَيَنْقُصُ مَاشَاءَ

مګر هغه وخت که مجموع د هغې چې متفرق وي پر ده واجب صدقات وه قیمت د شاة ورسیدلی یعني که ذبح وکړي خوښه کاردی او صدقات په اندازه د هغو ورکړي چې تر شاة کمې وي هم کولای سي،

نودی کمولای سی دَقیمت تخنه دَشاة هَغه چی دده خوښه وي» قـــالَ المُصَنِّفُ

اَوْحَلَقَ رَأْسَ غَيْرِهٖ اَوْقَصَّ اَظْفَارَهٗ

اودغه رنګه صَدقه ستر چی محرم وخروی سردبل چا که هغه بَل محرم وی که حَلال، اویا محرم دبل چا نوکان ور پری کړي، **بوه سره** چی محرم کدبل محرم سر ورخروی چی د محرم حالق اومحلوق دافعال دحج په بیله طواف زیارت اورمی دجمراتِ ثلثه وو بتوله پوره وی یعنی جمره عقبه یه ویشتلی وي او پسه د تمتع یرذ بح کړی وی، اود دواړو وقت داحلال راورسیدلی وي، نونه پرحالِق اونه پرمحلوق شی سته، ط وائی که محرم دبل سرې عضوه ورخوشبویه کړي اویا یه گنډلی کالی پرواغوستی پردغه محرم هیڅ شی نسته په اجماع[مره]

قـــال المصنف: وَاِنْ تَطَيَّبَ اَوْلَبِسَ اَوْحَلَقَ بِعُذْرٍ تَخَيَّرَبَيْنَ الذَّبْحِ

اوکه چیری محرم خوشبوئی ولګول اویا یه کالی واغوستل اویا یه سروخرایه داټوله دعذر دسببه نودی

اَوِالتَّصَدُّقِ بِثَلَاثَةِ اَصُوعٍ عَلٰى سِتَّةِ مَسَاكِيْنَ اَوْ

مختاره دی که پسه ذبح کوی اوکه دری کاسی غنم وشپږ ومسکینانو ته ورکوی، اودری ورځی روژی نسی،

صِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ وَالَّتِىْ تُوْجِبُ اَقَلَّ مِنْ نِصْفِ

اوهغه شی چی واجبوی کم تر نیمی کاسی هغه لکه حاجی چی مړه

صَاعٍ فَهِىَ مَا لَوْقَتَلَ قَمْلَةً

کړی شپږه او یا مړکړی ملخ، دروئیش وائي چی، دغه رنګه دی حکم دِ کیکی اود میږی اومچِر اوغیره

فـــائده: دغه شیان په هره نوع کی کم تردی بالاوه بیا صدقه دنصف صاع پرلا زمه ده» قال

وَالَّتِىْ تُوْجِبُ الْقِيْمَةَ فَهِىَ مَا لَوْقَتَلَ صَيْدًا فَيُقَوِّمُهٗ عَدْلَانِ

اوهغه جنایات چی قیمت واجبوی لکه محرم چی ووژنی ښکاری شئی لکه کوتره، اوسَئی، دغره پسه وغیره،

فِىْ مَقْتَلِهٖ اَوْقَرِيْبٍ مِّنْهُ فَاِنْ بَلَغَتْ هَدْيًا فَلَهُ الْخِيَارُ

نوهغه ښکار ته به قیمت ایږدی دوه عادلان کسان په هغه ځای کی دقتل یعنی که هلته کلی اوخلک وه، اویا نژدی وه

اِنْ شَاءَ اِشْتَرَاهُ وَذَبَحَهٗ اَوِاشْتَرٰى طَعَامًا وَتَصَدَّقَ

هغه ځای ته دقتل که چیری هلته خلک وه، نوکی قیمت د هدیه اندازی ته رسیدی یعنی پسه په رانیول کیدی نوده لره اختیار دی کی خوښه سی پسه دی

بِهٖ لِكُلِّ فَقِيْرٍ نِصْفُ صَاعٍ اَوْصَامَ عَنْ طَعَامِ كُلِّ

په رانسی اوذبح دی کی اوپه مسکینانو دحرم دی وویشی یعنی ده ته یه خورک ناروادی، او یادی رانسی دقیمت په روپو غنم اوخیرات دی کړي

مِسْكِيْنٍ يَوْمًا وَلَوْفَضَلَ اَقَلَّ مِنْ نِصْفِ صَاعٍ تَصَدَّقَ

وهرفقیرته دی نیمه کاسه ورکوی اویادی روژی ونسی یعنی که غنم متفرق روژی نیسی، دطعام دهرمسکین چی نیمه کاسه وه په ځای کی یوه روژه اوکه زیات ووقیمت ترنیمه کاسه

بِهٖ اَوْصَامَ يَوْمًا

کم نودی هغه خیرات کړي اویادی کوزته روژه ونسي، قَالَ المُصَنِّفُ

وَتَجِبُ قِيْمَةُ مَا نَقَصَ وَبِنَتْفِ شَعْرِهِ الَّذِىْ لَايَطِيْرُ

اوواجب دی قیمت د نقصان، یعنی صیدیه ټپی کړي چی سره د هغه ټپه صید ځان ساتلی سوائی،

بِهٖ وَشَعْرِهٖ وَقَطْعِ عُضْوٍ لَايَمْنَعُهُ الْاِمْتِنَاعَ بِهٖ

نودا صید یو وارسالم قیمت کړی مثلاً قیمت یه دوی روپی وو، اویادی ټپی قیمت کړي مثلاً قیمت یه یوه روپی سوه، نومابین القیمتین چی یوه روپی واجبه ده، اودغه رنګه قیمت دنقصان دی ورکوی په کښلو یعنی شکولو دهغه بنرکو دمرغه چی په هغو بنرکو دپروازنه کاوه، لکه دنس بنرکی یادشا بنرکی، اودغه رنګه په کښلو دوینتا نودوسی مثلاً اویا په پری کولو د داسی اندام چی صیدبه

نه منع کاوه د ځان ساتنې څخه د ښکار، لکه مثلاً غوڅ یې وړ پرې کړي یا لګی، نو په د غو ټولو صورتو کې قیمت د نقصان پر محرم لازم دی، په هغه معنا چې تېره سوه، یعني یو وار دی سالم د د غو عیبو څخه چې د محرم د خوا ورسېدلي دي قیمت کړي، او بیا دی د دغو عیبو سره قیمت کړي، نو پر محرم باندې مابین القیمتین واجب دئ، قــــــال المُصنفؒ:

وَيَجِبُ الْقِيمَةُ بِقَطْعِ بَعْضِ قَوَائِمِهِ وَنَتْفِ رِيشِهِ

او واجب دی پوره قیمت د ښکار په پرې کولو سره د بعض پښو یعني لکه وُوسي د اسې ښکار رو، چې د پښو په ښغاسته يې د ښکار ي څخه ځان خلاصول او د غه رنګه پوره قیمت لازم دی په

وَكَسْرِ بَيْضِهِ کښلو سره د ټولو ښرکو د مرغه، **درویش وائي** یا په هغه ښرکې عندي وکا ښي چې مرغه پرواز په کوي، لکه د وزر ښرکې، او د غه رنګه پوره قیمت واجب دی په ماتولو سره د اګی د مرغه، قــــــال المُصنفؒ:

وَلَا يُجَاوِزُ عَنْ شَاةٍ بِقَتْلِ السَّبُعِ وَإِنْ صَالَ لَا شَيْءَ بِقَتْلِهِ

او نه تېرېږي تر یوه پسه یعنی کې څه هم قیمت یې تر یوه پسه بالا وي، په وژلو سره د درنده حیوان چې غوښه يې نه خوړل کېږي، لکه لیوه، پړانګ، فیل، سرکوزي، وغیره او که هغه درنده پر محرم حمله وکړه او ده مړ کی هیڅ شی نسته په قتل کې، قــــــال المُصنفؒ:

وَلَا يُجْزِئُ الصَّوْمُ بِقَتْلِ الْحَلَالِ صَيْدَ الْحَرَمِ

او کفایت نه کوي روژه په وژلو کې د حلال سړي صید د حرم بلکه حتماً به قیمت ورکوي بخلاف المحرم کما مرّ،

وَلَا يَقْطَعُ حَشِيشَ الْحَرَمِ وَشَجَرَةَ النَّابِتِ بِنَفْسِهِ

وَلَيْسَ مِمَّا يُنْبِتُهُ النَّاسُ بَلِ الْمُقِيمَةِ او نه کفایت کوي روژه په قطع کولو کې د وښو د حرم او په قطع کې د هغې درختې چې شنه سوي وي بخپله یعني چا نه وي شنه کړي، او نه وي د غه درخته د جنسه څخه د هغو درختو چې خلک

شنې کوي بلکه لازمیږي قیمت.

پوښتنه: چې درختې د حرم شریف څلور قسمه دي،

د حرم درختې پر څلور قسمه دي

د درختو قسمو د رختو په قطعه کولو او نفع په اخستلو کې هیڅ جزاء نسته او نه د هغه قطع جنایت دی

۱ هغه درخته ده چې خلک یې شنه کړي او دا درخته هم د جنسه څخه د هغو درختو وي چې خلک يې شنې کوي، لکه دانارو، انګورو، توت وغیرها،

۲ هغه درخته ده چې خلګو خوشنه کړې وي مګر دا درخته د جنسه د هغو درختو نه وي چې خلک يې شنې کوي لکه د غرو لعض درختې.

۳ هغه درخته ده چې شنه بخپله سي یعنی چا نه وي شنه کړې لکن د هغو درختو د جنسو څخه وي چې خلک یې شنې کوي لکه د غرو انځر یا د غرو انګور یا د غرو زیتون وغیره،،

۴ هغه قسم درخته ده چې په قطع کولو کې جزاء سته یعنی قیمت، هغه هغه درخته ده چې شنه سوي بخپله وي یعنی په قدرت توګه، او نه وي د جنسه څخه د هغو درختو چې خلک يې شنې کوي،،

فــائده: څلورم قسم درخته عامه ده که د سړي په مملوکه ځمکه کې شنه سوي وي، او یا په غرو او شاړو ځمکو کې شنه سوي وي: فقهاءؒ وائي چې که د سړي په ځمکه کې د کیکرو درخته بخپله شنه سوې وه، بل سړي قطع کړه پر قاطع باندې دوه قیمته لازم دي یو د جهته د شرع او بل به تاوان و مالک ته د ځمکې ورکوي،،

مسئله: چې قاطع تاوان و مالك ته هم ورکی مګر دی په هغه درخته سره یعنی په لرګی سره ئې نفع نه سي اخستلای مثلاً چې د خونې بناء پر وکړي، هذا حاصل ما في الكفاية شرح الهداية، قَالَ

وَحُرِّمَ رَعْيُ حَشِيشِ الْحَرَمِ وَقَطْعُهُ إِلَّا الْإِذْخِرَ

وَالْكَمَأَةَ او حرام دی پووول په لېښو یا په اوښانو د وښو د حرم او رېبل یې مګر سرکړي او پوڅکې چې د هغو قطعه روا ده کما جاء في الحديث النبوي، پوښتنه چې واښه هغو ښا تا تو ته نه وائي چې په قدرتي توګه

شنه سوی وی، نو که سړي ښځې له ځکه کی شپشی یا غوټل وغیره کړلی وه د هغو قطع روا ده کما مر فی الاخبار آنفا، قــــــال المصنفؒ:

فصلٌ وَلَا بَأْسَ بِقَتْلِ غُرَابٍ وَحِدَأَةٍ وَعَقْرَبٍ

او په وژلو د کارغه او د ګرګ او د لړم هیڅ کناه نشته یعنی شی نه لازمیږی یعنی نه په حرم کی او نه په احرام کی فتح القدیر، په وژلو

وَفَارَةٍ وَحَيَّةٍ وَكَلْبٍ عَقُورٍ وَبَعُوضٍ وَنَمْلٍ وَبَرْغُوثٍ

سره د کارګه او په وژلو سره د ټپوس او د لړم او د موږک او د مار او د خوږونکی سپی او د غوماشی او د میږی او د

وَقُرَادٍ وَسُلَحْفَاتٍ وَمَا لَيْسَ بِصَيْدٍ

کیکی او د منګور یا د سپی د مچ او د کشف چې په فارسی یه سنګ پشت بولی، او بعض اهل لغت یه ترجمه په بابنه کوی چې یو مرغه دی، او د غه رنګه شی نشته په وژلو کی د هغه شی چې د ښکار د قسمه نه وی لکه چغال، لیوه، وغیره، قــــــال المصنفؒ:

فصلٌ اَلْهَدْيُ اَدْنَاهُ شَاةٌ وَهُوَ مِنَ الْاِبِلِ وَالْبَقَرِ وَ

دا فصل دی په هدیو کی د مکی مکرمی، کمه درجه د هدیو پسه دی چې یو کال پر تیر سوی وی، او هدیه

اَلْغَنَمِ وَمَا جَازَ فِي الضَّحَايَا جَازَ فِي الْهَدَايَا

د اوښ په جنس سره روا ده بلکه دا یه اعلی قسم دی مګر چې پنځو کلو ته رسیدلی وی، او د غوایی په جنس کی هم کیدای سی دا به اوسط وی چې دوه کاله عمر یه پوره کړی وي، او د پسه په جنس کی هم کیدای سی چې دا یه ادنی هدیه ده، او هغه حیوان چې په اختریانو کی روا وی هغه حیوان په هدیو کی هم روا دی، یعنی په اعتبار د عمر او عیبونو د لوولو کما هو مذکور مفصلاً فی باب الاضحیۃ فی جمیع کتب الفقه، قــــــال المصنفؒ:

وَالشَّاةُ تَجُوزُ فِي كُلِّ شَيْئٍ اِلَّا فِي طَوَافِ الرُّكْنِ جُنُبًا

او پسه روا دی په هر هغه ځای کی چې په هغه کی د دم ذکر سوی دی مګر نه کفایت کوی چیری طواف رکن په جنابت سره وکړی او د غه رنګه حکم دی چې طواف رکن د حیض او نفاس په وخت کی وکړي، ولی سبب د تغلیظ د جنابت په د ۳ سره وو کی یودی، قــــــال المصنفؒ:

وَوَطْءُ بَعْدَ الْوُقُوفِ قَبْلَ الْحَلْقِ فَفِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بَدَنَةٌ

او بل وطی دی پر عرفات ولی که قبل الوقوف وطی وکړی حج یه فاسد سو قضا یه او پری لازم او د غه ی سره جزاء یه لیسی پوره وی، او پسه کافی دی په هر جنایت کی مګر نه چې طواف رکن یعنی طواف زیارت ئی په جنابت سره وکړی، او یا یه جماع وکړی پسله وقوف د عرفات لکن د مخه تر سر خریلو، ولی چې په دواړو کی پر حاجی اوښ لازم دی، ولی چې جنایت یه لوی دی نو جبیره یه هم باید لوی وي، قــــــال المصنفؒ:

وَخُصَّ هَدْيُ الْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ بِيَوْمِ النَّحْرِ فَقَط وَخُصَّ

او خاص کړه سوی ده هدیه د تمتع او قران په ورځ پوری د اختر فقط د تخصیص کی په زمانه پوری، او

ذَبْحُ كُلِّ هَدْيٍ بِالْحَرَمِ اِلَّا اَنْ يَكُوْنَ تَطَوُّعًا وَتَعَيَّبَ

خاص کړه سوی ده ذبح د هر هدیه په حرم پوری قال ط ولا یشترط منی آه، مګر هغه وخت که هدیه د تطوع وه او

فِي الطَّرِيْقِ فَيُنْحَرُ فِي مَحَلِّهِ وَلَا يَأْكُلُهُ غَنِيٌّ وَفَقِيْرٌ

پلار کی عیب جنه سو یعنی تر حرم نه وه رسیدلی، نو په هغه ځای کی د عیب دی ذبح کړی او خوړلی دی نه څښدی کوی غنی سړی، او فقیر د حرم او د غیر حرم سره برابر

اَلْحَرَمِ وَغَيْرِهِ سَوَاءٌ

دی په خوړلو د هغی هدیٔ، قال ط لکن فقیر الحرم افضل،

پوه سه

چې نوري هدایاوی تخصیص په مکان پوری نه لری، نو تطوع هدیه چې حرم

شنه سوي وي، نو که سړي پخپله محکه کې شپشتی یا غوټل وغیره کړلي وه د هغو قطع رواده کما مر في الایضاح آنفا. قـــال المصنفؒ:

فصلٌ وَلَابَأسَ بِقَتلِ غُرَابٍ وَحِدَائَةٍ، وَعَقرَبٍ،

چې ی نسته یعنې شی مه لازمیږي یعنې نه په حرم کې او نه په احرام کی فتح القدیر، په وژلو

وَفَارَةٍ، وَحَيَّةٍ، وَكَلبٍ عَقُورٍ وَبَعُوضٍ وَنَملٍ وَبَرغُوثٍ

سو د کارګه او په وژلو سره د تپوس او د لړم او د موږک، او د مار او د خوږ ونکي سپي او د غوماشې او د میږي او د

وَقُرَادٍ وَسُلَحفَاتٍ وَمَالَيسَ بِصَيدٍ

کیکی او د منګور یا د سپي د مچ او د کشف چې په فارسي په سنګ پشت بولي، او بعض اهل لغت یه ترجمه په بابنه کوي چې یو مرغه دی، او د غه رنګه شي نشته په وژلو کې د هغه شي چې د ښکار د قسمه نه وي لکه چغال، لیوه، وغیره. قـــال المصنفؒ،

فصلٌ اَلهَدیُ اَدنَاهُ شَاةٌ وَهُوَ مِنَ الاِبِلِ وَالبَقَرِ وَ

دا افضل دی په هدیو کې د مکې مکرمې، کمه درجه د هدیو پسه دی چې یو کال پرې تیر سوی وي، او هدیه

اَلغَنَمِ وَمَا جَازَ فِي الضَّحَایَا جَازَ فِي الهَدَایَا

د اوښ په جنس سره رواده بلکه دا په اعلی قسم دی مګر چې پنځو کلو ته رسیدلی وي، او د غواګې په جنس کې هم کیدای سي دا په اوسط وي چې دوه کاله عمر یې پوره کړی وي، او د پسه په جنس کې هم کیدای سي چې دا په ادنی درجه د هدیه ده، او هغه حیوان چې په اختریا نو کې روا وي هغه حیوان په هدیو کې هم روادی، لیعنې په اعتبار د عمر او عیبونه د ر لوولو کما هو مذکور مفصلاً في باب الاضحیة في جمیع کتب الفقه. قـــال المصنفؒ:

وَالشَّاةُ تَجُوزُ فِي كُلِّ شَيءٍ اِلَّا فِي طَوَافِ الرُّكنِ جُنُبًا

او پسه روادی په هر هغه ځای کې چې په هغه کې د مرذکر سوي دي مګر نه کې چیرې طواف رکن په جنابت سره وکړي او د غه رنګه حکم دی چې طواف رکن د حیض او نفاس په وخت کې وکړي. ولې سبب د تغلیظ د جنایت په د ړو سره وو کې یودی، قـــال المصنفؒ:

وَوَطءٌ بَعدَ الوُقُوفِ قَبلَ الحَلقِ فَفِي كُلِّ وَاحِدٍ مِنهُمَا بَدَنَةٌ

او بل وطي دی پر عرفات ولې که قبل الوقوف وطي وکړي حج به فاسد سو قضا لي او پې بل کال او د غه فاسد حج به پسی پوره کوي. او پسه کافي دی په هر جنایت کې مګر نه چې طواف رکن یعنې طواف زیارت ئې په جنابت سره وکړي، او یا په جماع وکړي پسله وقوف د عرفات لکن د مخه تر سر خریلو، ولې چې په دواړو کې پر حاجي اوښ لازم دی، ولې چې جنایت یې لوی دی نو جبیره یې هم باید لوی وي. قـــال المصنفؒ:

وَخُصَّ هَدیُ المُتعَةِ وَالقِرَانِ بِيَومِ النَّحرِ فَقَط وَخُصَّ

او خاص کړه سوي ده هدیه د تمتع او قران په ورځ پوري د اختر فقط دا تخصیص دی په زمانه پوري، او

ذَبحُ كُلِّ هَديٍ بِالحَرَمِ اِلَّا اَن یَکُونَ تَطَوُّعًا وَتَعَیَّبَ

خاص کړه سوی ده ذبح د هر هدیه په حرم پوري قال ط ولا یشترط منی آه، مګر هغه وخت که هدیه د تطوع وه او

فِي الطَّرِیقِ فَیُنحَرُ فِي مَحَلِّهِ وَلَا یَأکُلُهُ غَنِيٌّ وَفَقِیرُ

پلار کی عیب جن سو یعنې تر حرم نه وه رسیده، نو په هغه ځای کې د عیب دی ذبح کړي او خوړلی دی نه ځنې دی کوي غنی سړي، او فقیر د حرم او د غیر حرم سره برابر

الحَرَمِ وَغَيرِهِ سَوَاءٌ

دی په خوړلو د هغې هدیې، قال ط لکن فقیر الحرم افضل.

پوه سه چې نوري هدایا وي تخصیص په مکان پوري نه لري، نو تطوع هدیه چې حرم

تہ ورسیدہ بیانو تخصیص پہ یوم النحر پوری نہ لری، وھو الصحیح نعم الذبح یوم النحر افضل " بحر

وَتُقَلَّدُ بُدْنَةُ التَّطَوُّعِ وَالْمُتْعَةِ وَالْقِرَانِ فَقَطْ

او پہ غارہ دی کی یوہ غاړگی غوندی شی ور واچوی داوښ د تطوع او د تمتع او د قران فقط قال ط وھذا ند با فقط آہ قال المصنف:

وَيَتَصَدَّقُ بِجِلَالِهِ وَخِطَامِهِ وَلَا يُعْطِي أَجْرَ الْجَزَّارِ مِنْهُ

او خیرات دی کړی جُلان د ھدایاوو او مھارونہ، د ھغو، او نہ ورکړه کیږی مزدوری د قصاب د ھدایاوو د غوښو څخہ، ھو کی علاوہ پر مزدوری د خیرات پہ توګہ غوښی ورکړی پروا نہ لری " قال

وَلَا يَرْكَبُهُ بِلَا ضَرُورَةٍ

اونہ دی سپریږی ھدیہ والا پر اوښ د ھدیہ بیلہ ضرورتہ، لکہ چی ھدایا والا ناجوړی وی یا ضعیفہ سپین ږیری وی، قال فی البحر ولا یحمل علیھا ایضًا، یعنی بار دی ھم نہ پر باندی کوی. او کہ سړی بی ضرورتہ پر سپور سی، او یا بار پُر باندی کی ھدیہ تہ لږ تاوان ور سیږی د نقصان ضمان بہ ور کوی " بحر. قال المصنف:

وَلَا يُحْلَبُ لَبَنُهُ إِنْ بَعُدَ الْمَحِلُّ فَيَتَصَدَّقُ بِهِ وَيَنْضَحُ

او نہ لوښل کیږی شیدی داوښی د ھدیہ مګر ھغہ وخت لوښل کیږی چی ځای د ذبح لیری وی

ضَرْعَهُ إِنْ قَرُبَ الْمَحِلُّ بِالنُّقَاخِ

یعنی بیر بیری کی وښہ لوښی غولانځ بی خرابہ سی، او ھغہ شیدی دی ھم خیرات کی، او اوبہ دی پاشی پر غولانځ د لنګی وښی کہ ځای د ذبح پر نږدی وو پہ یخو اوبو تا چی شیدی وچی سی او د لوښنګ ضرورت دفع سی "

خدایہ وبخښی مؤلف او ھم کاتب ؛ ستہ قبولہ کړی دعا د ھر غایب "

وَلَوْ نَذَرَ حَجًّا مَاشِيًا لَزِمَهُ وَلَا يَرْكَبُ حَتَّى يَطُوفَ

او کہ یو چا پر ځان نذر کړی حج پر پښو پاندی، نو دا نذر پرده لازم دی، څو لک والی چی احرام یہ وتاړہ

لِلرُّكْنِ فَإِنْ رَكِبَ أَرَاقَ دَمًا

نو پر پیادہ روانیږی، فقھاؤ وائی چی د کور څخہ پر پیادہ روانیږی قال ط وھو الاصح او نہ بہ سپریږی د طواف رکن تر کولو پوری، او کہ سپور سو، نو پر دہ لازم دی دم د ھغہ وینی دی وتوی

قال المصنف

وَفُضِّلَ الْمَشْيُ عَلَى الرُّكُوبِ لِلْقَادِرِ عَلَيْهِ وَفَضْلُ اللهِ

او تفضیل ورکړه سوی دی پیادہ تګ و حج تہ تر سپر تیا و حج تہ ھغہ چا تہ چی قادر وی پر پیادہ تګ، او

تَعَالَى بِفَضْلِهِ وَمَنَّ عَلَيْنَا بِالْعَوْدِ عَلَى أَحْسَنِ حَالٍ إِلَيْهِ

خدای تعالیٰ دی توفیق راکړی مونږ تہ پخپل فضل او احسان سرہ پہ بیا ورتلو سرہ پر ښہ حال باندی و

بِجَاهِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حج تہ مشرف سوہ یعنی پہ صحت او عافیت او محبت او اخلاص سرہ، پہ عزت د سیدنا محمد صلی اللہ علیہ وسلم، او درویش وائی چی ای اللہ جل جلالک، لکہ چی تا پخپل فضل و کرم ماعاصی تہ پہ سنہ ۱۴۲۳ھ ق، پہ عمر کی د ۸۵ کالو تخمینًا کی توفیق د عود وحج تہ راکړی، او پہ صحت او عافیت او خوشحالی سرہ دیوہ زوی خپل خپلمی حج وکړی، نو اوس بیا پہ ډیر عجز او احترامًا تہ عرض کوم چی پہ راتلونکو کلومی بیا د حج نصیب وکړی سرہ د بلہ زویہ " وَمَا ذَالِكَ عَلَيْكَ بِعَزِيزٍ " بحرمۃ الحرمین الشریفین امین "

د کتاب نوم: جلد دریم پښتو نور الایضاح "

د مصنف نوم: حضرت مولانا محمد عُبَیدُ اللہ ایوبی السلیما نخیلی مدظلہ

د لیکونکی نوم: قاری محمد فضل الحق حقانی : مکتبۃ القراءۃ والتجوید "

فَصْلٌ فِيْ زِيَارَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دا فصل دی په بیان کی د زیارة د نبی علیه الصلوٰة والسّلام:

درویش وائي: چې د دی فصل زده کړه او عمل په کول د اهل السنة والجماعة پر طریقه چې په کتابو کی د احادیث وو مبارکه وو او په کتابو کی د تفاسیرو د علماؤ دین، او په کتابو کی د فقهاوو محققینو لازم دی پر مسلمانانو. **نو واوره**: چې په فتاوی شامیه او په طحطاوی او په فتح القدیر وغیرها کی وائي چې خولك چې زیارة ته د قبر انور د علیه الصلوٰة والسلام ځی او سفر کوي خالصًا په نیت د زیارة د قبر انور دی د استد کوي، او بعض فقهاءُ وائي چې نیت دی د زیارة د مسجد نبوی هم ورسره وکړي، لکن وهابیان وائی که خوك سفر وکړي و مدینې مُنورې ته په نیت د زیارت د قبر انور نبوی.. انفرادًا او اشتراكًا فهو مُشرك: ابن الهمامؒ صاحب د فتح القدیر وائی چې اولی پر نیزد عبد ضعیف دا ده چې دی دې په سفر کی د مدینې مُنورې خاص الخاص نیت د زیارة د قبر انور نبوی کوی، ولې چې دی قبر ته د نبی علیه الصلوٰة والسلام په ورتگ سره: يَحْصُلُ لَهٗ، وده ته حاصلیږی نعمت د زیارة د مسجد نبوی نو مغه نیت دی هلته وکړي، ابن الهمامؒ وائي چې په محض نیت کولو د زیارت د قبر مقدس ډیر تعظیم او اجلال دی. د آنحضرت صَلّی اللّٰهُ علیه وَسَلّم لکن درویش وائی چې د بده مرغه مخالفین تعظیم د غیر الله شرك بولي، العیاذ بالله عن مثل هذه العقول، وهذا القول، ابن الهمامؒ وائی "وَيُوَافِقُهٗ ظَاهِرًا قَوْلُهٗ صلی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مَنْ جَاءَنِيْ زَائِرًا لَا تَعْمَلُهٗ حَاجَةٌ اِلَّا زِيَارَتِيْ كَانَ حَقًّا عَلَيَّ اَنْ اَكُوْنَ لَهٗ شَفِيْعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ" او رحمتیؒ د عارف حقانی المولی الجامیؒ دا سی نقل کړی دی" چې ده به زیارة د قبر انور په علیحده سفر ورته بیله سفره د حج هم کاچی کاوه، تا چې ده لره به هغه سفر کی بیله زیارة د قبر انور بل شی نه وي، درویش وائي چې عاشقان د ذات پاك د نبی علیه الصلوٰة والسّلام هم دغسی کوی چې معشوق ته دده د زیارت د پاره ډیر ډیر مشاق او تکلیفونه پر ځان وړی د عشق کار حلا دیٔ،

او د عاشق صادق الملا حسنؒ تلوکانی څخه خلګ نقل کوی چې دی په هغه وخت کی چې سفر د حج بر په قافلو کی کیدی د قندهار د خپل وطن تلوکان څخه حج ته تللی وو او زیارت د قبر انور یې هم کړی وو

چې پسله یوه کاله د سفره د حج خپل وطن تلوکان ته راورسیدی مخلصان او مریدانو یې په پر جوش او خروش سره استقبال کړی وو (واهل بیت دده هم ډیر ده و لیدلو ته تږی وه، راوی وائی چې څه وخت چې د خپل سرای ورواړی ته ورسیدی نا ګاه د عشق محمدی صلی الله علیه وسلم لمبه اور په په زړه کی بل سو نو مخلصانو ته ئی ووئیل چې که زما محبوب صلی الله علیه وسلم زما څخه ګیله وکړه چې ته زما قبر ته تبعًا للحج راغلی وی قصدًا و بالذات نه وی راغلی نو زه به څه جواب ورکوم،

هغه وو چې دا یې وو یل مخلصانو ته ئې ووئیل چې زه بیرته ځم عربستان ته پر ځینو د پاره د زیارت د قبر انور نبوی مخلصانو چې هر څو اصرار پر وکړي چې څو ورځی ارام وکړه بیا به ولاړ سې، لکن په اور د عشق سوی زړه د حسنؒ د اخبره و نه منل هغه وو چې د اهل خانه سره یې په دروازه کی ملاقات وکړ او د مخلصانو څخه ئی رخصت واخستی او د مدینة الرسول صلی الله علیه وسلم پر خوا روان سو، او پسله یوه کاله په مقصد کی کامیابه وطن ته راستون سُو، فرحمه اللّٰهُ تعالی فهذا هو حال العشاق.. حافظ

سه نگوئی این سخن کفر است اگر گوئی شوی کافر: برو ای مدعی نادان چه دانی حال مستان را.

درویش وائی چې په حدیث شریف کی متفق علیه د بخاریؒ او مسلمؒ دی. دا سی راغلی دی: لَا تَشُدُّوا الرِّحَالَ اِلَّا لِثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ مَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِيْ هٰذَا، وَالْمَسْجِدِ الْاَقْصٰى، او مخالفان په دغه حدیث سره انکار کوی چې څوك چې په قصد د زیارة د قبر انور مدینې منورې ته سفر کوی هغه سفر حرام بلکه شرك دیٔ، **جواب**: په دی حدیث شریف کی خو مستثنیٰ منه محذوف ده کما لایخفی علی من له ادنی المام بعلم النحو، نو معلومیږی د مخالف څخه پوښتنه کوو چې هغه مستثنیٰ منه لفظ د مکان دی، یعنی تا سی سفر هیڅ ځای ته مه کوی مګر د دغو دریو مسجدونه، نو باید سفر د پاره د تجارت یا سفر د پاره د طلب العلم هم حرام وی: مع ان المخالف لا یقول به،

نو دا معلومه سوه چې معنا د حدیث مذکور هغه ده چې حضرت الامام الغزالیؒ په احیاء العلوم کی بیان کړیده یعنی لا تشدوا الرحال الی مسجد من المساجد الا لهذه الثلاثة، نو حاصل د حدیث دا دی چې تا سی سفر مه کوی په نیت د ثواب د لمانځه وغیره من العبادات مګر د غه دری مسجدونه، ولی په دغو درو مسجدو کی ثوابونه د عباداتو مضاعف کیږی او نورو مسجدونه سره برابر دی په ثواب کی،،

درویش وائی دغسی معنا دحدیث مذکور علامه شامیؒ اوفقیه ابوجعفر الطحاویؒ اوابن الهمامؒ اونورو ډیرو فقهاوو اومحدثینوؒ هم کړیده، لکن دافسوس ځای دادی چی مخالفین نه د فقه کتاب منی اونه د مجتهدینو خبره منی، اود شارحانو دحدیثو مبارکه وو چی ددوی د رائی څخه مخالفه وی هم ئی نه منی، والی الله المشتکیٰ»

فائده: ډیر خلک وائی چی علماء دیوبند دسفر څخه ومدینی منوری ته په نیت د زیارت دقبرانور نبوی منکردي، او دعاضرینو وهابیان ددوی په انکار سره استدلال وائی لکن مولوی محمد اعزاز علی الدیوبندیؒ په حاشیه کی د نورالایضاح ص۱۸۷ کی داسی وائی، ومن ههنا ظهر بطلان ما اختلق علی مشائخنا الدیوبندیة انهم منعوا زیارة قبره علیه الصلوٰة والسلام یعنی السفر الیه. کیف لا وقد صرّحوا قولاً وعملاً انها من افضل التجربات انتهی» قال المصنفؒ:

عَلٰی وَجْهِ الْاِخْتِصَارِ تَبَعًا لِمَا قَالَ فِی الْاِخْتِیَارِ

اوزیارت دنبی علیه الصلوٰة والسلام زه ذکر کوم پر طریقه دلنډ ذکر په متابعت دهغه چی وئیلی دی په اختیار کی، چی (کتاب) د نورو دی درویش وائی چی چونکه بیان د زیارة النبی علیه الصلوٰة والسلام پر وجه د تمام اوکمال بیخی ډیر وو حتیٰ چی علماء حضراتو په دی باب کی غټ غټ کتابونه تصنیف کړی دی، نو هغه ټول بیان د زیارة النبی علیه الصلوٰة والسلام په دی مختصر کتاب کی گنجایش نه وو نو ځکه یه وویله پروجه د اختصار «لأنهم قالوا: مَالَا یُدرکُ کله لایترک کله» قال المصنفؒ:

لَمَّا کَانَتْ زِیَارَةُ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَفْضَلِ

چونکه وو زیارة دنبی علیه الصلوٰة والسلام د افضله څخه د ثواب دکارو او د بنو مستحبو کارو څخه بل تقرب

الْقُرَبِ وَاَحْسَنُ الْمُسْتَحَبَّاتِ بَلْ تَقْرُبُ مِنْ دَرَجَةِ مَا

لَزِمَ مِنَ الْوَاجِبَاتِ

یعنی نژدی دی ودرجی ته دهغه کارو چی د واجبو کارو څخه دی» قریب دقربته ده یعنی د ثواب کاره

فَاِنَّهٗ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَرَّضَ عَلَیْهَا وَبَالَغَ فِی

ولی چی علیه الصلوٰة والسلام ډیر باعث والی کړی دی په زیارت خپل او ډیره مبالغه ئی کړیده په ترغیب لو

النَّدْبِ اِلَیْهَا فَقَالَ مَنْ وَجَدَ سَعَةً وَلَمْ یَزُرْنِیْ فَقَدْ

د استحبابو ودی زیارت ته، نو علیه الصلوٰة والسلام ووئیله که چا فراخی د قدرت مالی درلوده او زما زیارت

جَفَانِیْ، وَقَالَ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ زَارَ قَبْرِیْ

ئی ونه کړی، نو زما سره ئی جفا او بی وفائی یه وکړه، او وی وئیل علیه الصلوٰة والسلام که زیارت وکړی زما د قبر

وَجَبَتْ لَهٗ شَفَاعَتِیْ

واجب اوثابت دی هغه له زما شفاعت، درویش وائی چی په دغه حدیث کی رد بلیغ دی په مخالفینو باندی، ولی آنحضرت صلی الله علیه وسلم ووئیله مَنْ زَارَ قَبْرِیْ، اوداسی نه دی وئیل مَنْ زَارَ مَسْجِدِیْ، قال المصنفؒ:

وَقَالَ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ زَارَنِیْ بَعْدَ مَمَاتِیْ فَکَاَنَّمَا

او و وئیل علیه الصلوٰة والسلام که څوک زیارت وکړی زما په پسله مرگه زما دامی دی گویا ده زیارت وکړی

زَارَنِیْ فِیْ حَیَاتِیْ اِلٰی غَیْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْاَحَادِیْثِ

زما په وخت کی د ژوند زما، او ما سوا د دغو حدیثونو، هم احادیث نبویه موجود دی یعنی په سبب د طول دهغو او د وضع د کتاب پر اختصار ټول نه سوه ذکر، ډیر کسان په زړه کی دا ورگرځی چی په حال کی د حیات چی چا نبی علیه الصلوٰة والسلام لیدلی دی هغه صحابی بلل کیږی، نو په مقتضیٰ د دغه حدیث باید زیارت کوونکی د قبر شریف هم صحابی وبلل سی ولم یقل به احدٌ **جواب** په علم بدیع د تلخیص وائی چی تشبیه د شی په شی سره عموم نه غواړی کمافی قولنا: زَیْدٌ کَالْاَسَدِ، بلکه مشارکت د مشبه او مشبه به غواړی په یو وجه کی، د شبهی کمافی المثال المذکور چی اشتراك د زید او د اسد صرف او صرف په شجاعت کی

مرادری د تشبیه څخه، نو بناءً علی هذا حدیث مذکور معنا داوه چې په ثواب او اجر کې زائر الحیات
والزائر بعد الممات سره شریکان دي، ولوکان المشبه به اعظم اجرۃ تامل، قـــال المصنف:

وَمِمَّا هُوَ الْمُقَرَّرُ عِنْدَ الْمُحَقِّقِيْنَ اِنَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د هغو خبرو څخه داده په نيزد محققانو د فقهاوو او د صوفيه ځانو چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم

حَيٌّ يُرْزَقُ بِجَمِيْعِ الْمَلَاذِ وَالْعِبَادَاتِ غَيْرَ اَنَّهُ حُجِبَ

ژوندی دی یعنی په حیات برزخی سره چې ده ته رزق ورکول کیږي او دی مبارك فائده اخستونکی دی په

عَنْ اَبْصَارِ الْقَاصِرِيْنَ عَنْ شَرِيْفِ الْمَقَامَاتِ

ټولو لذتي شیانو سره او په عباداتو سره لکن دی مبارك محجوب سوی دی یعنی مستور دی د سترګو بلکه د عقولو
څخه د هغو کسانو چې هغه ته نه دی رسیدلي، د لوړو مقاماتو څخه د عليه الصلوٰة والسلام سره اشمس تشرق من سرادق الضریر
والعسل عسل وان لم يجد طعمه فاه المريض، درویش وائی چې هغه کسان چې په تحقیر د عقل صرف تړلي وي
هغه داخبری هیڅ نه مني، قـــال المصنف:

وَلَمَّا رَاَيْنَا اَكْثَرَ النَّاسِ غَافِلِيْنَ عَنْ اَدَاءِ حَقِّ زِيَارَتِهٖ

مصنف وائي هر کله چې مونږ ولیدل ډیر کسان چې غافله وه د اداکولو څخه دحق د زیارت النبی ﷺ او غافله وه د هغو

وَمَا يُسَنُّ لِلزَّائِرِيْنَ مِنَ الْكُلِّيَّاتِ وَالْجُزْئِيَّاتِ اَحْبَبْنَا

شیانو څخه چې سنت وی زائرینو له د روضه مقدسه او د قبر انور چې هغه بعض یې کلیات دی یعنی شریکي شیان

اَنْ نَذْكُرَ بَعْدَ الْمَنَاسِكِ وَاَدَائِهَا نُبْذَةً مِّنَ الْاٰدَابِ تَتْمِيْمًا

دي په مابین کی د روضه مطهرہ او د نورو مساجدو لکه تحية المسجد او بعض د هغو خبرو چې جزئي دی یعنی خاص په
زیارت پورې د قبر انور دی لکه داچې قبر انور ته په سرې څرنګه دریږي، نو مونږ دا بنه وګڼل چې ذکر کړو

پسله مناسکو یعنی د حج او د اداء د حج چې پولن څه بیان کړو دا دا بو څخه د زیارة النبی ﷺ دپاره د پوره کولو
د فائدې د کتاب یعنی نور الایضاح « لِفَائِدَةِ الْكِتَابِ »

فَنَقُوْلُ يَنْبَغِيْ لِمَنْ قَصَدَ زِيَارَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو مونږ وایو چې بنائي هغه چا له چې قصد وکړي د زیارت ته د نبي عليه الصلوٰة والسلام چې دی به ډیروائي

اَنْ يُكْثِرَ مِنَ الصَّلَوَاتِ عَلَيْهِ فَاِنَّهُ يَسْمَعُهَا وَتُبَلَّغُ اِلَيْهِ

درودونه پرده، ولې چې عليه الصلوٰة والسلام یې اوري یعنی که نژدې وي ط او یا په ذریعه د ملکو ورته رسول

وَفَضْلُهَا اَشْهَرُ مِنْ اَنْ يُّذْكَرَ فَاِذَا عَايَنَ حِيْطَانَ

کیږي د لیرې وو، کما ثبت فی الاحادیث النبویة «افضیلت د درود و تیلو ډیر مشهور دی او مستغنی دی د دې څخه چې ذکر د هغه وکړای شي، نو هر کله

الْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَةِ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې ده ولیده دیوالونه د مدینې منورې نو درود دی ووائي پر نبي عليه الصلوٰة والسلام باندې، ط، وائي چې مدینې ته
چې منوره وائي په اعتبار د صاحب د هغې چې نبي عليه الصلوٰة والسلام دی، او د درود په فضائلو کې باید د
احادیثو کتابونه مطالعه سي، قـــال المصنف:

ثُمَّ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ هٰذَا حَرَمُ نَبِيِّكَ وَمَهْبَطُ وَحْيِكَ فَامْنُنْ

او بیا دی ووائي یا الله ج دا حرم دی د نبي ستا او ځای دی د نازلیدو د وحې پس احسان وکړې پرما باندې په

عَلَيَّ بِالدُّخُوْلِ فِيْهِ وَاجْعَلْهُ وِقَايَةً لِّيْ مِنَ النَّارِ وَاَمَانًا

داخلیدو د دې حرم او وګرځوې داخلید د دې حرم ساتنه مالره د اور څخه یعنی د دوزخ په ورځ د قیامت کی

مِنَ الْعَذَابِ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْفَائِزِيْنَ بِشَفَاعَةِ الْمُصْطَفٰى

اوامان یه وګرځوې د عذابه څخه او وګرځوې ما چې کامیاب سم په شفاعت د مصطفیٰ

يَوْمَ الْمَآبِ

په ورځ د ورتلو یعنې په ورځ د رجوع کولو ورځ د قیامت ده" قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَغْتَسِلُ قَبْلَ الدُّخُوْلِ أَوْ بَعْدَهٗ قَبْلَ التَّوَجُّهِ إِلَى الزِّيَارَةِ

او بیا دی غسل وکړي د مخه تر دخول و ښار ته د مدینې یا وروسته تر دخول د مخه تر قصد د زیارة نبوي ته کرځیري

إِنْ أَمْكَنَهٗ وَيَتَطَيَّبُ وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهٖ تَعْظِيْمًا

غسل کول وي، نه ممکن وي، درویش وائي چې په زمان حاضر کې چونکه ښار د مدینې منورې په میلو مسافت

لِلْقُدُوْمِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَدْخُلُ

فراخ سوی دی، او آفاقي حاجیان په موټرانو کې د معلمانو سپاره وي هیڅ موټران نه دریږي تر هغه وخته

الْمَدِيْنَةَ الْمُنَوَّرَةَ مَاشِيًا إِنْ أَمْكَنَهٗ بِلَا ضَرُوْرَةٍ

بویه چې حاجیان و
خپلو اوطاقو ته چې په داخل کې د ښار دی ورته رسوي، نو قبل الدخول و ښار ته غسل کول هیڅ امکان نه لري،
البته بعد الدخول والاستقرار في العمارة غسل ممکن دی، ځکه مصنف: إِنْ أَمْكَنَهٗ وو ایه. او دا غسل به
د مخه تر قصد د زیارة نبوي ته کوي، او خوشبوئ دی ولګوي، او واغوندی هغه ښه د کالو خپل د پاره
د تعظیم د ورتلو و قبر نبوي ته، او بیا دی داخل سي مدینې منورې ته پیاده که چیري ممکن وه بیله ضرورة
یعنې بې ضرره، درویش وائي چې مدینه منوره ډیر فراخه سوې ده نو پیاده تګ و حاجیانو ته ډیر مشکل دی خصوصًا
هغه کسانو ته چې د معلمانو په بسانو کې مدینې منورې ته راځي، ولې چې د حاجیانو ټول سامان د بس پر سر
تړلی وي، نو چا ته سامان پلاس نه ورکوي تر څو چې خپلې عمارې ته ونه رسیږي، نو که بالفرض څوک پیاده تللی
بیا به نو خپل سامان او عماره څرنګه پیدا کوي! او حاجی دی خوشبوئي ولګوي، او ښه کالي دی واغوندي

د پاره د تعظیم د ورتلو و نبي علیه الصلوٰة والسلام ته یعنې قبر انور ته ده" قَالَ الْمُصَنِّفُ:

بَعْدَ وَضْعِ رِكْبِهٖ وَاطْمِئْنَانِهٖ عَلٰى حَشَمِهٖ أَوْ أَمْتِعَتِهٖ

بیله ایښوولو د سپرلیا د شیانو، او پسله دې چې ده ته اطمنان حاصل سي په عیال او مایه وغیره ته

مُتَوَاضِعًا بِالسَّكِيْنَةِ وَالْوَقَارِ مُلَاحِظًا جَلَالَةَ الْمَكَانِ

ورسره وه، او د غرر نګه ده ته اطمنان حاصل سي پر سامان خپل، یعنې چې په یوه اطاق کې د عمارې بېه
کینږدی، او متواضع دی وي او په آرام او وقار سره یعنې تګ دی شروع کړي و طرفته د روضه مقدسي معلیٰ
او په خیال او دماغ کې د ده وي عظمت د مکان یعنې د روضې شریفې، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

قَائِلًا بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او په وخت کې د تلو دی داوائي بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ" یعنې زه په ملت د علیه الصلوٰة والسلام یم

رَبِّ أَدْخِلْنِيْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّأَخْرِجْنِيْ مُخْرَجَ صِدْقٍ

وَاجْعَلْ لِّيْ مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطَانًا نَّصِيْرًا اَللّٰهُمَّ صَلِّ

عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ الخ وَاغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ

وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَفَضْلِكَ

او دغه مذکوره دعا دی هم وکړي. او بیا دې خپله مورنۍ ژبې نوري دعاګاني
د عافیت او مغفرت د خپل ځان او مور

اوپلار او اولادو او نورو دوستانو او قریبانو ثوته وکړی» قال المصنف

ثُمَّ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ الشَّرِيفَ فَيُصَلِّي تَحِيَّةً عِنْدَ مِنْبَرِهِ رَكْعَتَيْنِ

او بیا دی داخل سی و مسجد شریف ته نو دی لمونځ وکړی تحیة المسجد په قرب کی د منبر د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه رکعته یعنی که بدله ځای خامه هلته ځای وو او که نه وو بیا دی بل ځای وکړی، قال المصنف:

وَيَقِفُ بِحَيْثُ يَكُونُ عَوْدُ الْمِنْبَرِ الشَّرِيفِ بِحِذَاءِ مَنْكِبِهِ الْأَيْمَنِ لَوْ وَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ودی دریږی په داسی شان چی لرګی د منبر شریف دده په راسته اوږه برابری هم د غه د ول موقف د علیه الصلوٰة والسلام وو.

وَمَا بَيْنَ قَبْرِهِ وَمِنْبَرِهِ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ

او معځکه چی واقع ده په مابین کی د قبر د علیه الصلوٰة والسلام او د منبر د د روضة یعنی باغ د باغو نځ

كَمَا أَخْبَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ مِنْبَرِي عَلَى حَوْضِي

د جنت: قال الطحاوی چی د غه ځمکه به ورځ د قیامت و جنت ته نقل کیږی او هلته به باغ ځندی جوړیږی، او یا معنا داده چی ثواب وه عبادت په د غه ځمکه کی به ورځ کی د قیامت وجنت ته نقل کیږی او سړی وجنت ته رسوی، لکه چی خبر ورکړی په د غه سره نبی صلی الله علیه وسلم، او دا یې هم ویلی دی چی زما منبر پر حوض زما به وی یعنی پر حوض کوثر باندی دا هم یا پر حقیقت دی یا پر مجاز فافهم، قال المصنف:

فَتَسْجُدُ شُكْرًا لَهُ تَعَالَى بِأَدَاءِ رَكْعَتَيْنِ غَيْرَ تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ

نو ته لمونځ وکړه د پاره د شکر د خدای پاک دوه رکعته غیر د تحیة المسجد نه د دی د پاره چی تا ته ئی توفیق درکړی

لِمَا وَفَّقَكَ اللهُ تَعَالَى وَمَنَّ عَلَيْكَ بِالْوُصُولِ إِلَيْهِ

او احسان یې وکړی پر تا باندی په رسید و مسجد نبوی ته او زیارت ته د علیه الصلوٰة والسلام

ثُمَّ تَدْعُوا بِمَا شِئْتَ ثُمَّ تَنْهَضُ مُتَوَجِّهًا إِلَى الْقَبْرِ الشَّرِيفِ

او بیا دعا وکړه په هغه شی سره چی ستا خوښه وی یعنی په خیر او سره د دارینو چی ځای د اجابت دی د دعا، بیا نو روان سه یعنی پر ادب سره

فَتَقِفُ بِمِقْدَارِ أَرْبَعَةِ أَذْرُعٍ بَعِيدًا عَنِ الْمَقْصُورَةِ الشَّرِيفَةِ بِغَايَةِ الْأَدَبِ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ

و مخ کړه و قبر شریف ته نو ودریږه په قدر د څلور و ګزو لیری د هغه شریف حجری نه چی ذات انور د علیه الصلوٰة والسلام په کښی موجود دی، په نهایت ادب سره، او په داسی حال کی ستا شا د قبلی شریفی ته وي

مُحَاذِيًا لِرَأْسِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ وَوَجْهِهِ الْأَكْرَمِ مُلَاحِظًا نَظْرَهُ السَّعِيدَ إِلَيْكَ وَسَمَاعَهُ كَلَامَكَ

قال ط هو السنة فی زیارة الاموات آه، برابر به په د سر مبارک سره د نبی صلی الله علیه وسلم او دده مبارک د مخ سره وی، او دا به ستا په لحاظ کی وی یعنی په عقیده کی به دی وی چی علیه الصلوٰة والسلام په مبارکو

وَرَدَّهُ عَلَيْكَ سَلَامَكَ وَتَأْمِينَهُ عَلَى دُعَائِكَ

سترګو ما ته ګوری او زما کلام اوری او زما د سلام جواب راکوی او امین وائی زما پر دعاګانو باندی، چی دا عمارت ویوی غټی پلازی او بنګلی او کوټی ته ویل کیږی په عربی ژبه «مترجم عفا الله عنه»

تنبیه پوه سه چې په وخت کې ددې چې ته سلامونه وعلیه الصلوٰة والسلام ته وائې ډېر عجیبې اوناري مه وهه، ولې چې د سعودي پولیس دې فوراً خارجوي بلکه بعض حجاج چې ورته کاروکي بندې کوي ئې اوبل داچې ته په مواجه شریفه دعا کوې لاسونه مه پورکوه چې د سعودي پولیس دې فوراً مخ د مواجهې نه ونبلې خواته اړوي، قـــــــال المصنفؒ:

وَتَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَاسَيِّدِي يَارَسُولَ اللهِ اَلسَّلَامُ

اوته به وایه سلام دې وي پر تا باندې اې زما نبي اې رسوله د خدای، سلام دې وي

عَلَيْكَ يَانَبِيَّ اللهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاحَبِيبَ اللهِ اَلسَّلَامُ

پر تا باندې اې د الله نبي، سلام دې وي پر تا اې د الله دوسته، سلام دې وي

يَانَبِيَّ الرَّحْمَةِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاشَفِيعَ الْاُمَّةِ اَلسَّلَامُ

پر تا باندې اې رحمت نبي، سلام دې وي پر تا اې د امت شفاعت کوونکې، سلام دې وي

عَلَيْكَ يَاسَيِّدَ الْمُرْسَلِيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَاخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ

پر تا باندې اې د رسولانو سرداره، سلام دې پر تا باندې اې د نبیانو ختمونکې

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَامُزَّمِّلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَامُدَّثِّرُ

پوه سه: چې د مزمل او مدثر معنا یو ده، چې ټلتک وغیره پرځان اچولي وي د علیه الصلوٰة والسلام سره چې جبرئیل امین په صورت بشري کې په وخت کې د راتلو ده د غار حراء نه ملاقي سوی وو اودی مبارک به په غیب پورې تېنګ نیولی وو اوبیا حتی تللی وو. آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې کورته راتلی زړه به ئې رپېدی دتا ټېره نه ده په غیب کې نیولو اوکښېکښلود سبب نو چې کورته راغلی زمونږ مور بي بي خدیجة الکبریٰ رضي الله عنها په یوه ملاقات کې داسې وو ئیله زملوني زملوني

پر ما ټلتک واچوه، اوپس تردې چې د علیه السلام زړه به قرار سو نو ئې ولې بي بي خدیجة الکبریٰ ته ټول ما جرې بیان کړ، اوبیا بله ټلا چې جبرئیل علیه السلام ورسره ملاقي سو نو بیا علیه الصلوٰة والسلام په فوق الذکر حالت کې کورته راغلی، اوخدیجة الکبریٰ رض ته ئې وویله دثروني دثروني بیله هغه جبرئیل علیه السلام کورته پسې راغلی اود ادوه سورتونه ئې د رب العزت له خوا راوړه او په دې دواړو سورتونو کې علیه الصلوٰة والسلام امر کړه سو په تبلیغ د کلمه توحید ومشرکانو ته د قوم والتفصیل في کتب الاحادیث، قـــــــال المصنفؒ:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَعَلٰى اُصُوْلِكَ الطَّيِّبِيْنَ وَاَهْلِ بَيْتِكَ

او سلام دې وي پر تا او ستا پر اصولو چې پاک وي یعنې د شرکه او کفرنه، اصل نراونیکې دواړو ته وائي مثلاً اصولو

الطَّاهِرِيْنَ الَّذِيْنَ اَذْهَبَ اللهُ عَنْهُمُ الرِّجْسَ وَطَهَّرَهُمْ

نه د علیه الصلوٰة والسلام ابراهیم خلیل الله او اسمعیل علیهما السلام وغیرهما دي، او ستا پر اهل بیتو دې سلام

تَطْهِيْرًا

وي چې ازواج مطهرات او فاطمه رضي الله تعالیٰ عنهم دي هغه اهل بیت چې پاک دي د شرک اوکفر او معاصي نه، هغه چې خدای لیرې کړې دي د دوی نه نجاست یعنې ګناه چې نجاست باطني دي او دوی یې پاک کړي په پاکولو سره سپه دې کې اشاره وهغه آیات ته ده چې په شان کې د اهل بیتو نازل سوي دي، قـــال المصنفؒ:

جَزَاكَ اللهُ عَنَّا اَفْضَلَ مَا جَزٰى نَبِيًّا عَنْ قَوْمِهِ وَرَسُوْلًا

خدای جل جلاله دې ثوابونه درکړي وتا ته زمونږ د امتیانو دخوا نه بهتر د هغه ثوابو چې خدای ئې

عَنْ اُمَّتِهِ اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ قَدْ بَلَّغْتَ الرِّسَالَةَ

هغه ثوابونه ورکوي یو نبي ته د خپل قوم د خوانه او یو رسول ته د امتیانو د خوانه، زه شاهدي اداکوم یعنې د صمیم قلب نه چې په تحقیق تا کړي دې حق د رسالت اوتا رسولې دی......

وَاَدَّيْتَ الْاَمَانَةَ وَنَصَحْتَ الْاُمَّةَ وَاَوْضَحْتَ الْحُجَّةَ

امانت چې خدای پاك درکړی وو چې امانت ټولو امورو شرعيه وو ته شامل دی، او تا نصيحت کړی دی وامت ته، او تا روښانه کړی دی دليل د دين اسلام د حقيت وټولو نړيوالو ته،

وَجَاهَدْتَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ وَاَقَمْتَ الدِّيْنَ

او تا جهاد او غزا کړيده په لاره کی د خدای ﷻ په محکم جهاد سره او تا اقامت د دين کړی تر هغه وخت پوری

حَتّٰى اَتَاكَ الْيَقِيْنُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَسَلَّمَ وَعَلٰى اَشْرَفِ

چې تا ته راغلی يقين يعنی وفات، او رحمت د خدای دی وی پر تا پاندی او پر هغه مشرف ځای چې مشرف

مَكَانٍ تَشَرَّفَ بِحُلُوْلِ جِسْمِكَ الْكَرِيْمِ فِيْهِ صَلَاةً وَسَلَامًا

سوی دی. په وجود د جسم مبارك ستا په هغه ځای کی چې حجره د عائشه رض ده، او دا صلاة او سلام

دَائِمَيْنِ مِنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ عَدَدَ مَا كَانَ وَعَدَدَ مَا

دی همیشه وی پر تا پاندی د طرفه څخه د رب العالمين، په حساب د هغو شيانو چې وو يا به وی په علم کی

يَكُوْنُ بِعِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً لَا اِنْقِضَاءَ لِاَمَدِهَا

د خدای جل شانه او داسی رحمتونه دی وی چې تيريده نه لری او نه وپای ته رسيږی،

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ نَحْنُ وَفْدُكَ وَزُوَّارُ حَرَمِكَ تَشَرَّفْنَا

ای د خدای رسوله مونږ راغلو تا ته او مونږ زيارت کوونکی ستا د حرم يو مونږ مشرف سولو

بِالْحُلُوْلِ بَيْنَ يَدَيْكَ

په راتلو سره ستا په حضور کی،

قَدْ جِئْنَاكَ مِنْ بِلَادٍ شَاسِعَةٍ وَاَمْكِنَةٍ بَعِيْدَةٍ نَقْطَعُ

مونږ راغلی يو تا ته د ليرو ښارو څخه او د ليرو ځايو څخه مونږ پری کوله يعنی منزل مو کاوه په تيره

السَّهْلَ وَالْوَعْرَ بِقَصْدِ زِيَارَتِكَ لِنَفُوْزَ بِشَفَاعَتِكَ

ځمکی او په سخته ځمکه کی په قصد د زيارت ستا تا چې مونږ بريالي سو ستا شفاعت سره يعنی

وَالنَّظَرِ اِلٰى مَآثِرِكَ وَمَعَاهِدِكَ وَالْقِيَامِ بِقَضَاءِ

په ورځ د قيامت، او د دی د پاره راغلی يو چې مونږ وګورو يعنی په مدينه منوره کی ستا د فخر ځايونه لکه قبر

بَعْضِ حَقِّكَ وَالْاِسْتِشْفَاعِ بِكَ اِلٰى رَبِّنَا

انور مسجد نبوی الی غير ذالك "ومعاهدك" عطف تفسير دی، او مونږ ودرېږو په پوره کولو کی د يو څه حق ستا يعنی پر مونږ باندی، او طلب د شفاعت د تا څخه وکړو وخدای جل شانه ته يعنی تا وخدای ته شفيع وګرځوو، قال

فَاِنَّ الْخَطَايَا قَدْ قَصَمَتْ ظُهُوْرَنَا وَالْاَوْزَارَ قَدْ اَثْقَلَتْ

قوله فان، تعليل للاستشفاع: په تحقيق سره خطاوی او ګنهو ماتی کړی دی زمونږ ملاوی، "او اثقلت" او د غه ګنهو درانی

كَوَاهِلَنَا وَاَنْتَ الشَّافِعُ الْمُشَفَّعُ الْمَوْعُوْدُ بِالشَّفَاعَةِ

کړی دی زمونږ داوږو ما بينونه، او ته شافع يی يعنی شفاعت کوونکی يی او مقبول الشفاعت يی. په لويه درجه

الْعُظْمٰى وَالْمَقَامِ الْمَحْمُوْدِ وَالْوَسِيْلَةِ

کی د خدای چې ستا وعده ورسره سوی ده يعنی د خدای دخول په لوی شفاعت سره کما ورد تفصيله فی الاحاديث الشريفة، واليها اشير بقوله تعالى: وَلَسَوْفَ يُعْطِيْكَ رَبُّكَ فَتَرْضٰى، وفسر تبلك الشفاعة العظمى، او تا ته درکړه سوی دی مقام محمود چې د هغه څخه مراد مقام د شفاعت

کبری مراد دی، او تا ته پی وسیله درکړیده، چې دهغې تفسیر په دغو الفاظو کړی دی، هی منزلة فی الجنة لا تکون الا له صلی الله علیه وسلم، قـــال المُصنف:

وَقَدْ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ

او خدای تعالی ستا په باره کی د شفاعت داسی وئیلی که چیری دا امتیان هغه وخت چې ظلم وکړی پر ځپلو ځانونو

جَاءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ

باندی تا ته سی، نو اول طلب د بخښنی د خدایه ځنو وکړی او طلب د بخښنی د دوی وکړی رسول چې تا ته نو به دوی

لَوَجَدُوا اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا

پیدا کړی خدای بخښونکی او مهربانه" پوهه سه چې طلب د بخښنی د رسول هو الشفاعة لهم"

فـائـده: دا آیت تخصیص په زمانه پوری د حیوة ظاهری د علیه الصلوٰة والسلام نه لری بلکه تیله مرګه دده حکم دا غږ دی کما یدل علیه کلام المص وقد صرح المفسرون والفقهاء والصوفیة ایضا بذلک

وَقَدْ جِئْنَاكَ ظَالِمِيْنَ لِاَنْفُسِنَا مُسْتَغْفِرِيْنَ لِذُنُوْبِنَا فَاشْفَعْ

او په تحقیق موږ راغلی یو تا ته په داسی حال کی چې موږ ظلم کړی دی پر ځپلو ځانونو یعنی په سبب د ګنهو او موږ طلب د ګنهو د بخښنی خدای

لَنَا اِلٰى رَبِّكَ وَاسْئَلْهُ اَنْ يُّمِيْتَنَا عَلٰى سُنَّتِكَ

پاک ځنو غواړو، نو ته زموږ شفاعت وکړه وخدای ته یعنی په باره کی د بخښنی د ګنهو زموږ، تا چې مطابق د آیت سره موږ ته خدای بخښنه د ګنهو وکړی، او د خدای ځنو سوال کوو او ته هم سوال وکړه چې موږ مړه کړی ستا په طریقه، قــال

وَاَنْ يَّحْشُرَنَا فِىْ زُمْرَتِكَ وَاَنْ يُّوْرِدَنَا حَوْضَكَ وَاَنْ

او د دی سوال وکړه د خدایه ځنه چې موږ حشر کی ستا په ډله کی، او موږ درولی یعنی په ورځ د قیامت

يَّسْقِيَنَا بِكَاْسِكَ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامٰى الشَّفَاعَةَ

ستا حوض کوثر ته او موږ او به کړی ستا په کتوری یا ګلاس یا کوزه سره، په داسی حال کی چې نه موږ رسوا

اَلشَّفَاعَةَ الشَّفَاعَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ثَلَاثًا

سوا او نه پښیمانه یو، په دنیا کې زوند باندی، زه شفاعت طلبوم زه شفاعت طلبوم زه شفاعت طلبوم، دری واره، **پوهه سه**: چې الشفاعة منصوب دی په فعل محذوف سره یعنی اطلب الشفاعة اطلب الشفاعة اطلب الشفاعة، دا الفاظ دی مکرر کړی، قـــال المُصنف

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ

او دا دعا دی هم وکړی: ای زموږ ربه موږ ته وبخښی یعنی ګنهونه زموږ او بخښنه وکی زموږ هغه وروڼو ته

فِىْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چې تر موږ د مخه په ایمان سره مشرف سوی دی او مه پیدا کوی زموږ په زړه وکی بغض او عداوت او حسد د هغه کسانو سره چې ایمان یې راوړی وی، ای خدایه ته ډیر مهربان یې او ډیر رحم خاوند یې"

وَتُبَلِّغُهٗ سَلَامَ مَنْ اَوْصَاكَ فَتَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ

او وروسته ورسوه سلام د هغه چا چې تا ته ئې وصیت کړی وی یعنی په سلام ویلو سره پر علیه الصلوٰة والسلام، نو داسی و وایه السلام علیك یا رسول الله د طرفه د فلانی چې د فلانی زوی دی، دی تا شفیع

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ يَّتَشَفَّعُ بِكَ اِلٰى

رَبِّكَ فَاشْفَعْ لَهٗ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ ثُمَّ تُصَلِّىْ عَلَيْهِ وَتَدْعُوْ بِمَا

ګرځوی وخدای ته نو ته شفاعت دده وکړه او د ټولو مسلمانانو وروسته بیا ته هم درود و وایه پر علیه الصلوٰة

شِئْتَ عِنْدَ وَجْهِهِ الْكَرِيْمِ مُسْتَدْبِرًا لِلْقِبْلَةِ

والسلام بیا دعا وکړه هغه دعا چې ستا خوښه وي په نیژدې مخ مبارك د علیه الصلوٰة والسلام او شا خپله دقبلي وخواته وي، **مسئله** فقهاء وائي چې رسول د سلام واجب دی، ولې داد قسم تخير داداء دامانت دی ط. **تنبیه** پوه سه چې حاجیان چې حج ته ځي په وخت کی د رخصت په سو خلگ ورته وائي چې زما سلامونه په علیه الصلوٰة والسلام وایه، حاجی صاحب وهر چوته وائی بنه دی، په دی خلگوکی د ډېرو خلگو نومونه دحاجی صاحب نه وي زده اودېلار نوم خو په لسوکی د ۹ نفرونه وي زده اودی چې مواجهه شریفې ته ورسي د سبب دازد حام د سلامو پوره کولو وخت لا نه وي نو دادوي سلامونه د خلگو به دی څرنگه ورسوي او سره د دی چې دواجب په ترک سره د سړي غاړې بندیږي.

پوښتنه د دی گناه چاره په نوځر رنگ کولای سی چې حاجی صاحب وخلگوته ووائي چې ستا سلام زه نه سم رسولای د خلگو خوابدیږي او وائی به چې څرنگه بخیل حاجی دی چې زما سلام قدر هم نه سی رسولای.

جواب: حاجی دی په دغه وخت کی چې خلگ سلامونه پلاس ورکوي د هر یوه دقبول سره دی وائی هُو ان شاء الله تعالی تا چې وعده ما بین نه رانسی، بیا هلته کی څولك ورباندی سوه اوفرصت وود هغه سلام دی په نامه ور ورسوي او دنورو په باره کی دی داسې ووائی: السلام علیك یا رسول الله من جانب کل من اوصانی بالسلام علیك، فحینئذ تفرغ ذمته من معصیة ترك الواجب، ورو قال المصنف:

ثُمَّ تَتَحَوَّلُ قَدْرَ ذِرَاعٍ حَتّٰى تُحَاذِيَ رَأْسَ الصِّدِّيْقِ

بیا نو وگرځه یعنی تیره سه په قدر دیوه گزه حتی چې ته برابر سی د سره سره د صدیق ابوبکر خدای دی له

اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ

څخه راضي سي، **فائده** صدیق مبالغه د صادق ده، او دالقب وده ته اسماني ورکړه سوی دی، نوم دده عبد الله دی دپلار نوم یې عثمان دی. او پلار یې هم اسلام

راوړی دی، او په صحبت د علیه الصلوٰة والسلام مشرفه سوی دی، او وفات دپلار یې د ابوبکر رض ورو وسته واقع سوی دی، او ابوبکر رض ونبت ته هیڅ وخت سجده نه ده کړي، کذا قال الطحطاوي،

وَتَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

او ته ووایه سلام دی وي پر تا باندی ای خلیفه یعنی جای نشینه د علیه الصلوٰة والسلام، او سلام دی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا صَاحِبَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

وي پر تا باندی ای ملگریه د علیه الصلوٰة والسلام او دالغت سریه دده په غار کی، یعنی په غار د

وَاَنِيْسَهٗ فِي الْغَارِ وَرَفِيْقَهٗ فِي الْاَسْفَارِ وَاَمِيْنَهٗ عَنِ الْاَسْرَارِ

جبل ثور، په موقع کی د هجرت ومدینې منورې ته، او ملگریه وی دده په سفروکی او امینه د علیه السلام وی په پټو خبرو او کارو کی،

جَزَاكَ اللّٰهُ عَنَّا اَفْضَلَ مَا جَزٰى اِمَامًا عَنْ اُمَّةِ نَبِيِّهٖ

خدای پاك دی ثوابونه وتاته درکړي بنه تر هغو ثوابو چې خدای ورکړي دی ویوه امام یعنی خلیفه

فَلَقَدْ خَلَفْتَهٗ بِاَحْسَنِ خَلَفٍ وَسَلَكْتَ طَرِيْقَهٗ وَمِنْهَاجَ

ته د جانبه د امت د نبي خپل، او په تحقیق تا خلافت ترسره کړی د علیه الصلوٰة والسلام په بنه توگه د خلافت او تا تگ وکړي پر لار، دده په بنه توگه او په بنه سلوك سره

خَيْرَ مَسْلَكٍ

پوه سه: چې منهاج او طریق په یوه معنا دی او مسلك مصدر میمي دی

وَقَاتَلْتَ اَهْلَ الرِّدَّةِ وَالْبِدَعِ وَمَهَّدْتَ الْاِسْلَامَ

او تا جنگ وکړي یعنی ودی وژل هغه کسان چې ورو وسته تر وفات د علیه السلام مرتد سوی وو او د هغه رنگ دی کړي دی د مبتدعانو سره او تا داسلام د دین توضیح وکړه،

وَشَيَّدْتَ اَرْكَانَهُ فَكُنْتَ خَيْرَ اِمَامٍ وَوَصَلْتَ الْاَرْحَامَ

اوتا محکمه کړه ارکان داسلام، نوته وی ښه امام یعنی مقتدا دامت مرحومه اوتا وسیله رحمی وکړه یعنی د پیس ماندګانو سره د علیه الصلوٰة والسلام یعنی ازواج مطهرات اوفاطمه رضی الله تعالیٰ عنهن

يُوْسَه: چې په دی عبارت کی رد دی پر هغو کسانو چې وائی په مابین کی دابوبکرؓ الصدیق اوفاطمه لوی عداوت وو، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَمْ تَزَلْ قَائِمًا بِالْحَقِّ نَاصِرًا لِلدِّيْنِ وَلِاَهْلِهِ حَتّٰى اَتَاكَ

اوهمیشه ته ولاړ وی دحق پر لاره اوکومک کوونکی وی د دین یعنی داسلام اوداهل اسلام حتی چې

الْيَقِيْنُ سَلِ اللّٰهَ سُبْحَانَهُ لَنَا دَوَامَ حُبِّكَ وَالْحَشْرَ

راغلی وتانه یقین یعنی مرګ، ته سوال وکړه دخدائ سبحانه څخه زمونږ دپاره د همیشه محبت ستا اوحشر په

مَعَ حِزْبِكَ وَقَبُوْلِ زِيَارَتِنَا اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ

ورځ دقیامت سره د ډلی ستا یعنی مسلمانانو اوخواست وکړه دقبول د زیارت زمونږ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ ورحمة الله وبركاته»

اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ دالله تعالیٰ سلامتیا اود الله تعالیٰ رحمت اوبرکت دی وی پرتا

ثُمَّ تَتَحَوَّلُ مِثْلَ ذٰلِكَ حَتّٰى تُحَاذِيَ رَأْسَ اَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ

اوبیا تیریږه په مثل دهغه یعنی یوګز حتی چې ته برابر سی د سر سره دامیر المؤمنین عمر بن الخطابؓ

عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ بْنِ الْخَطَّابِ فَتَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ

الله دی د ده څخه راضی سی نو به ورته ووایه سلام دی وی پر تا

يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُظْهِرَ الْاِسْلَامِ

ای د مؤمنانو امیره، سلام دی وی پرتا ای ښکاره کونکی داسلام په هغه وخت کی چې تا اسلام قبول کړی او

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُكَسِّرَ الْاَصْنَامِ جَزَاكَ اللّٰهُ عَنَّا

خصوصاً په مکه مکرمه کی چې تا اسلام قبول کړی، سلام دی وی پرتا ای د بتانو ماتوونکی، خدائ دی زمونږ دخوا ثواب

اَفْضَلَ الْجَزَاءِ لَقَدْ نَصَرْتَ الْاِسْلَامَ وَالْمُسْلِمِيْنَ

درکړی ښه ثواب، په تحقیق سره تا کومک کړی دی ددین سره داسلام اومسلمانانو سره، اوتا فتح

وَفَتَحْتَ مُعْظَمَ الْبِلَادِ بَعْدَ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ﷺ

کړی دی ډیر ښارونه دکفارو وروسته تر سید المرسلین صلی الله علیه وسلم، د روښن واضح چې تاریخ داسلام شاهد دی دد ے چې دین داسلام تر شرق اوغرب پورې اوبیا تر جنوب اوشمال پورې چې خپور سوی دی په برکت دجهاد دائم، دامیر المؤمنین عمر بن الخطابؓ تاریخ مطالعه کړه»

وَكَفَلْتَ الْاَيْتَامَ وَوَصَلْتَ الْاَرْحَامَ وَقَوِيَ بِكَ الْاِسْلَامُ

اوتا ضمانت یعنی دنفقی وغیره اخستی وو د یتیمانو، اوتا وصل کړه قرابتونه، اوقوت پیدا کړی په تا سره دین داسلام، د روښن واضح چې په صحیح حدیث کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام به په مکه شریفه کی خدائ ته خواست کاوه، په بل صحیح حدیث کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به سره د مسلمانانو په پټه په سرای کی د زید بن ارقمؓ لمونځ کاوه حتی چې عمرؓ مسلمان سو نو لمونځ یې په حرم کی د مکی مکرمی علانیةً وکړی» در» ط» قَالَ

وَكَفَلْتَ لِلْمُسْلِمِيْنَ اِمَامًا مَرْضِيًّا وَهَادِيًا مَهْدِيًّا

اوته وی د مسلمانانو دپاره امام چې مسلمانان په تا راضی وه اوته لارښود وی د مسلمانانو

جَمَعَتْ شَمْلَهُمْ وَاَعَنْتَ فَقِيْرَهُمْ وَجَبَرْتَ كَسِيْرَهُمْ

او پر هدایت وی ته، او تا سره تول کړی وه هغه تفرق چې په مسلمانانو کې وو، او ناملی کومک کړی دی

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ

د فقیرو د مسلمانانو، او تا سکنده کړیده د ماتو ځایه د مسلمانانو سلام دی وی پر تا او رحمت او برکت دی وی

ثُمَّ تَرْجِعُ قَدْرَ نِصْفِ ذِرَاعٍ فَتَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمَا

بیا بیرته رجوع وکړه د نیم لاس په اندازه، او وایه: السلام علیکما

يَا ضَجِيْعَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَفِيْقَيْهِ

دی وی پر تاسی دوا په بانډی ای هغو دوو کسانو چې تاسی بیده یاست سره د علیه الصلوٰة والسلام په

وَوَزِيْرَيْهِ وَمُشِيْرَيْهِ وَالْمُعَاوِنَيْنِ لَهٗ عَلَى الْقِيَامِ

بوه ځای کی یعنی په حجره کی د عائشه رض، او د دوو ملګرو د ده ص، او د دوو وزیرانو د ده ص، او د دوو مشاورینو

بِالدِّيْنِ وَالْقَائِمَيْنِ بَعْدَهٗ بِمَصَالِحِ الْمُسْلِمِيْنَ جَزَاكُمَا

د ده ص، او د دوو کومکیانو د ده ص پر ثبات د دین، او هغو دوو کسانو چې تاسی وروسته تر ده ص

اَللّٰهُ اَحْسَنَ الْجَزَاءِ

ثابت قدم واست په مصالح کی د مسلمانانو، خدائ دی ثوابونه

درکړی تاسی ته هغه ښه ثواب، قال

جِئْنَا كُمَا نَتَوَسَّلُ بِكُمَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

موږ راغلی یو تاسو ته چې موږ واسطه وګرځوو تاسی و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته

لِيَشْفَعَ لَنَا وَيَسْاَلُ اللّٰهَ رَبَّنَا اَنْ يَتَقَبَّلَ سَعْيَنَا وَيُحْيِيَنَا

موږ راغلی یو تاسو ته چې موږ واسطه وګرځوو تاسی و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دی د پاره چې

عَلٰى مِلَّتِهٖ وَيُمِيْتَنَا عَلَيْهَا وَيَحْشُرَنَا فِيْ زُمْرَتِهٖ ثُمَّ

دی مبارک زموږ شفاعت وکړی یعنی د خدای جل سلطانه پر دربار کی، او دی مبارک دی سوال وکړي د رب تعالیٰ

يَدْعُوْا لِنَفْسِهٖ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِمَنْ اَوْصَاهُ بِالدُّعَاءِ

زموږ چې خدائ قبول وګرځوی زموږ کوشش او دعاوی، او دی سوال دی وکړي چې موږ ته دی خدای

وَلِجَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ

جل جلاله ژوندی کړی په ملت د علیه الصلوٰة والسلام او موږ ته دی مرګ راکړي پر هغه ملت او موږ دی ژوندی کړي په ورځ د قیامت په ډله کی د علیه السلام، او بیا دی زیارت کوونکی دعا وکړی د ځان د پاره او د مور او پلار د پاره او هغو کسانو ته دی هم دعا وکړي چې ده ته ئې وصیت د دعا کړی وی، یعنی یا تفصیلاً نوم په نوم که فرصت وو یا اجمالاً یعنی داسی دی ووائی چې خدایه ته بخښنه وکړی ټولو هغو کسانو ته چې ما ته یه وصیت د دعا کولو کړی وو، او ټولو مسلمانانو نرو او ښځو ته دعا د مغفرت وکړي، قال المصنف:

ثُمَّ يَقِفُ عِنْدَ رَأْسِ النَّبِيِّ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

او بیا دی ودریږی پر سر ذات د سرد علیه الصلوٰة والسلام لکه اول وار یعنی دری ګزه لیری

كَالْاَوَّلِ وَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ قُلْتَ وَقَوْلُكَ الْحَقُّ

او داسی دی ووائی چې یا الله په تحقیق ستا ویلی دی یعنی په قرآن مجید کی او ستا قول حق دی،

وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ

که چیرې دوی یعنی ستا امتیان ظلم وکړي پر خپلو ځانو، یعني په سبب د کبائرو گنهو تاته راسي یعنی یاستا په ژوند

وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا ط

کی او یا په وفاته تحز ستا، نو دوی اولاً طلب د بخښنی دخدائ تحز وکړي او طلب د بخښنی وکړي و دوی ته رسول نو دوی به پیدا کړي خدای تعالیٰ بخښونکی او توبه قبلوونکی او مهربانه "

وَقَدْ جِئْنَاكَ سَامِعِيْنَ قَوْلَكَ طَائِعِيْنَ اَمْرَكَ مُسْتَشْفِعِيْنَ

او مونږ راغلی یو تاته ای الله، او اوریدلی دی مونږ ستا قول یعنی ایت مذکوره، او مونږ فرمان بردار

بِنَبِيِّكَ اِلَيْكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا يَارَبَّنَا وَلِاٰبَائِنَا وَاُمَّهَاتِنَا

یو ستا دامر یعنی هغه امر ضمنی چې د مذکوره ایت تحز معلومیږی، او مونږ تاته یا الله ج شفیع گرځوو

وَاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ

ستا نبیؐ، یا الله ج ته زمونږ ئی مونږ و بخښی او زمونږ گنهونه، او زمونږ پلرونه او مندی، او زمونږ وهغه

قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ

وروڼو ته بخښش وکړي چې زمونږ د مخه په اسلام مشرفه سوي دي، او مه پیدا کوی زمونږ

رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا

په زړو کی حسد او عداوت د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړي دی، ای زمونږ ربه ته رؤف او رحیم ئی

عَذَابَ النَّارِ ای ربه زمونږ مونږ ته راکړی په دنیا کی ښه حالت او په اخرت کی راکړی ښه حالت او مونږ و ساتې د عذابه تحز داور یعنی د جهنم تحز په وځ د قیا
مت کی

درویش والی چې د حسنه د دنیا او اخرت ترجمه په ښه حالت سره ډیره موزونه ده، ولی چې ښیځی عموم پیدا کوی "

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلٰمٌ عَلَى

او پاکی ده رب لره ستا، چې لرونکی د ډیر عزت دی، د هغه شیانو تحز چې کفار خدای په هغه سره موصوف

الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَيَزِيْدُ مَا

بولی لکه شریك، ولد، زوجه، وغیرها من الکفریات، او زیاتوی دی زائر هغه دعاوی چې د ده خوښی وی، او

شَآءَ وَيَدْعُوْ بِمَا حَضَرَهٗ وَيُوَفِّقُ لَهٗ بِفَضْلِ اللّٰهِ

دی دی خواستونه کوي په دربار کی د خدائ هغه دعاوی چې ده ته حاضري وی فی الوقت، او توفیق یې ورکړه سی ده ته په فضل د خدائ ۔

بښهانه فائده درویش والی چې په او سنیو کلو کی د حج دا مذکوره اداب د زیارت نبویؐ او دده دوړ فیقینو په حجره مبارکه کی او دا ډیر ډیر سلامونه او ډیر دریدل وقبر انور ته او دا ډیری دعاگانی په سبب د ازدحام هیڅ امکان نلري، او لیر خلگ به ډکوي چې او بیا په شرط د حرم نبویؐ دونه ډیر دریدو او سلامو ته نه پریږدی، نو که څوك غواړي چې زیارت طریقه مذکوره مفصلاً د زیارت نبویؐ اداب پر ځای کړم، نو په اولو ورځو کی چې د عمري ویزې د حکومت پاکستان د خوا جاري سی، یا سپورټ دی وکی او د دوو درو میاشتو ویزه دی پر واخلی، نو به په مکه مکرمه کی هم لږ ازدحام طوافونه اولوازم د طوافو به پر ځای کړي، او هم په مدینه منوره کی اداب د زیارة نبویؐ او نور زیارتونه په ښه بیغمی وکړي، او خپل زړه به خنك کړي، او که ویزه اخستل د دریو څلورو میاشتی پوري وځنډوي په هغه میاشت کی بیا دونه ازدحام وی هم په مکه شریفه کی او هم په مدینه منوره کی، لکن بعض کسان په روژه کی چې عمري ته ځي د عربو د زکاتو په نیت ځي چې عرب په دغه میاشت کی ډیر ډیر زکاتونه پر مسکینانو ویشی، نو دی هم په یوه بهانه او په بله بهانه د حرمینو د یوه

شته څه په ذریعه به دغو عربو ګرځي، که څه هم دي غني وي او زکوة ورته روانه وي، او دی چې عربستان ته
ئې څنګه ته وئې چې زه عمری ته ځم، او دا نه وائې چې زه هلته سوال کوم"
قال علیه الصلوٰة والسلام
بیت سه بزرت: ممر بیدا و در دل با صنم: ای بباطل کافر وظلب مسلمانی چه سود:
انما الاعمال بالنیات وانما لامرئٍ مانوی « الحدیث»

ثُمَّ یَأْتِیْ اُسْطُوَانَةَ اَبِیْ لُبَابَةَ الَّتِیْ رَبَطَ بِهَا نَفْسَهٗ حَتّٰی

ویدی وریځی ونیتبی ته د ابولبابه رض چې اوس مشهوره په استطوانة التوبه سره ده، او دغه توري په

تَابَ اللهُ عَلَیْهِ وَهِیَ بَیْنَ الْقَبْرِ وَالْمِنْبَرِ وَیُصَلِّیْ مَاشَآءَ

سرکي د هغې تنبې نوښته هم دي، چې په دې تنبې پوری ابولبابه خپل ځان تړلی وو په سبب د یوې جرم چې

نَفْلًا وَیَتُوْبُ اِلَی اللهِ وَیَأْتِیْ بِمَا شَآءَ مِنَ الْاَدْعِیَةِ

د د ه څخه صادر سوی وه چې قصه ئې په طول سره د حدیثو په کتابو کی ذکر ده، او تر هغو وخته پوری د ه ځان تړلی
و څو توبه به قبوله سوه، او د ه قسم کړی وو چې تر څو پوری ما نه خپله آنحضرت صلی الله علیه وسلم خلاص
نه کړی خوک به ما نه خلاصوی، حتی چې اخیر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دی په خپلو مبارکو لاسو دی
خلاص کړی، او دا تنبه په مابین کی د قبر نبوی ص او د منبر واقع ده، نو هلته دی لمونځ وکړي چې دده خوښه
وی نفل لمونځ او توبه دی د ټولو ګناهو څخه وکابزي، **پوه سه** چې د دغه استطوانی توبه
وخنګ ته توبه کښل تبرکًا دی په امید د دی چې لکه د ابولبابه رض چې هم دلته توبه قبوله سوې وه شاید
زما توبه هم خدای جل سُلطانه قبول کړي، او دعا دی وکړي په هغه دعا ګانو سره چې دده خوښه وي، قال

وَیَأْتِیْ الرَّوْضَةَ فَیُصَلِّیْ مَاشَآءَ وَیَدْعُوْ بِمَا اَحَبَّ وَیُکْثِرُ

او وردی سی هغه ځای ته د مسجد نبوی ص چې د روضة الجنة په نامه مشهور وده، هلته دی نفلونه وکړي
چې دده خوښه وي لیکن تعداد معین درکښ نسته، او دعا دی وکړي په هغه شی سره چې دده خوښه وی

مِنَ التَّسْبِیْحِ وَالتَّهْلِیْلِ وَالثَّنَآءِ وَالْاِسْتِغْفَارِ

او ډیری دی وائی کلمات د سُبحان الله، او د لا اله الا الله او د الحمدُ لله او د استغفرالله،

ثُمَّ یَأْتِی الْمِنْبَرَ فَیَضَعُ یَدَهٗ عَلَی الرُّمَّانَةِ الَّتِیْ کَانَتْ بِهٖ تَبَرُّکًا

او بیا دی ورو سته ورسی منبر نبوی ص ته او لاس دی کښیږدی پر هغه ځای چې د انار په شکل دی چې په منبر

بِاَثَرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَمَکَانَ یَدِهٖ

نبوی ص کی وو په عصر نبوی کی د پاره د تبرک دی لاس پر کښیږدی، په اثر د رسول الله صلی الله علیه وسلم

الشَّرِیْفَةِ اِذَا خَطَبَ لِیَنَالَ بَرَکَتَهٗ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

او تبرک په هغه ځای سره چې دده مبارک به لاس پر ایښودی چې خطبه به ئې وئیل تا چې د ه ته ورسیږی

برکت د آنحضرت صلی الله علیه وسلم او درود
وَیُصَلِّیْ عَلَیْهِ وَیَسْأَلُ مَاشَآءَ دی ووائي پر علیه الصلوٰة والسلام بانـدی
او سوال دی وکی د خدای هغه شی چې دده خوښه وي، **پوه سه**: چې و هابیان دغه تبرک کول
بدعت بلکه شرک یه بولي، وَاللهُ المستعان، دیوه عالِم څخه چې روضی مبارکی ته ورغلی وو پی اختیاره
ترخوله چغه او بغاره وختلی وه، نو فورًا شُرطی (پولیس) د حرم دی بوتلی او تخمینًا یوه میاشت په بندی
کړی وو"

ثُمَّ یَأْتِی الْاُسْطُوَانَةَ الْحَنَّانَةَ وَهِیَ الَّتِیْ فِیْهَا

او بیا دی ورسی هغه تنبی ته چې په نامه د حنانی شهرت لري، او دغه هغه تنبه ده چې په دغه تنبه

بَقِیَّةُ الْجِذْعِ الَّذِیْ حَنَّ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

هغه لرګی پټ دی چې هغه لرګی ځګیروی وکړی و نبی علیه الصلوٰة والسلام ته چې ده دغه لرګی پریښوداو
خطبه یه پر منبر شروع کړه"

اوددی لرګی څګیروی ټولو حاضرینو واوریدی حتیٰ چی علیه الصلوٰة والسلام مجبور سو د منبره
څخه ور ته راکښته سو او دا لرګی ئې په غیږ کې پورته ونیوی۔ او هغه لرګی کرار کرار ژړا لګولې
بخاری وائی لکه کښتی چی سړی غلی کوی، درویش وائی دا حدیث په طول سره دارمی دا روایت کړی
دی د بریده څخه هغه وائی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د څخه د منبر تر جوړیدو یو وچ لرګی
د خرما و هغه ته به دریدی او خطبه ئې ویلیله، وروسته چی منبر دیوی بنځی مریٔ چی نجار وو
جوړ کړی، او علیه السلام د جمعې په ورځ پر منبر خطبه شروع کړه، او د تجوانی لرګی څخه ژړا سو، نو دی لرګی
دا سی بغاری شروع کی، د حدیث نوری دادی، کما تحن الناقة، نو علیه الصلوٰة والسلام بیرته ور ته
راغلی او لاس مبارک ئې پر کښیښود، او ورته وی ویلیله چی که ستا خوښه وی ره به تا په هم دغه ځای
کی شنه کړم او که دی خوښه وی په جنت کی به تا شنه درخته وګرځوم چی تر به د جنت اولیا چینی،
یعنی څښلو، لیبو وره، او تا به میوه کوی چی اولیاء الله به ستا د میوی څخه خوراک کوی نو علیه السلام
واوریده د لرګی څخه نعم نعم، هو هو په جنت کی می د رخته وګرځوه باره د لرګی ژړا ساکته سوه، نو هغه
وخت چی د مسجد نبوی ستنی جوړیدی هغه لرګی په یوه ستنه کی دننه راوستی چی هغی ستنی ته ستنه حنانه
وائی، درویش وائی چی دغه حدیث بخاری مختصر راوړی او دارمی او طبرانی په طول سره راوړی دی
د عبد الله ابن بریده او هغه دخپل پلار بریده څخه روایت کړی، درویش وائی هم په دغه حدیث کی
مونږ څه اختصار وکړی۔ قال المصنفؒ:

وَيَتَبَرَّكُ بِمَا بَقِيَ مِنَ الْآثَارِ النَّبَوِيَّةِ وَالْأَمَاكِنِ الشَّرِيفَةِ

او تبرک دی کوی زائر په هغو آثارو چی د نبی علیه الصلوٰة والسلام څخه پاته دی په مدینه منوره کی او دغه
رنګه دی تبرک کوی په شریفو ځایونو۔ قال المصنفؒ:

وَيَجْتَهِدُ فِي إِحْيَاءِ اللَّيَالِي مُدَّةَ إِقَامَتِهِ

او کوښش دی کوی زائر په روڼولو
کی د شپو یعنی په عبادت سره، درویش وائی که مراد د مصنفؒ احیاء د شپو په مسجد نبوی کی
غواړی نو په موجوده وخت کی خو خولګ نه پرېږدي، یعنی شرطه (پولیس) چی د شپی په حرم نبوی کی

وی، او که مراد عام وی بیا نو هیڅ اشکال نسته په موده کی د اقامت او او سیدو د ده په مدینه منوره کی

وَاغْتِنَامِ مُشَاهَدَةِ الْحَضْرَةِ النَّبَوِيَّةِ وَزِيَارَتِهِ فِي عُمُومِ الْأَوْقَاتِ

او زائر دی غنیمت ګڼړلی لیدل د حضرت نبویؐ او د ده زیارت په عامو وقتو کی

وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يَخْرُجَ إِلَى الْبَقِيعِ فَيَأْتِي الْمَشَاهِدَ وَالْمَزَارَاتِ

او مستحب ده چی ودی وزی د بقیع وخواته نو ورودی سی مشاهدو او مزاراتو ته د دی د وارو مخانو

خُصُوصًا قَبْرَ سَيِّدِ الشُّهَدَاءِ حَمْزَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ عَنْهُ

خصوصًا و قبر ته د سید الشهداء حمزه رضی الله تعالیٰ عنه او بیا دی ورسی بلی ادرکی ته، الله دی له حمزه څخه راضی سی

ثُمَّ يَأْتِي الْبَقِيعَ الْآخَرَ فَيَزُورُ الْعَبَّاسَ وَالْحَسَنَ

او بیا دی ورسی و بلی هدیری ته چی هغه مشهوره ده په بقیع سره نو هلته دی زیارت وکړی د عباس او د حسن

ابْنِ عَلِيٍّ وَبَقِيَّةِ آلِ الرَّسُولِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ عَنْهُمْ

چی د علیؓ زوی دی، او باقی آل الرسول رضی الله تعالیٰ دی د دوی څخه راضی سی،

وَيَزُورُ أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ

او زیارت دی وکی د امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضی الله عنه او دغه رنګه دی زیارت وکړی د ابراهیم

تَعَالَىٰ عَنْهُ وَإِبْرَاهِيمَ بْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الله تعالیٰ دی د ده څخه راضی سی چی د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم زوی دی،

وَاَزْوَاجَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَعَمَّتِهٖ صَفِیَّةَ

روداغږ ګه دی زیارت وکړی دازواجو مطهراتو د نبی علیه الصلوٰة والسلام اود امه دده چې

وَالصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِیْنَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمْ

صفیه ئې نوم دی، او د نورو صحابه وو او تابعینو الله تعالیٰ دی ددوی ټولو څخه راضی سی"

لَطِیْفَه سَنِیَّهٗ

خرنګه چې د حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه نوم عَبد الله دی چې د نامه په سرکې عین دی او د عمر رض د نامه په سرکې هم عین دی، او د عثمان رض د نامه په سرکې هم عین دی، وهکذا د حضرت علی رض د نامه په سرکې هم عین دی، او عین په حساب د اَبجد ۷۰ دی. او د علیه الصلوٰة والسلام د نامه په سرکې میم دی چې په حساب د اَبجد ۴۰ دی" نو ما یوه ورځ اعلان وکړی طالبانو ته چې ما ولیدل له خلورو ګروپه (بلیان) چې هر یو ۷۰ وولټه وو چې رڼا یې ډیره تیزه وه اَمّا سره د هغه یو بل بلب چې ۴۰ وولټه وو پردوی خلورو سره وو بلبانو باندی غالبه وه! حتی چې هغه بلبان ټول ورته تاریك معلومیده، نو دا څرنګه امکان لري! لکن په سوال کی ما نوم انو ته د علیه الصلوٰة والسلام او د خلفاء راشدینو اشاره نه وه کړی او نه می حساب ته د اَبجد بلکه صرف دو مرو می لیکلی وه: چې ما ولیده خلور بلبه چې هر یو ۷۰ وولټه وو، او په مابین کی یو بلب وو چې ۴۰ هغه خلوېښت وولټه وو، ومع هذا دغه ۴۰ وولټه والا په هغه نورو ټولو غالب وو، د دی خبری وتوجیه ته طالبان عاجز پاته سوه بیا نو ما بیرته تشریح ورته وکړه"

ـــ چې نه راغلی پر عالم باندی رڼا شوه ؛ دا عالم وا په هم ستا په روی پیدا شوه ؛
نازنین جانانه ما شفاعت وکړه ؛ حقانی لره پیدا ستا تمنا شــــوه ؛

وَتَزُوْرُ شُهَدَاءَ اُحُدٍ وَاِنْ تَیَسَّرَ یَوْمَ الْخَمِیْسِ فَهُوَ

او زیارت ته دی ورسی د احد د شهیدانو او که ورته اسانه وه نو ورځ د پنجشنبی ډیره ښه ده، او

اَحْسَنُ وَیَقُوْلُ سَلَامٌ عَلَیْکُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ

هلته چې ورسی داسی دی ووائی سَلَامٌ عَلَیْکُمْ په سبب د صبر ستاسی یعنی پر نورو ښو د جام د شهادت او

عُقْبَی الدَّارِ وَیَقْرَءُ اٰیَةَ الْکُرْسِیِّ وَالْاِخْلَاصَ اِحْدٰی

ښه دی دار اخرت تاسی لره، او بیا دی اٰیت الکرسی و وائي یعنی یو وار او بیا دی قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ یوولس

عَشْرَةَ مَرَّةً وَسُوْرَةَ یٰسٓ اِنْ تَیَسَّرَ وَیُهْدِیْ

واره. او سورة یٰسٓ که ورته آسانه وه، او ودی بخښی د هغو ټولو ثوابونه و ټولو شهداوو

ثَوَابَ ذٰلِکَ لِجَمِیْعِ الشُّهَدَاءِ وَمَنْ بِجِوَارِهِمْ مِنَ

ته د احد او هغه چاته چې په همسایه توب کی ددوی وی د مسلمانانو څخه، دارقطنی

الْمُؤْمِنِیْنَ

دارقطنی د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روایت کړی دی چې که څوك تیریږی پر هدیرو باندی، او دی یوولس واره قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ووائی او ثواب ئې ومړوته و بخښی د هغه هدیری الله تعالیٰ به ده ته د هغه هدیری د مړو په تعداد او مقدار سره ده ته ثوابونه ورکړی،

وَیُسْتَحَبُّ اَنْ یَّاْتِیَ مَسْجِدَ قُبَاءٍ یَوْمَ السَّبْتِ اَوْغَیْرِهٖ

او مستحب ده چې زائر دی ورسی مسجد قباء ته په ورځ د شنبی او یا بله ورځ

وَیُصَلِّیْ فِیْهِ

او په هغه مسجد کی دی څور کعته لمونځ وکړی" په حدیث شریف کی راغلی

دي چې علیه الصلوٰة والسلام هره دشنبې ورځ مسجد قباء ته ورتلی او هلته به نفل کول

فائده: علماء حضرات په دې خوله وائي چې بهترین د مسجدو وروسته تر مسجد الحرام او مسجد نبوي په مدینه منوره کې او تر مسجد اقصٰی د بیت المقدس هم دغه مسجد قباء دی،

وَيَقُولُ بَعْدَ دُعَائِهِ بِمَا أَحَبَّ يَا صَرِيخَ الْمُسْتَصْرِخِينَ

او وردې وائي پس له دعا ځنې هغه ډول چې دده خوښه وي، ای مددکوونکی د مدد طلبونکو، او ای

يَا غِيَاثَ الْمُسْتَغِيثِينَ وَيَا مُفَرِّجَ عَنِ الْمَكْرُوبِينَ

فریاد رسیدونکی د کومک غوښتونکو، او ای لیری کوونکې د غمجنو خلکو او ای قبلوونکې

يَا مُجِيبَ دَعْوَةِ الْمَكْرُوبِينَ يَا مُجِيبَ دَعْوَةِ

د دعا د غم په اخته وو خلکو، او ای قبلوونکې د دعا د مجبورو خلکو، ته رحم وکړې

الْمُضْطَرِّينَ صَلِّ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَاكْشِفْ

پر سید زموږ محمد صلی الله علیه وسلم باندې، او دده پر آل باندې، او لیرې

كَرْبِي وَحُزْنِي كَمَا كَشَفْتَ عَنْ رَسُولِكَ حُزْنَهُ

کرب او غم لکه چې تا یا الله لیرې کړی د رسول ځنې حزن او کرب دده په دی ځای کې

وَكَرْبَهُ فِي هَذَا الْمَقَامِ يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ يَا كَثِيرَ الْمَعْرُوفِ

یعنی په قبا کې، په احادیثو صحیحه وو کې راغلی دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې ۱۳ کاله

وَالْإِحْسَانِ يَا دَائِمَ النِّعَمِ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ

د نبوت په زمانه کې د مشرکینو د مکې د خوا ځنې د غم او تکلیف سپی او وږځی تیرې کړې او په حکم الهی سره د مدینې منورې په هجرت مامور شو، او د هجرت لاره یې قطع کړه، او ثنیة الوداع ته مهاجرین چې د مخه لا مدینې منورې ته راغلی وه او انصار د مدینې ټوله په انتظار د راتګ د علیه الصلوٰة والسلام ناست وه نا ګهاه چې مرکب د علیه الصلوٰة والسلام را ورسیدی دوی دا بیت په ډیر جوش او خروش سره وایه: ـــه

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوَدَاعِ ۞ وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعٍ ۔

نو پس قدمبوسی د علیه الصلوٰة والسلام چې ته اول چیری قرارګاه نیی! آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې په قبا کې، په قبا کې بنی النجار آباد وه چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم مور هم د دغه قوم ځنې وه، نو قبا ته چې راغلی ۱۴ ورځې په قبا کې قیام وکړ او د غو څلورو په دوران کې مسجد قبا په ډیر ساده ډول جوړ کړی، او علیه الصلوٰة والسلام د مشرکانو د مکې ځنې بیغمه شو، نو مصنف په دغه عبارت کې: كَمَا كَشَفْتَ آه و دغه قصې ته اشاره وکړه، وروسته مصنف زیاته کړه، یَا حَنَّانُ، یَا مَنَّانُ، یاکثیرالمعروف والاحسان په عطف تفسیري، یا دائم النعم یا اَرحَمَ الراحِمِين»

وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ

او د الله تعالیٰ رحمتونه دې وي زموږ پر سردار محمد صلی الله علیه وسلم او دده پر آل

وَسَلَّمَ تَسْلِيمًا دَائِمًا أَبَدًا يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ آمِينَ

او دده پر صحابه کرامو دې سلامونه وي همیشه ای د ټول عالم ربه، زموږ دا دعا قبوله کړه « د رولیش وائي چې نور الایضاح سره د مفصلی شرحې پر دغه ځای ختم او زه هم وایم چې یا الله جل جلاله و عم نواله « ما او زما اولاد او د اولاد اولاد د دنیا او اخرت د غمو ځنې وساتې، او د مفسدانو او حاسدانو، او د شیطانانو د شر او فساد ځنې او د فتنې ځنې وساتې او رزق حلال را کړې، د بندګانو د محتاجې ځنې مو وساتې

امین امین امین وصلی الله علیه وسلم تسلیما کثیرًا واله وصحبه اجمعین امین یارب العلمین برحمتك یا ارحم الراحمین"

ربه ته ئې قبول کړي

کتاب خلاص سو په لوی فضل د سُبحان
د ایضاح وضاحت وسو په ښه شان

دا تصنیف دابوالفضل علامه دئ
په پښتو یې دین واضح کړی ښه روښان

په دري جلده کې پوره سوه ملغلره
داسي ښکاري لکه قند یاقوت مرجان

تقریبًا یخه لس سوه ئې صفحې دي
ښه کاغذ، ښه ئې تاپ تیل ښه ئې بیان

مسائل د دین ټې ښه دي بیان کړي
فائده اخلي تري امیان هم مُلایان

زمونږ پر دین مین وکړي چې هر څه دي
که انصار دی د وطن که د افغان

که پر نورو هیوادو د هجرت ژوند کړي
جرمني، تالیند، هالیند که د ایران

هم پر نورو هیوادو کي د اغیارو
مسائل ئې یادوي زنان مردان

ربه ته ئې د صحت حفاظت وکړه
چې تا دین نور هم عبادوته کړي عیان

حقاني چې د حضرت کتاب لیکمه
ربه ته ئې کړي قبول په هر زمان

ابوالفضل الحق حقانی عفی عنہ خادم طلباء الفرقان
۱۹-۹-۱۴۲۳ھ

څه د لیکوال (کاتب) په اړه

لیک
مولانا قاري نقیب احمد
برادر خورد حقاني

د دی ښکلي کتاب یعنی پښتو نورالایضاح چې په دری جلدونو کی د فقه حنفی یو مفصل او یو معتمد کتاب ور څخه جوړ سو د اچا لیکلی! نوم ئې څه دی! تعلیم ئې څه دی! او داسی نور محترمو لوستونکو! د دی کتاب کاتب او لیکونکی مولانا قاري فضل الحق حقاني د ئ.

اِبتدائی تعلیم مولانا قاري فضل الحق حقاني اولیات یخچل کور کی پر خپل والد صاحب حضرة مولانا الحاج نثار احمد عریف صاحب باندی ویلی دي، چې دوخت یو تکړه او مشهوره عالم دی او د علم سره سره د خپل قوم مشر هم بلل کیږي، د ابتدائی تعلیم ورو سته ئې د با قاعده طالبی او مسافری په صورت کی د کوئټې ښار په مختلفو مدرسو کی زده کړه کړیده، لکه د مولانا عبدالغفور صاحب مدرسه منظر العلوم شالدره، د مولانا نور محمد صاحب مدرسه دارالعلوم الاسلامیه، او د دی څخه علاوه معقولات او هم د منقولاتو یولویه برخه ئې د استاذ کل علامة العصر والدهر جامع الکمالات ابوالفضل مولانا محمد عبید الله الایوبي القندهاري السلیمانخیلی سره ویلی ده،

اِنتهائی تعلیم حقاني صاحب دوره حدیث د پاکستان دیولوی مؤرخ، محدث او تکړه او حق گویه عالم حضرت مولانا شیخ القرآن والحدیث حسن جان المدنی مدظله سره کړیده چې د غه وخت یعنی ۱۴۱۴ھ ۱۹۹۴ء کی په مدرسه امداد العلوم الاسلامیه صدر بازار پشاور کی د حدیثو درس ورکاوه، او په ټوله دوره حدیث کی ئې د دوهم نمبر اعزاز هم تر لاسه کړ او همدارنګه ئې د وفاق المدارس العربیه په امتحان کی ښه نمبرونه حاصل کړه، او په همدغه کال کی د علوم اسلامیه وو څخه فارغ سو:

د قرائت او تجوید زده کړه حقاني صاحب ابتدائي تجوید په کوئټه کی د علم تجوید په معروفه او مشهوره مدرسه، جامعه عربیه مرکزیه تجوید القرآن سرکی روډ کوئټه کی شروع کړ، چې د دوه کاله ویلو وروسته په امتیازی نمبرو سره کامیاب

علمِ قراءت

د علم قراءت د حاصلولو لپاره ئې بیا د پنجاب ایالت د لاهور و بنار ته اراده د سفر وکړه، لاهور د پاکستان د جوړېدو وروسته د خوشیانو مرکز وو او هم د ا اوس هم مرکز دی لکه علم قراءت، او علم خطاطي. په لاهور کې د علم تجوید او قراءت یو مشهور او مرکزی مدرسه، جامعه مدنیه کې ئې د علم قراءات سبعه د مشهور او زیب مندرین کتاب الشاطبیه د وئیلو لپاره داخله واخسته، چې په دغه وخت کې د علم قراءت یو محقق او مدقق استاذ حضرت مولانا قاری محمد رمضان صاحب مدظله العالی استاد وو. او هم په داغه کال کې د تعطیلاتو په شپو کې د قراءت ثلثه المتممة للعشرة د مشهور کتاب "الدرة المضیئة" څخه هم فارغ سو، چې دا ئې بیا دوخت د مشهور مصنف حضرت مولانا قاری محمد ادریس العاصم صاحب څخه په مدرسه تجوید القرآن العالیه شیرانواله گیټ لاهور کې و وئیل، چې دا سی نود سبعه او عشره دواړو څخه فارغ سو۔

محافلو کې گډون

حقاني صاحب د قرائت په مختلفو محافلو کې هم گډون کړی دی که هغه په صوبائي یا علاقائي سطحه باندی او که د ټول پاکستان په سطحه باندی وي، او د بلوچستان د نمائنده په شکل ئې خدمت کړی دی، او په بلوچستان کې څرنګه چې د علم قرائت و طرفته رغبت او تشویق نه وو حتی چې دا علم یو متروک العمل گرځیدلی وو، او نه هم په مقامی سطحه باندی د قراوو په مابین کې ناسته ولاړه وه او نه څه تعلق

د جمعیة القراء بنیاد

نو حضرت حقانی صاحب چې څه وخت دا حال ولیدی، نوئې یو وار د خپلو ملګرو یو اجلاس راوغوښتی او هغوی ئې په دی پوه کړه چې هم داموږ او تاسی به رابطه سا تو او د قرآن مجید د تجوید او قراءت و طرفته به خلک رابولو او دا فن به په مدارسو او مکاتبو او مساجدو کې عامه وود درس او تدریس په شکل، د محفلونو په شکل او د تصنیف او تالیف په شکل، هغه وو چې په ۱۴۱۲ھ ۱۹۹۲ء کې باقاعده د جمعیت القراء بنیاد کېښبود سُو او گډون کوونکو په اتفاق دی په حیث د ناظم اعلیٰ و ټاکی، چې الحمد لله دې تنظیم داسی په خلوص سره خپل خِدماتو ته ادامه ورکړه چې تر اوسه ئې د مقامی بی شماره محفلونو ما سوا دوه واره سالانه د ټول پاکستان په سطحه باندی محفلونه کړیدي۔

د خطاطۍ ذوق

حقاني لکه چې ستاسو په لاسونو کې دده پلاس لیکل سوی کتابونه ئې د خطاطۍ سره ئې د کچنوالی سره ډیره مینه درلوده، په کوټه کې ئې د خط نستعلیق ذوق د خطاط راز محمد راز څخه چې د خپل وخت یو تکړه کاتب وو کړیده او بیا د لاهور په سفر کې د خط نسخ تعلیم او اصلاح د رئیس الخطاطین حضرت انور حسین نفیس رقم چې په شاه نفیس سره شهرت کړی دی، چې دیوناموا او نړیوال شاعر او خطاط علاوه یو لوی صوفي هم وو چې ډیر علماء یې پر لاس بیعت وه، د خطاطۍ په یوه سیالۍ کې حقاني په ټول بلوچستان کې دوهم نمبر تر لاسه کړ او اعزازی ډیپلمونه ورکړه سوی دی۔

شاعری

حقاني صاحب ته که الله تعالیٰ روان قلم، تقریر، تحریر، کتابت، خطابت، قراءت او علومو سره نازولی دی، هغه د شعر او شاعری په میدان کې هم ښه پوره قدرت لري، ښه روان شعر لیکی، خو بده مرغه څرچې لیکی هغه د ځان سره هیڅ کله هم نه ساتي، دده په وینا چې د شعر او شاعری په میدان کې ډیرو آسان ننګلولی دی، او زما ضرورت نسته، په هغه فن او علم کی کار کول پکار دی، د کوم علم او فن چې رجال کم او یا محط وي، دده ډیر شعرونه په مختلفو ورځپاڼو او مجلو کې خپاره سوي لکه د کوټې او پېښور هیواد ورځپاڼه، او داسی نور په او لنی اشعارو کې به ئې د ځان تخلص "مظلومیار" نوشته کوی، خو دده په وینا تخلص باید د ذمه جزوي نو څرنګه چې دده په نامه کې د "حق" لفظ سته نو ځکه د ځان سره "حقاني" کاږي۔

تراجم او حواشي

قاری حقاني ډیر کتابونه د مختلفو ژبو څخه په پښتو ژباړلي دی، په ځانګړو توګه بیا د قرآن مجید د تجوید کتابونه لکه "جمال القرآن، فوائد مکیه، مقدمه الجزریه، القول السدید، هدایة المستفید، تسهیل التجوید، خلاصة التجوید، مفتاح التجوید، تحبیر التجوید، معارف التجوید، تیسیر التجوید، او د فقه په مسائلو کې، الفقه المیسر (اسانه فقه)، د بهشتی زیور مسئلی، په عقائدو کې، تعلیم العقائد، او داسی نور"

لیکوالی

حقاني که د شعر و شاعری میدان نه دی پری ایښی هم دا رنګه ډیر مضمونونه ئې په ورځپاڼو او مجلو کی د وخت پر مختلفو موضوعاتو کی چاپ سوی دي، د مثل په توګه "د قرآن مجید تجوید او د هغه لیک دود، رسم الخط د کوټې په یوه مجله کې په خپرو

قسطونو باندې مشتمله چاپ سوي دي"

پښتوکي ترجمه

قاري حقاني صاحب که څه هم دقامي لحاظه په قوم بروهي، مینګل، امیرزئ دی، چې پوره سلسله ئې څه داسې ده، فضل الحق حقاني ابن الحاج مولانا نثار احمد عریف، قوم بروهي، مینګل، امیرزئ، پندوخزئ، دی، چې دریځ پیړۍ د مخه د نوشکي، زاړه او عمرشاه، د مضافاتو څخه وافغانستان ته تللي دي، او هلته د هلمند ولایت په مضافاتوکي اوسیدلي دي، نوځکه چې د یوې خوا په پښتوکي د داسې کتابو ضرورت وو، نوځکه حقاني صاحب اکثره لیکني او ژباړې په پښتوکي کړې دي۔

درس او تدریس

د خپلو زده کړو واختتام ته درسیدو سره سمدستي د مدرسه عربیه مرکزیه تجوید القرآن سرکي روډ کوئټې په بلنه په کال ۱۹۹۵ء ۱۴۱۵ھ کي د مدرس او استاذ په حیث ورته کل سو او د درس او تدریس او تصنیف او تالیف سره حقاني صاحب د مختلفو مساجدو د مقتدیانو په بلنه په حیث د امام او خطیب هم خدمت کړې دی، لکه جامع مسجد الله والا جناح روډ کوټه، جامع مسجد ابوبکر الصدیق خوځک روډ (پاکستان چلډرنز اکیډمی) جامع مسجد سراج نیوجان محمد روډ کوټه او جامع مسجد مدینه سټیلائټ ټاون بلاک ۲ سبي روډ کوټه، او په هر مسجد کي هم د سهار له خوا قبل الوقت او هم ماز دیګر تر ماښامه په سوونو طالبانو د علم تجوید او علم قراءت زده کړه کړېده، چې الحمد لله هم تر دا اوسه پورې دا سلسله جاري ده،

دوره تجوید:

قاري صاحب د څلورکاله څخه راپه دې خوا د مدرسو د رخصتي په وخت کي طالب علمانو لپاره دوره تجوید ایږدي چې د طالبانو د اصلاح په لوی سبب ګرځي او د قرآن مجید د صحیح ویلو احساسات را پیدا کوي

کلني جنتري

حقاني په ټول پاکستان او افغانستان کي تر ټولو اداري د مخه یو صحیح، بادُسته او په درې ژبو د تاریخه مشتمله جنتري جوړوي چې په زرګونو معلوماتو مشتمله وي، الله تعالی دي د ده دا کوششونه قبول او د نورو خدمت کولو توفیق ورکړي، امین،

قاري مولانا نقیب احمد
قومي ایوارډ یافته امام و خطیب
جامع مسجد الله والا کوئټه

د پښتو نور الایضاح دریم (۳) ټوک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۱	د ناشر او کاتب عرض	۲
۲	د تفسیر ایوبي اعلان،	۲
۳	باب سجود التلاوة	۷
۴	د درویش اعتذار	۱۱
۵	مهمه فتنه شوه	۱۲
۶	دیوه حاجي واقعه	۱۶
۷	سپها نز بنوونه	۱۷
۸	درویش وائي	۲۳
۹	فضل سجدة الشکر	۲۷
۱۰	ایوبي بیټکه	۳۰
۱۱	باب الجمعة	۳۱
۱۲	د جمعې د ورځې مناسبت	۳۱
۱۳	د عوامو غلطیا	۳۲
۱۴	په بعض کتابوکي دی تر ازان ثالث	۵۷
۱۵	حکایت	۵۸
۱۶	که امام د درود ویلو امر وکړي	۵۹
۱۷	خیال فاسید	۶۱
۱۸	تتمه	۶۳
۱۹	حکمت	۶۶
۲۰	د بړیتو په باره کي تحقیق	۶۷

د پښتو نور الایضاح دریم ټوک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۲۱	د ن یرې په باب تحقیق	۶۸
۲۲	د ن یرې نورو لو مسائل	۶۹
۲۳	باب العیدین	۷۰
۲۴	شکایت	۷۰
۲۵	مسواک وهل	۷۵
۲۶	درویش وایې	۸۴
۲۷	فوائد	۸۹
۲۸	تفریع	۸۹
۲۹	حکایت	۹۰
۳۰	درویش وایې	۹۱
۳۱	پوښتنه	۹۳
۳۲	خود حیرانتیا خبره ده	۹۶
۳۳	باب صلوٰة الکسوف والخسوف	۹۷
۳۴	اختلاف د علماوو	۹۹
۳۵	درویش وایې	۱۰۰
۳۶	باب الاستسقاء	۱۰۲
۳۷	واقعه	۱۰۵
۳۸	باب صلوٰة الخوف	۱۱۰
۳۹	د فائدې خبرې	۱۱۰
۴۰	ښهاسنه فائده	۱۱۳

د پښتو نور الایضاح دریم ټوک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۴۱	تاریخي کتنه او یادګار	۱۱۵
۴۲	باب الجنائز	۱۱۷
۴۳	درویش وایې	۱۱۹
۴۴	واقعه فی تائید التاخیر	۱۲۵
۴۵	تحقیق غسل المیت	۱۲۸
۴۶	ښهاسنه فائده	۱۳۳
۴۷	تاریخي یادګار	۱۴۲
۴۸	فصل	۱۴۳
۴۹	ومن خصائص صلاة جنازة النبی ص	۱۴۹
۵۰	فصل السلطان احق بصلوته	۱۵۴
۵۱	مهمه فائده	۱۵۷
۵۲	فصل فی حملها و دفنها	۱۶۷
۵۳	فائدة سنية	۱۷۵
۵۴	فوائد شتّیٰ	۱۷۹
۵۵	فائدة سنية	۱۸۱
۵۶	اختلاف د ضیافت او میلمستیا	۱۸۲
۵۷	فصل فی زیارة القبور	۱۸۵
۵۸	درویش وایې	۱۸۷
۵۹	مسئله شرعیه	۱۹۰
۶۰	باب احکام الشهید	۱۹۲

د پښتو نور الایضاح دریم ټوک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
٦١	فائدة سنية	١٩٨
٦٢	كتاب الصوم	٢٠٠
٦٣	فصل فی صفة الصوم وتقسيمه	٢٠٦
٦٤	فصل فيما يشترط تبييت النية	٢١٣
٦٥	فصل فيما يثبت به الهلال	٢١٨
٦٦	اختلاف د شک روځی	٢٢٠
٦٧	باب مالا يفسد الصوم	٢٢٣
٦٨	باب ما يفسد به الصوم وتجب به الكفارة	٢٤٢
٦٩	فصل فی الكفارة وما يسقطها عن الذمة	٢٥١
٧٠	باب ما يفسد الصوم من غير كفارة	٢٥٦
٧١	فصل يجب الامساك بقية اليوم	٢٦٩
٧٢	فصل فيما يكره للصائم وفيما لا يكره	٢٧٠
٧٣	تاريخي خبره. بنها نه فائده	٢٧٥
٧٤	داوسنی مشكلاتو حل	٢٧٥
٧٥	پوه سه. چې پیچکاري پرخوښته ده،	٢٧٨
٧٦	فصل فی العوارض	٢٨٠
٧٧	باب ما يلزم الوفاء به	٢٩١
٧٨	باب الاعتكاف	٢٩٦
٧٩	داماما نو مفكوره داده	٢٩٩
٨٠	كتاب الزكوة	٣٠٨

د پښتو نور الایضاح دریم ټول د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
٨١	باب المصرف	٣٢٦
٨٢	مسائل شتى فی باب الزكوة	٣٣٣
٨٣	باب صدقة الفطر	٣٣٧
٨٤	كتاب الحج	٣٤٤
٨٥	د حج د مخه غرکول پکار دی	٣٤٥
٨٦	نوی شرط د حج د سفره د مخه	٣٤٦
٨٧	فصل فی كيفية تركيب افعال الحج	٣٧٥
٨٨	جاهل عوام	٣٨٨
٨٩	بنهانه فائده	٣٩٤
٩٠	نو آسانه کاردادی	٣٩٧
٩١	دوّی فائدی	٣٩٨
٩٢	ضميمه	٤٠١
٩٣	دانصاف خبره	٤٠٣
٩٤	واقعه	٤١٠
٩٥	فصل. القران ان يجمع بين	٤٢١
٩٦	فصل، التمتع هو ان يحرم	٤٢٤
٩٧	فصل، العمرة سنة	٤٢٧
٩٨	باب الجنايات	٤٣١
٩٩	درختی د حرم پر څلور قسمه دي،	٤٣٩
١٠٠	فصل، ولا بأس بقتل غراب	

د پښتو نور الایضاح دریم توک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۱۰۱	فصل، الهدی ادنـاه شاة	۴۴۰
۱۰۲	فصل فی زیارة النبی (ص)	۴۴۴
۱۰۳	درویش وائي،	۴۴۶
۱۰۴	پوښتنه - جواب	۴۶۰
۱۰۵	ښهانـه فـائـده	۴۶۷
۱۰۶	پوه سـه	۴۶۹
۱۰۷	لطیفه سَنیه	۴۷۲
۱۰۸	ربـرتـه ئې قبول کړی	۴۷۶
۱۰۹	د کاتب په اړه لیکنه	۴۷۷
۱۱۰	د علم قرائت زده کړه	۴۷۸
۱۱۱	دخطاطی زده کړه، شاعری او نور	۴۷۹
۱۱۲	درس او تـدریس -	۴۸۰
۱۱۳	د نور الایضاح فهرست	۴۸۱
۱۱۴	〃	۴۸۲
۱۱۵	〃	۴۸۳
۱۱۶	〃	۴۸۴
۱۱۷	〃	۴۸۵
۱۱۸	〃	۴۸۶
۱۱۹	دنورو د کتابو اعلان	۴۸۷
۱۲۰	د حضرت ایوب اعلان	۴۸۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

محترمو لوستونکو! دحضرت ایوبی صاحب مدظله العالی خط کوم چې حضرت پخپل لاس لیکلی دی دا دحضرت ایوبي اخلاص دی د مکتبة القراءت والتجوید کوئټه سره کوم چې ئې حقوق د طبع ودکتابت و مکتبة القراءت ته هدیه کړی:

خاتمة شرح نور الایضاح

الحمد لله والصلوة على من اصطفى، اما بعد کرونکی د هیچمدان محمد عبد الله، الایوبي السلیمانخیلي القندهاري السني الحنیفي النقشبندي، غفرله الباري،

دا چې په توفیق د رب العزت جل سلطانه کریم حصه د شرح د نور الایضاح پنځلسم (۱۵) د پنجشنبې په اول تاریخ د ربیع الثاني ۱۴۲۳ سنه هجري وه پای ته ورسیده الحمد لله،

چې مجموع دری جلده تخمینا یو زر او شپږ سوه مخه ته رسیږي (۱۶۰۰) اعلان، چونکه اول کوم جلده او حصه جناب قاري فضل الحق صاحب خوشنویس کړیده، په [illegible] ډیره عرق ریزي، او په صرف د نقود و کثیره چاپ کړي، او دا دریم حصه هم ده په کتابت وکړي پر طریقه د اولو دوو حصو،

او ورډي انشاء الله تعالى چې دچاپ ته بې وسپاري، لهذا در ووشتن لکه چې د اولو دوو حصو حقوق الطبع ورنا مسپرده ته اهدا کړي وه، دغه رنګه د دې دریمې حصه حقوق ته ورکړه سپارم،

نو کتاب فروشان یا تجارتي کتابخانو ته دا کتاب بې د دوی له اجازت خوندي اوریا جزوي تبدیل چاپ کړي، ورنه د دوی روسته سره مخاخ سي، اخلاقي او تجارتي، او حکومتي، لهذا احتراز په کار دی، هغو کسانو چې دغه کتاب فروشي په کار وي ده مخه دي په مراعاتي قیمت د دانسي وما علینا الا البلاغ

ابو عبد الله محمد عمر الباري [signature]

الحاج ... ابو الفضل محمد
عبد الله ... الایوبي
قندهاری سلیمان خیل
فون نمبر ۸۶۰۴۴۳۱

جراحات السنان لها التیام ولا یلتام ما جرح اللسان

دل کرد رنجه از کسی خورسند کردن مشکلست، شیشه بشکسته را پیوند کردن مشکلست